# د افغان- شوروي جګړه

**پوهاند ډاکتر محمد حسن کاکړ**
پخوا د کابل پوهنتون د تاریخ استاد

دخپرندويې ټولنې يادښت:

# دافغان - شوروي جګړه

# داستاد کاکړ نوی تاريخي اثر

نوميالي افغان مورخ پوهاند ډاکتر محمدحسن کاکړ په خپلو وروستيو کلونو کې د افغانستان د معاصر تاريخ د څو مهمو فصلونو په باب خپلې څيړنې په کتابي بڼه وړاندې کړې دي . په دې لړکې د شهيد محمدداودخان د کودتا او دهغه د دورې په اړه او دغه راز د ثور کودتا دلومړي پړاو (دنورمحمدتره کي او حفيظ الله امين د واکمنی ) په اړه دوه جلا اثره دهغه په قلم کښل شوي او دواړه يې په جرمنې کې دافغانستان دکلتوري ودې ټولنې له لوري خپاره شوي دي .

دافغان شوروی جګړه ، دهمدې لړۍ دريم اثر دی . په دغه اثرکې پر افغانستان دشوروی ديرغل ، ددغه يرغل پر وړاندې دافغانانو د مبارزې او سرښندنې ، دشوروي دماتې ، په افغانستان کې ددغه يرغل پايلې ، داخلي تنظيمي جګړې او دواړی پورې مربوطو موضوعګانو په اړه بشپړ تفصيل راغلی دی .

دافغانستان دمعاصر تاريخ ددغه ډېر مهم پړاو په اړه به تر اوسه پورې ددې اثر په څېر تفصيلي تاريخي ، تحقيقي اثر بل کوم کتاب نه وي خپورشوی. استاد کاکړ پردې اثر څو پرله پسې کلونه کارکړی او په دقت سره يې پېښې هم خپله تعقيب کړي او هم يې په دې اړه ليکل

شوي زياتره مهم آثار په انتقادی بڼه کتلي او په دغه اثرکې يې تـرې استفاده کړې ده .

دافغانستان دکلتوري ددې ټولنې غوښتل چې دغه اثر هم خپور کړي او له همدې کبله يې دچاپ مقدماتي کارونه تنظيم کړل ، خو له کـاکړ تاريخي علمي بنسټ سره په مشوره لازمه وګڼل شوه چې دغه مهم اثر دهمدې بنسټ دلومړني خپريدونکي کتاب په بڼه خپلو هېواد والو تـه وړاندې کړو .

« کاکړ ـ تاريخي علمي بنسټ » په همدې ورځوکې تاسيس شـو او په هېواد کې يې د تاريخ او دتاريخ دمرستندو په آثارو د ليکلو ، ژباړلو او خپرولو د چارو تابيا کړې ده ، ددغه بنسټ له لارې به نه يوازې د استاد کاکړ آثار خپريږي ، د تاريخ په برخه کې به دنورو آثارو دليکلو او خپرېدلو هڅه هم کيږي .

ددغه بنسټ له لیارې د لومړني اثر په توګه ددې ارزستناک تـاريخي اثرچاپ او خپريدل د يو غوره پيل په توګه ګڼو او هيله لرو چې دغه بنسټ په راتلونکي کې خپلو هېوادوالوته مهم آثار وړاندې کړای شي .

په درنښت

کاکړ تاريخي علمي بنسټ

سکرتريت

کابل ، د۱۳۹۳ ل . دمرغومي ۱۲

د ۲۰۱۵ دجنورۍ دويمه

## ځانګړني

د کتاب نوم: د افغان- شوروي جګړه
لیکوال: پوهاند ډاکتر محمد حسن کاکړ
خپرندوی:
د خپرونو لړ: ( )
چاپکال: ۱۳۹۲ لمریز
چاپځی: دانش چاپخونه، کابل/ ۰۷۰۰۴۴۹۲۹۸
کمپوز: عبدالله شاهي

# ډالۍ

د یرغلګرو په وړاندې د وطن، خپلواکي او ننګ ناموس ته د دفاع د سنګر
مجاهدانو او شهیدانو ته



# منځپانګه

## لومړۍ برخه

### لومړی څپرکی

### پر افغانستان باندې د شوروي اتحاد وسله وال یرغل


د روسیې لنډه تاریخي مخینه ..........................................
شوروي اتحاد او افغانستان ..........................................
په خلقي نظام کې دننه د ک. ج. ب ورانی...............................
د شوروي اتحاد له یرغل نه دمخه.......................................
شوروي شوي پرچمیان او خلقیان څنګه د یرغلګر پوځ برخه وګرزول شول
پر افغانستان باندې د یرغل کولو فیصله ..................................
د شوروي اتحاد وسله وال یرغل ........................................
د شوروي اتحاد د یرغل په اړه بحث ....................................
حفیظ الله امین........................................................


### دوهم څپرکی

### د شوروي اتحاد د تېري په وړاندې غبرګونونه


د یرغل په اړه د شورویانو نظرونه .....................................
د یرغل په اړه په لویدیځې نړۍ کې غبرګونونه.............................
د یرغل په وړاندې د افغانانو لومړنۍ غبرګونونه...........................
- د کندهار او هرات ښارونو نا ارامي.....................................
- د کابل ښار پاڅونونه ..................................................
- د زده کوونکو پاڅون ..................................................

## درېيم څپرکی

### د پرچم رجیم، اسلامي تنظیمونه، ملي حرکت او پاکستان


د افغانستان دموکراتیک جمهوریت ........................................
پرچمیان او خلقیان د شورویانو تر سیوري لاندې ..........................
افغان اسلامي تنظیمونه ........................................
اسلامي سیاسي فکرونه ........................................
د پېښور لویه ممثله جرګه ........................................
د پښین جرګه ........................................
افغان اسلامي تنظیمونه او پاکستان ........................................


## څلورم څپرکی

### د کابل د پرچمي رجیم او یرغلګرو پوځونه او د وطن مدافعان


د شوروي اتحاد پوځ........................................
د کابل رجیم پوځ ........................................
مجاهدان یا د وطن، اسلام او خپلواکۍ مدافعان ........................................
قومندان مولوي جلال الدین حقاني ........................................
قومندان عبدالحق ........................................
قومندان احمد شاه مسعود ........................................
له کابل نه دباندې د نفوذ خپرولو هڅې........................................


## پینځم څپرکی

### د شوروي اتحاد د یرغل ځواب د جنګ په ډګر کې


کابل د جنګ په حال کې ........................................
په کابل ښار کې فرد وژنې........................................
له کابل نه دباندې افغانستان د جنګ په حال کې........................................

- اسمار ..........................................................
- کامه ...........................................................
- سرخ رود .......................................................
- لغمان ..........................................................
- کندهار .........................................................
- پنجشېر .........................................................
- پکتیا ...........................................................
- ژوره.............................................................
- ستړه کنډو ......................................................


## دوهمه برخه

### شپږم څپرکی

### په مسکو کې د ګورباچوف پرسترویکا او په کابل کې د نجیب الله ملي پخلاینه


د سولې لار........................................................
د ګورباچوف اصلاحات ............................................
د کارمل لېږې کول او د نجیب الله ملي پخلاینه.........................


### اووم څپرکی

### د ژنیو خبرې او د یرغلګر پوځ پر شاتګ


د ژنیو له خبرو نه دمخه..........................................
کوردو ویز او د ژنیو خبرې..........................................
د دوستو هېوادونو سفیران او د ژنیو خبرې.................................
په مسکو کې له اندروپوف سره د کویلار او کوردو ویز لیدنه.............
بېرته ژنیو ته.........................................................
د ژنیو خبرې د ګورباچوف په واکمنۍ کې ...............................

## اتم څپرکی

## د ژنیو خبرې او د یرغلګر پوځ په شاتګ

د ژنیو خبرې د ګورباچوف په واکمنۍ کې (دوام) ..........................
د ژنیو د خبرو بریالی پای.......................................................
د ژنیو د توافقونو په اړه تبصرې .............................................

## نهم څپرکی

## د نجیب الله لنډه واکمني او د تنظیم واکۍ پیل

د نجیب الله واکمني او ناکامي ..............................................
د جنرال تڼي په نامه یاده شوې کودتا........................................
د نجیب الله د واکمنۍ پای ...................................................
د تنظیم واکۍ پیل...............................................................
پایلیک...............................................................................
ملونه.................................................................................
یادښتونه.............................................................................

# سریزه

دغه لیکنه د شوروي اتحاد له وسله وال یرغل نه د تنظیم واکۍ تر پیل پورې د افغانستان د سیاسي او دیپلوماتیکي پېښو بیان دی. ددغې مودې په څه باندې نهو کلونو کې چې یرغلګر پوځ د خپل لاس لاندې پرچمي رجیم د ټینګولو لپاره له افغان مجاهدانو سره جنګېده، په افغانستان کې ډېرې پېښې شوې دي. په دغو پېښو کې د نړۍ ډېرو خلکو، حکومتونو په تېره د پاکستان، امریکا او سعودي عربستان حکومتونو هم اثر لرلی دی. دوی په ملګرو ملتونو او نورو بین المللي ټولنو کې هم د افغان دایمي ملاتړ کړی دی. په دې ډول د شلمې پېړۍ په اتیاومې لسیزې کې د افغانستان جګړه د نړۍ توده موضوع وه او افغان ولس او مجاهدانو یې په ټولې نړۍ کې نوم واېست.

د نړۍ سوړ جنګ چې له دوهم نړیوال جنګ نه وروسته پیل شوی او تر دغه وخته په بېساري ډول سوړ شوی و، د شوروي اتحاد په یرغل سره بېرته قوي شو. خو هغه د افغانانو په ټینګ او پرله پسې مقاومت سره چې یرغلګر پوځ یې په شاتللو ته اړ کړ او شوروي اتحاد بې اعتبار او ناتوان شو، تر دې حده سوړ شو، چې ډېر ژر د برلین دېوال په نړول کېدلو سره له مېنځ نه لاړ او په نړۍ کې یوه نوې دوره پیل شوه. افغان ولس هم وښووله چې په اوسنۍ

نړۍ کې جنګ پیل کوونکی جنګ ګټلی نه شي. په دې ډول افغانانو د ساړه جنګ په پای ته رسولو کې اثر لرلی دی.

دغه اثر د لومړنیو سرچینو او د دوهم لاس معتبرو داخلي او باندنیو آثارو پر بنسټ کښل شوی او محلي، ملي او بین المللي اړخونه لري. دیپلوماتیکي اړخ هم لري، چې د هغه لپاره دوه څپرکي (اووم او اتم) د ژنیو خبرو اترو ته ځانګړي شوي دي. بیا هم دغه لیکنه ددغې دورې پوره تاریخ نه دی او د نویو منابعو او لیکنو په رڼا کې چې وروسته به راووځي نور هم ښه کېدلی او جامع کېدلی شي.

تاریخ لیکنه یوه پروسه ده چې پای نه لري. خو د نژدې تېر تاریخ لیکنه په اصل کې یو ګران کار دی. یو دا چې د هغې په اړه مواد او منابع که هر څومره ډېر هم وي، پوره نه وي. بل دا چې نژدې تېره لا تاریخي شوې نه وي او په لیکل کېدلو سره یې احساسات پارېږي او غبرګونونه ښوول کېږي. ددې لپاره چې غبرګونونه بېځایه نه وي لیکنه باید د واقعیت مالومولو لپاره وي او په نرمه او نه پاروونکې ژبه کې بیان شي. دلته دغه څه په نظر کې نیول شوي دي، که څه هم زیاتره پېښې زېږې او د وطن د لوړو ګټو پر خلاف دي. د فردونو، ډلو او چارواکو سیاستونه او کړه هم په همدغه ډول کتل شوي دي او پر هغو باندې له شخصي او بې سنده حکم کولو نه ډډه شوې ده او قضاوت لوستونکو ته پرېښوول شوی دی. په دې ډول د معاصرې دورې د تاریخ لیکنې د لوی مخکښ لیو پولد فان رانګ کې (۱۷۹۵ — ۱۸۸۶) فکر په نظر کې نیول شوی چې وایي، د تاریخپوه وظیفه یوازې داده چې وښیي «هغه په ربښتیا څنګه و». ددغه فکر له مخې یوه لیکنه هغه وخت تاریخ کېدلی شي، چې یوازې د معتبرو او د پېښو د وخت د شواهدو پر بنسټ وي. په دې ډول شواهد په تاریخ لیکنه کې دغومره اساسي او مهم وي چې نامتو

تاریخپوه کالنګ وود یې لا «سپېڅلې» ګڼي په دې مانا چې په هغو کې په هیڅ ډول لاس ونه وهل شي. د همدغه فکر له مخې دلته مهم منابع او مهمې ویناوې په مستقیم ډول نقل شوې. دغه طرز دلته په دې هم ضرور دی چې سرچینې ډول ډول، سره مختلفې او حتی په تضاد کې دي او بین المللي هم دي. ددغو فکرونو په مراعات سره تاریخ په دقیق ډول لیکل کېدلی او لوستونکي پوهېدلی شي چې فردونو، ډلو، حکومتي چارواکیو او په ټولیز ډول په پېښنو کې ټولو ښکېلو خواوو څه وکړل او د سیاستونو له امله یې څه وشول او ولس په څه حال کې شو. په دغسې لیکنې سره ټولنه هم پېژندل کېدلی شي او بل نسل ته ممکنه کېږي چې له تاریخ نه عبرت واخلي او شوې تېروتنې تکرار نه کړي.

البته په پېښنو کې انتخاب شوی، خو له هغو نه هغه دلته راوړل شوې دي، چې مهمې، تمثیل کوونکې او له موضوع سره تړاو لري. په دغه ډول لیکنې سره به لیکوال هم خپله دنده ترسره کړې وي، ځکه چې د هغه مسوولیت په اصل کې واقعیت، انسان او د هغه خپل وجدان ته دی.

له محترم زرین انځور او د ټولنې له ملګرو نه یې مننه کوم چې زما دغه اثر هم د خپلې ټولنې له خوا خپروي، لکه چې دمخه یې زما نور اثرونه هم خپاره کړي دي.

د دانش خپرندوی ټولنې سروال محترم اسدالله دانش نه هم مننه کوم چې یې په خپله هم کوښښ وکړ، دغه اثر له چاپي تېروتنو ته خالي وي، د خپلو اولادونو قانپوه کاوون کاکړ، خوږ کاکړ او سباوون کاکړ زیارونه هم یادوم او قدر یې کوم چې د اثر د را ایستل کېدلو او تکثیر په اړه کړي دي.

محمد حسن کاکړ

کليفورنيا، ۲۰۱۳

# لومړۍ برخه

## لومړی څپرکی
## پر افغانستان باندې د شوروي اتحاد وسله وال يرغل

## د روسيې لنډه تاريخي مخينه

روسانو تر هر بل ولس نه زيات خپل هېواد د نورو هېوادونو په تاوان پراخ کړی، سره له دې چې دوی ددغه ملک اصلي اوسېدونکي نه دي. د لومړني تاريخ (Primary Chronicle) له مخې د سلاو قومونو او نورو په ۸۶۲ زېږدي کې د سکندنويانو ورنګيانو (يا ورنجيانو) روسانو ته بلنه ورکړه، په دغه ډول چې «زموږ ملک لوی او شتمن دی، خو نظم پکې نشته؛ تاسې راشئ او پر موږ حکومت وکړئ». دغه قومونه پخپلو کې سره وران وو. روسانو دغه بلنه ومنله او په نووګراد (Novgorad) او نورو سيمو کې مېشت شول. وروسته يې په کييف (Kiev) کې، چې اوس د اوکراين پلازمېنه ده، د لومړي ځل لپاره د حکومتي نظام بنسټ کېښود. د اوکراين ختيځ ته روسيه پرته ده چې د ارال تر غرو پورې د اروپا او په ختيځ کې تر ولادي وستوک پورې د آسيا برخه ده. ددغو هېوادونو خلک په اصل کې د ژبو

د توپير له امله په بېلو نومونو يادېږي، خو دوى ټول په ختيځ سلاويانو او هغه سلاويان چې په اروپا کې اوسېږي په لويديځ سلاويانو يادېږي.

په لرغونې زمانې کې دغه سيمه په تېره سهيلي روسيه يانې د تور سمندرګي شمال خوا ته سيمې د نورو قومونو په لاس کې وې چې لوى ولسونه يې سمريان (Cimmerians)، ستيان (Scythians)، سرمه تيان (Sarmatians)، هونان (Hunans)، آواران (Avars)، ګاتان (Goths)، او خضار له (Khazars) وو. له خظرانو او ستيانو نه پرته دوى ټول هندو اروپايان او پوونده وو، چې يو په بل پسې يې دغه سيمې لاندې کړې او پر ځايي خلکو يې واک وچلاووه. سمريان لومړنى تاريخي قوم و، چې له اټکل زر څخه تر اووه سوه مخزېږدي پورې يې پر دغې سيمې واکمني کړې ده.(۱)

اوليګ (Oleg) لومړنى ورنګي روس و چې په کال ۸۸۲ زېږدي کې يې د کيف ښار ونيوه او د خپلو نوکرانو په مرسته يې په حکومت کولو پيل وکړ. د هغه ځايناستي ايګور (Igor) په روسيې کيف باندې له ۹۱۳ نه تر ۹۴۵ پورې واکمني وکړه. د هغه په ناڅاپي مړينې سره اول د هغه کونډه اولګا (Olga) او بيا د هغه زوى سوايټوسلاو (Sviatslav) واکمن شو. خو ددغې لومړني واکمنې کورنۍ نامتو واکمن د اولګا لمسى ولادمير (Vladmir) و، چې تر ۱۰۱۵ پورې يې واکمني وکړه. د دوى مخه سوداګرۍ ته او له لويديځو سلاوانو او له بيزانس يا ختيځ روم سره جنګونو ته وه، چې مرکز يې قسطنطنيه يا اوسنى استانبول و.

د ولادمير د واکمنې ډېره مهمه پېښه د ۹۸۸ زېږدي شاوخوا کې د کيف د روسانو عيسوي کېدل، يا عيسوي کوول وو. روسانو تر دغه وخته د طبيعي قوتونو او نيکونو روحونه نمانځل او د تالندې او برېښنا خداى پيرون (Perun) ته يې تر خپلو نورو خدايانو ډېره عقيده لرله. د روسانو راشه

درشه تر نورو څخه ډېره د والګا مسلمانانو او د خضر له يهودانو سره وه، خو دوی نه اسلام او نه يهوديت ومانه په دې چې دغو دواړو دينونو خپل پيروان د شرابو له څښلو نه منع کول، په داسې حال کې چې روسانو شراب ډېر څښل. پر دې سربېره يهودان تيت او خواره وو او سياسي نظم يې هم نه لاره. روسانو د عيسويت ارتودکس عقيده ومنله چې له کاتوليکي او پروتستاني عيسويت نه وروسته د عيسويت غټه څانګه ده او يوازې په يوه «حقيقت» يې عقيده لرله، چې هغه يوازې د بښنې دين و، نه د زغم دين، په تېره د نورو دينونو ، په لويديځې اروپا کې وروسته له هغه چې رنسانس يا د بيا ژوندي کېدلو غورځنګ کاتوليکي عقيده له اعتباره وغورزوله او د عقيدو ډېرتوب ومنل شو، روسيه د رنسانس له ښېګڼو څخه بې برخې او نوره هم ګوښه پاتې شوه، خو د روسانو په عيسوي کېدلو سره د هغوی ژبه د سري ليک (Cyrillic) الف بې له برکته تحريري شوه.

د روسانو مذهبي عقيدې د هغوی په سياسي نظام کې هم نفوذ وکړ. د سکندنويانو- سلاو واکمنې که څه هم د جنګ او سوداګرۍ پر محور څرخېده، سياسي نظام يې بيا هم مطلق يا زورواک و. مسکو چې د مغولو د طلايي طايفې څه کم دوه نيمې پېړۍ (۱۲۴۰ — ۱۴۸۰) محکوميت څخه وروسته سر هسک کړ، د يوه مطلق يا پوره زورواک نظام تر لاس لاندې شوه. دغه نظام وروسته له هغه نور هم مطلق شو، چې د مسکو ايوان چې په وېروونکي ايوان يادېده، په ۱۵۴۷ کې د تزار لقب غوره کړ. له دغه نوي لقب سره دغه عقيده هم ملګرې شوه چې ويل يې، مسکو د درېيم او وروستي روم په شان د سپېڅلي حيثيت خاوند شوی دی. دغه عقيده وروسته له هغه خپره شوه چې عثماني ترکيې په کال ۱۵۴۳ کې قسطنطنيه ونيوله چې عيسويانو ته تر روم وروسته يو سپېڅلی مذهبي ښار و. بيا نو تزار وکولی شول چې ديني

او دنيايي ځواکونه دواړه ځانته منحصر او خپل ځان او مقام نور هم مطلق او زور واک کړي.

په روسيې کې د بويارو په نامه يو څو سوه اشرافي کورنۍ چې ويل کېده په اصل کې باندنيانې دي، په نورو خلکو بر لاسې وې، په داسې حال کې چې منځنۍ طبقه پکې هسکه شوې نه وه، د سکندنويانو له ورتګ نه دمخه ټولنه له ازادو خلکو او مريانو نه جوړه وه او د سکندنويانو په ورتګ سره مريان نور هم د ټولنې تل ته تخته شول. مريان اول جنګي بنديان وو او وروسته هر څوک د قرارداد له مخې يا په زوکړې سره مريه کېده. جنګ د سوداګرۍ او مرييتوب غټه سرچينه وه، په دې چې د هغه غټ محصول مريان وو.

په کال ۱۸۶۱ کې د روسانو په دغې هرم ډوله ټولنه کې اساسي سمون راوستل شو. په دغه کال کې د ۴۰ ميليونو په شاوخوا کې د سرفانو په نامه مريان د پاچا تزار د فرمان له مخې په حقوقي لحاظ ازاد اعلام شول او مځکې هم ورته ورکړل شوې. دوی وروسته له هغه ازاد اعلام شول، چې روسان، د کرايميا په جنګ (۵۶ — ۱۸۵۴) کې د اروپايي خلکو له لاسه مات شوي وو. سرفان نه ښه جنګيالي او نه ښه کروندګر وو. دوی ولې د نورو لپاره کرنه وکړي او ځانونه مرګ ته ورکړي؟ دوی د همدغې ويښتيا له امله تر دغه وخته پورې د پاڅونونو او نا ارامیو سرچينه شوي وو.

روسانو چې هېواد يې د عصري صناعت له امله مخ په پياوړي کېدلو و، د کرايميا له ماتې نه وروسته په آسيا کې خپل پرمختګ ته زور ورکړ. منځنۍ آسيا د دوی د پوځ او سوداګرۍ پر مخ خلاصه وه. په کال ۱۸۵۷ کې د انګليسانو د حاکميت پر وړاندې د هنديانو لوی پاڅون هم دوی هغې خوا ته تللو ته وهڅول او د لوی پيتر په شان يې تودو اوبو ته د رسېدلو خوبونه وليدل. ددغه مقصد لپاره يې له اورنبرګ (Orenberg) نه چې هلته يې لا

دمخه یوه غټه نظامي هڅه جوړه کړې وه، د منځنۍ آسیا د لاندې کولو په مقصد یې یوه خوا بله خوا پوځونه استول او په دې ډول یې له انګلیسانو سره د سترې لوبې په نامه لوبه ټینګه ونیوله.

ستره لوبه د روس او انګلیس د امپراتوریو په مېنځ کې د منځنۍ آسیا د لاندې کولو کوښښ ته ویل کېده، چې د لوبې تخته یې په لویدیځ کې د قفقاز له واورینو غرونو نه د منځنۍ آسیا له پراخو دښتو نه د ختیځ په لور ان تر چیني ترکستان او تبت پورې غځېدلې او اخري جایزه یې د پیتر هاپکرک په نظر هندوستان و، چې روسان په ټینګه د هغې د لاندې کولو په فکر کې وو او لندن او کلکته له هغه نه په وېره کې شول.[۲] روسانو له اورنبرګ نه د جنرال کافمن په قومندانۍ خپله واکمني په کال ۱۸۶۴ د خوقند، بخارا او خېوې پولو ته ورسوله او په کال ۱۸۶۵ کې یې تاشکند ونیوه او دوه کاله وروسته یې د روسي ترکستان په نامه تر خپل لاس لاندې یو لوی ولایت تشکیل کړ. روسانو په دغه ډول په منځنۍ آسیا کې لېږ و ډېر هغسې حاکم حیثیت پیدا کړ، چې انګرېزانو دمخه په هندوستان کې د ځان کړی و. روسانو د بخارا امیر مظفر الدین د یوه تړون په منلو سره اړ کړ چې خپل سلطنت د روسانو واکمنۍ ته وسپاري. روسانو په ۱۸۶۸ کې سمرقند هم لاندې کړ.

روسان د امیر شېر علی د دوهمې دورې په سر کې د لومړي ځل لپاره د افغانستان سرحد ته ورسېدل او افغانستان په دغه ډول د تزاري روسیې او د برتانوي امپراتورۍ له خوا یو چارپېر هېواد شو. په دغه حال کې روسان په منځنۍ آسیا کې د خپلې امپراتورۍ په پراخولو او انګلیسان په هندوستان کې د خپلې امپراتورۍ د خوندي ساتلو او افغان واکمنان د خپل هېواد د خوندي ساتلو په هڅه کې شول.

د افغان- انګلیس دوهم جنګ په اصل کې د افغانستان په اړه د همدغو

امپراتوریو د متضادو سیاستونو د ټکر نتیجه وه، په دې ډول چې د هند انګلیس وایسرای لارډ لېټن (Lord Lytton) د هندوستان د خوندي ساتلو په مقصد له امیر شېر علي څخه وغوښتل چې د خپل هېواد باندنی واک د هغه حکومت ته وسپاري، خو امیر شېر علي د افغانستان له خپلواکۍ څخه تېر نه شو. ډېره موده نه وه تېره شوې چې په منځنۍ آسیا کې د روسانو اعلی حاکم جنرال فان کافمن په ۱۸۸۷ کې د جنرال ستالیتوف په سروالۍ یو نابللی نظامي هیئت په ناځاپي ډول کابل ته واستاووه. هلته دغه هیئت ومنله چې د افغانستان د دفاع لپاره به د ضرورت په وخت کې دوه دېرش زره پوځ استوي. انګلیسان په کابل کې د روسانو د هیبت له امله وپارېدل او د همدغه کال په نومبر کې یې په داسې حال کې چې روسي هیئت له افغانستان څخه وتلی و، پر افغانستان باندې په نظامي یرغل لاس پورې کړ، خو روسانو خپله وعده ترسره نکړه او حتی امیر ته یې روسي ترکستان ته د تللو اجازه هم ورنکړه، خو افغانانو د انګلیسانو نظامي یرغل په پرله پسې جنګونو سره پر شاوواهه او ډېر تلفات یې ورواړول تر څو چې سردار عبدالرحمن د امیر محمد افضل زوی او د امیر دوست محمد لمسی، په ۱۸۸۰ کې د امیر په نامه د افغانستان واکمن شو، په داسې حال کې چې امیر شېر علي وفات شوی او ځایناستی زوی یې امیر یعقوب هندوستان ته تبعید شوی و.

د امیر عبدالرحمن په واکمن کېدلو سره د افغانستان باندنی سیاست د هندوستان انګلیس حکومت ته په لاس ورغی، خو له دې نه پرته امیر په نظر او عمل کې یو خپلواک واکمن و او افغانستان د برتانوي هند مستعمره نه وه د امیر دوست محمد خان له وخت نه وروسته دا دوهم ځل و، چې د افغانستان او برتانوي هند د حکومت تر منځ دوستي ټینګه شوه، خو روسانو سره له دې هم په کال ۱۸۸۵ کې پنجده لاندې کړه، چې هغه په اصل کې د

هرات ياني د افغانستان يوه برخه وه او د امير عبدالرحمن تر واکمنۍ لاندې وه. روسانو وروسته په ۱۸۹۲ کې د پنجه له سين نه د شمال په لور د آقسو- مرغاب سين پورې بدخشان، چې هغه هم د امير تر ولکې لاندې و، په نظامي قوت ونيوه او د هند برتانوي وايسراى سره له دې چې حکومت يې پر افغانستان باندې د نه پارول شوي تړي د دفع ژمنه کړې وه، د روسيې ددغه تېري په وړاندې نه دا چې په خپله څه ونکړل، له امير نه يې هم په ټينګه وغوښتل چې مقابله ونه کړي. په نتيجه کې د افغان- روس اړيکې د روسيې د اکتوبر تر کودتا پورې خرابې وې.[۳]

افغان- روس اړيکې د اکتوبر له کودتا نه وروسته د پاچا امان الله په وخت کې سره ښې شوې. په لومړي نړيوال جنګ کې چې د روسيې امپراتور تزار نيکولاى د ۱۹۱۷ کال په فبروري کې له ډېرو فشارونو سره مخ شوى، له پاچايي نه ګوښه کېدلو ته اړ شو، خو له هغه وروسته هغه لبرال حکومت چې په انقلاب سره د کرنسکي په سروالي مېنځته راغى، د همدغه کال په اکتوبر کې د ولادمير لېنن په مشرۍ د بولشويکانو په کودتا سره نسکور شو او بولشويکان چې په اصل کې کمونستان وو، واک ته ورسېدل. دوى کمونېزم ته د رسېدلو په لور دغسې نظام پر پښو ودراووه، چې د تزاري له مطلق نظام نه ډېر مطلق و. پر هغو سربېره تولواک هم و.

د ماموريت موده يې هم نامحدوده وه او هم يوازې د يوه ګوند له خوا اداره کېده. نور ګوندونه غير قانوني وګڼل شول او وځپل شول. هغه ديموکراسي چې په روسيه کې له ۱۹۰۵ نه وروسته عملي کېدله، هم وځپل شوه. بولشويکانو دغسې مطلق او تولواک نظام ددې لپاره غوره کړ، چې د هغه په قوت روسي ټولنه له سره تنظيم کړي او اړيکې يې واړوي، خو هغه فکر چې بولشويکانو د هغه له مخې په دغه کار پيل وکړ، پخوانى و او هغه دا

چې اصلي موخې ته د رسېدلو لار يوه ده او د څو کرښه ييزو او د څو حقيقتونو فکر غلط او مردود دی. ددغه فکر له مخې يوازې يو رښتين توب ياني کمونېزم د اعتبار وړ وګڼل شو. په واقع کې دا د هماغه عيسوي ارتودکس فکر و، چې ولادمير نهه سوه کاله دمخه تر هغه د روسيې لپاره غوره کړی و، خو په دغسې حال کې چې عيسوي ارتودکس يوازې د ښبنې دين و، نه د زغم، کمونېزم نه د ښبنې او نه د زغم مذهب و. د هغه له مخې هم ډلې او هم فردونه مجبورېدل چې هغه په خوله ومني او په ژوند کې پرې عمل وکړي. په دې ډول په شوروي اتحاد کې فرد هغومره ډېر تر بنديزونو لاندې شو، چې بل هېڅ وخت دغومره مقيد شوی نه و. د شوروي دولت ته چې د انسان په تاريخ کې تر ټولو ډېر ټولواک او ټول اختيار دولت و، دغه صلاحيت ورکړل شو، چې دغه فکر د ژوند په ډګر کې واقعي کړي. ددې لپاره دولت ته د هڅولو او اړ کولو ټولې هغه وسيلې ورکړل شوې، چې ممکن و. له دغو وسيلو نه ډېره مهمه يې ک. ج. ب وه، چې خپل مقصد ته د رسېدلو په لار کې يې د ډلو او فردونو په وړاندې غټ جرمونه وکړل، چې غټه بېلګه يې د ستالين په واکمنۍ کې د ۱۹۳۰ په لسيزې کې د ميليونو انسانانو وژنه ده. په تاريخ کې بل هېڅ دولت د خپلو خلکو په وړاندې هغې زورواکي او جرمونه کړي نه دي، لکه د شوروي دولت، چې کړي دي.[۴]

# شوروي اتحاد او افغانستان

د اکتوبر له کودتا نه ژر وروسته د پاچا امان الله په واکمنۍ کې د افغان- شوروي اړیکې د دوستۍ شوې او د دوی تر منځ د دوستۍ دوه تړونونه، یو په ۱۹۲۱ کې او بل په ۱۹۳۱ کې لاسلیک شول. خو دغې دوستۍ د پاچا امان الله له ګوښه کېدلو نه وروسته د څه باندې پېنځه ویشتو کلونو په بهیر کې خپله تودوخه له لاسه ورکړه. دا د محمد داود په صدر اعظمۍ (۱۹۵۳ – ۱۹۶۳) کې و چې د دواړو هېوادونو تر منځ د دوستي او همکارۍ یو نوی فصل پرانستل شو او شوروي اتحاد د نکیتا خروشچف په واکمنۍ کې د افغانستان ډول ډول پرمختیایي پروژو ته کریډیټونه ورکړل او نظامي مرستې یې هم وکړې. له هغه وروسته شوروي اتحاد او ورسره د شوروي ډوله کمونېزم فکرونو په افغانستان کې نفوذ وکړ. ددغه نفوذ څرګنده وسیله د افغانستان د خلق دیموکراتیک ګوند شو، چې په واک ته رسېدلو سره یې شوروي اتحاد د افغانستان په چارو کې په بېساري ډول دخیل او په دې هڅه کې شو چې پرچم ګوندګی د خلق ګوندګي په شان، چې د ثور کودتا یې په بري سره سر ته رسولې وه، په حکومت کې شریک کړي او حفیظالله امین چې د کودتا اصلي قومندان او د خلق ګوندګي تکړه شخص و، تربنه بېرون کړی، چې د خپلې لارې خنډ یې باله. په دې اړه د شوروي اتحاد ک. ج. ب خپلې دسیسې د «ثور انقلاب» د ټینګولو او همکارۍ په جامه کې وړاندې بیولې او کله چې پخپلو دغو دسیسو کې پاتې راغی بیا یې پر افغانستان باندې په نظامي یرغل لاس پورې کړ، چې اوس یې د بیان وخت دی.

د ثور کودتا نومي اثر کې مې شرحه کړې چې د شوروي اتحاد حکومت له اول نه له خلقي حکومت په تېره له حفیظالله امین سره وران و او کوښښ یې

کاووه چې پرچمیان د ببرک کارمل په مشرۍ په حکومت کې غټه برخه ولري، خو امین هم ددغه کار مخه ونیوله او هم یې د کارمل په ګډون یو څو پرچمي لویان په نورو هېوادونو کې سفیران وټاکل او دننه یې ډېر پرچمیان بندي کړل او په دې ډول یې پرچم ګوندګی وځاپه. سره له دې هم د شوروي حکومت په ظاهر کې د خلقي حکومت په ننګ ولاړ و او د ټینګښت لپاره یې ډول ډول تخنیکي او د وسلو مرستې ورسره وکړې، خو د حکومت مشر نور محمد تره کی او د هغه صدر اعظم حفیظالله امین له غټو ستونزو سره مخ وو. دوی غوښتل هم حکومت پخپل فکر وچلوي او هم مجبور وو، د ډېرو پاڅونونو د ځپلو لپاره چې د نظام په وړاندې کېدل او داسې هم د هېواد د پرمختیا لپاره له شوروي اتحاد نه مرستې تر لاسه کړي. نورو حکومتونو له دوی سره مرسته نه کوله. دغه اړتیا په خاص ډول د هرات له لوی پاڅون نه وروسته په قوي ډول حس شوه او لکه چې د ثور کودتا کې مې د هغه بیان کړی له هغه وروسته شوروي اتحاد هم افغانستان ته دوه مهم نظامي هیئتونه واستول او هم یې خپل یو ماهر دیپلومات، واسیلي سفرنچوک واستاووه. سفرنچوک کوښښ کاووه د سیاسي تغییرونو په راوستلو سره د حکومت بنسټ پراخ شي، خو دده د وړاندیز اصلي مقصد دا و چې په حکومت کې پرچمیان او هم ناپېیلي افغانان شامل وي. هغه حتی د ځینو اسلامي تنظیمونو د کسانو د ګډون وړاندیز هم وکړ، خو خلقي حکومت دغه وړاندیز ونه مانه او امین د شوروي اتحاد سفیر پوزانوف ته وویل چې «موږ د دښمنو په مېنځ کې پراته یو او باید څارو اوسو».(۴) وروسته د ډسمبر په میاشت کې د شوروي د کمونست ګوند د بین المللي څانګې سروال بوریس پانوماریف هم په کابل کې د سفرنچوک په شان په مقصد ونه رسېد. بیا نو د شورویانو له خوا دغسې کوښښونه پیل شول چې «... د خلقي مشرانو، تره‌کي او امین تر مېنځ

مقابله تحریک کړي».[۵]

# په خلقي نظام کې دننه د ک.ج.ب ورانی

د ک. ج. ب پـورتنی راپـور د شـوروي اسـتازي او خلقـي مشـرتابه ددغـه «بېګانه توب» اصلي علـت دا ښـيي چې «د افغانـانو [خلقيـانو] تـر يـوه حـده خپلسري کوله او له مشورې پرته يې عمل کاووه» په دغه حـال کې د شـوروي «مشاوران او ماهران وګومارل شـول چـې د افغانـانو د کـړو پـه اړه لا مفصـل مالومات راټول کړی».[۶] د ک. ج. ب مامورانو بيا د تره‌کي او امـين پـه اړه د هغو د مخالفانو خولې لټولې. د هغو يوه سـرچينه غـلام دسـتګير پنجشـېری د فوايد عامې وزير و، چې ک. ج. ب هغه د «رچرد» په مسـتعار نـوم يـاد کـړی دی. پنجشېری د ک. ج. ب آمر، جنرال ايوانوف ته د ۱۹۷۹ کال د جولای په ۲۹مه وويل چې «په پولټپورو کې هر څه د دوو کسو، تره‌کي او امـين لـه خـوا فيصله کېږي. لومړنی هغه پرېکړې مني او تاييـدوي چې وروسـتی يـې کـوي. پاتې نور يوازې د لـوبې واړه کسـان دي چې چکچکې کـوي. هـېڅ يـو زړه نـه کوي چې د تره‌کي يا امين پر ضد خوله خلاصه کړي، ځکه چـې دوی ډارېـږي چې د انقلاب ضد ټاپه به پرې ولګولـه شـي. پـه خلکـو کـې د تره‌کـي او امـين سياستونه د ناراضيتوب لاملونه دي».[۶ الف]

تر دې دمخه د ثور له کودتا نـه څـه بانـدې يـوه مياشـت وروسـته (د جـون ۱۱مه)، د کورنيو چارو وزير، نور احمد نور، پوزانـوف تـه امـين يـو خطرنـاک سړی ښوولی او ورته ويلي وو چې «پـه پولټبورو کـې هـر څـوک لـه امـين نـه ويرېږي» او «په هېواد کې يوازې يو قدرت دی چې هغه حفيظ‌الله امـين دی». يوه اونۍ وروسته د پلان وزير سلطان‌علي کشتمند لـه پوزانـوف سـره پـه يـوې

مرکې کې ویلي وو چې امین او ترهکي «له شوروي اتحاد سره د اړیکو ټینګول د یوه موقتي سیاست یا د یوې تاکتیکي وسیلې په توګه ګڼي». دوی دواړو له پوزانوف نه غوښتي وو، چې «کارمل وژغوري، چې ژوند یې په خطر کې دی»[۷] له هغه وروسته و،، چې د ک. ج. ب چارواکو د امین د ژوند په اړه دننه او دباندې د مالوماتو په ټولولو کې تر پخوا نه ډېر فعال شول او په عین حال کې یې په افغانستان کې د نفوذ خپرولو په مقصد یوه خوا بله خوا په تېره وزارتونو ته هیئتونه واستول. شوروي مشاوران هم فعال شول او «په وزارتونو کې یې د نفاق اچولو لپاره هلې ځلې پیل کړې».[۸] یوه شوروي مشاور ن. ک. ګریچین (N. K. Grechen) لا غوښتل چې دی دغسې «فرعي وزیر» وي چې اقتصادي، مالي او په پلان پورې اړوندې چارې اجرا کړي او ددې لپاره دې په سوداګرۍ وزارت کې د مشاورو په ګډون یو دایمي کمیسیون جوړوي. څنګه چې په دغه تجویز سره د وزیرانو صلاحیت کمېده او شوروي مشاوران په حکومت کولو کې شریک کېدل خلقي لویانو هغه ونه مانه او د مالیې وزیر عبدالکریم میثاق لا د اعتراض په توګه وویل چې «دغه وزارت ملګري ملتونه نه دي». ک. ج. ب بیا د هغه په اړه دغه راپور ورکړ چې «میثاق د شوروي اتحاد پر ضد دی او عملونه یې له ماویستانو نه الهام اخلي».[۹]

له هغه وروسته ایوانوف او اوسادچي چې په کابل کې د ک. ج. ب لوی آمران وو، دغه نظر وړاندې کړی چې «... د افغانستان د دیموکراتیک جمهوریت د مشرې د وضعې ښه کېدل په زیاته اندازه په ترهکي پورې اړه لري. دغه [ښه والی] ناشونی دی خو دا چې د ګډې مشرۍ پرنسیپ ومنل شي او د امین مخه ونیوله شي چې غواړي یوازې پخپله حکومت وکړي».[۱۰] دغو افسرانو د ۱۹۷۹ د سپټمبر په اوله ورځ یا په هغه ورځ چې نور محمد

تره کی په هاوانا کې په یوه کنفرانس کې د ګډون لپاره د مسکو په لور روان شو، د افغانستان د ستونزو د هوارولو په مقصد یو یادښت مسکو ته مخابره کړ. په دغه یادښت کې ویل شوي وو، چې حکومت په خلکو کې واک له لاسه ورکوي او خلک په ډېرېدونکې اندازه د شوروي اتحاد پر ضد کېږي. هلته دا هم ویل شوي وو، چې شوروي استازو په هره سطحه کې تره‌کي او امین ته مشورې ورکړې چې د خلکو په مېنځ کې کار وکړي او د خپل حکومت بنسټ پراخ کړي خو «هغه نژدې ټولې له پام نه غورزول شوې دي».
په یادښت کې دا هم ویل شوي وو، چې تره‌کي او امین د ستونزو هوارولو لپاره یوازې له زور نه کار اخلي او د خلکو ځپلو ته دوام ورکوي او «امین ددغه چلند لوی منتظم دی» په یادښت کې دغه مشخصې سپارښتنې هم وې، چې هغه ددغه یادښت اصلي مطلب و:

۱ — د هېواد له مشرۍ نه دې د امین د ګوښه کولو لپاره یوه لار ومونډله شي او دی دې د ننني سیاستونو د ناکامۍ او پټو عامه جزایي چلندونو مسوول وګڼل شي.

۲ — تره کی دې د یوه دیموکرات ایتلافي حکومت جوړولو په لور وهڅول شي چې د مشرۍ رول یې د پرچمیانو په ګډون د خلق ګوند په لاس کې وي.

۳ — سیاسي بندیان دې، د پرچم د غړو په ګډون چې په غیر قانوني ډول نیول شوي دي، آزاد شي.

۴ — په هېواد کې دې دداخلي سیاسي وضعې د با ثباته کولو په مقصد له ببرک کارمل سره په غیر رسمي ډول لیدنه وشي.

۵ — په دیموکراتیک جمهوریت کې دې د خلق دیموکراتیک ګوند نه د یوې ذخیرې مشري جوړه شي، چې په هغه حال کې چې د هېواد وضعه

خرابيږي را دمخه شي.[۱۱]

دغه يادښت په اصل کې پر دغې ګڼنې بنا دی چې ليکونکي يې لکه د افغانستان چارواکي او د کريملين لويان د افغانانو د واکمنۍ اخري مرجع وي. دوی په دغې ګڼنې کې سخت تېروتلي وو. خو د دوی دغه تشخيص سم و، چې امين په افغانستان کې د دوی د لارې په مخ کې خنډ و او دغو ک.ج.ب والو غوښتل چې د دوی خپل لويان يې بايد په کوم ډول له خپل مقام نه لېرې کړي. دوی د همدغه مطلب لپاره د جاري نا ارامیو پړه پر هغه اچوله، خو د هغه پر خلاف د اکسا په اړه چوپ وو، چې د هغې د په خپل سر سروال اسد الله سروري په حکم بې شمېره افغانان، د پرچميانو په ګډون، د «ضد انقلاب» په نامه بندي شوي، کړول شوي او وژل شوي او لکه چې ميتروخين هم وايي «دوی پرېکړه وکړه چې امين استعمال کړي او په نظامي او سياسي ډګر کې د ټولو تېروتنو، ناکاميو او جرمونو پړه پر هغه واچوي».[۱۲] له «دوی» څخه دلته مراد برژنيف او د افغانستان لپاره د لوړ کمېسيون غړي، يوري اندروپوف د ک. ج. ب سروال، ګروميکو د باندنيو چارو وزير او اوستينوف د ملي دفاع وزير و.

که يوازې د کابل ک. ج. ب افسران په دغه فکر وای دغه يادښت به مهم نه وای، خو هغه وخت مهم شو چې د کريملين لويان هم په همدغه فکر شول او د هغه پر بنسټ يې عمل وکړ او په اول سر کې يې په هاوانا کې له تره‌کي نه وغوښتل چې وطن ته د ستنېدلو په لار کې په مسکو کې ورسره ووينې. هلته برژنيف تره‌کي ته وويل چې «ملګرى تره کی! ستا په وړاندې به ما خپله دنده سر ته نه وي رسولې چې يوه بله موضوع درسره مطرح نکړم، چې هغه نه يوازې ستاسې شوروي ملګرو ته، بلکې د هغو مالوماتو له مخې چې موږ يې په لاس کې لرو، د خلق ديموکراتيک غړو ته د ځانګړې اندېښنې

لامل شوی دی. ملګری تره کی! په اوسني حال کې د ګوند په مشرۍ کې د خلق دیموکراتیک ګوند د مرکزي کمېټې د عمومي منشي په توګه ستاسې خاص رول د پوهاوي وړ دی، خو د نورو په لاس کې له حد نه ډېر د قدرت تمرکز حتی ستا ډېرو نږدې مرستیالانو ته هم د انقلاب د برخلیک لپاره خطرناک کېدلی شي. دا به مصلحت نه وي چې یو څوک د هېواد په مشرۍ، په وسله والو پوځونو او د دولتي امنیت په ارګانونو کې ځانګړی مقام ولري».[۱۳] میتروخین او اندرو دغه هدایت په دې ډول تعبیر کړی چې «... برېژنیف په واقع کې هغه [تره کی] دېته وباله چې له افغان حکومت نه د امین د اېستلو کوم ترتیب ونیسي».[۱۴] تره‌کي بیا ځان مکلف وګاڼه چې امین له خپل مقام نه لېرې کړي او کارمل یې پر ځای وټاکي، خو دغه تجویز تر دې حده د افغانستان د سیاسي واقعیت پر خلاف و، چې تره کی د هغه د عملي کولو په جریان کې نه یوازې خپل مقام بایلود، خپل ژوند یې هم له لاسه ورکړ او حفیظ‌الله امین د هغه ځای ونیوه او د ګوند او هېواد سروال شو. د کریملین لویانو په دغې پېښې سره ډکه وخوړله او لکه چې میتروخین هم وایي «د امین د لېرې کولو ناکامۍ د کریملین د لویانو او ک. ج. ب غرور په دردناک ډول ټپي کړ. دوی د نه فکر کېدونکو پېښو له پېښېدلو نه په وېره کې شول. د امین کرکټر د یوه دوست هېواد په قالب کې نه برابرېده».[۱۵]

# د شوروي اتحاد له يرغل نه دمخه

څنګه چې دغه پېښه او د پوزانوف تر اېستل کېدلو پورې اړوندې پېښې مې د ثور کودتا په اثر کې کښلې، دلته د هغو له يادونې نه ډډه کوم او له دې وروسته دغه موضوع ګانې کاږم چې شوروي واکمنو ولې او څنګه پر افغانستان باندې د يرغل کولو پرېکړه وکړه او يرغل يې په څه ډول عملي کړ.

د شوروي حکومت د خپل سفارت چارواکي او د ک. ج. ب غړي مؤظف کړل، چې د امين په سرواليۍ له نوي حکومت سره د پخوا په شان د دوستۍ چلند وکړي، خو په عين حال کې د امين کړه او چلند په دقيق ډول وڅاري او داسې کار ونکړي چې هغه د شوروي اتحاد په هکله شکمن شي. دغه څارنه وروسته له هغه لا ټينګه ونيول شوه چې د باندنيو چارو وزير، شاه ولي، په کابل کې يو شمېر سفيرانو ته پوزانوف، چې هلته نه و، په ننداره ييز ډول يو نامطلوب شخص وښود او له شوروي حکومت نه يې وغوښتل چې پر ځای يې بل سفير کابل ته واستوي. پوزانوف په هغې توطيې کې ښکېل ښوول شوی و، چې د امين پر ضد کېدله او ناکامه شوه او امين بيا له ايوانوف، پاولوفسکي د شوروي اتحاد د نظامي هيئت سروال، او بوګدانوف، د اکسا له سر مشاور سره په کتنه کې پر شاه ولي ټينګ ودرېد او پر هغه سربېره دوی يې په دغه کار کې دخيل وګڼل چې «غوښتل يې دی په تلک کې ګير کړي». (۱۶) له هغه وروسته وو چې د ک. ج. ب پروپاګندي ماشين د شخص امين په وړاندې پوره چالان شو، او پر ضد يې حيرانوونکي څيزونه جعل کړل. د اکتوبر په ۲۹مه کال ۱۹۷۹ د عالي کميسيون غړو- ګروميکو، اندروپوف، او اوستينوف خپل ګوند ته په يوه راپور کې څرګنده کړه چې «په

هغو کوښښونو سره چې امين په قدرت کې ټينګ وساتي، ددغسې سطحي کارونو لکه د نوي اساسي قانون د مسودې برابرولو، او د ځينو هغو بنديانو ازادولو، چې پخوا بندي شوي وو، تر څنګه په واقع کې په ګوند، پوځ، دولتي موسسو او ملکي ادارو کې ځپل کېدل پراخ شوي دي. په دې اړه يې غټ مثال دا وښود، چې «په حاضر وخت کې د پولټبورو د ډلې غړو (زېري، ميثاق او پنجشېري) د وژلو پلان جوړ شوی د ګوند، انقلاب ضد فعاليتونو د جوړو شويو تورونو له مخې». د راپور مهمه موضوع دا وه چې ويل يې «د افغانستان نوې مشري نيت لري چې د لويديځو قدرتونو په اړه لا يو انډوليز سياست غوره کړي. په خاص ډول دا مالومه شوې ده چې له افغانانو سره د خپلو ليدنو کتنو پر بنسټ د امريکې استازي د افغانستان د سياسي کرښې د تغيير د امکان په اړه هغې نتيجې ته هيله من دي چې د واشنګټن په ګټه وي». (۱۷)

شوروي لويانو خپلې پولټبورو ته ولې دغه جوړ شوی راپور وړاندې کړ؟ آيا اندروپوف خبر نه و چې پنجشېری د امين له واکمن کېدلو نه وروسته د هغه د خپلو چارواکو په هڅونې سره مسکو ته تللی او په دغه وخت کې په مسکو کې و؟ آيا برېژنيف د اکتوبر په څلورمه نه و ويلي چې د امين شاوخوا کسان مارکسيزم- لېنينزم ته رښتين دي، او له شوروي اتحاد سره دوستي غواړي؟ لکه چې په هغه بل اثر کې مې ويلي و، په ډهلي کې د امريکې سفارت غړی آرچر بلډ چې د يوې مياشتې لپاره کابل ته تللی و، له امين سره يې يوازې يو ځل ليدلي و. دغه ليدنه د دواړو هېوادونو د اړيکو د ښه کېدلو لپاره وه چې په کابل کې د امريکې د سفير ډابس په مړينې سره غير عادي شوي وو، چې هغه هم کومې نتيجې ته ونه رسېده. البته امين له آرچر بلډ سره د خپلو خبرو راپور شورويانو ته ورنکړ. هغه د يوه خپلواک هېواد د سروال په توګه مجبور نه و

چې له باندنيو سره د خپلو خبرو راپور شورويانو يا د بل حکومت چارواکو ته ورکړي. دغه راپور له امريکې او نورو لويديځو هېوادونو سره د افغانستان د اړيکو په اړه کوم مهم ټکی هم نه لاره. دغومره وايي چې کابل نيت لري له لويديځو هېوادونو سره يو متعادل سياست غوره کړي، او امريکايان هيله کوي چې د افغانستان سياست به په دغه ډول تغيير وکړي، چې د واشنګټن په خوښه وي. له دغه راپور نه ددغو شوروي لويانو مقصد شايد دا و چې د امين پر ضد د خپلو راتلونکو کړو لپاره د پولټبورو موافقه حاصله کړي، او په دې اړه د رښتين توب او اخلاق پروا ونه کړي، که څه هم دوی د يوه زبرځواک هېواد او د سوشلستي کامپ مشران وو. دوی ددې پروا هم نه کوله چې خپل ملګري او پخپله برېژنيف يې هم تېر ايست چې د ځيګر د ناروغۍ او وډکا څښلو له امله يې د تحليل او تفکر توان له لاسه ورکړی و. دا هم د يادولو وړ ده چې پخپله امين ته يې هم د مرستې کولو دغسې وعدې ورکولې چې نه يې ترسره کولې.

پوزانوف پخپلې وروستۍ ليدنه کې امين ته څرګنده کړه چې شوروي لويان په مسکو کې د هغه ليدلو ته تيار دي. په عين حال کې په همدغې ليدنې کې «په ګوندي او د دولت د پياوړي کولو په چارو کې د افغان د مشرۍ د کارونو په اړه د مسکو له رضايت نه» امين ته يې خبر وکړ. د بلې مياشتې په شپږمه د شوروي نوی سفير فکرت احمد تابييف له امين سره په لومړۍ کتنه کې همدغه بلنه بيا ياده کړه.(۱۸)

د اندروپوف لپاره به پورتنی راپور کافي نه و، چې د ډسمبر په اولو کې يې برېژنيف ته يو شخصي يادښت واستاوه او په هغه کې يې امين په نورو ټکو سربېره هم د «ثور انقلاب» او هم د شوروي اتحاد مخالف وباله. ددغه يادښت بل مهم ټکی دا و چې ويل يې، امين دغسې پټ کارونه کوي چې

خپل سیاست ممکن د لویدیځ په لور واړوي؛ له امریکایي اجنټ سره ګوري، او موږ پرې نه خبروي؛ او قومي لویانو ته وعدې ورکوي چې له شوروي اتحاد نه مخ وګرځوي. د اندروپوف په نظر «دغو ټولو دغسې حال رامېنځته کړی، چې له یوې خوا دغه خطر شته چې د اپرېل انقلاب ګټې ضایع شي، او له بلې خوا په افغانستان کې زموږ دریځ په خطر کې شي». په یادښت کې دا هم ویل شوي چې «هېڅ تضمین نشته چې امین ددې لپاره چې خپل قدرت خوندي وساتي د لویدیځ په لور وا نه وړي». په نتیجه کې هم په افغانانو کې شوروي ضد احساسات پیدا شوي، او هم د کابل «په دیپلوماتیکي کړیو کې د امین له اختلافاتو او هم دا چې د شوروي پر ضد به اقدام وکړي، خبرې کېږي». دغه ټول جعلیات په اصل کې ددې لپاره وو چې د هغه پر ضد د عمل وخت رسېدلی. په دې هکله اندروپوف وایي چې «په دې نژدې وختو کې په خارج کې د افغان کمونستانو یوې ډلې له موږ سره تماس نیولی دی. له ببرک او سروري سره زموږ د تماس په بهیر کې موږ ته څرګنده شوه (او دوی موږ له هغه نه خبر کړو) چې دوی له امین سره د مقابلې کولو، او د نوي ګوند او دولتي ارګانونو د جوړولو لپاره یو پلان اېستلی. خو امین د هغه د شنډولو لپاره د تورنو کسانو په نیولو پیل کړی دی». او په دغه حال کې کارمل او سروري د ضرورت په وخت کې د مرستې موضوع، د نظامي مرستې په ګډون، راپورته کړې ده.(۱۹)

د اندروپوف له دغه جوړ شوي یادښت نه څرګنده ده، چې ک. ج. ب او په سر کې یې پخپله دی د امین مرګکی مخالف شوی و. په همدغه مهال کې و، چې ده د سروري، ګلابزوی، او وطنجار دغه بې بنسټه تور چې امین د سي‌آی‌اې جاسوس دی، برېژنیف او د پولټبورو نورو غړو ته واستاووه.(۲۰) خو د امین پر ضد د عمل تجویز لا نیول شوی نه و او دا یو ګران کار و، ځکه

چې امین په بین المللي ساحه کې د افغان دولت سروال، د وسله والو پوځونو اعلی قومندان و، او حکومت یې د ځینو سردرو نه پرته په افغانستان کې چلېده، او سیاسي مخالفې ډلې یې د پرچم ګوندګي په ګډون ځپل شوې وې، او هېڅ یوې دغه توان نه درلود، چې د هغه حکومت ته چېلنج ورکړي. د همدغو واقعیتونو په نظر کې نیولو سره د هغه له مېنځه وړل پر خپلواک افغانستان باندې وسله وال یرغل کېده. اندروپوف او ملګرو یې سره له دې هم دغه کار ته ملا وتړله. په دې اړه دوه ډوله نظرونه وړاندې شوي دي:

یو یې د سلیګ هري سن نظر دی، چې له شوروي لوړو کدرونو سره د مرکې محصول دی او هغه دا چې «د ټولو روایتونو پر بنسټ، اندروپوف تر یوولسمې ګړۍ پورې د مداخلې مخالفت کاووه، په هغو دلیلونو چې د هرات د پاڅون په وخت کې یې وړاندې کړي وو. د اولیګ کالوګن په وینا اندروپوف د ډسمبر تر اولو پورې پر خپل نظر ټینګ ولاړ و، تر څو په پای کې کریچکوف وهڅاووه چې له امین نه د خلاصي لپاره د شوروي پوځونو له حضور نه پرته بله لار نشته». د ګیورګي ارباتوف د لیکنې له مخې چې هغه د اندروپوف له معتمدانو څخه و، د اندروپوف «ډېره غټه تېروتنه دا ده چې «پر ببرک باندې یې له حد نه ډېر اعتماد وکړ». هغه فکر نه کاووه چې د اوږدې مودې مداخلې لپاره به ضرورت وي، او څنګه چې کارمل تر امین ډېر اعتدالي دی هغه به افغان کمونستي رجیم ته ثبات ورکړي. د ارباتوف په نظر اندروپوف ددې درک کولی ونه شو چې «په هغې یوازنۍ طریقې سره چې کارمل به د هېواد سروال وي د باندنیو نېرو په مرسته به وی». د کالوګین په وینا له اوستینوف سره د اندروپوف سیاسي اتحاد و چې هغه یې په پای کې په افغانستان کې مداخلې ته وهڅاووه. د شوروي دفاع وزیر «اوستینوف په نظامي استخباراتو (GRU) او سیاسي څانګې کې د ګوندي جذمیانو تر

فشار لاندې او اندروپوف د اوستینوف تر فشار لاندې و. سره له دې هم هغه ګوندي سړی و، ډېر متواضع چې پوهېده څه وخت له سیاسي څپې سره ملګرتوب وکړي». هري سن اضافه کوي چې د ک. ج. ب یو بل افسر له دغسې یوې غونډې نه وغږېد چې پکې د مداخلې په اړه نظرونه سره برابر وېشل شوي وو. اندروپوف شکونه ښکاره کړل، خو یو ټینګ او څرګند دریځ یې ونه نیوه. هغه پوهېده چې دا یوه تېروتنه وه، خو ځان یې مجبور ولیده».(۲۱)

د یرغل په اړه بل نظر د ک. ج. ب د ارشیف پخوانی مدیر، واسیلي میتروخین او د کیمبرج پوهنتون تاریخپوه کرستفر اندرو دی چې هغه د ک. ج. ب د سندونو او د اندروپوف د فکر محصول دی. د دوی دغه نظر زما له دغې لیکنې سره سر خوري چې د همدغو سندونو پر بنسټ مې تهیه کړي. د دوی په وینا «په پولټبورو کې د اندروپوف او د هغه له دوو دایمي متحدانو، اوستینوف او ګرومیکو له خوا د یرغل لپاره قوي فشار واچول شو. اوستینوف که څه هم شاید لومړنی کس و، چې د شوروي د مداخلې ضرورت ته وهڅول شو، خو تر ټولو نفوذناک آواز د اندروپوف و، چې هغه د خپلو ځینو ملګرو په نظر د «هنګري عقدې» څخه ځورېده. اندروپوف په بودا پست کې د شوروي د سفیر په توګه د هنګري پاڅون پخپله مشاهده کړ. هغه وخت د ضد انقلاب د ځپلو لپاره د هغه ټینګار زړه نا زړه خروشچف، نظامي مداخلې ته وهڅاووه. له هغه وروسته اندروپوف «د ایډیالوجیکي سبوتاژ» د ځپلو پر ضرورت ټینګار کاووه چې د شوروي بلاک په هر ځای کې به کېده. په ۱۹۶۸ کې یانې یو کال وروسته له هغه چې دی د ک. ج. ب سروال شو د «پراګ د پسرلي» د ځپلو په مقصد په چکوسلواکي باندې د یرغل له لویو ملاتړانو څخه و.

د ۱۹۷۹ په مارچ کې یې د ک. ج. ب په یوه کنفرانس کې خپل نظر یو ځل بیا ښکاره کړ، چې د ایډیالوجۍ د تخریب هر آواز د دغسې خطر تمثیل کوي، چې له پام نه غورزول کېدلی نشي. د هغه په الفاظو «په ساده ډول موږ دغه حق نه لرو چې دلته حتی یوې ډېرې وړې غلطۍ محاسبې ته اجازه ورکړو، ځکه چې په سیاسي ډګر کې هر ډول ایډیالوجیکي سبوتاژ په نېغ یا په نا نېغ ډول ددې لپاره وي چې دغسې اپوزیشن تولید کړي، چې زموږ د سیستم په مخالفت وي... او په وروستي تحلیل کې د سوشلېزم د نسکورېدلو لپاره شرایط برابر کړي».

«د ۱۹۷۹ تر مې پورې اندروپوف په ټینګه معتقد و، چې افغانستان یوولس کاله وړمبی د چکوسلواکیه په شان په ایډیولوجیکي سبوتاژ سره تړل شوی دی او دا چې یوازې د شوروي په نظامي مداخلې سره د سوشلېزم د سقوط مخنیوی کېدلی شي».(۲۲)

د اندرپوف دغه وینا په واقع کې د برژنیف د هغه نظر انعکاس دی چې په ۱۹۶۸ کې یې د چکوسلواکیې د پاڅون له ځپلو نه وروسته وړاندې کړی، او د برېژنیف دکتورین په نامه یادېده. هغه ویلي وو چې «څه وخت چې باندني او دنني قوتونه د سوشلېزم پر ضد کوښښ کوي چې د یوه ټاکلي سوشلیستي هېواد انکشاف د پانګه والي سیستم د بیا ژوندي کولو په لور واړوي، څه وخت چې په هر هېواد کې د سوشلېزم داعیې ته خطر راولاړېږي- په عمومي ډول د سوشلېستي کامنولت د خوندیتوب لپاره خطر، دا نه یوازې د هغه هېواد د خلکو کشاله ده، خو هغه یوه ګډه کشاله ده، د ټولو سوشلېستي ګوندونو د اندېښنې وړ».(۲۳) شوروي اخبارونو د ۱۹۷۹ په اګست کې افغانستان د لومړي ځل لپاره د سوشلېستي ټولنې غړی بللی و. په دې ډول د شورویانو په نظر په افغانستان کې د برېژنیف دکتورین د تطبیق وړ و. خو د

اندروپوف نظر او د برېژنيف دکتورين د دوی د هغو ويناوو پر ضد وو چې دوی او نورو ملګرو يې د هرات د لوی پاڅون په وخت کې څرګند کړ، او ويلي يې وو چې افغانستان د سوشلېزم لپاره تيار نه دی، او د دوی پوځ به هلته مجبور وي له خلکو سره جنګ او وژل وکړي، چې دوی يې نه غواړي.

د برېژنيف دکتورين په اصل کې د شوروي امپراتورۍ د پراخولو لپاره اېستل شوی و، په افغانستان کې د هرات له پاڅون نه تر دغه وخته دغسې بنيادي تغيير نه و پېښ شوی چې په هغه سره به افغانستان کې د سوشلېزم لپاره ډګر هوار شوی وي. يوازنی تغيير چې پېښ شوی و، د سياست په ډګر کې و، چې په هغه سره حفيظ‌الله امين د سياست مخکښ شوی و، او هغه شوروي پال ګونديان شړلي يا ځپلي وو، او هم يې نه غوښتل د شورويانو په فکر او حکم حکومت وکړي. خو د شورويانو په ګټه هم يو تغيير پېښ شوی و، او هغه دا چې د ببرک کارمل په سروالۍ يوه وړه ډله شوروي شوي پرچميان او د اسد الله سروري په مخکښۍ څو تنه زرغوني او تره‌کي خلقيان د شوروي حکومت په خدمت کې ننوتلي وو، په دغه هيله چې هغه په افغانستان کې د حفيظ‌الله امين په سروالۍ حکومت په نظامي زور نسکور کړي، او دوی هلته په واک کړي. شوروي لويانو ته هم پلمه برابره شوه چې د هغو له لارې او د هغو په نامه افغانستان لاندې کړي، لکه بخارا چې يې د همدغې پېړۍ په سر کې د ځوانو بخارايانو له لارې لاندې کړې، او د خپلې امپراتورۍ يوه برخه ګرزولې وه. خو دوی دا په نظر کې ونه نيوله، چې د بخارا ماډل په افغانستان کې د تطبيق وړ نه دی. سره له دې هم دوی، لکه چې ژر به وليدل شي، د مؤلف جګت مهتا په ژبه پر افغانستان باندې يې «د حماقت مارش» وکړ، چې د هغه په نتيجه کې له ډېرو وژلو او ورانولو نه سربېره سوشلېستي ايډيالوجي په بېساري ډول بې اعتباره شوه، د برېژنيف

دکتورین د تل لپاره تر خاورو لانـدې شـو، او د شـوروي اتحـاد امپراتـوري لـه منځه لاړه».

اندروپوف او ملګرو یې پر افغانستان باندې د یرغل په ورځ د امـین پـه اړه بل راپور هم خپور کړ، چې نژدې ټول یې ک. ج. ب جوړ کړی، او د هغه بـل په شـان د واقعیتونـو پـر خـلاف و. پـه هغـه کې ویـل شـوي وو چې امـین «د افغانستان خلق دیموکراتیک ګوند مرکزي کمېټې او حکومت لـه صـفو نـه ډېـر غړي اېستلي، او بندي کړي دي. زیاتره یـې ځپـل شـوي او پـه فزیکـي ډول لـه منځ نه وړل شوي چې د اپرېل په انقلاب کې یې ګډون وکړ. هغه کسـان چې په څرګند ډول یې له شوروي اتحاد سره خواخوږي لرله، هغوی چې پـه ګونـد کې یې دننه د لېنني معیارونو دفاع کوله... د امین پـه نېـغ امـر د افغانسـتان پـه دیموکراتیک جمهوریـت کـې اوازې خپـرې شـوې چـې پـه هغـو کـې شـوروي اتحاد ته بد ویل شوي، او پـه افغانسـتان کې د شـوروي کـدرونو پـر فعـالیتونو بانـدې سـوری غـزول شـوی، او د افغـان اسـتازو پـر هغـو کوښښـونو بانـدې بندیزونه لګول شوي، چې غواړي ورسره لیدنه کتنه وکړي. پـه عـین حـال کې کوښښ شوی دی چې د (لا انډولیز باندني سیاست سراتیجي) د یـوې برخـې په شان چې امین غوره کړی دی، له امریکې سـره اړیکـې تـرمیم کـړي. امـین د امریکې له چارج دافر سره په کابل کې یو لړ لیـدنې پـه پټـه کـړې دی. ... امـین کوښښ کړی دی چې پـه داخـل کـې لـه انقـلاب ضـد مشـرانو سـره پـه روغـې جوړې رسېدلو سره خپل دریځ ټینګ کړی د اعتمادي کسـانو لـه لارې یـې لـه مسلمان بنسټپال اپوزیشن سره تماسونه نیولي دي. د سیاسـي ځپلـو انـدازه پـه ډېرېـدونکي ډول عامـه شـوې ده. یـوازې د سـپټمبر لـه پېښـو نـه وروسـته د افغانستان خلق دیموکراتیک ګوند ۶۰۰ نظامي کدرونه، او هغوی چې د امـین پر ضد احساساتو باندې تورن شوي وو، بې لـه کـوم تحقیـق او محـاکمې نـه

اعدام شوي دي. په واقع کې هدف دا و چې ګوند له منځه یووړل شي».

«دغو ټولو د افغانستان له خاصو افاقي ستونزو او شرایطو سره په ګډه د انقلابي پروسې پرمختګ په ښخي مشکل حال کې وغورځاووه، او انقلاب ضد قوتونو ته یې قوت وباښه چې د هېواد ډېر ولایتونه یې په اغېزناک ډول تر کنترول لاندې راوستلي دي. دوی له باندني ملاتړ نه په استفادې سره چې د امین په وخت کې په ډېرېدونکي تناسب زیات شوی، کوښښ کړی چې د هېواد په سیاسي- نظامي وضع کې افراطي تغییر راولي، او د انقلاب ګټې له منځه یوسي».

«په دیکتاتوري لارو د هېواد اداره کولو، د ځپلو چلندونو، عمومي اعدامونو، او له قانوني نورمونو نه سرغړونو په هېواد کې عام ناراضیتوب خلق کړی. په مرکز کې ډېرې خپرونې راوتلې چې د موجود رجیم خلقي ضد ماهیت یې انځور کړی، او د امین له ډلې سره یې د مبارزې لپاره د یو والي غږ پورته کړی. نارضایت په پوځ کې هم خپور شوی. ښایسته شمېر نظامي منصب والان د امین د نالایقو کسانو لوړ کولو ته حیران شوي دي. په واقع کې په هېواد کې د امین پر ضد یوه پراخه جبهه جوړه شوې ده».

«ببرک کارمل او اسد الله سروري چې دباندې مهاجر وو، په داسې حال کې چې د انقلاب او هېواد د خپلواکۍ په اړه یې د خطر احساس کړی دی، او په افغانستان کې یې د امین پر ضد احساساتو هسکېدلو په اړه ټینګ غبرګون ښودلی، ژمنه کړې چې په هېواد کې او له هغه نه دباندې د امین پر ضد ټولې ډلې سره یو موټی کړي، په دغه مقصد چې وطن او انقلاب وژغوري. پر دې سربېره په حاضر وخت کې یوه پټه پرچمي ډله د غیر قانوني مرکزي کمېټې په سروالۍ کار کوي ددې لپاره چې ټول وړاندې تلونکي ځواکونه د ترهکي خلقیانو په ګډون سره یو موټی کړي».

«ټولې پخوانۍ بې اتفاقي ګانې او د افغانستان خلق دیموکراتیک ګوند کې ټول درزونه له منځ نه وړل شوي دي. خلقیانو (د اسد الله سروري په استازیتوب) او پرچمیانو (د کارمل په استازیتوب) د ګوند اخري یو موټی والی اعلام کړی دی. ببرک د نوي ګوند مشر، او سروري د هغه مرستیال غوره شوی دی». په دغه حال کې «لازمه شوې ده چې افغانستان ته [د شوروي اتحاد له خوا] اضافي نظامي مرسته ورکوله شي».(۲۴)

دغه یادښت له یوې موضوع نه پرته نور ټول، د واقعیتونو پر خلاف و. دغه موضوع د کارمل او سروري او څو ملګرو تر منځ یې ایتلاف و، چې د ک. ج. ب د پروګرام له مخې او د هغې په نوښت سره منځته راغلی و، او هغه هم په مبالغه ییز ډول بیان شوی او د یوه «نوي ګوند» په نامه یاد شوی، په داسې حال کې چې کارمل او سروري لکه اور او اوبه داسې وو، چې وروستیو پېښو هم دغه حقیقت په ډاګه کړ. د ها بل یادښت په شان ددغه یادښت محوري ټکی هم شخص امین و، چې د ک. ج. ب والو په نظر د هغه له امله د «اپریل انقلاب» ګټې او داسې هم په افغانستان کې د شوروي اتحاد ګټې د له منځه تللو په حال کې دي، او بده یې لا داده چې دده په واکمني کې به هلته د شوروي اتحاد دښمنان ددغسې قوي نفوذ خاوندان شوي وي چې د شوروي اتحاد سهیلي سیمې به له خطر سره مخ کړي. دغه یادښت به ددې لپاره د شوروي اتحاد لوړو چارواکو ته وړاندې شوی وي، چې دوی پوه شي چې لکه کریچکوف ویلي وو چې په افغانستان کې د شوروي پوځ له شته والي نه پرته له حفیظ‌الله امین نه خلاصی ممکن نه دی. له همدې امله به وو چې په دغه یادښت کې د امین د «انډولیز سیاست» په اړه اندېښنه په جدي ډول ښکاره شوې، په داسې حال کې چې په دغې اړه د امین هلې ځلې کوم ځای ته رسېدلې هم نه وې، او لا مهمه

دا ده چې هغه د شوروي اتحاد پر ضد نه وې، او امین له شوروي اتحاد سره پر دوستي ټینګ ولاړ و، چې دمخه یې بیان شوی دی. غټه بېلګه یې دا ده چې افغان رسنیو د امین دغه وینا په وار وار کوله چې له شوروي اتحاد سره دوستي د افغان پالنې یوه برخه ده. بله دا چې امین په همدغه وخت کې هم له شوروي حکومت نه ډول ډول مرستې غوښتلې چې په هغو سره په افغانستان کې د هغو نفوذ نور هم ډېرېده. امین شوروي جنرال پاولوفسکي ته د افغان پوځ سیاسي سروال، اقبال وزیري او د لوی درستیز محمد یعقوب په شته والي سره په دغو الفاظو ډاډینه ورکړېده چې «زمونږ دوستي نه لړزېدونکې ده.»[۲۵] جنرال پاولو فسکي د شوروي اتحاد د دفاع وزیر مرستیال د یوه لوی پوځي افسرانو د هیئت په مشرۍ د اګست په ۱۷ مه کابل ته راغلی او د افغان پوځ د پیاوړتیا په اړه د سپارښتنو له ورکولو نه وروسته د اکتوبر په ۲۲ مه مسکو ته ستون شو او هلته یې د دفاع وزیر اوستینوف ته خپل نظر په دې ډول ښکاره کړ چې افغانستان ته د شوروي پوځ استول لازم نه دي.

اصلي خبره دا ده چې اندروپوف، استینوف، ګرومیکو له امین سره مخالف شوي وو، په دې چې هغه د صدراعظم موسی شفیق او ولسمشر محمد داؤد په شان غوښتل افغانستان د شوروي اتحاد له ځانګړي نفوذ نه خلاص او پر خپلواک ډول اداره کړي، په داسې حال کې چې پراري او شوروي شوی ببرک کارمل او نور شوروي شوي او پرچمیان لکه عبدالوکیل، محمود بریالی، اناهیتا راتب زاده، نور احمد نور او نجیب‌الله او داسې نور شوروي شوي او پراري خلقیان لکه اسداله سروري، اسلم وطنجار او سید محمد ګلابزوی حاضر وو افغانستان د شوروي اتحاد ترلاس لاندې هېواد کړي، او پرې حکومت وکړي. نو دغه دواړه یادښتونه په اصل کې د ک. ج.

ب چارواکو له خوا د دې لپاره برابر شوي وو، چې انـدروپوف او ملګـري يـې دننه په خپل حکومت او ګوند کې د يرغل مخالفان د امين پر ضد وپاروي او د کارمل پـه سـروالۍ پرچميـان او سـروري او د هغـه پـه شـان شـوروي شـوي خلقيان واک ته د رسولو په پلمه پر افغانستان باندې خپل وسله وال يرغل پـه حقه وښيي. اوس به ووينو چې دوی څنګه دغسې وکړل.

# شوروي شوي پرچميان او خلقيان څنګه د يرغلګر پوځ برخه وګرزول شول؟

د (ثور کودتا) نومي اثر کې مې دغه موضوع پوره بيان کړې، چې ک. ج. ب څنګه سروري، اسلم وطنجار او ګلابزوی د شوروي په نظامي يونيفورم کې له شوروي پوځيانو سره يو ځای د سپټمبر په ۱۹ مه اول تاشکند ته ورسول، او يوه مياشت وروسته يې له دغه ښار نه بلغاريې ته ولېږدول. ک. ج. ب بيا دوی له هغه ځای نه په مسکو کې له پرچميانو سره يو ځای کړل، او بيا يې ټول د خپل يرغلګر پوځ يوه برخه وګرزول.[۲۶]

کارمل په پراګ کې و، چې هلته له خپل معزول کېدلو او د افغان تابعيت له محروم کېدلو نه وروسته اوسېده. د هغه ملګرو- نور احمد نور، عبدالوکيل، اناهيتا راتب زاد، او نجيب الله د ختيځې اروپا په نورو سوشلستي هېوادونو کې وروسته له هغه شپې او ورځې تېرولې چې خلقي حکومت دوی د سفيرانو په توګه له خپلو وظيفو نه لېرې کړي وو. ک. ج. ب اول دوی ته کوم خاص اهميت نه ورکاوه، که څه هم اجنټان يې وو، خو ک. ج. ب له دوی ټولو سره وروسته له هغه توده ونيوله چې په خپله د امين مخالف شوه. د محمود بريالي کيسه يو څه توپير لري. بريالی د «شير» مستعار په نامه د ک. ج. ب اجنټ و، سره له دې هم کله چې هغه په اسلام اباد کې د سفير توب له مقام نه محروم شو، او غوښتل يې چې شوروي اتحاد ته پناه يوسي، پناه ورته ورنکړه شوه. په هغه ښار کې د شوروي اتحاد سفير ته هدايت وشو په دې ډول چې «که د افغانستان د دموکراتيک

جمهوریت سفیر غواړي خپل هېواد ته ستون شي دی دې ورته ووایي چې هغه ته به په شوروي اتحاد کې پناه ورنکړه شي.» بریالی سره له دې هم د ک. ج. ب افسر ب.ن پترایف ته څرګنده کړه، چې «دی به کابل ته ستون نه شي او د ستونزو [له مخ کېدلو] سره سره به دی ټینګ کمونست او د شوروي اتحاد ربښتینی دوست وي.» دی بیا د خپل ورور، ببرک کارمل، لیدلو لپاره پراګ ته لاړ او له هغه ځای نه یې له یوګوسلاویا نه سیاسي پناه وغوښتله. وروسته دې د یوه عادي کس په توګه مسکو ته لاړ او هلته یې د ک. ج. ب یوه چارواکي I.E نیکراسوف سره ولیدل او ورته یې وویل، چې پرچمیان په ډېر بد حال کې دي. وضع تراجیک ده او دوی ټول له مرګ سره مخ دي. هغه د ګړندیو عملونو غوښتنه وکړه چې ببرک او پلویان یې وژغورل شي.» بیا یې په زاریو پیل وکړ. «د انسانیت په نامه مونږ وژغورئ! د انسانیت په نامه مونږ وژغورئ!» څو ځلې یې دغسې وویل، او هر ځل چې یې ویل، ژړل یې. ده دا هم وویل چې «(زه نپوهېږم څه وکړم. زه هیڅ څیز نه لرم چې ژوند پرې وکړم. زمونږ ټولې هیلې زمونږ په شوروي انډیوالانو کې پرتې دي. له ماسره د ببرک یو لیک دی، نپوهېږم چاته یې ورکړم.»[۲۷] بریالي دا هم ورته وویل چې «ربښتیاني کمونستان ټول په پرچم ګوند کې دي، او شوروي اتحاد سهوه کوي چې پر خلقیانو باندې حساب کوي.»

د بریالي خبرې د پولټبورو ایډیالوجي پوه سوسلوف او پونوماریف ته ورسولې شوې، او هغوی دغه موضوع د مرکزي کمېټې بین‌المللي څانګې ته واستوله. پولیاک له بریالي سره ولیدل. دا به دې و چې بریالي ورته وویل چې «د هغه شوروي ملګرو ورته تل مشوره ورکوله چې څنګه عمل وکړي، او ده د هغو مشوره هیڅکله پر مځکه نه ده غورزولې.»[۲۸]

د کارمل ستونزه د بریالي تر ستونزې لږه وه. پراګ اول هغه ته د هغه د

غوښتنې پرخلاف سياسي پناه ورنکړه، او ورته يې وويل چې دی «د افغانستان سفارت تر حمايې لاندې دی.» وروسته شايد د «لوی ورور» په دستور به و، چې سياسي پناه ورته ورکړل شوه، او د زړه د ناروغۍ په نامه تر علاج لاندې ونيول شو، په کابل کې د چکوسلواکيې سفير نورمحمد تره کی له دغه حال نه خبر کړ. تره‌کي ورته وويل چې هغه ځان په ناروغۍ وهلی دی.

عجبه ده چې شوروي اتحاد غوندې يو زبرځواک د افغانستان په اړه څنګه دغسې يو خام سياست غوره کړ، چې د هغه له امله دغو پراري پرچميانو او خلقيانو ته اړ شو چې د امين د حکومت د نسکورولو په لار کې ورسره مرسته وکړي. ک. ج. ب د اکتوبر په ۲۵ مه په کابل کې خپل يو پخوانی افسر، ولاديميرواچ پتروف پراګ ته واستوه چې له کارمل سره ووينې. په همدغه مهال کې يې پر خپلو څانګو کې د غونډو په کولو پيل وکړ، او د افغانستان په اړه يې خپلو چارواکو ته نوي مالومات ورکړل چې د افغانستان وضع نور د زغم وړ نه ده، او دوی ټول بايد د يوه لوی اوښتون د راوړلو لپاره چې وضع سمه کړي تيار وي. ميتروخين د ک. ج. ب د ارشيف چلوونکی پوه شو چې پر افغانستان باندې يرغل کېدونکی دی. د دغه پتروف په هڅونې به و، چې کارمل د اکتوبر په دېرشمه پريژنيف ته يو ليک واستوه او په هغه کې يې امين «انارکست» وښود، د ليک اصلي ټکی لا دا و چې «د [افغان] ګوند مخکښ غړي حاضر دي چې د افغانستان کمونستان، وطنپالان، ټول پر مختلونکي او د موکراتيک قوتونه سره تنظيم او يو موټی کړي. دغو موخو ته رسېدل به زمونږ د شوروي ملګرو د وروری په مرسته، مشورو او سلا وشي.» [29] تر هغه د مخه د اکتوبر په ۱۸ مه هغو درېيو پراري خلقيانو د شوروي اتحاد کمونست ګوند د مرکزي کمېټې په نامه هم يو ليک استولی او

په هغه کې يې په افغانستان کې د يوه رښتيني انقلابي بيارغونې پروګرام او د امين له نسکورولو نه غبرګدلي وو. له دغو دواړوو ليکونو نه واضحه ده چې دغو پراري او شوروي شويو خلقيانو او پرچميانو ملي حاکميت په شوروي حکومت کې لټوه، نه په خپل ولس کې. په دې ډول دوی هر يوه په خپل ولس باندې د حکومت کولو په هيله خپل دماغ، خپله اراده او خپل کړه د ک. ج. ب تابع ګرزولي او خپل خپلواک شخصيتونه يې نفي کړي وو. خو دوی په دغه ډول چلند سره د عصري مريانو سر مشران شول. بيا نو ک. ج. ب دوی له پراګ، يوګوسلاويا، او بلغاريې نه مسکو ته نقل کړل. په مسکو کې دوی د ډسمبر تر ۱۲ مې پورې وساتل شول، او بيا چېرته د افغانستان پولې ته نږدې ممکن ازبکستان ته نقل شول، چې د ضرورت په وخت کې په افغانستان کې په پټه کار وکړي.

په مسکو کې له ګلابزوی نه وغوښتل شول چې ک. ج. ب به يې کابل ته ورسوي د دې لپاره چې دی هلته لومړني کارونه ترسره کړي، خو هغه تګ ته زړه ونه کړ، او دی ډارن وګڼل شو. په واقع کې له د وی نه هيڅ يوه زړه نه کاووه چې په داسې حال کې چې امين ژوندی او پر خپل مقام وي کابل ته لاړ شي. دوی په دې فکر وو، چې د قدرت ګټلو په دغې خطرناکې لار کې د ک. ج. ب نظامي او ملکي چارواکي دمخه او دوی ورپسې وي. خو موضوع لازمه کوله چې ځينې کارونه او فيصلې بايد د دوی په نامه وي لکه چې ويل يې:

«دوی پر عمومي سياسي پلاتفارم او مشخصو پلانونو باندې کار وکړ چې امين او د هغه خېل له واک نه وغورزوي. دغه ټول کارونه د شوروي اتحاد د کمونستي ګوند د مرکزي کميټې د غوښ نفوذ او سپارښتنو له مخې وشول او هغه بيا افغان ملګرو ته د شوروي مشرانو استازو ورسول.» دوی دا هم په

اتفاق ومنله چې د افغانستان خلق دموکراتیک ګوند د بیا ژوندي کولو په دغې سختې مبارزې او د مسخ شوي دموکراتیک جمهوریت د له منځه وړلو په کار کې به د دوی مشر ببرک کارمل او اسدالله سروري د هغه مرستیال وی. د دوی د دغې کړنلارې لوی ټکي دا وو: «د واکمنې له ګډې نه چې څومره زر کیږي د امین لیرې کول، د افغان کمونستانو د صفوفو یو موټی کول، د درزونو د له منځه وړلو ضرورت، له شوروي اتحاد سره دوستي، او له امپریلزم سره مبارزه.»(۳۱) د دغو څو ربړ شویو، او شوروي شویو پرچمیانو او خلقیانو دغه فیصله وروسته د خلقیانو او پرچمیانو یو موټی والی وښودل شو، خو دا د مسکو د ورځو اتفاق و، چې دوام یې کولی نه شو.

# پر افغانستان باندې د یرغل پرېکړه

دغه لومړني کارونه په مسکو کې د ک. ج. ب تر څارنې لاندې د شوروي د یرغل په درشل کې وشول، په دغه مقصد چې د ک. ج. ب سروال یوري اندروپوف د پولټبورو غړو او لیوینډ بریژنیف ته وښيي چې د امین د حکومت د نسکورولو فیصله په اصل کې د رښتینو انقلابي افغانانو کار دی لکه چې زر به ولیدل شي، د دسمبر په ۱۲ مه د شوروي اتحاد د کمونستي ګوند په پولټبورو یا سیاسي دفتر کې چې د شوروي اتحاد د پرېکړې کولو تر ټولو لوړ رکن دی پر افغانستان باندې د یرغل کولو فیصله وشوه. تر هغې دمخه اندروپوف د ګوند د عمومي منشي بریژنیف چې د شوروي اتحاد اعلی واکمن و، موافقه ترلاسه کړې وه. هغه د دې لپاره پریژنیف ته ناسم مالومات ورکړل، لکه هسې چې په ۱۹۶۸ کې یې د چکوسلواکیې د پاڅون په اړه خروشچف ته ناسم اطلاعات ورکړي وو. د هغو دواړو اصلي ټکی دا و، چې سوشلزم ته د ایډیالوجیکي سبوتاژ خطر متوجه دی چې باید مخه یې ونیوله شي- اندروپوف د دې لپاره چې پریژنیف له نظامي عملیاتو نه اندېښمن نه وي، دغه ناسمه انتباه هم ورکړه چې امین او حکومت به یې د رښتینو انقلابي افغانانو له خوا نسکور شي، او د شوروي پوځ به د هغه په نسکورولو کې فرعي رول ولوبوي. ده د دغو پراري پرچمیانو او خلقیانو له لیدلو نه وروسته بریژنیف ته په یوې لیکنې کې وویل چې «د افغانستان د خلق دموکراتیک روغو ځواکونو، د دې لپاره چې خپله سیاسي کړنلاره پر مخ بوځي، اراده کړې چې د [کابل] رجیم په نسکورولو سره قدرت ترلاسه کړي.

د دې لپاره چې ح.امين له مينځ نه يو وړل شي، يوه نظامي کمېټه جوړه شوې د ه.» ټول هغه څه چې لازم دي «په مرکز [کابل] کې به يو ګړندی نظامي عمل وي.» نو دا د شوروي اتحاد په ګټه ده چې دغو «روغو ځواکونو» ته، چې د قدرت نيولو لپاره تياري نيسي، په پټه مشوره او مادي مرسته ورکړل شي.» لکه چې دمخه ويل شوي، اندروپوف د ډسمبر په اولو کې بريژنيف ته ليکلي وو چې «د امين د پټو فعاليتونو په اړه چې ممکن د لويديځ په لور واوړي خطرناک اطلاعات ترلاسه شوي دي» چې په دغه حال به هم کمونستي حکومت او هم د شوروي نفوذ ته خاتمه ورکړي. په دغه ليک کې دا هم ويل شوي وو، چې کارمل او ملګرو يې د امين د نسکورولو لپاره د ممکنې مرستې موضوع هم راپورته کړې، چې د ضرورت په حال کې به نظامي مرسته پکې وي.» د نظامي مرستې په اړه دغومره ويل شوي وو، چې «د بريالي عمل لپاره به په کابل کې د شوروي قوه کافي وي، خو د احتياط او د نه ليدونکو ستونزو د رفع لپاره به دا مصلحت وي چې يوه نظامي ډله [افغان] پولې ته نزدې ځای پر ځای شوې وي.»(۳۲)

پر افغانسان باندې د يرغل کولو پرېکړه په عجب او بيسياري ډول وشوه. په اول کې يو څو تنو دغه فيصله وکړه، وروسته د پولټبورو ټولو غړو لاسليک کړه، او د هغې مخالف اواز ته اجازه هم ورنکړای شوه! دغه ټول څه دوی په د غه ډول وکړل لکه غله چې غلا او جنايت په تياره او ويره کې کوي که څه هم دوی د نړۍ د يوه زبرځواک جمهوريت مشران وو. که د دوی دغه فيصله په حقه يا د زياترو شورويانو په غوښتنه يا لږ تر لږه د هغو په رضايت وای دوی به دغه پرېکړه په دغه ډول نه وای کړې. په هر حال اندروپوف، ګروميکو، او استينوف د ۱۹۷۹ کال د ډسمبر په ۱۲ مه د دغه يرغل په اړه د بريژنيف هوکړه ترلاسه کړه. کان ستېن تان چرننکو چې د پولتبورو عمر

خوړلی غړی و، دغه پرېکړه په لاس ولیکله، نه د معمول په شان د پولټبورو سکرتر د افغانستان د نامه پر ځای یوازې «الف» ولیکل شو. د یرغل یا نظامي عمل له لیکلو نه هم ډډه وشوه، او سرلیک یې هم «د الف د وضع په اړه و.» اول دغه فیصله یوازې یو څو تنو او وروسته د پولټبورو ټولو غړو لاسلیک کړه، هغه هم په رېونده ډول.[۳۳] د غونډې مشر ګرومیکو و، وروسته له هغه چې د غړو او مشاورانو راپورونه واورېدل شول، عمر خوړلي بریژنیف په داسې حال کې چې پښې یې څکولې سالون ته ننوت؛ ګرومیکو له متې نه ونیوه او په داسې حال کې چې برېژنیف شواړ پاړ ته، اوږه ورته ورکړه او پر څوکۍ یې کښېنوه، او په غوږ کې یې په لوړ آواز وویل چې نوي اطلاعات څرګندوي چې «امین څومره بد، څومره ماجرا غوښتونکی او څومره نه اټکل کېدونکی دی.» بریژنیف د درې یا څلورو دقیقو لپاره د بت په شان چوپ و؛ ناڅابه جګ شو، مېز یې په سوک وواهه او ناره یې کړې «ناولی سړی» او له سالون نه ووت.

د دغې پرېکړې لومړني کارونه د ک. ج. ب سروال اندري اندروپوف په مهارت سره ترسره کړل خو اصلي مسؤل یې لیوینډ بریژنیف، د شوروي اتحاد تر ټولو لوړ واکمن و. دی چې زړو و، په دغه وخت کې د سالم فکر خاوند نه و، چې د پرېکړې ټولې خواوې او پایلې وسنجوي، دغسې پرېکړه چې پایلو یې نه یوازې افغانستان بلکې ټوله نړۍ اغیزمنه کړه.

برېژنیف ته نږدې کسانو، هغه یو لړزېدونکی الکولي ښوولی چې روغتیایي حال یې په ګړندي ډول مخ په خرابېدو و، د ګرومیکو په وینا هغه د الکولو څښلو له امله ډېر جذباتي شوی او په اسانۍ سره یې له سترګو نه اوښکې بهېدلې. ګرومیکو د دغې پوښتنې په ځواب کې چې هغه د الکولو پرابلم لري، یا نه، وویل چې «ځواب، هو، هو، هو.» ګرومیکو دا هم یاده کړه

چې یو وخت یې برېژنیف ته ویلي وو چې «سوشلزم او واړکانه سره جوړېږي او پولټبورو په دې اړه څه نه کوي.» برېژنیف په ځیر سره ورته غوږ نیوه؛ بیا یې کړه چې «روسانو تل واړکا ښښلې ده. دوی بې له هغه څخه نه شي کولی.» د واړکا او نورو ناروغیو له امله و چې د وادم زګلادن په وینا «د هغه لپاره ستونزناکه وه چې د افغانستان په شان د کړکېچني موضوع د شاوخوا په هکله فکر وکړي. ده په واقع کې له ۱۹۷۷ نه وروسته د عمومي منشي په توګه سم کار نه شو کولي، او تر ۱۹۷۹ پورې په سخت حال کې و، او په اسانۍ سره د شاوخوا خلکو تر اغیزې لاندې کېده.»(۳۴)

د شوروي د واک والانو دغه پرېکړه د دوی د نظام ماهیت هم څرګندوي چې که سروال یې د زړښت او ناروغۍ له امله سم فکر هم کولی نه شو، بیا هم د دې صلاحیت یې لاره چې د جنګ په موضوع کې هم دغسې پرېکړه وکړي چې د ملیونونو انسانانو ژوند په یوه او بل ډول اغیزمن کوي. بریژنیف په کال ۱۹۶۴ کې د خروشچف له ګوښه کولو نه وروسته، تر مرګه پورې اتلس کاله د شوروي اتحاد ټولواک و، او ټولواکي یې هغه وخت پای ته ورسېدله، چې مړ شو. بیا هم که د پولټپورو غړو د ازاد بحث په رڼا کې فیصله کولی شواي، د معقولې فیصلې چانس به وای، خو دوی که څه هم په نسبي ډول ازاد وو، په واقع کې ازاد نه وو، دوی که څه هم په تیوري کې د ډله ییزې مشرۍ پرنسیپ منلی و، خو په عمل کې داسې نه وه. په واقع کې، لکه چې ولیدل شول، پر افغانستان باندې د یرغل په موضوع کې د ک. ج. ب د سروال، اندروپوف، رول اساسي و، هغه پولټبورو ته نارښتیني او تېر ایستونکي مالومات وړاندې کړل، او د پولټپورو نورو غړو دغه توان نه لاره چې پر هغو ازاد او انتقادي بحث وکړي، او د رښتین توب په اړه یې ځانونه یقیني کړي. د پوځ لوی درستیز چې د دغې پرېکړې پرخلاف اواز جګ کړ،

اندروپوف هغه غلی کړ. صدراعظم الیکسي کاسیګین چې د پیاوړي شخصیت خاوند و، د ناروغۍ له امله په غونډه کې ګډون کولی نه شو. بل کال هغه مړ شو.

د ډسمبر په ۱۲مه چې میخایل سوسلوف د پولټبورو ایډیالوګ د اندروپوف ملاتړي وکړه، د یرغل مخالفانو برالا له مخالفت نه لاس واخیست. دوی ټول د پونوماریف په ګډون له سوسلوف نه وېرېدل. د مرکزي کمېټې د بین المللي څانګې مدیر، چزنیایوف، هم د یرغل مخالف و، خو له وېرې یې څه نه ویل. مرستیال یې کارین بروټینټس (Brutents) لا وویل چې حتی «د بریژنیف په دننۍ کړۍ کې تر هغو چې د شوروي پوځ لومړۍ ډله د ډسمبر په ۲۴مه [افغانستان ته] ننوتله د وروستۍ شېبې شکونه وو.» د هغه خپل نظر دا و چې «مونږ نه شو کولی پر دغسې هېواد لکه افغانستان باندې خپل نظامي کنټرول ټینګ کړو.» خو ده او د یرغل نورو مخالفانو پر خپلو کې دغسې ویل. (۳۵)

د یرغل په اړه د دفاع وزارت ډېر مهم و خو هلته هم اختلاف و، په دې اړه هغه پر دوه برخو ویشل شوی و. یوه ډله یې د دفاع وزیر اوستینوف او کمیساران وو، چې د یرغل پلویان وو. اوستینوف وروسته د سیاسي حل لار ونیوله، خو هغه وخت پولټبورو ورته غوږ ونه نیو. (۳۶) په مخالفه ډله کې لوی درستیز مارشال نیکولای اوګارکوف (Ogarkov)، او د هغه مرستیالان جنرال وارینیکوف (Varennikov) او اخرامییف وو. خو یوازې اوګارکوف مخالفت ښکاره کړ. په دې دول چې «مونږ به ټول ختیځ اسلامزم په خپل وړاندې له سره ژوندي کړو، او ټوله نړۍ به له سیاسي پلوه بایلو.» اندروپوف یې خبره ور پرېکړه او ورته کړه چې «ته له نظامي چارو سره کار لره. مونږ، ګوند او لیونید ایلچ [بریژنیف] به سیاست پرمخ بیایو.» اوګارکوف

بیا د اعتراض په ډول غبرګ کړ چې اخر «زه لوی درستیز یم.» اندروپوف دا ځل د هغه خبره په شلېدلي ډول پرې کړه او ورته یې کړه چې «نور نو بس» (No more)، چرننکو، سوسلوف اوستینوف د اندروپوف ملاتړ وکړ او څرګنده یې کړه چې اوس خبره د پریژنیف ده او باید د اندروپوف ملاتړ وشي.[۳۷] د اندروپوف دغه زیږ چلند د هټلر هغه سلوک رایادوي چې د دوهم نړیوال جنګ په بهیر کې یې له هغو جنرالانو سره وکړ، چې په شمالي افریقې کې یې د نوې جبهې پرانیستل ناسم بلل. هټلر د هغو مخالفت په همدغه ډول رد کړ. لکه چې دمخه ویل شوي، د دفاع وزیر مرستیال جنرال پاولوسکی افغانستان ته د پوځ استولو په مخالفت له اوستینوف سره غبرېدلی و، خو خپل مخالفت یې له ویرې نه ښکاره نه کړ. خو دا افغان مجاهدان وو، چې د خپل ټاټوبي او خپلواکۍ په دفاع کې یې د دغې پرېکړې ناسم و الی ثابت او په ډاګه کړ. په دې ډول دغه پرېکړه په خپل نوع کې د شوروي زبرځواک د پولټبورو اخري پرېکړه شوه، خو هغه وخت د پولټپورو دغه غړي ټول مړه شوي وو.

اوس به ووینو چې شوروي اتحاد دغه پرېکړه په څه ډول عملی کړه او شوروي شوي پراري پرچمیان او خلقیان یې د پراري ببرک کارمل په سروالۍ څنګه په واک کړل.

# د شوروي اتحاد وسله وال يرغل

لکه چې دمخه ويل شوي، د افغانستان د کميسيون په نامه اندروپوف، اوستينوف او ګروميکو د افغانستان د چارو په اړه موظف شوي وو. دا خو څرګنده وه چې د دفاع وزارت او ک. ج. ب نظامي عمليات ترسره کوي او د باندينيو چارو وزارت به کوښښ کوي چې يرغل ته قانوني بڼه ورکړي. په عمومي ډول ک. ج. ب په دې اړه ډېره فعاله وه، او شخص اندروپوف په دې هکله نوښتونه کول. هغه لا په ۱۹۴۷ کې په خپل نوښت دننه په ک. ج. ب کې د سپتنانز (Spetnez) په نامه ځانګړي قوتونه تنظيم کړي و. د دغو ځواکونو بنسټ د الفا (Alpha) په نامه ډلې وې، چې هغه يوازې يو څو افسرانو ته مالومې وې.

اوس د ک. ج. ب پلان دا شو، چې پخوا له دې چې د شوروي پوځ افغانستان ته ننوتلی وي، حفيظ‌الله امين بايد له منځ نه وړل شوی وي، او د هغه پر ځای کښېنول شوی کارمل به د شوروي پوځ ته بلنه ورکوي، او په دې ډول افغانستان کې به د شوروي پوځ ننوتل «مشروع» ګڼل شوي وي.[۳۸] د دغه پلان له مخې امين بايد په زهرجن کولو سره له مينځه وړل شوی وي. ک. ج. ب د مخالفانو په وژلو کې ښه ماهره وه. ک. ج. ب د ستالين په وخت کې ډېر داخلي او خارجي مخالفان په تېره د شخص ستالين مخالفان او حتی هغوی چې د اکتوبر په کودتا کې يې برخه لرله، هم له مينځ نه وړي دي، چې په هغو کې ليون تراتسکی و، چې د شوروي موسس او د لينن ملګری و. دی حتی په مکسيکو کې ياني چېرته چې له ستالين نه يې هلته پناه

وړې وه، هم له مينځه وړل شوی و. په ۱۹۷۸ کې يې د بلغاريې يو ناراضي جيورجی مارکوف په لندن کې د ريسين (Ricin) په زهر سره چې له يوې چترۍ نه غلی د ګولۍ په ډول پرې حواله شوی و، له مينځه وړی دی.

د امين د له مينځه وړلو لپاره له يوه بل ډول زهر نه په يوه بل ډول کار واخستل شو. د دغه کار لپاره د ک. ج. ب اتمې څانګې موتالين طالبوف په نامه يوه اذربايجاني چې په فارسي روان ګړېده، د صابر په نامه د امين په پخلنځي کې پر ځای کړی و، خو د امين خوريه زلمی خروټی او د امين وراره ميرويس وايي چې په پخلنځي کې له افغانانو نه پرته نور اشپزان نه وو، او د پخلنځي اشپزان يوازې کاکا فقير او کاکا امين الدين وو، چې د پخوا وختو اشپزان او صادق افغانان وو. په هر حال، امين په خوړو او څښاک کې ډېر احتياط کاووه، او د هغه د خوړو او له څکه به د هغه مشر زوی عبدالرحمن کوله، په داسې حال کې چې د تره‌کي د دوړې لومړۍ څکه به د شوروي نرسانو کوله.

د ډسمبر په ۱۳مه پراري کارمل له پنځو نورو پراري پرچميانو او خلقيانو سره د بګرام هوايي ډګر ته راوړل شول. په دغې هيلې چې همدا چې امين په زهرجن کېدلو سره له پښو ولوېږي ، دوی به د حکومت واګې په لاس کې ونيسي، خو څلور ورځې وروسته (دسمبر ۱۷) د امين پر ځای د هغه وراره او زوم اسدالله امين د کام سروال زهرجن شو، او په بيړه د درملنې لپاره مسکو ته واستول شو، په دې ډول کام په ډېر حساس وخت کې بې سروال پاتې شو، داسې ښکاري چې اسدالله امين به هغه زهر لړلې دوډۍ يا زهر لړلې منه خوړلې وي، چې د حفيظ‌الله امين لپاره په نښه شوې ده، بيا نو هغه شوروي شوي پرچميان او شوروي شوي خلقيان د بې ارادې ساه کښانو په شان تاشکند ته انتقال شول. له دوی نه هيڅ يوه زړه ونکړ چې پاتې شي، او

په کابل کې د امین پر ضد په پټه کار وکړي. دوی په ک. ج. ب ډېره کړې وه، او ډاډه وو، چې هغه به امین او حکومت یې نسکوروي او دوی به په واک کوي او دوی به د دغه ستر نعمت (په واقع کې ستر ملي خیانت) په برابر کې منلې وه چې ټول عمر به د شوروي اتحاد منونکي او رښتیني تابعان وي، خو «څنګه چې د زهرجن کولو پلان هم نابریالی شو، هغه یوازنۍ لار چې پاتې وه، دا وه چې امین د شوروي نظامي یرغل په پیل کې ووژل شو.»[٣٩] د شوروي لویان په تېره اندروپوف به د امین پر ضد په دغه دوهم ځل نابریالي توب سره نور هم زړه خوړین شوي وي. خو دریېم پلان چې نظامي و، باید بریالی وي، له وسله وال نظامي برید نه دمخه لومړني کارونه حیرانوونکي او پراخ ونیول شول، چې لنډیز یې په دې ډول دی.

د شوروي نظامي واحدونه په وړو ډلو او د ک. ج. ب غړي په بېلو بڼو کې افغانستان ته ننوتل. یو شمېر سرحدي ساتونکي په ملکي جامو کې له وړو وسلو، واړه ماشین ګڼ، توپنګچې، او لاسي بمونو سره د شوروي سفارت د ساتنې په نامه ور اضافه شول، د ک. ج. ب اوم لمبر څانګې له عملیاتي ډلې نه هم د شوروي تاسیساتو د ساتنې په پلمه، د افغان باندنیو چارو د وزارت د مشاورانو په نامه کابل ته ننوتل. داسې هم یو څو ماهران هم کابل ته راغلل، چې د امین د هستوګنځي د مخابرو لیکې تر څارنې لاندې ونیسي. د کابل ک. ج. ب ته هدایت وشو چې د تاجکستان له دوشنبې نه افغانستان ته د خپرونو خپې وڅاري. په دې ډول د اګات (Agat) عملیاتو مقدماتي چارې د ک. ج. ب بین المللي څانګې د اتم مدیریت تر څارنې لاندې پرمخ بېول کېدلې. د دغو او نورو ډلو په سر کې د ک. ج. ب د څانګو لوړ پوړي چارواکي، او د ټولو په سر کې د اووم لمبر مدیریت یا څانګې سروال بیسټ چاستنوف فعال شول. په دې ډول د ډسمبر د میاشتې په بهیر کې د ک. ج. ب اجنټانو کابل

شـپه او ورځ تـر څـارنې لانـدې ونيـوه. د کابـل لـه هسـتوګنځي (د شـوروي سفارت کې د ک. ج. ب څانګه) سـره لـه ۱۶۰۰ نـه ډېر نظـامي مشـاوران او ماهران، له هغه نه د باندې د ک. ج. ب ۶۱ غړي، په خپلـه د هسـتوګنځي ۲۱ تنه اجنټان د زينت د واحد لس تنه افسران په استخباراتي کـارونو اختـه شـول. پر هغه سربېره ۱۰۳ تنه اجنټان او ۱۱۵ تنـه مرسـتندويان، (چې شـايد افغـان جاسوسان وي) له هسـتوګنځي سـره پـه تـړاو وو، د کابـل او د مسـکو تـرمينځ مخابره په پرله پسې ډول چالانه وه.[۴۰]

په همدغه مهال کې هغه شوروي مشاوران او ژباړونکي چې د امين پلويـان ګڼل کېدل، مسکو ته غوښتل کېـدل. پـه دوی کـې ډېـر مهـم د وسـله وال پـوځ سياسي مشـاور جنـرال زاپلاتـين او د هغـه مرسـتيالان وو، چـې پـه بېلـو پلمـو مسکو ته وغوښتل شول. له بلې خوا په افغانستان کـې د شـوروي چـارواکو او مشاورانو له خوا هغه څه کېدل «....چې امين د شوروي مشرانو د نـه پوهېـدلو اړ سلوک په اړه هيڅ شک ونه لري. د هغـه د نظـامي مهمـاتو غوښـتنې ومنلـې شوې. د راديو سټېشنونه ورته تهيه شول؛ او له شمال نه نـورو سـيمو تـه د دوه افغان فرقو د ځای پر ځای کولو په اړه موافقه وشوه.»[۴۱] په عـين حـال کـې د ډسمبر په ۱۷ مه يوه ډله شوروي سرتېري په دارالامان کې ځای پر ځـای شـول چې په تاج بيګ ماڼۍ کې د امين د نوي هستوګنځي ساتنه وکـړي. امـين دغـه ماڼۍ د ډسـمبر پـه ۱۹ مـه د خپلـې هسـتوګنځي لپـاره غـوره کـړه، او لـه خپلـې کورنۍ سـره هلتـه وکوچېـده. څـه کـم دوه زره جمهـوري سـاتونکي د جانـداد صبري په قومندانۍ د ماڼۍ ساتنې لپاره موظـف وو. شـوروي مشـاورانو امـين هلته کوچېدلو ته هڅولی و، په دغه دليل چې هلته د هغه ساتنه او دفاع په ښـه ډول کېدلی شي. په داسې حال کې چې د هغو اصلي مقصد د امين ګوښه کول وو، چې د يرغل په وخت کې شـوروي سـفارت تـه د نـزدې والـي لـه املـه لـه

مځکې او هوا نه په يوځه اسانۍ سره تر حملې لاندې نيول کېدلی شي چې په دغه حال کې به ملکي تلفات تر هغه نه کم وي، چې که دی په ارګ کې وي. داسې هم «شورويانو مسلمان کنډک په دارالامان کې د امين د ساتنې په نوم ځای پر ځای کړ.»[۴۲] دغه کنډک بيا د زينت له ټولګي سره يو ځای پر ماڼۍ بريد وکړ. امين په خپله هم د يوې پخوانۍ فيصلې له مخې غوښتل چې ارګ په موزيم بدل شي، او پخپله ترينه ووځي ځکه چې ارګ ده ته هغه خونړۍ پېښې په زړه کولې چې د سپټمبر په مياشت کې شوې، او له امله يې ترڅکي له مينځه وړل شوی و. هر څه چې وو، دغه انتقال يوه غټه تېروتنه وه، خو لکه چې وروسته به بيان شي امين فکر نه کاووه چې شوروي حکومت به دی او د ده حکومت له مينځه يوسي، هغه هم په وسله وال پوځ سره، که څه هم د بګرام د هوايي ډګر قومندان عبدالحکيم د شورويانو په ډله ډله راتګ سره شکمن شوی او امين ته يې رسولې وه چې روسان شايد هغه څه وکړي چې په کال ۱۹۶۸ کې يې په چکوسلواکيا کې کړي وو. خو امين ورته ډاډ ورکړی و، چې هر څه به زر سم شي.[۴۳] داسې هم د کام سياسي څانګې سروال امين متوجه کړ چې د لويديځو راديوګانو په حواله شوروي سرتېري افغانستان ته ننوتلي او دوی ممکن د حکومت پر ضد په کوم کار لاس پورې کړي. له همدې امله به وو چې افغان پيلوټانو د لومړي ځل لپاره د شوروي پاراشوټي کنډک له پاسه ټيټې الوتنې وکړي او امين هم ټاکلې ده چې د پنجشنبې په ورځ د ډسمبر په ۲۷ مه په راديو او تلويزيون کې وينا واوروي او په هغې کې د پوځي واحدونو منشيانو ته هدايت ورکړي چې په پوځي چارو کې د هغه له دستور نه پرته د بل چا دستور ترسره نه کړي. خو ک. ج. ب پرې رادمخه شوه، په هغه ورځ يې دی په زهرو ولړه او حکومت يې رانسکور کړ.

پر افغانستان باندې د شوروي اتحاد وسله وال تېری د روسيې افسرانو د

لیکنې له مخې د سه شنبې په ورځ د جدې په ۴ مه د ډسمبر په ۲۵ مه پیل شوی و. د دغې ورځې په ماښام د څلوېښتم لمبر پوځ یو کنډک د آمو له سین نه په یو ډول کښتیو کې افغانستان ته ننوت. ورپسې ټوله شپه ټوله فرقه د شوروي د ملي دفاع وزارت لومړی مرستیال مارشال سوکولوف په قومندانۍ تېره شوه. په بله ورځ ورته امر وشو چې د ډسمبر په ۲۷ مه د جدي په ۶مه په پنځه نیمو بجو ځان کابل ته ورسوي. په عین حال کې په دغه و رځ د پاراشوټ د فرقې واحدونه د کابل په هوايي ډګر کې او یو پاراشوټي کنډک په بګرام کې ښکته شوي وو. د شوروي هغو قوتونو او مشاورانو چې له پخوا نه په کابل کې وو، د مهمو ستراتیجیکي او اداري مرکزونو امنیت د راډیو تلویزیون په ګډون پیاوړی کړ. د ډسمبر په ۲۷ مه شپه کې یوه موتو رېزي فرقه د امو له لویدیځ نه تېره شوه او په بله ورځ یې د هرات کنټرول په لاس کې ونیوه.[۴۴] د ټول یرغل په اړه به ژر بحث وشي. اوس به په کابل ښار کې د شورویانو نظامي کړه بیان شي.

د ډسمبر په ۲۷ مه د جدې په ۶مه د ماښام پر شپږ نیمو بجو د مخابراتو په مرکز کې یوه چاودنه وشوه او په هغې سره د ښار ټیلفونونه له کار نه ولوېدل. درې ورځې د مخه د شوروي اتحاد د مخابراتو وزیر ته دغه مرکز ښوول شوی و، حکومت په دغه فکر و چې شوروي اتحاد به د هغه عصري کولو لپاره مرسته وکړي، خو د وزیر مقصد په دقیق ډول د هغه په ښنه کول وو. د ماښام په تیارې سره له هوايي ډګر نه د شوروي پنځه زره سرتېري خو د ک. ج. ب په روایت اووه سوه سرتېري د تاج بېګ ماڼۍ په لور روان شول.

اووه بجې او شل دقیقې وې چې د تاج بېګ ماڼۍ د لویدیځ له خوا په توغندیو وویشتل شوه. دغه ویشتل تر دوولسو بجو پورې روان وو، خو تر اتـه نیمو بجو پورې ډېر شدید وو. اول به غټې ګولۍ د روښانه کولو په مقصد

واورول شوې؛ بيا به راکټونه فير شول. يو خو اسمان شين او له ستورو نه ډک او سپوږمۍ رڼه وه. ګولیو او راکټونو به د چاردهي فضا نوره هم روښانه او رنګه کړه. د نهو بجو په شاوخوا کې د ټانکونو غرهاری هم تر غوږو شو. په وړاندې يې څه نه کېدل او جنګي الوتکې هم پورته نه شوې، مالومه وه چې د حکومت پر ضد کوم عمل روان دی. وروسته مالومه شوه چې د ک. ج. ب د الفا او زينت واحدونو په افغان يونيفورم کې د کرنيل بوريانوف په قومندانۍ د حکومت پر ضد په عملياتو پيل کړی دی. د دغو واحدونو حرکتونو کابل دغسې لړزاووه چې لکه زلزله وي. اوازونه يې آن د خوشال مېنې په دوهمه برخه کې ما له خپل بام نه اورېدل. داسې هم د شوروي نظامي واحدونه د پلچرخي، قرغې او ريشخورو په لور لاړل د دې لپاره چې د منظم نظامي مقاومت مرکزونه يې تر څارنې لاندې نيولي دي، ځينې واحدونه د کورنيو چارو وزارت، او راډيو تلويزيون په لور هم لاړل خو د هغو اصلي توجه د تاج بېګ ماڼۍ وه چې د حفيظ‌الله امين هستوګنځی وه.[۴۵] ک. ج. ب څو ګړۍ دمخه هلته د زهرجن کولو لوبه پيل کړې وه، او په دغه وخت کې امين له بېهوشۍ نه بېرته پر هوښ راغلی و.

د امين او نورو د زهرجن کولو په اړه روايتونه ډېر دي. دلته به دغه پېښه د کتونکو او حاضرانو له قول نه بيان شي. امين په دغه ورځ (پنجشنبه د ډسمبر ۲۷مه ۱۹۷۹) د جدې ۶مه ۱۳۵۸) د غرمې په يوه بجه د تاج بېګ په ماڼۍ کې د خپل ګوند د پولټبورو (سياسي دفتر) د لومړي ځل لپاره غونډې ته بللی و. شاه ولي او صالح محمد زېری له خپلو مېرمنو سره ورغلي وو. د زېري په وينا «د غونډې اجنډا د هېواد د اقتصادي جاج اخيستل او د راتلونکي کال د اقتصادي پلان په اړه مذاکرات وو.»[۴۶] ټاکل شوې وه چې د نوي کال له پيل نه به پنځه کلن اقتصادي پلان پلي کېږي. شوروي اتحاد لا دمخه د هغه لپاره

کریدېتونه او مرستې منلې وې. د غونډې مقصد دا هم و چې غلام دستګیر پنجشیری چې د امین په واکمنۍ کې په مسکو کې و او نوی راستون شوی و، پولټبورو غړو ته هغه څه وایي چې په مسکو کې یې د امین او د هغه د حکومت په ګټه کړي وو.

د ډوډۍ خوړلو په سالون کې د زېري په وینا «لومړی د معمول سره سم په ښکلو پیالو کې د څښلو ښوروا راکړل شوه چې ډېره خوندوره او د مستو غوندې خوند یې و؛ ډېره نعنا او تور مرچ هم پر دوړول شوي وو. چا یوه چا دوه پیالې وخوړلې. ټولو د ښوروا او نورو خوړو ستاینه وکړه. حفیظ‌الله امین وویل یو ښه او خاص اشپز یې را استولی دی. ډېر ښه شیان پخوي.»[۴۷] د قومندان جانداد په روایت هم «ډوډۍ شوروي اشپزانو پخه کړې... او ډوډۍ ته همدې شوروي اشپزانو زهر اچولي دي...»[۴۸] دا د زلمي خروټي د وینا پر عکس دی، چې وایي په پخلنځي کې یوازې افغان اشپزان وو. په هر حال د زېري په وینا «ډوډۍ او لږ لږ دوا هم وخوړل شوه او یوازې رخصتونه مو سره واخیستل. مونږ د ښار په لور روان وو. زما لږ لږ سر پر له ګرزېدی. خو دومره نه و، چې شکایت وکړم.»[۴۹] یوازني کس چې ښوروا ونه څښله غلام دستګیر پنجشیری و، ځکه چې هغه ته د وزیري په روایت «.... لا دمخه ویل شوي وو، چې سوپ ونه خوري.»[۵۰] ښاغلي وزیري په ټیلیفون کې ماته دا هم وویل چې ده په دغه ورځ په پخلنځي کې یو روسي اشپز لیدلی و. له دغې پېښې نه وروسته خلقیان پر پنجشیري بانډې شکمن شول چې «د امین د واکمنۍ په نسکورولو کې یې له شورویانو سره برخه واخیسته.» د دغه نظر په ملاتړ دا هم ویل شوي چې پنجشېری «د شورویانو د استعمار په ټول د وران کې د کارمل سره د ګوند د سیاسي بیورو غړی، او د صلاحیت خاوند پاتې شو. د شورویانو په ستاینو او د امین په غندنو لګیا و.» البته دی له اول نه له

امين سره جوړ نه و، خو ده په بېلو وختو کې بېل دريځونه نيولي وو. د ثور له کودتا نه د مخه يې له ګوند نه د هغه د ايستلو لپاره کوښښ کاووه، خو له کودتا نه وروسته يې هغه ستايه. د خيال محمد کټوازي په وينا «دا پنجشېرى و، چې انقلابي شورا ته د نويو غړو په وړاندې کولو کې د امين تر څنګه د کارمل په مخالفت کې ودرېد؛ همدارنګه کله چې امين د نور محمد تره‌کي سره په کړکېچ کې بريالى راووت، پنجشېري د انقلابي شورا په لومړۍ غونډه کې تره‌کي د يوه نيشنلست او بې کفايت رهبر په حيث وغنده او امين يې زړور، انقلابي، او وطنپرسته شخص وباله او د ټولو ګوندي او دولتي دندو څخه يې د تره‌کي په لېرې کولو ټينګار وکړ.»(۵۱)

ښوروا ټول هغوى ګنګس کړي وو، چې يې څښلې وه؛ خو زهر يې دغومره قوي نه وو، چې د مړينې سبب شي. د هغه له استعمال نه به اصلي مطلب دا و، چې امين دغومره بېهوښه شوى وي چې د نظامي عملياتو په وخت کې فعاليت کولى ونه شي. البته امين هم ښه بېهوښه شوى و، او د هغه د مېرمنې پتمنې په وينا «څو ډاکټران راغلل، سيروم يې ورکړ؛ پيچکاري يې کولې؛ امين صاحب يې [دوهم پوړ] نه لاندې راوست.... سيروم ورته کښېښود. نو دا ښه و، لږ ذره بيدار شو، ښه شو، نو دا اوه بجې کېدلې.»(۵۲) د اروابنادې هاجره زېري په وينا «تر ډوډۍ وروسته... د امين صاحب ماينې په وارخطايۍ ډاکټر تورکى له چارصد بستر څخه راوغوښت...ډاکټر راغى؛ نس يې ور پريوى. امين صاحب په زېرپېړنۍ او نېکر کې په د هليز کې ولاړ دى.»(۵۳) په نورو روايتونو سره له روغتون نه ډاکټر ولايت، او يو عمر خوړلى شوروي ډاکټر د درملنې لپاره راغلل چې وروستى بيا په ډزو کې ووژل شو. بيا هم د مېرمن امين په وينا «اوه بجې کېدې... چې.... د غرب خوا نه فير ولګېده... امين صاحب ته مې ورمنډه کړه، [او هغه] له ما څخه پوښتنه

وکړه، ویل څه شی[؟] ما وویل... دا دېوالونو باندې فیر وشو. امین صاحب خپله دهلیز ته راووت... پسې له څلورو خواوو فیرونه وشول.» په دغه وخت کې امیني کورنۍ ټول غړي له دریېم پوړ نه دوهم پوړ ته ښکته شول. د ماڼۍ په یوه زینه کې عبدالرحمن، په بلې کې د ګربز ورور، او په بلې کې فتاح د امین د تره لمسی د دفع لپاره ولاړ وو. مېرمن امین بیا وایي چې «له پاسه ما سلاح وروړه... او دوی پاس ویشتل.» د ګارډ قومندان جانداد امین ته خبر راووړ چې فیر کوونکي «لکه چې روس وي... هغه وویل، نه.» مېرمن امین بیا وايي چې تر هغو چې سلا وه، خو یو راونه خوت؛ زښت ډېر مړه شول... وختي چې سلا خلاصه شوه، راوختل... ډزې یې شروع کړې.... ماشینداري داسې تاو کړل نو هغه چې پر هر چا ولګېدل... دا ملالۍ ولګېده، ګلالۍ ولګېده؛ خوازک ولګېد. اول چې راوختل عکسونه یې په لاس کې وو... غوټۍ مخې ته ورغله؛ ویل ولې تاسې فیر کوئ. دلته امین صاحب دی. ویل یې کوم دی؟ د باندې چې ویې لید، چې ناست د ی، فیر یې پرې وکړ، ویې ویشت... پسې دا جنکیانې زخمي شوې، دا هلک زخمي شو، نو چې پوه شو کاته نور څوک پاتې نه شو بیا ودرېد.»(۵۴) د امین مشر زوی عبدالرحمن هم ولګېد، او خوازک ماشوم د ګلابزوی په امر له مور نه د درملنې په نامه بېل کړ، خو مور یې هغه بیا ونه لید. د مېرمن هاجرې په وینا «.... یو پړ په خړه عسکري درېشۍ کې په خونه ننوتی؛ دوی ویل سروري دی. ټوپک یې په لاس کې و، د امین صاحب ماینې ته یې و ویل؛ مېړه مې در مړ کړ؛... هغې ورته وویل لاسونه دې مات شه، تر اولادو دې وخېژه، خدای دې دواړه در ختا کي. همدا ښېراوې یې کولې. هغه پر مور سترګې راوکښلې وې بیا یې ښکنځل وکړ او ووتی.»(۵۵) په کال ۲۰۱۲ فبرورۍ کې د امین ورارہ، ما لیکونکي ته هم وویل، چې ګلابزوی او سروري دواړه په نظامي یونیفورم کې وو. دی دا

هم وايي چې خور يې شکريه چې د عبدالرحمن امين مېرمن وه په پوره زړورتيا دواړو ته کړل چې «تاسې خاينانو خو دغه جنايت وکړ، خو تاسې به يوه ورځ خپله سزا وويني». سروري غوښتل هغه ووژني خو کوم روسي يې مانع شو.

له يرغل کوونکو سره سخته مقابله د جمهوري ګارډ وه، چې ډېر يې تعليم کړي، او سر پرېکړي ځوانان وو. ټول شمېر يې څه کم دوه زره و. د هغو قومندان جانداد د څرخي پله په زندان کې خيال محمد کټواري ته چې د اطلاعاتو او کلتور وزير او په پوهنتون کې زما محصل و، وويل چې «سکنې ماښام و چې لوی درستيز محمد يعقوب ټيلفون راته وکړ او په بيړه يې راته وويل چې پر روسانو باندې بريد پيل کړه. له مينځه يې يوسه. په همدې وخت کې د يعقوب سره د ټيليفون لين بند شو، او د نوموړي د دفتر له لوري د ماشينګنو غړونه تر غوږ کېدل. زه په منډه راغلم. لومړی مې د ګارد قواوو ته د تيارسۍ امر ورکړ. او څو چې امين ته ورسېدم د ښار د يوه درانده ډز اواز راورسېد، او له هغه سره سم په ګارد باندې د شورويانو يرغل پيل شو. امين ته مې دومره وويل چې د شورويانو له خوا په مونږ باندې بريد پيل شو.... او په منډه [بېرته] راغلم؛ شورويان مونږ تر بريد لاندې راوستل او د شوروي هغه ټانکونه چې ګارد ته رانږدې شوي وو، له مينځه ولاړه. مونږ د خپلو قطعاتو او جزتامونو ځايونو ته تغيير ورکړ څو د دوی له ګذارونو څخه بچ شو، او همدې کار ګټه ورسوله، ځکه اوس يوازې مونږورباندې په اسانۍ ګذارونه کولای شوه. د شورويانو په ټانکونو کې يو ډول د ټانک ضد وسايل ځای پر ځای شوي وو، چې خطرناک وو، خو مونږ هغوی پرې نه ښوول چې له خپلو وسايلو څخه ګټه واخلي او سر په سر مو تر اور لاندې ونيول. د شوروي ځواک دومره پياوړی نه و، چې زمونږ د ګارډ قواوې له مينځه

یوسي. په ډېر لنډ وخت کې د دوی تېری وځبل شو، او که څه پاتې و هغو د ګارد څخه لېږې ځانونه پټ کړل. د نیمې شپې وروسته یو څه ارامي شوه، خو له نورو نظامي ځواکونو سره ټیلیفوني او مخابراتي اړیکې شکېدلې وې. زمونږ اردو بې قومندې پاتې شوه او نه پوهېده چې څه وکړي. کله چې سپېدې وچاودې یو ناڅاپه د شوروي جنګي الوتکې بڼایی له تاجکستانه څخه یې الوتنې کولې، زمونږ پر ګارد باندې یې هوایي یرغل پیل کړ. نوي ټانکونه یې ډېسانټ [کوز] کړل او پر مونږ یې سختې هوایي بمبارۍ وکړې تر دې حده چې مونږ ډېر زیات تلفات وزغمل او د هوایي بمباریو په ترڅ کې زمونږ قطعات له مینځه ولاړل. ډېر لږ کسان ژوندي پاتې شول. زمونږ مقاومت د هوایي یرغل په وړاندې مات شو او زه دېته اړ شوم چې ځان پټ کړم خو د سحر مهال د نهو بجو په شاوخوا کې یې ومیندلم... کله چې د ګارد په وړاندې یوه میدان ته یې راوستلم نو د افغان عسکرو او افسرانو د مړو لویه غونډۍ مې ترسترګو شوه... زیات شمېر یې وژل شوي وو، او ځینې یې سخت ټپیان شوي وو. دوی کلمې ویلې او اوبه یې غوښتلې خو چا اوبه نه ورکولې.... زه یې له افغان مړو او ټپیانو څخه تېر کړم او لږ وړاندې د شورویانو د وژل شویو عسکرو او افسرانو ډېر شمېر مړي په داسې حالت کې پراته وو چې سپین ټوکران وربانـدې وېر شوي وو... شورویانو خپل ټپیان ایستلي وو... زه یې په وهلو وهلو بڼکنځلم. له څو شوروي جنرالانو سره ګلابزوی دغو هم ولاړ وو. شورویانو ډېر ورټلم او راته یې وویل چې پروت وکړه، فاشسته، وګوره چې څومره شوروي جنرالان او لوړ رتبه ملکري دې وژلي دي... ما له ویرې څخه دوی ته نه شو ویلای چې تاسې څومره افغانان وژلي او برید هم تاسو رابانـدې کړی.»[۵۶] دغه د وطن مدافع جنرال جانداد بیا وروسته په څرخي پله زندان کې د کارمل په تش نامه واکمنۍ کې له څه

وخت بندي کېدلو نه و روسته اعدام شو.

میتروخین او پروفیسر اندروهم د جانداد په ملاتړ وايي چې «دا دارالامان ماڼۍ که څه هم زر ونیوله شوه او امین له خپلې کورنۍ سره ووژل شو، د هغه ساتونکو دغومره سخت مقاومت وکړ چې ک. ج. ب یې هیڅ فکر نه کاووه. د ک. ج. ب ځانګړو قواوو څخه تر سلو تنو نه ډېر ووژل شول، او ټپي شول. په هغو کې چې ووژل شول کرنېل ګریګوري بویارانیوف... د اتمې ځانګې قومندان هم و ، چې له مرګ وروسته د شوروي اتحاد د اتل په لقب وویاړل شو. معمول دا و چې د ک. ج. ب افسران چې د عملیاتو په بهیر کې وژل کېږي. عکسونه یې په تورو چوکاټونو کې د ک. ج. ب په مرکز کې ځړول کېږي، خو څنګه چې د اګات (Agat)د عملیاتو وژل شوي اتلان په حیرانوونکي ډول ډېر وو، د اندروپوف په دستور د هغو له ځړولو نه ډډه وشوه.»(۵۷)

لوی درستیر محمد یعقوب چې غوښتل یې د مخابرې له دستګاه نه «... د شوروي پوځونو پر ضد د جګړې قومانده ورکړي خو د روسي جنرال له خوا وربانديې ډزې وشوې او دوې د کلاشنکوف ګولۍ یې په سینه لګېدلې وې.» دغه روسی جنرال له یعقوب سره د هغه په دفتر کې و. دارالامان ماڼۍ تر څنګه په موزیم کې و، چې نوی د دفاع وزارت په مرکز بدل شوی و، وزیري لیکي چې شوروي شوی «.... وکیل چې د روسي کوماندوګانو یونیفورم یې اغوستی، د کوما په حالت کې محمد یعقوب باندې د کلاشنکوف ججوره تشوي او هغه وژني. وکیل چې په مړه یعقوب یې ګولۍ وچلولې، مونږ ته سر راښکاره کړ، کنځل یې کول، او بد رد یې ویل.»(۵۸)

اقبال وزیري، د پوځ د سیاسي چارو سروال له فقیر محمد د کورنیو چارو له وزیر سره د حفیظ‌الله امین له لیدلو نه وروسته د لوی درستیز دفتر ته تللی او

هلته د روسانو په امر په يوه کوټه کې اچول شوی. او لاسونه يې ولچک شوي وو. دوی به په دې نه وي وژل شوي، چې وزيري له هغو سره په رواني روسۍ ژبې خبرې کړې وي، د لوی درستيز دفتر هم د يرغلګرو هدف و، چې هلته بيا هره خوا ګولۍ اورولې، او لاسې بمونه يې پرې غورزول. د کابل بلې نظامي قوې- د قرغې فرقه، د ريشخورو اتمه فرقه د څرخي پله زغرور واحد- له کابل نه دفاع ونکړه، ويل کېږي چې د ريشخورو د فرقې لوی درستيز جنرال عظيم احمدزي، جمهوري ګارد ته يو څه ملاتړ و لېږل، خو د هغو کوم اثر مالوم شوی نه دی. د دغې فرقې قوماندان عبدالستار نه غوښتل تسليم شي، او سرتېرو يې پر يرغلګرو بريد هم وکړ، او دوه ټانکونه يې ورته وران کړل. خو شورويانو د مقابلې پر ځای خپل شوروي کړی اسلم وطنجار د خبرو لپاره ور واستوه، او هغه بيا پيښ شوی حال ومانه، داسې هم وطنجار (وطنخوار) د څرخي پله زړورو قوماندانو ته وويل؛ چې د امين له مينځه وړل د وطن د ښېګڼې لپاره ده.

د کورنيو چارو وزارت او د پوليسو او ژاندارم نه ډېر کسان په لږ وخت کې له مينځ نه لاړل، يرغلګرو هلته هم بې تو‌پيره ګولۍ اورولې او لاسي بمونه غورزول. د کابل راډيو او تلويزيون ودانۍ کې د يوه کندهاري سرتېري مقاومت د يادونې وړ دی چې نه يې غوښتل د خپل آمر له اجازې نه پرته بل چا ته د ننوتلو اجازه ورکړي. څنګه چې هغه په دغسې يوه ځای کې ولاړ و، چې رسېدل ورته بې له دې چې ودانۍ ته زيان ورسېږي، ګران وو، يرغلګر پر ځای ودرېدل او د هغو پر ځای د ستېشن يو مشاور، د پيچلوف په نامه چې د کندهاري پرې باور لاره ورته نږدې شو او مرګکی وار يې پرې وکړ، شورويانو په دې ډول په همدغې شپه کې د کابل واکمني ترلاسه کړه او له امين سره يې د هغه حکومت هم نسکور کړ.

د شپې پر اتو بجو تلويزيون ودرېد او راديو د لسو بجو په شاوخوا کې د معمولي پروګرام پر ځای د نغمو په خپرولو پيل وکړ. ځرګنده شوه چې دغه عمليات د حکومت پر ضد وو. د ببرک کارمل اواز په اورېدلو سره چې ويل کېده د کابل راديو په څپه کې يې له تاجکستان څخه خپروه، د حکومت نسکورېدل يقيني شو. په اواز کې يې وويل شول چې د امين حکومت چپه شوی، او دی د انقلابي شورا په نامه له افغانانو په تېره له نظامي افسرانو څخه غواړي چې امنيت وساتي. هغه د امين حکومت فاشستي او وينې بهونکی وښوده او دغسې غتې وعدې يې ورکړې چې نه يې پرې عقيده لرله، او نه يې عملي کولی شول. د ولس ټولو ډلو او طبقو ته يې دموکراتيکي وعدې ورکړې. د يوه ملي جبهه ييز حکومت ژمنه يې وکړه او دا يې هم وويل چې له دې وروسته به په افغانستان کې ازادي خوندي وي، ګوندونه به ازاد وي؛ سياسي بنديان به خوشې شي او د هغو ډلو او کسانو مسئلې چې تر اوسه د حکومت پر ضد جنګېدل د خبرو او سياسيت له لارې هوارې شي. د بلې ورځې سهار وخته په درې بجو په کابل راډيو کې د کارمل په غږ بله وينا خپره شوه، او په هغې کې افغانستان ته د نوي حکومت اعلام وشو. کارمل بيا وعده وکړه او ويې ويل چې له دې وروسته به اعدام نه وي؛ نوی اساسي قانون به جوړ شي؛ محلي، سيمه ييز او ولسي مجلسونه به په ازاد ډول غوره شي، ګوندونه به د فعاليت حق ولري؛ شخصي ملکيت، او فردي ازادي به خوندي وي، او سمدلاسه به يوه متحده ملي جبهه جوړه شي، او سوشلزم به نه وي. خو خلک پوهېدل چې دا د يوه لبرال دموکرات پروګرام دی. نه د کارمل په شان د يوه کمونست. د ده د وينا د پوره اندېښنې وړ موضوع دا وه چې د ده حکومت په بيړه د شوراګانو له هېواد نه وغوښتل چې له افغانستان سره نظامي، سياسي او اقتصادي مرستې وکړي. او د شوروي اتحاد حکومت

د ده غوښتنه منلې ده.

په یاد دې وي چې کارمل په دغه وخت کې په افغانستان کې نه، بلکې د شوروي اتحاد په کوم جمهوریت کې و، په افغانستان کې د شوروي نظامي پوځ و، چې څلور ورځې د مخه یې پر افغانستان باندې تېری کړی، او د افغانستان حکومت یې د امین په سروالۍ نسکور کړی او دغه پوځ ممکنه کړې وه چې د کارمبل ثبت شوی اواز په افغانستان کې واورول شي، نو په دې کې یوه ذره شک هم کېدلی نه شی، چې شوروي اتحاد پر افغانستان باندې وسله وال یرغل کړی، او شوروي شوی، له افغانستان نه شړل شوی، او د افغان له تابعیت نه محروم شوی کارمل یې د نوی حکومت د سروال په توګه ټاکلی و. شورویانو دی ځکه په واک کړ چې کارمل به ۱۹۵۷ کې د «مارید» په نامه د ک. ج. ب اجنټي منلی، او ک. ج. ب دی څه وخت چې په پراګ کې و د مارتوف په نامه یادوه، وروسته له هغه چې یې د افغانستان د سروال په توګه مخکې کړ، په دغو نومونو نه یادوه، خو وطنپالو افغانانو دی د بکوف په نامه یادوه چې د ببرک کارمل وطنفروش له اولو تورو نه جوړ نوم کېږي. د شوروي اتحاد په یرغل سره چې افغان او افغانستان ته د کارمل خیانت او شوروي اتحاد ته د هغه تابعیت برالا شو، د افغانانو غوڅ اکثریت د هغه په وعدو باور نه کاووه؛ او د یرغل له اول نه د ده، د ده د ګوند او د ده د حامیانو په وړاندې دغسې عمومي مقاومت پیل شو، چې د افغانستان په اوږده تاریخ کې په دغه وسعت سره نه دی لیدل شوی. خو کارمل ته چې ګوندګی یې ځپل شوی او پوځ هم د خلقي منصب والو په لاس کې و، شوروي اتحاد د بعث بعدالموت وسیله شوه. نو ده ځان مجبور ولید چې افغانانو ته دغسې پوچې وعدې ورکړي، چې یې ورکړې. دلته اساسي پوښتنه دا هم ده چې اندروپوف، ګرومیکو، اوستینوف او پانوماریف چې د پاخه عمر

او تجربو خاوندان او د نړۍ دوهم زبرځواک هېواد سرمشران وو ولې د خلکو او خپلو شورويانو تېر ايستلو ته يې ملا وتړله، او په کابل کې يې د دغو دوه ورځو (ډسمبر ۲۷،۲۸) پېښو په اړه يو راپور خپور کړ چې سر تر سره ناسم او پروپاګند و، چې مهم ټکي يې دا دي.

«د وطنپالنې د احساساتو په څپو سره چې ښايسته ډېرو افغانانو چې د شوروي اتحاد د پوځ د ځای پر ځای کولو په وړاندې ښوولې چې هغه د ۱۹۷۸ کال د افغان شوروي د تړون له مخې په دقيق ډول عملي شوی. د حفيظالله امين مخالفو قوتونو دغسې وسله وال عمليات وکړل، چې په نتيجه کې د حفيظالله امين حکومت نسکور شو. دغه عمليات د کارګرو، پرګنو، روښانفکرو، د افغان پوځ مهمو برخو، د ولتي مامورانو، له ملاتړ نه بهره من و، او ټولو د افغانستان دموکراتيک جمهوريت او د افغانستان خلق دموکراتيک ګوند د نوي حکومت هر کلی وکړ.»

«نوې حکومت او انقلابي شورا د پخواني پرچم او خلق ډلو، نظامي استازو او غير ګوندي غړو په ګډون جوړه شوه. دغې نوې مشرۍ د خپلې کړنلارې اجنډا په څرګندونو کې لوړه وکړه، چې د ملي دموکراتيکي، فيوډالي ضد، او امپريلستي ضد انقلاب او د افغانستان د خپلواکۍ او واکمنۍ لپاره مبارزه کوي. دوی د باندني سياست په اړه ژمنه وکړه چې له شوروي اتحاد سره به همکاري او دوستي په هره ممکنه طريقه چې وي، پياوړې کوي.»

«د خلکو پراخو پرګنو د حفيظالله امين د رجيم د نسکورولو خبر په برالا خوښۍ سره بدرګه کړ، او خپله علاقمني او ملاتړ د نوي حکومت له کړنلارې سره ښيي. د افغانستان د وسله وال پوځ د ټولو کليدي نظامي تاسيساتو او واحدونو قومندانانو، لا دمخه د نوي حکومت او ګوند د مشرۍ ملاتړ کړی دی. له شوروي سرتېرو او متخصصانو سره د دوستۍ اړيکې دوام لري. وضع

په هېواد کې نورماله کېږي.»

«د کابل په سیاسي کړیو کې ویل کېږي چې د کارمل حکومت به هغه مهمې ستونزې هوارې کړي، چې د پخواني رجیم نه ورته په میراث پاتې شوې دي، په داخلي او اقتصادي سیاست کې د نظم په راوستلو سره خو دوی هیله ښکاره کړې چې د خلق دموکراتیک حکومت به د شوروي اتحاد په مرستې سره دغه ستونزې له مینځه یوسي. ببرک د خلق دموکراتیک ګوند د یوه پاخه تیوري پوه په توګه پېژندل شوی، چې د افغانستان وضع په افاقي او سړه سینه څېړي. دی تل له شوروي اتحاد سره د صمیمي احساساتو په لرلو سره په ممتاز ډول پېژندل شوی، او په ګوند او هېواد کې د پراخو پرګنو له ملاتړ نه بهره من دی.»(۶۲)

دغه اعلامیه هم ښیي چې شوروي لویانو ته د واقعیت پر خلاف ګړېدل او نور خلک په هغو معتقد کول دوی د خپلې کمونستي ایډیالوژۍ له مخې کول. داسې هم د هغې له مخې دوی د قول او عمل دوه ګون توب جایز باله، د دې لپاره چې خپل مقصد ته پرې ورسیږي. د اخلاق او رښتین توب پروا دوی نه کوله.

# په شوروي لويانو
# د خلقي لويانو تېروتنه

د خلقيانو او پرچميانو او په واقع کې د ټولو افغان کمونستانو اساسي تېروتنه دا وه چې دوی په افغانستان غوندې هېواد کې د کمونستي ايډيالوجۍ پر بنسټ سياست او عمل کاووه په داسې حال کې چې افغانان پر ملي او ديني ارزښتونو ټينګ ولاړ او د کمونزم ټينګ مخالف وو. په اصل کې افغانستان د کارل مارکس د نظريو له مخې څه چې حتی د شوروي د موجودو لويانو په نظر هم د سوشلستي پروګرام د پلي کېدلو ملک نه و، خو څنګه چې د د غې ايډيالوجۍ خاوندانو د درېيمې نړۍ په ځينو هېوادونو کې نفوذ کړی، او پلويان يې په يو شمېر ملکونو کې په واک رسېدلي وو، دوی هم دولتي واک ته د رسېدلو لپاره دغه لار ونيوله، او له هغو نه خلقيان په کودتا سره په واک ورسېدل. د دوی د لويانو بله اساسي تېروتنه دا وه چې دوی د خپلې ايډيالوجۍ له مخې په شوروي لويانو باندې عقيده ولري، بې له دې چې هغوی يې د خپل عمل او سياست له مخې پېژندلي وي، د همدغسې ذهنيت له مخې و چې خلقي لويانو خپل هېواد د ګاونډي زبرځواک پرمخ خلاص پرېښود، او په دې ډول د هغه ډېر کسان د مشاورانو او متخصصانو په نامه د افغانستان په دولتي څانګو کې ننوتل، په داسې حال کې چې دا ما لومه وه چې شوروي مشاوران په بل ملک کې د خپل ک. ج. ب په دستور کار کوي، د دوی بله اساسي تېروتنه دا وه چې خپل افغان کدرونه او متخصصان يې

چې په دغه و خت کې په ټولـو حکـومتي څـانګو کـې ډېـر او پـه چـارو کـې د مهارت او تجربې خاوندان وو، د خپلې ایـډیالوجۍ پـه تقاضـا لـه ادارو څخـه وایستل او پر ځای یې بې تجربې خلقیان کښېنول، لکه چې پـه پـوځ کـې یـې هم دغسې وکړل. له دې امله او هم دا چې د مځکو د وېش پـر سـر یـې خپـل ډېر نفوذمن وطنوال وتورول، دوی مجبور شول چې پر شوروي اتحـاد بانـدې نوره هم ډډه وکړي. په اصل کې دوی د خپلې ایډیالوجۍ په تقاضـا شـورویان د اعتبـار وړ او خپـل افغانـان لکـه بېګانـه داسـې ګڼـل. دوی چـې د کمونسـتي ایډیالوجۍ په رښتین توب په ټینګه معتقد وو، له دغه درک نه عاجز وو، چـې شوروي لویان چې له دوی سره مرستې کوي، په اصل کې یـې د خپـل مقصـد لپاره کوي چې هغه اقبال وزیري په دغه ډول ښوولي دي چـې «پـه تیـوري کـې هر څه انساني ښه درلوده، خو په عمل کې هر څه د روسـي اسـتعمار مضـمون درلوده.»[۶۳] د همدغه «استعمار» له امله و چې خلقـي لویـان بایـد د دوی پـه نظر سره حکومت وکړي. خو دوی له د غه فکر سـره جـوړ نـه و، سـره لـه دې هم دواړو خواو په رسمي خپرونو کې نارې سورې وهلې چـې د دوی دوسـتي خلـل نـه منـونکې، او «د ثـور انقـلاب» نـه پـه شـاتلونکی دی. پـه ټـولنیز ډول خلقیان معتقد وو چې شوروي ملګري یې د ګډې ایـډیالوجۍ پـر بنسـټ دوی خپل ملګري ګڼي او د نظام په ټینګولو او د هېواد پـه ودانولـو کـې بـه لـه دوی سره ډول ډول مرسته کوي. په دغه فکر کې هم دوی سخت تېر وتلي وو.

د هرات د پاڅون په وخت کې چې خلقي لویان تر دراندە فشار لاندې وو، حتی د شوروي اتحاد صـدراعظم، کوسـیګین پـر دوی شـکمن و، او ویـل یـې چې دوی له مونږ نه هر څه پټوي او مـونږ نـه پـوهېږو چـې پـه افغانسـتان کـې واقعیت څه د ی. د ده له دغې وینا نه څرګنده ده چې خلقي لویانو د حکومـت په کولو کې له شوروي مشـاورانو سـره مشـوره نـه کولـه. پـه اسـلام ابـاد کـې د

تاس استازي هم د دغه نظر په ملاتړ ویلي وو چې «امین لکه تر هغه دمخه د تره‌کي په شان حاضر نه و، چې مشوره ومني او سمونو نه یې په بیړه او شدېل ډول پلي کول چې د افغان په قومي ټولنه کې یې درزونه تولید کړل.»(۶۴) له «مشورې» نه مقصد د شوروي اتحاد مشوره وه، په دغه مقصد چې خلقي حکومت پرچمیان په حکومت کې شریک کړي، لکه هسې چې د شوروي حکومت د یوه سیاسي هیئت مشر سفرنچوک دغسې تجویز خلقي حکومت ته وړاندې کړی و، میتروخین هم دغه مطلب ته په اشارې سره وایي چې په نتیجه کې «شوروي استازي او افغان مشري په څرګند ډول سره بېګانه شول. افغانانو تر څه حده په عمدي ډول خپل سري ښووله او له مشورې نه پرته یې عمل کاووه.»(۶۵)

وزیري لا وایي چې تره‌کي او امین «پوهېدل چې که څه هم شورویان په ظاهري توګه د دوی حکومت په رسمیت پېژني ولې په واقعیت کې یې د دوی د ګوښه کولو نیت درلود، خو دوی دا هر څه د ګوند څخه پټول او په ظاهره یې داسې ښووله چې ګواکې د دوی څخه شورویان ملاتړ کوي.»(۶۶) په ټول اوړي کې د کابل په دیپلوماتیکي کړیو کې حکومت ته د تغییر ورکولو او په هغه کې د پرچمیانو د راوستلو خبرې کېدلې. د امریکې د استخباراتو په یوه راپور کې لا راغلي چې «د افغان او شوروي مشرانو ترمنځ د څرګند توافق نه شته والی د ټولو هغو علامو ملاتړ کوي چې مسکو د ۱۹۷۹ په اوړي کې د تره‌کي- امین د رجیم د عوض کولو په لټه کې و.» په راپور کې دا هم ویل شوي چې «مونږ ته دغسې راپورونه رارسېدلي دي چې وايي شورویانو د خلق دموکراتیک ګوند د رقیب ډلګي مشران چې په اروپا کې مهاجر دي، هڅوي چې باور وکړي چې بهر ته به یې په واک کړي او یا شورویان د دې پر ځای د نظامي کودتا پلان عملي کړي.»(۶۷) شوروي لویان پر دوی ځکه ټینګ ولاړ

وو، چې پرچمي لويان انټرنيشنلست کمونستان او په شورويت معتقد وو، دغومره ټينګ چې لکه د شوروي اتحاد چارواکي وي، هغومره چې دوی د عقيدې له مخې شوروي لويانو ته د تابعيت غاړه ايښې وه، د بل هيڅ افغان ډلې لويانو د بېګانه هېواد لويانو دغسې تابعيت نه وو منلی. په واقع کې له دوی نه شوروي شوي کمونستان جوړ شوي وو، خو په خوله يې افغان «خلقو» ته د خدمت نارې وهلې. د دوی دغه نارې حقيقت کېدلی نه شو، ځکه چې دوی ته د واکمنۍ سرچينه شوروي لويان وو، نه افغان ولس. د دوی د همدغه تابعيت له امله وو چې شورويانو خلقي حکومت د دوی لپاره په خپل پوځ نسکور کړ، په داسې حال کې چې دوی په خپله له هغوی نه حکومت نيولی نه شو، خلقي حکومت يو غټ واقعيت او د هغه سر مشر حفيظ‌الله امين د هغوی نه پخلا کېدونکی مخالف و.

شوروي لويان که څه هم له اول نه له امين سره جوړ نه وو، په ظاهر کې يې ورسره د دوستۍ چلند کاووه او حتی ورته يې دغسې انتباه ورکړې وه چې دی پر پرچمي لويانو غوره بولي. امين ته به دغه فکر هغه وخت پيدا شوی وي چې پوزانوف د ۱۹۷۹ په جولايی کې د کارمل، محمودبريالي او اناهيتا راتب زاد له ليدنو نه ډډه وکړه.دوی پخوا له دې چې باندنيو ملکونو ته د امين په فيصله د سفيرانو په توګه لاړ شي، د شوروي د تاس اژانس هستوګنځي ته د ماښام په تياره کې په پټه ولاړل، د دې لپاره چې له پوزانوف سره وګوري. دوی هلته ټوله شپه په انتظار تېره کړه، خو هغه نه يوازې ورسره ونه ليدل، د هغو په ورتګ يې امين هم خبر کړ. د ک. ج. ب د يوه پخواني چارواکي موروزوف په نظر «په هر حال، د سفير دغه تيرايستنه د امين لپاره ډېر ښه خبر و، او هغه يې په دغه فکر کړ چې شورويان به د ده له پلانونو سره غرض ونه کړي.»(۶۸) وروسته چې په ارګ کې د شخص امين پرضد

توطیه کې پوزانوف ښکېل وګڼل شو. امین یوازې د هغه په ایستل کېدلو بسنه وکړه او د شوروي اتحاد حکومت یې د پخوا په شان د خپل حکومت دوست ګاڼه.

دا بـه لـه دې املـه و چـې حکومـت یـې د هغـو مرسـتې تـه اړ و او نـور حکومتونـو ورسـره مرسـته نـه کولـه. مهمـه دا هـم و ه چـې خلقـي کدرونـه د شـورویانو تـر نفـوذ لانـدې وو، او د هغـو پـه اړه انتقـادي او افـاقي نـه وو. لـه همدې امله به و چې امین هغوی د ځان په وړاندې له ناوړي قصد نـه خبـر نـه کړل «په دې دلیل چې که ګوند خبر شي چې په دې موضوع کې د مسکو سیخ لاس دی، نو ګونـدیان بـه لـه ده څخـه مـخ واړوي.»(۶۹) پـه واقـع کـې امـین د دغسـې ګونـد سـروال شـوی و ، چـې پـه عمـومي ډول شـوروي پلـوی و، او شوروي اتحاد چې یو زبرځواک او د افغانستان چم ګاونډی هېواد و، په اصـل کې پر پرچمیانو ولاړ وو. خو امین فکر کاووه چې شورویان «مونږ ته هغومره یا تر هغه نه ډېره اړتیا لري، چې مونږ ورته اړتیا لرو، او ماته تـر هغـه نـه ډېـره اړتیا لري، چې زه ورته اړتیا لرم.»(۷۰) داسې ښکاري چـې امـین پـه کمونسـتي اخـلاق نـه پوهېـده. او شـوروي لویـان یـې نـه پېژنـدل او د ک. ج. ب لـه تاکتیکونو او دسیسو سره نا اشنا و. پر دې سربېره لکه څنګه چې وزیري وایي «امین داسې ناسم فکر کاووه چې دی په افغانستان کې یـوازنی ځـواکمن دی، نو شورویان مجبور دي پر ده باندې تکیه وکړي.»(۷۱).

دی به وروسته له هغه په دغه فکر شوی وي، چې کارملي، زرغـون خېلـي، او تره‌کي خپل رقیبان یې له ملک نه ایستلي، او په خپله د ګونـد، حکومـت، او پوځ بې جـوړی سـروال شـوی و، پـه دغـه حـال کـې ده فکـر نـه کـاووه چـې د شوروي لویان به دی او حکومت یې پـه نظـامي قـوې نسـکور کـړي او کارمـل یې پر ځای وټاکي، که څه هم خیال محمد کټواري له خپل مرګ نه دمخـه پـه

تیلیفون کې ماته ویلي وو چې امین ته په اخر کې رپوټونه رسېدلي وو، چې شورویان پر افغانستان نظامي حمله کوي، خو هغه ویلي وو چې «روسان دا جرئت نه لري، افغانستان چکوسلواکیه نه ده.» د چکوسلواکیا ولسمشر په دوهم نړیوال جنګ کې یرغلګر جرمني ته پخوا له دې چې پر هېواد یرغل وکړي تسلیم شوی و. وزیري هم وایي چې «نورو ګوندیانو هیڅ د روسیې یرغل اټکل نه شو کولای.»(۷۲). د ګوند ایډیالوګ صالح محمد زېری که څه هم له امین سره یې په زهرو لړل شوی سوپ څښلي او زر وروسته یې د کارمل اواز له رادیو نه اورېدلی و، هم په دغه فکر و. عجبه ده چې په دغه وخت کې هم پر ده باندې ایډیالوجي تر دې حده حاکمه وه چې د هغې له مخې یې هر ناوړي عمل «ارتجاع او امپریلزم» ته منسوب ښوده. د ده پر خپلو الفاظو «چورتو نومې ادامه وموندله خو له دغې کړی نه ونه وتلم چې دغه ټوله د امپیریلزم او ارتجاع دسیسې دي او شوروي د ثور د انقلاب پر ضد عمل نه کوي.»(۷۳) وګورئ ایډیالوجیکي عقیده څنګه یو څوک د واقعیت له درک نه عاجز کوي.

د همدغسې ذهنیت او ایډیالوجۍ له امله و، چې پوځ یا په دقیق ډول د پوځ افسرانو د شوروي یرغل په وړاندې له وطن نه دفاع و نکړه. د معاصر افغانستان په تاریخ کې دا لومړی ځل و چې افغان پوځ د باندني تېري په وړاندې د خپل پلارني هېواد له دفاع نه ډډه وکړه. یو دلیل به دا وي چې لکه وزیري وایي «زمونږ ملګرو او پوځي قطعاتو د شوروي یرغل په وړاندې هیڅ ډول تیاری نه درلود.»(۷۴) بل دلیل به دا وي چې د پوځ واحدونو قوماندانانو د خپل اعلی قومندان حفیظ‌الله امین، او لوی درستیز له حکم نه پرته په خپل سر جنګ کولی نه شو، او هغو په دې اړه هدایت نه و ورکړی، او تیلیفون هم کار نه کاووه. دا هم ویل کېدلی شي، له یرغلګر پوځ سره د شوروي شویو

افغانانو سروري، وطنجار او ګلابزوی شته والی به د دې سبب شوی وي چې مقابلې او دفاع ته زړه ونکړي. غټ او مهم دليل به دا وي چې لکه وزيري ورته اشاره کړې چې«زمونږ لپاره يې ارزښت درلود هغه دا و چې که وکړای شو چې خپلو[نظامي] ملګرو ته دا پيغام ورسوو چې بېځايه تلفات ورنکړي.... دا د عقب نشينۍ وخت دی.»(۷۵) دا به هم وويل شي چې دغه پوځيان تر نورو زيات د يرغلګرو له ځواک نه خبر وو. او پوهېدل چې له هغو سره نېغه او منظمه مقابله به بيخي ډېر تلفات ولري. سره له دې هم بايد وويل شي چې د يوه هېواد د وسله‌وال پوځ لومړنۍ او اصلي وظيفه د باندني تېري په وړاندې له پلارني هېواد نه دفاع ده. خو دغو پوځيانو نه يوازې دفاع ونه کړه «عقب نشيني» يې هم ونه کړه، په دې ډول چې په وطن کې خواره شوې، يا د نورو په ملګرتوب يا پخپله ګوريلايي جنګ ته ملا وتړي، چې وروسته نورو همدغسې وکړل. د هغه پر ځای دوی پر خپلو بارکونو کې پاتې شول. چې مانا يې د يرغلګر پوځ تېري ته غاړه ايښوول کېږي، سره له دې چې دوی د خپلو تېر شويو دفاعي او ګوريلايي جنګونو مثالونه په مخ کې لرل، چې په ډېرو سختو شرايطو کې يې په مېړانه له خپل وطن نه دفاع کړې وه، د پوځي افسرانو په توګه د وی به د غټ مشر محمد جان وردګ، غلام حيدر څرخي، ميربچه خان، او غازي محمد ايوب او تر هغو د مخه د غازي محمد اکبر له کارنامو نه خبر وو، چې د افغان-انګليس په لومړي او دوهم جنګ کې يې د انګليس زبرځواک پوځ په وړاندې درېدلي، او د خپلو خلکو په ملګرتوب او مرسته يې له وطن نه په دغسې مېړانه دفاع وکړه، چې افغانان خو لا څه کوې، باندنيان يې هم په درناوي يادوي. تريخ حقيقت دا دی چې خلقي افسرانو له لوی درستيز محمد يعقوب او قوماندان جانداد نه پرته د ايډيالوجۍ له امله د شوروي يرغلګر پوځ په وړاندې د مخامخ کېدلو روحيه

له لاسه ورکړې وه.

دا به ځکه دغسې و، چې پوځ خلقي او سیاسي ګرزول شوی و، خلقي حکومت د ثور له کودتا نه وروسته په دې پیل کړی و، چې پوځ «خلقي» کړي. د دغه پروګرام له مخې یې غیر خلقي مسلکي لوی افسران په بېلو نومونو له خپلو مقامونو لېري کړل، او پر ځای یې خپل ګوندي واړه خلقي افسران وګمارل. دغسې پروسې په پوځ کې سخت کړکېچونه خلق کړل چې د دغه او داسې هم د نورو ټکو په سر په پوځ کې څو ځله پاڅونونه وشول او د هغو په ځپلو سره پوځ کمزوری شو. د تره‌کي په له مینځه وړلو سره په خلقي افسرانو کې هم درز راغی. سره له دې هم په پوځ کې امین پلو افسران د هغه او د نظام ټینګ پلویان ډېر وو، او دوی په اکثریت کې وو، خو د ثور له کودتا نه وروسته افغان پوځ د لومړي ځل لپاره سیاسي شو او پوځیان د شوروي دوستۍ په روحیې روزل کېدل. بیا نو په افسرانو په تېره په ګوندي افسرانو کې دغه فکر پیدا شو چې شوروي اتحاد د افغانستان رښتین دوست دی، او د هغه واکمنان چې هر څه کوي د افغانانو د ښېګڼې لپاره یې کوي. دا چې دغه افسران په رښتیا کمونست وو، یقیني نه ده خو په شوروي اتحاد او د هغه پر ځواک باندې د دوی عقیده ټینګه وه. دا چې دوی د خپلې ایډیالوجۍ له امله په لږ وخت کې د لوړو مقامونو او واک خاوندان شول هم د دې سبب شو چې په دغه فکر ټینګ وي. پر دوی باندې دغه پروپاګند هم اثر کړی و، چې «د ثور پرتمین انقلاب» ته د «ارتجاعي قوتونو، امپیریلستانو» په تېره د «نړۍ خور امریکایي امپیریلزم» له خوا خطر متوجه دی او ورور شوروي اتحاد د افغانستان او د «ثور انقلاب» ټینګ ملاتړ دی. نو دوی هم فکر کاووه چې شوروي اتحاد پر افغانستان باندې یرغل نه کوي، او که افغانستان ته پوځ هم واستوي هغه به د خلقي نظام د ملاتړ او پیاوړتیا لپاره وي، د دغه فکر له

مخې دغو افسرانو د شوروي يرغل په وړاندې له وطن نه دفاع ونکړه. په دغه ډول د دوی هېواد، د دوی وطنوالو او ملي حيثيت چې له دوی نه يې غوښتل د خپلو تېر شويو په شان د يرغلګرو په وړاندې ودرېږي، د دغسې ايډيالوجۍ قرباني شول، چې هغه په اصل کې د روسيې د ملي ګټو په خدمت کې وه، په نتيجه کې د افغان ملي ننګ مدافعان هيڅکله دغسې ناکام شوي نه وو، لکه دغه افسران چې ناکام شول. له همدې امله وو چې افغان نظامي افسران په رسمي يونيفورم کې هيڅکله هغومره سپک شوي نه وو، لکه دغه افسران چې له يرغل نه وروسته د افغان مېړمنو له خوا په عامه سرويسونو کې سپک کېدل. د دغسې ترخو کترو له ويرې دوی په عامه ځايونو کې په عسکري يونيفورم کې نه ليدل کېدل او د ډېر وخت لپاره دوی د کابل مېړمنو له خوا د مېړمن منصبدار په نامه مخاطب کېدل.[۷۶]

# د شوروي اتحاد
# د يرغل په اړه بحث

شوروي اتحاد ولې دغسې حکومت په افغانستان کې په پوځي قدرت سره نسکور کړ، چې په اصل کې د هغه پلوي و، البته د هغه اصلي هدف مالومول يو ګران کار دی. په دغه واضح دليل چې د شوروي اتحاد ټولنه سرپټې او نظام يې هم زورواک و، او حکومت يې هم اصلي موخه نه ده ښکاره کړې، او په دې اړه يې چې هر څه ويلي د دې لپاره ويلي چې خپل دغه يرغل له قانون سره برابر وښيي. حتی له خپل يرغل نه يې هم انکار کړی او د افغان حکومت نسکورول يې پخپله د افغانانو کار بللی او په دې اړه يې نارښتيني دليلونه هم وړاندې کړي دي، خو د شوروي د دغه يرغل په اړه د هغه د نورو يرغلونو پرخلاف په تېره په ختيځې اروپا کې، دوه ټکو د څېړونکي کار يو څه اسان کړی دی. يو دا چې د شوروي اتحاد په ړنګېدلو سره د افغانستان په اړه د هغه يو شمېر سندونه خپاره شوي او بله دا چې د افغان جنګي قومندانانو، او هم د شوروي منصب والو مرکې او ليکنې هم راوتلې دي.

د شوروي اتحاد په دغو ګوندي او حکومتي سندونو کې د يرغل د موخې په اړه په څرګند ډول څه نه دي ويل شوي، خو لکه چې په مخکې پاڼو کې راغلي په هغو کې ويل شوي، امين د لويديځو هېوادونو په اړه «انډوليز سياست» پرمخ بېوه چې د هغه له مخې هغه ممکن د افغان سياست په هغه لور واړوي چې د امريکا په خوښه وي، چې په دغه حال کې به د شوروي

اتحاد جنوني جمهوريتونه په خطر کې شي، او دغسې نور. دغه ټول ټکي دا نه څرګندوي چې له يرغل نه د شوروي اتحاد اصلي موخه څه وه، او نه ورته کوم قانوني دليل و رکوي چې، پر افغانستان باندې يرغل وکړي، خو د دغو ټکو په سپړودلو سره د امين او د هغه له حکومت نه د شوروي اتحاد اندېښنې او حتی اصلي موخه مالومېدلی شي. اول بايد وويل شي چې د شوروي حکومت د افغانستان حکومت د امين په سر مشرۍ د يوه خپلواک او قانوني حکومت په څېر پېژندلی و، بيا هم په خپل يرغل سره يې د کارمل په سروالۍ دغسې حکومت پر پښو ودروه، چې هغه د همدغه حکومت له خوا چې شوروي اتحاد په قانوني ډول پېژندلی و، د افغانستان له تابعيت نه محروم شوی و، لا مهمه دا ده چې د شوروي اتحاد دغه ادعا د هغه تړون پر خلاف ده کوم چې د دوستۍ، ښه ګاونډيتوب او همکارۍ په نامه د ۱۹۷۹ کال د ډسمبر په پنځمه په مسکو کې د بريژنيف او تره‌کي له خوا لاسليک شوی و. سره له دې هم د شوروي حکومت ادعا وکړه چې د دواړو لوړو خواوو د دفاعي تړن د پياوړي کولو په مقصد دوی په نظامي ډګر کې د هغو مناسبو توافقاتو پر بنسټ چې د د واړو ترمنځ به کيږي، د همکارۍ انکشاف ته دوام ورکوي.» خو په «نظامي ډګر کې همکاري» يوه ناڅرګنده افاده ده او د هغې مانا په حتمي ډول دا نه ده چې يوه خوا به بلې خوا ته نظامي پوځ استوي. که له هغې نه مطلب دا هم وي په هغه حال کې د همدغه تړون له مخې بايد د دواړو خواوو ترمينځ «مناسب توافقات» لاسليک شوي وي. خو تر اوسه پورې د امين په لاسليک دغسې سند ليدل شوی نه دی، چې له شوروي اتحاد نه يې د پوځ د استولو غوښتنه کړې وي، په دې اړه چې شوروي چارواکو هر څه ويلي، د هغو خپلې خبرې دي.[۷۷]

بل ټکی چې پاس ورته اشاره وشوه دا دی چې د امين په سرمشرۍ د

افغانستان حکومت د لویدیځ والو او امپیریلستانو په تحریک سره د اسلامي بنسټ پالو له خوا د نسکورېدلو ژۍ ته ورکش شوي، او په دې ډول نه یوازې د افغانستان سوشلستي نظام بلکې د شوروي اتحاد جنوب هم په خطر کې و. حقیقت دا دی چې دغه ادعا بې بنسټه او د ک. ج. ب پروپاګند و. سره له دې هم دغې ادعا د ډېرو لیکوالو په لیکنو کې انعکاس کړی دی. د حفیظالله امین په سل ورځنۍ واکمنۍ کې هم هېواد ناارام و، خو وسله والو مخالفانو دغه توان نه درلود چې له حکومتي ځواکونو سره مقابله وکړي، دا خو لا پر ځای پرېږده چې نسکورولی یې وشي. دوی له هوارو نه شړل شوي او ځینو سردرو ته ختلي وو. د بدخشان ولایت د ګزاو، بارک، اوز او یوه بله ولسوالي او دوه علاقه دارۍ په خپل سر شوې وې. د ارزګان ولایت خلک هم د ترین کوټ له خلکو نه پرته په خپل سر شوي، او د حکومت له ادارې نه بیرون شوي وو.

د ریشخورو په عسکري فرقه کې تره‌کي پلو، نظامیان د حکومت پر ضد جګ شوي وو، خو هغوی زر وځپل شول او فرقه ارامه شوه. بل ډېر مهم ټکی دا دی چې له مخالفانو سره نورو حکومتونو د وسلو او پیسو مرستې نه کولې، خو د حکومت پر ضد تبلیغ کېده، چې هغه د سفارتونو کار و، نه د باندنیو جورنلستانو. وروستي افغانستان ته نه راتلل، او د سفارتونو مامورانو د افغانستان په اړه زیاتره پروپاګندي مالومات خپرول. د ډهلي په سفارت کې د امریکې چارج دافر وایي چې «البته زمونږ نظر دا و چې د روسانو د وارخطا کولو لپاره د افغانستان قضیه ژوندۍ وساتو. نو مونږ د مقاومت هر بری او د حکومت هره ستونزه غټه ښووله.» خو دی په غوڅه توګه دا هم وایي چې «دغه رجیم د نسکورېدلو په حال کې نه و، او ټول سفارت په دې اړه موافق و.»(۷۸)

فرانسوی مولف اولیوې رای لا وایي چې «د شوروي تر یرغل پورې تنظیمونه لږ و، ډېر د نزع په حال کې وو، ځکه چې له دوی سره په واقع کې له باندې نه مرسته نه کېدله.»[۷۹] د حکومت مخالفان تیت او خواره وو، او کوم ګډ مرکز یې هم نه لاره. له بلې خوا امین دغه زړورتیا او بصیرت لاره چې د مخالفانو د بې اثره کولو او د ارامۍ د خوندي کولو لپاره د پاکستان له حکومت سره خبرې په ټینګه له سره ونیسي، چې ما د ثور کودتا نومي اثر کې هغه بیان کړې، دغه خبرې د موافقې تر سرحد پورې رسېدلې وې، خو د شوروي اتحاد په یرغل سره قطع شوې. شوروي اتحاد بیا څه باندې نهه کاله وروسته له پاکستان سره دغسې موافقه کولو ته حاضر شو. خو تر هغه وخته د افغانستان تاسیسات له مینځه تللي. ډېر کلي او کورونه وران شوي، کرنیز طرز زیانمن شوی او له یو ملیون نه زیات د وطن او ننګ مدافعان شهید شوي وو او په خپله شوروي اتحاد د ټوټه کېدلو ژۍ ته نزدې شوی و. په پای کې د امین په واکمنۍ کې د افغانستان امنیتي وضع په دغسې حال کې وه، چې د پکتیا والي عثمان عمر ساپی بې له محافظانو له ملګرتوب نه کابل ته ته او راته او زه، پوهاند میر حسین شاه، پوهاند امین (د هرات) له کابل نه د ننګرهار پوهنتون ته په اونۍ کې یو ځل د درس ورکولو لپاره ان د شوروي تر یرغل پورې تللو، بې له دې چې د نارامۍ کومه نښه مو په سترګو شوې وي.

د همدغسې وضع په مشاهدې سره به و، چې هغه شوروي جنرالان چې په افغانستان کې یې نظامي وضع څېړلې وه، افغانستان ته د شوروي پوځ د استولو مخالف وو، د دوی مهم کسان جنرال ګوریلوف، په کابل کې د دفاع وزارت د استخباراتو آمر، جنرال زاپلاتین د افغانستان د وسله وال پوځ سیاسي مشاور، او جنرال پاولوفسکي وو. وروستی لکه چې دمخه وویل شول، د یوه لوی نظامی هیئت په مشرۍ په افغانستان کې دوه میاشتې نظامي

وضع څېړلې وه. جنر ال زاپلاتین د جنرال ګوریلوف او له نورو نظامیانو سره په ګډه د اکتوبر په اخر کې په مسکو کې د دفاع وزیر اوستینوف سره لیدنه وکړه. دی د دغې لیدنې په هکله وايي چې «مونږ په دفاعي حال کې وو، ځکه چې په کابل کې زمونږ مشاورانو او متخصصانو د افغانستان خلق دموکراتیک ګوند ستونزو په وړاندې له حد نه ډېر غبرګون ښودلی و. مسکو ته د دوی د مخابرو سروکي دا وو چې هر څه د لوبېدلو په حال کې دي، او امین زمونږ لپاره یو خطر دی. جنرال ګوریلوف په څرګنده دول اندېښمن شوی و، او زه هم په اندېښنه کې ډوب شوم. مونږ نظر ورکړ چې له امین سره کار کول ممکن دی؛ هغه د شوروي اتحاد دښمن نه دی، او مونږ باید د خپلو ګټو لپاره د هغه له ربښتینو ظرفیتونو نه کار واخلو.» د بحث په پای کې افغانستان ته د شوروي پوځ د استول کېدلو موضوع پورته شوه په دې ډول چې که «د افغانستان پوځ په دغسې حال کې وي، د مخالفانو په وړاندې به مقاومت وکولی شي یا نه. مونږ وویل چې، هو.»(۸۰)

جنرال پاولوفسکي لا دمخه له کابل نه اوستینوف ته په یوه تیلګرام کې مشوره ورکړې وه چې دا مصلحت نه دی چې افغانستان ته پوځونه واستول شي. خو د همدغه تیلګرام له امله مسکو د ده د هیئت موده ختمه کړه او دی یې مسکو ته وغوښت او رتبه یې هم یوه درجه ورته ښکته کړه. سره له دې هم «شورویانو او په خاصه توګه ک. ج. ب دا هڅه کوله چې د خپل دغه عمل [تېري] د تبریه کولو په موخه داسې تبلیغ وکړي چې ګواکي د امین رجیم د رانسکورېدلو په حالت کې و؛ ځکه دوی بېړه وکړه چې خپل پوځونه افغانستان ته ننباسي.»(۸۱)

لکه چې دمخه ویل شوي، شوروي اتحاد اندېښمن و، چې امین به د «انډولیز سیاست» په نامه د امریکې په لور واوړي او امریکا به په افغانستان

کې ننوځي او پـه نتيجه کې د شـوروي اتحـاد جنـوب بـه پـه خطـر کـې شـي. شوروي اتحاد به دغه خطر غټ ښکاره کاووه چې د هغه پـه نظـر «واشـنګټن» په دې لټه کې و چې د خپلو اليکټرونيکي اسـتخباراتي پوسـتو د عـوض د پيـدا کولو پسې و، چې د ايران په شمال کې يې له لاسه ورکړې وې». والنټن فـالن، د مرکزي کميټې د بين المللي څانګې مرستيال لا ويـل چـې «مـونږ ويريـدلو چې هغه [امين] به د سادات کانه وکړي.» د فالن په نظر «امين د دغسې يوې طريقې په انتظار کې و چې له مونږ سره اړيکې وشلوي چې پای به يـې زمـونږ د مشاورانو ايستل وي.»(۸۳) د مصـر ولسمشـر انورسـادات پـه ۱۹۷۲ کـې لـه مصر نه د شوروي اتحاد مشاوران ايستلي، او له امريکې او اسـراييلو سـره يـې د دوستۍ اړيکې ټينګې کړې وې. دشوروي اتحاد حکومتي ورځپـانې پـراوډا د خپل حکومت يرغل په دغـو عبـارتونو حتمـي وښـود. «پنټـاګون او د امريکـې سي‌آی‌اې چې يې په ايران کې خپلې هڅې له لاسه ورکړې وې پـه پټـه حسـاب کاووه چې د افغانسـتان لـه لارې زمـونږ خـاورې تـه لا نـزدې شـي.» پـه خپلـه بريژنيف هم لس ورځې وروسته له هغه وويل چې «يـو ربښـتيانی خطـر [پيـدا شوی و] چې افغانستان به خپله خپلواکي له لاسه ورکړي او هغه بـه زمـونږ پـه سهيلي سرحد کې د دښمنۍ په يوه ټينګ استحکام بدل شي.» بيا يې له يرغل نه شپږ مياشتې وروسته په يوه راپور کې وويل چې «له سـهيلي خـوا نـه زمـونږ هېواد ته خطر شنډ شوی دی» او دا چې «مونږ له پوځ استولو نه پرته بلـه چـار نه لرله.»(۸۴) اول خو دا د بريژنيف او نورو هسې نظرونـه وو او پـه اړه يـې نـه افغان چارواکو او نه امريکايي چارواکو ته څـه ويلـي او نـه عمـل کـړی و. پـر دې سربېره هغه د بريژنيف له هغه نظر سره سر نه خـوړه چـې هغـه څـه مـوده دمخه و يلي وو چې امين اوس هغه څه کـوي چـې ده ترکـي تـه ويلـي وو او دا چې د هغه شاوخوا د شوروي اتحاد ربښتيني دوستان دي. هو، امين په بانـدني

سیاست کې غوښتل یو انډولیز سیاست پرمخ بوځي خو د هغه مانا دا وه چې افغانستان به له ټولو هېوادونو سره د یوه متوازن، متعادل او انډولیز سیاست له مخې چلند کوي. دا په دې مانا نه و چې امین به د شوروي اتحاد په مخالفت سیاست غوره کړی وي.

امین نه په وینا او نه په عمل کې دغسې میل ښودلی و، هغه افغانستان د شوروي اتحاد مرستو ته اړ لیده لکه چې په دې اړه یې ویلي وو چې «مونږ قانع یو چې که د شوروي اقتصاد پراخه اقتصادي او نظامي مرسته نه وای مونږ د امپیریلزم د هغه د کینې اړخو متحدانو، او بین المللي ارتجاع د تېري او توطیو نه دفاع کولی نه شوه، او نه مو توان درلود چې خپل هېواد ته د سوشلستې ټولنې په لور حرکت ورکړو.»(۸۵)

په دغسې حال کې امین د مصر سادات کېدلی نه شو، په تېره چې دا په نظر کې ونیوله شي چې افغانستان د مصر پر خلاف د شوروي اتحاد چم ګاونډی هېواد و او د ثور له کودتا نه وروسته د د واړو هېوادونو ترمنځ د شپېتو موافقو له مخې بېشمېره شورویان په نظامي او ملکي ساحو کې افغانستان کې ځای پر ځای شوي وو. پر دې سربېره ک. ج. ب ته دا هم مالومه وه چې امین د شوروي له یرغل نه لږ څه دمخه د کام د سیاسي څانګې آمر ته ویلي وو چې «له امریکې او نورو لویدیځو هېوادونو سره زما ټول کوښښونه بې نتیجې شوي دي. زمونږ امکانات سرته رسېدلي دي. زه خپل ځان لویدیځ ته له هر ډول تعهد نه ازاد ګڼم.»(۸۶) د شوروي اتحاد لویانو ته دا هم مالومه وه چې وروسته له هغه چې د افغانستان او شوروي اتحاد پر ضد له هیڅ باندني ملک سره معامله نه ده کړې او اوس خو د امین په سروالۍ دغسې شوروي پلوه ګوند په واک و، چې په افغانستان کې د شوروي پر ضد امریکې یا بل ملک ته د کوم ډول امتیاز د ورکولو فکر نه کېده. په

واقع کې په افغانستان کې نه امین او نه کوم بل لوړ پوړي چارواکي امریکا تـه دننه په افغانستان کې نـه کـوم امتیـاز منلی او نـه پـه دې اړه کـوم عمـل کـړی. یوازې دغومره و چې امین د انګولیز سیاست له مخې غوښتل له امریکې سـره پخوانۍ اړیکې تازه کړي چې د هغې د سفیر له وژل کېدلو نه وروسـته خرابـې شوې وې.

دلته به یو ځل بیا وویل شي چې شوروي اتحاد د ثور له کودتا نـه وروسـته د افغانستان په حکومتی څانګو کې په دغسې بېساري ډول ننوتلی و، چـې بـل هیڅ هېواد په هغه اندازه دخیل شوی نه و او دغـې موضـوع هـم چـارواکي او هم افغانان اندیښمن کړي وو، د همدغې اندیښنې د رفع لپاره به و، چې امـین خپلـو چـارواکو تـه هـدایت کـړی و چـې لـه شـوروي مشـاورانو نـه یـوازې د مشاورانو پـه توګـه کـار واخسـتل شـي. دا چې دغـه هـدایت څـومره عـام و او څومره عملي شـو مالومـه نـه ده، خـو د نظـامي کـام مرسـتیال؛ ګـل عثمـان، د څرخي پله زندان کې راته وویل چې دغه هدایت د کام په نظامي څانګـه کـې د شوروي اتحاد تر یرغل پورې عملي کېده. د همدغه هدایت په تړاو به و، چـې امین جنرال پاولوفسکي ته ډاډ ورکړی و چـې «مـونږ ټـول هغـه څـه کـوو چـې یقیني کړو ستاسې سپارښتنې پلې شي او مـونږ بـه تـل د شـوروي مشـاورانو او ماهرانو په همغاړیتوب سره کار وکړو، زمونږ دوستي نه لړزېدونکې ده.»(۸۷)

له پورتنۍ شرحې نه جوته ده چې د لویدیځ په لور د امـین مـیلان شـوروي لویـانو تـه هسـې پلمـه وه، دوی پـه اصـل کـې نـه غوښـتل امـین پـر خپلـواک افغانسـتان بانـدې پـر خپلـواک ډول حکومـت وکـړي. دوی د شـوروي شـوي کارمل او د هغه د شوروي شویو ملګرو له لارې غوښتل افغانستان د بخارا په شان د خپلې امپراتورۍ یوه برخه وګرځوي.

له دې وروسته به دغه موضوع تر بحث لاندې ونیوله شي چې ویـل کېـږي

امین له شوروي اتحاد نه غوښتي وو چې افغانستان ته پوځ واستوي چې د کرارۍ په خوندي کولو کې دوی له حکومت سره مرسته وکړي، خو دا هم یوه پېچلې موضوع ده او هم یې په اړه منسجمې او ځانګړې لیکنې نه شته، خو شورویانو په دې اړه یو ځای بل ځای ادعاګانې کړې، چې امین له شوروي اتحاد نه د پوځ غوښتنه کړې وه.

اول به و ویل شې چې میتروخین وایی چې «هر ځل چې شوروي اتحاد د تره‌کي دغه غوښتنه ردوله چې شوروي دې افغانستان ته پوځ واستوي، امین به له خپلو نزدې ملګرو څخه خپله خوښي نه پټوله، ځکه چې دی پوهېده چې د شوروي سرتېرو ورتګ به د ده هغو پلانونو ته خنډ وي چې واک په لاس کې ونیسي.»[۸۸] د هرات په قضیه کې تره‌کي له شوروي لویانو نه په ټینګار سره دغه غوښتنه کړې وه، خو د شوروي اتحاد د رسمي راپورونو پر بنسټ امین هم په بېلو وختو کې د شوروي سرتېرو غوښتنه کړې وه. دا باید په نظر کې ونیوله شي چې دغه روایتونه ټول شفاهي او د شوروي چارواکو په دې اړه د امین یا د هغه د لوړپوړو چارواکو غوښتنلیکونه نه شته.

جنرال ګوریلوف چې له امین سره یې د اګست په ۱۱ لیدلي وو، وایي چې «د لیدلو په و خت کې د افغانستان دموکراتیک جمهوریت ته د شوروي د فرعي واحدونو استولو ته ځانګړې توجه وشوه.» دی دا هم وایي چې امین څو کرته وویل چې «د شوروي سرتېرو راتګ به زمونږ معنویات تر ډېره حده پورې لوړ کړي او لا زیات باورتوب او ارامی به راولي». د ده په قول امین دا هم ورته وویل چې «خو زه په یقین درته وایم چې مونږ یو واکمن او خپلواک دولت یو، او خپلې ټولې کشالې پر خپلواک ډول هوارو. ستاسې پوځونه به په جنګونو کې ګډون ونه کړي. له هغو نه به یوازې په حساسو شېبو کې کار واخستل شي. زه فکر کوم چې تر راتلونکي پسرلي پورې به د شوروي فرعي

واحدونو ته اړتیا ولرو.»[۸۹] د جنرال پاولوفسکي په و ینا د اګست به ۲۵مه «امین یو ځل بیا کابل ته زمونږ د ځواکونو د استولو موضوع پورته کړه، چې هغه به، د هغه په نظر، د کابل له د وه فرقو څخه یوه ازاده کړي، چې له یاغیانو سره وجنګېږي.»[۹۰] د پاولوفسکي په قول امین څو ځله نور هم د شوروي د پوځ غوښتنه کړې وه. د شوروي اتحاد د دفاع وزیر دیمتري اوستینوف هم یو ځل ویلي وو چې امین په تلیفون کې له هغه د شوروي سرتېرو د استولو غوښتنه کړې ده. سره له دې هم دا یقیني نه ده چې امین به په ربښتیا، هغه هم په دغسې خصوصي ډول، له شوروي چارواکو نه دغسې غوښتنې کړې وې. دغه غوښتنې د هغه د هغې وینا په مخالفت دي چې د اکتوبر په سر کې کړې او هغه وخت کې ویلي وو چې شوروي اتحاد هر هغه څه راکوي چې مونږ یې د افغانستان د دفاع لپاره ضروري ګڼو، په مشخص ډول هغه ویلي وو چې «مونږ به له خپل هېواد نه په خپله دفاع وکړو او هیڅکله به خپلو بین المللي ورونو ته دغه زحمت ورنه کړو چې زمونږ لپاره وجنګېږي.»[۹۱] مهمه دا هم ده چې هیڅ خوا په دې اړه لیکلی لاسوند یا سند نه دی پرې ایښی او پر هغې سربېره د دغو ویناوو په ربښتین توب کې شک دی. اقبال وزیري، د افغانستان د وسله وال پوځ سیاسي سروال وایي چې د شوروي سفارت د ک. ج. ب آمر جنرال ایوانوف د ده په شته والي کې یوه ورځ امین ته وویل چې «دوی په کیوبا کې د هغه هېواد لپاره د پوځي پرسونل د روزنې لپاره د ښوونې یو مرکز جو کړی، چې په بېلو برخو کې د کیوبا پوځ لپاره پرسونل روزي، که د تاسو لپاره داسې پوځي مرکز جوړ شي په دې هکله ستاسو نظر څه دی[؟]امین ورته وویل چې تاسو زمونږ په هېواد کې د ابادۍ هر کار کولی شی، زمونږ د تائید وړ دی.» وزیري بیا وایي چې «د حیرانتیا وړ خبره دا ده چې د جدې د شپږمې نېټې د تېري وروسته په شوروي لیکنو کې

په اصطلاح د افغاني مشرانو له خوا دا هم د شوروي پوځونو په لست کې په ستړګو کېږي.»[۹۲]

د شوروي حکومت په پروپاګندي ليکنو او اعلاميو کې ډېر ځله ويل شوي چې ترهکي او امين په وار وار د شوروي د پوځ غوښتنه کړې وه. وروستی وړانديز يې چې په دې هکله د امين د تېرايستلو لپاره کړی و، دا دی چې «اندروپوف... خپل ځانګړي استازی جنرال ايوانوف ته دنده وسپارله چې افغان چارواکو او په ځانګړي توګه امين ته ووايي چې د ک. ج. ب د مالوماتو له مخې د پاکستان وسله‌وال پوځ پلان لري په نورستان بريد وکړي او هغه ونيسي.... د دغه پلان له مخې مجاهدين به پر نورستان کې موقتي حکومت اعلان کړي.» د دغې پېښې د مخنيوي لپاره ايوانوف په همدغې ليدنې کې له خپل يرغل نه يوه ورځ دمخه وويل چې«بايد د افغانستان وسله وال پوځ په نورستان او بدخشان کې عمليات ترسره کړي... اوومه او اتمه فرقه دې ننګرهار ته واستوله شي او د بدخشان د عملياتو د ترسره کولو لپاره دې د نهرين فرقه او يو غونډ له باميان څخه واستول شي.» پلان دا و چې د هغې تشې ډکولو په پلمه چې په کابل کې په دغه انتقال سره پيدا کېږي، د شوروي کنډکونو لپاره اړتيا پيدا شي. د دغې تشې ډکولو لپاره ايوانوف امين ته ډاډ ورکړ چې «شوروي اتحاد تيار دی چې د هغې ډکولو لپاره په موقتي توګه درې کنډکونه واستوي چې يو کنډک به په بالاحصار، بل کنډک به په باميانو او دريېم کنډک به په کيله ګي کې ځای پر ځای شي.» د وزيري په وينا امين په خپل سر د درې کنډکونو د را استولو هوکه وکړه، او دا يې هم وويل چې «په افغانستان کې د سوشلزم جوړېدل تضمين شول.» خو امين وزيري ته وويل چې «د شوروي د درې کنډکونو په راتګ خپه دی، ځکه هغه د ثور د انقلاب ارزښت کموي» او افغانان به د هغو په راتګ وترېږي. په هر حال،

«دا هغه مهال و چې شوروي پوځونو د الوتکو په ذريعه د خواجه رواش هوايي ډګر ته په راتللو پيل کړی و.»[۹۳]

بيا نو د شوروي د يرغل لړۍ چټکه شوه. د يوې اونۍ په بهير کې د يرغلګر پوځ پنځوس زرو ته ورسېد. او وروسته يې شمېر له يو لک نه واوښت. د حيرانۍ ځای دی چې د شوروي حکومت د ډسمبر په ۳۱مه په پراودا کې په يوې څرګندونې کې وويل چې شوروي اتحاد د افغانستان «ټينګه غوښتنه ومنله د سملاسي مرستې او له باندني تېري سره د مبارزې په ملاتړ.... چې افغانستان ته يوه محدوده نظامي قطعه واستوي چې له هغې نه به يوازې له باندې نه د وسله وال تېري د طرد کولو لپاره کار واخيستل شي. دغه قطعه به هغه وخت وايستله شي چې هغه د ليل وجود و نه لري، چې دغه عمل يې ضروري کړ.»[۹۴] د شوروي اتحاد په و روستنيو څرګندونو کې دغه «محدوده نظامي قطعه» په محدودو نظامي قطعو» بدله شوه.

د دغې څرګندونې په اړه به اول وويل شي چې په خپله افغانستان دغسې غوښتنه نه شي کولي؛ د هغه په نامه يا استازيتوب د هغه واکمن يا د ولس لويان دغسې غوښتنه کولی شي، نو د «افغانستان غوښتنه» مانا نه لري، خو دا چې له هغه څخه مقصد دغسې کس يا کسان وي. د شوروي له يرغل نه دمخه حفيظ‌الله امين د حکومت او انقلابي شورا سروال، دګوند د مرکزي کميټې عمومي منشي و، چې يې په خپله يا د خپلو لوړ پوړو ملګرو په مشوره له شوروي اتحاد نه د پوځ غوښتنه کولی شوه. بل چا نه دغه صلاحيت او نه دغه توان لاره. دا چې کارمل وروسته وويل د افغانستان انقلابي شورا دغه غوښتنه کړې وه، يوه پوچه ادعا ده. دی په خپله لا په دغه وخت کې په افغانستان کې نه و. دی او ملګري يې دېر دمخه د تره‌کي د حکومت له خوا چې شوروي اتحاد په رسميت پېژندلی و، د افغانستان له تابعيت نه هم

محروم شوی و. بله اساسي خبره دا ده چې پر افغانستان باندې له دباندې نه تېری نه و شوی او امین ته د ایوانوف راپور چې پاکستان پر افغانستان باندې یرغل کوي تېرایستونکی او بې بنسټ و. دا په خپله شوروي اتحاد و چې پر افغانستان باندې یې وسله و ال تېری وکړ، نه پاکستان. البته لکه چې دمخه مې بیان کړل، حکومت وسله وال مخالفان لرل خو هغوی افغانان او په ځینو سردرو کې خواره وو او د حکومت د نسکورولو توان یې نه لاره. واقعیت دا دی چې د امین په واکمنۍ کې د هېواد وضع مخ پر ښه کېدو وه. په خپله بریژنیف هم د اکتوبر په څلورمه په برلین کې د ختیځ جرمني سروال هونیکر ته ویلي وو، چې په هېواد [افغانستان] کې وضع ښه شوې د ه.»(۹۵)

د شوروي حکومت پورتنۍ څرګندونه د شوروي لویانو د هغو ویناوو په مخالفت هم ده، چې دوی نهه میاشتې دمخه د هرات د لوی پاڅون په وخت کې کړې وې او ما هغه په اوږده ډول په خپل د ثور کودتا نومي اثر کې بیان کړې دي. د هغو د خاص اهمیت له کبله به دلته یو څو خاص ټکي یې بیا وویل شي. لومړی به وویل شي چې د یرغل په و خت کې بریژنیف که څه هم د شوروي د نظام سر مشر و، د سیاست لوری اندروپوف ټاکه. هغه د همدغه کال (۱۹۷۹) د مارچ په اتلسمه افغانستان ته د پوځ استولو غوښتنه، چې تره‌کي له دوی نه کړې وه، په دغو الفاظو منلې نه وه: «مونږ ټولو ته پوره څرګنده ده چې افغانستان په دغه وخت کې تبار نه دی چې خپلې ټولې هغه کشالې چې ورسره مخامخ دی په سوشلزم سره هوارې کړي. اقتصاد بیرته باتې دی. د اسلام دین غلبه لري او د اطراف نزدې ټول خلک لیک او لوست کولی نه شي. مونږ په انقلابي حال کې د لینن په تعلیماتو پوه یو. په افغانستان کې چې له هر ډول وضع نه خبرې وکړو، هغه له دغه ډول څخه نه دی نو زما په عقیده مونږ په افغانستان کې انقلاب [انقلاب ضد] یوازې پر

خپلو نېزو سره ځپلی شو او دا زمونږ لپاره د منلو وړ نه ده. مونږ دغسې خطر منلی نه شو.» اندروپوف په بلې غونډې کې خپل مخالفت لا په غوڅو عبارتونو وښود: «زمونږ د پوځ استولو مانا به دا وي چې مونږ د [افغان] خلکو پر ضد وجنګېږو، چې خلک ټوټه ټوټه کړو؛ چې پر خلکو ډزې وکړو. مونږ به د تېري کوونکو په شان ښکاره شو، او مونږ اجازه نه ورکوو چې دغسې وشي.»[۹۶]

ګرومیکو چې د عادت له مخې د شوروي اتحاد د لوړ ځواکمن لار نیوله، له اندروپوف نه هم دمخه ولاړ او د پوځ د استولو ناوړې اغیزې یې په دې ډول بیان کړې. «زه د ملګري اندروپوف له وړاندیز نه پوره ملاتړ کوم چې هغه په افغانستان کې زمونږ د پوځ د ځای پر ځای کولو له موضوع سره مخالفت دی. د هغه ځای پوځ د اعتماد وړ نه د ی. نو چې زمونږ پوځ په افغانستان کې ننوځي تېري کوونکی به وی. د چا بر ضد به و جنګېږي؟ تر هر څه لومړی د افغان خلکو پر ضد، او مجبور به وي چې پرې ډزې وکړي. ملګري اندروپوف په صحیح ډول یاده کړه چې په افغانستان کې وضع په واقعیت کې د انقلاب لپاره اماده نه وه او ټول هغه څه چې مونږ د دېتانت، د وسلو د کمښت، او د ډېرو نورو په اړه په دغومره مودې کې کړې هغه ټول به بېرته ودرېږي. البته چین ته به یو سوغات وړاندې شوی وي. ټول ناپیلي هېوادونه به زمونږ په وړاندې ودرېږي. په بله ژبه د دغه عمل پایلې به ډېرې ناوړې وي. له کارتر سره د لیویندایلیچ [بریژنیف] لیدل به ونه شي؛ د مارچ په پای کې د [فرانسې ولسمشر] جسکارد دیستانګ راتګ به په شک کې شي. که وپوښتل شي چې زمونږ ګټه به څه وی؟ افغانستان له اوسني حکومت، له بېرته پاتې اقتصاد، په بین المللي چارو کې له بې اهمیته وزن سره، له بلې خوا مونږ باید په نظر کې ولرو چې له حقوقي نظر نه به مونږ دلیل و نه لرو، چې

پوځ واستوو. د ملګرو ملتونو د منشور له مخې يو هېواد له بل نه مرستې غوښتلی شي، خو هغه په هغه حال کې چې له دباندې نه پرې تېری شوی وي. پر افغانستان باندې هيڅ تېری نه دی شوی. دا د هغه خپله چاره ده، يوه انقلابي دننۍ چاره د خلکو د يوې ډلې جنګ له بلې سره. دا هم بايد وويل شي چې افغانستان د پوځ استولو په اړه مونږ ته په رسمي ډول مراجعه نه ده کړي.»(۹۷) کوسيګين لا د پوځ استولو سره له مخالفت نه سربېره دا هم وويل چې «که مونږ د دوی لپاره هر څه وکړو د دوی لپاره څه پاتې کيږي؟ هيڅ نه» برېژنيف د د وی ټولو د نظرونو په تاييد وويل چې «زما په نظر پولټبورو په سمه توګه وټاکله چې زمونږ لپاره د دې وخت نه دی چې په جنګ کې ښکېل شو.»(۹۸)

شوروي لويان ولې له خپلو دغو سالمو او معقولو نظريو نه تېر شول او په افغانستان کې يې د تېري خطرناکه لار ونيوله، په د اسې حال کې چې په دغو نهو مياشتو کې په افغانستان کې کوم بنيادي تغيير پېښ شوی نه و؟ يوازنی مهم تغيير چې پېښ شوی و، په سياسي ډګر کې و چې د هغه په نتيجه کې حفيظ‌الله امين د ګوند او حکومت سروال شوی او هغه په دې پيل کړی و چې پر خپلواک افغانستان کې پر خپلواک ډول حکومت وکړي. د پورته پوښتنې ځواب به دا وي چې دوی د امين سروالي نه غوښتله او غوښتل يې چې د شوروي شوي کارمل او شوروي شويو خلقيانو له لارې افغانستان د بخارا په شان د خپلې امپراتورۍ يوه برخه وګرځوي او د هغه له ډېرو شتمنيو نه استفاده وکړي او په هغو سره خپل ځای پر ځای دربدلی اقتصاد په حرکت راولي.

د شوروي لويانو د ويناوو په اړه بل اساسي ټکی دا دی چې که افغانستان د «سوشلزم» او «انقلاب» لپاره اماده نه و، بيا نو هلته د برېژنيف او

انـدروپوف نظرونـه تطبیـق کېـدلی نـه شـول. بیـا نـو دوی ولـی افغانسـتان پـه سوشلستي کامب کې نیولی و؟ شوروي لویان لکه چې په مخکې پـاڼو کـې یـې بیان شوی، اندېښمن شول چې امین به د انډولیز سیاست په غـوره کولـو سـره د لویدیځ په لور واوړي، امریکا به چې د خمیني پـه راتـګ سـره پـه ایـران کـې خپل الکترانیکي استخباراتي تاسیسات له لاسه ورکړي د افغانستان پـه شـمال کې به دغسې تاسیسات او نور امتیازاونه ولـري چې پـه هغـو سـره د شـوروي اتحاد د منځنۍ اسیا جمهوریتونـه تـر خطـر لانـدې شـي او د دې لپـاره چـې د دغه خطر مخه ونیوله شي، افغانستان تـه پـوځ واسـتول شـو. خـو ګرومیکـو د افغانستان د باندنیو چارو وزیر شامحمد دوست ته دغسې هدایت ورکـړی و، چـې د دغـو وینـاوو د روحیـې پـرخلاف و. هغـه تـه یـې ویلـي وو چـې «د افغانستان د مشرۍ تغیر یوازې د افغانستان دننۍ پېښه وه» او «یو څـوک بایـد وواېي چې دلته کوم ارتباط نه شته، دا یوازې تصادف و.»(۹۹)

شوروي لویان له پاکستان سره د امین له هغو کوښښونو نه هم پـه اندېښـنه کې وو، چې غوښتل یې د دواړو هېوادونو تـرمنځ اړیکـې ښـې شـي. پـه دغـې هیلې چې پاکسـتان د ده د حکومـت پـه وړانـدې د مخالفـانو د فعالیـت مخـه ونیسي او په افغانستان کې کراري خوندي شي. شوروي لویـان پـه واقـع کـې د اکتوبر له ۶مې نېټې نه وروسته د امین پـه اړه پـه ډېرېـدونکې درجـه اندېښـمن کېدل، چې له شورویانو نه یې وغوښتل خپل سفیر پوزانوف لـه افغانسـتان نـه وباسي. په اصـل کـې دوی لـه دېنـه اندېښـنه لرلـه، چـې هغـه پـه خپـل دننـي او باندني سیاست کې بدلون راوسته. خو، هسې چې په تېرو پاڼو کې ویل شوي، هغه په وار وار شوروي چارواکو تـه ډاډ ورکـاووه چـې دی لـه شـوروي اتحـاد سره په دوستۍ کـې ولاړ دی، او افغانسـتان د دوی مرسـتو تـه اړ دی. پـه دغـه حال کې د شوروي لویانو اندېښنې د هغو د خپلو ذهنونو محصـول د ی، نـه د

امـین او نـه د هغـه د حکومـت د سیاسـت او عمـل نتیجـه. پـه بلـه ژبـه پـر افغانستان باندې د هغو وسله وال تېرى د هغو د خپـل فکـر لـه مخـې وشـو او خارجي مصداق يې نـه لاره. د دې مانـا دا کېږي چـې د يـوه هېـواد لويـان بـه مجاز وي چې د خپل ګاوندي هېواد خپلواکي نقض کړي، پـه دې نامـه چـې د هغه مشران ممکن دغسې عمل وکړي چې د هغه هېواد امنيـت پـه خطـر کـې کړي، په دغسې حال کې به نړۍ تل د تېري او دفاع او د کـړکېچ او بـې ثبـاتۍ ډګر وي.

ګيـورکي کـورني ينکـو د بانـدنيو چـارو وزيـر لـومړى مرسـتيال د شـوروي يرغـل د يـوې بلـې موضـوع سـره هـم تړلـى ګڼـي او هغـه دا چـې «.... داسـې ښکاري چې تر هغـه وختـه چـې د دې پرېکـړه وشـوه چـې افغانسـتان تـه پـوځ واستول شي. د شوروي اتحـاد او امريکـې او نـاټو او د نـورو هېوادونـو تـرمنځ اړيکې ستونزمنې شوې وې. په ځانګړې توګه د سالټ-۲ تـړون چـې د ۱۹۷۹ په جون کې کارتر او برېژنيف لاسليک کړى و، په امريکـې کـې پـه واقـع کـې د هغه د مخالفانو له امله په ناکامۍ محکوم و، وروسته افغانسـتان ورتـه خاتمـه ورکـړه. دا کـوم تصـادف نـه و، چـې وروسـتنۍ فيصـله د ۱۹۷۹ د ډسـمبر پـه دوولسم مابښام هغه وخت وشوه چې مسکو خبر شو چې د نـاټو شـورا پرېکـړه کړې چې په اروپا کې به د امريکې د منځني واټن ويشتونکي راکټونه ځـاى پـر ځاى شي. پـه بـل عبـارت د شـوروي لويـانو پـه فکـر هغـه دليلونـه چـې پخـوا افغانستان ته د شوروي پوځ په استولو سره پر لويديځ باندې د منفي اغيزو لـه امله مهم ښکاره کېدل، سمدلاسه له اعتبار نـه وغورځېـدل، دغـه اړيکـې پخـوا خرابې شوې وې بيا نو څه نـه وو پـاتې چـې لـه لاسـه ووځـي.»[۱۰۰] سـالټ د سـتراتيجيکي وسـلو محـدوديت تـړون تـه وايـي، لکـه نـاټو چـې د شـمالي اتلانتيک د تړون موسسې له اولو تورو نه جوړ نوم دى.

د هرات د پاڅون په وخت کې د سالټ په اړه خبرو ته ټينګه هيله کېدله، چې په هغو سره به د شوروي اتحاد او امريکې ترمنځ اړيکې ښې شي او سوړ جنګ به چې له دوهم نړۍ وال جنګ نه وروسته پيل شوی و، پای ته ورسيږي. ګروميکو هغه وخت افغانستان ته د پوځ له استولو سره مخالفت وکړ، خو اوس چې د سالټ-۲ تړون د امريکې د سنا مجلس د مخالفت له امله نه منل کېده او په اروپا کې د توما هاک او پرشنګ ډوله راکټونو د ځای پر ځای کېدلو فيصله شوې وه، ګروميکو هم د يرغل ملاتړ وکړ. ناټو په کال ۱۹۴۹ کې د امريکې په نوښت او ګډون د لويديځې اروپا له هېوادونو نه د شوروي اتحاد د احتمالي يرغل په وړاندې د د فاع لپاره جوړ شوی و، او سالټ چې له ۱۹۷۲ نه وروسته د امريکې او شوروي اتحاد سره مشرانو ترمنځ د خبرو موضوع وه او دغه خبرې په وقفو سره کېدلې، د نړۍ وضع د ديتانت يا د کړکيچ کمولو په لور روانه کړې وه او په دې ډول هغه له دونم نړۍ وال جنګ نه وروسته د ساړه جنګ د پای ته رسولو لپاره يو ډېر مهم ګام شمېرل کېده.(۱۰۱)

د حيرانۍ ځای دی چې د ناټو د پرېکړې په وړاندې د شوروي لويانو ځواب پر افغانستان باندې د د وی وسله وال يرغل شو، په داسې حال کې چې د دغه يرغل او د ناټو د فيصلې ترمنځ تړاو نه و. سره له دې هم هغه لکه چې د مخه ويل شوي، د شوروي امپراتورۍ د لا پراخېدلو لپاره يوه پلمه شوه، خو د يرغل اصلي موخه يې نه ښووله.

د يرغل رسمي موخه، هسې چې دمخه يې په خواره ډول ذکر شوی دی، د شوروي اتحاد له سهيل نه ډاډمن کېدل، د افغانستان له لارې شوروي اتحاد ته د امريکې د خطر شنډول، د «ثور انقلاب» د لاس ته راوړنو خوندي کول، د امين د «انډوليز چلند» مخه نيول او په افغانستان کې د شوروي دوست

حکومت له واکمن کېدلو سره مرسته کول بنوول شوي دي، خو دا ټول هسې پلمې دي او د شوروي اتحاد د يرغل اصلي موخه بل څه وه.

لکه څنګه چې په تېرو پاڼو کې ويل شوي، شوروي لويانو د خپل يرغل د حقانيت لپاره ډېر دليلونه وړاندې کړي، خو د خپلې اصلي موخې په اړه يې څه نه دي ويلي. دا خو واضحه ده چې دوی امين او د هغه حکومت نسکور کړ. د دې لپاره چې هغه انډوليز سياست پرمخ بېوه او غوښتل يې افغانستان پر خپلواک ډول اداره کړي. شورويانو د هغه پر ځای شوروي شوی کارمل او شوروي شوي خلقيان په واک ورسول، چې هغوی د ځوانو بخارايانو په شان افغانستان د دوی د امپراتورۍ يوه برخه وګرځوي او دوی بيا د افغانستان له شتمنيو نه استفاده وکړي چې په هغو سره خپل ځای پر ځای درېدلی اقتصاد په حرکت راولي خو دوی پر خپلو اعلاميو کې په دې اړه څه نه دي ويلي او د هغه پر خلاف يې لا ويلي چې پر افغانستان باندې عمومي حمله راتلونکې وه چې هغې «د يوه خپلواک او واکمن دولت په توګه د افغانستان د دموکراتيک جمهوريت شته والی په خطر کې کړی و.» نو د تاس د استازي په نظر د شوروي اتحاد مرستې ته اړينه وه «د دې لپاره چې دموکراتيک افغانستان خپلې لاس ته راوړنې له لاسه ورنکړي.» بيا نو د تاس په څرګندونو او په شوروي عامه رسنيو کې ويل کېده چې څنګه چې د افغانستان دموکراتيک جمهوريت د ځانکندن په حال کې و «شوروي اتحاد حق لاره چې يقيني کړي چې افغانستان به د هغه د ګټو مخالف نه شي.»(۱۰۲) د د غه نظر يقيني کولو لپاره دوی د کارمل په سروالۍ حکومت يوه مؤثره وسيله ګڼله. په دې چې د دوی په فکر هم د پرچم ګوندکی تر خلقي ګوندکي نه پياوړی او هم په خپله کارمل تر امين نه اعتدالي و. دوی په دغه خام فکر وو چې د ثور د کودتا په و خت کې «.... په پوځ کې پرچم غړي پينځه سوه او ملاتړان يې ۱۲۰۰ تنه او

خلقیان ۴۷۰ تنه او ملاتړان یې ۱۱۰۰ تنه وو.»[۱۰۳] دوی دا په نظر کې نه نیوله چې که واقعیت دا وای پرچمیانو به د ثور په کودتا کې غټه ونډه لرلای او وروسته به خلقي حکومت نه شو کولای، چې لویان یې له وطن نه وباسي او صفوف یې دننه په وطن کې وځپي. البته دوی به د خپل یرغل په وخت کې په دې فکر وو چې دا د یرغل لپاره ښه وخت و، ځکه چې حکومت تر دغه و خته د «سوشلزم»، «انقلاب»، «پرمختیا»، «خواري کښانو په ګټه او له فردي استثمار نه د فارغې ټولنې د جوړولو په مقصد خپل مخالفان د «انقلاب ضد»، «اخوان الشیاطین»، «مرتجعو»، «تنګ نظره ناسیونلستانو» او د «کینهو افراطیانو»، «فیوډالانو» او «روحانیانو» په نامه ځپلي وی.

بله دا چې په دغه وخت کې یو څو تنه زرغوني او ترهکي خلقیان هم د شوروي اتحاد په خدمت کې ننوتلي او د امین مرګکي مخالف شوي وو. په دغه حال کې شوروي لویانو داسې ګڼله چې د امین په لیرې کولو سره به د وی او کارمل د هغه ځای ونیسي او افغانستان به د ختیځې اروپا هېوادونو په شان د شوروي لویانو تابع هېواد شي.

دا به ساده‌ګي وي چې فکر وشي اندروپوفیانو د یرغل ستونزې په نظر کې نه وې نیولې. دوی به د یرغل او له هغه وروسته ستونزې او لګښتونه هم په نظر کې نیولي وي. که څه هم یرغل یې په لومړۍ مرحله کې په مهارت سره سرته ورسوه. دوی به هغه د دې لپاره منلې وي چې بیا به د لاس لاندې رجیم له لارې د افغانستان له طبیعي زېرمو او شتمنیو نه پوره استفاده وکړي چې هغه دوی ته مالومې وې، ځکه چې متخصصانو او مسلکي کسانو یې په افغانستان کې کلونه کلونه سروې ګانې کړې وې. په لنډ او مشخص ډول چې د افغانستان د حاجي ګک وسپنه یې د کمیت او کیفیت په لحاظ په ټوله نړۍ کې دوهم یا دریېمه درجه ده؛ چې د لوګر د عینکو مس کان یې ډېر لوی او

قیمتي ډېرې یې هم ډېرې او ډول ډول دي. پر هغه سربېره د کرنې ظرفیت یې هم دغومره ډېر د ی، چې غله یې هم خپلو خلکو ته بس کېدلی او هم باندنیو ملکونو ته صادرېدلی شي؛ چې د غلې او داسې هم د بریښنا د تولید لپاره به د لویو سینونو تر څنګه چې افغانستان یې ډېر لري، بندونه جوړ شي. شوروي لویانو به دغه واقعیت ارومرو په نظر کې نیولی و، ځکه چې د دوی زراعتي محصولات د دوی د خلکو لپاره بس نه وه او دوی غله د الماس او طلا په خرڅولو سره له پانګه والي هېوادونو څخه واردوله. اوس خو د افغانستان دغومره ډېر نور معدنونه راکشف شوي، چې ویل کېږي د ټولو ظرفیت د درې تریلیون ډالر قیمت په شاوخوا کې دی او سترمان او وستاد، د ک. ج. ب په افغانستان کې اثر پیلامه لیکونکی لا وایي چې د شوروي «سیستم چلوونکي مجبور وو، چې مسو ته چې منابع یې [په شوروي اتحاد کې] مخ پر خلاصېدو وو په **ضاعت** کې ضرورت په نظر کې ونیسي.» دوی هم وایي چې «افغانستان د دغه معدن او غاز او نورو معدنیاتو ډېرې ذخیرې لري.»(۱۰۴)

په پای کې ویل کېدلی شي چې د افغانستان له لاندې کولو نه د شوروي لویانو اصلي موخه د افغانستان د ډېرو طبیعي زېرمو او شتمنیو نه استفاده کول وو، چې په هغه سره خپل ضعیف اقتصاد پیاوړی او خپل مړ ژواندی کمونزم ژوندی کړي.

# حفیظ الله امین

امین چې په کال ۱۹۲۹ کې په پغمان کې زیږېدلی و، د حبیب الله زوی، د سید احمد لمسی او د شرف الدین کړوسی و. پلار یې د پولیسو مامور و؛ د پنځوسو کلونو و، چې شورویانو یې ژوند لنډ کړ. په معاصر افغانستان کې امین له تره‌کي نه وروسته دوهم غیر دراني پښتون و، چې د خپل شخصي زیار او د نظامي کودتا په نتیجه کې د حکومت، دولت او ګوند سروال شو. امین د غلزي لوی قوم ته منسوب خروټی او له روغ ځان او پیاوړي یاد څخه بهره من و. دی د کابل پوهنتون د ساینس پوهنځي لیسانس او د امریکې د کولمبیا پوهنتون ماسټر و، د ډاکټرۍ شهادتنامې ترلاسه کولو لپاره یې زده کړه د تیسس لیکلو تر سرحده پورې رسولې وه، چې د کابل پوهنتون سروال، ډاکټر صمد حامد دهغه سکالرشپ قطع کړ. امین بیا وغوښتل په انګلستان کې د ډاکټرۍ شهادتنامې لپاره کار وکړي، په دې اړه په لندن کې ما په تلیفون کې ادرسونه ورته ورکړل. خو هغه هلته ونه منل شو او وطن ته ستون شو او خپل تدریس یې په ابن سینا ښوونځي کې له سره ونیو.

د ډاکټرۍ شهادتنامې نه د بې برخې کېدلو له امله به و چې امین په افغانستان کې د نظام پرضد د سیاست په ډګر کې ننوت، او د افغانستان خلق دموکراتیک ګوند عمومي منشي نورمحمد تره‌کي نه یې د ګوند د غړیتوب غوښتنه وکړه. دغه ګوند په کال ۱۹۶۵ کې جوړ شوی و، خو د ګوند ځینو غړو- سلطان علي کشتمند، ببرک کارمل، طاهر بدخشي او غلام دستګیر پنجشیري په ګوند کې د هغه له غړیتوب سره مخالفت وکړ. امین سره له دې

هـم پـه ګونـد کـې اول ازمېښـتي او بیـا پـوره غـړی شـو او د مرکـزي کمېټـې غړیتوب ته هم جګ شو. په عین حـال کې دی یـو ځـل د پغمـان د خلکـو لـه خوا په ولسي جرګه کې د غړي په توګه هم غوره شو.

د خیال محمد کټوازي په وینا چې د امـین نـزدې همکـار و، دی «د غربـي دموکراسۍ سره ډېر بلد و او .... د کمونستي ایډیالوجۍ سره یې ډېـره اشـنایي نه درلوده». له همدې امله به هم و، چې شـورویان لـه اول نـه پـرې شـکمن او وروسته ورسره مخالف شول. ک. ج. ب والو او کارملیانو او داسې هم نـورو مخالفانو د هغه پر ضد دغومره ډېر پروپاګندونه کړي چې پـه اړه یـې ذهنونـه ګډوډ کړي دي. دوی ټولو هغه سـخت «نیشنلسـت» او حتـی «فاشسـت» هـم ښوولی، خو هیڅ چا د هغه «نیشنلزم» مشخص کړی نه د ی، پـه داسـې حـال کې چې نشنلزم، د مارکسزم، کمونزم، سوشلزم او لبرالزم په شان ناڅرګنـد دی او هر چا ته بېل مفهوم لري.

د امین د نیشنلزم یوه نښه دا ده چې دی هم د محمد داؤد په شان د هېـواد پر خپلواکۍ ټینګ ولاړ و. د واکمنۍ په وخت کې یـې د کابـل پوهنتـون یـوې ډلې استادانو چې یې د لیدلو لپاره غوښتی و، ویلي وو چې «تاسې استادان بـه له مونږ سره یئ، یا نه یې خو تر هغو چې زه ژوندی یم هیڅ باندني ځواک ته به اجازه ورنکړم چې زمونږ هېواد لاندې کړي». دغه عقیده او د هغې له مخې عمل و چې له شورویانو سره د هغه د ټکر او په پای کې د هغـه د مـرګ لامـل شو.

د امین د نیشنلزم بله نښه دا وه چې هغه پـر پښتونسـتان ولاړ و او لـه لـوی افغانستان څخه غږېده. دا هم د امین نیشـنلزم و، چـې د حکومـت لـوړ پـوړي چارواکي یې د وطن له بېلو قومونو څخه و، نه له یوه قوم نه. په دې ډول چـې حکومـت یـې د ډاکټـر شـاه ولـي، منصـور هاشـمي، سـالم مسـعودي، صـدیق

عالميار، عبدالحکيم جوزجاني او عبدالکريم ميثاق او څو پښتنو ملګرو په همکارۍ چلوه، او له خپلو پښتنو ملګرو- نور محمد تره‌کي، اسلم و طنجار، سيد محمد ګلابزوی او شيرجان مزدوريار سره يې د مرګ تر سر حده ورانه شوه. دغه دښمني په اصل کې د واک پر سر وه، نه د واک ګټلو په وخت کې، چې هغه وخت دوی سره خواږه ياران وو. د افغانستان په سياسي تاريخ کې دغسې مثالونه لږ نه دي چې واک لېوالو خپل حريفان او حتی خپل نژدې خپلوان ځپلي او د هغو په ځپلو سره واک ته رسېدلي دي. دغه ميلان شايد په پښتنو کې د نورو قومونو د سر کسانو په تناسب ډېر پياوړی وي، په دې چې په دوی کې هم د تربورۍ او هم ګونديمارۍ احساس ډېر پياوړی دی او هم د هېواد لوړ واک تر دې نژدې وختو پورې له دوی سره و، دغه حال د امين په هکله هم صدق کاووه. د کټوازي په وينا «امين يو ملي، پر ځان ډاډمن، قدرت غوښتونکی و». دغه ميلان نږدې هر څوک لري خو امين دغسې کس و، چې بيا هم د کټوازي په وينا چې «د قدرت او دولتي واکمنۍ غوښتلو په لار کې که هر چا د نوموړي په مخ کې خنډ کاووه، په هغه يې زړه سوی نه کاووه.» غير له هغه هم په خلقي کودتايي نظام کې د اساسي قانون په نشته والي سره چارواکو ته د زورواکي لار خلاصه وه.

امين په اصل کې د ډاکترۍ شهادتنامې له محرومېدلو نه وروسته د واک ګټلو په مقصد په خلقي ګوند کې ننوت که څه هم هغه په ماهيت کې کمونستي و. خو د کټوازي په وينا «امين د کمونستي ايډيالوجۍ سره له امريکا څخه نه و راغلی، بلکې په افغانستان کې د ډېرې وروسته پاتې طبقاتي ټولنې د شرايطو پر بنسټ د خلک دموکراتيک ګوند شعارونه د واک د ترلاسه کولو لپاره يوه اسانه لار ورته ښکارېده.» دی د واک ګټلو په لار کې بريالی شو. د ثور کودتا د ده په نوښت او قومندانۍ ترسره شوې او ګوند ته د قدرت

په انتقال کې د ده رول تر هر بل ګوندي څخه ډېر و او دا دی و چې ګوند يې په عمل کې واکمن کړ.

د امين فاميلي ژوند هم د کټوازي حکم، ته چې دی کمونست نه و، اعتبار ورکوي. د امين وراره ميرويس په وينا يوه ورځ په کور کې اولادونو يې ترينه وغوښتل چې د زده کړې لپاره يې شوروي اتحاد ته واستوي، خو هغه ورته کړه چې «تحصيل دلته په افغانستان کې تر شوروي اتحاد څخه ښه دی.» ميرويس چې هغه وخت د دوولس کلونو په شاوخوا کې و، د خپل دغه تره په کور کې اوسېده. دوی ټولو هغه ته شېرآغا ويلې. دی دا هم وايي چې د تره کورنۍ غړي يې له روسي ژبې سره نا اشنا وو، په داسې حال کې چې هغه وخت د دغې ژبې زده کړه د ګوندي غړو په پاسنيو کړيو کې رواج لاره. دی دا هم وايي چې د تره په کور کې يې د هيڅ شوروي مشر تصوير يا عکس نه و، هلته يوازې د مير اکبر خيبر وړه مجسمه ليدل کېده. ميرويس هم د زلمي خروټي په شان وايي چې په پخلنځي کې د پاچا ظاهر د وختو اشپزانو پخلی کاووه، نه روسانو.[١٠٧]

امين په خپل لنډ سياسي طوفاني ژوند کې پر خپلو ټولو داخلي او خارجي مخالفانو غالب شو، په يوه حساب دی د شوروي اتحاد ک. ج. ب باندې هم غالب شو. امين شايد په نړۍ کې لومړنی کس وي چې د ځان په اړه يې د دغې انسان وژونکي ايجنسۍ توطيې شنډې کړي. لکه چې د اګسا د سروال اسدالله سروري دسيسې يې هم شنډې کړې. اندروپوفيان بيا په نظامي قدرت پرې غالب شول، خو هغو په خپل دغه عمل سره هم خپل ځانونه او هم شوروي اتحاد تر دې حده بې اعتبار او ناتوان کړل، چې د امين ناکامي په پای کې د دوی ناکامي هم شوه.

د دولت، حکومت او ګوند د سروال په توګه د امين تېروتنې هم وړې نه

وې، چې د تره‌کي له مینځه وړل او د هغه د خوریي زلمي خروتي په وینا په رسمي دفتر کې یې د شوروي اتحاد سفیر پوزانوف په څېړه وهل ډېرې غټې او خطرناکې وې، خو اقبال وزیري دغه وروستی روایت ردوي. په هر حال، په لومړنۍ پېښې سره د ریشخور په فرقه کې بغاوت وشو او په ګونډ کې درز راغی او په دې بلې سره شوروي لویان تر دې حده وپارېدل چې پر افغانستان باندې یې وسله وال تېري ته لاس واچوه. د امین بله تېروتنه دا وه، چې د وروستۍ پېښو پایلې یې په نظر کې ونه نیولې او د شوروي لویانو وروستی ناولی سیاست درک کولی ونه شو.

د امین په بریو او سختو شېبو کې د هغه مېرمن، پتمنۍ چې ترله یې وه غټ رول لرلی د ی، د هغې لومړی غټ رول د ثور د کودتا په وخت کې و چې د پولیسو له خوا د دوی د کور لټولو په وخت کې یې د امین نظامي سندونه په ډېر مهارت سره پټ کړل. وروسته د شورويانو د یرغل په حساسو شېبو کې د بېهوښه شوي امین لپاره له روغتون څخه ډاکټر وغوښت چې د هغه په درملنې سره امین په حال شو. د مېرمن امین پیاوړی شخصیت له دېنه هم مالومېږي چې په داسې وخت کې چې لونې، زامن او مېړه یې د مرګ په پنجو کې ګېر وو، هغې په سړه سینه او رانه فکر چاره لټوله. ارواښاده مېرمن هاجره زېری د دغو شېبو او د څرخي پله بندي خانې مېرمن امین په اړه وایي چې هغه «ډېره سنګینه ښځه وه، په دغه دونه حال کې چې پر راغلی و، دې بې صبري ونه کړه؛ هر څه یې په خپل زړه تېرول. په دغه ګرده بندي خانې په بد حال کې د دې په تروه تندي نه یم پوهېدلې او تر خولې یې چاته یوه بېځایه خبره نه وه وتلې.»(۱۰۸)

د امین ناکامي د تره‌کي د ناکامۍ په شان غټه وه، دی هم د واک ساتلو او د حکومت په کولو کې پاتې راغی. دا لکه چې قانون وي چې هغو ته چې په

کودتا سره یې واک ترلاسه کړی وي، د واک ساتل د هغه د ترلاسه کولو نه ورته ګران دي. په هر حال د ثور په کودتا او د دوی دواړو په ناکامۍ سره افغانستان او افغانان په ژور ډول زیانمن شول. د دغو ناکامیو درس به دا وي چې د دولتي واک خاوند افغانستان زده کړي چې خپل سیاسي مخالفان څنګه وزغمي او لا ښه دا چې په واک کې یې شریک کړي.

دوهم څپرکی

# د شوروي اتحاد
# د تېري په وړاندې غبرګونونه

پـر افغانسـتان بانـدې د شـوروي اتحـاد وسـله وال تېـري نـه يـوازې پـه افغانستان کې انګازې وکړې، په نړۍ کې يې هم وکړې. شـوروي اتحـاد پـر دغسـې هېـواد تېـری وکـړ چـې دولتـي نظـام يـې ورسـره پـوره متفـاوت، او کولتوري ارزښتونه يې ورسـره پـوره متضـاد وو. اساسـي تضـاد دا و چـې پـه شوروي اتحاد کې د اسلام دين ځپل کېده، او په افغانستان کې اسلام لمانځل کېده. په سياسي ډګـر کـې هـم دوی پـر بېلـو لارو روان وو. شـوروي اتحـاد د نړۍ د سوشلستي کامپ سروال او افغانستان د ناپيیلو هېوادونو موسس غـړی و. پر هغه سربېره شوروي اتحاد د لومړي ځل لپاره له خپل کامپ نه د بانـدې پر يوه ناپييلي هېواد باندې وسله وال تېری وکـړ، هغـه هـم بـې د کـوم قـانوني دليل نه او بې له دې چې د هغه له خوا د هغه امنيت تـه ګـواښ شـوی وي. دا په داسې حال کې چې د دوی لويانو تر خپل يرغل پورې لـه افغانسـتان سـره د دوستۍ او ښه ګاونډيتوب نارې وهلې، او د هغـه سـروال حفيظ‌اللـه امـين تـه يې د ډول ډول مرستو وعدې ورکولې. خو شوروي اتحاد چې د ډېر لوی پوځ او پراخې امپراتورۍ په لرلو سره له امريکا نه وروسته د نړۍ دوهـم ربرځـواک و، افغانستان يې تر خپل نفـوذ لانـدې هېـواد ګڼـه. شـوروي اتحـاد تـر يرغـل

دمخه د درويشت کلونو په بهير کې د افغانستان په پرمختيايي پر وجو کې د کريډټونو په بڼه پولي او تخنيکي مرستې کړې وې، او د افغانستان خلک دموکراتيک ګوند د هغه ټينګ پلوی و، خو څنګه چې شوروي اتحاد د افغانانو پر و طن تېری کړی و، د د وی غوڅ اکثريت د يرغل په وړاندې جګ شو، او له خپل وطن، خپلواکۍ، ننګ ناموس او دين نه يې د غسې ټينګه دفاع وکړه چې هم يې شوروي لويان او هم د نړۍ شکاکان حيران کړل. شوروي چارواکو فکر کاووه چې په افغانستان کې به يوازې د دوی د پوځ شته والی د ارامۍ يقيني کولو لپاره تضمين وي. خو افغانان د خپلواکۍ په موضوع کې د ډار خلک نه وو. دوی په ټولې هغې مودې کې چې شوروي پوځ په افغانستان کې و، ورسره په ټينګه وجنګېدل. دغه تېری او دغه دفاع د نړۍ غټه موضوع شوه. له همدې امله وه چې شوروي اتحاد له يرغل نه وروسته په پراخې پروپاګندې لاس پورې کړ چې خپل تېری په حقه وښيي. خو څنګه چې دغه يرغل په اصل کې د نولسمې پېړۍ د اروپايي هېوادونو د يرغلونو په شان امپيريلستي و، پروپاګندونو يې اثر ونه کړ، او د هغو پر خلاف د نړۍ ډېرو حکومتونو او ولسونو له افغانانو سره خواخوږي وښووله او د پيسو او وسلو په ګڼون يې ډېرې مرستې ورسره وکړې.

# د يرغل په اړه د شورويانو نظرونه

شوروي اتحاد خپل ګوندي کدرونو، د خپل سوشلستي کامپ حکومتونو او هم د سوشلستي هېوادونو ۴۶ کمونستي او کارګري ګوندونو ته د خپلو سفيرانو او ايجنټانو او خپرونو له لارې رسوله چې د افغانستان دموکراتيک جمهوريت، چې د شوروي اتحاد ملګری و، د باندنيو وسله والو بانډونو له خوا تر خطر لاندې شوې او غوښتل يې چې نه يوازې د اپرېل انقلاب لاس ته راوړنې له مينځه يوسي، د افغانستان دموکراتيک حکومت هم نسکور کړي او هلته د امپيريلزم تر لاس لاندې حکومت په واک کړي، او په دې ډول زمونږ د سوشلستي هېواد امنيت هم له خطر سره مخ کړي. حفيظالله امين هم چې د انقلاب مشر نور محمد تره‌کي يې له مينځه وړی، او «په سل ګونو انقلابيان» چې د ثور د انقلاب په پلي کولو کې يې د دکتاتور پاچا ظاهر په وړاندې مبارزې کړې وې، ځپلي او په دې برخه کې يې له باندنيو سره لاس يو کړ. امين که څه هم انقلابي او له شوروي اتحاد سره د دوستۍ نارې کولې، د يوه واړه بانډ په ملګرتوب په واقعيت کې افغانستان د لويديځ په لور بېوه. د شوروي حکومت په خپله وينا «باندنيو ارتجاعي قوتونو له دغه حال نه ګټه پورته کوله. دوی د وسله والو ډلو استول او د بېلو بېلو نظامي واحدونو انتقال چټک کړی وو. دوی ټولو هغه څه کول چې د افغانستان پخواني مرتجع رجيم بېرته په واک کړي، او افغانستان د امپيريلزم تابع هېواد وګرځوي. هغه لوی قوتونه چې دغه سياست يې پرمخ بېوه د امريکې امپيريلزم سي آی آی او داسې هم د پېکېنګ مشري ده.»

«خو په افغانستان کې قوتونه راولاړ شول، د امين رجيم يې په غوڅه توګه له مينځ نه يووړ. له قدرت نه يې وغورځوه او د هېواد د نوې مشري او ګوندهئيتانونه نه يې جوړ کړل.... اوس د ګوند او حکومت سروال ببرک کارمل دی. د هغه د ويناوو او خطابو مقصد د افغانستان د خپلواکۍ خوندي کوي.

دی مترقي او دموکراتيک پاليسي پرمخ بيايي؛ قانون او نظم خوندي کول؛ او له خلکو سره انساني چلند کوي. د نوې مشرۍ موخه په هېواد کې د مدني سولې تضمين دی. دغه ټول هغه څه ممکن کوي چې وويلی شي دغسې مشري به د افغانستان خلق دموکراتيک ګوند او مترقي جمهوري نظام په افغانستان کې پياوړی کړي.» په اعلاميې کې د اهم ويل شوي وو چې «شوروي اتحاد له افغانستان سره منلې وه چې افغانستان ته د يو څه وخت لپاره يو ووړ نظامي واحد د تم کولو لپاره واستوي. يوازې د هغه شته والی به د سملاسي دښمنو وسله والو بريدونو (زياتره له پاکستانه) او د داخلي انقلاب ضد قوتونو ته وېروونکي کافي مانع وي.» په اعلاميې کې دا هم ويل شوي وو چې همدا چې هلته وضع ارامه شوه او هغه دليلونه چې استول يې ضروري کړي وو، له مينځه لاړل، هغه به بېرته وغوښتل شي.[1]

شوروي لويان له خپلو خلکو سره هم رښتيني نه وو، نه يې غوښتل هغوی د يرغل او جنګ په واقعيتونو خبر وي او کوښښ يې کاووه په دې هکله پرې بنديزونه هم ولګوي. ميتروخين وايي «په هر ډول مخابره کې د پلان شوي يرغل ذکر کول منع شول.» د افغانستان شمال ته د شوروي په جمهوريتونو کې لا بېړنی حال اعلام او پوځي واحدونه تيار سي شول. «د اقتصادي هدفونو پر ساتنې باندې لنګر واچول شو، او پر پوستي او تيليفوني مخابرو باندې کنټرول ولګول شو. هغه ليکونه ضبط شول چې پکې د تيارسئ يادونه

شـوې وه؛ مشـکوک لیکونـه ضـبط شـول او لیکـونکي یـې تـر پوښـتنې لانـدې ونیول شول.»[۲]

سر تېرو ته ویل کېدل چې امپیریالستانو پر افغانستان بانـدې تېـری کـړی او تاسې له افغانانو سره د مرستې کولو لپاره استول کېږئ. ک. ج. ب په شـوروي اتحاد کې د افغان جنګ په اړه څوک خبرو ته نه پرېښوول. خو خلک یا لږ تـر لږه تعلیم کړي او حساس شورویان لـه دغـه جنـګ نـه د بانـدنیو رادیوګـانو لـه لارې خبرېدل. له یرغل نه ژر وروسته لا د پوهانو یوې ډلې د ا و. بوګومولوف په مشرۍ د شوروي اتحاد مرکزي کمېټې ته یو راپور واستوه چې پـه هغـه کـې یې د یرغل د ناکامۍ وړاندوینه کړې، او په وړاندې یې ټینګ غبرګون ښـودلی و.» سره له دې هم شېوارد نازي چې وروسته د ګورباچوف پـه واکمنـۍ کـې د باندنیو چارو وزیر و، وایي چې پـه شـوروي اتحـاد کـې خلکـو د افغانسـتان د جنګ په اړه تر هغه نه زیات منفي غبرګـون وښـود، چـې پـه ۱۹۶۸ کـې یـې د چکوسلواکیې د جنګ په اړه ښـوولی و، دی دا هـم وایـي چـې «لـه ۱۹۷۹ نـه وروسته اکثرو په نېغ یا نا نېغ ډول پر افغانستان باندې یرغل محکـوم کـړ.»[۳] پـه عمـومي ډول دغـه یرغـل د شـوروي روڼ انـدانو لپـاره «د دغـو قـدرتونو د حرکتونو یو تشدد ناک عمل و، چې نوی نسل یې بېګانه کړ. د ۱۹۸۰ لسـیزې ځوانـان.» لـه هغـو نـه سـرګې سـټان کیـویچ ویـل چـې «د افغـان یرغـل [پـر افغانستان باندې د شوروي یرغل] مونږ ته یو ټکان و، یـو مطلـق ټکـان، ځکـه چې مونږ پوهېدلو چې په کوم وخت کې د باندې جنګ پیـل کېـږي. دننـه هـم جنګ شروع کېږي، جنګ د رښتین توب، روڼ والي، او ازادي غوښـتونکو پـر ضد. مونږ پوهېدلو چې دا د اوږدې مودې لپاره د کنټرول مانـا لـري. سـره لـه دې هم هیڅ البته له سخاروف نه پرته- کافي زړورتیا نه لرلـه چـې پـه اړه یـې برالا وغږېږي. مونږ د هغه په هکله له باندنیو راډیوګانو نه اورېدل. مـونږ ټـول

سیستم او شخص بریږنیف ملامت ګڼي. د بریږنیف او د هر هغه څه چې ده کول مطلق ردوو.» دستان کیوریچ په فکر چې د ګورباچوف د وخت په نسبي ازاده فضا کې یې څرګند کړی و، «هغوی به هیڅکله په دغه جنګ کې غالب نه شي او هغوی دغه بحران یوازې پیاوړی کوي.» د هغه پر ځای وړاندوینه دا وه چې «مونږ حس کاووه چې یو وخت- زر یا وروسته به اساسي تحولونه حتمي شي.»(۴) د میتروخین د لیکنې له مخې حتی د ک. ج. ب ځینې غړي هم په خپلې ویرې غالب شول او د خپلو لویانو دغه عمل یې پر خپلو کې محکوموه او ویل چې «زه شرمیږم ووایم روس یم، مونږ په خپله سرفان او ګدایګر یو او غواړو نور اسیر او غریب کړو.»(۵)

د شوروي دغه یرغل د دې سبب هم شو چې په بین المللي کمونستي حرکت کې یو بل درز، که څه هم کوچنی و، څرګند شي. لومړنی درز هغه و چې د ستالین له مړینې نه وروسته د چین کمونست ګوند د شوروي کمونستي ګوند لار پرېښوده، او بین المللي کمونستي حرکت د لومړي ځل لپاره دوه ځایه شو. د شوروي د دغه یرغل پر ضد د ایتالیې کمونستي ګوند او د رومانیې کمونستي ګوند د انتقاد اوازونه جګ کړل. لومړنی چې په لویدیځې اروپا کې د فرانسې له کمونست ګوند نه وروسته لوی ګوند و، په دې اړه له شوروي اتحاد سره برالا نانډرۍ پیل کړې او دغه یرغل یې «یوه تېروتنه» وبلله. خو د شوروي ګوند قانع نه شو. د ختیځې اروپا په هېوادونو کې سره له دې چې د شوروي اتحاد تر کنټرول لاندې و، ناراضه ډلو د شوروي یرغل پرضد فعالیتونه پیل کړل او د اولمپیک په لوبو کې یې د نه ګډون کولو غوښتنه کوله، چې په ۱۹۸۰ کې په مسکو کې کېدلې. په دغه لړ کې د چکوسلواکیې د ناراضي ډلې په یوه لیک کې دغه لوبې د اولمپیک هغو لوبو ته ورته وښوولې چې په کال ۱۹۳۶ کې د نازیانو په واکمنۍ کې په برلین کې

شوې وې.

# د یرغل په اړه
# په لویدیځې نړۍ کې غبرګونونه

په لویدیځو هېوادونو کې د شوروي د یرغل په وړاندې د امریکې ولسمشر جمي کارتر غبرګون اثرناک و، چې د دغه اهمیت له امله یو څه اوږد بحث غواړي. د فرانسې حکومت پر یرغل نیوکه وکړه، خو د جرمني فیډرالي صدراعظم، هلمت شمت نرم دریځ ونیوه او څرګنده یې کړه، چې د افغانستان بحران «له خطرناکو بعدونو سره سره نړیوال بحران» نه دی. خو د برتانیې صدراعظمې مارګریت تاچر د شوروي یرغل محکوم کړ او پر شوروي حکومت یې غږ وکړ، چې خپل پوځونه له افغانستان څخه بیرون کړي. ټولو لویدیځو هېوادونو نه یوازې د شوروي اتحاد د ترلاس لاندې د کارمل رجیم په رسمي ډول ونه پېژنده، له کابل سره یې اړیکې هم وشلولې، خو هلته یې خپل سفارتونه ونه تړل، او هر یوه په خپل سفارت کې څو تنه ماموران پرېښوول، چې د افغانستان د جاري وضع په اړه یې باخبره وساتي.

د یرغل په وړاندې د بین‌المللي موسسو غبرګون اساسي او پرله پسې و، تر ټولو دمخه د ملګرو ملتونو د امنیت شورا د جنوري په پینځمه د دوو مخالفو رایو په وړاندې په ۱۳ رایو پرېکړه وکړه، چې باندني پوځونه دې له افغانستان څخه ووځي، خو هغه د شوروي اتحاد په ویټو سره رد شوه. دغه موضوع بیا د جنوري په ۱۴مه د عمومي اسامبلې په بیړنۍ غونډې کې تر غور لاندې ونیوله شوه او هلته د ۱۸ رایو په وړاندې په ۱۵۴ رایو پرېکړه وشوه چې

باندنی پوځ دې له افغانستان څخه بې لـه کـوم قیـد او شـرط څخـه ووځـي؛ د هېواد د ناپېیلتوب سیاست درناوی دې وشـي،او د افغانـانو د پـه خپلـه ټـاکنې حق دې خوندي پاتې شـي. د ملګـرو ملتونـو موسسـې هرکـال دغسـې پرېکـړه کوله او په ۱۹۸۲ کې یې یو خاص اسـتازی وټاکـه چـې پـه دغـه اړه لـه دواړو خواوو سره خبرې اترې وکړي. د همدغه استازو په هلو ځلو سـره و، چـې پـه کال ۱۹۸۸ کې په ژنیو ښار کې شوروي اتحاد ومنله چې له افغانسـتان څخـه به خپل پوځ په نهـو میاشـتو کې وباسـي. **دغـه موضـوع پـه دوه څپرکیـو کې څېړل شوې ده.** بله مهمه پرېکـړه د اسـلامي کنفـرانس د موسسـې لـه خـوا پـه اسلام‌آباد کې د ۱۹۸۰ کال د جنورۍ په ۲۸ مه وه، چې لـه شـوروي اتحـاد نـه یې په ټینګه وغوښتل چې خپل پوځ له افغانستان څخه بېرون کړي. پـه د غـې غونډې کې عراق، سوریې او لیبیا د شوروي اتحاد په پلوي رایه ورکړه. په دې ډول د دوی استازو وښووله چې مشرانو ته یې د ملي ګټـو پـر بنسـټ سیاسـت دغومره ارزښتناک و، چې د مسلمان افغانستان په وړانـدې یـې دغسـې هېـواد غوره وباله چې د ملحدو کمونستانو لخوا اداره کېده. د کنفرانس غړو هر کـال دغسې پرېکـړې کـولې او لـه افغانسـتان څخـه یـې د بانـدنیو پوځونـو د بېـرون کېدلو غوښتنه کوله.

د ۱۹۸۱ کال په سر کې په ډهلي کې د ناپېیلو هېوادونـو د بانـدنیو وزیرانـو په غونډه کې هم له شـوروي اتحـاد څخـه وغوښـتل شـول چـې خپـل پـوځ لـه افغانستان څخـه وباسـي او د هغـه د نـاپېیلتوب د سیاسـت درنـاوی وکـړي. د دغې غوښتنې اهمیـت پـه دې کـې و، چـې پـه دغـه حرکـت کـې شـوروي پلـوه هېوادونه لږ نه وو. د همدغه کال په اوړي کـې د اروپـا اقتصـادي ټـولنې پـه لا ټینګو کلمو له افغانستان نه د شـوروي پـوځ د بېـرون کولـو غوښـتنه وکـړه، او شوروي اتحاد ته یې ډاډ ورکړ چې افغانستان بـه د هغـه د پـوځ لـه وتلـو نـه و

روسته هغسې یو ناپېیلي هېواد وي، لکه استریا ې په کال ۱۹۵۵ کې د هغه د پوځ له ایستل کېدلونه وروسته یو ناپېیلی هېواد شو. دغه پرېکړه د دغې ټولنې د هیئت مشر لارډ کرنګټن له خوا په مسکو کې شوروي لویانو ته توضیح شوه؛ هغو هغه «غیر عملي» وبلله، خو رد یې هم نه کړه. د همدغه کال په جنورۍ کې د فرانسې ولسمشر ګسکار دیستانګ د افغان کشالې د هوارولو لپاره د یوه بین المللي کنفرانس وړاندیز وکړ؛ شورویانو هغه هم ونه مانه. د چین حکومت لا له شوروي اتحاد سره د خپلو اړیکو ښه کېدل له افغانستان څخه د هغه د پوځ په ایستلو پورې تړلی وګاڼه. شوروي اتحاد دغه وړاندیز هم ونه مانه. چین بیا په دغه اړه ټینګ دریځ غوره کړ او د کارمل رجیم له خوا یې د خپل هېواد امنیت په خطر کې لیده، ځکه چې شوروي اتحاد د افغانستان د پامیر برخه تر کنټرول لاندې نیولې وه، په دې اړه لا ویل کېده چې شوروي اتحاد د واخان تړانګه د کارمل له رجیم نه د کوم تړون له مخې خپله کړې وه.[۶]

شوروي اتحاد دغه ټولې غوښتنې که څه هم د نړۍ د زیاترو خلکو په استازیتوب وې، رد کړې خو په دغه رد سره یې د نړۍ په سویه خپل اعتبار زیانمن کړ. د هغه یرغل او دغه رد و چې د هغه لاس لاندې د کارمل رجیم هیڅ مشروغیت ونه موند او بین المللي هوا کړکېچنه شوه؛ دیتانت له مینځ نه لاړ او د هغو پر خلاف د افغانستان د خپلواکۍ مدافعان د نړۍ په سطح کې مهم وګرځېدل. لا مهمه دا ده چې د دغو غوښتنو غوښتونکو افغان مجاهدانو ته د هغه وروسته د پیسو، وسلو او نورو ډول ډول مرستو ورکول په غټه پیمانه پیل کړل. د امریکې مرستې تر هر بل حکومت نه ډېرې وې، چې اوس یې د توضیح وخت دی.

د امریکې متحد د ولتونو حکومت، د جمي کارتر په مشرۍ پر افغانستان

باندې د شوروي اتحاد یرغل تر هر بل حکومت نه ډېر ټینګ ونیوه. امریکا د افغانستان په بایللو سره هغومره نه وه پارېدلې، لکه د اوږدې مودې لپاره د نړۍ په دغې برخې کې د شوروي اتحاد د نفوذ او قدرت له خپرېدلو نه په اندېښنه کې وه. له دې امله یې تر هر بل هېواد نه غبرګون په ټینګه وښود. د امریکې په چارواکو کې دغه ذهنیت پیدا شوی و چې شوروي اتحاد په افغانستان کې خپل ځان ټینګ کړي بیا به پاکستان تر نفوذ لاندې راولي او په خپل دغه پرمختګ سره به د پارس خلیج په ملکونو کې خپل نفوذ خپور کړي، چې له هغه نه د ایران، عراق او کوېټ تېل تېرېږي او جاپان، اروپا او امریکې ته وړل کېږي. شوروي اتحاد به په دغه ډول د امریکې د چارواکو په فکر، د جاپان او لویدیځې نړۍ د تېلو انرجي چې تر یوه حده لویدیځ مدنیت او ژوند پرې ولاړ د ی، تر خپل نفوذ لاندې راولي. امریکا په سیاسي لحاظ هم اندېښمنه شوه، په دې ډول چې په افغانستان کې د شوروي اتحاد فزیکي شتون به نور هم ضروري کړي چې له خپل د وست هندوستان سره خپلې اړیکې نورې هم ټینګې کړي. په دغه حال کې د پاکستان امنیت به تر خطر لاندې او سوشلستي کامپ به نور هم پیاوړی شوي وي. په دې ډول د شوروي اتحاد پله به د سوشلستي کامپ د مخکښ په توګه د نړۍ په سویه نوره هم درنه شوې وي. د دغه احتمال د مخنیوي لپاره د امریکې دریځ دا شو چې په افغانستان کې د هغه پوځي شتون د هغه لپاره ډېر ګران کړي او د پاکستان په لور د هغه د وړاندې تګ مخه ونیسي او په دغه پروګرام کې د خپلو ملګرو هېوادونو ملاتړ جلب کړي. پاکستان هم د دغه یرغل په وړاندې ټینګ دریځ نیولو ته وهڅوي او د دغه مقصد لپاره ډ ول ډول مرستې ورسره وکړي. خو دوی په دې فکر هم وو چې دوی شورویان له افغانستان څخه ایستلی نه شي، او په خپله افغانان هم د دې توان نه لري چې هغوی له خپل

هېواد نه وباسي، که څه هم چې دوی به ډېرې مرستې ورسره وکړي. په دې ډول دوی په افغانستان کې د شوروي اتحاد پوځي شتون او د افغانستان بايلل منل. پرته له دې هم دوی افغانستان د شوروي اتحاد تر نفوذ لاندې هېواد ګڼل. دا هم مهمه وه چې افغانستان له امريکې سره د شوروي اتحاد په وړاندې د کوم دغسې تجويز فکر نه و کړی، لکه پاکستان چې ورسره کړی و. بله ستونزه دا وه چې په وچه چارپېر افغانستان له هغې نه په زرګونه ميله لېرې پروت و، او د شوروي اتحاد چم ګاونډی هېواد و. سره له دې هم څنګه چې شوروي اتحاد د لومړي ځل لپاره د خپل وارسا له پکټ نه د باندې پر يوه ناپييلي هېواد يرغل کړی، او په هغه سره يې په منځني ختيځ او لويديځې اروپا کې ډېر هېوادونه پارولي دي، د امريکې چارواکي په دغه فکر شول چې پرې نه بږدي افغانستان د چکوسلواکيا په شان شي چې شوروي اتحاد په ۱۹۶۸ کې د هغه د خلکو پاڅون په پوځ سره ځپلی او لويديځو هېوادونو د هغه په اړه څه ونه کړل. پر افغانستان باندې د شوروي اتحاد د يرغل په وړاندې د امريکې ځواب په ماهيت کې دفاعي او ددې لپاره و چې د خپل دغه ستر حريف اقتصاد ضعيف کړي او هم د ويتنام انتقام ترې واخلي. شوروي اتحاد شمالي ويتنام پر خپلو مرستو سره دغومره توانمن کړی و، چې د امريکې پوځونو په وړاندې ټينګ مقاومت وکړي، او هغه د ډېرو انساني او مالي تاوانونو له ورکولو نه وروسته له ويتنام نه په شاکړي.(۷)

په بلې مياشتې کې کارتر په ويانا کې برېژنيف ته په يوې رسمي ليدنې کې وويل چې امريکې په افغانستان کې احتياط کړی او د کشالو هوارول يې په سولې سره غوره بللي، په داسې حال کې چې شوروي اتحاد دغسې نه دي کړي. هغه ته يې دا هم وويل چې «امريکې د افغانستان په دننيو چارو کې لاسوهنه نه ده کړې» او «مونږ غواړو چې شوروي اتحاد هم همدغسې

وکړي.» د اګست په میاشت کې بریژنسکي (Brzezinski) د امریکې د امنیت شورا سروال د کارتر په هدایت د شوروي اتحاد له سفیر دوبری نن ته په افغانستان کې د شوروي اتحاد په مخ په زیاتېدونکي ښکېل کېدلو په اړه د امریکې «تېنګه اندېښنه» هم ښکاره کړه او بیا یې د نیویارک په ورځپاڼې کې څرګنده کړه چې «امریکا په غیر مستقیم ډول په روسانو فشار راوړي چې په افغانستان کې خپله لاسوهنه ختمه کړي.» بریژنسکي حتی د شوروي له بربنډ یرغل نه دمخه غوښتل په افغانستان کې د شوروي «عمل» د یرغل په نامه یاد کړي او امریکا د هغه په وړاندې عمل وکړي. په هر حال د امریکې د باندنیو چارو وزارت د سایرس وان په مشرۍ له شوروي اتحاد سره نرمه وضع ونیوله، بیا یې هم د سپټمبر په ۱۹مه څرګنده کړه چې «امریکا په افغانستان کې د هر ډول لاسوهنې سره مخالفه ده.» د دغه وزارت چارواکو د کانګرس په کمیسیونونو کې په وار وار ویلي وو چې «د شوروي اتحاد حکومت یې په تکرار د افغانستان په جنګ کې له نېغې برخې اخیستلو له خطرونو څخه خبر کړی و.» خو له نومبر میاشتې نه وروسته چې ایران د امریکې چارواکي یرغمل ونیول د امریکې حکومت پام هغې خواته شو او د [حفیظ الله] امین هغو وړاندیزونو ته توجه ونکړه، چې له امریکې سره یې د اړیکو د ښه کولو په اړه کړي وو.»[٨] بیا هم د ډسمبر په سر کې په مسکو کې د امریکې سفیر تاماس والټسن ګرومیکو ته د افغانستان پولو ته ورڅېرمه د شوروي پوځونو د حرکتونو له امله اندېښنه ښکاره کړه، خو ګرومیکو ځان ناګاره واچوه او په ځواب کې یې وویل چې «دغه راپورونه غلط دي، مونږ نه پوهېږو، چې تاسې د څه په اړه غږېږئ.»[٩]

بریژنسکي د ډسمبر په ۲۶مه ولسمشر کارتر ته په یوه یادښت کې د شوروي د یرغل او د هغه په وړاندې د امریکې ځواب په اړه سپارښتنې

وړاندې کړې، په دې ډول چې «... مونږ اوس د سیمې له بحران سره مخ یو، ایران او افغانستان دواړه ناکرار دي، او پاکستان په داخل کې بې ثبات او له باندې نه په سخته ویره کې دی. که شورویان په افغانستان کې بریالي کېږي او پاکستان تسلیم کېږي، د شوروي د اوږدې مودې خوب به چې د هند سمندر ته ورسېږي رښتیا شوی وي.» په یادښت کې دا هم یاد شوي وو چې «برتانویان په تاریخي لحاظ د دغه حرکت په مخ کې خنډ وو، او افغانستان یو حایل دولت و. مونږ دغه رول پر غاړه واخیست خو د ایران بحران په لویدیځ سهیلي اسیا کې د قدرت انډول له منځ نه یووړ، او هغه د شوروي قدرت د عربي او عمان خلیجونو ته رسولی شي. نو په افغانستان کې د شوروي مداخله مونږ ته یو ډېر مهم چیلنج وړاندې کوي، هم په بین المللي ډګر او هم دننه په وطن کې. په داسې حال کې چې هغه یو شوروي ویتنام کېدلی شي. د دغې مداخلې اغیزې به زمونږ لپاره ډېرې ناوړې وي.»

بریژنسکي وروسته له دې چې په سیمه کې د شوروي د یرغل اغیزې په ګوته کړې وویل چې «مونږ تر هغو چې په سیمه کې د اعتماد او قدرت تنظیم ونه کړو، پاکستان شاید بې زړه او په پای کې د شوروي د خارجي قدرت په وړاندې تسلیم شي.» په یادښت کې دا هم و یل شوي وو چې د شمالي ویتنام جنګیالیو یو ټینګ او منظم حکومت لاره، او شوروي اتحاد او چین ورته پریمانه وسلې رسولې. د هغو پر خلاف افغانان جنګیالیان نه حکومتي تنظیم او نه وسلې لري او باندنی ملاتړ یې هم ضعیف دی. احتمال لري چې د شوروي حکومت د هغو په وړاندې غوڅ عملیات وکړي. «په نتیجه کې شورویان به وکولی شي چې ځانونه په اغیزناک ډول ثابت کړي او د نړۍ په سیاست کې د بریالیتوب په شان بل هیڅ څیز نه بریالی کېږي، اخلاقي اړخونه چې هر څه وي.»

په یادښت کې د دغه حال په وړاندې څو وړاندیزونه د غور لپاره وړاندې شول چې لنډیز یې په دې ډول دی.

1. افغان مقاومت باید ژوندی وساتل شي نورې وسلې او پیسې ورته ورسولی شي، او تخنیکي پوهه ورته ورکړل شي
2. پاکستان ته ډاډ ورکړل شي او له مجاهدانو سره مرستې کولو ته وهڅول شي، دا به ضروري کړي چې موږ له پاکستان سره په سیاست باندې له سره غور وکړو؛ نور تضمینونه او مرستې ورته ورکړو او پرېکړه وکړو چې د پاکستان په لور زموږ د امنیت سیاست باید د اټومي قوې د نه جوړولو له سیاست نه ازاد وي.
3. موږ باید چین هم له مجاهدانو سره د مرستې کولو په لور وهڅوو.
4. موږ باید اسلامي هېوادونه هم وهڅوو چې د یرغل پر ضد تبلیغ او له مجاهدانو سره په پټه مرسته وکړي.
5. موږ باید شورویانو ته ووایو چې د دوی عملونه **سالټ** له خطر سره مخ کوي. که موږ شورویانو ته په نېغه او په ډېر څرګند ډول ونه وایو چې له موږ سره به یې اړیکې زیانمنې شي، دوی به زموږ «د اندېښنو خبرې» ټینګې ونه نیسي.
6. په افغانستان کې د شوروي عملونه سولې ته د خطر په نامه د ملګرو ملتونو موسسې ته وړاندې کړو.(۱۰)

د جنورۍ تر څلورمې چې کارتر د یرغل په اړه په رسمي ډول څرګنده وینا وکړه، د سپینې ماڼۍ لوړ پوړو چارواکو یو لړ غونډې روانې کړې وې او په هغو کې یې پورته یاد شوې موضوع ګانې تر بحث لاندې نیولې وې. دغو غونډو تر هغو نه څرګند توپیر لاره چې په کریملن کې د یرغل په اړه شوې وې. د کریملن غونډې هسې وې، چې لکه غله یې په پټه او وېره کې له جر او

بحث نه پرته کوي په داسې حال کې چې د واشنګټن غونډې ازادې، انتقادي او د جر او بحث په بنه وي. د زور واک او د موکرات نظام اساسي توپیر هم دا دی چې په لومړني کې فرد تړلی او په دوهمې کې فرد ازاد روزل کیږي. د زورواک نظام چارواکي ممکن یقین ونه کړي چې ورته وویل شي چې د امریکې یوه رسمي چارواکي هیڅلې ډونو وان ولسمشر کارتر ته ولیکل چې خلک ممکن هغه ته د «ساده» خطاب وکړي چې تا په تلویزیون کې ویلي وو چې شورویان به په سیاسي لحاظ «ډېر سخت سیاسي عواقب» وګالي په داسې حال کې چې «افغانستان دغسې هېواد دی چې مونږ هلته ډېر څه کولی نه شو.»(۱۱)

امریکې د شوروي د یرغل په اړه اول دغه کارونه وکړل. کارتر د جنوري په څلورمه ملت ته په خطاب کې څرګنده کړه چې که له تیري سره مخالفت ونه شي هغه د ساري ناروغۍ په شان کیږي. نو «د بین المللي ټولنې ځواب د شوروي د دغه کوښښ په وړاندې چې افغانستان یې لاندې کړ، باید د هغه عمل په اندازه جدي وي.» هغه وویل چې امریکا به اول له شوروي اتحاد سره د نویو قونسلګریو پرانیستل ټال کړي. له هغه سره به کولتوري او اقتصادي مبادلې وروسته وغورځوي. د دواړو هېوادونو ترمینځ به سوداګري محدوده کړي او په اول ګام کې به شوروي اتحاد ته د لوړو ټکنالوجي او نورو ستراتیجیکي څیزونو صادرول ودروي؛ نور به شوروي اتحاد د امریکې په اوبو کې ماهي نیولی ونه شي او امریکا به هغه اوولس ملیون متریک غله چې له شوروي اتحاد سره یې قرارداد شوی و، پر هغه ملک خرڅه نه کړي. امریکې په ۱۹۷۶ کې د پنځو کلونو لپاره یو قرار داد لاسلیک کړی و، چې د هغه له مخې امریکا منلې وه چې هر کال به تر اته ملیون ټن پورې غله پر شوروي اتحاد باندې خرڅوي، چې شوروي اتحاد په ۱۹۷۹ کې د خپل

خراب فصل له امله د پنځه ویشت ملیون ټن غوښتنه کړې وه، چې خپل څاروي پرې ماړه کړي. د شوروي اتحاد په هکله د کارتر بل مهم بندیزي ګام دا و چې امریکا به چې د اولمپیک په نړۍ والو لوبو کې چې په مسکو کې په راتلونکي اوړي کې کېدلې ګډون ونه کړي.[۱۲] لویدیځو هېوادونو د امریکې په شان د مسکو په لوبو کې له ګډون کولو نه ډډه وکړه. خو ځینو هېوادونو لکه ارجنټاین پر شوروي اتحاد باندې غله وپلورله.

خو دغه ټول بندیزونه د شوروي اتحاد لویانو ته د توقع پر خلاف وو او د دوی ځای پر ځای درېدلی اقتصاد یې زیانمن کړ. د سفیر دوبري نن په وینا «شورویان د دغې ګڼې پربنسټ افغانستان ته ننوتل چې هغه د امریکې لپاره حیاتي ارزښت نه لاره او پر هغه سربېره په خلیج کې یې د هغې ګټې نه ترټلې، چې مونږ پوهېدلو حیاتي دي.»[۱۳] څه عجب فکر! د شوروي اتحاد دغه یرغل سربېره پردې چې د بین المللي قانونو پرخلاف پر یوه خپلواک هېواد باندې بربنډ تېری و، د شوروي د ملک نیولو او په نړۍ کې د هغه د نفوذ خپرولو په لړ کې یو نوی او بېساري عمل و، د مولف ګارتوف په نظر پر افغانستان باندې د شوروي اتحاد یرغل چې امریکې د ځان لپاره سپکاوی او بالقوه خطر باله هغه نور خطرونه را سربېره کړل چې د انګولا، یوتوپیا، شابا، یمن، کمبودیا او په دې نزدې وختو کې په کیوبا کې د شوروي د یوه پوځي غونډ په سر د شوروي-امریکې په اړیکو کې انعکاس کړی و. پر هغه سربېره کارتر هغه د دیتانت یا د کړکېچ له مینځه وړلو سیاست پرمخ درنده څپېړه وګڼله، لکه چې د خپلو یادونو په اثر کې دغه احساس په دغه ډول انځور کړی دی. «د شخص ما لپاره تر ټولو بده ناهیلي د هغه چانس سملاسي او اتومات له لاسه تلل وو، چې د سالټ-۲ تړون قانوني شي.»[۱۴] د باندنیو چارو وزیر سایرس وانس که څه هم له شوروي اتحاد سره د نرم

چلند پلوی و، اعتراف وکړ چې «افغانستان بې له شک نه د هغه سیاست په مخ کې یو غټ خنډ شو چې ما یې پلوي کوله.» وروسته دی هم د بریژنسکي په شان په دې فکر شو چې «شورویانو ته دې سمله لاسه وښوول شي چې دغسې عمل د ختیځ-لوېدیځ د رقابت د منلو وړ برخه کېدلی نه شي.» بیا نو د بریژنسکي په فکر د دغسې ټینګ ځواب ورکول ضروري شو چې د هغه له مخې «شورویان محکوم او ورټل شي او سیمه ییز اعتماد ټینګ شي.»(۱۵)

ولسمشر کارتر د بریژنسکي د نظر په ملاتړ د شوروي پر ضد چلند غوره کړ. ده د جنوري په ۲۳مه د امریکې د کانګرس په ګډې غونډې کې سهیل لویدیځه آسیا له اروپا، آسیا نه وروسته «د نړۍ درېیمه ستراتیجیکي سیمه» اعلام کړه. داسې هم د شوروي اتحاد یرغل یې «د نړیوال دوهم جنګ نه وروسته سولې ته ډېر پیاوړی خطر» وباله. دا دوهم وار و چې دغه سیمه د امریکې په نظر مهمه شوه. اول ځل په پنځوسمه لسیزه کې و چې امریکې د ولسمشر ایزونهاور په وخت کې د شوروي اتحاد شاوخوا دفاعي نظامي تړونونه رامنځ ته کړل او پاکستان د هغو د وو تړونونو غړی شو. او امریکې ورسره ژمنه وکړه چې د باندني تېري په وړاندې به په مشوره ورسره مرسته وکړي. بیا نو کارتر شوروي اتحاد ته په دغه ډ ول اخطار ورکړ: «هر باندني ځواک چې کوښښ وکړي د پارس خلیج کنترول کړي هغه به د امریکې د متحد دولتونو د حیاتي ګټو په وړاندې حمله وګڼله شي او دغه حمله به په هرې لازمې وسیلې سره پر شاووهله شي، د نظامي قوې په ګډون.»(۱۶) دغه اخطار په واقع کې په دغې سیمې کې د شوروي اتحاد د راتلونکي احتمالي وړاندې تګ د مخنیوي لپاره و، نه پر افغانستان باندې د هغه د شوي یرغل د دفع په اړه.

امریکې له هغه وروسته د دوو سیاستونو یا کړنلارو په پرمخ بېولو باندې

په دغې سیمې کې لنګر واچوو، چې یو یې پاکستان په اقتصادي او نظامي لحاظ پیاوړی کول، او بل یې په سیمه کې په ګړندي ډول د نظامي قوې ځای پر ځای کول وو. لومړنی سیاست یې د افغانستان پر جاري پېښو ژور اثر وکړ، چې زر به پرې وغږېږم.

د امریکې په ګړندي ډول د نظامي قوې د ځای پر ځای کولو سیاست په ایران کې د پاچا محمد رضا په اخرو کلونو کې د نارامۍ او په یمن کې د شوروي پلوه حکومت د هسکېدلو نتیجه وه چې امریکا او عربستان یې اندېښمن کړي وو. اندېښنه دا وه چې شوروي اتحاد ممکن پر ایران یرغل وکړي، او دیمن حکومت د ورانکاریو لپاره و هڅوي. کارتر د بریژنسکي په وړاندیز په بیړه د قوي ځای پر ځای کولو هغه تجویز ومنه چې ۱۹۷۷ کال په اګست کې یې کړی و. مقصد دا و چې امریکا به له دغې قوې نه د هرې هغې ناوړې پېښې د دفع لپاره کار واخلي چې د دغه خلیج په هره برخه کې وي، او په دې ډول د خپلو حیاتي ګټو دفاع به په خپله کوي. د هند په سمندر کې د برتانیې تر لاس لاندې د ډیګیوګاردېسیا ټاپو د دغې قوې د لوی مرکز په توګه غوره شو. له ایران نه د پاچا محمد رضا په تېښتې او د هغه پر ځای د خمیني په واکمن کېدلو سره د دغه تجویز ضرورت نور هم ډېر شو. دلته به دغومره وویل شي چې پر افغانستان باندې د شوروي اتحاد یرغل د دغه تجویز د ژوندي کېدلو او پلي کېدلو لامل شو. کلونه وروسته په ۱۹۹۱ کې د کویټ پر سر د عراق په وړاندې د ایتلافي ځواکونو مخکې د همدغې قوې د قومندان په غاړه وه.

خو د امریکې لپاره پاکستان د شوروي اتحاد او کابل رجیم په مخالفت هڅول یو ګران کار و. په دغه وخت کې د پاکستان وضع ښه نه وه، او پاکستان په افغانستان کې د شوروي اتحاد د پوځ له شته والي نه په اندېښنه

کې و. د پاکستان پوځي مشر جنرال ضیاءالحق په اند پاکستان هم د شوروي اتحاد تر خطر لاندې و. دی په دې اندېښنه و چې شورویان به د پښتنو او بلوڅو د بېلتون غوښتنې حرکتونه وهڅوي. پر افغانستان باندې د شوروي اتحاد په تېري سره تودو اوبو ته د هغو د رسېدلو موضوع یو ځل بیا توده شوه، که څه موجودو شواهدو د هغه تایید نه کاوه. د پاکستان لوړ دولتي چارواکي په دې هم پوهېدل، چې د باکستان ملي پیوستون دغومره ټینګ نه وی چې د شوروي فشار وزغملی شي، هغه هم په دغسې حال کې چې په بله خوا کې یې مخالف او پیاوړی هند په مرچل کې څار و ناست و. غیر له هغه هم ضیاءالحق دننه په ملک کې مخالفان لرل، په دې چې اول ده په نظامي کودتا سره په کال ۱۹۷۷ کې واک نیولی و، او بله دا چې په امر سره یې د هغه وخت صدراعظم ذوالفقار علی بهوټو چې د پاکستان د یوه پیاوړي ګوند- د پاکستان خلق ګوند مشر و، غرغره شوی و، که څه هم له یو ډول محاکمې نه وروسته. نو ضیاءالحق که څه هم په خپله د کمونزم او شوروي توب سخت مخالف و، نه غوښتل شوروي اتحاد وپاروي، خو په هغه حال کې چې امریکا د هغه پوځ پیاوړی کړي، او ډېرې اقتصادي مرستې ورسره وکړي، لکه هسې چې د پاکستان لویانو په پنځوسمې لسیزې کې د امریکې په نظامې او اقتصادي مرستو سره پاکستان پیاوړی کړی و. جنرال ضیاءالحق هم همدغه لار ونیوله او د دې لپاره چې د افغانستان په موضوع کې د شوروي اتحاد پر خلاف د امریکې په لیکه کې ودرېږي له امریکې نه یې د ډېرو مرستو هیله کوله. دی له امریکې سره د چنه وهلو په ښه حال کې هم و. د ۱۹۷۹ کال په سر کې یې له ډېرو هو او نه ویلو نه وروسته چیرته د هېواد په شمال کې د څارنې ایلیکترانیکي الاتو د ځای پر ځای کولو په سر له امریکې سره موافقه کړې وه. منظور دا و چې امریکا به پر دغو الاتو سره د هغو

توغنديو او نورو څيزونو په اړه مالومات ترلاسه کړي، چې شوروي اتحاد د منځنۍ اسيا په جمهوريتونو کې پر ځاى کړي وو. دغه موافقه وروسته له هغه وشوه چې امريکې پلو پاچا محمد رضا له ايران نه بېرون شو، او امريکې د خميني په راتګ سره خپل دغه حساس الات د ايران له شمال نه راټول کړل او په پاکستان کې يې ځاى پر ځاى کړل.(۱۷)

خو امريکې له پاکستان سره د مرستې کولو په اړه غټه قانوني ستونزه لرله. د امريکې حکومت ته د قانون له مخې اجازه نه وه له هغه هېواد سره مرسته وکړي، چې هستوي وسلې جوړوي، او پاکستان همدغسې پروګرام پرمخ بېوه. خو د شوروي يرغل د کارتر په نظر د نړۍ سولې ته خطر پېښ کړى و چې حتى د امريکې امنيت يا لږ تر لږه د هغې حياتي ګټې يې هم زيانمن کولى شوې. دا خو ښکاره وه چې دغه يرغل په سيمه کې هر هېواد د خپل امنيت په فکر کړى و. پاکستان آن د ډسمبر په ۲۹مه پر افغانستان باندې «د باندني پوځ تېري» په اړه اندېښنه ښکاره کړه او پايلې يې درنې وبللې. بريژنسکي يې په ځواب کې دوه ورځې وروسته د امريکې د ۱۹۵۹ کال ژمنه بيا تاييد کړه او په مشخص ډول يې ورته وويل چې که پر پاکستان باندې تېرى وشي «د دواړو خواوو په موافقې سره به د پوځي عمل په ګډون مناسب اقدام وشي.»(۱۸)

د همدغه يرغل په تړاو و چې بريژنسکي د يوه هيئت په سروالۍ چې د باندنيو چارو وزارت مرستيال وارن کرستوفر هم ورسره و، د فبرورۍ په سر کې عربستان او پاکستان ته لاړ. د يادونې وړ ده چې د دغه هيئت کسان خيبر ته هم ولاړل او بريژنسکي هلته د افغان کډوالو په مينځ کې په داسې حال کې چې يو چيني کلاشنکوف يې هم په لاس و، ودرېد او حاضر شو چې عکسونه يې واخيستل شي. په هر حال، دغه هيئت په پاکستان او عربستان کې د

امنيتي وضع په اړه کتنې وکړې.[۱۹] امريکې د همدغې موضوع په اړه يو هيئت د خپل دفاع وزير براون په سروالۍ چين او بل يې د کرستوفر په سروالۍ لويديځې اروپا ته هم واستوه. مهمه دا وه چې کارتر د بل کال لپاره د امريکې دفاعي بودجه ډېره کړه، او د سنا يا مشرانو مجلس نه يې وغوښتل چې د سالټ۔۲ په موافقه باندې بحث ټال کړي. په دغو پېښو او د شوروي اتحاد په يرغل سره د بين المللي کړکېچ کمولو حرکت يا ديتانت چې دمخه شروع شوی او به نړۍ کې يې د سولې هيله پيدا کړې وه، له مينځه لاړ، او کارتر د شوروي اتحاد د محاط کولو يو نوی شکل ونيوه او د پاکستان پياوړي کول يې د خپل سياست يوه برخه وګرزوله.

سره له دې هم په پاکستان کې يو نرى خنډ د لږ وخت لپاره ښکاره شو. د باندنيو چارو وزير، اغا شاهي ددغه اتحاد لپاره ټينګ اساس نه ليده. د هغه په فکر د امريکې د عامه او رسمي نظر «له حد نه ډېر غير يقيني، له حد نه ډېر ګډوډ او له حد نه ډېر د هند تر نفوذ لاندې و.» نو ده ويل چې «مونږ به هيڅکله په دې پوه نه شو چې زمونږ دريځ څه دی، ځکه هر ځل چې تاسې انتخابات لرئ، سياستونه تغيير کوي.» هغه له مولف هري سن سره په مرکه کې د ضياءالحق د انديښنې پر خلاف پر پاکستان باندې د شوروي د يرغل احتمال «بيخي لږ ليده» او استدلال يې کاووه چې په مسکو کې «ډېرو پياوړو کسانو» د شوروي يرغل يوه تېروتنه بللې او دوی د پوځ د ايستلو پلويان دي. خو چې په کابل کې يو ناپيلي ايتلافي حکومت جوړ شي.»[۲۰] اغا شاهي وروسته له هغه چې امريکا او پاکستان په دغې موضوع کې سره يو موټی شول بيا هم په خپل فکر ټينګ ودرېده. پر دې سربېره دی په خليج کې د هيڅ زبرځواک له شتون سره جوړ نه و او له دې امله يې د امريکې د «ستراتيجکي اتفاق ملاتړ نه کاووه او خپل کوښښ ته يې دوام ورکاووه چې د

افغـان کشـاله دې د ملګـرو ملتونـو لـه لارې هـواره شـي. خـو ضـیاءالحق او جنرالانو یې وار په وار اغاشاهي له رسمي چارو نه ګوښه کاووه، تـر څـو چـې هغه د ۱۹۸۲ کال په سر کې له خپلې دندې نه ځان ګوښه کړ.

د برېژنسکي هیئت د دواړو خـواوو لپـاره د ارزونـې تمـرین شـو. پاکسـتان چارواکو ښکاره کړه چې د هغـه خـدمت پـه وړانـدې چـې دوی بـه د امریکـې مرستې افغان مجاهدانو ته رسوي، او پاکستان د شوروي په وړاندې د مځکـې دولت ګرځوي. امریکې ته ښایي هم ورته درنـدې او عصـري وسـلې ورکـړي، او هم هستوي موضوع هیره کړي. له وسلو نه د دوی مقصد عصـري ټانکونـه او د اف ۱۶۰ جنګي الوتکې وې، چې له هغو نه به د ضرورت په وخت کې د هندوستان په وړاندې کار اخلي. دوی په دغه وخت کې هـم هغـومره چـې لـه هندوستان نه اندېښنه کوله، د افغانستان له خـوا یـې لـه سـرحد نـه اندېښـنه نـه کوله. دا هم د دوی هیله وه چې امریکا به له پاکستان سره کوم ډول نـاټو ډول تړون وکړي او د هنـد پـه وړانـدې بـه دوی تـه ډاډ ورکـړي، کـه څـه هـم دوی پوهېدل چې امریکا دغه کار نه کوي.

برېژنسـکي بیـا د فبـرورۍ پـه میاشـت کـې د ۴۰۰ ملیـون ډالـرو د مرسـتې وعده له پاکستان سره وکړه، چې امریکا به یې په د وو کلونو کې پاکستان تـه ورکـوي. پـه دې ډول چـې هـر کـال بـه سـل ملیـون د وسـلو او سـل ملیـون د اقتصادي اړتیا لپاره وي. خو ضیاءالحق هغه د «موم پلـي» او د «سـمندر د یـو ځاځکي» په نومونو رد کړه او هرې سن ته یې پـه یـوې مرکـې کـې وویـل چـې «که زه د مرستې دغومره بې مانا اندازه ومنم، زه به یوازې روسان وپـاروم بـې له دې چې د هغو په وړاندې مې د واقعـي دفـاع ترتیـب نیـولی وي.» پـه دغـه وخت کې چې د امریکـې کـانګرس د مصـر لپـاره د درې ملیـارډ ډالـرو مرسـته منلې وه، هغه دا هم وویل چې «پاکستان تر هغه نه د لږې مرستې مستحق نـه

دی، او د هغه خطر په وړاندې چې مونږ ورسره مخ یو حتی د ډېرې.»[۲۱] څنګه چې تر دغه وخت پورې افغانانو د یرغلګرو په وړاندې په کوم لوی پاڅون لاس نه و پورې کړی د امریکې چارواکي پر خپل نظر باندې لا هم ولاړ وو، چې افغانان د هغو په وړاندې د مقاومت توان نه لري، او دوی به هم د ختیځې اروپا د خلکو په شان د شوروي اتحاد ترلاس لاندې حکومت ته غاړه کښېږدي. په هر حال، کارتر سره له دې چې د شوروي د یرغل په وړاندې تینګ غبرګون ښودلی و، له ضیاءالحق سره یې د هغه د هیلې په اندازه مرسته ونکړه، او افغان جنګیالیو ته یې د دېرش ملیون ډالرو مرسته ځانګړې کړه. اوس به وګورو چې د شوروي یرغل په وړاندې په خپله د افغانانو غبرګون څه و.

# د یرغل په وړاندې
# د افغانانو لومړني غبرګونونه

د شوروي یرغلګر پوځ په وړاندې د افغانانو مقاومت عام و، یرغلګر پوځ د شوروي اتحاد څلوېښتم لمبر پوځ، او شاته یې د شوروي اتحاد حکومت او د هغه کمونستي ګوند ولاړ وو. دغه پوځ په افغانستان کې وار په وار ډېرېده، تر څو ټول شمېر یې په یوه وخت کې ۱۱۵ زره یا تر هغه زیات شو، هغه شوروي شوي، پراري او د افغانستان له تابعیت نه محروم شوي پرچمیان، کارمل او ملګري یې او داسې هم شوروي شوي او پراري خلقیان-سروري او ملګري یې هم په یرغلګرو کې راځي چې له شوروي یرغلګرو سره یې یو ځای د یرغلګرو له هېواد څخه په افغانستان حمله وکړه، او بیا یې په افغانستان کې د هغه د مدافعانو په وژلو او د افغانستان په ورانولو کې ورسره لاس یو کړ. دوی ځکه دغسې وکړل چې دوی کمونست شوي او د شوروي اتحاد په خدمت کې ننوتلي وو. په دې هیله چې هغوی یې پر افغانانو حاکمان کړي. دوی که څه هم په افغانستان کې پیدا شوي او د افغانانو په پیسو د عصري ژده کړې خاوندان شوي وو، خپلو وطنوالو ته شاکړه او دولتي قدرت ته د رسېدلو لپاره یې د شورویانو مریي توب ته غاړه کښېښوده. دوی په دغه ډول د خپلو وطنوالو د حاکمیت منل شوی حق تر پښو لاندې کړ او هغو او وطن ته یې خیانت وکړ. ماته نه ده مالومه چې په شلمې پېړۍ کې به نورو له خپل وطن او وطنوالو سره دغسې خیانت کړی وي، لکه دغو شوروي

شويو پرچميانو او شوروي شويو خلقيانو چې وکړ. شوروي اتحاد تـه د د وی د خدمتګارۍ يوه ښه دا هم وه چې دوی او پلويـانو يـې دغـه يرغلګـر پـوځ د «قوای دوست» په نامه يادوه، په داسې حال کې چې دغه پـوځ هغـه افغانـان وژل چې له خپل پلارني وطن نه يې دفاع کوله. له همـدې املـه وه چـې نـژدې ټول افغانان هغسې چې د يرغلګرو په وړاندې جګ شـول، د دوی پـه وړانـدې هـم جـګ شـول او لـه دوی ټولـو سـره پـه ټينګـه وجنګېـدل. خـو د دوی دغـه پاڅونو تر اوسه په دغسې منظم ډول بيان شـوي نـه دي، لکـه دلتـه چـې بيـان شـوي دي. پـه داسـې حـال کې چې هغـه د دوي د وطنپـالنې، اسـلام پـالنې، خپلواکي پالنې او افغان پالنې دغسې آئينه ده، چې لـه هغـې نـه د دوی هويـت مالومېږي.

افغانان چې په اصل کې ارام خلک دي، پارېدونکي خلک هـم دي؛ کـه پـه خپل حال پرېښوول شي په خپل کار پسې به روان وي او د عـادي انسـانانو پـه شان به ژوند کوي. خو چې وپـارول شـي، پـه حيرانـوونکي ډول ډيناميـک او افراطي کېږي. دوی هغه وخت پارېږي چې ارزښتونه يې تر پښـو لانـدې شـي. څنګه چې دوی اوږد تاريخ لري، او د تاريخ په بهير کې د د وی په هېواد کـې قوي دينونـه لکـه زردشـتي، هنـدويزم، بـوديزم، او اسـلام خپـاره شـوي دي، د دوی ملي، اجتماعي او ديني ارزښتونو ټينګ او رېښې يـې ژورې وي. افغانـان د همدغو او داسې هم د ملي ارزښتونو په رڼا کې روزل کېږي، او د شخصـيت خاونـدان کېـږي، نـو دوی پـر خپلـو دغـو ارزښـتونو ټينـګ ولاړ دي، او لکـه ناموس يې ګڼي، چې دغه يونـاني کلمـه د قـانون پـه مانـا د دوی د ژونـد مهـم عنصر دی. د اسې هم دوی د ټولنيز ژونـد، تـاريخ او اسـلام پـه تقاضـا د يـوه نظام په چوکاټ کې دننه ژونـد کـول غـواړي. داسـې هـم نـه ده چـې افغانـان عصري توب او پرمختيايي انکشاف او تغيير نه غواړي. دوی يې غـواړی خـو

چې هغه له دوی سره د پوهاوي لـه لارې وي، نـه د زور او اجبـار لـه لارې. د دغې وينا رښتين توب د قانوني پاچايۍ په دوره کې څرګند و، چې حکومتونـه د قانون له مخې چلېدل. په دغې دورې کـې حتـی د کليـو او بانـډو خلکـو هـم ښوونځي غوښتل او د هغو لپاره يـې مځکـې هـم ورکـولې او د خپلـې خوښـې کارونه يې هـم کـول. پـه پنځوسـمې او شـپېتمې لسـيزې کـې چـې ډاکټـر علـي احمد پوپل او ډاکټر عبدالقيوم د پوهنې وزيران وو، پـه کليـو او اطـراف کـې د نجونو او هلکانو د ډېرو ښوونځيو شتون د همدغسې همکارۍ محصـول و. د دغو په اصل کې اطرافي او د پوهنې متخصـص وزيرانـو پـه دوره کـې عصـري پوهنه د ښوونځيو په بڼه تر بل هر وخت نه ډېره عامه شوې وه. خو هغـو چـې د ثور له کودتا نه وروسته د عصري کولو پروجې پلي کولې، دغسې هوښياري ونه ښووله او پاروني وکړې. په اوياومې لسيزې کې افغانان دوه ځله وپارېـدل. يو ځل په ۱۹۷۸ کې د ثور په کودتا او بل ځـل پـه ۱۹۷۹ کـې د شـورويانو پـه يرغل سره افغانانو دواړه پر خپلو ارزښتونو باندې تېری ګڼلـه. پـر هغـه سـربېره دغه يرغـل هغـه وخـت و شـو چـې پـه افغانسـتان کـې يـو ډول جنـګ روان و. يرغلګرو دغه جنګ د ازادۍ په جنګ بدل کړ او جنګ ته يـې دغسـې مفهـوم ورکړ چې د جهاد په کلمه کې خلاصه شوی چې هغه په اصل کې لـه کـورنۍ، وطن، ناموس، خپلواکۍ او اسلام څخه دفاع ده.

جهاد چې په اولو وختونو کې د اسلام دين د خپرېدلو لپاره کېده، اوس پـه ټولې اسلامي نـړۍ کې د مسـلمانانو د نـاتوانۍ لـه املـه دفـاعي شـوی دی. پـه معاصر افغانستان کې جهاد په وروستي مفهوم پېژندل شوی، چې په هکله يې د اميرعبدالرحمان په واکمنۍ کې د ديني عالمانو له خوا ډ برې خپرونې شـوې دي، چې تقويم الدين يې تر ټولو مهم دی. په دغو خپرونو کې ډېـر لـږ راغلـي چې مسلمانان دې د کفر په وړاندې جهاد وکړي او پـه ځـای يـې لنګـر پـر دې

اچول شوی چې مسلمانان وظيفه لري د اسلامي هېواد او د هغه سرحدونه د کافرو له تېريو وساتي. جهاد په دغه مفهوم سره له وطن نه دفاع کېږي. د جهاد په اړه بل مهم ټکی دا دی چې د هغه اعلام چې په واقع کې د جنګ اعلام دی يوازې د امير ياني د هېواد د سروال په واک کې دی، نه د بل چا.(۲۲)

په نولسمې پېړۍ کې افغانانو د پنجاب د سکانو او بيا د انګرېزانو په وړاندې جهاد وکړ، خو د شورويانو پر ضد جهاد د دوی له ټولو جهادونو څخه هم ډېر شديد، او هم ډېر عام و. شورويان کمونست وو، يادوی ټول همدغسې ګڼل کېدل، او د دوی له خوا د منځنۍ اسيا د ځپل کېدلو قصې له هغو څه کم نيم مليون تاجکانو، ازبکانو او ترکمنانو نه اورېدل شوی دي چې د پاچا امان الله په وخت کې افغانستان ته رااوښتي او د هېواد په شمالي سيمو کې ځای پر ځای شوي وو. په دې ډول له افغانانو سره د شورويانو له خوا د دوی د ځپل کېدلو، او د دوی د هېواد د لاندې کېدلو انديښنه وه، چې که شورويان د دوی هېواد لاندې کړي، دوی به نه يوازې اسلام له لاسه ورکړي، هېواد به يې هم د شوروي اتحاد يو تابع جمهوريت شي، لکه هسې چې د بخارا مسلمانانو ملک شوی و. د همدغې انديښنې په قوت وو چې له مسکو پالو کمونستانو او د ملي ستم له وړې ډلې نه پرته د افغانانو غوڅ اکثريت د يرغل مخالفت وکړ. دغه مخالفت په ټول هېواد کې په دغسې عام، تينګ او پرله پسې ډول وښودل شو، چې بل هيڅ وخت دغسې ښوول شوی نه و. دلته او هلته د رجيم له لږ پلويانو نه غير ټولو مذهبي، قومي او اجتماعي ډلو له يرغل سره مخالفت وکړ، حتی مذهبي لږکيو، سکانو او هندوانو هم له مجاهدو سره په پټه مرستې کولې.

د ځلوېښتم لمبر پوځ واحدونه په ښارونو او د هغو شاوخوا او داسې هم

په ځینو لویو لارو کې ځای پر ځای شول. په دې دول په هرات، شینډنډ، کندهار، کابل، جلال‌آباد او فیض‌آباد کې دغه پوځ له افغانستان څخه او په خاص ډول د کابل له ښار نه یوه نظامي کړۍ راتاو کړه، خو پوځ سمله لاسه په عملیو لاس پورې نه کړ. دغه پوځ د کابل تر پاڅون پورې (حوت۳، فبروري۲۲) ځای پر ځای و او منصب والو یې فکر کاووه چې د دوی پوځ په وړاندې به چې نه ماتېدونکي دی، څوک جګ نه شي او په یو څو اونیو یا میاشتو کې به ټول هېواد ارام شي. دوی په دغه فکر هم وو، چې څنګه چې دوی افغانان د خلقیانو له ظلم نه ژغورلي دي، هغوی به د دوی شتون ومني. د نوي رجیم چارواکو هم د خلکو د ارام ساتلو لپاره ډول ډول وعدې ورکولې او والیان یې وګمارل چې له وسله والو مخالفانو سره خبرې پیل کړي او هغوی وهڅوي چې وسلې پرېږدي او د سولې په رنا کې هوسا ژوند ته مخه و کړي، خو دغه چلند، د هغو د توقع پر خلاف، مجاهدان لا هم زړور کړل. دوی له سردرو نه راښکته شول او د ولایتو، مرکزونو ته یې ځانونه ورسول او په شاوخوا کلیو کې په رڼا ورځ کې وسله پر اوږه ډله ډله ګرځېدل پیل کړل. دوی په دغه ډول په ټول هېواد کې خواره شول او د رسمي ګوند غړي، چې دوی ملحد کمونست ګڼل یا یې ووژل یا یې ښارونو ته په تېښتې مجبور کړل. د بېلګې په ډول په لغمان کې د جنوري تر ۲۴ مې پورې یې د څه باندې درې اونیو په بهیر کې ګوندیان او د هغو مرستندویان له ټول ولایت نه وشړل او د بلې میاشتې (فبروري) ترمنځ بورې ټول اطرافي افغانستان د هغو لاس ته ورغی. مجاهدانو ځینې لویې لارې هم تر کنټرول لاندې ونیولې او ترانسپورتی وسیلې یې د ګوندي غړو او حکومتي چارواکو د نیولو لپاره لټولې. په دې ډول د کابل رجیم ښاري شو. په ښارونو کې هم د هغه او د یرغلګر په وړاندې مخالفت په دغسې بڼه ونیول شو، چې هغوی یې هیڅ

فکر نه کاووه.

په کابل کې د شوروي عسکرو په وړاندې فردي مخالفتونه يو ځای بل ځای وښودل شول. عام افغانان د هغو په ليدلو سره چې په ښار کې ګرځېدل، وپارېدل. د جنوري په درېيمه يوه قصاب او يوه هټيوال پر ګرځنده سرتېرو ودانګل او له مينځه يې يووړل خو دوی هم خپل ژوند له لاسه ورکړ. د يرغل په لومړۍ اونۍ کې دغسې بريدونه په کابل کې ډېر وشول، په تېره د ښار په څنډو لکه خيرخانه، دشت برچي، قلعه شهدا او پل سوخته کې. خو ډراماتيکي حمله هغه وه چې د کوهستان د قلعه عبدالله يوه ځوان د می په مياشت کې په څو روسي سرتېرو وکړه. ده اول د يوه عاجز بزاز په شان يوه ګزمه کوونکي سرتېري ته ځان ورسوه، او هغه چې د ده د ګلاليو څيزونو په ليدلو بوخت شو، ده خپله چاړه د هغه په نس ورخښه کړه او مړ يې کړ. د هغه يونيفورم يې په ځان کړ او د هغه په وسلې سره يې هغه اووه روسان هم ووژل چې په نزدې وياليې يا سين کې يې لمبل، دغسې حملې په واقع کې د راتلونکي طوفان پيلامه وه. په ښارونو کې د يرغلګر پوځ د سرتېرو ګرځېدلو عامو افغانانو ته وښووله چې روسانو د دوی پلارنۍ مېنه نيولې. بيا نو د هغو په وړاندې د دوی ځواب تر هغه ځواب نه ډېر ګړندی شو، چې پلرونو يې په تېرې پېړۍ کې د انګرېز يرغلو ته ورکړي وو.

# د کندهار او هرات ښارونو نا ارامي

د یرغلګرو په وړاندې د عامو خلکو مخالفت په خاص ډول د کندهار ښار خلکو له خوا زر او په ډراماتیک ډول وښوول شو. له یرغل نه پنځه ورځې وروسته د کندهار خلک چې ټول شمېر یې په ۱۹۷۰ کې ۱۳۰،۰۰۰ وو، د یرغلګرو په وړاندې جګ شول. دغه پوځ وروسته له هغه چې یو شو تنه یې ووژل، چونۍ ته پر شاشول. له هغه وروسته د ښار هټۍ و الو خپلې هټۍ د اعتراض په توګه وتړلې. د فبرورۍ تر لومړۍ اونۍ پورې اعتراضونه او پاڅونونه عام شول، په دې ډول چې ښځو او نارینه وو پر خپلو بامونو باندې په اذان کولو او د قران شریف په لوستلو پیل وکړ او په داسې حال کې چې روسان او د کابل رجیم یې غانده خپلو هدیرو ته یې مخه وکړه. د هرات ښار خلکو چې په ۱۹۷۰ کې یې شمېر ۷۳،۰۰۰ وو، د یرغلګرو په وړاندې لا ټینګ غبرګون وښود. د ۱۹۸۰ کال د جنورۍ د لومړۍ اونۍ په بهیر کې د ښار نارینه د روسانو په لیدلو سره ماجتونو ته لاړل او هلته یې په دعا کولو پیل وکړ، او د ښار ټولې هټۍ یې وتړلې، له هغو نه پرته چې د ژوند لومړني اړین څیزونه یې خرڅول، د هرات ښار لومړنی ښار و، چې د خلقي حکومت پر ضد جګ شوی و او په دې ډول د کمونستي ضد غبرګون مخکښ و. د فرا او بلخ ښارونه هم نارام شول، خو نه د هرات او کندهار ښارونو په شان، چې نارامي هلته پرله پسې او عامه وه. د فبرورۍ په ۲۲ مه، د حوت۳، ۱۳۵۸ د کابل ښار خلکو چې په ۱۹۷۰ کې یې ټول شمېر ۵۱۳،۰۰۰ وو، په دغسې لوی پاڅون لاس پورې کړ، چې په خپل اوږده تاریخ کې یې دغسې لوی

پاڅون نه و کړی.

# د کابل ښار پاڅونونه

د کابل ښار پاڅون په واقع کې د ټولو افغانانو د احساس هنداره وه، ځکه چې په کابل کې د افغانستان د ټولو سمتونو او قومونو خلک اوسېدل. او هغه لکه کمکی افغانستان داسې و. ګوندي فعالانو کوښښ کاووه چې هڅې وال د خپلو هڅو له تړلو نه واړوي، خو هغوی د هغو په خبرو عمل ونه کړ. د رجیم امنیتي چارواکو له پاڅون نه دمخه اټکل دوه سوه کسان چې په هغو کې خلقیان هم و و، په دې نامه ونیول چې خلک پاڅون ته هڅوي. د هڅو له تړل کېدلو نه دمخه شپې لیکونه یا شب نامې د رجیم پر ضد خپرې شوې وې. دوه درې ځوانان د هرې هڅې مخې ته درېدل او هڅې والو ته به یې خبرداری ورکړ چې خپلې هڅې د اعتراض په توګه وتړي. هغو ته به دا هم ویل کېده چې له دوی سره په یوه خوله ووایي چې «کارمل خاین دی او روسان باید زموږ له وطن نه ووځي.» دا هم ویل کېده چې ځینو ځوانانو لا دمخه ښار ته ټوپکونه هم ننویستلي وو.

په کابل ښار کې د طوفان لومړنۍ نښه د ماښام په مهال د الله‌اکبر ناري وې چې له بامونو پورته شوې او په ټول ښار کې یې انګازې وکړې. هغه شپه اسمان صاف و او سپوږمۍ هم ځلېدله. اذانونه چې د کندهار او هرات ښارونو په دوام وو، په کابل کې هم بېساري وو. په کابل کې وړو هلکانو او نارینه وو، زما په ګډون اذانونه وکړل. د ښار له شاوخوا کلیو نه هم اذانونه

واوربدل شول. د دغو اذانونو له پیل نه یو څه وروسته د شنه اسمان په لور د راکټونو ګولۍ هم اورول کېدلې. ګولۍ وار په وار ډېرېدلې، چې اذان کوونکي وډار شي او اذان کول بس کړي خو په مقابل کې ښاریانو اذان کولو ته زور ورکړ، داسې بربښېده چې لکه د دواړو خواوو ترمنځ مسابقه روانه وي. په دغه شپه د کابل ښار وضع بې سارې وه. په همدغه شپه کې په شوروي سفارت کې دارالامان ته نزدې د شوروي پوځ د شپږ شپېتم کال تاسیس په درناوي مېلمستیا هم ورکول کېده. مېلمستیا د شوروي سفارت د نظامي اتاشي په بلنه اعلام شوه. خو ببرک کارمل هم ورته تللی و. افغانان سره له دې چې د هغه او د هغه رجیم مخالف وو خو د دولت د سروال په توګه یې د هغه دغه ګډون وطن ته سپکاوی ګاڼه. حفیظ الله امین د دولت د سروال په توګه دغسې مېلمستیاوو ته نه ته، د افغانانو اصلي اعتراض بله ورځ د کابل ښاریانو له خوا د یرغلګر پوځ او هغو ته د تابع رجیم پر ضد یو لوی او بېساری پاڅون و.

د حوت په درېیم سبا (فبروري۲۲، ۱۹۸۰) په زرګونو کابلیانو له زاړه ښار نه په یوه لوی پاڅون لاس پورې کړ. د ښار له نورو برخو نه هم په زرګونو افغانان په لویو ډلو کې راووتل. له دشت برچي، پل خشتي، محمدجان خان واټ، سالنګ واټ، جمال مینې، بیني حصار او قلعه فتح الله نه. له هرې ډلې سره په لار کې په زرګونو افغانان یو ځای کېدل. د دوی د شمېر اټکل هم نه شي کېدلی. له مسکو پالو کمونستانو نه پرته چې ټول ټال شمېر یې بیخي لږ وو. د کابل ښار ټولو نارینه وو په دغه پاڅون کې یا برخه واخیسته او یا یې ملاتړ کاووه، په دې ډول کابل د افغانستان لومړی ښار و چې د یرغلګرو او د هغوی د تابع رجیم پر ضد یې پاڅون وکړ. پاڅون کوونکي په هوډ ټینګ او نه ویرېدونکي مالومېدل. د هغوی د لومړیو لیکو

کسانو په لاس کې شنه بېرغونه وو او د الله اکبر ناري یې وهلې. د حاجي یعقوب په څلور لارې کې یو شمېر ښځو شوروي ضد شعارونه ورکول، خو هغوی رز تیت کړای شوې.

ډېر وخت نه و تېر شو چې پوځي واحدونه چې په سړکونو کې ځای پر ځای شوی وو. د سالنګ په واټ کې له پاځون کوونکو سره مخ شول. ځینو خلقیانو له دې نه ډډه وکړه چې د پاڅون کوونکو پر ضد عمل وکړي. پاڅون کوونکي بې وسلې وو او په سوله ییز ډول مخ په وړاندې تلل. امنیتي ځواکونو په لوړ ویونکو آلو کې ترېنه وغوښتل چې خواره شي، خو پاڅون کوونکي هماغسې روان وو. امنیتي ځواکونو وروسته له هغه چې هوایي ډزې وکړې او اثر یې ونه کړ، په ګله یې پر پاڅون کوونکو ډزې وکړې. د لومړۍ لیکې پاڅون کوونکي په مځکه ولوېدل، نورو د هغو بېرغونه جګول او مارش ته یې د ډزو کولو په حال کې هم تر څه وخته دوام ورکړ. خو د مرګکي ډزو په کولو سره دوی نه شو کولی خپل مارش ته دوام ورکړي. دوی بیا د غاړې په تنګو کوڅو کې خواره کېدل او څه درنګ وروسته په بېرته ورتلل. په همدغه وخت کې دوی ځینې هټۍ چور کړې او موټرو ته یې اور واچوه تر څو په پای کې دوی د پل خشتي لوی جومات ته پناه یوړه. خو هلته هم په ځینو ځایونو کې پرې ډزې وشوې، د پاڅون کوونکو له خورېدلو نه وروسته امنیتي ځواکونو هوایي ډزې پیل کړې د دې لپاره چې خلکو ته وښیي چې دوی له اول نه همدغسې کول.

د میرویس میدان د دهبوري څلورلارې کې ډېرې ډلې سره غونډې شوې، تر ټولو غټه ډله هغه وه چې د برچي ښارګوټي نه راووتله. د مارش په اوږده لار کې په زرګونو نور خلک هم ورسره یو ځای شول. دوی همدا چې پل سوختې ته ورسېدل، امنیتي ځواکونو پرې ډزې وکړې، ځینې یې شهید شول

خو ډېرو يې خپل مارش ته دوام ورکړ. په ميرويس ميدان کې د څارندويانو له خوا هم پر دوی ډزې وشوې. دلته لـه دوی نـه ډېـر کسـان شـهيد او نـور ټـول خواره شول. په همدغه مهال کې د پاڅون کوونکـو بلـه ډلـه لـه قلعـه شـهدا نـه راووتله او د دهبوري له لارې د حکومتي سـيلو پـر لـور پـر مـخ ولاړه. هلتـه د برچې دښتې له ډلې نه خواره پاڅون کوونکي هم ورسره يو ځـای شـول. دوی په ګـډه د خوشـال مېنـې د څارنـدوی منځـی چـور کـړ. څارنـدويانو نـه يـوازې مقاومت ورسره ونکړ، پرې يې ښوول چې وسلې يې هم ترلاسه کړي. دلتـه د حفيظ‌الله امين کور هم چور شو، په دغه وخت کې و چې شوروي سرتېري پـه زغـرورو موټرونـو کـې را دمخـه شـول، پـه داسـې حـال کـې چـې د پاسـه هليکوپټرونه ټيټ الوتل.

د غرمې په شاوخوا کې چيرتـه د بمونـو چـاودنو پـه خوشـال مېنـه کـې هـم انګازې وکړې او پورتـه پـه آسـمان کـې جنګي الوتکـو او هليکوپترونـو غوبـل جوړ کړ. له هليکوپترونو نه راکټونه هم ويشتل کېدل. له زغرورو وسيلو نه هـم ډزې پيل شوې. په دې ډول روسانو له مځکې او آسمان نه د لومړي ځل لپـاره په کابل کې پر افغانانو باندې وسلې وچلولې، خو د لته د لـوړو ودانيـو لـه املـه پاڅون کوونکي هغومره ډېر تلف نه شول، چې په محمد جـان خـان واټ کـې تلف شوي وو. داسې مالومېده چې روسانو هم هغومره چې وېـرول کـول وژل نه کول. په همدغه وخت کې وو چې زه لـه صـحنې نـه ووتلـم او پـه لار کـې د هغو جورنلستانو په فکر شوم، چې له جنګی جبهو نـه خبرونـه برابـروي.د ډزو اوازونه په خوشال مېنه کې د ماښام تر اوو بجو پورې اورېدل کېدل.

پخوا له دې چې د چندول، افشار او ده دانـا خلکـو پاڅونونـه بيـان کـړم، د دغو پاڅونونو په وړاندې به د ميتروخين په قلـم رسـمي غبرګونونـه بيـان کـړم. دی ليکي چـې «لـومړنۍ حملـې خلـک ونـه وېـرول، د هغـو غبرګـون د هغـې

[ویرې] په عکس وو، له فبروري ۲۰ نه تر ۲۳ پورې په کابل کې د شوروي پر ضد مظاهرې وشوې. د ارامۍ د بېرته خوندي کولو لپاره له نظامي پوځ نه کار واخیستل شو. ښار محاصره شو، پلونه بند شول، پر ټولو هغو سړکونو باندې چې ښار ته ننوځي بندیزونه ولګول شول او په پټو ځایونو کې مرچلونه ونیول شول. [جنرال] قادر قومندان وټاکل شو. ۲۴ کمپنې (له دوه زره نه ډېر شوروي سرتېري)، ۳۰ ټانکونه، او ۲۰۰ زغروري او پرسونل وړونکې لارۍ د شوروي له وسیلو سره، ۱۱ کمپنې (څه باندې زر سرتېري)، ۲۳ ټانکونو، ۴۰ پرسونل وړونکو عرادو، او ګرځنده څو راکټ ویشتونکو له افغان خوا نه پکې برخه واخیسته. د خلکو د وېرولو لپاره پر ښار او شاوخوا ځایونو باندې ټیټې او ویروونکې الوتنې وشوې. شوروي ۴۹ ځله الوتنې وکړې. له ۹۰۰ نه ډېر مظاهره کوونکي ونیول شول. په کابل کې د ارامۍ خوندي کولو په مقصد د [اسدالله] سروري په سروالۍ یو منځی پرانستل شو. نور غړي یې میجر جنرال عبدالقادر او د ببرک په تجویز [د ک. ج. ب مشر جنرال] ب.س ایوانوف وو. دوی واک لاره چې د دفاع او کورنیو چارو د وزارتونو او د د ولتي امنیت نورو ارګانونو چارې سره همغاړې کړي او پرمخ بوځي.»[۲۳]

د لاریون کوونکو بله لویه ډله له چندول څخه ووتله. لاریون کوونکو وروسته له هغه چې د ښارندوی له ناحیې نه یې وسلې چور کړې، د ښار په مینځ کې یې د میوند سړک ګڼه ګوڼې ته ځانونه ورسول. یو کال دمخه هم چندول او د میوند جاده د خلقي حکومت پر ضد د لاریون صحنې وې. دغه پاڅون هم د هابل په شان زر وځپل شو. په باغ علیمردان کې هم خلک پاڅېدل او د پولیس له ناحیې نه یې وسلې ترلاسه کړې. د هغو یوې ډلې آن تر ارګ پورې ځان ورسوه، خو له هغه ځایه د درنو تلفاتو له ورکولو نه وروسته پر شاشوه، له جمهوري ساتونکو سره په مقابلې کې اتکل پنځوس

سرتېري هم ووژل شول.

دارالامان ته ورځېرمه د دهدانا او افشار له کليو نه هم خلک د اعتراض په نامه ووتل او د الله‌اکبر نارې او شوروي ضد شعارونه يې سر کړل، او پر يو څو نـږدې ټـانکونو بانـدې يـې بريـد هـم وکـړ. ټانکونـه بېرتـه شـول، خـو ژر وروسته نظامي افسران او سرتېري په څو جيپونو کې ځرګند شول. دغه وخت د پاځون کوونکو شمېر هم ډېر شـوی و. دوی لـه جيپونـو نـه پـه لوړ ويونکـو وسيلو کې په پاځون کوونکو غږ وکړ، چې دوی بايد د نظامي قـانون لـه مخـې چې حکومـت يـې اعـلام کـړی، خـواره شـي. رجـيم پـه همدغـه ورځ نظـامي حکومت اعلام کړی او له څلور کسو نه زيـاتې ډلـې ګرځېـدل يـې غيـر قـانوني ښوولي وو. لاريون کوونکي سره له دې هم خواره نه شـول او نظاميـانو ګـولۍ پرې واورولې او اټکل ۱۲۰ تنه يې ترېنه ووژل، او نـور تيـت شـول. د ښـار لـه نورو برخو نه هـم خلـک د اعتـراض پـه توګـه جـګ شـول، خـو د هغـو پـه اړه مالومات ترلاسه نه شو.

د ترږمۍ په خورېدلو سره کابـل پـه ظـاهر کـې ارام شـو، ويـل کېـدل چـې اټکل دوه زره ښاريان په دغه ورځ د يرغلګـر او د هغـو د لاسـپوځي رجـيم پـر ضد پاحونونو کې شهيد شول. خو زما اټکل د اته سوه په شـاوخوا کـې دی. د ميرتوخين د ليکنې له مخې په دغه ورځ نهـه سـوه ښـاريان بنـدي شـول. دی د وژل شويو افغانانو په اړه چوپ دی. په هر حال په څلور سـوه بيسـتر روغتـون کې تر مځکې لاندې کوټو کې څلور سوه مړي ليدل شوي وو.

اعتراضونه وروسته په شپږو ورځو کې هم وشول، خـو پـر سـړکونو بانـدې نه. په دغو ورځو کې هټۍ او مغازې تړلې وې، لـه هغـه نـه پرتـه چـې د ژونـد اړين څيزونه يې خرڅول او امنيتي ځواکونو هغوی اړ کـول چـې خپلـې هټـۍ خلاصې کړي، په ټول ښار کې وير او ماتم و.

د رجيم د لوی او عمومي پاڅون په غرمه کې په يوې خاصې تلويزيوني څرګندونې کې نظامي حکومت اعلام کړ او د خلکو غونډې يې د قانون پر خلاف وبللې او خلک يې له دېنه منع وګرزول چې له څلور کسو نه زيات يو ځای وي. د شپې له خوا پر ګرځېدلو باندې هم بنديز ولګول شو او رجيم له خلکو نه وغوښتل چې خپلې بې اجازې وسلې حکومت ته ورکړي. دا يې هم څرګنده کړه چې د پاکستان، امريکې او چين حکومتونو ايجنټانو کوښښ کاووه چې ارامي ګډوډه کړي او دولتي شتمني چور کړي. په کابل کې ۱۶ پاکستانيان، دوه چينايان، دوه امريکايان او يو مصری په دې تور ونيول شول چې کوښښ يې کاووه د خلکو د مرګ او د ارامۍ د ګډوډولو لامل شي. دا ثابته ده، چې دغه کسان به په رښتيا نيول شوي وي. له هغه وروسته دغه موضوع بيا ياده نه شوه. عجبه ده چې په دغې څرګندونې کې د ايران نوم ياد نه شو، که څه هم خميني پلوه شيعه‌ګانو په پاڅون کې فعاله برخه اخيستې او د هغه نوم يې هم ياد کړی و. د خلقي حکومت د وخت په پاڅونونو کې د ملامتۍ ګوته ايران او پاکستان ته نيول کېده. په هر حال د کابل رجيم په بلې څرګندونې کې وويل چې دولتي ادارې به تر بلې څرګندونې پورې بندې وي او هغه د رې ورځې وروسته د فبرورۍ په ۲۵ مه خلاصې شوې. مهمه دا ده چې له پنځو زرو افغانانو نه چې امنيتي ځواکونو بندي کړي وو، يو شمېر يې له محاکمې نه پرته اعدام شول، د يو څو امين پلو خلقيانو په ګډون.

دغو عملونو تر هغو چې کارمل پر واک و، د ځپلو يوه نوې دوره رامنځ ته کړه، د سليم عقل تقاضا دا ده چې دغه پاڅونونه د ټولو افغانانو د نيت او ارادې هنداره ګڼل شوې او د اشغال پر سياست له سره نظر اچول شوی وای، لکه د هند انګرېزي حکومت چې يوه پېړۍ دمخه په ورته حال کې همدغسې کړي وو. خو شورويانو د هغه پر ځای له زور او پوځ نه کار واخيست. په

همدغه وخت کې به وو، چې په افغانستان کې د شوروي پوځ لوړ قوماندان ته له مسکو نه دغه هدایت ورسېد چې «د وسله وال مخالفت تنظیمونو د له منځه وړلو لپاره د افغان پوځ په ملګرتیا فعال عملیات پیل کړي.»(۲۴) په دې ډول شورویانو د دې لپاره چې د کارمل رجیم پر پښو ودروي پر کابل د خپلو وعدو پر خلاف یرغلیز چلند ونیوه، او وژل یې وکړل. په نورو ښارونو کې هم د رجیم ځواکونو او یرغلګرو همدغه لار ونیوله. پر دې سربېره د نوي امنیتي اداري یا خاد وسله وال ایجنټانو به د شکمنو کسانو او پوځي ډلو به د عسکر نیولو لپاره کورونه هم لټول. په کابل کې به داسې شپه نه وه چې هټۍ او مغازې چور نه شي، او کورونه ونه لټول شي. او خلک ونه ځورول شي او شته لوټ نه شي. روسي ګزمه‌والو هم هټۍ او مغازې وهلې. رجیم د امنیت په نامه نوې بې امنیتي جوړه کړه او زور زیاتی ورسره ډېر شو، چې خلکو د خلقي حکومت ځپل هېر کړل. په نتیجه کې د کابل رجیم له خلکو نه بېګانه او پر شوروي پوځ باندې نور هم متکي شو.

د پاڅون کوونکو هیڅ ډلې تنظیم نه درلود، که څه هم ویل شوي وو چې «له روسانو سره د مخالفت لپاره ټول ښار تنظیم شوی و، چې د فبرورۍ په ۲۱مه باید پاڅون وکړي.» له هیڅ پاڅون کوونکې ډلې سره د نامه کوم افغان ملګری نه و. مارش کوونکي عادي او بې نومه افغانان وو. په دې برخې کې دوی له هغو افغانانو متفاوت وو، چې د افغان-انګلیس په دوهم جنګ کې د انګرېز یرغلګرو په وړاندې جګ شوي وو. په هغه وخت کې دغسې نومیالیو لکه غټ مشر (جنرال) محمد جان وردګ، جنرال غلام حیدر څرخي، میر بچه کوهستانی او نورو د پاڅونونو سروالي کوله او د هغو په مخ کې به روان وو. د اوسنیو مارش‌کوونکو پاڅونونه ډېر طبیعي، له جوش او جذباتو نه ډک، خو نامنظم وو.

د پاڅون کوونکو غتهٔ ځانګړتیا له سني ورونو سره د شیعه ورونو ملګرتوب و، دواړه د ښار خلکو غوڅ اکثریت وو. د شیعه قزلباشو او هزاره وو تناسب په هغو ډلو کې ډېر وچت و، چې د برچي دښتې له ښارګوټي، قلعه شادا، دهدانا، جمال مینې، سخي کارته او چنډولو نه راوتلي وو. د دغه واقعیت اهمیت په دې کې دی چې د افغان-انګلیس په دوهم جنګ کې په کابل کې یوازې سني افغانان جګ شوي وو. د قزلباشو وړه برخه پرچمیان وو، چې «د داخلي روسانو» په نامه یاد شول. د یرغلګر پوځ او کارمل رجیم په وړاندې د ګلبدین حکمتیار سني پلویان او د ایات الله محسني شیعه پلویان له زړګونو نورو سني او شیعه افغانانو سره په یوې لیکې کې ودرېدل. ماوستي شعلهیانو هم پاڅون کوونکي په تېره قزلباشان او هزاره د یرغلګرو پر ضد وپارول، یو شمېر اميني خلقیانو پاڅون کوونکي هم تحریک کړل او هم یې په حساسو شېبو کې د دندو له اجرا کولو نه ډډه وکړه. د دغو خلقي منصب والو د وظیفو د نه اجرا له امله وه چې شوروي پوځ صحنې ته ورګډ شو. په مقابل کې ټولو پرچمیانو او ډېرو خلقیانو د خپلو وطنوالو په وړاندې له شوروي یرغلګرو سره لاسونه یو کړل.

له هغو مارش کوونکو سره چې د ښار له څنډو څخه وو، بېلونه، سوټي، یو څو زاړه ټوپکونه او چړې او تورې وې. عصري وسلې له چا سره ونه لیدل شوې، که څه هم ویل شوي وو چې یو څه وسلې ښار ته راوړل شوې وې. یو ګوډ کلیوال زړه توره په لاس د خوشال مېنې په برخه کې د ښار په لور ځغستل او روسان یې ښکنځل. له پاڅون کوونکو نه د شوریانو او کفر پر ضد شعارونه اورېدل کېدل او د وطن په اړه اندېښنه ښوول کېدله. ځينوويل چې «او مسلمانانو!کاپران راغلي او زمونږ وطن یې نیولی او زمونږ دین په خطر کې دی» نورو ویل چې «او روسانو! زمونږ له وطن نه ووځئ.»

لکه چې دمخه ويل شوي پاڅون کوونکي د ښار له بېلو برخو نه ډله ډله راووتل او شمېر يې دغومره ډېر و، چې اټکل يې هم نه شي کېدی. دغومره ويل کېدلی شي چې په کابل کې دغه پاڅون عام و، دغومره عام چې بل هيڅ وخت دغومره عام نه و. خو دا ګرانه نه ده چې وويل شي دوی کومو اجتماعي ډلو ته منسوب وو، له کومو ځايونو نه چې پاڅون کوونکي ووتل هغه په عمومي ډول د کسب او کار، زيارکښو يا ښکته اجتماعي دريځ خلکو ځايونه وو. هزاره جواليان هم له همدغو ځايونو څخه وو. د اتو تنو مړي په داسې حال کې چې جوالونه يې په شاوو، د دهبوري ميدان ته نژدې پراته وو. دا هغه افغانان وو، چې کارمليانو «خلق» او نور يې «خلق ضد» بلل او اوس دغه «خلق» د د وی پر ضد جګ شوي وو. «ضد خلق» يې هم پر ضد وو، خو د يوه بې رحم دښمن په وړاندې مصلحت دا و، چې د نامه خاوندان په پاڅون کوونکو کې نه وو. په دې ډول په زرګونو بې نومه کسان د يرغلګرو په وړاندې برالا تر دې حده وړاندې لاړل چې خپل ژوند يې په خطر کې کړ. په دغه حرکت کې دوی په ديني ارزښتونو سره خوځېدلي وو، چې د ملحدو شورويانو له خوا په خطر کې ګڼل کېده. دوی په وطني ارزښتونو سره هم خوځېدلي وو، چې روسانو د دوی ملک نيولی و. افغانانو په دغه پاڅون کې د شوروي يرغلګرو په وړاندې دغسې مخالفت وښود، چې له ديني، ژبنيو او قومي او سمتي پولو نه اوښتی و. دا هغه وخت و چې د مقاومت اسلامي تنظيمونه ډېر شوي نه وو او د موجودو تنظيمونو پلويان پر خپلو کې سره جنګېدلي نه وو او د جهاد ګډه عنعنه‌ييزه روحيه د هر بل وخت په شان پياوړې وه. دا د دغه پاڅون د پياوړتوب غټ دليل و. له همدې امله و چې افغانانو پر خپلو کې د اختلافاتو په لرلو سره سره په پوره اتفاق د شوروي يرغلګرو په وړاندې د زړه له اخلاص نه برخه واخيسته. دا د ملي مقاومت په

ټولې دورې کې د افغان پیوستون هسک و.

# د زده کوونکو پاڅون

په کابل کې تعلیمي موسسې، د ژمي رخصتي په پای ته رسېدلو او د نوي کال په پیل سره (مارچ ۲۱) بیا فعالې شوې. کابل د خپل نفوس په تناسب ډېرې تعلیمي موسسې او ډېر محصلان لرل او زیاتره دغه موسسې د ښار په لویدیځ کې پرتې وې. دلته د شاګردانو شتون ښه څرګند و، د هغو له ډلې نه د کابل پوهنتون و، چې د ثور کودتا نه د مخه یې دوولس زره ښځینه او نارینه محصلان او اته سوه استادان لرل. دوی د تعلیمي کال له پیله یوه میاشت وروسته د اعتراض په ډ ول د لاریونونو یوه لړۍ پیل کړه. کابل پوهنتون په لاریون کولو کې څرګنده مخینه لرله. د شوروي یرغلګرو په وړاندې له لاریونونو دمخه اول شپې لیکونه یا شب نامې خپرې شوې. د فلاح په نامه یوې خپرونې کې د یرغلګر پوځ وتل غوښتل شوي وو. په هغې کې دا هم ویل شوي وو، چې تر هغه چې یرغلګر پوځ له وطن نه وتلی نه و ي، دوی به په یوې جبهې کې ټول وي او ایډیالوجیکي اختلافونه به یې یوې خواته کړې و ي. د جبهه دانش په نامه بلې خپرونې له ټولو ډلو څخه په ټینګه وغوښتل چې د یرغلګر پوځ او د هغه د تابع رجیم په وړاندې یوه ګډه جبهه جوړه کړي. په عادي حال کې دغسې خپرونې به چندان اثر ونه لري، خو د یرغلګرو پوځ د شتون او اختناق په حال کې هغه شاید د راتلونکي توپان نښه وي. د کابل پوهنتون په حریم کې همدغسې وشول. دلته ښځینه او نارینه افغان ځوانانو په دغه بحراني او حساس وخت کې خپله وطنپالنه او خپلواکي پالنه پر خپلو کړو سره په اثبات ورسوله.

د توپان لومړنۍ څپه د ثور په اوومه (اپرېل ۲۷مه) ښکاره شوه او دا په هغه وخت کې چې شوروي اتحاد ته د تابع رجيم چارواکو «د ثور انقلاب» لمانځنې لپاره غونډه کوله. خو په غونډه کې محدودو ګوندي او حکومتي لوړ پوړو چارواکو ګډون کړی و او د ګډون د ضيقو شرايطو او د هغو له ويناوو څخه داسې مالومېده چې دا د وير غونډه وي، نه د جشن لمانځنې. له هغې نه د مخه د ښوونځيو شاګردانو په کابل کې نا ارامي جوړه کړې وه. په دغو نا ارامیو کې د ښوونځيو نجونې تر دې حده پارېدلې او زړورې شوې وې چې په هغو ځارندويانو يې ملنډې وهلې چې د هغو د ارامولو لپاره استول شوي وو. ځينو هغوی د «روس مريان» بلل او نورو خپل پوړني پرې اچول او ورته يې طعنه ورکوله چې اوس له تاسو نه «ښځې» جوړې شوې دي. نورو د هغوی خولې تښتولې او ورته ويل چې تاسې د پيسو په برابر کې د روس «مريي توب» منلی دی. دغو نجونو په خپل زړورتوب سره اريانونکې وضع رامينځ ته کړې وه خو پوليسانو هم له هغو سره زيږ چلند نه کاووه. شايد خواخوږي يې هم ورسره لرله. خو پرچمي ځوانانو چې له پوليسو سره يو ځای وو، پر نجونو رحم نه کاووه. دوی دمخه (د اپرېل په ۲۵مه) د عمر شهيد په لېسه کې پر څلورو شاګردانو او د حبيبې په لېسه کې پر يوه شاګرد باندې مرګکي ډزې کړې وې، چې دغسې زړورتيا يې ښوولې وه.

د اپرېل په ۲۹مه هغه مظاهره چې د پوهنتون محصلانو د پوهنتون په ساحه کې کوله لا هم خونړۍ وه. دغو محصلانو شوروي-ضد شعارونه ورکول او په لوړ اواز يې ويل چې د شوروي پوځ دې ووځي.

دغه مظاهره چې د انجينرۍ له پوهنځي نه شروع شوې وه، د فارماسۍ پوهنځي ته ورسېده. پرچمي وسله والو ځوانانو وروسته له هغه چې هوايي ډزې وکړې د محصلانو په لور ډزې وکړې او درې تنه يې ترېنه شهيد کړل.

مظاهره‌چیان سره له دې هم مخ په وړاندې تلل، تـر څـو چې د دارالمعملـین په څلور لاري کې لس محصلان د پرچمي وسله والـو ځوانـانو د ډزو قربـاني شـول. په یـوه روایـت، پـه هغـو کـې پېغلـه ناهیـد د رابعـه بلخـي د ښـوونځۍ شاګرده هم وه او هغې په داسې حال کې چې یو ټېپي محصل یې پـه غېـږ کـې نیـولی و، د یرغلګـرو پـر ضـد یـې شـعارونه ورکـول. پېغلـه ناهیـد زر د ملـي قهرمانانو په قطار کې حساب شـوه او د وطنپـالنې سـمبول وګرځېده. پـه بـل روایت، پېغله ناهید چې یوې شتمنې کورنۍ تـه منسـوبه وه، لـه سیاسـت سـره یې جوړه نه و ه او د حجاري او نجاري فابریکې تر څنګه په غیـر قصـدي ډزو ولګېده او مړه شوه. د هغې پلار اوس په استرالیا کې کډوال دی. په هر حـال د پوهنتون د محصلانو لاریون بې له دې چې ښار ته رسېدلی وي، له دغو پېښـو نه وروسته خور شو. په دغه ورځ په داسې حال کې چې د ښوونځیو یـو شـمېر شاګردان هم سړکونو ته وتلي وو، د سوریا د نجونو ښوونځی محاصره شـوی و، او د حبیبـې لېسـې شـاګردان همـدا چـې د اعتـراض پـه توګـه د شـوروي سفارت ته نزدې شول، پرچمي ځوانانو پرې ډزې وکړې او درې تنه یې ترېنـه شهید کړل.

د دغو خونړیو پېښو سره سـره د پوهنتـون محصـلان کـرار نـه وو، دوی لـه هغه وروسته د مقاومت تکتیک بدل کړ، ډېرو یې درس پرېښود او ټولګیـو تـه نه تلل، خو د مې میاشتې په دریمه تر پخوا نه ډېـر محصـلان بیـا پـه مظـاهرې ووتـل او د ښـار پـه لـور روان شـول. دا ځـل دوی ډېـر مـنظم وو او پـارونکي شعارونه یې هم نه و رکول. دوی د نوي موقتي اساسـي قـانون سـره سـم چـې سوله ییزې مظاهرې یې مجاز ګڼلې وې، د ښار خواته مخه وکړه. د پوهنتـون په حریم کې د دوی ښه تنظیم ما په خپلـه ولیـد او پـه د اسـې حـال کـې چـې د محصلانو احساسات او زړورتیا مې ستایله ورته، په اندېښنه کې هـم وم. دوی

چې بريکوټ ته ورسېدل د پوليسو پر ځای پر اسونو سپاره وسله وال سر تېري ورسره مخ شول او له يو څه ځنډ نه وروسته يې پر محصلانو بريد وکړ. په ډنډو يې ووهل او اوښکې بهوونکی غاز يې پرې وشينده.

له پنځه سوه نه ډېر محصلان بندي شول. امينتي ځواکونو په دغه ورځ د دغې اوازې له مخې چې د دفتر چارواکي به له محصلانو سره يو ځای شي، حکومتي ادارې هم محاصره کړې وې.د مې په ۲۲ مه، څلورمه او وروستۍ مظاهره چې د انجينرۍ له پوهنځي نه شروع شوې وه له پيل سره سم وځپل شوه. خو د ښوونځيو شاګردان او شاګردانې په ټول ښار کې ناارامي او پارېدلې وې. دوی اعتصاب کاووه خو پوليسو د هغو ښوونځي محاصره کړي وو. زده کوونکو په تېره ښځينه زده کوونکو د پخوا په شان د لينن او برېژنيف پر ضد شعارونه ورکول، سره له دې چې پلرونو او ميندو يې د احتياط خبرې ورته کړې وې.

د جون په دوهمې اونۍ کې په ځينو ښوونځيو کې يوه نه فکر کېدونکې تراجيکه ډرامه ولوبول شوه. د ثور له کودتا نه وروسته ډېرې اريانوونکې پېښې يو په بل پسې شوې وې، خو ډېره اريانونکې يې د ښوونځيو د شاګردانو زهرجن کول وو. په درې پرله پسې ورځو کې د سوريا د نجونو ښوونځي او يو شمېر نور ښوونځي زهرجن شول. د د ولتي مطبعې دېرش تنه کارګران هم زهرجن شول. څو ورځې وروسته د جون په ۱۲ مه د لسو ښوونځيو شاګردان او شاګردانې زهرجنې شوې. په دغه ورځ له پنځوس تنو نه ډېر شاګردان د درملنې لپاره روغتونو ته ورسول شول. د دغه بېساري عمل عامل يا عاملان مالوم نه وو، او په اړه يې اوازې ډېرې او ډول ډول وې. يوه اوازه دا وه چې هوا دوړو کارتوسونو په پورته ويشتلو سره زهرجنه شوې وه. بله يې دا وه چې چا د څښلو اوبه زهرجنې کړې وې. تر اوسه هم د د غه کار عامل په

يقين سره مالوم شوی نه دی. د کابل رجيم د «امپيريلزم او ارتجاعي ځواکونو ايجنټان» يانې اخوانيان او مجاهدان د دغه کار مسؤول بلل. خو په کابل کې ټينګه اوازه دا وه چې هغه د خاد کار و، د دغې اوازې په ملاتړ ويل کېدل چې ځنګه چې محصلانو او زده کوونکو په دغې اوړدې ناارامۍ سره د کابل رجيم بې اعتبار کړی، خاد وغوښتل چې هغوی او کورنۍ يې په دغه ډول ووېروي چې بيا دغسې کار ونه کړي. دا هم ويل کېدل چې که په دغه عمل کې د خاد لاس نه وای، خادستانو به د هغه عاملان پيدا کړي او نيولي وای. د دغه روايت په ملاتړ دا هم ويل کېدل چې په دغې تراجيدي کې د سوريا ښوونځي شاګردانو او ښوونکو ډېر کړاوونه وګالل. په دې چې دوی د رجيم پر ضد ډېر فعاليت کاووه، دغه وينا رښتيا وه، زما د پوهنتون يوې پخوانۍ محصلې چې د دغه ښوونځي ښوونکې وه، په دې اړه حيرانونکې قصې ماته وکړې. په هر حال د محصلانو او شاګردانو له پارېدلو او د وروستيو له زهرجن کېدلو نه و روسته د کابل ښوونځي پر ځای ودرېدل او يو شمېر محصلان او شاګردان له وطن نه ووتل.

د زده کوونکو پاڅون د ښاريانو د پاڅون په پرتله يو څه منظم و، په دې چې د هغو تر شااتحادېې وې. له مظاهرو نه دمخه د پوهنتون محصلانو اووه اتحادېې فعالې شوې وې، چې يوه يې د انقلابي ځوانانو شورا، بله يې د ازادي پالو اتحاديه، فلاح او د استادانو او محصلانو عمومي اتحاديه وه. د انقلابي ځوانانو شورا د اټکل شپږ سوه غړو او په لېسو کې د ځانګو په لرلو سره تر ټولو لويه اتحاديه وه. غړي يې هم د استادانو او محصلانو دعمومي اتحادېې په شان ناپېيلي وو. (زه هم د استادانو اتحادېې په کدر کې وم، خو موسس کدر يې نه وم.) نورې اتحادېې لکه د ماوستي رهايي، اسلامي جمعيت، او اسلامي حزب د سياسي ګوندونو اتحادېې وې. دوی ځرګندې

مظاهرې نه غوښتلې، په دې دليل چې وبه پېژندل شي او وبه ځپل شي. دوی د مظاهرو پر ځای اعتصاب او مقاطعې غوښتلې، خو ژمنو اتحاديو د نورو په هڅونې سره د مظاهرې کولو فيصله پاس کړه او لکه چې وويل شول، مظاهرې وشوې، خو خاد هغه وځپلې، د همدغه مقصد لپاره خاد د خپلو پټو ايجنټانو نه ځانله يوه اتحاديه جوړه کړې وه، چې محصلان يې مظاهرو ته هڅول، لکه چې پر ځای ويل شوي. «خلقي پلو زده‌کوونکي د پرچميانو مخالف شول، چې د شوروي د شته والي او نژدې په هماغه اندازه د پرچميانو له خوا د امين او د هغه د چلند غندنه کېده. نېشنلستانو او مارکسيتي مخالفانو د بنسټ پالو له پلويانو، هلکانو او نجونو سره په مظاهرو او اله ګولو کې سره لاس يو کړ، چې په ټکول کېدلو او بندي کېدلو سره وځپل شو.»

دا چې د دغې يوې مياشتې اوږدو مظاهرو په بهير کې څومره زده‌کوونکي ووژل شول، په يقين سره مالومه نه ده. اټکلونه د دوه اويا او سلو تنو ترمنځ دي او ځينې يې تر دوه سوه پورې رسوي. د ټپي شويو زده‌کوونکو اټکل هم کېدلی نه شي، ځکه چې ټپي شوي زده‌کوونکي روغتونونو ته نه تلل. د دې لپاره چې هلته به وپېژندل شي او د خاد چنګ ته به ورشي. خو د بندي شويو زده‌کوونکو اټکل دوه زره د ي. له هغه وروسته برالا مظاهرې ونه شوې او پر ځای يې زده‌کوونکو اعتصابونه او مقاطعې کولې.

د رجيم چارواکو د مې په ۱۳ مه اټکل پنځه سوه بندي زده کوونکي په يو څه قيد سره ازاد کړل. دا يې هم وويل چې د «يو څو» زده کوونکو قضيې تر تحقيق لاندې دي. دغه «څو» په واقع کې ډېر زده کوونکي وو چې کلونه يې په څرخي پله زندان کې تېر کړل. بندي شويو محصلانو په محکمه کې د مظاهرو پلوي نه کوله، د کندهار د يوه هندو زده‌کوونکي اشوک کومار، عبدالودود او يوه بل نه پرته وروستي نه يوازې د مظاهرو په حقانيت ټينګ

ودرېدل، د شوروي د يرغل مخالفت يې هم کاووه. هر يو يې د اتو کلونو په بندي توب محکوم شو، چې دا د بندي شويو زده‌کوونکو لپاره تر ټولو اوږده موده وه.

د رجيم چارواکو بل کار د لوړو ښوونځيو د هغو ښوونکو موقوف کول يا تبديل کول وو چې د زده‌کوونکو په هڅولو کې پرې شکمن شوي وو، خو دغو چارواکو په کابل پوهنتون کې بل مهم څه ونه کړل. خو د شوروي کولو پروګرام يې چې دمخه يې پرې پيل کړي وو، ګړندی کړ. د شوروي کولو پروګرام د مارکسيزم او لينتزم د مفکورې له مخې د درسي نصاب برابرول او د شوروي پر سيسټم د پوهنتون ادارې طرز ته تغيير ورکول او له شوروي سره د دوستۍ د روحيې پالل وو، دغو ټولو تعبيرونو له شوروي اتحاد او کمونستي بلاک هېوادونو څخه د مشاورانو او ښوونکو ډېروالی ضروري کړ.

د زده‌کوونکو خوځښتونه که څه هم د رجيم لپاره غټه ستونزه نه وه، خو چارواکي يې سخت وېرول چې هغه ممکن ښاريان د بل پاڅون لپاره وهڅوي. څنګه چې زده کوونکي د ښاريانو زامن او لوڼې دي له همدې امله به هم و، چې دوی څومره چې کولی شول د هغو مظاهرې زر او په زور وځپلې. خو د دوی مظاهرو دغه رجيم ته په سياسي او اخلاقي لحاظ غټ زيان واړوه. د کارمل ګوندګی په عمومي ډول د کابل ښار له کسانو نه جوړ و.

پرچميانو تر دغو پاڅونونو پورې دا ښووله، چې د ښار روښانفکران د دوی پر خوا دي. دغه ذهنيت قانع کوونکی برېښېده، ځکه چې کارمل د پاچايۍ په لسيزه کې د کابل ښاريانو له خوا دوه ځله د ولسي جرګې غړيتوب ته غوره شوی و. خو اوس دغو ښاريانو او زده‌کوونکو هغه په لغته ووهه. څنګه چې ده خپل ځان د شوروي لويانو دلاس اله کړی و، هغه يوازنی ملاتړ يې هم له لاسه ورکړ، چې تر دغه وخته يې لاره. په دغه عمل سره په واقع

کې ټول پرچمیان متضرر شول. د قانوني پاچايۍ په لسیزه کې څه وخت چې چارواکو د دوی په فکر دموکراتیک حقونه تر پښو لاندې کول، دوی لاريونونه کول، بې له دې چې څوک يې مخه ونيسي. خو اوس سره له دې چې د دوی موقتي اساسي قانون مظاهرې مجاز ګرزولې وې، دوی هغه په وچ زور وځپلې او له مظاهره‌کوونکو نه يې ډېر د زده‌کوونکو په ګډون ووژل او بندي کړل. د میتروخین په وینا، پرچمیانو د دغو پاڅونونو په ځپلو کې په کابل کې د ک. ج. ب سروال جنرال ايوانوف په دستور عمل وکړ. دغو ځپلو وښووله چې شورويانو ټینګ عزم کړی و، چې کارملي رجیم د افغانانو له مخالفت سره سره پرې باندې تحمیل کړي. د کابل رجیم د شورويانو په قوت د خلکو دغه پاڅونونه وځپل، خو په دغه عمل سره يې ځان له خلکو نه تر دې حده بېګانه کړ چې يې د شوروي زبرځواک په زور هم ونه شو کولی چې هغه مقاومت وځپي چې له هغه وروسته په ټول هېواد کې د هغه او داسې هم د یرغلګر پوځ پر ضد وښوول شو. د کابل ښار هم مامون نه و، له دغو پاڅونونو نه وروسته هلته په تېره د هغه په لویدیځ برخو کې د شپې له خوا له پغمان نه د قومندان عبدالحق په سروالۍ ګوريلايي عمليات کېدل چې په پنځم څپرکي کې به يې بيان وشي.

## دربېیم څپرکی

# د پرچم رجیم،
# اسلامي تنظیمونه، ملي حرکت او پاکستان

**لومړنۍ خبرې**

پر افغانستان باندې د شوروي اتحاد یرغل افغانان وپارول او د پاکستان، ایران او عربي او غربي حکومتونه یې اندېښمن کړل. اندېښنه دا وه چې که شوروي اتحاد افغانستان لاندې کړو بیا به له هغه ځخه د خیز تختې په شان کار واخلي او د پارس خلیج له لارې به د تېلو انتقال ته خنډ واچوي او د لویدیځې نړۍ او جاپان اقتصاد به زیانمن شي. دغو حکومتونو افغانستان د شوروي اتحاد تر نفوذ لاندې هېواد او دغه یرغل نه دفع کېدونکی ګاڼه، فکر یې کاووه چې هغسې چې شوروي اتحاد د ختیځې اروپا هېوادونه لاندې کړي، او افغانان به ونه شي کولي چې دغه پوځ له خپل هېواد نه په وتلو مجبور کړي. نو دوی د شوروي اتحاد له خوا د افغانستان د لاندې کولو پروا چندان نه کوله. دوی دغومره هیله کوله چې که افغانان د خپل ملک په جبهو کې شورویان ګیر کړي او اقتصاد یې ضعیف او بین المللي اعتبار یې زیانمن کړي. خو د افغانانو غوڅ اکثریت زړ وښووله چې څنګه چې دوی خپل وطن، خپلواکي او اسلام ته ربښتیني دي، د یرغل د دفع کولو اراده او استعداد لري. بیا نو دغو حکومتونو او په خاص ډول امریکې او سعودي عربستان

افغان مجاهدانو ته او داسې هم پاکستان تـه چې پـه دغـې مقـابلې کې يـې د مخکې کربښې دولـت دريـځ غـوره کـړ، د وسـلو، پيسـو او لوجسـتکي څيزونـو پريمانه مرستې چالانې کړې. په همدغو مرستو سره وو، چې مجاهدان د ډول ډول عصري وسلو خاوندان شول او پاکستان پياوړی او تـر دې حـده د افغـان اسلامي تنظيمونو پـه چـارو کې ښـکېل شـو چې هغـوی يـې تـر نفـوذ لانـدې راوسـتل. د دغـو انکشـافاتو پـه نتيجـه کې افغـان سياسـت پـه يـوې خـوا کـې شوروي اتحاد او په بلې خوا کې پاکستان ته منحصر شو.

پـه دغـه څپرکـي کـې بـه د پـرچم رجـيم ترکيـب، د پرچميـانو او خلقيـانو خپلمنځي اړيکې او د يرغلګرو په وړاندې د افغانانو او باندنيو ځواب پـه نظـر او سياست کې وکتل شي.

# د افغانستان دموکراتیک جمهوریت

د شوروي اتحاد له یرغل نه زر وروسته د شوروي شویو پرچمیانو او شوروي شویو خلقیانو له ترکیب نه د ببرک کارمل په سروالۍ حکومت جوړ شو. د دغه نظام بڼه هغه وه، چې مځکې وه، غټ تفاوت د حکومت ساحه و ه، چې له پخوا نه ډېره وړه شوې وه او نوی رجیم له اول سر نه ښاري شو. له ښارونو او د هغو له شش کروهي نه اخوا اطرافي سیمې د مجاهدانو په ولکه کې وې. مجاهدان د شپې له خوا دننه په ښارونو حتی د کابل ښار کې هم ننوتل او پرچمیان او د هغو مرستندویان یې ترورول. د کابل پرچمي رجیم له ګوندیانو او د هغوی له مرستندویانو نه پرته د افغانانو غوڅ اکثریت ته مشروعیت نه لاره.

په افغانستان کې د عنعنې له مخې هر حکومت چې نوی پر پښو دریږي نظامي او ملکي لویان، روحانیان، او محلی مشران او نور یې په غونډو کې تاییدوي او د ولس له ملاتړ نه ورته ډاډ ورکوي او په دې ډول هغه ته مشروعیت ورکوي. د دغه رجیم لویانو دغه جرئت نه لاره چې مشران راوغواړي او له ملاتړ نه یې ځان بهره من کړي. د هغه پر ځای یې په رسمي خپرونو کې د هغو د مبارکي پیغامونه خپرول، خو هغه ټول جعلي وو. حکومتي تشکیلات د پخوا په شان منظم او د لوړو چارواکو القاب غټ وو. خو اعلی واک له شورویانو سره و، چې پوځ یې په افغانستان کې ځای پر ځای کړی و، د رجیم لویان یې په واک رسولي او د خپلو مشاورانو له لارې یې پرې حکومت کاووه. همدغه پوځ دننه په افغانستان کې دغه رجیم د هغه

له وسله‌والو مخالفانو او مجاهدانو نه ساته او د هغه د ټینګولو لپاره یې نظامي عملیات کول.

دغه رژیم د فورم او جوړښت له نظر نه د ختیځې اروپا د حکومتونو په شان و، چې د شوروي اتحاد حاکمیت یې منلی و. د «افغانستان دموکراتیک جمهوریت» د خلق دموکراتیک ګوند په لاس چلېده او انحصاري و. دا ځکه چې له «دموکراسۍ» نه د رجیم د چارواکو مطلب شوروي-پلوه یو ګوندي حکومت و، چې په هغه کې خاد (خدمات اطلاعات دولتي) تر ګوند نه ډېر واک درلود، لکه هسې چې په شوروي اتحاد کې ک. ج. ب تر هرې بلې حکومتي ادارې نه ډېره واکمنه وه. ددوی د «دموکراسي» بله ځانګړتیا دا وه چې د ګوند او حکومت د سر د کسانو د ماموریت نه ټاکلی و او نه یې انتخابي بنسټ لاره. په داسې حال کې چې د دموکراسۍ له مخې لوړ چارواکي انتخابي او د ماموریت موده یې محدوده وي او اعلی واک هم ویشلی وي، سره له دې هم ګوندیانو ادعا کوله چې د دوی نظام د دموکراتیک مرکزیت پربنسټ ولاړ دی. د دوی د دغې ادعا اساسي تناقض پروا نه کوله، چې په انحصاري نظام کې دموکراسي پیاده کېدلی نه شي، خو د دوی په یوه ګوندي نظام کې د د وی نوی اساسي قانون دموکراتیک شکل درلود او د بیان، فکر، غونډې کولو او مظاهره کولو ازادي پکې منل شوي وو، خو هغه په واقع کې یو بې مفهوم سند و، دا هغه قانون و، چې د امین په واکمنۍ کې جوړ شوی و او د کارمل په وخت کې رسمي شو. دغه قانون په اصل کې د شوروي اتحاد د ۱۹۳۶ کال د اساسي قانون په شان په نظر کې په ازادۍ او دموکراسۍ ولاړ و، خو د هغه هغه حقونه او واکونه پلي کېدل، چې د دولت یا رجیم په ګټه و. له همدې امله و، چې دغه قانون په ټولنې کې هیڅ اثر ونه کړ.

د د غې «تکاملي مرحلې» په نوي نظام کې ببرک کارمل د افغانستان خلق دموکراتیک ګوند مرکزي کمېټې د پولټبورو لوی منشي، د وزیرانو د شورا یانې د حکومت او دولت سروال او د پخوانۍ ویروونکې ادارې، اګسا، سروال اسدالله سروري د هغه مرستیال و. سیدمحمد ګلابزوی د کورنیو چارو وزیر، محمد رفیع د ملي دفاع وزیر او نجیب الله د خاد په نامه د پخوانۍ اګسا او کام سروال شو. ګلابزوی د «مامد» په نامه او رفیع د «نیروز» په نامه د ک. ج. ب ایجنټان وو. سروري او نجیب الله چې ک. ج. ب والو ته په خاص ډول منلي وو، په غالب احتمال هم د هغې ایجنټان وو. په خپله کارمل هم په کال **۱۹۵۷** کې د ک. ج. ب ایجنټي منلې وه، څنګه چې په ناکرار هېواد کې د امنیت خوندي کول او د نظام د مخالفانو ټکول ددوی ټولو غټ مسؤلیت و، دوی د نظام په چارو کې تر نورو وزیرانو نه دېر مهم وو. نور وزارتونه او موسسې چې په شمېر کې ډېرې وې، هسې تخنیکي ادارې وې، خو د لویو لقبونو پرخلاف چې دوی پرې یادېدل، لوړ واک له شورویانو سره و.

په کابل کې د شوروي اتحاد لوړ قومندان مارشال سرګي سوکولوف و، چې یې د شوروي سفیر او ک. ج. ب استازي اونورو په مرسته حکومت چلوه. دی اول د چهلستون په ماڼۍ کې او زر وروسته د مجاهدانو د فشار له امله دننه په ښار کې هستوګن شو. دوی د کابل رجیم چارواکو ته زحمت نه ورکاووه چې نوی سیاست وباسي او کړنلارې جوړې کړي. دغه کارونه و رته دوی کول. د رجیم وزیرانو او په خپله کارمل ته د مهمو موضوعګانو په اړه لیکلي شوې ویناوې ورکول کېدلې او دوی هغه په دغه ډول اورولې، چې لکه په خپله یې وي. د میتروخین په وینا «د ۱۹۸۰ کال په جولایۍ کې د مرکزي کمېټې د پلینوم لپاره ټولې ویناوې او پرېکړې د شورویانو له خوا برابرې شوې وې.» د دغو ویناوو تیارول زیاتره د ک. ج. ب د مېجر پاولوف او د

ک. ج. ب د باندنیو استخباراتو څانګې د یوه غړي دنده وه.

میتروخین وایي چې«د پولټبورو، د خلق ګوند د مرکزي کمېټې دارالانشاء او حکومتي غونډې د هماغه وخت د نظریو مبادلې وې او هیڅ پرېکړه کېدلی نه شوه. خو دا چې د شورویانو له خوا دمخه برابره شوې نه وي»[1] د مولف ارنلد په وینا «.... د ۱۹۷۹ کال په ختم سره د افغانستان خلق دموکراتیک ګوند نور نو پر افغانستان حکومت نه کاووه؛ د شوروي اتحاد کمونست ګوند کاووه.»[2] سره له دې هم کارمل د خپلواک افغانستان نارې وهلې. په داسې حال کې چې دی نه ازاد ګرزېدلی شو او نه یې په ازاد ډول عمل کولی شول. د ګرومیکو په وینا «په افغان مشرۍ کې د قوتونو پیوستون راغلی؛ دوی زیاتره وخت له مونږ نه مشوره غواړي؛ مونږ یې ورکوو؛ دوی څرګندونې کوي.»[3] دی په مشخص ډول وایي چې «ببرک له مونږ نه مشوره وغوښتله چې که دی دغه کنفرانس ته د ګډون لپاره لاړ شي، مونږ ورته مشوره ورکړه چې ښه دا ده چې د افغانستان له پولو نه اخوا نه شي» له دغه کنفرانس نه مطلب د اسلامي هېوادونو د سرانو هغه کنفرانس و، چې له یرغل نه زر وروسته په اسلاماباد کې کېده. د باندنیو چارو وزیر شاه محمد دوست له ګرومیکو نه په نیویارک کې چېرته چې دواړه په عمومي اسامبله کې د ګډون لپاره تللي وو، په دغه ډول هدایت وغوښته، چې لکه یو مرید یې له خپل پیر نه غواړي. «ایا زه د چین په اړه څه ووایم او که یې ووایم په کوم ظرفیت؟» ګرومیکو ورته هدایت ورکړ چې که د افغانستان په لور زیږه تومتونه او ډول ډول بدې اشارې کېږي، لازمه ده، چې هغه په غوڅه توګه رد شي... خو د چینایانو لپاره ننداره جوړه نه کړې او په یقین سره ټینګ ځواب ورته ورکړه.» د شاه محمد دوست بله **استهدا** دا وه چې «د هغو پروپاګندونو په اړه چې د بشري حقونو په اړه د امریکې او نورو لویدیځو هېوادونو له خوا کېږي، ایا زه په اوږد ډول د دغه

حقيقت په اړه ونه غږيږم چې په افغانستان کې د دموکراتيک جمهوريت نوی مشرتابه ټول سياسي بنديان د طبقې، دين، ژبې، قامولی، يا سياسي نظريو له ملاحظې نه پرته ازاد کړي دي؟» ګروميکو ورته شاباسی ورکړ چې «دا د افغانستان د دموکراتيک جمهوريت د حکومت له خوا يو معقول او مهم اقدام دی، ته بايد د هغه په هکله اوږد وغږيږې.»(۴)

د کارمل په هسک کولو سره د شوروي مشاورانو شمېر هم ډېر شو، تر هغه دمخه د شوروي ملکي او نظامي مشاوران په افغانستان کې ۳۵۰۰ تنه وو. په کال ۱۹۸۴ کې يې ټول شمېر د لس زرو په شاوخوا کې شو، چې ډېر يې له خپلو کورنيو سره د سفارت په شاوخوا يا په مکروريانو کې اوسېدل.(۵) د هر وزير لپاره دوه يا درې مشاوران ټاکل شوي وو. «هيڅ وزير يوه پرېکړه حتی يوه وړه هم بې له دې چې د شوروي پر هر ځای کې حاضر **سوري** سره مشوره وکړي، کولی نه شي.»(۶) د باندنيو چارو واقعي وزير، شاه محمد دوست نه، بلکې د ډېر وخت لپاره واسيلي سفرنچوک و. د جراردت په وينا دغه وزارت «ټول تيلګرامونه او رسمي سندونه بايد دوی ته وښودل شي او هيڅ څيز د يوه روسي له لاسليک نه پرته استول کېدلی نه شو.»(۷) په نورو وزارتونو کې هم همدغسې کېدل، لکه چې دمخه ويل شوي په خپله کارمل هم د پرېکړې کولو صلاحيت نه لاره. د مولف حسن شرق په وينا «رفته رفته صلاحيت های او به صحه ګذاشتن برطرفي و مقرري های بود که از طرف رياست خاد و رفقای بيوروی سياسی تحت نظر مشاورين شوروي ها پيشنهاد ميګرديد.» شوروي لويانو ته د کارمل متابعت به له دې امله و چې دی معتقد و چې «شوروی ها در پياده کردن سوشلزم و عدالت اجتماعی تجارب کافی چه در اسيا و افريقا و چه در اروپا و امريکای لاتين اندوخته اند، هر ګز در اجراات خود غلطی نخواهند کرد. حوصله داشته باشيد

بگذارید شوروی ها آمده اند تا کشور ما را بحیث نمونه در منطقه انکشاف دهند.»[۸] کارمل د کاتولیکي عیسویانو په شان چې معتقد وو دوی سر مشر پاپ غلطي نه کوي معتقد و، چې د شوروي مشاوران هم غلطي نه کوي. دی لا په چکوسلواکیې کې کمونستي لویانو په دغه فکر کړی و، چې د نړۍ پرمختګ د شوروي پوځ له امله دی. اوس چې دغه پوځ دی په افغانستان کې د دولت د سروالي مقام ته ورسوه د هغه عقیده پر روسي کمونستي لویانو باندې نوره هم ټینګه شوه. ده په دغه ډول په فکر او عمل کې وښووله چې عقیده سترګې ړندوي، غوږونه کڼوي، دماغ تېرباسي او انسان وژونکی کوي.

کارمل د دغې عقیدې له امله له دېنه عاجز و، چې درک کړي شوروي مشاوران عادي انسانان دي او د نورو انسانانو په شان دوی هم تېر وځي، په تېره هغه وخت چې د عمل ازادي ولري، لکه په نسبي ډول یې چې په افغانستان کې لرله. په دې اړه به دوه مثاله وړاندې شي. په هرات کې یوه شوروي مشاور د افغان ملت یو غړی چې په مرګ محکوم شوی و، له اعدام نه هغه وخت وژغوره چې مېرمنې ته یې د سرو زرو یوه غاړه‌کۍ ورکړل شوه. په کابل کې یوه روسي مشاور د دې لپاره چې په افغانستان کې یې د خدمت موده اوږده شي خپله مېرمن د کورنیو چارو وزارت د سروال غېږې ته وسپارله. بیا هم دغه مشاور په خپل مقصد ونه رسېد، سره له دې چې په دغه وخت کې شوروي مشاوران د خلقي رجیم له وخت نه د زیات صلاحیت خاوندان وو، د پرچم رجیم په وخت کې د خلقي دورې پرخلاف مشاورانو له ناوړتیا نه شکایت چارواکو ته نه رسول کېده. په ۱۹۷۸ کې یوه غیرګوندي وزیر ماته وویل چې ده په خپله کارمل ته د شوروي مشاورانو له ناوړتیا نه شکایت وکړ خو کارمل د دې پر ځای چې په دغه شکایت وغږیږي، ورته په دغه ډول لیکچر ورکړ چې «شوروي مشاوران پر خپلو ساحو کې ډېره وړتیا

لري او افغانان باید د دوی له اختصاصي مهارت نه ډېره ګټه وچته کړي.» په کابل کې دغسې شوروي مشاوران لږ نه وو، چې جرمني یا جاپاني ګړندي موټرونه لري. په داسې حال کې چې پر خپلو قانوني عوایدو د موټرو خاوندان کېدلی نه شول. یوه میخانیک چې په شوروي اتحاد کې د ورځې اته ګړۍ کار کاووه بیا هم د ښه ژوند خاوند کېدلی نه شو خو دغه میخانیک په افغانستان کې د «پاچا» په شان ژوند کاووه. مشاورانو د خلق-پرچم په کشالو کې یوه خوا نیوله، لکه د خلق په رجیم کې چې یې نیوله. د شوروي سرتېرو لپاره هم کابل یو ډېر ښه ښار و. دوی د ځینو ګزمه والو په شان د شپې بندیز په وخت کې هتمۍ وهلې، یا یې په رڼا ورځ خپل دولتي سامانونه پر افغانانو خرڅول. یو شمېر افغانان په څرخي پله ز ندان کې اچول شوي وو، په دې نامه چې له شوروي سرتېرو سره یې جنسونه مبادله کړي وو. شوروي سرتېرو د امریکایي سګرت رانیولو لپاره حتی د خپلو کلاشنکوفونو له ګولیو نه تېرېدل. دوی د لویدیځ او جاپان د خیالي څیزونو سخت لېوال وو. د هغو د رانیولو لپاره په کابل کې یې د موټرونو ټېرونه، او نورې پرزې په ارزانه بیه خرڅولې او افسرانو یې لا د پیسو په برابر کې ټانک لرونکي موټرونه له تېلو نه خالي کول.[۹] که شورویانو په خپل ملک کې ډاډمن ژوند لرلای او د ایډیال خاوندان وای هغه څه به یې نه کول، چې په افغانستان کې یې کول، خو د کارملیانو اصلي ستونزې په ګوند او حکومت کې له خلقیانو، په هېواد کې له مجاهدانو او په سیمه کې له نورو سره وې، دغه ستونزې دغومره درندې او پیچلې وې چې دوی یې له هوارولو نه عاجز وو.

# پرچميان او خلقيان
# د شورويانو تر سيوري لاندې

لکه چې دمخه ويل شوي اسدالله سروري، سيد محمدګلابزوی او اسلم وطنجار د تره‌کي او زرغوني خلقيانو په سروالی په مسکو کې له کارمليانو سره د امين د حکومت پرضد اول سره يو موټی شول او بيا يې د شوروي اتحاد له يرغلګر پوځ سره د افغانستان په لاندې کولو کې ملګرتوب وکړ. د اندروپوف په نظر دا د پرچم او خلق د ډله وړ يو موټی والی و، چې له امله به يې دوی په افغانستان کې د شوروي تر سيوري لاندې حکومت کوي. خو دغه يو موټی‌والی په واقع کې يوه موقتي معامله وه. په اصل کې خلقيان او پرچميان سره جوړ نه راتلل. خلقيانو د خپل حاکميت په وخت کې پرچميان دوه ځله سخت ځپلي او لويان يې د کارمل په ګډون اول په دبانـدې هېوادونو کې سفيران وټاکل او بيا چې پلويان يې په کابل کې په کودتا کولو تورن کړل، د افغانستان له تابعيت نه محروم کړل. کارمل او ملګري يې لا په دغه فکر شوي وو، چې امين غوښتل د دوی ګونډکی له منځه يوسي. اوس چې دوی د شوروي پوځ په قدرت په واک رسېدلي وو، په دې لټه کې شول چې خلقيان په تېره امينې خلقيان هغسې وځپي چې دوی يې ځپلي وو، خو دوی له دغه کار نه عاجز وو، يو دا چې دوی په پوځ کې د خلقيانو په اندازه قوي نه وو، هغه هم د جنګ په حال کې چې پوځ ته اړتيا وه، بله دا چې ځرنګه چې سروري، ګلابزوی او وطنجار د امين د حکومت په نسکورولو کې له شوروي

پوځ سره ملګرتوب کړی و، هغوی شورویانو ته منلي وو او د کارمل زور پرې نه رسېده. خو دوی ټول د اميني خلقيانو په ځپلو کې سره يو موټی وو او شورويانو په دغه کار کې ورسره مرسته کوله. د وزيرانو په ګډون اټکل دوه سوه اميني خلقيان بندي شول او د امين ورور عبدالله امين او د هغه وراره او زوم اسدالله امين او يو شو نور يې لا اعدام شول خو په حکومتي چارو کې بې تجربې پرچميانو ته ګرانه وه چې حکومتي چارې اجرا کړي. دوی د خلقيانو په شان زړور او رسک منونکي هم نه وو. په رښتيا هم کوم هغه پرچميان چې ما د پوهاند ډاکټر سيد بهاءالدين مجروح، رسول امين، حکيم تڼيوال او فاروق ساپي په ملګرتوب د يرغل په سبا د ښار او شاوخوا لويو سړکونو په غاړو کې ټوپک پر اوږه د پېرې په حال کې وليدل، ډنګر، خچن او اندېښمن ښکارېدل.

خلقيانو د شوروي په شتون کې هم پر پرچميانو رحم نه کاووه، سروري لا غوښتل چې کارمل او يو شو نور غټ پرچميان په عين مهال کې پر خپلو دفترونو کې په يوه کودتايي عمل سره له مينځ نه يوسي، خو دی پخوا له دې چې په دغه کار لاس پورې کړي مسکو ته وبلل شو. په دې اړه به نورې خبرې زر وشي. په دغه حال کې ګلابزوی له کار نه ايستل شوي خلقيان پر ځان ټولول او په خپل وزارت کې يې پر دندو ګمارل. په دې ډول د کورنيو چارو وزارت د خلقيانو لپاره يو ډول پناه تون شو او ګلابزوی د دوی ژغورونکی شو. دغه خلقيان پر کارمل دغومره انتقادي وو، چې هغه او پلويانو ته يې په وزارت کې حتی زما په مخ کې په لوړ اواز سپکې سپورې ويلې. له بلې خوا کارمليان په زيات شمېر په خاد کې ننوتل او خاد ته يې د شوروي مشاورانو په مرسته هغومره واک ورکړ، لکه په شوروي اتحاد کې چې ک. ج. ب ته ورکړل شوی و. د ميتروخين په وينا «کارمل او ملګري يې په ژور ډول

اندېښمن وو، چې نه پوځ او نه څارندوی د دوی په لاس کې دي. دوی داسې ګڼله چې خاد او د ګوندي فعالانو ځینې واحدونه د دوی د قدرت بنسټ وي.»[۱۰] بیا نو خاد د ک. ج. ب په شان یوه پیاوړې اداره شوه.

د خاد چارواکو په دستور د خاد فعالانو هم د شوروي او هم د رجیم مخالفان په ټولو ښارونو په تېره په کابل کې په بېلو نومونو او ډول ډول تورونو نیول او بندي کول. بندیان یې په کابل ښار کې په اتو ځایونو کې په تېره په ششدرک او صدارت کې د تحقیق په وخت کې سخت کړول. هلته د شوروي مشاورانو شتون هم ښه څرګند و، خو زه یې د بندي توب په پنځو کلونو کې په جسمي لحاظ کړولی نه یم. خو دغه رجیم د خاد له لارې بیخي ډېر افغانان بندي کړي او ډېر یې اعدام کړي دي. د ۱۹۸۲ کال په اخر کې چې زه یې له خپلو څو ملګرو استادانو سره د صدارت له نظارت خانې نه د څرخي پله زندان ته بوتللم، د دغه زندان په اوو بلاکونو کې اټکل دېرش زره افغانان بندي وو. بل کال(۱۹۸۳) د ډسمبر په ۲۳مه شپه د ۳۵۰ او ۴۰۰ ترمنځ بندیان د اعدام لپاره له خېرخانې نه اخوا د چمتلې دښتې ته یووړل شول. د یوه پخواني پرچمي چارواکي بندي په روایت د ۱۹۸۴ کال تر مې پورې د څه کم څلورو کلونو په موده کې د ۱۶۰۰۰ او ۱۷۰۰۰ ترمنځ بندیان په همدغې دښتې کې اعدام شوي دي. اعدام به له محاکمې نه وروسته و، خو محاکمه هسې په نامه وه او اقرار به په کړولو سره ترلاسه کېده. د خاد چارواکي پرچمیان او په خاص ډول کارملیان وو. خاد په ظاهر کې د امنیت ټینګولو او خدمت کولو اداره وه خو رجیم د هغې له لارې خپل مخالفان په خاص ډول ماوستان، اخوانیان، امینیان او داسې هم افغان ملتیان ځپل، ددې لپاره چې خپل ګوندي او انحصاري حاکمیت خوندي او ټینګ کړي، په دې ډول هغه د اکسا په شان یوه منفوره او ځپونکې اداره وه.[۱۱]

په لنډ ډول خاد پرچمیانو او د کورنیو چارو وزارت د خلقیانو لپاره د قدرت مرکزونه شول او ګوندي پیوستون بیا هوا وکړه، که څه هم کارمل د یرغل په درشل کې «.... لوړه کړې وه چې د خلقیانو د ملاتړو په اړه به خپل شخصي احساسات هېروي او یوازې دولتي ګټې به په نظر کې نیسي.»[۱۲] د ده او د سروري د ژمنې پر بنسټ و، چې اندروپوف او ملګرو یې لکه چې دمخه یې بیان شوی، په ډاډه ویلي وو چې «ټول پخواني اختلافونه له منځه وړل شوي او د افغانستان خلق دموکراتیک ګوند کې موجود درز له منځ نه وړل شوی دی. سروري د خلقیانو په استازیتوب او کارمل د پرچمیانو په استازیتوب سره د ګوند اخري یو موټی‌والی څرګند کړی دی.»[۱۳] دوی په مسکو کې په رښتیا ژمنه کړې وه، خو ورته رښتین نه وو، لکه د ثور کودتا دمخه یووالي ته چې رښتین نه وو، د دواړو یو موټی‌والی د شورویانو په هدایت شوی او ظاهري و.

له اسدالله سروري سره که څه هم په نوي رجیم کې د دوهم مقام خاوند و، دا وېره وه چې کارملیان به د خاد له لارې له ده نه هم غچ واخلي، لکه چې ده د اکسا له لارې پرچمیان ځپلي او بندي لویان یې د کشتمند په ګډون کړولي وو. کارملیانو لا دمخه د خلقي لویانو پر ضد تبلیغ پیل کړی وه، چې په هغه کې پوره ماهر وو. دوی چې له هغه نه د پخواني صدراعظم محمد هاشم میوندوال او حفیظ‌الله امین پر ضد پوره کار اخیستلی و، اوس یې غوښتل خلقي لویان، که څه هم ورسره یې اتحاد کړی و، بې اعتباره کړي. د سروري پر ضد یې ډېر تبلیغ کاووه او ویل کېدل چې «سروري څلور زره پرچمیان وژلي دي.» دوی دا هم ویل چې «پرچمیان ډله ډله په شپه کې له کورونو نه ایستل کېدل او بیا تر اوسه کورونو ته نه دي راغلي.»[۱۴]

لکه چې دمخه ویل شوي خلقیانو او د هغو لویانو هم پر پرچمیانو صرفه

نه کوله. سروري چې په اګسا کې د دسیسو او وژلو د طریقو متخصص شوی و، په دغه وخت کې هم د پرچمیانو پر ضد د کودتا په لټه کې شو او په دې هکله یې د زیري په مخ کې یو څو ملګرو ته وویل چې «کارمل او څو غټ پرچمیان به مړه کړو. شورویان بل څوک نه لري، بله چاره نه لري. مجبورېږي پر مونږ او تاسو باندې تکیه وکړي.»(۱۵) د دغې کودتا په اړه نور مالومات نه شته خو مطلب دا و، چې کارمل او څو غټ پرچمیان به په یوه و خت کې په دفترونو کې په یوه چټک او کودتایي عمل سره له مینځ نه یووړل شي. خو ده د ک. ج. ب شتون په نظر کې نه و نیولی. پخوا له دې چې یې په هغه لاس پورې کړی وي د ۱۹۸۰ کال په جون کې سروري د یوه لوړ پوړي پلاوي په ملګرتوب مسکو ته وبلل شو او هلته د اندروپوف له لیدلو نه وروسته منګولیا ته د افغانستان د سفیر په توګه واستول شو.

دنني ګوندي مبارزو کارمل ته موقوع ورکړه، چې هغو ته د شوروي اتحاد د کمونست ګوند له نظر نه وګوري. د هغه په نظر دا چې ګوند په عمل کې نه یو موټی کېده، په اصل کې د خلقیانو له امله و. د ده په اند ګوند به هغه وخت سره یو موټی شي، چې خلقیان وځپل شي. ده د شوروي اتحاد د کمونستي ګوند په اړه د ایران د تودې کمونستي ګوند هغه لیکچرونه لوستلي وو، چې بولشویکانو له خوا ټولې ګوندي ضد ډلې او مخالفتونه ځپل شوي وو. کارمل له هغو نه دغه نتیجه اخیستې وه چې «که د شوروي اتحاد د کمونست ګوند وکولی شول پخوا له دې چې انحصاری اتحاد ترلاسه کړي، ډېرې ډلې او ګوندکي وځپی، ولې د افغانستان خلق دموکراتیک ګوند له خلقیانو سره په هماغه ډول چلند ونه کړي؟ تر هغو چې همدغسې ونه شي. د افغانستان خلق دموکراتیک ګوند به هیڅ وخت یو موټی نه شي.»(۱۶) خو کارمل دا په نظر کې نه نیوله چې بولشویکي ګوند لوی او منشویکی ګوندګی

او نورې سیاسي ډلې وړې وي او بولشویکانو په خپل قوت کودتا کړې وه او پوځ او کارګران یې تر شاولاړ وو، او لینن په شان یې انقلابي مشر لاره. په دې ډول د پرچم ګوندګی له بولشویکي ګوندګي سره د پرتلې وړ نه و، او کارمل د شوروي پوځ په شتون سره هم له خلقیانو نه ویرېده او ویل یې چې «شوروي اتحاد د پرچمیانو ملاتړ کوي او د خلق پلویان دې په دې پوه شي، که هرې دلې د حکومت پرضد وسلې ته لاس واچوه هغه به د شوروي پوځ له خوا تر وروستي کسه پورې له منځ نه یووړل شي»(۱۷) کارمل په دې هم ښه پوهېده چې پر خپل سر حکومت کولی نه شي. ده یوازې شورویانو ته شکایت کولی شوی او ویل یې چې «تر هغو چې تاسې زما لاسونه تړلي ساتئ او نه مې پرېږدئ چې له خلقي ډلې سره [په ازاد ډول] چلند وکړم، د افغانستان خلق دموکراتیک ګوند کې به یو موټي‌والی نه وي او حکومت به پیاوړی نه شي. تر هغو چې خلقیان په ګوند کې وي، عضوي یو موټي‌والی امکان نه لري. دوی مونږ کړولي او وژلي یو، دوی اوس هم له مونږ نه کرکه لري. دوی د یو موټي‌والي دښمنان دي.» کارمل وار په وار د خلقیانو پر ضد کېده او نه «یوازې له دغه فکر څخه تېر نه شو، چې خلقیان له حکومت نه بېرون کړي، په خاص ډول یې غوښتل چې ګلابزوی، وطنجار، مزدوریار او داسې هم سروري موقوف کړي.»(۱۸)

جنرال ګل آغا، د پوځ سیاسي سروال لا ویل چې د خلقیانو او پرچمیانو ترمنځ پخلاینه ممکنه نه ده. د ده په فکر «خلقیانو د خلکو پر ضد جرمونه کړي دي او تر هغو چې کولی شي پټ کېدلی شي. خو دوی به یوه ورځ خپله حقه جزا وویني. په شوروي اتحاد کې خاینان او وژونکي وروسته له هغه چې جنګ پای ته ورسېد، محاکمه او محکوم شول؛ په افغانستان کې به هم همدغسې وشي.»(۱۹) خو اوس چې د شوروي مشاوران او د ک. ج. ب

چارواکي په ګوند او رجيم کې پوره ننوتلي وو، ورته مالومه شوې وه چې پرچميان سربېره پر دې چې قوي نه دي، تر خلقيانو نه ډېر د ګوند د يووالي پر ضد تبليغ او کار کوي. «د ۱۹۸۲ په مارچ کې سوکولوف او جنرال اخراميف په يوه راپور کې اوستينوف ته څرګنده کړه، چې نور، بريالی او ګل اغا د ګوند د يو موټيوالي او ګټو پر ضد کار کوي او دوی د کشتمند، نجيب الله او رفيع الله له ملاتړ نه بهره من دي. څنګه چې د دوی نفوذ مخ په ډېرېدو دی، دغه کسان په خاص ډول خطرناک دي او دوی زياتره وخت د شوروي مشاورانو سپارښتنې او نظريې له پام نه غورځوي او د منافقانو (Phariseec)په شان ټګماري کوي.» د مينروخين په وينا «دغو نظامي مشرانو نظر ورکړ چې دوی بايد له موجودو کليدي مقامونو نه ګوښه شي او د باندې واستول شي.»[۲۰]

خو شوروي لويانو په پورته سپارښتنې عمل ونه کړ. يوازې د ملي دفاع وزير محمد رفيع يې په ۱۹۸۲ کې د مسلکي کورس د لوستلو لپاره مسکو ته واستوه او پر ځای يې جنرال عبدالقادر وګماره چې د خيال محمد کټوازي په وينا له اول نه تر پايه پورې خلقی و. له همدې امله به وه چې د کارمل ورسره نه لګېده، که څه هم هغه د خلقي رجيم په وخت کې د کودتا په تور بندي شوی و. د هغه له مقرری نه اصلي مطلب دا و چې د پوځ خلقي افسران ډاډه وي او د زړه جنګ وکړي. دی د ګلابزوی په شان شوروريانو ته منلی و او سوکولوف د هغه په اړه ډاډ څرګند کړی و چې «عبدالقادر شوروي اتحاد ته وفادار دی او د شورويانو له امرونو يا د هغو له موافقونو نه پرته به هيڅ نظامي او سياسي حرکت ونه کړي»[۲۱] جنرال قادر د عثمان په نامه د ک. ج. ب ايجنټ و. البته له کارمل نه چې د رجيم سروال و، په دې اړه غټه توقع کېدله، خو هغه د تره کي په شان د عمل او فعاليت سړی نه و. ده چې

خپل ټول عمر له حریفانو سره په مبارزه کې تېر کړی و اوس دېته ډېر متوجه و چې «د هر ممکن حریف مخه ونیسي او په ګوند او دولت کې خپل دریځ ټینګ کړي» ک. ج. ب وال هم اوس په دې پوه شول چې هغه د مشرۍ وړ نه دی. «د ک. ج. ب د چارواکو په نظر دی د ګوند د مشرۍ وړ نه و، د پخوا په شان په خاصو پرچمي فکرونو کې نغښتی و او نه یې شو کولی چې د امین او تره‌کي د پلویانو ترمنځ توپیر وکړي» او داسې نور[۲۲] اخر خبره دېته ورسېدله، چې په کابل کې شوروي مشاوران پر خپل مینځ کې په کارمل ملنډې ووهي او ووایي چې «د یابو د تبدیلېدو وخت راغلی». له یابو نه مقصد کارمل و. سره له دې هم شورویانو بله چاره نه لرله. خو دا چې د هغه او د رجیم د پیاوړي کولو لپاره خپل کوښښونه جاري وساتي. بیا نو د خاد په پیاوړي کېدلو او نظامي کېدلو باندې نور هم لنګر واچول شو او کارمل د ۱۹۸۲ کال په مۍ کې د لویو افسرانو په یوې خاصې غونډې کې وویل چې «خاد د انقلاب د دښمنانو پرضد یو جنګي قدرت شوی دی.» د خاد چارواکي او فني کدرونه چې د ۱۹۸۰ کال په سر کې اووه سوه تنه وو، په ۱۹۸۲ کې ۱۶۶۵۰ ته ورسول شو، چې ۵۶سلنه یې ګوندیان او ۲۸ سلنه یې د ځوانانو د سازمان غړي وو. دغه خاد د خپلو ډېرو فعالیتونو په ډله کې «د ۱۹۸۱ کال له فبرورۍ دوه څخه تر فبرورۍ اتو پورې ۹۶۰۰ کورونه لټولي» او ۴۵۷۷عسکر ګریز ځوانان یې نیولي وو. خاد ۹۵۰۰ جاسوسان لرل.[۲۳]

خاد په پرچمي رجیم کې په خپل ډول ډول فعالیتونو سره هغسې بېساري پاروني وکړې، لکه چې اکسا د خلقي رجیم په وخت کې کړې وې. سره له دې هم شورویانو تر پایه پورې ونه شو کولی چې د پرچمیانو او خلقیانو اختلافونه له مینځ نه یوسي او هغوی په حکومت او پوځ کې سره متحد او د جهادي قومندانانو په وړاندې سره یو موټی کړي. په دغه حال کې شورویان

مجبور وو، چې په نظامي عملیاتو کې غته برخه واخلي.

# د شوروي اتحاد يرغل او پاکستان

لکه چې دمخه ويل شوي د شوروي له يرغل نه دمخه يو شمېر افغانان او هم يو څو تنه تنظيمي لويان پېښور ته اوښتي وو، خو هغوی د خلقي حکومت په وړاندې د کوم حکومت له فعال او برالا ملاتړ نه بهره من نه وو. يوازې د امريکې ولسمشر جمي کارتر د پاکستان دولتي مشر جنرال ضياءالحق په هڅونې له افغان مجاهدانو سره د ۱۹۷۹ په جولايی کې د پټې مرستې ورکول منلي وو، خو هغه د څه باندې نيم مليون په اندازه او د غير نظامي څيزونو لپاره و.(۲۴) امريکې نه غوښتل له افغان مجاهدانو سره د برالا او نظامي مرستې په ورکولو سره د شوروي حکومت وپارول شي. ضياءالحق لا سره له دې چې د کمونزم ټينګ مخالف او د مجاهدو ټينګ پلوی و، له خلقي حکومت سره د هغو په اړه خبرې رواني کړې وې او په دې اړه پرمختګ هم شوی و، خو هغه د شوروي په يرغل سره پر ځای ودرېدلې.

د شوروي اتحاد يرغل دغسې حال رامنځ ته کړ چې د کارتر په نظر «شوروي اتحاد د نړۍ په دغسې برخې کې ستراتيجکي وضع په خطرناک ډول اړولې ده. ...هغه د پارس خليج د ټېلو حياتي منافع د شوروي د هوايي ضربې په حدود کې راولې؟ په ستراتيجکي موقع کې پروت د پاکستان هېواد ترټي او په ايران او د منځني ختيځ پر نورو هېوادونو باندې د شوروي د فشار احتمال زياتوي»(۲۵) ضياءالحق له بل اړخ نه هم اندېښمن و. د هغه په فکر افغانستان به د شوروي اتحاد په قوت اسلام او په خاص ډول پاکستان او د هغه اسلامي هويت ته خطر پېښ کړي. پاکستان به د افغانستان له خوا په

کمونزم او د هندوستان له خوا په هندویزم سره محاصره شوی وي.

پرته له هغه هم د پاکستان لویان تل د خپل هېواد د امنیت او هویت په اندېښنه کې وو. ضیاءالحق په داسې حال کې چې ختیځ پاکستان کلونه دمخه د هند په ملاتړ له پاکستان نه د بنګله دېش په نامه بېل شوی و، د شوروي په یرغل سره یې د هېواد بشپړتیا ته هم خطر لیده. افغانستان که څه هم د پاکستان په اندازه پیاوړی هېواد نه و خو د هغه له هغه ملاتړ نه په ویره کې و، چې د پښتونستان او بلوڅو له داعیې نه یې کوله. په دغه حال کې ضیاءالحق د امریکې د نظامي او اقتصادي مرستو د جلبولو لپاره د ستراتیجي او امنیت موضوع ټینګه ونیوله. په دغې موضوع کې نه یوازې امریکا، بلکې نور لویدیځ هېوادونه هم ورسره یو کېدل. ضیاءالحق ته ښه موقع هغه وخت برابره شوه، چې په امریکې که د جمهوریت غوښتونکي ګوند کاندید رانلډ ریګن، د ۱۹۸۰ په نومبر کې په ملي انتخاباتو کې او مارګرېټ ته چې د برتانیې د محافظه کار ګوند مشره وه، په انتخاباتو کې د حکومتونو سروالان شول. دواړه د شوروي د وړاندې تګ او د هغه د دغه یرغل په وړاندې د فعال چلند پلویان وو، له بلې خوا افغانانو د ریګن د ولسمشر کېدلو تر وخته د شوروي پوځ او د هغه د تابع رجیم په وړاندې مخالفت په بېلو بېلو ښوولي وو. لکه چې دمخه ویل شوي مجاهدان د کابل ښار او د ولایتونو د مرکزونو شاوخوا سیمو نه پرته پر ټول افغانستان مسلط شوي او دوی د کابل له پاڅونو نه وروسته حتی په ښارونو کې هم د کابل ښار په ګڼو د جولایي تر میاشتې پورې هره ورځ له لسو نه تر دوولس تنو ګوندیان او حکومتي چارواکي ترور کول.

په بله ژبه افغان مجاهدانو د ریګن تر هسکېدلو پورې ښوولې وه چې د شوروي د یرغلګر پوځ په وړاندې د دوی اراده د وطن او اسلام نه د دفاع په

لارکې تېنګه او خلل نه منونکې وه. خو عمومي فکر دا و چې د دوی لپاره به ګرانه وي چې د پاکستان له بې دربغه ملاتړ نه پرته به په اغېزناک ډول دفاع وکولی شي. د امریکې د باندنیو چارو وزیر جارج شولتز د ۱۹۸۲ په ډسمبر کې ولسمشر رېګن ته لیکلي وو، چې «مونږ باید په یاد ولرو چې افغان مقاومت د ضیاء له ملاتړ نه پرته مړ دی، [په داسې حال کې چې دغه مقاومت] د دې لپاره چې شورویان په خپلې افغان ماجرا کې قیمت تادیه کړي، کلیدي اهمیت لري.»[۲۶] تر هغه د مخه برېژنسکي لا ویلي وو چې «افغان جګړه به په څلورو یا پنځو میاشتو کې سره شي.»[۲۷] ده دا هم ویلي وو چې «... مونږ شورویان اړ کولی نه شو له افغانستان څخه ووځي.» ولسمشر کارتر هم په همدغه فکر و.[۲۸] دوی به ځکه دغسې ګڼله چې د ختیځې اروپا له لاندې شویو هېوادونو څخه نه چا شوروي پوځونه بېرون کړي وو او نه لویدیځو هېوادونو د امریکې په ګډون په دې اړه کوم اغېزمن کار کړی و او افغانستان خو لا د شوروي اتحاد چم ګاونډی هېواد و. هر څه چې و، دوی د باندنیو نامسلمانو یرغلګرو په وړاندې د افغانانو د هغه احساس درک کولی نه شو، چې دوی د خپل پلارني هېواد او اسلام په اړه لاره. ضیاءالحق هم ویلي وو چې دا به معجزه وي چې شوروي پوځ له افغانستان څخه ووځي، خو هغه د افغانانو د دفاعي ارادې درک کولی شو. لکه چې د ۱۹۸۲ کال د ډسمبر په اوومه یې په واشنګټن کې رېګن او د هغه لوړ پوړو چارواکو ته ویلي وو چې «...افغان ځوانان به د شوروي یرغل په وړاندې جنګ وکړي او که ضرور شوه په تش لاسونو.» دی ځکه په دغه نظر و چې «شورویان د دریو کلونو په بهیر کې [یوازې] پر ښاري سیمو باندې کنټرول لري او د افغانستان د پنځلس ملیونو وګړو څخه دریمه برخه یې کډوال شوي دي»[۲۹] د غوربند یوه ولسي سړي هم انګلیس جورنلست

مارتن ته همدغسې ویلي وو: «زما ملګریه دا مهمه نه ده چې د اروپا او امریکا خلک د افغانستان په اړه چندان پروا نه کوي، مونږ که د تاسې مرسته وي یا نه وي، له روسانو سره جنګ کوو»(۳۰)

ضیاءالحق د افغانانو د همدغې ټینګې ارادې او پاکستان ته د شوروي د خطر له امله و، چې د شوروي په وړاندې خپل هېواد د مخکښې کرښې دولت وګرځوي او په دې کوښښ شي چې له امریکې او نورو هېوادونو نه د پیسو او وسلو مرستې ترلاسه کړي. په دې ډول پاکستان د دوهم ځل لپاره د شوروي اتحاد په وړاندې هغسې ټینګ دریځ غوره کړ لکه چې دبرش کاله دمخه تر هغه یې د ولسمشر ایزنهاور په وخت کې غوره کړی و.

د یادولو وړ ده چې د پاکستان او امریکې ترمنځ د موافقې په اړه لومړنۍ خبرې له نظامي او استخباراتي لارې وشوې، نه د معمول په شان د باندنیو چارو د وزارت له لارې. اغاشاهي، د پاکستان د باندنیو چارو وزیر مخالف و، چې امریکا دې د پارس په خلیج کې شتون ولري، په دې چې د هغه په فکر چې «که افغانستان د شوروي-امریکې په جنګ کې مرکز وګرځېد، هغه به زمونږ د ګټو پرخلاف تمام شي، ځکه چې بیا به هیڅ ډول فیصله شونکې نه وي او روسان به زر یا وروسته زمونږ پر خلاف عمل وکړي»(۳۱)

له بلې خوا ویلیم کیسي، د امریکې د سي‌آی‌اې سروال په دې فکر و، چې «مونږ غوښتل د [مقاومت] ټولې ډلې ښکېلې کړو [که څه هم] مونږ د هغو تنګه لار نه غوښتله». هغه دا هم ویلي وو چې «کیسې هغه څه غواړي چې ممکن مذهبي مقاومت وبلل شي. پاکستان خپل کسان غواړي؛ په دغه اړه یو کړکیچ و، خو هغه زمونږ لپاره مهم نه و.» کیسې او ملګرو ته یې دغه موضوع هغومره مهمه وه چې له پاکستان سره یې د مرستې کولو په موضوع کې د دغه هېواد اټومي پروګرام چې پرمخ بېول کېده او داسې هم د نیشه یې

موادو پروسه کول تېنګ ونه نیول. البته ضیاءالحق هم ټینګار کاووه چې پاکستان ته مرسته باید بې له شرط او قید نه وي.

د دغې موضوع په اړه اول د امریکې نظامي او استخباراتي چارواکو د ۱۹۸۱ کال په مې کې له ضیاءالحق سره په پټه ولیدل. له هغه وروسته د امریکې د ملي امنیت شورا مرستیال مک فارلین او د امنیتي مرستې د باندنیو چارو د وزارت مرستیال اسلاماباد ته لاړل او هلته یې په یو توافق لیک کې ومنله چې امریکا به پاکستان ته په شپږو کلونو کې یو نیم ملیارډ ډالر نظامي او یو ملیارډ او اووه سوه ملیون ډالر اقتصادي مرسته ورکوي، چې په هغو کې به د ایف-۱۶ څلوېښت جنګي الوتکې هم وي. د یادولو وړ ده چې دغه مرسته له هغې مرستې نه ډېره ده، چې کارتر منلې وه او ضیاءالحق هغه د «موم پلي» په نامه رد کړې وه. د موافقې اعلام اغاشاهي وکړ او هغه په یوې مطبوعاتي مرکې کې څرګنده کړه چې دغه موافقه به پاکستان له دېنه وانه ړوي چې «د خلیج سیمه یوه ناپېیلې سیمه وګرځوي، د هر زبرځواک له شتون نه ازاده.» جنرال ضیاءالحق او نظامي جنرالان په موافقې کې د دغو جنګي الوتکو په نیولو سره خوښ وو او د اغاشاهي دریځ یې مهم نه ګاڼه او هغه یې څنډې ته کوه، تر څو چې هغه لکه دمخه چې ویل شوي له کار نه لاس واخیست[۳۲] د امریکې حکومت د دې لپاره چې د شوروي په وړاندې د خپل دغه متحد اقتصاد او دریځ ښه پیاوړی کړي، په کال ۱۹۸۶ کې دوهمه مرسته د شپږو کلونو لپاره د څه باندې څلور ملیارډ ډالر ورته تخصیص کړ.[۳۳] پر دغو مرستو سربېره امریکې پاکستان ته خپل پخواني نه تادیه شوي پورونه هم وبښل او ځینو نورو لویدیځو او غربي هېوادونو هم ورسره پولي مرستې پیل کړې. داسې هم د امریکې په هڅونې سره پاکستان له هغو عربي امارتونو سره چې د **پټرو** ډالر خاوندان و، امنیتي قراردادونه وکړل او په بدل کې یې

نورې پيسې ترلاسه کړي. په همدغه مرستو او عايدونو سره په پاکستان کې د اقتصادي انکشاف يوه نوې دوره پيل شوه.[۳۴] په داسې حال کې چې د ضياءالحق له کودتا نه وروسته د پاکستان اقتصادي وضع مخ پر خرابيدو وه. په نتيجه کې پاکستان د اعتبار خاوند شو. په تېره چې د امريکې او عربستان پولي مرستې افغان اسلامي تنظيمونو ته د هغه له لارې رسيدلې او په دې ډول پاکستان دغه تنظيمونه تر خپل نفوذ لاندې کړل او نظامي چارواکو يې د پاکستان د مصونيت او خونديتوب لپاره د ستراتيجکي ژورتيا په نامه پخوانۍ طرح ټينګه ونيوله او په نورو ملکونو کې يې د اسلام په نامه د خپل نفوذ د خپرولو خوبونه وليدل. دغه ټول ټکي به زر وکتل شي او اوس به افغان اسلامي تنظيمونه او له هغو سره د مرستې موضوع وکتله شي.

# افغان اسلامي تنظیمونه

افغان اسلامي تنظیمونه د مرخېړیو په شان سمله لاسه ته‌وکېدلي نه دي؛ دوی هم د ورته موسسو په شان تاریخي مخینه لري، چې لنډیز به یې په دې ډول بیان شي.

په افغانستان کې لکه په نورو اسلامي هېوادونو کې، د سیاسي اسلام حرکت د ټولنې د عصري کېدلو او مدني کېدلو په وړاندې غبرګون و، چې د محمد داود د صدراعظمۍ په دوره کې پیل شوی او د قانوني پاچايۍ په وخت کې ښه پراخ شو په دواړو دورونو کې اقتصادي او اجتماعي او پوهنیزې پروژې پرمخ بېول کېدلې او په ژوند کې له اوږدې مودې وروسته غټ حرکت محسوس شو. دغسې حرکت چې افغان ټولنه یې له عنعنه ییز حال نه د عصري کېدلو په لور روانه کړه. په دغه انتقالي پړاو کې د تعلیم کړو افغانانو په لیکو کې دغسې ځوانان هم هسک شول چې د ایران د تودې او د چین او شوروي کمونستي ګوندونو له ادبیاتو نه متاثر شوي وو او د چپیانو او کمونستانو په نومونو یادېدل. د دوی په وړاندې اسلام پال افغانان یا اسلامستان ودرېدل، په دغه مقصد چې ټولنه له کمونزم نه وژغوري او په افغانستان کې سوچه اسلامي نظام پر پښو ودروي. د دواړو حرکتونو پلویانو د ټولنې او نظام پر لاره سره متناقض فکرونه لرل، هیڅ خوا د بلې خوا زغم نه کاووه. دا چې د عصري کېدلو پروژې ډېره حده د شوروي اتحاد په مرسته او د هغو د متخصصانو له خوا پلي کېدلې، دغه مقابله یې نوره هم زیږه کړه، هرې خوا ټول غوښت یا هیڅ، په نتیجه کې افغان ټولنه د سره متناقضو ایډیالوجي ګانو د فکرونو ډګر شو، چې پر افغان سیاست او افغانانو پر ژوند

یې ژوره اغیزه وکړه.

# اسلامي سياسي فکرونه

هغسې چې يو شمېر تعليم کړي ځوانان په خاص ډول د قانوني پاچايۍ په ازادۍ فضا کې د کارل مارکس او ولادمير لينن له فکرونو نه متاثر شوي او مسکو پلو حرکت يې تنظيم او پياوړی کړی و، داسې هم يو شمېر نور د اسلامي سوچوالو تر اثر لاندې تللي او په اسلامي تنظيمونو کې ننوتلي وو. د افغانستان د شلمې پېړۍ د دوهمې نيمايي تاريخ په زياته اندازه د دغو متناقضو حرکتونو ترمنځ د مقابلې داستان دی. دلته د اسلامي حرکت د يو څو سوچوالو د فکرونو لنډيز وړاندې کېږي چې د افغانستان پر اسلامي حرکت يې په ژور ډول اثر کړی دی.

اسلامي حرکت د ټولنې او دولت د تنظيم يا له سره تنظيم په برخه کې د عراق د ابن تيميه (۱۲۶۸-۱۳۲۸) فکرونو او کړو څخه اغيزمن دي، چې اساس يې قران مجيد او نبوي ويناوې او سرمشق يې د مدينې امه يا لومړنۍ سياسي اسلامي ټولنه وه. ابن تيميه په هغه وخت کې چې مغلان پر اسلامي نړۍ باندې لاس بري وو او د شريعت پر ځای يې له ياسا يا له خپل مغلي قانون نه کار اخيسته، چې د هغه يانې د ياسا له مخې د نظام ستر واکمن د چنګيز خان له کورنۍ نه و، نه د شريعت له مخې چې هر مسلمان ورته غوره کېږي. ابن تيميه له خپلو فکرونو نه يو نوی ترکيب جوړ کړ او دين او دولت يې نور هم سره وتړل او پر مغلو باندې يې د «کاپر» او «مشرکو» حکم وکړ، که څه هم هغوی په دغه وخت کې مسلمان شوي وو، داسې هم هغه نړۍ د دارالحرب او دارالاسلام ترمنځ وېشلې وګڼله او د مرتدانو او کاپرانو پر ضد

يې جهاد روا وباله.[۳۵]

ابن تيميه وروستيو سخت دريځو اسلامي سوچوالو ته سرمشق شو. محمد ابن عبدالوهاب(۱۷۰۳-۱۷۹۱) په عربستان کې د مؤحدانو يا سفليانو او په عامه ژبه د وهابيانو په نامه حرکت او ډېر وروسته د ښوونځي ښوونکی حسن البنا(۱۹۰۶- ۱۹۴۹) په مصر کې د اخوان المسلمين په نامه حرکت پيل کړ او ابوالعلي مودودي (۱۹۰۳-۱۹۷۹)، سيد قطب(۱۹۰۶-۱۹۶۶) او نورو د ټولنې، دولتي نظام او جهاد په اړه ګرد سره سياسي اثرونه وکښل چې د هغو له امله د هغو حرکتونه په سياسي اسلام او پلويان يې په اسلامستانو ياد شول. د يادولو وړ ده چې د دوی په وخت کې اسلامي نړۍ له لويديځې نړۍ نه نه يوازې په زراعت،صناعت، سوداګرۍ، عصري پوهنځي، او ساينس او ټکنالوجۍ کې وروسته پاتې وه، وروستۍ وربانډې په نظامي او سياسي لحاظ غالبه وه. حسن البنا لړو ډېر د سيد جمال الدين افغان (وفات۱۸۹۸) او د هغه نامتو مصلح شاګرد محمد عبده (۱۹۰۵-۱۸۴۹) د اعتدال لار نيولې وه. په دې ډول چې اسلامي ټولنه به د شرع په چوکاټ کې د لويديځ له ساينس او ټکنالوجۍ څخه کار اخلي او اجتهاد به کېږي. د دې لپاره چې شرع له عصري ټولنې سره اړخ ولګوي، هغه لا لويديځ ډول انکشافونه د وطنپالنې، نيشنلزم او دموکراسۍ په نومونو منلي و او ورته يې مشروطه اسلامي بڼه ورکړې وه. د اخوان المسلمين حرکت د هغه په مشرۍ ډېر پياوړی شو، خو هغه د ده له وژل کېدلو نه وروسته ټوټه ټوټه شو. سره له دې هم د هغه د فکرونو له مخې په هر اسلامي هېواد کې، د افغانستان په ګډون، د اخوان ټولنې هسکې شوې.

ابوالعلی مودودی چې د هند له وېش نه دمخه په ۱۹۴۱ کې د جماعت اسلامي تنظيم بنسټ ايښی و، په دې فکر و چې ټول عصري مدنيت په درېيو

مفکورو بانـدې ولاړ دی. نېشـنلزم، سـیکولرزم او دموکراسـي. او هغـه دغـه مفکـورې د اسـلام مخـالفې ګڼلې. خـو دی د هنـد د وېش پـه وخـت کې د مسلمانانو په وېشل کېدلو سره له هند نـه پاکسـتان تـه کـډوال شـو، او هلتـه د واقعیتونو په فشار له خپل اصلي فکـر نـه واوښـت او بیـا د پاکسـتان پـه وېش سـره د پاکسـتان د ملي دولـت تـر شـاودرېد. سـره لـه دې پـه دې فکـر و چې اسـلامي دولـت «بایـد یـوازې هغـوی وچلـوي چې پـه [اسـلامي] ایـډیالوجۍ باندې عقیده لري.» او «اسلامي دولـت چلوونکی بایـد هغـوی وي چې ټول عمر یې د دغه قانون[شریعت] په رعایـت کولـو او نافـذ کولـو کې تېـر کـړی وي، هغوی چې د هغه له اصـلاحي پروګـرام سـره جـوړ او پـه ټولـه مانـا پـرې عقیده ولري؛ د هغه روحیه درک کوي او له جزیاتو سره یې اشـنا وي.» دی دا هم وایي چې «هر هغه څوک چې دغه پروګرام مني، فرق نه کوي چې پـه هـر نژاد، او ملیت پورې اړه لري، په هغې ټولنې کې ګـډون کـولی شـي چې دغـه اسلامي دولت چلوي او هغوی چې یې نه مني، حـق نـه لـري د دغـه دولـت د اساسي سیاست په جوړولو کې ونډه ولري.» په دې ډول د یوه اسلامي دولـت غیر مسـلمان تبعـه بـه د دولـت لـه چلولـو نـه محـروم وي او د یـوه بـل هېـواد مسلمان به پکې برخه لري. د ده په فکر دغه اسلامي دولت به نور هم محدود وي، په دې چې د هغه په فکر ښځې بـه یـې پـه چلولـو کې پـه طبیعـي لحـاظ ونډه ونه لري. د ده په فکر ښځې په طبیعي لحاظ د دې وړتیا نه لـري چې لـه کور نه د باندې په ټولنه کې فعال رول ولوبوي. هغوی یـوازې د کـورنۍ چـارو لپاره وړتیا لري. په دې ډول د مودودي اسلامي دولت به د ښځو په بې برخې کولو او د نارینه وو په محدودکولو سره په ترکیب کې محـدود خـو پـه وظیفـه کې عالمي وي. څنګه چې دغسې دولـت بـه د شـرعیت او اسـلامي قـانونو لـه مخې چلېږي، چې سرچینه یې الاهي ده، هغه په «تیو-دموکراسي» دولت یـاد

شوی دی.

د مصر سید قطب د حسن البنا په شان د ښوونځي ښوونکی و، په لوړې زده‌کړې سره یې د امریکې د کاله راډو په دولتي پوهنتون کې په پوهنه کې د ماسټرۍ شهادتنامه ترلاسه کړې وه. دی تر دغه وخته په فکر او سلوک کې اعتدالی و، خو له هغه وروسته سخت دریځی انقلابي شو. ده ډېر اثرونه وکښل چې په هغو کې یې معالم في الطریق (د لارې نښې) او د قران مجید تر سیوري لاندې ډېر اغیزمن ثابت شوي دي. په هغه وخت کې چې په مصر، عراق او سوریې کې دین د سوشلزم، نیشنلزم، دموکراسي او په خاص ډول د مصر د ملي سوشلزم تر سیوري لاندې کېده، ده پر خپلو اثرونو کې دغه فکر وړاندې کړ چې انسان خپلې لوړې چارې په خپله سمولی نه شي. دی خپل علاج په قران مجید کې موندلی شي. ده د اسلامي نړۍ په وړاندې غیر اسلامي نړۍ لیدله او ویل یې چې مشرکان، منافقان، یهودان، عیسویان، سیکولر واکمنان، کمونستي او پانګه وري طرزونه ټول د اسلام پرضد دسیسې کوي. په دې ډول ده هم د ابن تیمیه په شان ټولنه په دوه مخالفو کامپونو سره وېشله: د نېکۍ قوتونه، د بدۍ قوتونه، حزب الله، حزب الشیطان. د ده په اند منځنۍ لاز نه شته. خو ده دا هم ویل چې اسلامي قانون د اوسنیو خوځنده ټولنو اړتیاوې پوره کولی نه شي او باید له سره تعبیر شي، چې مانا یې اجتهاد کېده. د مودودي په شان دی هم د دموکراسۍ مخالف و، چې خلک د واک سرچینه ګڼي. د دوولسمې سورې د څلوېښتم ایت «ان الحکم لله» پر بنا چې وایي «حکم یوازې په الله پورې اړه لري». سید قطب دغې پایلې ته رسېدلی و، چې خلک حق نه لري د واکمنۍ خاوندان وي. دوی دې بس هغه څه پلي کوي چې خدای تعالی په خپل واک سره قانونونه ګرزولي دي. دی دا هم د نارینه دنده ګڼي او ښځې په کورونو کې مېرمن

کېدلو او مور کېدلو ته بولي.

سید قطب د رایې حق، ازادي او دموکراسي تش لفظونه ګڼل او په دې فکر هم و، چې پانګه ور لېږه‌کیان، د قانون، مطبوعاتو، پارلمان او نورو له لارې ډېره‌کیان تېر باسي، نو د ده په فکر په دغه حال کې خلک خپل حقونه خوندي کولی نه شي، خو دا چې د خدای تعالی قانون ته مخه وکړي. د شلمې پېړۍ پنځمې لسیزې په پای کې دی په دې فکر شو چې خلک د حکومت په وړاندې تنظیم کېدلی نه شي او پر خلکو باور هم کېدلی نه شي، ځکه چې هغوی د عامه رسنیو په عصر کې په اسانۍ تر اغیزې لاندې کېږي. سیدقطب په دې فکر و چې «لازمه ده اسلامي ټولنه بېرته په غورځنګ شي،... چې د فاسدو قانونو او رواجونو تر وزن لاندې شوې، او له اسلامي تعلیمونو سره یې ډېر لږ تړاو هم نه لري.» د ده په نظر د دې لپاره چې «اسلامي ټولنه بېرته په غورځنګ شي» دولتي واک باید ترلاسه شي، خو دغه واک د انتخاباتو له لارې ترلاسه کېدلی نه شو او سید قطب هم دغه لار نه وهله او جمال ناصر د لارې خنډ هم و، دی بیا دغې نتیجې ته ورسېد چې څنګه چې اسلام په خطر کې دی د «اسلامي نظام» د راوستلو لپاره جهاد یوازنۍ لار ده او جهاد هغه وخت فرض کېږي چې اسلامي اصلونه تر پښو لاندې وي، په داسې حال کې چې جهاد هغه وخت اعلامېده چې اسلام او اسلامي ټولنې ته به د کاپرو له خوا خطر پېښ شو، هغه هم په هغه حال کې چې اولی الامر به د هغه اعلام کاووه، خو د سید قطب لپاره جهاد سیاسي شو لکه چې وایي چې «دښمن بې وسلې شي، تر څو اسلام ازاد وي او خپل شرعیت جاري کړي. بې له دې چې د بت لمانځونکو په خپل فکر حاکمانو ځپونکي قدرت یې مخه ونیسي.» خو څنګه چې د هغه په نظر پر وګړو باندې باور کېدلی نه شي، جهاد به «معتقدانو یوه ټېنګه ډله»(عصبه مومنه) کوي چې

هغه «انتخابي خاصانو» یا دغسې حرفوي انقلابیانو ته محدوده وي چې خپل ټول ژوند یې د یو خاص مقصد لپاره ځانګړی کړی وي. د دغو انقلابیانو مبارزه یوه بل لیکوال په دې بڼه ښودلې وه. «لومړی د خلکو یوه ډله دغه عقیده مني، تر هغو چې د هغې د غړو په زړونو کې ځای ونیسي؛ بیا دغه ډله خپل ژوند د همدغې عقیدې پربنسټ تنظیم کوي او د شاوخوا جاهلي ټولنې له خوا زوروله کېږي؛ بیا هغه له دغې جاهلي ټولنې څخه بیلېږي او ورسره برالا مقابله کېږي، بیا هغه که خدای کول پوره بریالی کېږي، یا یو څه بریالی کېږي یا ماتېږي.»

د سید قطب په نظر دغه ټینګ انقلابي لړه‌کیان به خپل ټول دستورونه یوازې له سرچینې نه ترلاسه کوي، چې هغه قران مجید دی، او ده هغه ټول په یاد کړی و. دی وایي چې «زمونږ لپاره حتمي ده چې د خپل ژوند مفکوره د حکومتونو سیاست، اقتصاد او د ژوند ټولو اړخونو په اړه له هغه څخه اصول وباسو» ځکه چې «زمونږ لومړی مقصد دا دی چې د خپلې ټولنې تمرین بدل کړو.... خپل جاهلي سیستم له بنسټ نه واړوو، دغسې سیستم چې له اسلام سره ګرد سره مخالف دی، چې په خپل زور او ځپلو سره مونږ نه پرېږدي په هغه ډول ژوند وکړو، چې زمونږ خالق یې غواړي». د دې لپاره چې د ټولنې «تمرینونه» بدل شي، دولت باید د دغسې کسانو په لاس وي چې په همدغه فکر وي او عمل پرې وکړي. سید قطب وغوښتل چې په دې اړه هم سرمشق وي، له زندان د ازادېدلو په دوهم کال کې له خپلو پټو انقلابي ملګرو سره په دې لټه کې شو، چې د جمال ناصر سوشلستي حکومت په زور نسکور کړي، خو پخوا له دې چې په کودتا لاس پورې کړي، ونیول شو او د ۱۹۶۶ کال په اګست کې اعدام شو.[۳۶]

سید قطب په اسلامي نړۍ کې تر مودودي او نورو نه ډېر لوستونکي لري

او نظرونه او کړه يې د هغه د پلويانو لپاره سرمشق شوي دي. خو پلويان يې تر اوسه هم بريالي شوي نه دي، چې د هغه د نظريو پر بنسټ «اسلامي نظام» پر پښو ودروي، په دغه څرګند دليل چې د لومړۍ اسلامي دورې د ولتي نظام بېرته ژوندی کېدل ممکن نه دی. په دغومره اوږدې مودې کې د ژوند په هره ساحه کې ژور بدلونونه پېښ شوي دي؛ په اسلامي نړۍ کې هم نه يوازې په اقتصادي او تخنيکي بلکې په ټولنيزو، حقوقي او سياسي ساحو کې ژور بدلونونه پېښ شوي دي، چې که مطلب د ژوند ښه والی او د هغه دوام وي، ممکنه نه ده دغه بدلونونه له پام نه وغورزول شي او که په پام کې ونيول شي اسلامي نظام به هغسې نه وي چې په اول وخت کې و. پر دې سربېره پر هغه به انتقادي نظر هم اچول کېدلی نه شي، ځکه چې سرچينه به يې شرع وي. بله دا چې سيد قطب خپل «اسلامي نظام» ته د انقلابيانو او زور له لارې رسېدل غواړي نه د اتفاق او انتخاب له لارې. خو تجربو ثابته کړې ده چې په دغې لارې ژوند له مينځه ځي او کړکېچ دايمي کېږي. سيد قطب جهاد هم سياسي کړی او هغه ته يې د وسله والې مبارزې رنګ ورکړی. له دغسې چلند سره پر اخلاق او قانون ولاړ انسان جوړ نه راځي. نو هغسې چې د شلمې پېړۍ په سر کې د ليون تراتسکي د دايمي انقلاب مفکورې عمر لنډ و، د سيد قطب د اسلامي نظام مفکورې عمر به هم اوږد نه وي؛ هغسې چې د تراتسکي دايمي انقلاب له ژونديو واقعيتونو سره په ټکر کې مغلوب شو، د سيد قطب د دولتي نظام مفکوره هم له ژونديو واقعيتونو سره په ټکر کې هوا وکړي؛ تجربو ښوولې ده چې د يوې ټاکلې ټولنې لپاره سياسي نظام د هغه پر بنسټ درول کېدلی شي چې له ژونديو واقعيتونو سره اړخ لګوي. په افغانستان کې په تنظيمي دوره کې د مودودي او سيد قطب د فکرونو او وروسته د طالبانو په دوره کې د محمد عبدالوهاب د فکر له مخې د دولت د

تنظیمولو لپاره کوښښ وشو، خو دوی ټول په خپل کوښښ کې په مطلق ډول ناکام شول او ټولنه یې هم په ژور ډول کړکیچنه کړه؛ پر هغه سربېره ایران او پاکستان یې په دې قادر کړل چې د افغانستان په چارو کې په بېساري ډول دخیل شي.

د دغو تنظیمونو د جوړښت او د هغو د چلندونو او له پاکستان سره د هغو د اړیکو په اړه به زر اوږد بحث وشي. اوس به په پېښور او پښین کې د ګڼو افغانانو هغه کوښښونه وکتل شي چې په افغانستان کې یې د ملي ارزښتونو پر بنا د حکومت جوړولو لپاره کاوه او دا چې تنظیمي مخالفانو د پاکستان حکومت په هڅونې هغه څنګه او ولې ناکام کړل.

د شوروي له یرغل نه وروسته د ۱۹۸۰ تر پایه پورې نږدې یو ملیون او له افغانستان نه په کال ۱۹۸۹ کې د دغه پوځ تر وتلو پورې څه باندې درې ملیون افغانان په پېښور، کوټه او د هغو شاوخوا سیمو لکه باجوړ، کرمه، ملکنډ، مومند، شمالي وزیرستان او جنوبي وزیرستان او نورو ځایونو کې له خپلو کورنیو سره هستوګن شول. د شتو خاوندان او تنظیمونو غړي په ښارونو او نور په ۳۴۵ کمپونو کې ځای پر ځای شول. افغانان د پېښور ښار دغسې څرګنده برخه شول، لکه د سدوزیو د واکمنۍ په وخت کې چې وو. پېښور هغه وخت د افغانستان د ژمي پلازمېنه وه. له افغان کډوالو سره د ملګرو ملتونو د کډوالۍ اداري او نورو خیریه موسسو د پاکستان د کمشنرۍ له لارې مرستې کولې.(۳۷)

د افغان کډوالو غټه ځانګړتیا دا وه چې ځايي خلکو له دوی سره دغسې ښه چلند کاوه چې ممکن د نړۍ په بلې برخې کې له کډوالو سره دغسې ښه چلند نه و ی شوی. که څه هم ځايي خلک په عمومي ډول شتمن نه وو. افغان کډوالو داسې نه ګڼله چې د وی په کوم نااشنا او بېګانه ملک کې پراته

دي. البته د کډوالۍ ژوند ستونزې لرلې. په تېره مېرمنو ته، د دغسې ښه چلند رېښې تاريخي او قومي وې. د ځايي ډېر قومونه پخوا له افغانستان څخه راغلي او پر خپلو اوسنيو مېنو کې ميشت شوي دي. اوس هم د دوی ډېر قومونه په دواړو خواوو کې اوسېږي. په يوه ژبه پښتو ګړېږي؛ او پښتانه او افغانان دي. په ۲۰۰۷ کې هم د پېښور پوهنتون د تاريخ څانګې د يوه تولګي زده‌کوونکو د لندن پوهنتون پروفېسر اناتول لي وين ته لا ويلي وو چې « We and the Afghans are one People» ياني «مونږ او افغانان يو خلک يو»(۳۸)

دغو ځايي خلکو له غير پښتنو افغان کډوالو سره هم ښه سلوک کړی. په خپله افغانستان هم اول له اټک نه تر هلمند پورې هېواد و، خو په رسمي سطح کې ضياءالحق آی‌اس‌آی د چارواکو په لار د افغانستان په اړه خپله خاصه سياسي اجنډا هم پرمخ بېوله.

په پېښور او کوټه او په عمومي ډول په پاکستان کې له خلقيانو او پرچميانو نه پرته د هر افغان قوم او هر بل ګوند او فکر ته منسوب افغانان ليدل کېدل، او دوی ټول د شوروي د يرغلګر پوځ او د پرچم رجيم مخالف وو. په دې حساب دوی ټول يا نزدې ټول ولسواک او وطنپال او پر دغه فکر ولاړ وو، چې يوازې د افغانستان خلک دغه حق لري چې څنګه غواړي هغسې حکومت پر ښو ودروي. د دغه اصل له مخې له يرغل سره مخالفت عام و. په واقع کې ټوله کشاله د واکمنۍ پر محور څرخېده، چې هغه په خپله د افغانانو له خوا يا د باندنيو ځواکونو له خوا د بين المللي عالمي مفکورو پر بنسټ هواره شي او د افغانانو په موافقه سياسي نظام پر پښو ودرول شي. خو دا هغه وخت و چې افغانان د باندنيو ځواکونو له خوا تر فشار لاندې نيول شوی وو. دوی بل وخت تر دغسې فشار لاندې نيول شوي نه وو، دننه

شورويانو پرچمي رجيم افغانانو ته جوړ کړی او په پاکستان کې لکه چې رز به وليدل شي، آی‌اس‌آی د ضياءالحق په دستور سخت دريځه تنظيمونه پياوړي کول او مخکښ ګرزول، او ملي ګوندونه او شخصيتونه يې څنډې ته کول. په دې ډول په دواړو خواوو کې د افغان ملي سياست لوبغاړي باندنيان شول. افغان واکمني محدوده او د خپلواکۍ جګړه د مشرۍ په سطح کې نيمګړې شوه. سره له دې هم د خپلواکۍ جنګياليو د مجاهدو په نامه د مرګ، ژوبلې او کړاوونو په منلو سره په ټول افغانستان کې دفاعي جګړه په دغسې ټينګ او پرله پسې ډول پرمخ بېوله، چې په پای کې د شوروي په شان زبرځواک يې اړ کړ، چې خپل پوځ له افغانستان څخه وباسي.

د پېښور په کډوالو افغانانو کې په عمومي ډول ولسواکان او اسلامي بنسټ پالان څرګند فعال او باندنيو او مرستې کوونکو ته د پاملرنې وړ وو. اساسي موضوع د جګړې وه چې بايد شوروي ته تابع پرچمي رجيم نسکور شي او يرغلګر پوځ له افغانستان څخه وايستل شي. دغه موضوع به په بل څپرکي کې بيان شي. دلته به دغه موضوع وکتله شي چې په دغه بېړني او سخت حال کې څوک د جګړې تنظيم وکړي، ګوند، يا تنظيمونه يا کوم ډول جلا وطني موقتي حکومت؟ اسلامي بنسټ پال تنظيمونو په څرګند ډول او آی‌اس‌آی په پټه فعاليت کاووه، څنګه چې دا د مقاومت د مشرۍ او قدرت موضوع وه، پر هغې باندې اتفاق ګران و. په داسې حال کې چې ولسواکانو يا د پخواني پاچا محمدظاهر پلويانو، د پخوانيو ولسي جرګې غړو، پخوانيو نظامي او ملي چارواکو، قومي مشرانو، او عنعنوي ديني عالمانو د جرګې او اتفاق له لارې د اسلامي ملي حکومت پر پښو درول غوښتل، سياسي اسلام پلويانو (اسلامستانو) د اسلامي جمهوريت په نامه متمرکز ايډيالوجيکي اسلامي نظام غوښته. دلته به دغه حرکتونه او د هغو په اړه د آی‌اس‌آی چلند

هم وکتل شي.

# د پېښور ممثله جرګه

لکه چې دمخه ويل شوي د شوروي له يرغل نه زر وروسته ډېر افغانان له خپلو کورنيو سره د کړاوونو په ګاللو سره پېښور او کوټې ته واوښتل. دغه کډوالي د يوه اوږده بهير پيل شو او تر هغو يې دوام وکړ چې يرغلګر پوځ له افغانستان څخه وايستل شو، داسې هم د لويديځو ولايتونو افغانانو ايران ته مخه کړه. د څه باندې نهو کلونو په بهير کې چې يرغلګر پوځ په افغانستان کې و، ايران او پاکستان ته د افغانستان دريمه برخه خلک کډوال شول. افغانان هيڅ وخت په دغومره ډېر شمېر له خپل هېواد نه بيرون تللو ته اړ شوي نه وو.

افغان کډوالو سمله لاسه په پېښور او کوټه کې د ځايي خلکو په ډاډېنه چې د دوی قومي ورونه وو، د خپلې ملي کشالې د هوارولو لپاره په کار لاس پورې کړ. مشرانو ته يې مالومه وه چې ملي کشالې په دغسې حالاتو کې په جرګو سره هوارې شوې دي او دا چې لويه جرګه د خپل دغه خاص اهميت له امله په اساسي قانون کې هم منل شوې ده. لويه جرګه په اصل کې له قومي جرګې نه انکشاف کړی او جرګه په پښتنو کې په خاص ډول عامه ده. د هوتکو په سيمه کې د «پنځوونه» او په ځدرانو کې د «څېړۍ ونه» دغو پښتنو ته سپېځلي دي. په دې چې د هغو لاندې يې جرګې کولې. د مانجې جرګه چې د ميرويس نيکه په نوښت شوې وه، په پرېکړې سره يې قومي مشرانو کندهار د پارس د صفويانو له لاس بري نه ازاد کړ؛ د شير سرخ جرګه چې ستر احمدشاه يې د مشر په توګه غوره کړ او د هغه په جنرالۍ او تدبير ټول

افغانستان خپلواک او افغان امپراتوري رامنځ ته شوه؛ او د پاچا امان الله لويې جرګې چې په هغو سره يې د ولتي چارې پرمخ بېولې، د افغانستان تاريخي او ډېرې ارزښتناکې جرګې دي. په دغې مخينې سره طبيعي وه چې په پېښور کې افغان لويان له دغه غوره دود نه کار واخلي او د شوروي له يرغل نه راپيدا خپله ملي کشاله پرې هواره کړي.

په دې هکله زه خپله ليکنه د عبدالجليل وجدي د اثر له مخې کاږم په نامه د: په افغانستان کې د عنعنوي جرګو نن او پرون[۳۹]. وجدي د دغې جرګې غړی او منشي و، دی په خپل دغه اثر کې په عمومي ډول له جرګو نه ګړېدلی او د پېښور او پښين ممثلې لويې جرګې يې په اوږد ډول بيان کړې دي.

له مقدماتي غونډو نه وروسته ګڼ شمېر قومي مشران او د پخوانۍ ولسي جرګې وکيلان او نور مخور افغانان د پېښور ښار د مهابت خان په لوی جومات کې د جدي په ۱۵ مه سره جرګه شول او محمد عمر ببرک زی يې د سروال او نوراحمد مصلح يې د منشي په توګه غوره کړل.

ببرک زی د نامتو ببرک ځدران لمسی و، او د حقوقو په څانګه کې يې په فرانسه کې لوړه زده‌کړه کړې وه. دغه جرګه د ممثلې لويې جرګې په نامه ياده شوه. نه لويه جرګه ځکه چې لويه جرګه بايد دننه په افغانستان کې وي. دغو مشرانو دمخه تنظيمي مشرانو ته د ګډون کولو بلنه ورکړې وه. هغوی اول له ګډون نه ډډه وکړه، خو چې له هغو نه د يو نيم سل په شاوخوا کې قومي مشران د اعتراض په توګه بېل او له جرګې سره يو ځای شول، دوی د ګډون لپاره تياری وښود. په دغه وخت کې په افغان کډوالو او هم په ځايي خلکو کې د جرګې تقاضا عامه وه او افغان کډوالو په ټل او وزيرستان کې هم جرګې کولې او تنظيمونه دغومره پياوړي نه وو، چې دغو غوښتنو ته اهميت ورنکړي. دوی پر خپلو کې سره وران هم وو، خو «احزابو د جرګې د نهضت

د مخنیوي لپاره په ځینو تخریب کاریو لاس پورې کړ.» سره له دې هم غونډو د سلواغې تر دېرش (فبروري ۱۹-۱۹۸۰) دوام وکړ او د غونډو په اړه ضوابط هم وایستل شول. مهمه دا وه چې د تنظیمونو استازو هم په غونډو کې ویناوې وکړې او هر یوه په خپل وار د دواړو خواوو په اتفاق ټینګار وکړ او هغه یې یوه اسلامي فرض وګڼه. مولوي جلال الدین حقاني د مولوي خالص د حزب، مولوي سخیداد فایز د جمیعت، شمس الرحمن د اسلامي حزب(حکمتیار)، مولوي نصرالله د حرکت انقلاب اسلامي، او حضرت محمد هاشم مجددي د ملي نجات د جمبهې په استازیتوب وغږېدل. صبغت الله مجددي، د ملي جبهې نجات د جبهې مشر هم په یوې غونډې کې ګډون وکړ او په خپلې وینا کې یې وړاندیز وکړ چې «باید داسې یوه شورا جوړه شي چې په هغې کې د خدای او رسول امرونه پر ځای شي. زموږ مقصد هم دا دی چې موږ او تاسې سره هم نظره شو، منافقین او مغرضین ډېر دي غواړي چې تخریب کاري او اخلال ګري وکړي.»[۴۰]

په پای کې د فبرورۍ په ۲۱مه په ۳۴مادو کې د رایو په اتفاق یو پرېکړه لیک یا د وزیرو په ژبه یوه ټینګه ومنله شوه. په لومړۍ ماده کې د «رایو په اتفاق سره د شپږو محترمو اسلامي ډلو د اتحاد او اتفاق غوښتنه» شوې وه. په بلې کې یې همدغه غوښتنه د افغانستان له ټولو قومونو نه وشوه. پرېکړه لیک ددغسې انقلابي شورا پر پښو درول وغوښتل چې هغه به د یوه موقتي حکومت په شان کار کوي. دا هم ومنل شوه چې راتلونکی دولت دې د افغان مسلمان ولس له ارادې سره سم یو اسلامي جمهوري نظام وي. په هغه کې د افغانستان د ازادۍ لپاره د اتحاد په نامه له شپږو اسلامي تنظیمونو نه وغوښتل شول چې په خپلې انقلابي شورا کې د هر قوم او ولس یو استازی د غړي په توګه ومني. له اتحاد نه مطلب دا و چې د ولسواکو او اسلامي

تنظیمونو څخه دغسې پیاوړی ځواک جوړ شي چې هم دفاعي جګړه په اغیزناک ډول تنظیم کړي او هم د افغانستان د کشالې هوارولو لپاره پیاوړی سیاسي نظم پر پښو ودروي. له «ملي شمتنو او پانګه والو» نه هم وغوښتل شول چې له اسلامي اصولو سره سم په جهاد کې ونډه ولري.[۴۱] په دغه ډول دغې ممثلې لویې جرګې وړاندیزونه او تجویزونه وړاندې کړل او په خاص ډول له اسلامي تنظیمونو سره یې د اتحاد او اتفاق غوښتنه د هېواد د خپلواک کولو او د سیاسي نظام د پر پښو درولو لپاره وکړه، خو نه یې کوم ډول جلا وطني حکومت پر پښو ودروه او نه یې کوم یو د سیاسي مشر په شان ونوموه. سره له دې هم انجینرګلبدین حکمتیار د اسلامي حزب امیر د جرګې په وړاندې مخالف دریځ ونیو او قومي مشرانو ته یې په یوې وینا کې وویل چې «... ځینې کسان غواړي چې له دغې جرګې څخه د اوسني اتحاد د له مینځ نه وړلو لپاره د وسلې په توګه استفاده وکړي. دا هماغه لاسونه دي چې د جرګو د پردې شاته کار کوي.» دغه مخالفت سره له دې و چې د هغه د حزب استازي حبیب الرحمن، همدغې جرګې ته په یوې وینا کې ویلي وو چې «... زه د حزب اسلامي د غړي په حیث له خپل رهبر څخه غواړم چې حتماً باید [له تاسو سره] اتفاق وکړي.»[۴۲] د مولف هري سن په اند د حکمتیار دغه مخالفت په اصل کې ایډیالوجیکي او نه پخلاکېدونکی و، په دې ډول چې «څه وخت چې په کابل کې په ۱۹۷۸ کې کمونستانو واک ترلاسه کړ، اسلامي حزب او نورو بنسټ پالو مهاجرو طلایي چانس وموند چې په پاکستان کې د افغان کډوالو نه د آی‌اس‌آی او د خلیج او د منځني ختیځ د شمتنو اسلامي بنسټ پالو په مرسته خپل تنظیمي کدرونه منظم او پیاوړي کړي. د دوی په نظر د مقاومت جګړه د اوږدې مودې په ستراتیجۍ کې یوه لنډه مرحله وه، د دې لپاره چې د هېواد اوسنۍ اجتماعي او سیاسي

وضع پوره واوړي، په دې ډول د دوی دښمنان نه یوازې د شوروي پوځ او افغان کاپر کمونستان دي، بلکې د مقاومت ډېر نابنسټ پال عنصرونه هم دي.»(۴۳)

سره له دې هم د ممثلې لویې جرګې دوهمه دوره د نوي کال (۱۳۵۹) د ثور په ۲۱مه پیل شوه. په هغې کې د افغانستان له ټولو ولایتونو او ولسوالیو نه ۹۱۴ کسانو ګډون وکړ. د کوچیانو استازي هم وو. جرګې د عاملې کومېټې په نامه یو کمیسیون یا هیئت وټاکه چې د ممثلې جرګې اجرائیوي هیئت یا حکومت حیثیت لاره خو دا ځل د افغانستان د ازادۍ لپاره اسلامي اتحاد چې د عبدالرب رسول سیاف په مشرۍ نوی جوړ شوی و، د جرګې په مخالفت اواز جګ کړ. مقابلې خوا هغه «د یو څو ناپېژندل شویو کسانو اتحاد» وباله، چې غواړي د عمومو د ارادې پرخلاف د افغانانو په مینځ کې بېلتون راولي، اتحاد مجبور شو له مخالفت نه په ظاهر کې لاس واخلي.

عامله کمېټه وګمارل شوه چې د جرګې د پیاوړي توب په مقصد د تنظیمونو مشران او نور نفوذمن او مخور افغانان د یوې غونډې لپاره وبولي؛ د جرګې چلوونکې ډله او د هغې سروال وټاکي چې وروستی به د دولت د موقتې سروال په شان وظیفه ولري. څرنګه چې په دغه وخت کې د ملي محاذ مشر پیر سید احمد ګیلاني او د ملي نجات جبهې مشر صبغت الله مجددي د باندې تللي وو، فیصله وشوه چې محمد عمر ببرک زی دې د جرګې موقتي سروال او د ولسي جرګې پخوانی وکیل اسدالله ساپی دې د هغه موقتي نایب وي. تر دې دمخه سعودي عربستان، مالیزیا او متحد عربي اماراتو څرګنده کړې وه، چې غواړي له مجاهدانو سره مرسته وکړي، خو چې دوی پر خپلو کې اتحاد وکړي. د سیاف اسلامي اتحاد ادعا وکړه چې دغسې اتحاد یې کړی او ممثلې جرګې کوښښ کاووه چې د اسلامي تنظیمونو او ولسواکو

ګوندونو او مخورو افغانانو نه يو لوی يا ملي اتحاد جوړ کړي، خو د اسلامي اتحاد ځينې لويان د ممثلې جرګې له بريو نه ويرېدل او اندېښمن وو، چې قدرت به يې له لاسه ووځي. په دغه حساس وخت کې د قدرت نوم او حيثيت ګټلو لپاره ټينګه سيالي روانه وه. په دغه حال کې ګيلاني او مجددي که څه هم د جرګې پلويان وو، پر هغې باندې يې د نفوذ د خپرولو مسابقه کوله. خو له جرګې سره د کوربه چارواکو چلند تر ټولو اغيزناک و؛ په داسې حال کې چې سياسي اسلام پالو هغه تخريبوله. پوليسو څو وارې دمخه د جرګې ګډون کوونکو ته اخطار ورکړی و، چې دوی بايد د امنيتي وضع له امله تيت شي. يو ځل لا د يوه اسلامي بنسټ پال تنظيم پلويانو د جرګې يو شو ګډون کوونکي وډبول او پوليسو له هغو نه ځينې په لاريو کې چيرته لېرې يووړل. دا ټول په اصل کې له دې امله وو، چې د کوربه پاکستان حکومت نه غوښتل په پېښور کې له اسلامي تنظيمونو نه پرته نور افغانان کوم تنظيم ولري.[۴۴] خو پر ممثلې جرګې باندې وروستۍ کاري څپېړه له دننه څخه حواله شوه. د وجدي په وينا چې د جرګې منشي و، ناڅاپه «...په اسلامي ملي جرګه کې د يوه شخص د رياست لپاره چې هغه يو سياسي جريان ته منسوب و، فعاليت شروع شو.» دی نه د هغه او نه د هغه د تنظيم نوم يادوي، د نورو په وينا هغه د پير سيداحمد ګيلاني وراره او د هغه تنظيم ته منسوب و، چې د مقررو پرخلاف يې د خپلو پلويانو په قوت د جرګې سروالي په لاس کې ونيوله. د جرګې زياترو غړو غونډه پرېښوده، د مخه هم يو ځل ډېر قومي مشران له جرګې نه وتلي وو او د «افغانستان د اقوامو د اتحاد لويه جرګه» يې جوړه کړې وه. هغوی زر پښېمان شول او په جرګې کې بېرته ننوتل. دغه ځل دا پر ممثلې لويې جرګې باندې وروستۍ مرګکۍ څپېړه شوه. خو د ممثلې لويې جرګې ناکامي د ملي جرګو د غورځنګ پای نه و، له هغه وروسته په

پښنین کې د عین مقصد لپاره لویه جرګه جوړه شوه او په پېښور کې د قـومي او سیمه ییزې اتحادیې تجویز وړاندې شو. د دغه تجویز له مخې د افغانسـتان د هر قـوم او هـر سـمت بایـد ځانلـه اتحادیـه ولـري او پـه پـای کـې دې لـه ټولـو اتحادیو نه جرګه جوړه شي. شمس الدین مجـروح د دغـه تجـویز نوښـتګر و. دی په کابل کې کلونه کلونه د قبایلو رییس، د عدلیې وزیر او د قانوني پاچایۍ د اساسي قانون د جوړولو د کمیسیون سروال و. دی شاعر، لیکـوال، عـالم او یو متقي د اعتبار وړ افغان و. په پېښور کې افغان قومي اتحادیې په لنـډ وخـت کې د مرامنامو پر اساس جوړې شـوې، چـې لـږو ډېـر یـې د سیاسـي ګونـدونو رنګ ونیو. د هر قوم خلکو فکر کاووه چې په داسې حال کې چې د تنظیمونـو د ډېروالي او بـې اتفـاقۍ لـه املـه ملـي مقاومـت د خوربـدلو پـر لار روان دی، قومي اتحادیې به وکولي شي چې لږ تر لږه د یوه قوم په سـاحه کـې مجاهـدان یو موټی وساتي. خو دغه حرکت هـم ورو ورو د خوربـدلو تـه کـوز شـو او پـه لنډه موده کې له مینځه لاړ.(۴۵)

# د پښین جرګه

د پښین جرګه په واقع کې د پېښور د جرګې دوام و، پښین د کوټې او چمن ترمنځ په زیاته اندازه د کاکړو او ترینو سیمه ده، چې له سبي سره یو ځای په ۱۸۷۹ کې د ګندمک په تړون سره له افغانستان نه جلا ګڼلې شوې ده. هغسې چې پېښور او شاوخوا سیمې یې لـه ننګرهـار سـره هـر اړخیـزې اړیکـې لـري، داسې هم پښین یې له کندهار سره لري. له همدې امله او دا چې په پښین کې اسلامي تنظیمونو نفـوذ نـه و کـړي، هغـه د ملـي جرګې لپـاره غـوره شـو. اول کوټه د جرګې لپاره په نظر کې نیول شوې وه، خو د پولیسو د اندېښنې له املـه چې هلته به د ګڼو افغانانو شتون امنیت تـه خطـر پـېښ کـړي، پښـین د جرګـې لپاره غوره شو.

په ۱۹۸۱ کې پخـواني سـناتور عبدالقـدوس پوپـل زي او پخـواني د ولسـي جرګې مرستیال عبدالاحد کرزی د افغانستان لویان جرګې ته وبلل. په بلنلیـک کـې دینـي عالمـان، قـومي مشـران، سیاسـتوالان، پخـواني نظـامي او ملکـي چارپوهان او نور مخور افغانان بلل شوي وو. «پـه زرګونـو خلـک د کـوټې پـر لور روان شـول. د خلکـو شـمېر دغـومره ډېـر و، چـې یـې د محـل پولیسـو تـه امنیتي ستونزې پیدا کړې.» دا سره له دې چې اسـلامي سـخت دریځـو بنسـټ پـالو اخطـار ورکـړی و، چـې پـه جرګـه کـې دې ګـډون ونـه کـړي. دوی خپـل مخالفان د «اسلام دښمنان بلـل» لکـه چـې کمونسـتانو خپـل مخالفـان «انقـلا ضد بلل» دا ځل د ملي محاذ او د ملي نجات جبهې له جرګې سره د پرېکړون اعلام وکړ، که څه هم هغوی په اصل کې اعتدالي او د جرګې پلویان وو.

په پښين کې د جرګې انتظام د کندهار د لويانو په لاس کې و او دوی بلل شويو لويانو ته کوربه وو.

د ۱۹۸۱ په سپټمبر کې د پښين جرګې کې په پنځو ورځو کې د معمول په شان ويناوې او وړانديزوونه وشول. اساسي موضوع د يوه ملي مشر يا قايد غوره کول وو. «د ننګرهار مشرانو د افغانستان پخوانی پاچا محمدظاهر شاه د جهاد د قيادت لپاره پيشنهاد کړ.» خو د لويديځو ولايتونو يو شمېر مشرانو په داسې حال کې چې د محمدظاهرشاه له قيادت سره موافق وو، وويل چې قيادت دې «... د يوه شخص ته ولو که ظاهرشاه هم وي نه منحصر کېږي». هغوی دا هم وويل چې «... معلومه نه ده چې محمدظاهرشاه دې قيادت ته چمتو دی او که نه.» دا هم وويل شول چې له هغه دغې مشرۍ ته چمتو هم وي راتګ يې يقيني نه دی. سره له دې هم موافقه وشوه چې «... په لومړي قدم کې دې د المتوکل علی الله محمدظاهرشاه په مشرۍ او قيادت او د جنرال عبدالولي په نيابت موقتاً د ممثلې شورا يو هيئت جوړ شي چې په هغې کې دې د هر ولايت او هرې لويې ولسوالۍ پينځه پينځه تنه، د هزاره خلکو لس تنه غړي او د کوچيانو د مختلفو حوزو پينځه پينځه تنه غړي د دې جرګې ترتيب کوونکي غړي دي.» دغه هيئت ته وظيفه ورکړل شوه چې پر خپلو واحدونو کې دې محلي جرګې جوړې کړي چې په پای کې له استازو څخه يې يوه لويه اسلامي جرګه جوړه شي.(۴۵) خو د عمل په ډګر کې دغه تجويز هم وړاندې تګ ونه کړ.

افغان لويانو ته ګرانه وه چې په پېښور او پښين کې د ملي مشرۍ په اړه پرېکړه وکړي او عملي يې کړي. په اول سر کې د پاکستان د آی‌اس‌آی چارواکي د لارې خنډ وو او هغوی اسلامي تنظيمونه په تېره سخت دريخي تنظيمونه تر دوی غوره بلل. اساسي خنډ د ضياءالحق د پان-اسلامزم

پروګرام و، چې له افغان نېشنلزم سره مخالف او د تنظيمونو پر خوا وو، په داسې حال کې چې اسلامي تنظيمونه د افغان ولس له ملاتړ نه هغومره بهرمن نه وو لکه د جرګو غورځنګ چې و. د جرګو حرکت په اصل کې افغانانو ته په دې ډېر منلی و، چې هغه د ملي پيوستون حرکت هم و او ملي پيوستون د يرغلګرو په وړانـدې د افغانانو د غـوڅ اکثريت ټينګه غوښتنه وه. په داسې حال کې چې تنظيمونه د ملي پيوستون په فکر کې نه وو. د جرګې د حرکت په بې اغيزې کولو سره د خپلواکۍ د بېرته ګټلو په جنګ کې ژور درز راغی، چې له امله يې د هيڅ تنظيم مشر هغه وخت يا له هغه وروسته ملي مشر نه شو، سره له دې يا له دې امله چې پاکستان يې ملاتړ کاووه هر يو د خپل تنظيم امير پاتې شو. هر يوه ته د هغه تنظيمي پلويان ملت و، نه افغان ولس. دوی پر خپلو کې هم هيڅ وخت په رښتيني ډول سره متحد نه شول. د جرګو په مشرانو کې هم څوک د ملي مشرۍ مقام ته ونه رسېد. افغان پېژندل شوي لويان دمخه په کودتايي رجيمونو کې يا پرار شوي يا ځپل شوي يا وژل شوي او وطن له پېژندل شويو ملي سياستوالو څخه خالي و. افغان واکمنه کورنۍ هم په سياسي لحاظ ختمه وه. يوازنی افغان چې تر هر بل چا نه ډېرو افغانانو ته منلی و، پخوانی پاچامحمدظاهر و، خو هغه په طبيعي لحاظ د سولې او ارامۍ شخص و، نه د جنګ او مقابلې. هغه په خپل ټول سياسي ژوند کې خطر منلی نه و، هغه د کمبوديا د نسکور شوي پاچا نورو دوم سهانوک په شان هم نه و چې د خپل وطن لپاره د ډيپلوماسۍ په ډګر کې منډې ترړې وکړي. ده د جنګ په ټولې مودې کې له روم نه چې هلته له خلع کېدلو نه وروسته اوسېده د خپل هېواد د کشالې په اړه چيرته سفر ونه کړ او په دې يې بسيا وکړه چې له هغه ښار نه و چې يو ډوله څرګندونې وکړي، بې له دې چې د شوروي اتحاد يرغل يې محکوم کړی وي، سره له دې هم دی افغانانو ته

منلی و، شاید له دې امله چې دوی له نورو نه ناهیلي شوي وو. د ده دغه منلی توب له دېنه هم ثابت دی چې په هغې ذهني سروې کې چې د ارواښاد پوهاند ډاکټر سید بهاءالدین مجروح په نوښت په کال ۱۹۷۸ کې په پېښور افغان کډوالو کې ترسره شوې وه، په سلو کې دوه اویا افغانانو دی د افغانستان د مشرۍ لپاره غوره باله. په دې ډول دوی هم تنظیمي لویان د ملي مشرۍ لپاره مناسب نه لیدل خو پوهاند مجروح د خپلې سروې قرباني شو.

# افغان اسلامي تنظيمونه او پاکستان

زما په سرطان کودتا نومي اثر کې د افغانستان اسلامي حرکت بيان شوی دی. د همدغه څپرکي په تېرو پاڼو کې د اسلامي سوچوالو نظرونه هم بيان شوي دي. دلته به د پيلامې په ډول دا هم وويل شي چې د محمدداود په ولسمشرۍ کې د کورنيو چارو وزير فيض محمد خپل پرچمي چارواکي د اخوانيانو ځپلو ته هڅول او ډېر يې بندي هم کړل. د دوی له ډار نه اول فضل هادي شينواری د ننګرهار د نجم المدارس استاد پېښور ته واوښت. د ده پرار نورو ته د وتلو پيلامه شوه. دا وخت په پاکستان کې حکومت د ذوالفقار بهوټو او د هغه د ګوند په لاس چلېده. شينواری هلته د صوبه سرحد يا اوسني خيبرپښتونخوا ګورنر محمد اسلم خټک له لارې چې يو وخت په کابل کې د پاکستان سفير و، د سرحدي پوځونو لوی مفتش او وروسته د کورنيو چارو وزير جنرال نصيرالله بابر ته وپېژندل شو. دوی دواړه سره جوړ راغلل او په منظم ډول يې سره ليدل. شينواری وايي چې «يوه ورځ بابر راته وويل چې د داود حکومت به په يقين سره نسکور شي... ده رانه وغوښتل چې د داود دوستان او دښمنانن ورته وښيم. مونږ خپله ستراتيجي جوړه کړه او پرېکړه مو وکړه چې ځينې کسان له افغانستان څخه وغوښتل شي.» په اوله جوپه کې اته کسان د مولوي حبيب الرحمن، ګلبدين حکمتيار، برهان الدين رباني، محمد ګلاب ننګرهاري، محمد جان او احمدشاه مسعود په ګډون راغلل او وروسته ۶۰ تنه نور راواوښتل چې په هغو کې مولوی محمد يونس خالص او انجينر احمدشاه هم وو. دوی ټول د پاکستان حکومت په لګښت

په پېښور کې د بېرسکو چوک کې ځای پر ځای شول. د افغان اخوانیانو د ورتګ دغه لړۍ روانه او د «بابر په وخت کې اته سوه کسان د اټک په حصار کې تر روزنې لاندې ونیول شول.» په دې ډول د ۱۹۷۴ کال په سر کې د پاکستان حکومت په نوښت او مرستې د اخوانیانو حرکت د محمد داود د حکومت پر ضد شکل او نظم ومونډ او پیاوړی شو. خو دوی په دې اړه سره موافق نه و، چې د محمد داود د حکومت پر ضد په څه ډول مقابله وکړي. رباني په دې فکر و چې په افغانستان کې باید اول د «اسلامي انقلاب» لپاره نظري او فکري کارونه وشي، خو حکمتیار د حکومت په وړاندې د نظامي عمل پلوي کوله.[۴۶] له دغه اختلاف سره سره دوی په کال ۱۹۷۵ کې د بهوتو د حکومت په هڅونې او مرستې د خپل وطن په څو ولایتونو کې وسله‌وال پاڅونونه وکړل خو افغان حکومت هغه ټول وځپل او دوی بېرته پېښور ته پر شاشول.

دوی هلته د شوروي اتحاد تر یرغل پورې د آی‌اس‌آی او ځینو اسلامي تنظیمونو په مرسته د بې نومۍ په حال کې ژوند کاووه. د شوروي اتحاد په یرغل سره دوی په غورځنګ راوستل شول، تر څو د یرغلګر پوځ او د هغه د لاس لاندې پرچمي رجیم په وړاندې له دوی نه دغسې پیاوړی ځواک جوړ شو، چې د افغانستان په تاریخ کې ساری نه لري. په دې ډول دا د شوروي اتحاد یرغل و، چې د افغان جهاد د پیاوړي کېدلو لامل شو.

له هغه وروسته په خاص ډول امریکا او سعودي عربستان پر خپلو مالي او نورو ډول ډول مرستو سره افغان اسلامي تنظیمونه او داسې هم په خپله پاکستان پیاوړي کړل، په دغه مقصد چې دوی دغه توان پیدا کړي چې شوروي اتحاد د خپل یرغل په مقصد کې ناکام کړي. د پاکستان په پیاوړي کېدلو سره ضیاءالحق او د آی‌اس‌آی سروال اخترعبدالرحمن بیا دغسې

خوبونه ولیدل چې د همدغو اسلامي تنظیمونو له لارې افغانستان تر خپل نفوذ لاندې راولي، تر څو پاکستان افغانستان ته یو بل ډول شوروي اتحاد شي. د دې لپاره هم دوی د ستراتیجکي ژورتیا پلان تر هر بل وخت نه ټینګ ونیوه.

د مولف حسین حقاني په وینا د ستراتیجکي ژورتیا پلان فکر د پاکستان په جوړېدلو سره پیدا شوی و. «پاکستاني مشرانو که څه هم له خپلواک کېدلو نه وروسته داسې ګڼله چې دوی د برتانوي هند حکومت وظیفې په میراث خپلې کړې چې د افغانستان باندني سیاست ته لوری ورکړي. د افغانستان ځواب دا شو چې د پاکستان شتون تر پوښتنې لاندې راولي.» د حقاني دغه وینا سمه نه ده، افغانستان د پاکستان د جوړېدلو په وخت (۱۹۴۷) کې یو پوره خپلواک هېواد و او باندنۍ اړیکې یې هم په خپله پرمخ بېولې، خو افغانستان د تاریخي او قومي دلیلونو له مخې د پښتونستان د خلکو لپاره د پخپله ټاکنې د اصل موضوع د خپل باندني سیاست مهمه برخه وګرزوله. ان تر دې چې د ملګرو ملتونو په موسسه کې یې د پاکستان د غړیتوب پر ضد رایه ورکړه. د پاکستان لوړو چارواکو بیا خپل باندنی سیاست درې خاصو ټکو ته متوجه کړ، چې پر اسلامي ایډیالوجۍ باندې ټینګار وکړي، د دې لپاره چې هغه قومي نېشنلزم بې اثره کړي، چې افغانستان یې ننګه کوله؛ چې د افغانستان د پښتونستان داعیه د هند په پلان پورې وتړي چې غواړي پاکستان وویشي؛ او چې د امریکې مرستې جلب کړي، د دې لپاره چې په سیمه کې خپل نفوذ خپور کړي.(۴۷)

څنګه چې د پاکستان لوړو چارواکو له هندوستان نه په تېره د کشمیر موضوع پر سر پاکستان ډېر نامصؤن ګڼه ډېر پام یې هغې خواته واړوه. په ۱۹۷۱ کې چې ختیځ پاکستان له لویدیځ پاکستان نه د هندوستان د پوځ په

زور د بنګله دېش په نامه بېل او يو خپلواک هېواد شو، سروالان په تېره نظامي سروالان يې د پاکستان د امنيت په هکله نور هم انديښمن شول. دوی بيا د پښتنو او بلوڅو د حرکتونو په وړاندې خپل چلند نور هم زيږ کړ او په هغو کې يې مشايخ او ديني عالمان وګمارل چې د هغو د حرکتونو او مشرانو په مخالفت او د اسلام په پلوي د يوه موټي کوونکي قوت په توګه تبليغ وکړي.[۴۸] پاکستاني چارواکو په دې ډول له اسلام دين نه د سياسي او ملي استفادې کولو ته ملا وتړله او دغه ماموريت يې په خاص ډول د آی‌اس‌آی پر غاړه واچوه، چې اداره يې په ملکي کاليو کې د پنجابي جنرالانو په لاس وه. په دغه ماموريت سره د پاکستان د نظاميانو او ملايانو او ديني عالمانو يا د هغو ترمنځ چې ديني او نظامي قوت په انحصار کې لري، يو ډول اتحاد منځ ته راغی. دا يو اثر ښونکی اتحاد ثابت شو، په دې چې پاکستان غټ پوځ او ډېر نظامي افسران لرل، او په خپله د اسلام پر بنا جوړ شوی هېواد و او ملايان او مذهبي کسان يې هم بې شماره وو. د همدغه غټ پوځ په قوت و، چې جنرالانو يې ډېرې کودتاګانې وکړې او په پاکستان کې يې ناراضيان او مخالفان د پښتنو او بلوڅو په ګډون ډېر وټکول.

د همدغه ځپونکي سياست په وړاندې و، چې په پای کې پښتانه او بلوچ نېشنلستان لا له چپي روښانفکرو او فعالانو سره د حکومت په وړاندې يو موټی شول.[۴۹] لکه چې ما په خپل د ثور کودتا نومي اثر کې شرح کړی، دغه اتحاد د افغانستان د خلقي حکومت په خاص ملاتړ دغومره پياوړی شوی و، چې ضياءالحق يې انديښمن کړی و، هغه بيا له خلقي حکومت سره په دغه اړه جوړې ته نزدې شو، خو په همدغه وخت کې شورويانو پر افغانستان ودانګل.

د ستراتيجکي ژورتيا پلان په اصل کې د پاکستان د خونديتوب او دفاع

لپاره تجویز شوی و، څنګه چې پاکستان یو هوار ملک دی له هندوستان سره په جنګ کې ترینه دفاع کېدلی نه شي. د دغسې جنګ په حال کې د پاکستان پوځونه به د پاکستان د نظامي ستراتیجي پوهانو د پلان له مخې افغانستان ته په شاکېږي او بیا به له دغه سنګر نه ګوریلایي یا نامنظمو پرله پسې جنګونو ته ملا تړي.[۵۰] په دې ډول افغانستان او حکومت د پاکستان دفاعي ژورتیا تهیه کولی شوي. د دوي په فکر د دې لپاره چې دغه پلان مانا او ژورتیا لرلی وشي افغانستان او حکومت یې باید د دوی تر نفوذ لاندې یا نې یو تابع هېواد وي. د مولف زاهد حسین په نظر «د طالبانو لپاره د پاکستان ملاتړ په یقین سره ایډیالوجیکي نه و، هغه یوازې د جیو-ستراتیجي د کتنو له مخې و، په دغه مقصد چې د یوه پښتون حرکت له لارې پر افغانستان باندې خپل نفوذ خپور کړي. «لوی مقصد د هند په وړاندې ستراتیجکي ژورتیا ترلاسه کول او د ایران ګوښه کول وو.»

د ده په فکر له ۱۹۸۰ لسیزې نه وروسته د پاکستان د باندني سیاست لوی مقصد دا و، چې په افغانستان کې یو تغییر منونکی دوست حکومت پر پښو، ودروي.»

دا په واقع کې د پاکستان په نظامي کړیو کې د افغانستان د لاندې کولو فکر و، چې د هغه له مخې پاکستان به افغانستان ته کوم ډول شوروي اتحاد کېږي، لکه چې پاکستان د افغانستان اسلامي امارت په وخت کې د همدغه فکر له مخې چلند وکړ او فکر یې کاوه چې د امارت لویان به چې تر سخت بین المللي فشار لاندې دي، د دوی غوښتنه ومني، خو دوی سخته ډکه وخوړه، چې د امارت چارواکو د مؤلف زاهد حسین په وینا، نه د ډیورند کرښه ومنله او نه یې پر صوبې سرحد باندې د افغانستان له ادعا نه تېر شول.[۵۱] خو دا به سادګي وې چې فکر وشي، پاکستان به له دغه فکر نه تېر شي،

لکه چې زر به وليدل شي، تر هغه د مخه جنرال ضياءالحق د ملي جهاد په وخت کې د اسلامي اتحاد په نامه د افغانستان لاندې کولو ته ملا تړلې وه.

د ستراتيجکي ژورتيا پلان په غالب احتمال پر هند باندې د انګليسانو د حاکميت د وخت د علمي سرحد پلان نه په الهام جوړ شوی دی. انګليس ستراتيجک پوهانو د افغان-انګليس دوهم جنګ نه وروسته د علمي سرحد په نامه پلان وايست، چې د هغه له مخې په هغه حال کې چې روسان د افغانستان له لارې پر هند حمله وکړي، دوی بايد د هندوکش سهيلي ښارونو يانې په ستراتيجکي ځايونو کې خپل پوځونه په چټکۍ سره ځای پر ځای کړي او له روسي ځواکونو سره مقابله وکړي. د ډېورنډ کرښه په اصل کې د «علمي سرحد» د پلان يوه برخه وه، چې دوی به د هغې تر شا پر خپلو نفوذي سيمو کې ټول هغه ځيزونه ځای پر ځای کوي چې له هغو ځايونو نه به ژر تر ژره خپل پوځونه دغو ښارونو ته رسوي. د رېلوې کرښو په ګډون چې هغه به په بېړه جوړوې او کابل، کندهار، غزني او جلالاباد ته به خپل پوځونه په چټکۍ سره رسوي.[٥٢]

د پاکستان له هسکېدلو نه وروسته نظامي افسرانو هم «علمي سرحد» ته ورته فکر لاره، چې هغه د آی‌اس‌آی د يوه افسر تفضل حسين صديقي په وينا داسې و چې څنګه چې په تاريخ کې لويو فاتحانو د افغانستان له لارې پر هند باندې حملې کړې وې، شوروي اتحاد به هم يوه ورځ رادمخه شي او د دغه احتمالي خطر په وړاندې پاکستان او افغانستان بايد د پاکستان په مشرۍ سره اتحاد وکړي. ده د پاکستان خونديتوب په همدغسې اتحاد کې ليده، چې هغه به د دواړو په موافقې او که نه په زور وشي، که څه هم د وروستي حال پايلې به د دواړو لپاره ناوړې وې.[٥٣] خو دغه اتحاد د مالومو دليلونو له مخې ونه شو، او شورويانو اول په افغانستان کې د دوستۍ او مرستو له لارې نفوذ وکړ او وروسته يې پرې ودانګل. ضياءالحق خپل هېواد د هند او شوروي اتحاد ترمنځ تر خر لاندې وليد. ده بيا د نويو متحدانو د موندلو په لړ

کې افغان اسلامي تنظيمونه د جهاد او اسلام په نامه د پاکستان د دفاعي پلان په چوکاټ کې راښکېل کړل. آی‌اس‌آی لا دمخه افغان تونده لارې اسلامي تنظيمونه تر نفوذ لاندې راوستلي وو، چې زر به يې بيان وشي.

د آی‌اس‌آی سروال جنرال اخترعبدالرحمن د جنرال ضياءالحق په غوښتنه د شوروي اتحاد د يرغل د پر شاکولو په مقصد يو دفاعي پلان وايست. په هغه کې يې «استدالال وکړ چې [دغه مقاومت] به نه يوازې د اسلام بلکې د پاکستان دفاع هم وکړي، نو حتمي ده چې دغه مقاومت د شورويانو په وړاندې د پاکستان د مخکې کرښې دريځ يوه برخه وګرځوي. که دوی پرې ښوول شي چې افغانستان په اسانۍ سره لاندې کړي بيا به هغه پاکستان ته ممکن د بلوچستان له لارې يوه لنډه لار وي.» جنرال عبدالرحمن «په يوه پراخ ګوريلايي جنګ سره د شوروي د ماتولو لپاره قوي دليلونه وړاندې کړل. د هغه په فکر له افغانستان نه يو بل ويتنام جوړېدلی شي، چې شورويان به د امريکايانو پر ځای وي. له ضياء نه يې په ټينګه وغوښتل چې نظامي لار غوره کړي. مانا به يې دا وي چې پاکستان به په وسلو، مهماتو، استخباراتو، روزنې او عملياتي سلا سره د ګوريلايانو [مجاهدانو] ملاتړ په پټه کوي. پر هغه سربېره د پاکستان شمال لويديځ صوبه او د بلوچستان سيمې به هم د کډوالو او هم د ګوريلايانو پرمخ خلاصې وي، ځکه چې دغسې مبارزه به د يوې خوندي او سرحدي سيمې نه پرته بريالۍ نه شي. ضياء موافقه وکړه.»(۵۴)

ضياءالحق وروسته له هغه چې د دغه پلان لپاره متحدان ومونډل او د هغو پرېمانه وسلو، پيسو او ملاتړنه ډاډه شو، پراختيايي غټ خوبونه يې وليدل. دا په دغسې حال کې چې ده د خپلې کودتا نه وروسته د حکومت په نظامي کولو او د صدراعظم بهوټو په اعدامولو سره ډېر پاکستانيان ترولي او

بېګانه کړي وو. د هېواد اقتصادي وضع هم خرابه وه. دی د باندنيو په مرستو سره په دې فکر شو چې «پاکستان به يو پر ځان بسيا، باثبات او پياوړی دولت شي، چې په اسلامي نړۍ، سهيلي اسيا، او لويديځې اسيا کې به يو قوي دريځ ولري او د دغسې توان خاوند به شي چې په ګاونډيو هېوادونو او سيمې کې د اسلام بېرته ژوندي کولو حرکتونه پياوړي کړي.»(۵۵) په دغه حال کې د ده په فکر د پاکستان «د نفوذ ساحه به هغه وي چې له افغانستان څخه تر ترکيې پورې د ايران او د شووري اتحاد د منځنۍ اسيا ډېر دولتونه پکې شامل وي.»(۵۶) په دې ډول ضياءالحق د خپلې خيالي امپراتورۍ ساحه د مغلي امپراتورۍ له ساحې نه هم پراخه ونيوله. د دغه خوب واقعي کولو لپاره ده د مخه په دې پيل کړی و چې د پاکستان اسلامي دولت «يو اسلامي ايډيالوجيکي دولت» کړي. د دې لپاره په پاکستان کې «ده د اسلامي شرع جامد تعريف رواج کړ او ... مذهبي کسان يې پياوړي کړل. د دولت د اسلامي کولو دغه حرکت په مذهبي ګوندونو کې ... اماده متحدان ومونډل. اسلامي جماعت او نورې مذهبي ډلې د حکومت په هڅونې همکارۍ ته حاضرې شوې. اسلامستانو د لومړي ځل لپاره [په حکومتي څانګو کې] هم مقامونه ونيول.» ضياءالحق په سياست کې هم د پوځ ونډه دغومره ډېره کړه، چې هيڅ وخت هغومره ډېره نه وه. پوځ تر دغه وخت د برتانوي ماډل پر اساس سيکولر و. ده ورته «نوی اسلامي لوری» ورکړ. د ټولنې د اسلامي کولو لپاره يې هم يو لړ نوي کارونه وکړل. د مولف زاهد حسين په نظر د ټولنې او دولت «د اسلامي کولو پروسه» د ضياءالحق د اوږدې واکمنۍ ډېره مهمه خوا وه، ځکه چې د هغه په نظر «پاکستان يو اسلامی ايډيالوجيکي دولت و، او سياست له دين څخه بېلېدلی نه شي. د هغه په عقيده دا د هغه ديني وظيفه وه چې دغسې اسلامي ټولنه جوړه کړي، چې د قران مجيد او

شرع له مخې وچلوله شي. دی چې د ازادو رایه ورکوونکو سره له مخامخ کېدو نه ویرېده او د حکومت چلولو له قیمومیت نه محروم و، لوی ځښتن ته عارض شو.» (۵۷)

په پاکستان کې د دیني مدرسو ډېرېدل هم د ټولنې د اسلامي کېدلو یو اړخ و، چې د ضیاءالحق په وخت کې ورته ځانګړې پاملرنه وشوه. ایران په ۱۹۷۹ کې له خپل انقلاب نه وروسته په پاکستان کې د شیعي مدرسو تمویل پیل کړ. ورپسې د کویټ، سعودي عربستان، عراق او نورو پټرول، ډالر لرونکو هېوادونو د ایران د نفوذ د مخنیوي لپاره له هغو سخت دریځو اسلامي تنظیمونو سره د پرېمانه مرستو کول پیل کړل چې حاضر وو، د شیعه مذهبو مدرسو په وړاندې ودرېږي. د پاکستان حکومت هم د ضیاءالحق د اسلامي کولو په لړ کې د زکات او عشر په نامه مدرسې د پاکستان په تاریخ کې د لومړي ځل لپاره تمویل کړې، په دې ډول په پاکستان کې مذهبي زده کړه، ډېره پرمخ ولاړه. د مدرسو زیاتره زده‌کوونکي د اطراف له غریبو کورنیو په تېره له پنجاب او صوبې سرحد نه وو. په مدرسو کې د شاګردانو هر څه وړیا وو، خو دوی تر ډېر سخت ډسپلین لاندې هم وو، سني مدرسې د دیوبندیانو او بریلویانو تر ارادې لاندې وي: سلفیانو یا وهابیانو ځانله مدرسې لرلې، لکه جعفریانو چې ځانله شیعي مدرسې لرلې. «زده‌کړه لومړنۍ وه او شاګردانو ته د عنعنوي نظر له مخې مذهبي ښوونه په جوش او قوت سره ورکول کېده او شاګردان په ژور ډول د تنګ نظر او محافظه کار نړۍ لید خاوندان کېدل. ښوونه په زیاته اندازه فرقوي او د تعصب په رنګ وه. مخالفان مرتدان او کاپران ګڼل کېدل او جهاد د زده‌کړې مهم مضمون و. د افغان جهاد له امله په مدرسو کې د جهاد مضمون خاص اهمیت پیدا کړ. د مدرسو په ډېرېدلو او د جهاد په مهم کېدلو سره ملایان، مولویان او روحاني

کسان په سياست او جامعه کې د قوت خاوندان شول.

پاکستان د خپل هسکېدلو په وخت کې ۱۳۷ مدرسې لرلې؛ لس کاله وروسته يې شمېر ۲۴۴ ته ورسېد او په هرو لسو کلونو کې يې شمېر دوه برابره کېده. حکومتي سرچينو د هغو ټول شمېر ديارلس زره او شاګردان يې يو مليون او اووه لکه ښودلي دي. د افغان جهاد په بهير کې له ۱۹۸۲ نه تر ۱۹۸۸ پورې زر نوې مدرسې پرانستل شوې، چې زياتره يې په صوبه سرحد او د بلوچستان په ولايت کې وې. له مدرسو نه په سياست کې هم کار اخيستل کېده. «د حکومت په اټکل هم له لس نه تر پنځلس سلنې پورې مدرسو له فرقوي جګړه مارۍ او بين المللي تروورزم سره ارتباط لاره.» د دارالعلوم حقانيه مدرسه چې دمخه په کال ۱۹۴۷ کې پرانستل شوې وه د افغان جهاد له پيل نه وروسته د پان-اسلامزم د مرکز په شان انکشاف وکړ. تر ۱۹۸۵ پورې د دغې مدرسې ۶۰ سلنه شاګردان افغانان وو. د دغې مدرسې ځينې فارغان وروسته د طالبانو په رجيم کې وزيران شول. د بين المللي بحران ډلې د راپور له مخې د پاکستان مدرسو ته هر کال د خيريه مرستو له لارې له يو نيم ميليارډ ډالرو نه ډېر ورکړل شوي دي. په پای کې د زاهدحسين په وينا: «په پاکستان کې اسلامي مدرسې او مذهبي کسان هيڅ وخت دغومره ډېر او پياوړي نه وو.» د پاکستان ټولنه هم هيڅ وخت دغومره کړکېچنه نه وه، لکه چې په دغه وخت کې شوه. (۵۸)

د ضياءالحق بل خوب د شوروي پوځ له ايستل کېدلو نه وروسته د افغان اسلامي تنظيمونو له لارې د جهاد او اسلام په نامه افغانستان دتحت الحمايه دولت په شان د پاکستان تر اثر لاندې راوستل وو. هغه د دغه مقصد لپاره د آی‌اس‌آی له لارې د افغانستان له ډېرو سياسي ډلو، ګوندونو او شخصيتونو نه هغه تنظيمونه غوره او مخکښان کړل چې د ده له فکر سره موافق وو. له دې

وروسته د افغـان تنظیمونـو تـاریخی مخینـه، جوړښـت او لـه پاکسـتان سـره د هغوی خاص ارتباط کتل کیږي.

د افغانستان د اسلامي حرکت بنسټ ایښـودونکي لـه اطرافـي سـیمو څخـه وو. چې په کابل کې یې په عصـري تعلیمـي موسسـو کـې زده‌کـړه کـړې وه؛ او ځینـو یـې لـوړه زده‌کـړه پـه بانـدنیو ملکونـو کـې سـرته رسـولې او بیـا د کابـل پوهنتون د شرعیاتو په پوهنځي کې یې ښوونه کوله. د قانوني پاچـایۍ لسـیزې د دموکراسۍ او ازادۍ هوا دوی او نورو ته موقع ورکـړه چـې غونـډې وکـړي، ټولنې جوړې کړي او فکرونه خپاره کړي. پـه دغـې هـوا کـې اول ملـي او چپـي ګوندونه تنظیم او فعال شول که څه هم ګوندونه قانوني نه وو. په یـوه حسـاب دغـه اسـلامي حرکـت د هغـو پـه وړانـدې هسـک شـو. د افغانسـتان اسـلامي جمعیـت پـه همـدغې هـوا کـې هسـک شـو، چـې د بنسـټ تیـره یـې پـه کـال ۱۹۵۷ کې په پغمان کـې د ابوحنیفـه پـه مدرسـه کـې د غـلام محمـد نیـازي او نورو له خـوا ایښـوول شـوې ده. دا پـه واقـع کـې پـه افغانسـتان کـې د سیاسـي اسلام د حرکت پیل و.

نیازی تازه د قاهرې د الازهـر پـه پوهنتـون کـې د لـوړې زده‌کـړې لـه سـرته رسـولو نـه وروسـته سـتون شـوی و. اسلامسـتانو یـا سیاسـي اسـلام پـالو تـر ۱۹۶۹ پورې د عمل ډله تاکلې وه، چې مشر یې د امیر په نامـه نیـازی و. دوی په قانوني پاچایۍ لسیزې کې ډېر فعال شول او په ۱۹۷۳ کې یې یوه پټه شـورا جوړه کړه، چې مشر یې برهان الـدین ربـاني، د شـرعیاتو د پـوهنځي اسـتاد او نهایي مشر یې نیازی و . دی چې د پوهنځي سروال و، په غونډه کې یې برخه نه اخیستله. د دوی د تنظیم نـوم د افغانسـتان اسـلامي جمعیـت شـو، خـو پـه خلکو کـې د اخـوان او اخوانیـانو پـه نامـه یـاد شـول. دغـه نـوم د پاکسـتان لـه جماعت اسلامي سره اړخ لګوي. د افغان سیاسي اسلام پـالو د ټـولنې دولتـي

نظام او دموکراسۍ په اړه د سید قطب او مودودي له نظریو نه متاثر وو. د دوی په یوې خپرونکې کې د موږ. څوک یو او څه غواړو؟ په نامه ویل شوي وو چې زمونږ موخه دا ده چې افغان خلک د ظالمانو له منګلو نه وژغورل شي او په دین کې نوی غورځنګ راوړل شي. د مسلمان ځوانانو مشر، ګلبدین حکمتیار په مشخص ډول څرګنده کړې وه چې د دغه حرکت موخه د واکمنې ډلې نسکورول او اسلامي نظام یې پر ځای راوستل دي، د دې لپاره چې د ټولنې سیاسي، اقتصادي او اجتماعي اړخونه اسلامي کړي. مولف ګل زرک ځدران لا ویلي وو چې «له دې امله چې اسلام... تر قیامت پورې تکمیل دی له اسلام نه وتلی بل هر ډول قانون رسم او رواج [او] طرز عمل او تخیلات د اسلام په محتوی کې نه ځایږي.» د هغه په فکر دموکراسي «... د اسلامي نظام سره په بشپړه توګه مغایرت لري.» محمدیونس خالص نه یوازې «د حکومت جمهوري بڼه» ردوي «عمومي انتخابات هم ردوي او وایي چې یوازې د اهل حل او عقد شورا دې چې له عادلو او متقي مسلمانانو نه جوړه وي، د ټولنې مشر د هغه د وړتیا او اسلامي پوهې پربنسټ غوره کړي. (۵۹)

لکه چې دمخه ویل شوي د محمدداود په ولسمشرۍ کې چپي لوړو چارواکو د اخوانیانو په ځپلو پیل وکړ، چې یې خپل نه پخلاکېدونکي مخالفان ګڼل. د نیازي په ګډون یې ډېر بندي کړل او نور یې پېښور ته لاړل او له هغه ځای نه یې د پاکستان په هڅونې او مرستې په کال ۱۹۷۵ کې د افغانستان په ځینو ولایتونو کې پاځونونه وکړل. خو حکومت هغه ټول وځپل او د وی بېرته پېښور ته پر شاشول. په پېښور کې دوی نه یوازې د خپلې ناکامۍ له امله خپل پخوانی اهمیت له لاسه ورکړ. پر خپلو کې هم سره وران او بې اتفاق شول. په اول سر کې اسلامي جمعیت دوه ټوټې شو. رباني د

جمعیت امیر پاتې شو، چې د مودودي په شان د تشدد او سختۍ پلوی نه و. د اسلامي حزب په نامه یو بل ګوند ترېنه ووت چې مشر یې د لنډې مودې لپاره قاضي محمد امین وقاد او وروسته ګلبدین حکمتیار شو. حزب تر جمعیت نه سخت دریځی و، په مرامنامه کې یې ویل شوي دي چې «د حکومت اصلاح د ټولنې او د اسې هم د فرد د اصلاح لپاره مخکینی شرط دی.» په هغه کې دا هم ویل شوي چې حزب د دولت له سره تنظیمول د اسلامي اصلونو له مخې د خپل پروګرام له لارې غواړي، په هغه کې دا هم ویل شوي چې په افغانستان کې «غیر اسلامي فکرونه او تمرینونه باید نه وي» ځینې لا په دې عقیده وو، چې حکمتیار له پیل نه نظر درلود چې د افغانستان د خپلواکۍ لپاره وجنګیږي، د قدرت ګټلو لپاره جنګېده. مولوي محمدیونس خالص د همدغې موضوع پر سر ترېنه بېل شو او د اسلامي حزب په نامه یې یو بل تنظیم جوړ کړ. د هغه په عقیده د افغانستان خپلواکي تر قدرت نیولو نه مهم و[۶۰] دا چې د حکمتیار حزب د پیاوړي مرکز په لرلو او د ټینګ انضباط په مراعات کولو سره نوم ګټلی، او سخت دریځی هم و، د آی‌اس‌آی لپاره د زیاتې توجه وړ شو، د حقاني په ژبه «ګلبدین حکمتیار... له هماغه پیل نه اماده و، چې افراطي لار ووهي. د هغه ټینګ دریځ هغه د آی‌اس‌آی لپاره منلی کړ، چې په دغه وخت کې نظر درلود چې په افغانستان کې د اسلامي انقلاب بنسټ کښېږدي، د داود په رجیم باندې د فشار اچولو ډېر علاقمن و، داسې هم آی‌اس‌آی غوښتل د افغانستان لپاره دغسې راتلونکي لویان په نظر کې ولري چې له پاکستان سره نزدې اړیکې ولري. داسې ښکارېدله چې پښتون حکمتیار به د دغه رول لپاره وړ کس وي»[۶۱] حزب د ضیاءالحق په واکمنۍ کې په ۱۹۸۸ کې د هغه او اختر عبدالرحمن تر مړینې پورې ښه په غوره کې و.

د شوروي اتحاد یرغل د دې سبب شو، چې په عمومي ډول د افغانستان اسلامي حرکت او په خاص ډول اسلامي تنظیمونه د ولسواکو او وطنپالو ګوندونو په تاوان د پاکستان د آی‌اس‌آی له لارې په خاص ډول د امریکې او عربستان او نورو په پیسو او وسلو پیاوړي او د جګړې او سیاست په ډګر کې مخکښان وګرزول شي. په دغه وخت کې او له هغه زر وروسته دغه تنظیمونه په پېښور کې پر ځای وو. له درېیو یاد شویو تنظیمونو سربېره د اسلامي انقلاب حرکت د مولوي محمد نبي په مشرۍ، ملي اسلامي محاذ د پیرسیداحمد ګیلاني په مشرۍ او د ملي نجات جبهه د صبغت‌الله مجددي په مشرۍ تنظیم شوي وو. درې وروستي د ۱۹۷۹ کال په بهیر کې جوړ شوي وو. د اسلامي انقلاب حرکت په اصل کې د جمعیت او حزب د ایتلاف نوم و، خو څو میاشتې وروسته جمعیت او حزب له دغه ایتلاف نه ووتل او محمد نبي ورته دوام ورکړ. په دغه ډول د اسلامي انقلاب حرکت په نامه یو بل تنظیم اضافه او ټول شپږ شول. د تنظیمونو له تعدد نه سربېره مشران یې هم سره وران وو. پر دغې موضوع به زر بحث وشي.

د تنظیمونو له ډېروالي او د سرانو له بې اتفاقۍ نه افغان کډوال او جهادي قومندانان او په عمومي ډول د یرغلګرو مخالف افغانان ناراضي او اندېښمن وو. دوی لکه چې د پېښور او پښین او د کابل پاڅونونو ښوولې ده، د یرغلګر پوځ او پرچمي رجیم په وړاندې هغسې ټینګ پیوستون غوښته چې افغانانو پخوا له انګلیسانو سره په دفاعي جنګونو کې ښوولی و. د سعودي عربستان حکومت لا پر تنظیمونو فشار راووړ چې سره یو موټی شي. عربستان دغه اتحاد له هغو سره د مرستې یو شرط وټاکه. دوی بیا د ۱۹۸۰ کال په مارچ کې د افغانستان د ازادۍ لپاره د اسلامي اتحاد په نامه سره یو موټی شول. عبدالرسول سیاف (وروسته عبدالرب رسول سیاف) یې مشر، صبغت الله

مجددي يې مرستيال او مولوي نصرالله منصور يې منشي غوره شو.

سياف چې پخوا د کابل پوهنتون د شرعياتو په پوهنځي کې استاد و، د افغانستان د اسلامي حرکت له موسسانو څخه و. د محمد داود په ولسمشرۍ کې بندي شوی او د ثور تر کودتا پورې په څرخي پله زندان کې و، خو څنګه چې دی د حفيظ الله امين له نزدې خپلوانو څخه و، د کورنۍ په فشار سره له څرخي پله زندان نه کوم بل ځای ته نقل شوی و، د ده ملګري بنديان په څرخي پله کې ووژل شول او دی بيا د ۱۹۸۰ کال په سر کې له نورو بنديانو سره ازاد شو او پېښور ته واوښت. د سياف ځانګړتيا په فارسي، پښتو او عربي کې په فصاحت او قوت ګړيدل او له عربي شتمنو شيخانو او د عربستان له چارواکو سره اړيکې ټينګول او د جهاد په نامه له هغو نه پرېمانه پيسې ترلاسه کول و. په دې لار کې وهابيت ته د ده تمايل او اسلامي سخت دريځي هم د ده په ګټه تمام شوي وو. ويل شوې چې هغومره چې ده د جهاد په نامه له شتمنو عربانو نه ډېرې پيسې ترلاسه کړې د بل هيڅ تنظيم مشر ترلاسه کړې نه دي. خو دی په ادارې او تنظيمي چارو کې د حکمتيار په شان د انضباط خاوند نه و، د مولف بارنت روبين په وينا «سعودي عربستان له دغه اتحاد سره په سخاوت پولي مرسته کوله، خو تر راتلونکې فبرورۍ پورې درې عنعنوي ولسواک تنظيمونه ترېنه ووتل او له سياف نه يې چې د سروال په توګه د عربستان پيسې ترلاسه کولې، د نه کنټرول کېدونکي اداري فساد او تبعيض شکايت کاووه.»(٦١) افغان ليکوال شهرت ننګيال بيا وايي چې دغه اتحاد نه د جهاد او نه په نورو برخو کې د اختلاف مخه نيولی ونه شوه، ځکه چې «ځينو تنظيمونو سره له دې چې د اتحاد منشور يې لاسليک کړی او سوګند کړی و، د اتحاد د ټينګېدو لپاره يې هيڅ موثر اقدام ونه کړ او لا نورو يې هم په ځانګړې ډول خپل فعاليتونه ګړندي کړل.» په نتيجه کې «د جهاد په

ساحه کې د مجاهدينو پيوستون رانه غلو او په زياترو سيمو کې د دوو ډلو مجاهدينو ترمنځ مسلحانه او خونړۍ جګړې پيښې شوې.» [۶۲] وروسته نجات، محاذ او حرکت په يوې ګډې څرګندونې کې وويل چې دوی له اتحاد نه وتلي دي او په خپلو کې يې اتحاد کړی دی. د حکمتيار حزب لا دمخه د اتحاد په شورا کې د غړو د موضوع پر سر له هغو سره پريکړه کړې ده. اتحاد سياف ته پاتې شو او په دې ډول د افغانستان د ازادۍ لپاره د اسلامي اتحاد په نامه د سياف په مشرۍ يو بل تنظيم ميدان ته ووت. له هغه وروسته په پېښور کې درې اعتدالي او څلور سخت دريځي تنظيمونه ځای پر ځای وو.

د تنظيمونو په ډېروالي او د هغو د مشرانو په بې اتفاقۍ سره ګرانه وه چې د شوروي يرغل په وړاندې جهاد په اغيزناک ډول پرمخ بوتلل شي. دغه حال د آی‌اس‌آی لپاره هم غټه ستونزه وه او هغه دا چې هغه پرېمانه وسلې چې د جهاد لپاره ورته رسېدلې په پېښور کې تنظيمونو ته يا د جګړو په ډګرونو کې جهادي قومندانانو ته ورسوي. آی‌اس‌آی په اولو وختو کې وسلې قومندانانو ته په نېغ ډول رسولې. په دغه طرز سره هم پر وسلو باندې سوداګري کېده او هم د قومندانانو شمېر نور هم ډېرېده. بيا د آی ايس آی د سروال اخترعبدالرحمن په هدايت وسلې په نېغه ګوندونو ته ورکول کېدلې خو له دغو تنظيمونو نه سربېره نور ګوندونه او ډلې هم وې چې د پېژندلو لپاره يې هلې ځلې کولې، د دې لپاره چې وسلې ترلاسه کړي. د آی‌اس‌آی د افغانستان څانګې سروال ډګروال محمد يوسف وايي چې «زه په دې فکر شوم چې په سياسي سطح کې له کوم ډول اتحاد نه پرته په نظامي ډګر کې سمونونه پلي کېدلی نه شي.» په دې اړه له تنظيمي مشرانو سره خبرې پيل شوې، خو دی وايي چې «ما د غه مشران يوازې بېل بېل ليدلی شول. دوی نه غوښتل په يوې کوټې کې له يوه بل سره کښېني.» دی دا هم وايي چې «ما له دغسې

کسانو سره خبرې کولې که څه هم رښتيني مسلمانان وو، که څه هم جهاد ته ژمن وو، په شخصي رقابتونو، تعصبونو او نفرتونو تحريک کېدل چې زياتره وخت يې د هغوی نظرونه خيرنول او پر کړو باندې يې اثر کاووه.»(۶۳)

دا به له دې امله و، چې هر يو د خپل تنظيم امير يا جنګي قومندان و او په سياسي چارو کې د تجربو خاوند نه و، له دوی نه هيڅ يو نه په هغه وخت کې او نه وروسته د تنظيمي واکمنۍ په دوره کې ملي مشر شو. دوی حتی پر خپلو کې هم سياسي فيصلې او اتفاق ته زړه نه کاووه. د حکمتيار په هکله لا ويل شوي چې هغه «په متوافق ډول د خپل اسلامي انقلاب د اوږدې مودې موخه د شورويانو او کابل رجيم په وړاندې له مقاومت نه لوړه نيولې وه. جنګيالي يې د نورو ټولو تنظيمونو له مخکينيو جبهو سره جنګېدل، ځکه چې د حزب ډېر مهم ستراتيجکي هدف پر نورو اسلامي ځواکونو باندې لاس بری و.»(۶۴) خو لا اساسي اختلاف د اعتدالي او سخت دريځو تنظيمونو ترمنځ و. لومړني هم ملي او اسلامي وو او وروستي د ملي ارزښتونو په ټينګه مخالف او د اسلامي ارزښتونو ټينګ پلويان وو. لومړنيو پخوانی پاچا غوښته او وروستي يې په ټينګه مخالف وو. دوی د دې پروا نه کوله چې افغانان يوازې د هغه تر سيوري لاندې يو موټی کېږي. لا مهمه دا ده چې د سخت دريځ تنظيمونو مشرانو د جهاد ديپلوماسي اړخ ته اهميت نه ورکاووه، په داسې حال کې چې د افغانستان موضوع په بېساري ډول سياسي او بين المللي شوې وه. د دغه فکر خام توب د امريکې د باندنيو چارو وزارت يوه چارواکي په دې ډول ښوولی دی. «د دغه ښار [پېښور] خلک سياسي خوا ټينګه نه نيسي. دوی فکر کوي چې که مونږ رښتيانۍ وسيلې [وسلې] ترلاسه کړې، هغه به سياسي کشالې هوارې کړي، خو د ټولې شلمې پېړۍ تجربه ښيي چې هر ګوريلايي جنګ په سياست سره ميدان ګټلی دی.» بيا نو ده

دغه نظر وړاندي کړ چې تر هر څه دمخه دې د مقاومت پر مشرانو باندې فشار واچول شي، چې «د خبرو لپاره یو پیاوړی شریک ترېنه جوړ شي.»(۶۵)

د همدغه وړاندیز له امله یا به په خپله د آی‌اس‌آی مشر هم په همدغه فکر شوی و، چې په کال ۱۹۸۴ کې یې سختې هلې ځلې پیل کړې چې تنظیمي مشران د کوم ډول رسمي اتحاد په ضرورت باندې قانع کړي. د ډګروال محمد یوسف په وینا «د کوم ډول پېژندل شوي لوړ پوړي تنظیم لپاره تېنګ ضرورت و ، چې د هغه له لارې استفاده کوونکو [مجاهدانو] ته پیسې او وسلې ورسول شي او له کوم سره چې مونږ دننه په افغانستان کې د عمل همغاړیتوب وکولی شو. په اونیو اونیو هغه [د آی‌اس‌آی مشر] له دغو مشرانو سره د دغې پیچلې موضوع پر سر خبرې کولې چې سره جوړه وکړي. پاچا زوی ترکي، د سعودي عربستان د استخباراتو سروال چې هغه هم د جهاد لپاره د خپل حکومت د پولي مرستې څارنه کوله، د دغې کشالې د هوارولو لپاره راوغوښتل شو، خو دغو کوښښونو هیڅ نتیجه ورنکړه. اسلامي بنسټ پالو نه غوښتل له اعتدالي تنظیمونو سره کار وکړي.» په پای کې په خپله ضیاءالحق مداخله وکړه او سر پر سر ډېرې غونډې وشوې او وروسته له هغه چې هغو هم نتیجه ورنکړه، د ضاءالحق حوصله اخر ته ورسېده او هغه د سهار په دوو بجو دغه دستور ورکړ، چې تنظیمونه دې اووه ګونی اتحاد سره جوړ کړي او په ۷۲ ګړیو کې دې په دغه اړه یوه ګډه څرګندونه وکړي. هغه دا ونه ویل چې د انکار په حال کې به څه ورسره وکړي. دغه مشران ښه پوهېدل چې د پاکستان یانې د ضیاء له ملاتړ نه پرته هر څه ختم وو.»(۶۶)

هغه و چې په کال ۱۹۸۵ کې د اوو تنظیمونو ترمنځ د افغانستان مجاهدو اسلامي اتحاد په نامه اتحاد و منل شو، په دې ډول چې له اوو تنظیمونو نه به جوړه یوه شورا ټولې مهمې پرېکړې په اتفاق سره کوي. نه د رایو په دېروالي

سره او هر جهادي قومندان به د يوه تنظيم غړی کېږي او که نه له هغه سره بـه هيڅ ډول مرسته نه کېږي. د اتحاد مشري به په هرو دريـيو مياشـتو کې د يـوه تنظيم له مشر سره وي.

لکه چې وليدل شو د افغـان اسـلامي تنظيمونـو دغـه اتحـاد د پاکسـتان پـه نوښت او قوت وشو، نه د تنظيمي مشرانو په خوښـه او نوښـت. دا د خلقيـانو او پرچميانو هغه اتحاد ته ورته و، چې په کال ۱۹۷۷ کې د شـوروي اتحـاد پـه نوښـت او زور شـوی و. موجـود اتحـاد يـوازې د تنظيمونـو اتحـاد و، نـه ملـي اتحاد. هر تنظيم ځانله مرکـز، دارالانشـاء او کميټـې لرلـې. دغـو تنظيمونـو لـه مقابل لوري سره له جنګ نه پرته نـور څـه نـه کـول. پـه دې ډول دوی نـه کـوم متحد سياسي او نه حتی کوم نظامي قوت وو. دا له دې امله و چې لکه دمخـه ويل شوي دي، چې ضياءالحق غوښتل ازاد شوی افغانستان به د پاکسـتان تـر نفوذ لاندې هېواد وي او دغه مقصد د هغه په فکر د تنظيمونو له لارې په ښـه ډول ترسره کېدلی شي. نه د ملي او متحدو افغانانو له لارې. پاکسـتان هغسـې چې دغه تنظيمونه پر خپلو کې سره يو کړل، کولی يې شول چې هغـوی ملـي اتحاد ته هم اړ کړي، خو ضياءالحق دغـه کـار نـه کـاووه. آی‌اس‌آی او سـخت دريځو تنظيمونو لا دمخه د پېښور او پښين ممثلې لـويې جرګـې شـنډې کـړې وې چې مقصـد يـې د ولـس پـه ډاډ د مـوقتي ملـي حکومـت د جوړولـو لپـاره هڅې وې. له دې امله د افغان په مسئله کې ښکېلو خواوو نه هغه وخـت او نـه وروسته دغه اتحاد د افغانسـتان پـه اسـتازيتوب ومنـه، نـو دغـه اتحـاد دغسـې سياسي اهميت پيدا نه کړ، چې د ټول افغانسـتان اسـتازيتوب وکـولی شـي. دا هغسې يو اتحاد و، چـې پـه هغـه کـې هـر تنظـيم کوښـښ کـاووه، خپـل شـتون وساتي د دې لپاره چې وسلې، پيسې او نور ضـروري څيزونـه ترلاسـه کـړي او پـه دې ډول قومنـدانان يـې وکـولی شـي لـه يرغلګـر پـوځ او کابـل رجـيم پـه

وړاندې ښه وجنګېږي. دوی په دغه ډول تر پايه پورې جنګي تنظيمونه پاتې شول.

خو دغه اتحاد تر ټولو هغو نه مهم و، چې د تنظيمونو ترمنځ دمخه شوی و، هغه رسمي او د پاکستان په فکر شوی و او پاکستان بيا د مرستې کوونکو هېوادونو پيسې، وسلې، لوجستکي او نور ځيزونه چې د افغان جهاد په نامه يې ترلاسه کولې، همدغو تنظيمونو ته سپارلې او هغوی خپلو قومندانانو ته رسولې. په دې ډول تنظيمونو جهادي جنګي اهميت پيدا کړ او کوښښ يې هم ونه کړ، چې په بين المللي ټولنو او مهمو هېوادونو کې دفترونه ولري او د افغان کشالې او جهاد په اړه تبليغ وکړي او په دغه کار کې له افغان متخصصانو او کارپوهانو نه کار واخلي چې د کابل رجيم په مخالفت پېښور ته اوښتي وو، واقعيت دا دی چې د پاکستان لوړپوړو چارواکو پياوړی افغان اتحاد نه غوښته، مولف اوليور رای وايي چې «پاکستان په سياسي سطح کې ويرېده چې دغه مقاومت به په هغه ډول انکشاف وکړي چې د فلسطينيانو ډلو کړی وو، چې د مليونو کډوالو له ملاتړ نه بهره من وو.»(۶۷) د افغانستان او شوروي اتحاد په نامه کتاب ليکونکی هنري براډشير په دې اړه لا وايي چې «پاکستان شايد رښتينی اتحاد هيڅ نه غوښته، شايد په دغه دليل چې په خاوره کې به يې يو ځانګړی پياوړی تشکيل د پښتونستان د حرکت لپاره يوه نوې ښه شي، يا د فلسطين د ازادۍ موسسې په شان شي چې په اردن او وروسته په لبنان کې پر ځان ډاډه يو ښېل ځواک شو.» دی دا هم وايي چې مالومه نه ده چې د مجاهدو د منځني ختيځ ملاتړانو به هم د دوی رښتينی يووالی غوښته. د هغو ډېر پياوړی ملاتړ سعودي عربستان غوښتل چې «د خپل سني اسلام ارتو د کس وهابي شکل تبليغ وکړي.» مولوي خالص لا په ۱۹۸۳ کې سياف په دې تورن کړی و، چې له اتحاد نه ناوړې ګټه وچتوي

او «غربي ملکونه مجاهدان بې اتفاق کوي او د هغو لاسپوڅو ته خپله مرسته ورکوي چې هغوی رښتيني سياسي ګوندونه نه تمثيلوي.» [۶۸]

د پاکستان چارواکو چې د افغان جهاد سياسي خوا ځانله منحصره کړه او تنظيمونه يې يوازې په جنګي چاروکې سره متحد کړل، د هغو له لويانو سره يې خپل تعلقات تاوده ساتل او تنظيمونه يې ورته پياوړي کول. په هرو څلورو مياشتو کې به ضياءالحق، جنرال اختر عبدالرحمن د باندنيو چارو وزير او ډګروال محمد يوسف له نظامي ماهرانو سره په ګډه په راولپنډۍ کې د اختر په کور کې له تنظيمي مشرانو سره په پټه ليدل. د باندنيو چارو وزير به له شوروي اتحاد سره د افغانستان د کشالې په اړه د ملګرو ملتونو په منځګړيتوب سره د خبرو مالومات ورکول او د هغو په اړه به يې د هغو نظر غوښته. «هر [تنظيمي] مشر به د خپل تنظيم جنګي چارو او ستونزو په اړه راپور ورکاووه.» دغه غونډې غير له هغو وې چې دوی به له محمد يوسف سره په لنډو وختو معمولاً د هرې مياشتې په پای کې کولې، دی وايي چې «د هرې مياشتې په پای کې هر غړی مجبور و، د خپل تنظيم د عملياتو لنډيز ورکړي.» د ده په فکر دغه غونډې د دوی ترمنځ د اعتماد هوا پياوړې کولو لپاره وې.[۶۹] دا چې د تنظيمونو مشرانو په دې دول په منظم ډول د پاکستان لوړو چارواکو او داسې هم ډګروال محمد يوسف ته د خپلو تنظيمونو کارونو او ستونزو په اړه راپورو ورکاوه، ښيي چې دوی د افغانستان په چارو کې د پاکستان چارواکو مشري منلې وه. د همدغې ډاډينې له امله به وو چې ضياءالحق له خپل ناڅاپي مرګ نه لږ څه دمخه امريکايي مولف سليګ هري سن سره په يوې مرکې کې ويلي وو چې له اول نه د هغه موخه د کمونستي نظام له منځه وړل او پر ځای يې د يوه لاس لاندې رجيم پر ښو د رول او په سهيلي اسيا کې «د ستراتيجکي **بيا صف** جوړول» وو. په دې اړه د هغه

خپل الفاظ دا دي: «مونږ د دې حق خپل کړی چې هلته [په افغانستان کې] يو ملګری رجيم ولرو، مونږ د يوه مخکيني دولت په توګه خطر ومنه او مونږ به پرې نه ږدو چې وضع د پخوا په شان وي چې هلته به د هند او شوروي نفوذ او زمونږ پر خاوره ادعاګانې وې. دا به يو رښتيني اسلامي دولت وي، د اسلامي احيا يوه برخه چې يوه ورځ به د شوروي اتحاد مسلمانان هم پکې شامل وي. ته به يې بيا ووينې.»(۷۰)

چارلز ولسن د امريکې د استازو مجلس غړی چې ډېر کوښښ يې کړی و چې امريکا مجاهدو ته د ستنګر راکټونو په ګډون وسلې ورکړي او په خپله هم پکتيا ته د مجاهدو د عملياتو ليدلو لپاره تللی و، په اسلام‌اباد کې له ضياءالحق سره په خبرو کې دغې نتيجې ته رسېدلی و، چې «... ضياء نړۍ د هندوانو او مسلمانانو ترمنځ د جنګ ډګر ګاڼه او فکر يې کاووه چې پر حکمتيار باندې حساب کولی شي، چې د هند په مقابل کې به د پان اسلامي اتحاد په چوکاټ کې کار وکړي.» هغه دا هم ويلي وو چې ضياء دغسې نقشه ورته ښوولې وه، چې پکې د دغسې کانفدرېشن طرح وه، چې په سر کې به «پاکستان او افغانستان او وروسته منځنۍ اسيا پکې شامله وي»(۷۱). د همدغه فکر له مخې به وو چې آی‌اس‌آی سخت دريځو تنظيمونو او په خاص ډول د حکمتيار حزب ته ډېرې وسلې ورکولې. په کال ۱۹۸۷ کې سخت دريځو ته له ۶۷ نه تر ۷۳ سلنې پورې وسلې رسېدلې. په دې ډول چې د حکمتيار حزب ته له ۱۸ نه تر ۲۰ پورې، رباني ته له ۱۸ نه تر ۱۹، سياف ته له ۱۷ نه تر ۱۸ او خالص ته له ۱۳ نه تر ۱۵ پورې. په اعتدالي تنظيمونو کې د مولوي محمدي سلنه له ۱۳ نه تر ۱۵، د ګيلاني له ۱۰ نه تر ۱۱ او د مجددي له ۳ نه تر ۵ پورې وه.(۷۲)

پر هغه سربېره سخت دريځو تنظيمونو ته د عربي نړۍ له شتمنو خلکو او

موسسو له خوا نغدې پیسې رسېدلې او هغه غیر لـه هغـو څخه وي چې د عربستان حکومت د امریکې حکومت په انـدازه د آی‌اس‌آی لـه لارې مجاهـدو تنظیمونو او افغان کډوالو ته ورکولې، له اعتدالي تنظیمونو سره شتمنو عربـانو او موسسو مرسته نه کوله. البته د ډېر قومندانان چې د جهـاد اصـلي قـوت و، مجبور وو د خپلې خوښې په تنظیم پورې ځانونه ونښلوي. په پېښور کې افغان کډوال هم مجبورېدل چې کوم تنظیم ته منسوب وي. پـه دې دول د جهـاد پـه ټوله دوره کې سخت دریځـي تنظیمونـه هـم د پاکسـتان او هـم عربـي شـتمنو شیخانو او عربستان ته مقرب او په غوره کې وو، د دغه چلنـد پـایلې هغـه وې چې ما په کال ۱۹۹۰ کې د افغانزوی په مستعار نامه ویلي وو چې «ایـن امتیـاز حساسیت و نفاق را بین تنظیم ها خلق و شدید سـاخت. حکومـت پاکسـتان همچنان افغـان هـا و تنظـیم هـای ملی ګـرای، ازادی ګـرای، و مسـتقل الـرای بخصوص طرفداران شاه ممنوع را درخاک خود اجـازه فعالیـت نـداد. انهـا را توسط متحدین اسلامست افغان خود یا منکوب و یا ضعیف ساخته و یا هـم بـه جهـان دور غـرب بـه مهـاجرت دوم مجبـور نمـوده در اینصـورت سـالاری جهاد ملی افغان در دست د **تنظیم هـای اسلامسـت قـرار ګرفـت**. مګـر ایـن تنظیم ها با هیئت های رییسه ان... بر پاکستان متکی شـدند و حتـی در امـور جهـادی خـود هـم ازادی عمـل را از دسـت دادنـد. اسـتخبارات نظـامی پاکستان.... که حکومت پاکستان پالیسی خـود دربـاره افغانسـتان را از طریـق آن عملي مینمود، ازادی عملی تنظیم ها را از روی پالیسی تحدید نمود. هـیچ جلسه و فیصله این تنظیم ها... بدون حضور نماینـدګان ان بخصـوص کرنېـل پاچا صورت ګرفته نمیتوانست. په دغه حال کې د پاکسـتان لـوړو چـارواکو د دغو تنظیمونو له امیرانو سره دغسې چلند کاووه، چې لکه خپل چارواکي یـې وي. پـه پېښـور کـې د امریکـې د سـي‌آی‌اې ځـانګې امـر ملـټ بیـرډن (M.

(Bearden وايي چې د ISI مشر اخترعبدالرحمن په ۱۹۸۶ کې د هغه په مخ کې په يوې غونډې کې چې د تنظيمونو ټول مشران پکې حاضر وو، د نويو وسلو په اړه په دغو الفاظو مخاطب کړل: «که له دغو وسلو څخه کومه يوه د دښمن لاس ته ورغله، يا زه واورم چې هغه پر نورو خرڅه شوه، زه به تاسې هر يو مسؤل وګڼم»[۷۳] د تنظيمي لويانو د دغه تابيعت په جايزه کې د پاکستان حکومت دوی ته په خپلې خاورې کې د افغان کډوالو په اړه دغومره واک ورکړی و، چې شايد بل هيڅ حکومت په خپلې خاورې کې باندنيو ته قايل شوی نه وي. په يوه حساب دوی ته په پېښور کې پر افغان کډوالو باندې د يو ډول په خپل سر حکومت واک ورکړل شوی و، چې د هغه يوه نتيجه د بې شمېره افغانانو کډوالو تر ورکېدل يانې وژل کېدل وو. د آی‌اس‌آی په اشاره د ځينو تنظيمونو له خوا بې شمېره افغانان ترور شوي دي. ترور شوي ملي او زياتره تعليم کړي افغانان وو، چې د سياسي اسلام پالو مخالف وو. په دغه ډول دغه ترور په اصل کې سياسي او عقيدوي وو او هغه ډېر دمخه شروع شوی وو. بيا هم زما د ليکنې له مخې «در پشاور در شروع جهاد به ترور توسل شد. افغان هاييکه از کابل به پشاور پناه می اوردند و مظنون واقع ميشدند ترور ميشدند. ممکن نيست تعداد واقعی ترور شده ګان ګم نام تا ابد معلوم ګردد، ولی ګفته ميشد که اين تعداد از صدها تجاوز نموده بعضی آن ها را به هزارها ميرسانند. بقولی دو ماه بعد از تجاوز شوروي که تعداد مهاجرين دفعتاً زياد شد.... در حدود چارنيم صد افغان ترور شدند. در اين وقت در روز روشن در سړک ها و بازارها ترور صورت ميګرفت. اجساد ترور شده‌ګان يکجا ديګر جا بخصوص در کانال پشاور ديده شده است. بقول همين راوی چند سال پيش در پشاور فرمانی به نشر رسيد که در آن بقومندان های [يک تنظيم افراطي] باين مفهوم هدايت داده شده بود: «که د

رقیبو ډلو یا محلي او ملي کسانو نه څوک په کومې منطقې کې نوم او نفوذ پیدا کوي، باید مخه یې ونیوله شي. یا له منځه لاړ شي او یا دې د دښمن په لاس کې ورکړل شي» یک قومندان با ایمان و خبیری دو سال پیش باین نویسنده هم چنین راز دل کرده است. در هر حال در اول نسبت ترور به تمام تنظیم ها کرده شده، و لی بتدریج مشغله حرفوی ها شد و نسبت آن عمدتاً بان تنظیم ها میشود که از خود محابس دارند و به بندی ها عذاب و شکنجه میدهند.»(۷۴)

ممکنه نه ده چې چې دغومره ډېر افغانان په پېښور کې ترور شي او یو ترور کوونکی هم ونه نیول شي. په پېښور کې له آی‌اس‌آی او سخت دریځو تنظیمونو نه پرته نور خلک د افغان کډوالو له ترور سره علاقمن نه وو، هغه هم په دغومره ډېر شمېر.

له نوم ورکو افغانانو سربېره د نامه او نفوذ خاوند افغانان هم ډېر ترور شوي دي، چې د هغو ډېر یاد کسان دا دي: جنت خان غروال، عزیزالرحمان الفت، پوهاند ډاکټر سیدبهاءالدین مجروح، پوهندوی ډاکټر نسیم لودین، ډاکټر سعادت شګیوال، استاد ذاکر، عبدالرحیم څین زی، حاجی عبداللطیف، ملا نسیم اخندزاده، ډاکټر قیوم رهبر، محمد ولي کړوخېل، جنرال عبدالحکیم کټوازی، د ولسي جرګې پخوانی مرستیال عبدالاحد کرزی.

دغه تصفیه په واقع کې د هغې تصفیې دوام و، چې خلقیانو او پرچمیانو دمخه په کابل کې پرې پیل کړی و. په کابل کې ملي، دموکرات او لبرال افغانان د ضد انقلاب په نامه او په پېښور کې له سیاسي اسلام سره د مخالفت په پلمه له مینځ نه وړل کېدل. په نتیجه کې هغه پراخه تعلیم کړې معتدله ډله چې له وطنپالو، خپلواکي پالو، افغانانو نه جوړه وه او په اداره او

سیاست کې د پوهـاوي، زغـم، او ایـتلاف پلویـان وو او د ملـي کشـالې پـه هوارولو کې یې اثر او خدمت کولی شو، په کابـل کې د چپـي افراطیـانو او پـه پېښـور کې د مـذهبي سـخت دریځـو لـه خـوا وځپـل شـول. د دغـې تصـفیې سـرچینه د شـوروي اتحـاد ک. ج. ب او د پاکسـتان آی‌اس‌آی وه. دواړو د افغانستان لاندې کولو ته سترګې نیولې او په دې اړه یې دسیسې کـولې. دواړو د خپلې خوښې افراطي ډلې پیاوړې کولې، د دې لپاره چې افغان ولـس د دوی سرمشري منلو ته اماده کړي. د همدغه چلند بله خوا د افغان ملي هویت ځپل او د ملي خپلواکۍ له مینځ نه وړل وو. په کابل کې کارمـل غوښـتل افغانسـتان د شوروي اتحاد شپاړسم جمهوریت کړي او په پېښور کې ځینو افغان سیاسـي اسلام پالو ویل چې «که په دغو دواړو هېوادونو [افغانسـتان او پاکسـتان] کـې اسلامي نظام غلبه وکړي، مونږ غوره ګڼو چې زمـونږ تـرمینځ ګـډې پـولې لـه مینځ نه یووړلې شي او دواړه هېوادونه سره یو موټی شي.» ځینـو لا ویـل چـې د افغانستان نوم اسلامستان شي.

# څلورم څپرکی

# د کابل پرچمي رجيم
# او يرغلګر پوځونه او د وطن مدافعان

**لومړنۍ خبرې:**

شوروي اتحاد په خپل پوځ سره په کابل کې د کارمل په سروالۍ د پرچم رجيم پر پښو ودروه، په دې هيله چې شوروي شوي پرچميان او شوروي شوي خلقيان به پر افغانستان باندې د دوی په دستور حکومت وکړي. شورويان په دې اړه دغومره ډاډه وو، چې غوښتل يې د خپل دغه پوځ يوه برخه په لنډه موده کې بېرته وغواړي. دوی فکر کاووه چې افغانستان به د دوی د پوځ په شتون سره ارام او د پرچم رجيم به هلته حاکم وي. دوی افغان ولس په نظر کې نه و نيولی، که څه هم دوی هر وخت خلق ستايل او د تاريخ اصلي جوړونکي يې ګڼل. خو د خپلو ويناوو پر خلاف يې په افغانستان کې دغسې کسان د واکمنۍ پر ګدۍ کښېنول چې هم په اقليت کې وو او هم يې اجتماعي بنسټ نه لاره، خو دوی شوروي شوي او د شوروي اتحاد چارواکي شوي وو، بيا نو دوی ټول د افغانانو له مخالفت سره مخ شول. دغه مخالفت ټينګ او رښتينی و. په وړاندې يې سمله لاسه ښاريان او د ښوونځيو او پوهنتون شاګردان جګ شول. د دوی پاڅونونه وځپل شول، خو هغه د افغانانو د غوڅ اکثريت په ملاتړ د وطن، خپلواکۍ او ننګ ناموس

مدافعانو یانې مجاهدانو لپاره د پرله پسې مجاهدې پیلامه شوه. مقاومت د نړۍ والو توجه او مرسته هم جلب کړه او شورویان مجبور شول د هغو په وړاندې له خپل زیاتېدونکي پوځ نه په بې رحمۍ سره کار واخلي او د خپل تابع رجیم پوځي ځواک هم پیاوړی کړي. سره له دې هم دواړه پوځونه پر خپلو کوښښونو کې بېرته پاتې شول او د هغو پر خلاف مجاهدان په خپل خلل نه منونکي عزم کې د خپل ولس او داسې هم د ډېرو نړۍ والو په مرسته بریالي شول او افغانستان یې خپلواک کړ. په دغه څپرکي کې د دواړو خواوو جنګي ځواکونه او اړوندې موضوع ګانې تر بحث لاندې نیولې کېږي.

# د شوروي اتحاد پوځ

د افغان- شوروي جګړې په یوې خوا کې د روسیې د لوی درستیز د اداري افسرانو په حواله د شوروي اتحاد څه باندې سل زره سرتېري وو، چې له دزروي وسلو نه پرته په ډول ډول عصري وسلو سمبال وو. دغه پوځ د شوروي اتحاد د څلوېښتم لمبر پوځ په نامه یادېده، چې د ۱۹۸۵ کال له اپرېل نه د بل کال تر اپرېل پورې له څلورو فرقو (divisions)، پنځوغونډو (brigades) څلور کنډکونو (Regiments) او شپږو لواګانو (batalians) نه جوړ وو. د سرتېرو ټول شمېر کال په کال تغییر کاووه او یو کال ۱۳۰۰۰۰ سرتېرو ته جګ شوی و. ټولې غټې ماشیني وسلې یې د شپږ زره ډول ډول ټانکونو په ګډون نهه ویشت زره وې. هوایي کنډکونه یې څلور او هیلیکوپټر کنډکونه یې درې وو. یو وخت یې د ۱۰۸۸۰۰ سرتېرو نه ۷۳۰۰ د جنګ لپاره او نور یې د نظامي تاسیساتو، لویو لارو او ښاري مرکزونو د ساتلو لپاره

موظف وو.[۱] شورويانو له دغو وسيلو نه تر هغو پورې مجاهدانو تـه پـه کـال ۱۹۸۶ کې د امريکې نـوي جـوړ شـوي دسـتنګر راکټونـه ورسـېدل، او دوی پـه هغو سره الوتکې او هليکوپټرونه نسکورولی شول. بېخـي ډېـره اسـتفاده کولـه. دغو هليکوپټرونـو بـه ټيټـې الـوتنې کـولې، پـه مجاهـدو پسـې بـه اخـوا دېخـوا ګرځېدل او په راکټونو به يې ويشتل. ليرې سيمو ته به يې د زانهو پـه شـان پـه لوړه فضا کې په لويو ډلو کې الوتنې کولې. مجاهدان لـه دغـو هليکوپټرونـو نـه ډېر پـه تنـګ وو، او شـورويانو د دې لپـاره چـې تلفـات يـې کـم وي، لـه دغـو هليکوپترونو نه ډېر کار اخيست. د ضرورت په وخت کې يې له امو نه اخـوا د ترکمنستان له نظامي هډو نه هم له هغو نه کار اخيست خو له ټانکونو نه يې د افغانستان په غرنيو سيمو کې ښه کار اخيستلی نه شو.

خبره چې له ماشيني وسلو نه سرتېرو ته راشـي، قصـه بيـا بـل راز شـي. پـه عمـومي ډول سـرتېري د اجتمـاعي او اقتصـادي ښـکته ډلـو لـه ځوانـانو نـه افغانستان ته استول کېدل. په افغانستان کې د سخت جنګ خبر چې شـوروي اتحـاد کـې خپرېـده، د جنـګ وړ ځوانـانو او کورنيـو يـې کوښـښ کـاووه چـې ځوانان يې له جلبېدلو نه وژغورل شي. د جلب مـامورانو تـه رشـوتونه ورکـول کېدل، د شتمنو او نفوذ خاوند کورنيو ځوانان په دې ډول له عسکري خدمت نه ژغورل کېدل، د جلب مامورانو بيـا د اطرافـي سـيمو ځوانـان ډېـر او د ښـار ځوانان لږ جلبولی شول. داسې هم دغـو مـامورانو جنايتکـار بنـديان د بنـد پـه برابر کې جلبول او افغانستان ته استول.[۲] د شوروي اعلی قومندانۍ پـه خپـل پوځ کې دافغانستان د چم ګاونډيو جمهوريتونو نه تاجکان، ازبکان او ترکمنان ونيولو. په اول سر کې په دغه پـوځ کـې زيـاتره سـرتېري دوی وو، هيلـه کېدلـه چې د دوی شتون به په افغانانو په تېره په ازبکو، تاجکو او ترکمنو افغانانو ښـه اثر وکړي. خـو د دغـه چلنـد پايلـه سـرچپه شـوه، ځکـه چـې دغـو سـرتېرو پـه

افغانستان کې له خلکو سره خواخوږي ښوونه، دغه خواخوږي د اسلامي جذبې له امله هم وه. دوی له افغانانو نه وظيفات او قرآن مجيد ترلاسه کول. له بلې خوا «د ازبکانو، تاجکانو او ترکمنانو شتون د يوه اخري تخريش په شان شو، چې انقلاب ضد محرکاتو او پروپاګندچيانو [افغان مجاهدو] ترېنه ګټه وچته کړه.» په پوځ کې د هغو شتون جنګ ته قومي بڼه ورکړه او د جنګ لمبې يې شديدې کړې.[۳]

په شوروي اتحاد کې د جلب په و خت کې په روزنيزو مزکرونو کې سرتېرو ته ويل کېدل چې دوی به په افغانستان کې له چيني او امريکايي اجيرانو سره جنګ وکړي. خو چې په افغانستان کې به ننوتل ورته به مالومه شوه چې دوی په خپله په يوه دښمن ملک کې نابلل شوي يرغلګر دي. د دغه حال په درک سره به مورال نور هم ضعيف شو.[۴] دوی ته به دا هم ويل کېدل چې دوی به په افغانستان کې خيريه کارونه وکړي، لکه د کورونو، ښوونځيو او وړوکتونو جوړول، په دغو تېر ايستلو سره به افسران بې اعتبار کېدل. «افسرانو به سرتېري وهل او سرتېرو به د افسرانو په وژلو سره کله انتقام اخيسته او دغه وژنې به يې نظامي عملياتو ته منسوبولې.» په قومي ډلو کې په تېره د منځنۍ اسيا او سلوانو ترمنځ اختلافات به د وژنو، بغاوتونو او نارامېو لاملونه هم کېدل. په نظامي واحدونو کې قومي نښتې ډېرې وې.[۵]

په افغانستان کې د شوروي سرتېرو لپاره واډکا او نيشه يي مواد يوه غټه ستونزه وه. دواړه سرتېرو او افسرانو ته موجود وو. خو د پيسو په برابر کې او بيه يې د سرتېرو له توان نه لوړه وه. جلبي سرتېري ته چې د تجربې او مسلکي زده‌کړې خاوند نه و، په مياشت کې د جېب خرڅ په نامه پينځه ډالر ورکول کېده او دغه پيسې به په معمولي ډول په اضافي خوړو لګېدلې. ډېر سرتېري به زياتره وخت وږي وو. د خوړو جيره نه په کافي اندازه او نه ډول

ډول وه. دوی ته به سابه او مېوه کله کله رسېدله. د ډېرو ژوند ستړی کېدونکی او یو ډول و. د جنګ حال د دې لامل کېده، چې ډېر سرتېري الکول او نیشه یي موادو ته مخه وکړي. د چرسو رانیول ارزان خو د واډکا بیه دغومره لوړه وه، چې هغه به یوازې افسرانو رانیولی شوه. د یوه استونیایي شوروي په وینا «افغان سرتېرو به زیاتره وخت خپلې روسي وسلې د خوراک او څښاک په بدل کې له خلکو سره مبادله کولې. مونږ هم همدغسې کول، ځکه چې د جنګ په حال کې ډېره اسانه وه، چې د وسلو ضایع توب لپاره پلمه برابره شي... بیا مونږ د وسلو په بدل کې هر ډول خواړه او د څښلو څیزونه او حتی وچه ډوډۍ ترلاسه کوله... ځینو سرتېرو چرس او نور نیشه یي څیزونه رانیول. زمونږ اسیایي سرتېري زیاتره وخت په نیشه یي موادو معتاد وو، ځکه چې د دوی په ملکونو کې د چرسو بوټي او نور کرل کېږي»[۶] په الکولو معتاد سرتېرو به د هغو د رانیولو لپاره جرمونه هم کول. «د شوروي څارپوستو (Check Points) کې به سرتېرو د ملکي افغانانو سامانونه د وسلو لپاره لټول. هغه افغانان به «کابل ته» استول کېدل، چې ډېرې پیسې به ورسره وې، و کابل ته د استولو مانا دا وه چې هغوی او سامانونه به یې له نظر نه لېرې د کوم دېوال تر شاه ګوښه کېدل، هلته به سرتېرو هغوی وژل او پیسې به یې خپلولې [۷] د پوځ وړه برخه لږ و ډېر په چونیو کې په ښه حال کې وه، خو ستره برخه یې په خېمه ییزو ښارونو کې ځای شوي او شاوخوا به یې ماینونه ایښودل شوي وو. حتی په کابل کې هم کمپونه زیاتره د خېمو وو. په ژمي کې به څلوېښت سرتېري د یوه تجیر په منځ کې له بخاریو نه راتهول وو. د تجیر د مینځ کسان به له تودوخې نه ورتېدل او په څنډو کې به له یخنۍ نه لړزېدل. د روغتیایي او ځان وینځلو اسانتیاوو نه شتون له امله سرتېري ناروغ کېدل، لکه چې په خوړو کې د ویټامینو کمښت د ناروغۍ

لامل کېده.[۷] «... حتی له شدیدو نښتو نه وروسته به هم کنډکونو ته مالومه شوه چې د ناروغانو شمېر به تر ټپیانو نه ډېر و.»[۸]

په شوروي پوځ کې ناروغي غټه ستونزه وه. «په افغانستان کې د شوروي سرتېري په سلو کې شپېته تنه د سختو ناروغیو له امله بستري شوي دي. د ځیګر انتاني ناروغۍ، کورلا، شګی لوسس (Shigelosis)، امیبي ناروغۍ او له اوبو نه پیدا نورو ناروغیو د څلوېښتم لمبر پوځ دلیکو لسمه برخه وربېله.» د افغان-شوروي د جګړې اثر ژباړونکی وایي چې «د څلوېښتم لمبر پوځ لپاره ناروغي تر جنګ نه غټه ستونزه وه.»[۹] یوې بلې موضوع هم د شوروي سرتېرو مورال ضعیف کړ او هغه دا چې د یوه نوي فرمان له مخې ټولو ته باید یوه اندازه معاش ورکړل شي. بې له دې چې هغو ته چې سختې دندې یې ترسره کولې، ډېر معاش ورکړل شي یا هغو ته چې ډېرې او حیاتي او اخلاقي ستونزې ګالي انعام ورکړل شي.[10] «په دغه حال کې یوه متوسط شوروي دغسې خوځونکې قوه نه حس کوله چې په افغانستان کې جنګ وکړي، غیر له هغه چې هغه ژوندی پاتې شي او کور ته ستون شي. هغه له خپل پلازني هېواد نه دفاع نه کوله؛ هغه یو یرغلګر و، چې ډېرو افغانانو، متحدینو او دښمنو ترېنه کرکه لرله، ښه روزنه یې نه وه لیدلې او ښه ژوند یې هم نه لاره.» د هغه امریکایي سرتېري فکر له ده سره جوړ راته چې د ویټنام په جنګ کې یې ښکاره کړی او هغه دا چې «ما هیڅ وخت نه حس کوله چې زه د کومې خاصې داعیې لپاره جنګېږم، ما جنګ کاووه چې ژوندی پاتې شم او ما وژل کول، د دې لپاره چې له وژل کېدلو نه وژغورل شم.»[11]

بیا هم شوروي سرتېري مجبور وو جنګ وکړي، په تېره هغه وخت چې مجاهدان پرې رادمخه کېدل، یا یې د مجاهدانو ترلاس لاندې سیمو کې عملیات کول. خو دوی په افغانستان کې له دغسې ګوریلایي یا چریکي جنګ

سره مخ شول، چې ورسره روږدي نه وو. دلته یې له هغو تجربو نه کار اخیستلی نه شو، چې په دوهم نړیوال جنګ کې یې ترلاسه کړې وې، د نړیوال جنګ په عملیاتو کې به تر یو لک پورې سرتېرو برخه اخیستله، خو په افغانستان کې له لسو زرو نه تر پنځلس زرو پورې. «په افغانستان کې شوروي ځواکونه مجبور شول د یوه غیر عادي دښمن په وړاندې د ازمویني او تېروتني Trial and error) فارمول نه د یوه نوي نظامي هنر په توګه کار واخلي. دغه فارمول د دوی د عملیاتو اغیزه لږه کړه او د بېخایه تلفاتو لامل شو.» د بېلګې په ډول د ۱۹۸۰ په فبرورۍ کې یوې لوا چې په مارش پیل وکړ له یاد نه یې وایست چې د خپلو خواوو امنیت ونیسي. مجاهدو له دغې غلطۍ محاسبې نه په استفادې سره د لوا پر مینځ سخت ګذارونه وکړل. دوی ټول شاید د شپېتو تنو په شاوخوا کې وو. «خو د دښمن عمل دغومره ناڅاپي و چې د ټولو سطحو قومندانان یې وارخطا او هک پک کړل او هیڅ یوه قومندان ونه شو کولی د مقابلو ډزو امر ورکړي. په پای کې هغه وخت امر وشو چې دښمن خپل ځایونه پرې ایښي وو او سیمه یې له کوم خنډ او ژوبلې نه پرته ترک کړې وه.»[12]

په اولو وختو کې شوروي سرتېري د جنګ په وخت کې نېغ درېدل او پروت یې نه کاووه یا یې کولی نه شو او تلفات یې ډېر وو. د پورته دلیلونو له مخې او دا چې مجاهدان د خلکو د ټینګ ملاتړ په قوت په عمومي ډول له ښارونو او ښارګیو نه پرته په ټول ملک کې خواره وو او د رجیم له پوځ نه ډېر سرتېري تښتېدل، په نښتو او جګړو کې د شوروي سرتېرو تلفات ډېر وو. روسي افسران اعتراف کوي چې د یرغل له پیل یا «د ۱۹۷۹ کال د ډسمبر له ۲۵م نه تر یو د یرشم پورې هره ورځ په متوسط ډول نهه شپېته(۶۹) شورویان تلف کېدل.» له هغه وروسته د تلفاتو اندازه لږه شوه، خو بیا هم

جګه وه «د ۱۹۸۴ کال په ډېرو خونړيو ورځو کې لـه څلوېښـتم لمبر پـوځ نـه هره ورځ ۲۶ تنه وژل کېدل، يا ټپي کېدل.»[13] دا سره لـه دې لکـه چـې دمخـه ويل شوي دي، شـورويانو لـه ماشـيني هـوايي قـوې پـه تېـره لـه تـوپ لرونکـو هليکوپټرونو ډېر کار اخيست. په همدغه کال کې اټکـل ۲۴۰۰۰۰ مجاهـدان او نور افغانان تلف شوي دي.[14]

داسې ښکاري چې شـورويانو پـه کـال ۱۹۸۳ کـې د وژنـې لـه دغسـې نـوې طريقې نه کار اخيستل پيل کـړي وي، چـې د هغـې لـه مخـې د مجاهـدو هغـه بېسونه يا قاعدې (Bases) له خلکو نه خالي کړي چې له هغو نه مجاهـدانو د دوی په وړاندې عمليات کول، دوی د دې پروا نه کوله چې دغـه کـار د انسـان پر ضد او د د وی د هغې عقيدې پر ضد، چې ويـل يـې دوی د خـواري کښـو خلکو خدمتګاران دي، خو په افغانستان کې يې په شـعوري او قصـدي ډول د دغسې خلکو پـه وژلـو پيـل وکـړ. بيـا هـم پـه خپلـه د روسـي افسـرانو پـه وينـا «دغسې وضع شوروي ځواکونه اړ کړل چې د دښمن د له مينځ نه وړلـو لپـاره نوي شکلونه او لارې ولټوي دوی پرېکړه وکړه چې هغه يوازنۍ لاره چې [پـه هغې سره] غوڅې نتيجې ترلاسه شي دا ده چې د مجاهدو سـيمه ييـز بيسـونه وران شي. د دغه ماموريت لپاره خاصه پاملرنه وشوه.»[15] اصلي مقصـد دا و چې د کليو او بانډو خلک اړ کړل شي چې خپل کورونـه پرېـږدي. د دې لپـاره چې مجاهدان د هغو له مرستو او ملاتړ نه محروم وي او دوی يې ښه وځپي. د مولف سټيفن تېنر په وينا «د دوی د اشـغال تـوره خـوا دا وه چـې پـه داسـې حال کې غوښتل پوځ يې په يوه ټاکلي حدود کې وي او لـه لويـو عمليـاتو نـه ډډه وشي داسي ښکاري چې په ۱۹۸۳ کې يـې پرېکـړه کـړې وي چـې اطرافـي سيمې په خپل هوايي ځواک سره له خلکو نه خالي کړي. په دغـو «ورانولـو او لټولو» ماموريتونو سره به د بېلګې په ډول توپ لرونکي هليکوپټرونـو يـو کلـی

ورانوه؛ له هغه وروسته به پوځیان ورننوتل چې کنډوالې یې ولټوي او وسلې او قیمتي څیزونه یې ترلاسه کړي. په اطرافي دروکې به بیا الوتکې د چوونکو موادو تارونه ښکته غورزول، په داسې حال کې چې په نیپام سره به یې فصلونه او باغونه ورانولو. د پسو او وزو رمې به په هلیکوپترونو سره چې په یوه دقیقه کې به یې نهه دېرش زره ګولۍ اورولې وهل کېدلې او د دې لپاره چې بیا کرنه ونه شي، په مځکو کې به ماینونه کرل کېدل. د همدغو او نورو خطرونو له امله وو چې د ۱۹۸۴ کال تر نیمايي پورې درې نیم ملیون افغانان پاکستان ته او یو ملیون نور ایران ته کډوال شول. په سلګونو زره نور دننه کډوال شول او د کابل ښار نفوس چې له جنګ نه دمخه اووه نیم لکه وو، نږدې شلو لکو ته ورسېد، د افغانستان دریمه برخه خلک بېخایه شول. فرانسوي ډاکټرانو چې د مقاومت په سیمو کې یې بې له پولې طب سره خدمت کاووه، په یوه راپور کې څرګنده کړه، چې په هغو ټپیانو کې چې دوی یې علاج کړی دی، په سلو کې اتیا تنه ملکي کسان وو.»[۱۷]

د شورویانو د دغه ټینګ او پرله پسې فشار له امله ډېر پښتانه د ډېورنډ له کرښې نه اخوا په پېښور، کوټې او د هغو شاوخوا سیمو کې مېشته شول. په پاکستان کې په افغان کډوالو کې د دوی ونډه په سلو کې پنځه اتیا تنو ته ورسېده، دا ځکه چې شورویانو له خلکو نه د سیمو د خالي کولو پروګرام له مخې د دوی سیمې تر سختو بمباریو لاندې نیولې وې او په خپله دوی په حکومتي ضد[او د اسې هم په شوروی-ضد] حرکت کې تر ټولو ډېر فعال وو.[۱۸]

## د کابل رجیم پوځ

دمخه ویل شوي چې د خلقي پوځ، د شوروي یرغل په وړاندې له وطن نه دفاع ونکړه، خو ډېرو یې وروسته د مجاهدو په پلوي دغسې پټ او برالا کارونه وکړل، چې د شورویانو له خوا د هېواد لاندې کول یې مشکوک کړل. د ۱۹۸۰ په سر کې د شوروي څلوېښتم لمبر پوځ له دوپنځوس زره سرتېرو او افسرانو نه جوړ و. شورویانو فکر کاووه چې دغه شمېر به د هېواد د لاندې کولو لپاره کافي وي. «فکر کېده چې شوروي ځواکونه به د یرغل او وروسته د مېشته کېدلو په وخت کې جنګ کولو ته اړ نه شي، دغسې احساس کېده چې شوروي ځواکونو یوازې شتون به د مجاهدو لپاره د عبرت درس وي. د شوروي نظامي مرسته به په لومړي سر کې د افغانستان دموکراتیک جمهوریت ته معنوي ملاتړ وي.»[۱۹] په خپله برېژنیف هم په امریکې کې خپل سفیردوبري نن ته د ۱۹۸۰ کال په جنوري کې ډاډ ورکړی و، چې د افغانستان کشاله به «...په دریو یا څلورو اونیو کې هواره شي.» برېژنیف دغومره ډاډه و، چې د پولټبورو په یوې غونډې کې یې څرګنده کړې وه، چې د خپل پوځ یوه برخه له افغانستان څخه بېرته وغواړي خو «....اندروپوف، اوستینوف او ګرومیکو د پونومارییف په ملاتړ استدلال وکړ چې کارمل په کافي اندازه پیاوړی نه دی او زمونږ د پوځ له ملاتړ نه پرته به وپرزول شي.»[۲۰] برېژنیف که څه هم د شوروي د پراخې امپراتورۍ سر مشر و، په دې نه پوهېده چې هغو «امپراتورانو او جنرالانو چې خپل پوځونه د ۱۹۱۴ کال په اګست کې جنګ ته واستول، فکر کاووه چې هغه به په اونیو کې ختم شي، نه دا چې میاشتې یا کلونه به ونیسي.» د جرمن امپراتور قیصر خپلو عسکرو ته د اګست په اولو کې وفرمایل چې «تاسې به پخوا له دې چې د ونو پاڼې ورژېړي خپلو کورونو ته ستانه شئ.» په عین حال کې د روسیې

امپراتوري ګارډآان برلین ته په ننوتلو ډاډه وو، خو په دې کې متردد وو، چې خپل نظامي یونیفورمونه له ځان سره یوسي یا په بله پوسته کې ور واستول شي.(۲۱) خو د دغه بین المللي جنګ ځانګړی قوت او منطق د دوی ټول غلط ثابت کړل؛ هغه د څو اونیو پر ځای څلور کاله ونیول او د برېژنیف جنګ څه باندې نهه کاله، هغسې چې د هغه جنګ شروع کوونکي په مقصد ونه رسېدل. د برېژنیف جنګ شروع کوونکي هم په مقصد ونه رسېدل. هغسې چې په هغه کې بیخي ډېر انسانان ووژل شول، د برېژنیف په جنګ کې هم بیخي ډېر انسانان تلف شول او کشاله هم په پای کې په خبرو سره حل شوه.

شوروي لویان په دې فکر هم وو، چې افغان پوځ د مخالفانو په وړاندې د جنګ اصلي بار پر غاړه اخلي، خو دوی دا نه وه سنجولې چې پوځ په پرچمي رجیم کې هغسې نه پاتې کېږي، چې د خلقي حکومت په وخت کې و. دوی ته به هم مالومه وه، چې پوځ په اصل کې د خلقي افسرانو په لاس و، نه د پرچم افسرانو تر حکم لاندې. البته دا به دوی ته مالومه نه وه، چې له سرتېرو نه ډېر یې د یرغل مخالف وو. دغه حال جنرال پاولوفسکي ته مالوم و، چې د خپل د دفاع وزیر جنرال اوستینوف ته ویلي وو، چې افغانستان ته د پوځ استول مصلحت نه دی. «ببرک کارمل له اول نه د ملي دفاع وزارت د عملیاتو ګروپ مشران له دغې وضع نه خبر کړي او ورنه یې غوښتي وو چې څنګه چې دی پر خپل پوځ اعتماد نه لري، شوروي ځواکونه دې په فعال جنګ لاس پورې کړي.»(۲۲) د شورویانو بله تېروتنه دا وه چې خیال یې کاووه، مجاهدان به د دوی له پوځ نه وډار شي، حال دا چې هغوی د دوی په یرغل سره نور هم وپارېدل. شوروي افسران هم په دغه حقیقت اعتراف کوي او وایي چې «مخالفانو له دغه احساس نه سمله لاسه ګټه وچته کړه،

ځکه چې دوی کارمل نه یوازې سیاسي دښمن بلکې د مسکو تابع ګاڼه.» د دوی په اند دغه کار دوه سمې نتیجې ورکړې؛ «یو دا چې د مخالفت حرکت په ټول افغانستان کې خور شو. بل دا چې د نسبتاً ارامې دورې نه وروسته مخالفانو په خاص ډول د شوروي ځواکونو په وړاندې وسله وال تېری پیل کړ.»[۲۳]

پرچمیان نه دا چې په پوځ کې کم وو، د شوروي یرغل په وخت کې یې نومیالي افسران هم نه لرل او هیڅ پرچمي افسر په یرغل کې برخه نه لرله، او خلقیانو دوی دوه ځلي ځپلي هم وو. له بلې خوا ټولو خلقي افسرانو د یرغل ملاتړ نه کاووه، که څه هم په اول کې یې ورسره مخالفت نه و کړی. د پوځ غیر کمونستي افسران او عادي سرتېري خو د یرغل ټینګ مخالف وو. ډېرو افسرانو مجاهدانو ته اطلاعات ورکول، د ۱۹۸۰ په منځ کې د ملي وزارت د استخباراتو ټول افسران د هغو د سروال جنرال خلیل په ګډون له مجاهدانو سره د لاس لرلو په تور ونیول شول او جنرال خلیل اعدام شو. د پوځ ډېرو افسرانو د رسمي ګوند له غړیتوب نه ډډه وکړه، او هغوی چې په فشار سره ګوند ته جلب شول ورته وفا دار نه وو. دوی دیوه یا بل اسلامي تنظیم غړي وو. له رجیم سره د دغو نظامي افسرانو د نه همکارۍ له امله وو چې د شوروي حکومت ونه شو کولی د کابل رجیم لپاره یو پیاوړی پوځ تنظیم کړي. په نتیجه کې شورویان اړ شول له مجاهدانو سره په خپله جنګ وکړي.[۲۴]

په دغه حال کې دېر سرتېري له پوځ نه تښتېدل. عسکري تېښته په دوو بڼو وه، فردي او ډله ییزه. د یرغل په مهال د بغلان ټوله فرقه تیته شوه. له یرغل نه وروسته د پوځ واړه واحدونه تښتېدل، په تېره له نهرین او حسین کوټ نه. فردي تېښته له ډله ییزې تېښتې نه عامه وه. هغه سرتېري هم تښتېدل چې د

خدمت موده يې اخر ته رسېدلې وه، په تېره د کابل له پاڅونونو نه وروسته. تر دغه وخته دغه فکر عام شوی و، چې د پرچم رجيم پاتې کېدلی نه شي. له يرغل نه څه باندې دوه نيمې مياشتې وروسته د ۱۹۸۰ په مارچ کې د ميدان ښار اټکل دوه زريز غونډ نه يوازې څلور سوه سرتېري پاتې شول او نور يې تښتېدلي وو. تر دغه وخته ټول پوځ چې د ثور له کودتا نه دمخه شاوخوا اويا زره و، شل زرو ته ښکته شوی و. د مې په مياشت کې دغه پوځ نور هم لږ او لس زرو ته کم شو.[۲۵] د ډګروال محمد يوسف په وينا چې له ۱۹۷۸ نه وروسته يې په آی ايس اي کې خپله وظيفه پرېښودله، افغان پوځ تلفات، د سرتېرو د تښتېدلو او وژل کېدلو له امله هر کال شل زره سرتېري له لاسه ورکول، دی دا هم وايي چې افغان پوځ له سل زرو نه پنځه و يشت زرو ته کم شو او افغانستان ته د کاپرو راتګ د مجاهدو د پياوړي کېدلو لامل شو.[۲۶]

د دغه حال پايله سمله لاسه دا شوه چې د کابل رجيم پر يرغلګر پوځ پاندې پوره متکي او دغه پوځ د افغانستان په سياسي چارو کې نور هم ښکېل شو. بيا نو د رجيم د پوځ پياوړي کېدلو لپاره ډېره پاملرنه وشوه او د دغه مقصد لپاره د خدمت وړ ځوانان په نظامي عملياتو سره په زور نيول کېدل. خو ځينې اطرافي نظامي واحدونه لږو ډېر په خپل سر وو. له يرغل نه يوه مياشت وروسته د خوست د فرقې افسرانو څرګنده کړه چې که پرچمي يا روسي افسران هلته واستول شي، دوی به له مجاهدو سره يو ځای شي. قومندان يې لا کابل ته له ورتللو نه په دې پلمه ډډه وکړه چې په غياب کې به يې په فرقه کې ګډوډي راشي. داسې هم د رجيم هغه تجويز رد شو چې د هغه له مخې د کندهار خلقي افسران په پرچمي افسرانو سره عوض شي. ځينې پرچمي افسران د همدغه مقصد لپاره د مارچ په مياشت کې کندهار ته

لاړل، هغه له مینځه یووړل شول. په ډېرو نظامي واحدونو کې د خلقي او پرچمي افسرانو ترمینځ حتی اخ و ډب کېده او وروستي به رټل کېدل او وهل کېدل. د دوی ترمنځ کړکېچ هغه وخت نور هم تېنګ شو چې د ۱۹۸۰ جون په میاشت کې اول د امین مشر ورور عبدالله امین او وراره اسدالله امین او وروسته د هغه درې وزیران او یو څو افسران اعدام شول.

په نظامي زور او اجبار سره عسکري خدمت ته د ځوانانو نیول په خلکو کې نارضایت نور هم زیات کړ له دغسې ځوانانو نه ډېر پېښور ته لاړل او پاتې یې تل ښار وو چې د رجیم د ځواک په ښکاره کېدلو سره به پټېدل. په معاصر افغانستان کې مسکو ته تابع دغه پرچمي رجیم په ولسي نارضایت سره تر ټولو حکومتونو نه میدان ګټلی دي.رجیم د دې پر ځای چې د خپل ناکام اجباري جلبي چلند نه عبرت واخلي په بل دغسې غیر عملي سیاست یې لاس پورې کړ، چې شورویانو د اکتوبر له کودتا نه وروسته په روسیه کې عملي کړی و.

د ۱۹۸۱ کال د سپټمبر په اتمه پرچمي رجیم څرګنده کړه چې هغه افغانان دې د جلب مرکزونو ته حاضر شیو چې د ۱۹۶۸ او ۱۹۷۸ کلونو ترمنځ یې خدمت کړی وي او عمر یې له پنځوسو کلونو نه ښکته وي. لوی درستیز جنرال بابه جان په دغه مناسبت وویل چې ځنګه چې «یاغیان» ډېر شوي، لازمه شوه چې «د انقلاب» د بریالي توب او د امنیت د خوندي کولو لپاره احتیاطي سرتېري راوغوښتل شي. که په دغه دستور عمل شوی وای څه باندې نیم ملیون احتیاطي عسکر به جلب شوي وای. د دغومره ډېرو جلبیانو لپاره رجیم نه د هستوګنې ځایونه، نه افسران او نه نور ضروري څیزونه لرل. د رجیم چلوونکي پوهېدل چې د عامه نارضایت له کبله له هغو نه به ډېر لږ حاضر شي. د همدغه لږ شمېر لپاره هم دوی حاضر وو چې خپل رجیم نور

هم نـامنلی وګرځـوي، کـه څـه هـم هـر احتیـاطي سـرتېري نـه یـې د یـو شـمېر امتیازاتو ترڅنګه د میاشـتې د درې زره افغـانیو معـاش ورکولـو وعـده ورکـړه، چې هغه وخت دا ډېرې پیسې او غټ امتیازونه وو.

د جلب د دغه نوی سیاست په وړانـدې د خلکـو ځـواب رډ او چټـک و. د اعلام په سبا یې احتیاطي سرتېرو له ښارونو نه په وتلو پیـل وکـړ او خلکـو پـه کابل کې هغـه محکـوم کـړ. دوی کـه اوس د رجـیم مخالفـت پـه څرګنـد ډول کولی نه شو له دغه سیاست سـره یـې د پرېکـړې او مقـاطعې غـږ ښـاریانو تـه ورسوه. پـه نتیجـه کـې د ښـوونځیو زده‌کوونکـو یـا پـر سـړکونو کـې لاریونونـه وکړل یا یې د خپلو محاصره شویو ښوونځیو په انګړونـو کـې غونـدې وکـړې او نارې یې وهلې چې «تاسې زمونږ ورونـه ووژل اوس غـواړئ زمـونږ پلرونـه ووژنئ.» ګوندي فعالان ښوونځیو ته ننوتل، څوک یـې د ټوپکـو پـه کنـداغونو ووهل او څوک یې د منتظرو موټرونو په لـور د بنـدي کولـو لپـاره کشـول. پـه دغـه ورځ یـې نـزدې دوه سـوه زده‌کـوونکي بنـدي کـړل. پـه بلـه ورځ بیـا پـه محاصره شویو ښوونځیو کې د اعتراض غونډې وشوې. نظامي کسانو د دغـو اعتـراض کوونکـو لـه وهلـو نـه ډډه کولـه، خـو وسـله والـو پرچمیـانو د هغـو د لینګیو په لور ډزې کولې. د جمهوریت په روغتون کې شپږ زده‌کـوونکي د ټـپـي لینګیـو تـر عـلاج لانـدې نیـول شـوي وو. یـو څـو زده کـوونکي ووژل شـول. ښاریان په غوسه شول او اسلامي تنظیمونو په ښار کـې پـه شـپې پـاڼو کـې لـه خلکو وغوښتل چې د رجیم پرضـد جـګ شـي. پـه بلـه ورځ هټـۍوالـو خپلـې هټـۍ د اعتراض په توګه وتړلې، خو پولیسو مجبور کړل چې بېرته یې خلاصې کړي. رجیم مجبور شو د احتیاطي سرتېرو په جلب کـې تغییـر راولـي. د هغـو ډلو خلک یې لکه د حکومتي لاریو او موټرونو چلوونکي او حکومتي ماموران چې وظیفې یې اساسي ګڼل کېـدلې لـه جلـب نـه معـاف کـړل. داسـې هـم ډېـر

زده‌کوونکي يې د ضمانت په ورکولو سره له بند نه ازاد کړل. د زده‌کوونکو د ډاډينې او تسل لپاره يې ښځينه ډلې ښوونځيو ته واستولې خو ګټه يې ونه کړه. زده کوونکي هاغسې توريدلي وو. په محبس کې پيغلې کبرا پوښتنو کوونکو مامورانو ته په پوره زړورتيا حيرانونکي ځوابونه ورکړل. د پوښتنې کوونکي مامور د يوې پوښتنې په ځواب کې هغې وويل چې د هغې نوم «جنګ»، د پلار نوم يې «څرخي پل» او مقصد يې «مرګ» دی. د دغسې ځواب وزن له دېنه اټکل کېدلی شي چې د رجيم چارواکو کولی شول هغې ته ډېره سخته جزا ورکړي. بې له دې چې پوښتنه ترېنه وشي. پيغله کبرا پنځلس کلنه او د زرغونې لېسې زده‌کوونکې او په اصل کې د کونړ وه. د هغې د بندي ملګرې پلوشه ساپۍ په وينا هغې دغسې زړوره نجلۍ په عمر کې نه وه ليدلې. د هغې يوازنۍ اندېښنه دا وه چې بې عفته يې نه کړي. په افغانستان کې پرچمي رجيم لومړنی رجيم و چې د ښوونځيو ښځينه زده‌کوونکې يې په ډله ييز ډول بندې کړې دي.

احتياطي سرتېري چې بايد د جلب مرکزونو ته حاضر شوي وای، حاضر نه شول. هغوی بايد غوښتل شوي وای، خو د رجيم لپاره دا ممکن نه و، ځکه چې بيخي ډېر شمېر يې تښتېدلي وو، که څه هم امنيتي ځواکونو لوګر او ننګرهار ته د تګ لارې نيولې وې، د جلب د تاکلې نېټې نه دمخه د درې ورځو په بهير کې له کابل ښار نه اټکل يو لک کسان يا پاکستان ته واوښتل يا له مجاهدانو سره يو ځای شول. د جلب د اعلام په سبا د جمعې په ورځ د کابل بازارونه په غير معمولي ډول له خلکو نه ډک وو او په بيړه يې اړين څيزونه رانيول. په ميرويس ميدان کې د خلکو ګڼه ګوڼه بيخي ډېره وه. خو د ماسپښين په مهال ټول بازارونه له خلکو نه خالي مالومېدل. کابل د يوه هېواد د مرکز په شان نه مالومېده. کابل ما هيڅ وخت په دغه حال نه و ليدلی. د

احتیاطي عسکرو د وتلو لړۍ روانه وه، خو نه د اولو ورځو په اندازه. په دغه کار سره پرچمي رجیم خلکو ته نور هم نامنلی شو. او مجاهدانو حکومتي ضد فعالیتونه نور هم ډېر کړل. ګوندیان یې د شپې له کورونو ایستل او له مینځ نه وړل. د ښار په ځینو برخو کې د رجیم وسله‌وال ځواکونه د شپې له خوا ګرځېدلی نه شول، خو د ورځې به هر چېرې لیدل کېدل. داسې ښکارېده چې د کابل ښار دوه حکومتونه لري. په ورځ کې د رجیم او په شپه کې د مجاهدو. پرچمي د احتیاطي سرتېرو په جلبولو سره د کابل امنیت له خطر سره مخ کړ. د رفع لپاره یې د سپټمبر میاشتې په پای کې د کابل شاوخوا هغه غرونه په ټوبونو او راکټونو ویشتل چې له هغو نه مجاهدان چې په غالب احتمال د قومندان عبدالحق له ډلې نه وو، د شپې له خوا په ښار نوتل. په همدغه وخت کې په خلکو کې په پرله پسې ډول اوازې وې چې شورویان غواړي کارمل په کودتا سره له واک نه وغورځوي. د رجیم په ټولو کوښښونو سره سره د اکتوبر تر نیمایي پورې اټکل پینځه زره جلبیان په لاس ورغلل. یوازې په هرات کې ډېر جلبیان د جلب مرکزونو ته حاضر شول، په دغه مقصد چې وسلې تر لاسه کړي او بیا وتښتي. له عسکري خدمت نه تېښته د پرچمي رجیم په وخت کې عامه وه.(۲۷)

په دې ډول په پرچمي رجیم کې په نظامي ډګر کې دوه متضاد حرکتونه فعال وو. په نظامي زور د جلبیانو نیول او له عسکري خدمت نه د سرتېرو تېښته. پرچمي رجیم لکه جې دننه په وطن کې له ځوانانو سره په جنګ اخته و، دغې وضع هم په ډاګه کړه چې رجیم خلکو ته اعتبار او مشروعیت نه لري. سره له دې هم چارواکو خپل رجیم د پخوا په شان د خواري کښو نظام باله. د ۱۹۸۲ کال په فبرورۍ کې د شوروي اعلی قومندان جنرال سوکولوف او نورو کارمل ته هدایت وکړ چې د جلبي عمر دې له شلو کلونو نه اتلس

کلونو ته ښکته شي او د خدمت موده دې د دوه کلونو پر ځای درې کاله شي او هر یوه ته دې د میاشتې درې زره افغانس معاش ورکړل شي.[۲۸] ګرومیکو هم د ۱۹۸۶ په نومبر کې د پولټبورو ملګرو ته وویل چې «په افغان پوځ کې د جلبیانو شمېر د تېښتېدونکو له شمېر سره برابر دی.»[۲۹]

په دغه حال سره فکر نه کېده چې رجیم دې د لوی پوځ خاوند شي. بیا هم شوروي افسرانو لیکلي چې «د افغانستان دموکراتیک جمهوریت د وسله‌وال پوځونو متوسط حد د وخت په پېژندلو سره د یو لک او شل زره او یو نیم لک ترمینځ تحول کاووه.»[۳۰] خو د دغه اثر ژباړونکي هم دغه شمېر ته په شک ګوري او د یوې بلې سرچینې له مخې لیکي چې «د جنګ په ټوله موده کې د تېښتېدلو او تلفاتو په سبب افغان پوځ د څلوېښت زره په شاوخوا کې و»[۳۱] د هوایي ځواک او هوایي دفاع ټوله مجموعه لږ و ډېر اووه زره وه او د داخلي امنیت ځواکونه یا څارندوی شمېر ممکن پنځلس زره وو. سرحدي ساتونکي شاید څلور زره تنه مېړونه وو. قومي ملېشه د کاغذ له مخې څلوېښت زره تنه وو خو د هغو ډېر دنیم وخت لپاره وه، پوځ ته د وسلوکمی نه و چې هغه شورویانو ورته تهیه کولې، ټانکونه د ۸۰۰ شاوخوا کې، سرتېري لرونکې جنګي لارۍ (Bmp)، ۱۳۰اته ارابه ییز سرتېري لرونکې لارۍ او نورې له ۱۲۲۰ څخه ډېرې، ډول ډول راکټونه او توپونه له ۲۶۰۰ نه ډېر او ډول ډول لارۍ ۱۳۰۰۰.[۳۲] پوځ چې هر څومره و، اویا سلنه یې په زور نیول شوې او سرتېرو نه غوښتل د وطن د مدافعانو په وړاندې د دغسې رجیم لپاره جنګ وکړي چې شورویانو ته تابع او ولس ورسره مخالف و. په خپله روسي ماهرانو هم همدغه مطلب ته په اشاره ویلي چې «افغان پوځ له لویوالي سره سره او که څه هم د شوروي په وسلو ښه سمبال و، د دولت د سیاسي بې ثباتۍ له امله یې [جنګي] وړتیا پوره له لاسه

ورکړې وه.» د همدغو او نورو دليلونو له امله له مجاهدانو سره جنګ کول د شوروي سرتېرو پر غاړه وو او د رجيم پوځ په هغو پورې تړلی فرعي څواک و، لکه چې جنرال شبرشين هم وايي چې «... مونږ پر هغوی [پرچمي افسرانو] خپل امرونه چلول، هغوی ته مو قومندې ورکولې؛ پر هغوی مو حکومت کاووه... [او] پر هغوی مو خپلې پرېکړې تحميلولې.»(۳۳)

# مجاهدان
# یا د وطن، اسلام او خپلواکۍ مدافعان

د باندنیو تېریو په وړاندې له وطن نه دفاع د افغانانو ټېنګه عنعنه ده، دغه عنعنه له دې امله هم پیاوړې ده چې ګاونډیو هېوادونو د درانی امپراتورۍ له مینځ نه تللو نه وروسته پر افغانستان باندې ډېر بریدونه کړي او افغانانو د منظم پوځ او د ولسي واکمن د نه شتون په حال کې هم له وطن نه په خپله دفاع کړې ده. په نولسمې پېړۍ کې په افغانستان کې د کورنیو جنګونو په وخت کې پارس (اوسنی ایران) پر هرات باندې څو ځله پوځي بریدونه کړي او هراتیانو هغه په خپله په شاوهلي دي. افغاسنتان د افغان-انګلیس تر دوهم جنګ پورې دایمي منظم پوځ نه لاره. د امیرشېرعلي د دوهمې واکمنۍ په وخت کې چې افغانستان د لومړي ځل لپاره د منظم پوځ خاوند شو، هغه د انګلیسانو د دوهم تېري په وخت کې تیت شو او افسرانو یې د قومي او مذهبي مشرانو په فعال ملګرتوب او د قومي ملیشاوو په سربښندنې سره له خپل وطن نه دغسې ټېنګه دفاع وکړه چې په پای کې یې تېري کوونکي پر شاکېدلو ته اړ کړل. افغانستان د امیرعبدالرحمن په واکمنۍ کې د لومړي ځل لپاره د څه کم یو لک منظم پوځ او قوي مرکزي حکومت خاوند شو. خو دا به ډېرو ته مالومه نه وي چې هغه ولس هم وسله‌وال کړی و. په خاص ډول په ختیځو سیمو کې یې ځوانان د نظامي افسرانو له خوا په نظامي مرکزونو کې تر روزنې لاندې نیولي او قومي مشرانو ته یې پرېمانه وسلې ورکړې وې.

بیا نو دا عجبه نه وه چې د ډېورنډ له توافق لیک نه وروسته ختیځو پښتنو د انګرېزانو د بریدونو په وړاندې ټینګې غزاګانې وکړې چې د وزیرستان د میرزاعلی خان (یا د ایپي فقیر) غزاګانې یې ډېرې مشهورې دي. په نتیجه کې په افغان ولس او په خاص ډول په پښتنو کې له وطن، اسلام او خپلواکۍ او ننګ ناموس نه د دفاع عنعنه ښه ټینګه شوه. دغه عنعنه د مجاهدو په نامه د وطن ځوانانو په ټول وطن کې د دغسې زبرځواک یرغلګرو سرتېرو په وړاندې په خاصې جذبې سره وښووله، چې له اټومي وسلو نه پرته په ډول ډول عصري وسلو سمبال وو. د مجاهد نوم دمخه هم اورېدل شوی و، خو اوس افغان مجاهد د وطن، اسلام او خپلواکۍ د مدافع په توګه په ټولې نړۍ کې وپېژندل شو.

د شوروي یرغلګر پوځ په وړاندې وسله‌وال مقاومت تر هر بل وخت نه ډېر پراخ او عام و، خو پوره سراسري نه و، له ټولو پرچمیانو او ډېرو خلقیانو نه سربېره د ځینو وړو اطرافي سیمو خلک هم د یرغلګرو پر خوا وو، لکه د نازیانو شنواري، د تخار او دولت‌اباد ځینې ازبکان او د شغنان او روښان اسماعیلي تاجکان. له دوی نه پرته چې ټول یې ووړ اقلیت کېده، د افغانستان ټولو سیمو، قومونو، ژبو او مذهبونو ته منسوب افغانان د یرغلګر پوځ او پرچمي رجیم په مخالفت او د مجاهدو په پلوي ودرېدل. روسي افسرانو هم دغه واقعیت منلی او ویلي یې دي چې «د هغو [مجاهدانو] اساسي قوت دا و چې د محل د خلکو له فعال ملاتړ نه بهره من وو.»[۳۴] افغان ټولنه په دغه وخت کې سخته قطبي شوې وه، خو دغه قطبي توب سیاسي او ایډیالوجیکي و، ان تر دې چې دغه قطبي توب د ځینو کورنیو غړي هم سره ویشلي وو او د رجیم دغه محدود پلویان تعلیم کړي یا نیمچه تعلیم کړي افغانان و و.

لکه چې دمخه ویل شوي چې یرغلګر پوځ د افغانستان د قدرت مرکزونه

زر ونیول، دغسې هم مجاهدان له سردرو نه زر ښکته او په کلیو کې خواره شول او د ولایتونو او ولسوالیو مرکزونو ته نږدې شول. په معاصر افغانستان کې دا لومړی ځل و، چې د وطن د یرغلګرو په وړاندې ډله- ډله د مقابلې ډګر ته زر ووتل. له دوی سره بیا له وطن او د پېښور له افغان کډوالو نه نور ځوانان ملګري شول. له پاکستان نه د افغان اسلامي تنظیمونو له لارې وسلې او نور اړین څیزونه ورته رسول کېدل. په هر تاکلي محل کې یوه یا څو قومندانانو چې بېلو تنظیمونو ته منسوب وو، د هغو سروالي کوله. په دې ډول مجاهدان د قومندانانو په لرلو سره د یو ډول نظم خاوندان شوي وو، د دوی وظیفه تر نورو نه ډېره درنده وه. په واقع کې د وطن، خپلواکۍ، اسلام او ننګ ناموس اصلي مدافعان همدوی وو، چې د خپل خواږه ژوند په قیمت یې خپله وظیفه ترسره کوله او پکې ټکني نه وو.

د مجاهدانو شمېر وار په وار ډېرېده، ټول شمېر یې په یوه وخت کې په باوري توګه مالوم نه دی. له ۱۹۸۱ نه تر ۱۹۸۳ پورې اټکل ۴۵۰۰۰ مجاهدان فعال وو. تر ۱۹۸۵ پورې دغه شمېر یونیم لک ته جګ شو، په داسې حال کې چې دغه وخت د شوروي او رجیم پوځونو شاوخوا څلور لکه وو.(۳۵) د ک. ج. ب په اټکل د مجاهدو شمېر، چې هغه یې د مخالفانو په نامه یادوي، پینځه لکه و،(۳۶) خو هغه نه وایي چې دا په ک وم کال کې و، د مجاهدو شمېر چې هر څومره و، د هغو اراده خلل نه منونکې وه. دا باید په نظر کې ولرل شي، چې مجاهدان په ټول ملک کې خواره وو او په یوه مرکز کې یې شمېر ډېر نه و. ډګروال محمد یوسف له مجاهدانو سره د خپلې تجربې پر اساس وایي، چې «... مجاهدان د شریکې جنګیالیو ټول اساسي صفتونه لري، په خپلې داعیې ټینګ ولاړ دي؛ په ذهني او جسمي لحاظ تکړه دي، د خپلو عملیاتو سیمه ښه پېژني، له وسلو سره په طبیعي ډول مینه لري او ډېر

زړور دي. دوی له غرنیو سیمو نه عملیات کوي چې هم ورته پناه ورکوي او هم ورسره مرسته کوي. دغه خاصیتونه له سر زورۍ او پر خپلو کې په ظاهر کې د بې پایه دښمنیو له بدۍ سره ملګري دي.»[۳۷] دغه مخالفتونه په اصل کې د قومندانانو د شخصي سیالیو او د تنظیمونو چلندونو او سیاستونو له امله دي چې زر به یې بیان وشي.

همدغه مجاهدان د افغان د ملي جهاد د ملا د تیر په شان وو، دوی د افغانستان د بېلو سیمو عادي افغانان وو، خو عادی افغانان په واقع کې ټینګ افغانان او ټینګ انسانان دي، په پېښور کې د ملګرو ملتونو د کډوالۍ ادارې چلونکی رسانا یاګام وایي چې «یو افغان چې له ماشومتیا نه روغ وتلی وي د دغسې جسمي جوړښت، بېرته رغېدونکی قابلیت او غیر عادي استعداد خاوند وي چې په سخت او وچ فریکي چاپېریال کې یې د سړو او تودو په افراط کې انکشاف کړی، محرومیتونه ګاللی شي. دی په دغسې ملک کې لوی شوی دی، چې په ډېر لږ خوراک باندې ژوند کولی شي. ټول هغه څه چې دی ورته اړه لري وچه ډوډۍ او چای دي چې د ورځو ورځو لپاره یې ساتلی شي، تر څو چې یوه مېلمه پال کلي یا خپل بېس یا مرکز ته رسېږي او بیا په مړه ګېډه ډوډۍ خوری.» افغانان زړور دي او نه غواړي د درد په حال کې چیغې او نارې وکړي. «د دوی زړورتیا بې له مبالغې نه په دغې عقیدې سره نوره هم پیاوړې وې، چې که دوی له کاپرانو سره په جنګ کې ولوېږي، نېغ په نېغه جنت ته ځي. داسې هم دوی په دې عقیده وو، چې د غازي لپاره په جنت کې خاص ځای وي یانې چا چې په جهاد کې جنګ او ژوند وکړ»[۳۸] یو روس په افغانستان کې د دغسې افغان جوګه نه و.

بیا هم د ډګروال یوسف په وینا ا فغان مجاهد«... تر خپل نرم شوروي سیال نه په فریکي لحاظ ډېر توان لري چې د خپلې سیمې او اقلیم افراطي

حالونه وزغمي. هغه د خپلې عقيدې، خپلې خپلواکۍ او د خپل فاميل لپاره چې ډېر روحي قوت ورکوي، جنګېږي... مجاهدان په ورځو ورځو ان تر ا ونيو پورې په لږو خوړو سره پلي درومي؛ بيا چې موقع وربرابره شي په مړه ګېډه ډوډۍ خوري او د بل سفر لپاره د اوښانو په شان زېرمه ساتي.»[۳۹]

انګليس جورنلست مايک مارتين، چې له مجاهدو سره يې دننه په افغانستان کې سفر کړی، وايي چې «مجاهدو په سوونو کيلومتره بې له کوم شکايت نه سفر کاووه. ما دغسې ا نسانان وليدل چې په غرونو کې پښې ابلې روان وو. مجاهدو به نويو چيلنجو ته هر کلی وايه، بې له دې چې د ځان پروا وکړي... مجاهدان په دغسې وطن کې چې فزيکي تحمل او جنګيالي کړه يو عادي څيز دی، يوه خاصه ډله ده. دوی د اسلام جنګيالي دي، د دغه کار لپاره کمی نشته. د وسلو شته توب او د خلکو له خوا د هغوی د خوړو غمه د دوی شمېر ټاکي. زه باور لرم چې که په افغانستان کې سمله لاسه يو مليون ټوپک پيدا شول، يو مليون ځوانان به حاضر شي چې پورته يې کړي.»[۴۰]

شوروي يرغلګرو به له دغسې افغانانو سره نېغه مقابله سخته ليدله، چې بيا يې يو ضد انسان چلند غوره کړ. بيا هم د مارتين په وينا «داسې ښکاري چې سور پوځ د درې نيمو کلونو له ناکام جنګ نه وروسته د فکرونو په افلاس اخته وو، چې په ارادي ډول يې پرېکړه وکړه چې ملکي خلک ووژني. په دغې بې ګټې هيلې چې هغوی به مجاهدان ترک کړي، دغه چلند په ټولو هغو سيمو کې چې زه ګرځېدلی يم عام او ناکام و. څومره چې خلک ډېر وژل کېدل، هغومره يې د يرغلګرو په وړاندې کرکه ډېرېدله.»[۴۱]

مجاهدان له دغسې ولس نه هسک شوي او د خپلو خلکو له ملاتړ او ډاډينې نه خوښ وو او دجهاد په سختو حالاتو کې يې بدلې او سندرې ويلې، که څه هم اسلامي حزب هغه منع کړې وې. مارتين وايي چې مجاهدو د

افغانستان په ټولو درو کې عشقي او نور ډول بدلې ویلې. د بامیانو قومندان عبدالحی هغه ته یو څو بېتونه ژباړلي، په دغه مفهوم چې «راځه مونږ د روسانو په وړاندې جهاد ته ځو، زمونږ وینې به د افغانستان ګلان اوبه کړي.» یوه بل مجاهد جنګ ته په روانېدلو سره خپلې مېرمنې ته وایي چې «له دښمن سره د جهاد لپاره ځي او تر هغو به یې ونه ویني، تر څو یې وطن ازاد کړی نه و ي.» مارتین وایي چې «د ډېرو مجاهدانو لپاره وضع همدغسې وه.»[۴۲] په دغې برخې کې هم دغو مجاهدو د خپل ولس تمثیل کاووه، چې د جنګ په حال کې یې هم سندرې ویلې او خپل غم یې غلطوه. افغانان په دې هم ممتاز دي چې ژوندی او له جوش نه ډکه موسیقي لري. د همدغې ډینامیکې موسیقۍ له برکته ده چې دوی د ملي مصیبتونو په وخت کې هم د قوي روحیې خاوندان وي او ناهیلي توب ته غاړه نه ږدي. په دې ډول موسیقي دوی ته په ملي مصیبت کې هم له ډاډینې نه سربېره یو روحي قوت دی.

داسې مجاهدان هم لږ نه وو، په تېره د قومندان عبدالحق په ملګرو کې چې د ورځې به یې په کابل ښار او شاوخوا کلیو کې خواري غریبي کوله او د شپې به یې د رجیم پرضد فعالیتونه کول او شپې لیکونه خپرول، دا چې د جهاد په ټوله دوره کې د کابل ښار لویدیځه برخه په خاص ډول نارامه وه، د دغسې مجاهدو د فعالیت له امله و او د دوی فعالیت د کلیو د ولسي خلکو د ټینګ ملاتړ له برکته و.

د مجاهدانو بله خاصه هغه وه چې افغانان یې په عمومي ډول لري او هغه دا چې که سخت ټپي هم شي یا ان په چاقو او تبرګي سره یې پښه هم بېې له دې چې بې حسه شوی وي غوڅېږي، کم طاقتي نه کوي او نارې سورې نه وهي. د طبي عصري څېزونو په نه شتون سره په چاقو یا تبرګي سره د مجاهدانو د پښو پرېکول مروج او ډېر وو. داسې نه وه چې مجاهدان نه

وېرېدل؛ دوی وېره پېژندله خو له مرګ څخه نه وېرېدل. له ماین نه وېرېدل په دې چې که ماین یې پښه ووهي تر مرګ پورې به عیبي او محتاج وي. د مجاهدانو لپاره طبي علاج محلي او په خپل سر و.(۴۳) په دې اړه یوه غټه بېلګه په خپله قومندان عبدالحق دی، چې د ۱۹۷۸ به اکتوبر کې د پغمان د ارغندۍ په سیمه کې د پرسنل ضد ماین چاودنې له امله یې د ښۍ پښې پنجه تر ښنګر پورې لـه لاسه ورکـړه، وش او وی یـې ونـه کـړ او چـې ملګـري مجاهدان یې «...د پښې په لیدلو سره وارخطا شـول او ژړل» هغـه خنـدل او هغو ته یې «ډاډ ورکاووه او ورته یې ویل چې کوم مجاهدین چې پـه عملیـاتو بوخت دي، هغوی مـه خبـروئ» د دې لپـاره چـې «د عملیـاتو پـلان ګـډوډ نـه شي.» زر وروسته چې د هغه د پښې پانسمان د چک په ولسوالۍ کې وشـو، د اساسي عـلاج لپـاره پـه درې ورځـو کـې د غزنـي او پکتیـا لـه لارې پېښـور تـه یـووړل شـو، پـه دغـې اوږدې لار کـې یـې چـا نـه شـکایت او نـه زګېـروی واورویډ.(۴۴)

خو مجاهدو ته د جهاد لپاره ښه موقع برابره وه. لـومړی یـو صـادق ولـس و، چې زیـاتره خلکـو یـې د خطـر پـه منلـو سـره مجاهـدانو تـه پنـاه، ډوډۍ او جنګیالي او اطلاعات ورکول. بل د مجاهدو عقیده وه چې پـه خپلـې داعیـې یې لرله او ځان ښندنې ته تیار وو. بل د هېواد خاصـه ځانګړتیـا وه چـې دوه- دربیمه برخه یې غرنۍ او هغه یوازې د محل خلکو ته مالومـه وه. څلـورم یـې ډاډمن پناه تون یانې پاکستان و، چې مجاهدانو پکې دمـه کـولی شـوه. بـې لـه دې چې برید پرې وشي. پنځم یې د باندنیو هېوادونو ملاتړ و، چې هم یې پـه بین المللي غونډو او هم بې د وسلو او پیسو په ورکولو سره وښود. د امریکـې متحد دولتونه او سعودي عربستان په دغې برخې کې تر ټولو دمخـه وو.(۴۵) د پاکستان د حکومت او خلکو مرسته په دې بېجوړې او اساسي وه، چې د هغو

د روغ نيتۍ او د وستۍ له امله مجاهدانو کولی شول بې لـه کـوم خنډ نـه پـه ا زاد ډول د ډيورنډ له کرښې نه اخوا پېښور يا کوټې ته واوړي او بېرتـه راواوړي بې له دې چې د شوروي پوځ يې مخه ونيسي يـا نيـولی وشـي. مګـر پـه هغـه حـال کې چې لـه هغـو سـره هـم جنـګ وکـړي. د ډيورنـډ کرښـه د شـوروي يرغلګرو ته بين المللي پولـه وه، نـه ا فغانـانو تـه. دوی تـه هغـه دمخـه هـم لـه اعتبار نه غورځېدلې وه، خو په دغه جنګ کې هغـه پـه واقـع کـې لـه مـينځ نـه لاړه.

تر ۱۹۸۵ پورې ډېرو مجاهدو له پخوانيو وسـلو څخـه کـار اخيسـت لکـه د لومړني جنګ يوولس ټکه ټوپکونـه او د دوهـم جنـګ ماشـين ګـڼ. مجاهـدان وروسته د اتومات ګولۍ ويشـتونکو ټوپکونـو يـا کلاشـنکوف (AK-47) او د ټانک ضد راکټونو (RPG-7) سپکو توپونو (Light morters) او مـاينونو خاوندان شول. څنګه چې په وروستو وسلو سره تر درې سوه متره پورې ليرې هدفونه ويشتل کېدلی شول، شوروي سـرتېرو زړه نـه کـاووه چـې مجاهـدو تـه هغومره نزدې شي، له دغه واقعيت نـه پـه اسـتفادې سـره مجاهـدان د دغسـې درنـدو وسـلو خاونـدان شـول لکـه درانـده ماشـين ګـڼ، پـس لګـد توپونـه (recoilless rifles) او د مځکني هدف راکټونه. په دغو وسلو سـره نـور هـم لېرې هدفونه ويشتل کېدلی شول، خو د هغو او مهماتو لېږد چـې درانـده وو، ګـــران و.[۴۶] زيکـــو-يـــو، روســـي ســـقر (MRL)سويســـي اويرليكـــون (Oerlikon)، برتـانوی بلوپايـپ (Blowpipe) او پـه پـای کـې تـر ټولـو عصري او اغيزناک د ستېنګر راکټ.

سي‌آی‌اې د مجاهدو لپاره پاکستان ته وسلې استولې او هغـه يـې لـه نـورو هېوادونو نه د امريکې او عربستان په پيسو پـه بيـه رانيـولې، لـه مصـر، ترکيـې، انګلستان، اسراييل، چين او حتـی هنـد نـه. لـه ا مريکـا نـه نـه. دغـه وسـلې پـه

کښتیو کې کراچۍ ته او بیا په الوتکو کې راولپنډۍ ته وړل کېدلې. خو دغه وسلې زیاتره زړې او ځینې یې حتی د کار نه وې، خرڅوونکو هېوادونو له دغو زړو وسلو نه نه یوازې ځان بېغمه کوه، ګټه یې هم کوله. په داسې حال کې چې په کال ۱۹۸۳ کې لس زره ټنه وسلې او مهمات کراچۍ ته رسېدلي وو. تر ۱۹۷۸ پورې دغه مقدار ۶۵ ټنو ته ورسېد.(۴۷)

د پاکستان آی‌ایس‌آی به دغه وسلې په راولپنډۍ کې د اوجهړي په لوی کامپ کې ځای پر ځای کولې او بیا به یې په هغه تناسب افغان تنظیمونو ته سپارلې، چې دمخه یې یادونه شوې ده. هغو به خپلې وسلې پر خپلو لاریو کې تر ډېورنډ کرښې پورې پنځه پنځوس مرکزونو ته رسولې، چې د پاړه چنار او چمن شا وخوا واقع وو. د ژمي له سختو سړو نه پرته وسلې او مهمات به هره ورځ وړل کېدل. بیا به هغه په قاطرو، اوښانو او اسانو باندې د قومندانانو تم ځایونو ته پر شپږو لارو باندې دننه افغانستان ته وړل کېدل. له چترال نه پنجشېر او بدخشان ته، له پاړه چنار نه د الي خېلو له لارې لوګر او د کابل شاوخوا ته؛ له میران شاه او ژورې نه هم لوګر او کابل ته؛ له چمن نه کندهار ته؛ له چمن نه د سهیل په لور ګرزي ځنګل، هلمند، نیمروز، فراه، او هرات ته. له دغو هوارو لارو نه به له لاریونه استفاده کېدله، خو هغه به زیاتره په امن نه وې. شپږمه لار له زاهدان نه د فراه او هرات لپاره وه، خو د ایران حکومت به څو میاشتې وروسته د هغو د وړلو اجازه و رکوله. وروسته له هغې چې وطني اسونه او قاطرې په ډېر شمېر تلف شوې، سي‌آی‌اې اسونه له ارجنټاین او کچرې له چین نه رانیولې. سي‌آی‌اې به دغه حیوانات د قومندانانو لپاره تنظیمونو ته سپارلې. دا د قراردادیانو له حیواناتو نه علاووه وو.(۴۸)

د جهاد په ټوله موده کې سي‌آی‌اې د درې ملیارډ ډالرو په ارزښت وسلې

آی‌اس‌آی ته په کراچۍ یا راولپنډۍ ته د افغان مجاهدو په نامه استولې دي. له هغه وروسته مجاهدو ته د وسلو رسول، د وسلو په استعمال کې د هغو روزل او تنظیمونو ته د وسلو تخصص د آی‌اس‌آی پر غاړه و، خو ټولې وسلې مجاهدو ته نه دي رسېدلې. له هغو وسلو څخه چې عصري او پیچلې وې او پاکستان نه لرلې یو څه یې د هغه پوځ خپلې کړلې. «جنرال ضیاءالحق هغه وسلې چې د سي‌آی‌اې له خوا د مجاهدانو لپاره استول کېدلې په ډېر احتیاط زېرمه کولې او ساتلې او نه یې غوښتل هغه ټولې بېرون کړي. د هغه لومړی دلیل دا و چې که عنعنوي تنظیمونو ته ډېرې وسلې په لاس ورشي ډېر به پیاوړي او خپلواک شي او وبه هڅول شي چې له کابل حکومت سره کوم ډول موافقه وکړي... د ضیاء بل دلیل دا و چې که مجاهدان د جنګ په ډګر کې ډېر وسله‌وال او ډېر پیاوړي شول، شورویان به وپارېږي او پر پاکستان باندې به یرغل وکړي، چې د تنظیمونو مرکزونه او زېرمه تونونه وران کړي یا حتی د سرحد څېنې سیمې ونیسي. دغسې بین المللي پېښه ممکن د پاکستان په تاوان زر غټه شي.» د دغسې احتمالي پېښې د مخنیوي لپاره ضیاء «... ریګن ته شکایت وکړ چې مجاهدانو ته دغسې وسلې استولې کېږي چې تر اوسه هغه ته نه دي استولې شوې.» ریګن بیا د سټنګر له راکټونو نه سل میله پاکستان ته ورکړل چې په هغو سره د شوروي په وړاندې له پاکستان نه دفاع وکړي.[۴۹] له دغو راکټونو نه سربېره ۲۰۰ څوارلس ملي متره ماشین ګڼونه، د (RPG-7) او (SA-7)ډول ټانک ضد راکټونه هم پاکستان ته ورکړل شول چې په لویدیځې پولې کې د شوروي-افغان تېریو په وخت کې ترېنه کار واخلي.

د ۱۹۸۸ کال په اپریل کې د اوجهړي زېرمه تون کې اور ولګېد او په هغه کې د دېرش زره راکټونو په ګډون لس زره ټنه ډول ډول عصري وسلې د اور

په لمبو کې له مینځ نه لاړې. که ټولې وسلې مجاهدو ته ورکول کېدلی د دغومره ډېرو وسلو زېرمه کولو ته به اړتیا نه وه. په افغان تنظیمونو کې هم له وسلو نه ناوړه استفاده کېدله. د ځینو تنظیمونو امیرانو وسلې دغسې کسانو ته ورکولې چې هغو پرې سوداګري کوله. ځینو نورو وسلې زېرمه کولې چې د قدرت په راتلونکي لوبه کې ترېنه کار واخلي. قومندانانو هم وسلې خرڅولې. د ډګروال یوسف په وینا «... زما په عقیده په افغانستان کې به دغسې قومندان نه وي چې یو وخت بل وخت یې وسله خرڅه کړې یا عوض کړې نه وي.» دی دا هم وایي چې په بېړني حال کې کله کله دا یوازنۍ لار وه چې خواړه پرې ترلاسه شي، ټپي انتقال شي یا اړین څیزونه پرې را ونیول شي.» د هغه په فکر اعتدالي تنظیمونو په تېره د محمد نبي تنظیم له وسلو نه په ناوړه استفادې سترګې پټولې.[۵۰] د تنظیمونو لګښتونه هم ډېر وو، یوازې د وسلو په لېږد باندې په هره میاشت کې دوی یو نیم ملیون ډالر لګول، خو دغه پیسې سي‌آی‌اې ورکولې.

له دغې شرح نه جوته ده چې د درې زره ملیون ډالرو په ارزښت ټولې وسلې مجاهدو ته نه دي رسېدلې. «او واقعي مقدار چې ورته رسېږي بیا هم لږ وي، د بېلګې په ډول د پنجشېر جبهې ته د کال شپږ کاروانونه رسېږي، د پنجشېر کاروانونه د مقاومت له لویو کاروانونو څخه دي، له پنځوسو نه تر سل اسونو پورې چې په هر سفر کې سل ټنه وسله وي.»[۵۱] مجاهدو ته په وسلو باندې په یوه یا بل ډول غټه سوداګري کېده. د ډګروال یوسف په وینا «په افغانستان کې پر جنګ باندې ډېرې پیسې ضایع شوې دي... بې له شکه ځینې یې په پاکستان او افغانستان کې د فساد یا تېروتنو له امله، خو زما په فکر غټه برخه یې د درغلو حکومتونو، د وسله معامله ګرو، سیاست والو او د سي‌آی‌اې ایجنټانو په جیبونو کې لوېدلې چې هغو په ناوړتیا یا د رغل ګری

سره په ملیونو ډالرو باندې بېکاره یا بې لزومه وسلې رانیولې او خرڅې کړې دي.»[۵۲]

نویو او عصري وسلو حتمي کوله چې مجاهدان یې په استعمال ښه وپوهېږي، د دغه مقصد لپاره په ۱۹۸۳ کې اول د روزنې درې مرکزونه جوړ شول او هغه تر ۱۹۷۸ پورې اووه شول. څلور یې د پېښور او درې یې د کوټې په شاوخوا کې، دننه په افغانستان کې هم پرانیستل شول. د دغو څلورو کلونو په موده کې لږ تر لږه اتیا زره مجاهدان په دغو کمپونو کې روزل شوي دي. سره له دې هم «... مجاهدان په سویه نه وو روزل شوي او د فردي ډلو [د کیفیت معیار] د هغو د قومندانانو کار و.»[۵۳] د کورسونو روزنکي د پاکستان نظامي افسران وو، نه امریکایي یا چیني. امریکایي روزونکو یوازې د پاکستان افسران روزل. په هغو وسلو کې چې د پاکستان پوځ نه لرل، امریکایانو د وسلو په استعمال کې مجاهدان نه روزل. ا فغان تنظیمونو نه غوښتل له امریکایانو سره اړیکې ولري. واقعي حال به همدغسې و. خو که آی‌اس‌آی غوښتلای هغوی یې هڅولی شول چې هغوی مجاهدان د وسلو په استعمال کې وروزي. آی‌اس‌آی دغه کار نه کاووه او غوښتل یې چې مجاهدان په دغې لارې هم د پاکستان تر نفوذ لاندې او د امریکایانو له نفوذ نه لېرې وي، که څه هم په دغه جنګ کې د امریکا، افغانستان او پاکستان هدفونه یو وو. د تنظیمونو له امیرانو سره دغه ویره وه، چې که مجاهدان د وسلو په استعمال کې د امریکایانو له خوا وروزل شي بیا به د شورویانو او کابل رجیم دغه پروپاګنډ اثر وکړي چې دغه جنګ «جهاد نه بلکې یوازې د نړیوال کمونست- پانګه ور د جګړې یوه برخه ده.»[۵۴] دغه وېره د دوی هغې بلې وېرې ته ورته وه، چې له نومیالیو افغانانو نه یې لرله، لکه ډاکټر محمد یوسف، ډاکټر عبدالصمد حامد، ډاکټر عبدالقیوم او عبدالرحمن پژواک،

محمد یونس خالص په ۱۹۸۸ کې په پېښور کې دغه وېره ماته ښکاره کړې او ویلي وو چې پږواک غواړي د افغانستان مشر شي. په دغسې خطرناک حال کې چې افغانان ورسره مخ شوي وو، د هر افغان سیاست وال وظیفه وه چې د باندنیو هېوادونو په تېره د امریکې غونډې زبرځواک ملاتړ په خپله یا د نورو افغانانو له لارې وګټي، نه د پاکستان له لارې. خو د اسلامي حزب امیر ګلبدین حکمتیار په ۱۹۸۵ کې په نیویارک کې د ولسمشر ریګن هغه غوښتنه ونه منله چې په څرګند ډول یې له هغه نه غوښتې وو، چې ورسره وګوري. حتی ډګروال محمد یوسف هم وایي چې «... حکمتیار په خپل دغه قضاوت سره غټه تېروتنه وکړه او د ده دغه عمل جهاد ته زیان ورسوه او امریکایي پر خپل دغه فکر نوره هم ټینګه کړه چې په کابل کې د د غسې کسانو واکمن کېدل به هغومره خطرناک وي چې د کمونستانو به وي.»(۵۵) دا چې د ا فغانستان د کشالې په اړه د ژنیو په خبرو کې افغان تنظیمونو ته برخه ورنکړی شوه، له همدې امله به وي. د حیرانۍ ځای دی چې حکمتیار سره له دې هم، د نورو تنظیمونو د امیرانو په شان، نه یوازې د امریکې له سي‌آی‌اې نه ډول ډول وسلې ترلاسه کولې، د خپلو دفترونو لګښتونه یې هم ترلاسه کول. د یوسف په وینا: «سي‌آی‌اې هره میاشت د آی‌اس‌آی په بانکي حساب کې پیسې اچولې. دغه پیسې د تنظیمونو دفترونو، ودانیو، او تحویلخانو په ساتلو او د سپکو څیزونو لکه راشن، کالیو، او امیرانو او د تنظیمونو مامورانو ته په معاشونو او نقلیه وسیلو باندې لګېدلې.»(۵۶)

د سي‌آی‌اې بله غټه مرسته د مصنوعي میاشتې استخباراتو له لارې د تصویرونو تهیه کول وو. بیا هم د یوسف په وینا: «له دغې ټول- لیدونکي مصنوعي میاشتې نه پر ځمکه باندې هیڅ څیز پټ نه و. دغو تصویرونو، چې له ډېرې لوړې څخه اخیستل کېدل، ټانکونه، نقلیه وسیلې، پلونه، پلچکونه او

هغه ورانۍ چې د بمونو او راکټونو په لګېدلو سره پیدا شوي وې، دغومره روښانه ښودلې چې زه یې حیران کړم.» [۵۷] دی دا هم وایي چې، « ما به چې له سي ای اې نه د یوې ټاکلې سیمې تصویرونه وغوښتل، هغو به ډېر زر زما دفتر ته راوړل» د هغو له مخې د عملیاتو پلان جوړول او د مجاهدو پوهول به ښه اسان شول، په نتیجه کې، «دغو اطلاعاتو او د عمل په اړه د مجاهدو مالومات په د اغېز ناکو عملیاتو په کولو کې زموږ قابلیت ډېر کړي »[۵۸]

مجاهدو یوه غټه او نه رفع کېدونکې ستونزه هم لرله، دا د دوی خپلمنځي بې اتفاقۍ او حتی نښتې وې. د هغو غټه سرچینه تنظیمونه او د هغو امیران وو، لکه څنګه چې دمخه ویل شوي، ځینې تنظیمونه او د هغو امیران دغومره سخت دریځي وو، چې له اعتدالي تنظیمونو سره تر پای پورې جوړ رانغلل، نور ګوندونه لا پر ځای پرېږده. دغه بې اتفاقي په وطن کې قومندانانو ته او له هغو نه مجاهدانو ته رسېده. څنګه چې قومندانان د وسلو ترلاسه کولو لپاره په تنظیمونو پورې تړلي وو، دوی مجبور وو، د خپل تنظیم سیاست کړنلاره او چلند ومني او له هغه نه دفاع وکړي، حتی که ورسره موافق هم نه وي. په شیعي تنظیمونو کې هم حال همدغسې و.

د افغانستان په هرې علاقه دارۍ او ولسوالۍ کې یو یا څو تنه قومندانان فعال وو، هیڅ ولایت د یوه تنظیم تر اثر لاندې نه و ، قومندانان بېلو تنظیمونو ته منسوب وو. د ټولو شمېر په یقین سره مالوم نه دی. د ډګروال محمد یوسف په اټکل هغوی به څلور زره تنه وو. خو څنګه چې د افغانستان ټول اداري واحدونه ۳۲۰ وو، دغه اټکل له حد نه ډېر ښکاري. په هر حال د قومندانانو ډېروالی او بېلو تنظیمونو ته د هغو انتساب د هغو د رقابت لامل کېده، که څه هم د دښمن په وړاندې به یې په ګډه عملیات کول. قومندانان به په عمومي ډول په دوه ډوله ټاکل کېدل. دوی به یا د خپلو کورنیو، قومي

اعتبار، زده‌کړې او شخصي وړتیا له مخې قومندانان کېدل یا د ایډیالوجۍ له مخې. په لومړي ډول کې د کورنۍ اعتبار مهم و، چې یو چا به د خپلې کورنۍ د نفوذ له امله خپل خپلوان او نور په خپلې ډلې کې نیول. د کندهار په ارغنداو کې اخترجان وروسته له هغه د لوی قومندان ملا نقیب تر لاس لاندې قومندان شو، چې دوه مشر قومندان ورونه یې له شورویانو سره په جنګ کې یو په بل پسې له لاسه ورکړي وو. قومندان اختر جان د ښوونځي دوولس کلن ځوان و، چې جهاد یې پیل کړ. دوی چې د جمعیت تنظیم ته منسوب وو، یو مرکز یا منځی یې لېږې په خاکریز او بل یې د ارغنداو په چارقلبه کې و. په بل ډول ټاکنې کې د کورني دریځ پرځای زده‌کړې او اسلامي پوهنې ته اهمیت ورکول کېده.[۵۹] د سیاف او حکمتیار په تنظیمونو کې اسلامي ایډیالوجي او د خالص او رباني په تنظیمونو کې د ایډیالوجۍ ترڅنګه اجتماعي دریځ هم په نظر کې نیول کېده، که څه هم دغه تنظیمونه ټول سخت دریځي بنسټ پال تنظیمونه وو.

دغې وضع د قومندانانو او مجاهدو په سطح کې تنظیمونه اغیزمن کړل. د حزب زیاتره قومندانان متعهد، تعلیم کړي او بېلو ټولنیزو ډلو ا و حرفو ته منسوب ځوانان وو. انګلیس جورنلست مایک مارتین، چې په کال ۱۹۸۳ کې د حزب له قومندانانو سره د کونړ او لغمان له لارې په تګاو، پروان، غوربند او بامیان کې د مجاهدو فعالیتونه او له خلکو سره د هغو چلندونه لیدلي، هغه یې په خپل اثر کې بیان کړي، په نامه د افغانستان له مجاهدانو سره سفرونه. په هغه کې یې ویلي چې د حزب قومندانانو له هغه سره د عیسویت، اسلام، د خدای تعالی[ج] په ماهیت، او ډارونزم په هکله بحث کړی او دی یې چې عیسوي و، اسلام ته بللی و، په تګاو کې د احمدي د قومندانۍ یوه مجاهد ورته ویلي وو چې «زه دموکراسي لولم، مارکسزم لولم، عیسویت لولم. زه

افلاتون لولم، او برتراند رسل مطالعه کوم، خو زه اسلام غوره ګڼم.»(۶۰) چېرته په کوهستان کې انجینر قومندان تورک د ډارون په اړه له مباحثې نه وروسته مارتین ته په پوسخند او تعجب سره وویل چې «ښاغلیه مایکه! نو مونږ له بیزوګانو څخه پیدا شوي یو.»(۵۹) مارتین وايي چې له دغسې مباحثو نه وروسته به هم مونږ د پخوا په شان ملګري وو او زه د دوی په ملګرتوب خوښ خو ستړی به وم. په غوربند کې د حزب یو بل قومندان سګمت الله [نعمت الله یا صبغت الله] مارتین ته هم په بحث کې ویلي وو چې «په دغه تنظیم کې ډېر روښانفکر او مسلکي کسان غړیتوب لري چې له کمونستي-افغانستان نه وروسته به ډېر مهم وی. دغه تنظیم د اسلامي اصلونو پربنسټ جوړ شوی او له اسلام نه یې یوازې د وسیلې په توګه استفاده نه ده کړې، لکه ځینو نورو چې کړې وه.» دی دا هم وايي چې «دغه تنظیم به پرې نه ږدي چې افغانستان د لویدیځ تر نفوذ لاندې شي. دا به اسلامي انقلاب د شوروي اسلامي جمهوریتونو ته هم نقل کړي او ژمنه یې کړې چې د حکومت په نسکورېدلو سره به ټول کمونستان ووژني.»(۶۲)

د حزب قومندانانو ته تنظیمي اتحاد و اقعي نه و. «دوی د ضرورت له مخې سره یو ځای اوسېدل او دغه اتحاد یې یوه توکه ګڼله چې د پېښور پټو خاینانو ژوندی ساتلی دی.» د همدغه ضرورت له امله وو چې د حزب قومندانانو نه یوازې په غوربند بلکې په بامیان کې هم د حرکت له قومندانانو سره ښنګ پر ښنګ ژوند کاووه. د مارتین په ژبه «دواړو ډلو سره مشورې کولې که څه هم د یوه قومندان تر لاس لاندې یې هیڅکله پر [حکومتي] پوستې باندې په ګډه برید نه دی کړی. دوی به په یوه پلان سره هوکه وکړه خو بیا به هره ډله د خپل قومندان تر شاروانه وه. د اتحاد مفکورې ته دلته په سپکه نه کتل کېدل او زه به د حرکت او حزب قومندانانو ته پېژندل کېدلم.

وروسته راته مالومه شوه چې دغه همکاري د ضرورت محصول و. دلته د ولایت په مرکز کې د دغو تنظیمونو ترمنځ د زور انډول پر ځای و او هیڅ چا زړه نه کاووه چې ګډوډ یې کړي.» (۶۳) خو په نورو سیمو کې په تېره د کابل شاوخوا سیمو کې د حزب ا و جمعیت د قومندانانو ترمنځ نه یوازې دغسې همکاري نه وه، په مینځ کې یې جنګونه هم کېدل. د جنګ غټ دلیل دا و چې د هر تنظیم قومندان کوښښ کاووه چې نه یوازې خپله لاس لاندې سیمه وساتي، بلکې د نورو سیمه هم لاندې کړي. په دې ډول سیمه ساتنه او سیمه نیونه ډېر غټ خوځونکی قوت و. «نه ویل کېدونکی حقیقت دا و، چې د مقاومت له جنګ سره خوا په خوا رقیبو تنظیمونو سره زیاتره وخت جنګ کاووه.» سره له دې هم دوی داسې ګڼله چې که یرغلګر په خلکو هر څه وکړي دوی غالب کېږي. (۶۴)

د حزب قومندانان په قوت کې لږ و ډېر سره برابر وو، په دوی کې یو هم هغومره نامتو نه شو، لکه د خالص په حزب کې چې مولوی جلال‌الدین حقاني او عبدالحق او په جمعیت کې احمدشاه مسعود وو. دلیل یې شاید دا وي چې د حکمتیار حزب د اسلامي ایډیالوجۍ له مخې قوملۍ ته اهمیت نه ورکاووه او اجراییوي شورا او حزبي انضباط یې دغومره ټینګ وو، چې د قومندانانو د پیاوړي کېدلو په مخ کې خنډ کېدلی شو. د حزب قومندانانو زورواکي نه کوله، یا یې کولی نه شوه. او «د یوه مجاهد وفاداري اول قومندان او بیا تنظیم ته وه.» په پای کې مارتین وایي چې «دلته دوه مخي توب او ریا نه وه او هیڅ چا هغو مقررو ته اهمیت نه ورکاووه، چې سیاست والو په میلونو لېرې په پېښور کې له خپلو ذهنونو ایستلې وې.» (۶۵)

لکه چې دمخه یې بیان شوی د ډګر قومندانان او مجاهدان یې د یرغلګرو په وړاندې د مقاومت اصلي قوت وو. دوی په ټول هېواد کې خواره، په شمېر

کې ډېر او په قوت او نفوذ کې سره متفاوت وو. دلته به د يو څو قومندانانو نومونه واخيستل شي او بيا به د قومندان جلا الدين حقاني، قومندان عبدالحق او قومندان احمدشاه مسعود شخصيتونه، چلندونه او سياستونه معرفي شي.

| نوم | تنظيم | سيمه |
|---|---|---|
| محمد اسماعيل خان | جمعيت | هرات |
| سيد حسن مشهور په سيد جګړن | د اتفاق شورا | هزاره جات |
| عبدالصبور مشهور په ا ستاد فريد | اسلامي حزب | پروان |
| عبدالبصير خالد | اسلامي جمعيت | بدخشان |
| سيد منصور حسنيار | اسلامي حزب | بغلان |
| محمد بشير شهادتيار | اسلامي حزب | شمال |
| صوفي پاينده | اسلامي حزب | اندراب |
| ملا محمد نسيم اخوندزاده | اسلامي انقلاب حرکت | کندهار |
| ملا ملنګ | اسلامي انقلاب حرکت | کندهار |
| بلال نيرم | اسلامي انقلاب حرکت | پغمان |
| بسم الله خان | د نظار شورا | د کابل شمال |
| بشير بغلاني | اسلامي حزب | بغلان |

| | | |
|---|---|---|
| کشمیر خان | اسلامي حزب | کونړ |
| ذبیح الله | جمعیت | بلخ |
| محمد انور ډنګر | جمعیت | شکردره |
| قاري بابا | اســـلامي انقـــلاب حرکت | غزني |
| قاضي کبیر | جمعیت | کندوز |
| شمالي خان | اسلامي محاذ | ننګرهار |
| عارف خان | جمعیت | کندوز |
| محمد نسیم مهدي | اسلامي حزب | فاریاب |
| محمد انور جګدلک | اسلامي اتحاد | |

# قومندان مولوي جلال‌الدين حقاني

حقاني د پکتيا ولايت ځدران قوم ته منسوب د مولوي محمد يونس خالص د اسلامي حزب غړی و. په پکتيا، پکتيکا او خوست ولايتونو کې چې دلته به درې واړه د لويې پکتيا په نامه ياد شي لوی پښتانه قومونه پراته دي. لويه پکتيا نورې ځانګړتياوې هم لري چې ډېره مهمه يې دا ده چې هغه پراخه سرحدي مهمه سيمه ده او ځينې قومونه يې د ډيورنډ کرښې په دواړو خواوو کې پراته دي او سره پياوړي معنوي او حياتي اړيکې لري. په خلکو کې يې تګ راتګ هم ډېر او ازاد دی.

ژوند يې عنعنوي او د پښتونولۍ خاصيتونه يې سره مشترک دي او پښتو ژبه يې نسبتاً سوچه ده چې دا د دوی بله مهمه ځانګړتيا ګڼله کېږي. لکه چې دمخه ويل شوي د وزيرستان او مسعود يا مسيد له ميران شاه او بنو نه د وسلو کاروانونه د همدغو قومونو له لارو نه د کابل شاوخوا سيمو قومندانانو ته تلل. کابل ته نسبتاً نږدې او تګ لارې يې هم ډېرې دي. دغه نږدې والي د دغو سيمو اهميت لا زيات کړی. دا چې د هندوستان انګليس حکومت په کال ۱۸۹۳ کې د د يورنډ په توافق ليک سره د وزيرو او مسعودو سيمې په خپلې نفوذي ساحې کې ونيولې په اصل کې د دې لپاره و، چې د عاجل ضرورت په وخت کې د ګومل له لارې په لږ وخت کې نظامي سوقيات وکړي او خپل پوځ کابل ته ورسوي. د شورويانو يرغل دغه سيمې او قومونه هم مهم وګرزول او شورويانو په لويې پکتيا کې چې دغومره ستر عمليات وکړل چې په نورو سيمو کې يې لوی عمليات نه دي کړي، لکه چې دمخه يې

بيان شوی دی، د لويې پکتيا بله ځانګړتيا دا ده چې زياتره خلک يې د پير سيداحمد ګيلاني او صبغت الله مجددي د کورنيو مريدان دي. دوی د هغو مشران خپل پيران ګڼي او پرې ټينګه عقيده لري. که څه هم دوی غير له دې چې په روحي او مذهبي لحاظ تسل ورکړي، نور څه يې ورته نه دي کړي. لومړنی د قادري صوفي طريقې او وروستي د نقشبندي صوفي طريقې مشري پر غاړه لري. دوی په دغو پښتنو کې دغومره ډېر نفوذ لري چې په نورو خلکو کې هغومره نفوذ نه لري، خو د دغه ملي جهاد په بهير کې په پکتيا کې د خالص اسلامي حزب په خاص ډول د حقاني له لارې هم نفوذ وکړ او تنظيم يې هلته نوم وايست.

قومندان حقاني پېښور ته نزدې د خټکو په اکوړه کې د حقاني مدرسه لوستلې ده. دی له سخت دريځو اسلامي بنسټ پالو څخه و او لا هم دی. ده د شورويانو او کابل رجيم په وړاندې ډېر دمخه جهاد پيل کړی و او په دې اړه دی شايد لومړني مجاهد قومندان وي. وروسته يې د فعاليت ډګر ډېر پراخ کړ. د خپل تنظيم له لارې آی اس‌آی او په خپل شخصي ارتباط او اعتبار سره يې د خليج د عربي امارتونو او عربستان له بنسټ پالو سره اړيکي ټينګ کړل او له هغو نه يې ډېرې پولي مرستې ترلاسه کولې. د ده يوه مېرمن هم د عربي امارات له قطر نه ده او دی په عربي ژبه هم ښه پوهېږي. د همدغه اعتبار او د پکتيا ولايت د ستراتيجکي اهميت له امله و، چې د پکتيا په ژوره نومي سيمې کې د مځکې لاندې دغسې لوی مرکزونه جوړ شول، چې په ټول وطن کې يې ساری نه درلود. دغه مزکرونه د البدر په نامه يادېدل، چې د غره په ډډه کې جوړ شوي وو. په دغو مرکزونو کې نه يوازې افغان ځوانان بلکې باندنيان هم په نظامي او جنګي چارو کې او هم په ايډيالوجيکي او په خاص ډول د جهاد په چارو کې روزل کېدل.[۶۶] د مولف بارنت روبين په روايت

حقاني دغه مرکزونه چې هم يې برېښنا لرله او هم يې د عصري او نورو څيزونو لپاره پراخ زېرمه تونونه لرل، د عربستان په پيسو د پاکستان آی‌اس‌آی د ودانۍ په کوم شرکت ورته جوړ کړل.[۶۷] خو د جورنلست دراز په وينا دا د اسامه بن لادن کار و، چې د تونلونو جوړول د بن لادن د ګروپ تخصص دی. امريکايي جورنلست رابرت فسک هم د هغه په تاييد وايي چې هغه له بن لادن سره د مرکې کولو لپاره په دغسې يوه تونل کې انتظار کاووه، چې چت يې ښه لوړ و او «د يوه کلک غره په ډډه کې د سل ګونو مترو په اوږدو کې کندل شوی و.» دی دا هم وايي چې بن لادن په ژوره کې د حقاني هغه پوځي مرچلونه ټينګ کړل، چې د جهاد په پيل کې يې جوړ کړي وو، حقاني، بن لادن او عبدالله عزام په جهادي چارو کې سره په ګډه کار کاووه.[۶۷] لکه چې دمخه ويل شوي حقاني او مجاهدانو يې د ۱۹۸۶ کال په اپرېل کې د شورويانو او کابل رجيم د ګډ بريد په وړاندې په ټينګه مقاومت وکړ، دغه بريد د شوروي د يوه خاص کومندويي غونډ يا سپتناز له خوا وشو، جنګ درې اونۍ اوږد شو او په سل ګونو مجاهدان پکې شهيد شول. په پای کې شوروي ځواکونه چې جنګي الوتکو او توپ لورنکو هليکوپترونو يې ساتنه کوله، پر شاشول.

په پکتيا کې له حقاني نه سربېره نور نوميالي قومندانان هم وو، لکه پاچاخان ځدران او ناظم ځدران. د جهاد په وخت کې دوی هم د حقاني په شان په شمالي وزيرستان کې اوسېدل. خو د د وی جهاد قومي او ملی و، نه د حقاني د جهاد په شان چې د بنسټ پالۍ او سخت دريځۍ پله يې ډېره درنه وه، تر څو په پای کې دوی د خپلو دريځونو او فکرونو له ا مله سره بېل او مخالف شول ا و دغه مخالفت قوم ته سرايت وکړ، او قومي عنعنوي اتحاد درزي او زيانمن شو.[۶۸] د جنرال ګل زرک ځدران او دهغه د ملګرو په وينا

په کال ۱۹۷۸ کې د ستړه کنډو په لویې نښتې کې «د جنګ او مقاومت کولو پریکړه د قومي شورا له خوا وه، نه د تنظیمونو له خوا» او په دغه جنګ کې دغو محلي او قومي قومندانانو برخه اخیستې وه: مولوي نظام‌الدین حقاني، ملا ابراهیم، ملا عبدالرحمن، کفتان خان رنګ، عزت خان، غدي، ډول خان، غنمکی، سادات، حکیم، جنګ، ډاکټر خیالي، پاچا او الف.(۶۹) مولوي حقاني به له روغتیا نه ښه بهره من و، چې د امریکې د کانګرس غړي چارلزولسن ته ویلي وو، چې په یوه جګړه کې یې اته څلویښت ګړۍ خوب نه دی کړی.

د قومندان جلال‌الدین حقاني د فعالیت بل اړخ له عقیدوي مخالفانو سره مرګکي چلند و. په دې برخه کې دی د هغو تېنګ دریځو او زغم نه منونکو بنسټپالو څخه و چې بې شمېره افغانان یې په دستور سره بې د محکمې له حکم نه له مینځ نه وړل شوي دي، په دې نامه چې چپیان او کمونستان دې یا یې له خلقي او پرچمې رجیمونو سره کار او همکاري کړې ده. ده په دې ډول د اسلامي عقیدې په نامه د ټولنې تصفیه کولو ته ملا تړلې وه. د یوه اعتماد وړ مشاهد په وینا په سل ګونو هغه سرتېري ځوانان هم د هغه په حکم وژل شوي دي، چې د پرچم له پوځ نه تښتېدل، او د ده تنظیم ته تسلیمېدل، که څه هم دا یو و اقعیت و، چې په دغه رجیم کې ځوانان په زور نیول کېدل او هغوی بیا په مناسب وخت کې له وسلو سره تښتېدل. دغه مشاهد دا هم وایي چې په ژوره کې یې د یوه غره لاندې ګړنګ کې د انسانانو ډېر هډوکي لیدلي دي. د همدغسې وژنو په اړه به وي چې امریکایي لیکونکی اوبالانس لیکي چې د ۱۹۸۲ کال یې «... د پکتیا ولایت د بریم (Barrim) چونۍ ونیول شوه. د مجاهدو له خوا ۲۶ سرتېري ووژل شول. دهمدغه کال په اګست کې یوه ډله کلیوال مشران چې د افغان-شوروي سیمه ییز قومندان لیدلو ته تللي

وو، چې د فصل تړلولو په و خت کې اوربند وشي، هغوی د مجاهدو له خوا ووژل شول. دوی د دغسې غير رسمي اوربندونو مخه نيوله.» دغه ليکوال دا هم وايي چې د دغسې وژلو نتيجه هم سملاسي او د جهاد په تاوان شوه. له هغه وروسته «...افغان سرتېرو په دې پيل وکړ، چې تسليم نه شي او جنګ وکړي او هغو سملاسي مړينه تر اوږده او دردناک مرګ نه غوره ګڼله.» په دغه کار سره «د افغان پوځ معنوياتو په پياوړي کېدلو پيل وکړ او د کابل رجيم بيا په يو څه ربښتين توب سره ادعا کوله چې ډېر مجاهدان ورته تسليم کېږي، په داسې حال کې چې د سرتېرو د تښتېدلو اندازه يې تر ډېره حده ښکته شوه.»(۷۰) داسې هم له هغو افغانانو نه ډېر يې له مينځ نه وړل شوي دي چې له کابل او شاوخوا سيمو نه د پکتيا پر لار پېښور او نورو ځايونو ته کډوال کېدل.

# قومندان عبدالحق

عبدالحق په ۱۹۵۸ کې د هلمند د ګرمسير ولسوالۍ د درويشانو په کلي کې پيدا شوی. پلار يې امان خان چې د ننګرهار د غلزي حصارک جبارخېل قوم ته منسوب و، هلته ولسوال و، ده دوه مېرمنې او اته زامن او اته لوڼې لرلې. جبارخېل د غلزيو يوه وړه څانګه ده. د امير شېرعلي خان له وخت نه يې نوم ايستلی. ارسلاخان جبارخېل چې د عبدالحق غور نيکه و، د امير شېرعلي د باندنيو چارو وزير او عصمت الله جبارخېل د کورنيو چارو وزير و. امير شېرعلي په دوهمې واکمنۍ کې هم د غلزيو او هم د وردګ مشرانو ته په دولت کې لوړ مقامونه ورکړي او ځوانان يې په پوځ کې نيولي وو.

عبدالحق په ننګرهـار کې پـه خپلې کـورنۍ او خپـل ولـس کې لـوی او د شخصیت خاوند شوی دی. مشر ورور یـې حـاجي عزیزاللـه مشـهور پـه دیـن محمد د هغه بیوګرافي لیکلې، په نامه د بس همدا و عبدالحق. دی وایي چې عبـدالحق پـه ماشـومتیا کې ډېر ضـدي خـو د خپلـواک فکـر او ټینګې ارادې خاوند و. که یې غوښتنه نه منل کېده، خپل سر به یې پـر دېـوال وهـه، تـر څـو چې هغه به ومنل شوه. دی پر خپلې کورنۍ او مور باندې د کشر زوی په توګـه ډېـر ګـران و، خـو څنګـه چـې د هغـه «... افکـار... لـه ماشـومتوب څخـه د پوخوالي او غټانو په لور متوجه شـول، د ده د ماشـومتوب دوره لنډه وه. دغـه بدلون د مولوي محمد یونس خالص او معلم جمعه خان د ښـوونې لـه املـه و چې د کورنۍ نژدې دوستان یې وو. عبدالحق د کیسو له اورېدلو سره دغـومره مینه لرله، چې هم یې د کلي له لویانو او هم له لارویو نـه غوښـتل چـې «کاکـا یا ماما یوه کیسه خـو راتـه ووایـه.» خـو د ده د فکـري تحـول اصـلي تحـرک د پښتونخوا د خدایي خدمتګار د تحریـک موسـس عبـدالغفار خـان کتـابګوټي. ((ما وپېژنې)) په نامه ګڼل کېدلی شي، چې «همایون ورڅخه ډېر متاثر شـوی او انقلابي ښکارېده.» د عبدالحق اول نوم عبدالروف او پـه کـور کې همـایون ورته ویل کېده.(۷۱)

غفار خـان چـې د هنـد د خپلـواکۍ لـه ټینګو ملاتړانـو څخـه و، د مهاتمـا ګاندي په شان د نه تشدد لار نیولې وه او خپل دغه لنډ ا ثر یې د هغـه پـه رڼـا کې کښلی و. عبدالحق د هغه له لوستلو نه وروسته دغـه لار غـوره کـړه. دی د ملي جهاد په شروع کې د ځوانۍ په قوت کې و. عبدالحق له دوولس کلنـۍ نـه وروسته د وژنې لار پرېښوده، مګر په هغه حال کې چې د وطن په دفاع کـې بـه بله چاره نه وه. په داسې حال کې چې تر هغه دمخـه یـې «پـه کـور کـې دننـه او بهر ډېر جنګونه کول؛ تـل بـه یـې سـرمات و.» عبـدالحق د مـرګ تـر ورځـې د

همدغه فکر له مخې عمل کاووه. ده حتی په لومړۍ ځوانۍ کې په غیر عادي ډول فکر کاووه او دغسې دلیلونه به یې وړاندې کول چې لویان به یې حیران کړل. حاجي دین محمد و ایي چې یوه ورځ له بیرون نه سترې ستومانه کور ته دننه شوم او «د کور خلکو راته وویل چې عبدالحق ډېر په تنګ کړي یو، ما یوه لښته ورپسې راواخیستله.... عبدالحق راته وویل چې ګذار مه کوه! زما خبره واوره... ده راته وویل چې زه پوه یم د داود خان له حکومت سره ستا جوړه نه ده؛ ته بل وطن ته ځې ... او زه غواړم چې له تا سره په دې سفر کې ملګری شم؛ نو د دې لپاره چې مور او خویندې راپسې خفه نه شي...دوی [په] تنګوم » عبدالحق په دغه وخت کې پنځلس کلن و. د همدغه فکر له مخې به و، چې ده د سره رود د فقیرالله په لېسه کې زده‌کړه پرېښوده او له خپل ورور حاجي دین محمد او نورو سره د حکومت په مخالفت پیښور ته واوښت. دی د عمر د لږوالي له امله له پیښور نه څو ځلې کله د تیرا، کله د تورخم او کله د پاړه چنار له لارې په یوازې ځان خپل کلي او کابل ته لاړ، بې له دې چې څوک فکر وکړي، دی د حکومت مخالف دی، خو په پای کې وپېژندل شو او د کابل ولایت په توقیف خانه کې بندي شو. دی بیا د ثور له کودتا نه وروسته ازاد شو. د شوروي یرغلګرو او د هغو د تابع پرچمي رجیم په وړاندې یې په منظم فعالیت پیل وکړ.

دغه یرغل عبدالحق قادر کړ، چې مجاهدان پر ځان راټول کړي او په پغمان کې ځانله یوه جبهه جوړه کړي. د شوروي پوځ تر و تلو پورې یې غټې او بې ساري کارونه وکړلو چې زر به یې بیان وشي. عبدالحق د یرغل په ا ول کال دوه ویشت کلن و، ده په همدغه کال مجاهدان پر ځان راټول کړل او په پغمان کې یې د یوه زبرځواک او د شوروي شویو پرچمي لویانو په وړاندې فعالیت پیل کړ. خو ده اول خپل جهاد د پکتیا د خوست د مستلبر له سیمې

نه پيل کړ، چې دی هلته له خبلو ورونو او نورو سره له پېښور نـه تللی و، چې هلته دمخه له خپلو ورونو او کورنۍ سره کډوال شـوی و. پـه پېښـور کې دوی او مولـوي جلال‌الـدين حقـاني د مولـوي محمـديونس خـالص پـه مشـرۍ د اسلامي حـزب بنسـټ ايښـی و. مولـوي خـالص نـوی د ګلبـدين حکمتيـار لـه اسلامي حزب نه بېل شوی او د خپل حزب هـدف يـې «د خـدای رضـا لپـاره جهاد، د وطن ا زادي او د شـريعت نافـذول» ټـاکلی و. پـه دې ډول د مولـوي خالص حزب ماهيت ملي او اسلامي و، عبدالحق لا د يوه ټينګ مسـلمان پـه توګـه د وطـن پـه ازادولـو او بيـا د لـويې جرګـې لـه لارې د سياسـي نظـام پـر جوړولـو ولاړ او د ا فراطـي او زورواک چلنـد مخـالف او د ملـي کشـالې د هوارولو لپاره د وطن د ټولو قومونو په همکارۍ معتقد و. ده تـر پايـه پـورې د همدغو فکرونو او اصلونو په چوکاټ کې کړه وکړل.

په هر حال له مستلبر نه چې د حاجي دين محمد په فکر «... په افغانسـتان کې د منظم جهاد لومړنی مرکز ګڼل کېدلی شي» هم د پکتيا، ننګرهار او هم د غزني يو شمېر مجاهدانو د مولوي حقاني په عمومي قومندانۍ جهاد پيل کـړ. د ډګر قومندان يې مطيع الله وليخېل و. دوی لـه دغـه مرکـز نـه چـې حقـاني دمخه جوړ کړی و، د خوست د بري پر تاڼې او نورو حکـومتي پوسـتو بانـدې بريدونه کول. عبدالحق که څه هم تـر ټولـو کشـر و، پـه دغـو يرغلونـو کـې پـه خپلې زړورتيا سره نوم وايست او ځايي خلکو او د حقاني او مطيع الله مينـدو ته په خاص ډول ګران شو. بيا نو د ده «... عزت او جاروقربان تر هر چـا ډېـر و.» د حقاني مور به ويل چې «يو خـو عبـدالحق وړوکـی دی او مسـافر دی او بـل زړور دی.» د مطيـع اللـه مـور دغـومره تکـړه او صـبرناکه مېـرمن وه چـې «ورونه او زامن به يـې شـهيدان شـول خـو د دې بـه پـروا نـه وه، د مجاهـدينو خـدمت بـه يـې کـاووه.» هغـه «لـه زامنـو سـره بـه جهـاد تـه تللـه... او د زامنـو

حوصلې به يې وچتولې.»[۷۳] دغو مېړمنو چې کله به يې زامن په کور کې نه وو، د مېلمنو قدر او عزت په خپله کاووه.

په دغې جبهې کې چې مجاهدان ډېر شول او په پسرلي کې چې په سپين غره باندې اوښتل ممکن شول، فيصله وشوه چې د ننګرهار په خوګيانيو کې دې هم جهادي مرکز پرانستل شي. بيا نو د تورې بورې مرکز د پچيراګام د ولسوالۍ د سليمان خېلو په تنګي کې غوره شو. د تورې بورې شاوخوا دغسې غرونه پراته دي، چې په ځنګلونو پټ دي او د نا اشنا خلکو تګ ورته ګران دی. دلته د مجاهدانو لپاره د پټ کېدلو ځايونه ډېر وو او د الوتکو او توپونو بمپاري هم پرې اثر کولی نه شو. مولوي خالص د تورې بورې دفاعي سيستم عبدالحق او نورو ته وسپاره او په خپله يې کله په عملياتو کې برخه اخيستله، که څه هم دی د تنظيم مشر او عمر يې هم ډېر و. د يادولو وړ ده چې د اګام او چپرهار خلکو، د سره رود عربي سيدانو او دېرو نورو هم «مجاهدينو ته تر خپلې وسې پورې نغدې مرستې راولېږلې.» د جلال‌اباد ښار د هندوانو ونډه هم د يادولو او قدر وړ ده. حاجی دين محمد وايي چې «هم ښځو خپلې ګانې مونږ ته پېښور ته راولېږلې؛ هغه مونږ خرڅې کړې او له دره ادم خېل څخه مو ټوپک او کارتوس رانيول او ور ومولېږل.» دا هغه وخت و چې تنظيمونو ته د باندې نه وسلې نه رسېدلې. له همدغې جبهې څخه وو چې مجاهدانو وروسته «خپل ګروپونه چپرهار، خوګيانيو، سره رود او شنوارو سيمو، حصارک غلجايي، سروبي ولسوالي، تورغر او جلال‌اباد ښار ته خپل عمليات وغزول.» او عبدالحق «د جلال‌اباد په ښار کې د ځينو دوستانو او د هغو پوځي افسرانو په ملګرتوب چې مجاهدينو سره يې خواخوږي درلوده، چريکي عمليات پيل کړل.»

عبدالحق به هلته له ملګرو سره د ورځې د دوستانو په کورونو کې تېرولې

او د شپې به يې د هغو د ځوانانو په ملګرتوب له خپلو ملګرو سره په ګډه د رجيم پر پوستو بريدونه کول او له ښار نه د باندې يې په پچير اګام او سره رود کې عمليات کول. دننه په ښار کې يې يو ډول ابتدايي جال يا شبکه جوړه کړه. دا په جلال‌اباد کې و چې عبدالحق د خپلواک قومندان په توګه په خپل نوبښت چريکي عمليات کول. په دغو عملياتو کې چې دی د مهارت خاوند او پر ځان ډاډه شو، په دې فکر شو چې که له کابل نه د باندې د رجيم پر ضد فعاليتونه هر څومره ډېر او برياليي هم وي، رجيم پرې نسکورېدلی نه شي او د دې لپاره چې رجيم په اساسي ډول تاواني او د نسکورېدلو لپاره يې لار هواره شي بايد د کابل ښار شاوخوا هدفونه وويشتل شي او په ښار کې دننه نفوذ وشي. نو دی بايد په پغمان کې يوه جبهه ولري. نور نو د ده په خپله ژبه: «زه پوهېدلم چې زه بايد په کابل کې ځانله جبهه ولرم. په هغه وخت کې خالص هلته هيڅ نه لرل. زمونږ ټول قوت په ننګرهار او کابل کې و، خالص ا و زما ورور [دين محمد] ويل نه، حکومت به دې ووژني. ته لا تنکی ځوان يې او په دې نه پوهېږې چې په کابل کې له رجيم سره جنګېدل حومره ګران کار دی. ته د دغسې جنګ لپاره تيار نه يې.»(۷۴) عبدالحق په دې اړه ډېر دليلونه وويل خو هغوی قانع نه شول. په پای کې عبدالحق ورته کړه چې «ګورئ! که د تاسې هوکړه وي يا نه وي، زه غواړم په کابل کې ځانله جبهه ولرم. ايا له ماسره د پيسو او وسلو مرسته کولی شئ؟» د هغو ځواب نه و. عبدالحق بيا له دوی سره بې له خدای په امانۍ له پېښور نه ووت او ټولې هغه ماشين ګنې او وسلې يې چې په ننګرهار کې د رجيم له پوستو څخه ترلاسه کړې وې له ځان سره يووړې.(۷۵)

په رښتيا هم له پغمان نه د رجيم پر ضد عمليات کول يو ګران کار و، هغه هم د عبدالحق لپاره چې دغه وخت دووه ويشت يا درويشت کلن ځوان و.

دی پغمانیانو ته نا اشنا و او په پغمان کې یې ژوند هم نه و کړی. دغه خطر هم محسوس و، چې د خاد جاسوسان به د ده شبکه یا مرکز کشف کړي او دی به له مینځ نه یوسي. خو دی ډاډه و چې څنګه چې پغمانیان هم د رجیم او یرغلګر پوځ مخالف دي ملاتړي به یې وکړي. دی به په دې فکر هم و، چې حنګه چې یرغلګر پوځ د پغماني حفیظ الله امین حکومت نسکور کړی، دوی به د هغو ټینګ مخالف وي. د پغمان غوره کول به له دې امله هم و، چې هغه لړو ډېر د تورې بورې په شان سخته غرنۍ سیمه وه، هر څه چې وو، عبدالحق د وطن د ژغورلو لپاره دغه کار ته ملا وتړله او د ننګرهار جبهې مشري یې انجینر محمود ته وسپارله او په خپله د ۱۹۸۰ کال په کومې میاشت کې له یو څو ملګرو سره له پېښور نه افغانستان ته ننوت. په پغمان کې د څارندوی یو منصب وال ضابط عبدالحلیم له حکومتي ګړندي موټر او څه وسلو سره هم ملګری شو. ورور یې حاجی عبدالقدیر هم یو څه وسلې چې د اپریدو له ادم خېل درې نه یې رانیولې وې هم ور واستولې. پغمان د قومندان عبدالحق نظامي جبهه وه، چې له هغه ځای نه یې عملیات کول. خو د شپې تېرولو لپاره یې د جلرېز دیولان په سیمه کې یو څو کوټې جوړې کړې، په دې چې پغمان د اوسېدلو لپاره خوندي نه و. په دغو کوټو کې یې درنې وسلې، مهمات او لوجستیکي وسیلې هم ځای پر ځای کړې. دوی به عملیات په شپه کې کول، او د ضابط حلیم له موټر نه به استفاده کېدله.(۷۶) د دوی لومړني عملیات اسان وو، ځکه چې په غه وخت کې شورویانو د کابل ښار شاوخوا امنیتي پوستې نه وې جوړې کړې.

عبدالحق په هاغه اولې مرحلې کې د ملګرو موندلو، نفوذ خپرولو او د تنظیم جوړولو موضوع ته ملا وتړله. امریکایي جورنلست رابرټ کاپلان لیکي: «حق په پلازمینه کې خپل وخت له باوري ملګرو سره تېروه؛ له خپل

مقصد نه به ورته غړېده او له هغو نه به يې مرسته غوښتله. داسې هم ده خالص او دين محمد ته پيغامونه واستول او ترېنه ويې غوښتل چې پر موضوع له سره فکر وکړي. هغه نورو پيسو او وسلو ته اړ و، ځواب ورته ونه رسېد. په پای کې يې له هغو سره پوره وشکوله.»[۷۷] په دغه حال کې عبدالحق بله چاره نه لرله، خو دا چې په خپل ځان ډډه وکړي او ملګري ډېر کړي. په دې اړه ملي جهاد ته د هغه رښتين توب، قوي منطق او له ملګرو سره ښه چلند هم ورته ګټه وکړه. کاپلان چې له عبدالحق سره افغانستان ته ځو ځله تللی وايي چې «په تحليلي توګه د هغه د سوچ کولو قابليت د هغه ستره پانګه وه چې د هغه له هغه استعداد نه يې ډېر انکشاف کړی و، چې د چاودونکو موادو په هکله يې لاره.»[۷۸] عبدالحق يو ځل کاپلان ته ويلي وو چې «ما درک کړه چې هر څوک ټوپک جګولی او جنګ کولی نه شي. هر څوک ما غوندې سرسخت کېدلی نه شي. خو هر څوک يو څه کولی شي. هغوی چې پيسې لري، مونږ ته ساق دار بوټان او پرېړ واسکټونه تهيه کولی شي او هغوی چې پيسې لري، او جنګ کولی نه شي له حکومتي دفترونو نه هم يو څه کولی شي. غوږ نيولی او مونږ له واقعي حال نه خبرولی شي. تاسې ډېرو ناتوانو او احمقانو ته هم دغه احساس ورکولی شئ چې دوی يو مهم کار کولی شي. په دغه ډول هر يو کولی شي له تاسو سره مرسته وکړي.»[۷۹]

د عبدالحق له ويناوو نه څرګنده ده چې هغه د ابتکاري او راڼه فکر خاوند و، پر خلکو يې باور او د ملګرو په موندلو کې يې مهارت لاره. کاپلان وايي «عبدالحق له جنګ کولو نه زيات خپل وخت په خبرو کولو تېروه. دا يوه ابتدايي وسيله وه چې هغه جوړوله. له هغو نه چې يې ښه پېژندل د پنځو يا تر هغه لږو نه يوه ډله جوړوله. هغوی بيا له هغو نه چې يې پرې بوره باور لاره بله ډله تنظيموله. يوې پټې ډلې به يوازې پاڼې چاپولې او بل څه نه؛ بلې

به هغه وېشلې، بلې ډلې بـه د چـاپوونکي او ويشـونکي تـرمنځ پيغامونـه وړل راوړل. يوې ډلې به يوازې چوونکي مواد پټول. په داسې حال کې بلې بـه هغـه دربيمې ته وړل، چې يې عمليات کول. هيڅ ډله پـه دې نپوهېدلـه چـې هـابلې څه کول. عبدالحق له شفري کلمو، شفري کاليو او د سړکونو لـه علامـو څخـه د شفري کلمو نه ژبه جوړه کړه. يوه مياشت به يو چا توره چترۍ ګرزولـه چـې عمليات کېږي؛ بله مياشت به د هماغه رنګ مانا دا وه چـې عمليـات ځنډول شـوي دي. دغـه طـرز مـوثر و ځکـه چـې پـه افغانسـتان کـې پخـوا دغسـې استخباراتي طرز په کوم نظم سره نه و ازمييل شـوی او ځکـه چـې شـورويان د هغه په فکر نه وو.»(۸۰)

د عبدالحق په فعاليتونو سره د پغمان چبهې نوم وايست، پـه تېـره وروسـته له هغه چې د ۱۹۸۰ کال په جولايۍ کې د بي بي سي پـه خبرونـو کـې وويـل شول چې «په پغمـان کـې د مجاهـدانو زيـات شـمېر شـورويان پـه تنـګ کـړي دي.» د عبدالحق په وينا دوی په دغه وخت کې په پغمان کې ديـارلس تنـه وو او ډېر ملګري يې په کابل کې وو. د بي بي سي دغـې څرګنـدونې دوی تـه ګټـه وکړه. د عبدالحق د پلار سـوداګر دوسـتانو يـې پيسـې ورواسـتولې، لکـه چـې مشر ورور يې عبدالقدير هـم چـې د جلال‌ابـاد او پېښـور تـرمنځ پټـې معـاملې کولې، پيسې ور واستولې. نورو خلکـو هـم چـې دکمـونزم مخـالف وو، مـالي مرستې ورچالان کـړې، خـو دغـه مرسـتې د عبـدالحق لپـاره کـافي نـه وې. پـه همدغه وخت کې و چې دی په چاودېدونکې مرمۍ (Shrapnel) سره په سـر کې ولګېد او د درملنې لپاره پېښور ته لاړ. هلته مولوي خالص يې پوښـتنې تـه ورغي، خو هغه ورسره له خبرو کولو نه ډډه وکړه. سـره لـه دې هـم عبـدالحق وايي چې مولوي صاحب «په تېنګه کش کـړم او پـه جـګ اواز يـې راتـه وويـل چې بايد دغومره مغرور نه اوسي، ويـې منلـه چـې د ده پـه اړه تېـر وتلـی وم.»

دوی چې سره پخلا شول مولوی صاحب ورته کړه چې «ښه ده هر څه چې دې ضرورت وي، تنظيم به يې درته تهيه کړي.»[۸۱]

له هغه وروسته د عبدالحق د جهاد ساحه پراخه شوه او د کابل شاوخوا سيمو کې درويشت جبهې جوړې شوې. حاجي دين محمد په خپل اثر کې د هرې جبهې نوم او د هغې قومندان يادوي. دغه جبهې په دغو سيمو کې جوړې شوې: پغمان، چاردهي، شېوه کي، شکر دره، ده سبز، خاکجبار، قره باغ، ستالف، موسهي، سروبي، ماهيپر، دارالامان، اوزبين، جلريز او کوټه اشرو. د جبهو شمېر د سيمو او اهميت او ضرورت په تناسب و، پغمان څلور جبهې لرلې. دغو جبهو معاونان، همکاران او په «سوونو» مجاهدان لرل.[۸۲] د کاپلان په وينا د عبدالحق مجاهدان سربېره پر هغو چې د کابل ښار کې يې لرل، اووه زره تنه وو.[۸۳] انګليس لوسي ايډوردز د افغان کشالې هوارول ليکواله وايي چې قومندان عبدالحق «...د ښار شاوخوا چريکي تاکتيکي جنګياليو واحدونو ته انکشاف ورکړ؛ د هغه دفاعي جنګيالي له څلور زره پنځه زره نه ډېر شول.»[۸۴] د عبدالحق د جنګياليو يانې مجاهدانو دقيق مالومول ګران وي، خو دغومره يقيني ده چې هغه د چريکي جنګ لپاره کافي جنګيالان لرل او هغوی د هغه په قومندانۍ او ښه چلند راضي وو.

د حاجي دين محمد په وينا عبدالحق د خپلو مجاهدانو له کار او فعاليت نه ځان خبراووه او ورته به يې پلان ورکاووه او کوم هغه اهداف به چې يې د ښاري حوضو او يا جبهو ته په نظر کې لرل «... لومړی به يې له خپلو شوراګانو سره پرې مشوره کوله او بيا به په خپله عبدالحق هغه وڅېړل.» دی دا هم وايي چې «په لومړنيو وختو کې به پر دغو اهدافو باندې چې پوره څېړل شوي به وو، په خپله عبدالحق قومانده په لاس کې واخيسته او ګډون به يې پکې کاووه او هدايات به يې ورکول چې غير نظاميانو ته تکليف ونه

رسیږي او یا هم د ټاکل شوي هدف نه په اخوا مجاهدین په نورو کې ګوتې ونه وهي.» عبدالحق د ښه چلند له امله و چې هر«... مجاهد به کوښښ کاووه چې له ده سره د حملې په وخت کې نزدې کار وکړي، چې هم یې د ده زړورتوب خوښېده او هم به یې له تدبیر څخه مطمین و.»(۸۵)

عبدالحق کوښښ کاووه چې مجاهدان یې منظم وی؛ له نورو مجاهدانو سره ونه نښلي او ولسي خلکو ته ضرر ونه رسوي. یو ځل د کابل-جلال‌اباد پر لار د کڅ په برخه کې د ده یوه مجاهد د موټر له یوه سورلۍ نه یو پټو ا خستی و او دی چې پرې خبر شو خپل «...مجاهدین[یې] راټول کړل او په دې خبره یې وپوهول چې زمونږ کار د خلکو ځورول او یا د هغوی مالونو اخیستل نه دي؛ بلکې د د وی د سر او مال حفاظت دی.» ده دا هم ورته وویل چې «مونږ چې سرونه په لاس کې نیولي دي، د خپل ملک د ساتلو او خپلو خلکو دناموس او مال ساتلو لپاره [دي] نه دا چې د دوی ناموس، سر او مال ته غله شو.»(۸۶) دغه پېښه به په ننګرهار کې د هغه د قومندانۍ په وخت کې شوې وي.

د عبدالحق د کابل شاوخوا مجاهدانو وظیفه دا شوه چې د نورو تنظیمونو د مجاهدو په شان پر لویو لارو باندې د یرغلګرو پر قطارونو حملې وکړي او دننه په ښار کې د شپې په تیاره کې په وړو وړو ډلو سره د رجیم او شوروي پیره داران په نښه کړي. د یرغل په اول کال په تېره د کابل ښاریانو او د ښوونځیو او پوهنتون محصلانو له پاڅونو نه وروسته مجاهدو د رجیم پر ضد فعالیتونو ته زور ورکړ او په لویو لارو کې یې نقلیه وسیلې لټولې. په داسې حال کې چې د شوروي پوځ او رجیم پوځي پوستې به هم لېرې نه وې. دوی یې مخه نه نیوله یا نیولی نه شوه. شورویانو هم د کابل شاوخوا امنیتي پوستې جوړې کړې وې، خو د رابرټ کاپلان په وینا دغه کار اول قومندان

عبدالحق کړی و. په لویو لارو کې شوروي سرتېرو او مجاهدانو یو بل له مجبوریت نه زغمل. په دې چې شوروي سرتېري تماشاچي وو او مجاهدانو له نقلیه وسیلو نه د رجیم نامطلوب ماموران، ګوندیان او نور هغه کسان چې پرې مشکوک کېدل، بېول. په دې ډول د کابل رجیم او یرغلګر پوځ په لویو لارو کې مجاهدان د واقعیت په توګه منلي وو، خو پر ضد به یې د معمول په شان پروپاګندونه کول. البته رجیم او شوروي پوځ به اړین او مهم نظامي او غیر نظامي څیزونه په **لویونو کاروانونو** سره وړل چې غټې نظامي قوې به یې ساتنه کوله. که مجاهدانو نه شو کولی له بیرون سره د ښار اړیکې وشلوي، پکې یې شریکي عملیات او نفوذ کولی شول. د ښار زیاتره اوسېدونکي د رجیم او شو رویانو مخالف او د مجاهدانو پر خوا وو. د دغه حال په درک سره د قومندان عبدالحق بل غټ کار دا شو چې دننه په ښار کې کار وکړي. دغه کار که څه هم د خاد د ډېرو جاسوسانو د شتون له امله ګران او خطرناک و، سره له دې هم هغه پرې شروع وکړه. دکاپلان په وینا «عبدالحق په پټه د څو سوو محفوظو کورونو نه یو جال یا شبکه جوړه کړه چې په زرګونو خلک پکې شامل وو او دوی به یو څه د مخه خبرتیا سره کولی شول، شپې لیکونه په څو ګړیو کې په ټول ښار کې تیت کړي.(۸۷)

مولف حاجی دین محمد په دې اړه اوږد غږېږي او لیکي چې «... وړې وړې حوزې د ښار په هر ګوټ کې جوړې شوې؛ عملیات پکې کېدل؛ د زخمیانو علاج به په پټه سرته رسېده، شبنامې (شپې پاڼې) به ویشل کېدلې... عبدالحق به هرې حوزې ته ځان [په شپه کې] رساووه او په هغه سیمه کې به یې عملیات سرته رسول. په دې عملیاتو کې څو ځلې زخمي هم شو. په دې ډول د کابل په ښار کې د عملیاتو یو جال جوړ شو. که څه هم په کابل کې نورو چریکي ګروپونو هم کار کاووه او ځینو یې ډېر ښه کار هم کاووه. خو

ځينو به يې وران کارونه هم کول او يا به يې خلک بې ځايه ځورول. له دې امله چې عبدالحق به خپل ګروپونه په خپله رهبري کول او هم به يې ځارل نو عبدالحق او مجاهدينو يې د کابل د خلکو په زړونو کې ځای درلود» داسې هم عبدالحق په کابل کې «... د شپې پاڼو په ذريعه او هم له ښاريانو سره د مستقيمو اړيکو په ذريعه د رجيم پرخلاف خلک منظمول.»(۸۸)

هر چاته به د يقين وړ نه وي چې حتی يوه باندني به هم په کابل ښار کې شپې ليکونه خپاره کړي وي. د کاپلان په روايت دغه باندنی د ساويک شوستر (savik Shuster) په نامه د ليتوانيې د هېواد يو يهود و، دی په پېښور کې له قومندان عبدالحق سره اشنا شوی او د هغه په مرسته کابل ته راغلی و. ده د ۱۹۸۳ کال د شپې پر يوولسو بجو د عبدالحق د مجاهدو په ملګرتوب او لارښود په ميرويس ميدان کې په داسې حال کې چې د رجيم ګزمه وال پنځوس متره لېرې ولاړ وو، د يوې روسي ورځپاڼې کمونستي ضد شپاړس نسخې د ميدان شاوخوا دېوالونو باندې نصب کړې، چې پکې په روسي ژبه ويل شوي وو، چې «جنګ بس کړئ، راځئ چې خپلو کورونو ته لاړ شو.» دا هغه ليکنه وه چې لينن د لومړي نړيوال جنګ په بهير کې د روسي سرتېرو لپاره خپره کړې وه. د يادې شپې په سبا د عبدالوکيل په نامه د عبدالحق يوه قومندان د دغې پاڼې شپاړس سوه نسخې په ښار کې ووېشلې. يو څو نسخې يې د انټرکانټيننټل هوټل په تالار کې هم خپرې کړې. په بله ورځ د شوروي پوځ ميرويس ميدان احاطه کړ او کورونه يې ولټول. ويل شوي چې د رجيم دوه افسران د دغې پېښې په تړاو ووژل شول. د شوروي اتحاد يوې ورځپاڼې دغه کار د سي‌آی‌اې کار وباله.(۸۹) يو شمېر نورو جورنلستانو هم افغانستان ته سفر کړی و، چې په هغو کې جان ګن ستن انګليس هم و، چې يو ځل يې د اسلامي حزب، اسلامي جمعيت او

عبدالحق له ملګرو سره پینځه میاشتې دننه په افغانستان کې تېرې کړې او د رجیم له یوه نظامي جنرال سره یې هم لیدلي وو، چې له عبدالحق سره یې په پټه کار کاووه.

په اول وخت کې د چریکي عملیاتو ډلې له ځوانانو څخه جوړې وې چې د ورځې به یې په ښار کې خپل ژوند چارې ترسره کولې او په شپه کې به د عملیاتو لپاره ټاکلو ځایونو ته تلل. د دغو چارو مسؤلیت په شیوه کیو کې د ضابط عبدالحلیم خیرخواه او په پغمان کې د اخوندزاده وحدت او عبدالوکیل پر غاړه وو. په دې اړه عبدالحلیم غټ کارونه وکړل، تر څو چې شهید شو. د پغمان د یوه قومندان حاجي خانمیر په وینا په کال ۱۹۸۲ کې د کابل په شاوخوا سیمو کې ډېر ځوانان چې وپېژندل شول او چریکي فعالیتونه یې کول پغمان ته لاړل چې د نیولو له خطر نه بچ وی او هم خپلو رجیم ضد عملیاتو ته دوام ورکړي»[۹۰]

په ربښتیا هم د ښار په لویدیځو برخو کې نږدې هره شپه او کله کله تر باغ علیمردان پورې چریکي عملیات کېدل او د رجیم او شوروي ګزمه والو یې مخه نه نیوله، یا نیولی نه شوه. خو یوه شپه د ټکونو او ګولیو اوازونه دغومره قوي او هیبتناک وو، چې مونږ ټوله شپه د کور په تهکاوي کې تېره کړه. مونږ هغه وخت د خوشال مېنې په دوهمه برخه کې په خپل کور کې اوسېدلو. ما دغه پېښې د ۱۹۸۲ کال تر اپرېل پورې یا یې تر خپل بندي کېدلو پورې په خپل جورنال کې ثبتې کړي او اوس خوښ یم چې وینم دغه لیکنې د هغو په تایید دي او عاملان یې هم راښیي. هغه وخت زه حیران وم چې دا څوک دي چې دغه خطرناک عملیات کوي، هغه هم دننه په ښار کې چې د رجیم او یرغلګر و او په خاص ډول د خاد د فعالیت مرکز و. له دغو پېښو نه څرګندېده چې قومندان عبدالحق د وطن ټینګ مدافع و. دغه پېښې په بل څپرکي کې

بیانیږي.

زما تر بندي کېدلو پورې نږدې هره شپه دغسې عملیات کېدل، خو د ورځې به د رجیم سرتېري په خوشال مېنه کې ډله ډله ګرځېدل او کورونه یې لټول او خلکو ته به یې ښووله چې حکومت پر ځای او ټینګ دی. ما په خپل جورنال کې د شوروي د یوه مشاور د تښتول کېدلو پېښه هم راوړې، اوس مالومه شوه چې هغه رښتیا وو دغه «مشاور» په واقع کې یو جنرال او د برېژنیف لېرې خپلوان و، چې د عبدالحق په تدبیر او د ضابط حلیم په مرسته تښتول شوی و، دغه پېښه به هم په پنځم څپرکي کې بیان شي. هلته به دا هم بیان شي چې په ۱۹۸۹ کې د قرغې فرقې په زېرمه تون کې د قومندان عبدالحق په نوښت دغسې چاودنه شوې وه، چې رجیم یې د **پنځوس ډالرو** په اندازه تاواني کړ.

قومندان عبدالحق په خاص ډول په ښاري چریکي عملیاتو سره د باندنیو جورنلستانو له لارې نوم وایست. په کال ۱۹۸۵ کې د امریکې ولسمشر ریګن په واشنګټن او بل کال د برتانیې صدراعظمې مارګریت ته چر په لندن کې ورسره ولیدل، دغو لیدنو له دې سره مرسته وکړه، چې امریکا په کال ۱۹۸۶ کې مجاهدو ته د ستنګر راکټونه ورکړي، چې په هغو سره په افغانستان کې د شوروي هوایي قوه تر ډېره حده بې اغیزې شي. عبدالحق وایي چې «ما مېرمن ته چر ته وویل چې زما نیکه او تر هغه دمخه د هغه پلار له انګلیسانو سره وجنګېدل، چې پر افغانستان یې یرغل کړی و، د دې لپاره چې افغانستان له روسانو نه په امن وي، نو مې هغه وپوښتله چې اوس چې په پای کې روسان راغلي، لکه څنګه چې برتانیه وېرېدله، ته ولې دغومره غلې یې؟ تاسې ولې سل کاله دمخه هر څه واستول خو اوس هیڅ څیز نه استوئ؟»(۹۱)

قومندان عبدالحق ته جهاد دغومره مهم و، چې په سخت زخمي توب حال کې هم د هغه په فکر کې و. د ۱۹۸۷ کال په اکتوبر کې د پغمان ولسوالۍ د ارغندۍ په سیمه کې د هغه ښۍ پښه په پرسونل-ضد ماین ولګېده او پنجه یې سخته زخمي شوه. «مجاهدینو ته یې ډاډ ورکاووه او ورته ویل یې کوم مجاهدین چې په جهاد بوخت دي، هغوی مه خبروئ، تر څو د عملیاتو پروګرام ګډوډ نه شي او روحیه یې کمزورې نه شي.» دی بیا د میدان جلرېز له لارې د چک ولسوالۍ ته په کټ کې یوووړل شو، هلته د فرانسې د بې سرحده ډاکټرانو په کلینک کې پانسمان شو، دی بیا په موټر کې د غزني په لار پکتیا او له هغه ځای نه پېښور ته او بیا امریکې ته لاړ، هلته د پټسبرګ ښار په یوه روغتون کې د امریکې حکومت په لګښت د هغه علاج وشو، خو د ښۍ پښې پنجه یې قطع او دی عمري ګوډ شو.[۹۲] کاپلان د عبدالحق له خولې نه دغه پېښه په لږ تفاوت یادوي او وایي چې دغه پېښه هغه وخت وشوه چې دی له خپلو مجاهدانو سره له هسکو غرو نه د ښار په لور د شوروي شپږ هدفونو وهلو په مقصد روان و، دی دا هم وایي چې په روغتون کې یې د لیدلو لپاره ورغلی و، هغه ورته ویلي و، چې «... هغه یوازنی څیز چې غواړم وکړم دا دی چې افغانستان ته ستون شم او جهاد وکړم.»[۹۳]

د ۱۹۸۹ کال په فبرورۍ کې د شوروي اتحاد پوځ له افغانستان نه د ژنیو د موافقې له مخې ووت، چې بیان به یې په یوه وروستي څپرکي کې وشي. قومندان عبدالحق به د نورو مجاهدانو په شان له ځان نه راضي و، چې د یرغلګر پوځ په ایستلو او په اصل کې پر افغانستان باندې د یوه زبرځواک د حاکمیت د پلان په شنډولو کې خپله ا فغاني، او اسلامي وظیفه ترسره کړې او له خپل وطن نه دغسې ټینګه دفاع وکړي چې هغه به افغانانو ته د

وطنپالنې او خپلواکۍ پالنې یوه نمونه وي.

څنګه چې عبدالحق د نجیب الله په مشرۍ د کابل رجیم د شورویانو «لاسپوڅی» ګاڼه پر ضد یې خپل جهاد ته دوام ورکړ. او شپې لیکونه یې هم خپرول. د یوې لیکنې په یوې برخې کې راغلي چې « ډېروګرانو د کابل ښاریانو! تاسې په افغانستان کې د سرو لښکرو شرمېدلې ماتې ولیدې. د افغانستان ملت دا ویاړ تراوسه د بشریت په تاریخ کې د بل ملت په برخه شوی نه دی. دا ویاړ ستاسې د درنو هېوادوالو د هغو ځورولو، د هغو ټکونو، لوږو، زغم، سربښندنو او ټینګار لاسته راوړنې دي چې د کمونزم نړیوال ځواک او د دوی د مزدورانو په وړاندې مو وښود؛ نو راځئ چې د یوه ازاد، سرلوړي او اسلامي افغانستان د رامنځ ته کولو لپاره لاسونه سره ورکړو او د خپل ملت په سربښندنه د بري پړاو ته ورسېږو.»[۹۴]

د نجیب الله رجیم وروسته له هغه چې شوروي اتحاد د ۱۹۹۱ په دسمبر کې له خپلې امپراتورۍ سره له منځ نه لاړ، د بل کال په اپرېل کې نسکور شو. پر ځای یې له افغان اسلامي تنظیمونو نه جوړ حکومت په کابل کې په و اک شو. قومندان عبدالحق په کابل کې دامنیت لوی قومندان وټاکل شو، خو ده له یو څه مودې وروسته خپله وظیفه پرېښوده. د یوه راوي په وینا څه وخت چې د تنظیمونو مجاهدانو په خپل مینځ کې د غنیمتونو پر سر نښتې وکړې او عامه افغانان یې وژل قومندان عبدالحق په ۱۹۹۲ کې له افغانستان څخه ووت؛ ویل یې چې ما د یرغلګرو د شړلو په مقصد جهاد د دې لپاره نه دی کړی چې د غنیمت او مقام په سر په کورني جنګ کې برخه و اخلم.[۹۵] عبدالحق له هغه وروسته په یوې ملي سطح کې له پېښور او بیا دوبۍ ته یې له باندنیو دیپلوماتانو او نورو نفوذ منو کسانو نه غوښتل چې د اسلامي بنسټ پالنې او جنګ مشري مسئلې تشخیص کړي او په اړه یې یو څه وکړي

چې په افغانستان او سیمې کې نوې هسکېدلې. دی د افراطي ډلو او چلندونو او په اصل کې له اسلامي بنسټ پالنې سره جوړ نه و. ویل یې «چې که زمونږ خلک د هغه څیز کولو ته مجبور کړل شي چې نه غواړي جنګ به پسې اوږد شي، کوم څیز ته چې مونږ ضرورت لرو هغه پراخ بنسټ حکومت دی.»[۹۶] ده په مشخص ډول ویلي وو چې «که په افغانستان کې دغو افراطي مجاهدانو قدرت ترلاسه کړ هلته به تل جنګ وي، سوله او امنیت به نه وي او مونږ افغانان به مجبور اوسو چې د ډوډۍ او ملاتړ لپاره د ژوند تر پایه پورې ګدایي وکړو.»[۹۷] وروسته چې د تنظیمي حکومت کورني جنګونو په وخت کې ترهګري، مخدر موادو او وسلو یو ډول زهرجن کلتور رامینځ ته کړ، په داسې حال کې چې نړۍ افغانستان ته شاکړې وه، عبدالحق یوه پر ځای وړاندوینه وکړه او هغه دا چې «ممکن دوی [بین المللي ټولنې] یوه ورځ مجبور شي له هغه سره د مقابلې لپاره په سل ګونو زره پوځ واستوي او که دوی رانںوتل وبه نښلي. مونږ په افغانستان کې د برتانویانو هدیره لرو، مونږ د شورویانو هدیره لرو، بیا به د امریکایانو هدیره و لرو.»[۹۸]

قوماندان عبدالحق د پاکستان له آی‌اس‌آی سره جوړ نه، چې یې افراطي تنظیمونه غوره ګڼل او هغه قومندانان یې څنډې ته کول چې د ا فغانیت او خپل فکر له مخې یې جهاد کاووه. د کاپلان په وینا «... آی‌اس‌آی هغو تنظیمونو او قومندانانو ته وسلې ورکولې چې کنټرول کولی یې شول او هغو قومندانانو ته چې آی‌اس‌آی به نظامي پلانونه ورته جوړول.» عبدالحق له دغه چلند سره مخالف و، او آی‌اس‌آی ته یې په ښکته نظر کتل: «د هغه په اند د هغې ایجنټان یوه ډله هغه متوسط پنجابیان دي چې په نظامي اکاډمیو کې روزل شوي او په افغانستان کې په چریکي جنګونو نپوهیږي» عبدالحق د نورو افغانانو په شان دا هم ویل چې «پاکستانیان ولې افغانانو ته دستور

ورکړي، چې جنګ یې هیڅکله ګټلی نه دی او [افغانانو] جنګ هیڅکله بایللی نه دی.»[٩٩] د آی‌اس‌آی هم له عبدالحق سره ورانه وه. د امریکې د خاص استازي پیټرټامسن په وینا یو دلیل داو چې عبدالحق ښه نوم ګټلی و، په قانع کوونکې ژبه ګړېده؛ د پیاوړې ارادې او سالم فکر خاوند و؛ قوي احساسات یې لرل او تر هر څه زیات یو خپلواک شخص و. پر دې سربېره سیاست یې عنعنوي، معتدل ا و د جرګې په دود غیر انحصاري او نور شمول و. دی یوه نومیالي قوم او درندې کورنۍ ته هم منسوب و.[١٠٠] حاجي دین محمد هم وایي چې په نړیواله سطح کې د عبدالحق نومیالی توب نه یوازې ځینې تنظیمي متعصبان په غوسه کړل. آی‌اس‌آی یې هم ناخوښه کوله، ځکه چې د جهاد په اړه باندنیانو ته به د هغې مالومات د عبدالحق له مالوماتو نه توپیر لاره، چې هغه په پېښور او باندنیو هېوادونو کې جورنلستانو ته په مرکو کې ورکول. ډګروال محمدیوسف چې په آی‌اس‌آی کې داسې انګېرله چې ((... ټول مجاهدان باید له ماسره اړیکې ولري او زه چې د افغانستان د حالاتو په اړه نړیوالو ته کوم تصویر وړاندې کوم، مجاهدین هم [باید] په هماغه لار لاړ شي.» البته تنظیمي مشران مجبور وو، د آی‌اس‌آی پر لار لاړ شي خو «... عبدالحق چې [یې] هم نړیواله پېژندګلوي درلوده... او خپل غبږ یې هر چاته رسولی شو، ځان د دې پالیسۍ عملي کولو ته مجبور نه ګاڼه.» د آی‌اس‌آی مشر حمید ګل لا «... له عبدالحق څخه دا غوښتنه درلوده چې «... اروپایان او امریکایان چې مسلمان نه دي له هغو سره ستا جلا اړیکې ساتل د جهاد په ګټه نه دي.» خو عبدالحق به ویل چې «...تاسې هم دا هر څه له هغوی اخلئ، نو موږ ولې منع کوئ.» یوازې جنرال افضل جنجوعه هغه وخت چې د افغانستان د اړیکو مسؤول و، کوښښ وکړ چې د عبدالحق او آی‌اس‌آی ترمینځ اړیکې ښې وي، د هغه په وخت کې همدغسې وشول خو له

تبدیلي نه وروسته یې «... د عبدالحق او آی‌اس‌آی اړیکې روغې پاتې نه شوې او تر اخره خرابې وې.»[۱۰۱]

دوی د کابل رجیم د نسکورولو په اړه هم سره وران وو. آی‌اس‌آی او هم داسې سي‌آی‌اې «... په کابل او جلال‌اباد کې... د کمونستي خدایانو نسکورېدل غوښتل چې ورته به خونړي او غټ سپکاوی وي. امریکایان په واقع کې حاضر وو، پاکستان پرېږدي حکمتیار تر خپل واک لاندې په واک کړي چې که دغه تاوان د هغې خوښې په مقابل کې وي..» چې شورویان په هغسې بدحال له افغانستان څخه وایستل شي، چې دوی له ویټنام نه ایستل شوي وو.[۱۰۲] خو عبدالحق به ویل چې «مونږ کولی شو ښار هره شپه په زرګونو راکټونو وولو او بیا پرې مارش وکړو او ویې نیسو، خو په دغه حال کې به په سل‌ګونو زره مړینه وي.» د دغه نظر له مخې هغه غوره ګڼله چې کابل هیڅ ونه نیول شي او پرېښوول شي چې هغه په خپله چپه شي: د خلق او پرچم په خپلمنځي فشار سره په مناسب وخت کې په راکټ ویشتلو سره، له رجیم نه د خلکو په تېښتې سره د شاوخوا د حکومتي پوستو په نیولو سره او ګام په‌ګام د ښار په محاصره کولو سره.»[۱۰۳] عبدالحق له کابل رجیم سره د خبرو کولو پلوي هم کوله، خو یوازې او یوازې هغه وخت چې د چپه کېدلو په حال کې وي، چې هغه وخت به هر ډول شرطونه ومني، خو آی‌اس‌آی او نور مجاهد قومندانان له دغه فکر سره مخالف وو او ځینو امریکایي چارواکو لا هغه «د پرون ورځې سړی» باله. کاپلان وایي چې عبدالحق دغه وضع حس کړې وه او ویل یې چې «دی د پاکستانیانو او امریکایانو خوښ نه دی.» خو ده هغسې چې د مولوي خالص او خپل ورور له مخالفت سره سره په پغمان کې جبهه خلاصه کړه، داسې هم تر اخر پورې پر خپل دغه فکر ټینګ ودرېد، که څه هم آی‌اس‌آی ناڅاپه له قومندان احمدشاه مسعود سره

چې په زور سره يې د کابل نيولو پلوي کوله، سخاوت پيل کړ او د ۱۹۸۹ په پيل کې يې عبدالحق ته وسله ورکول ګرد سره بند کړل.[۱۰۴] دغه سره متضاد دريځونه وروسته د قومندان عبدالحق د مرګ لامل شو، چې دغه پېښه به اوس په لنډ ډول بيان شي.

قومندان عبدالحق په تنظيمي دوره (۱۹۹۲-۱۹۹۶) کې په ظاهر کې خپل شخصي کارونه کول، خو د اسلامي امارت په دوره (۱۹۹۶-۲۰۰۱) کې په تېره وروسته له هغه چې د امارت وهابي ډول مليشايي نظام د زيږ چلند له امله نارضايت عام شو، د امريکې او ملګرو ملتونو له خوا پرې بنديزونه ولګول شول او افغانستان د لومړي ځل لپاره ګوښه او ژوند پکې ګران شو، د عوض کېدلو لپاره يې حتی په نړيواله سطح هم تجويزونه نيول کېدل. په دغه وخت کې عبدالحق په دې لټه کې شو، چې امارت له دننه څخه نسکور او په يوه پراخ بنسټ نظام سره عوض شي. د دغه مقصد لپاره ده د امارت له ناراضو لويانو سره، چې په شمېر کې کم نه وو، خبرې پيل کړې.

د امارت د کورنيو چارو وزارت مرستيال ملا عبدالصمد خاکسار لا دمخه دغسې ناراضه کسان په پټه تنظيم کړي وو. دغو کسانو د يوه منشور له مخې غوښتل چې افغانستان د ټولو قومونو له استازو نه جوړ، دغسې يو اسلامي نظام وي چې له «خارجي دنيا سره روابط ولري» او جاري جنګ ته د پای ټکی کېښېږدي. د ده په وينا په دغې ډلې کې وزيران، معينان او رييسان شامل وو، خو ځينو يې مقاومت له لاسه ورکړ او افغانستان يې پرېښود.[۱۰۵] د امارت زياتره لويان اعتدالي وو، خو واقعي چلوونکي يې چې ډېر هم نه وو، سخت دريځي، وهابي پلوه، زورواکان وو، چې د اسامه بن لادن له سړيو او پيسو او د عربي شيخانو له پترو-ډالر او د آی‌اس‌آی له ملاتړ نه بهره من او په نظام کې د سمون راوستلو مخالف وو.

عبدالحق د پېښور او پښين د ممثلو لويو جرګو د فيصلو پر بنسټ د ملي نظام په فکر و او ويل يې چې د افغانستان کشاله په پراخ بنسټه نظام سره هوارېدلای شي، چې د قومونو د استازو، او تجربه لرونکو سياستمارو او پوهو افغانانو نه جوړ وي. دی هم په دغه فکر و، چې پخوانی پاچا محمدظاهر د دغسې نظام د سروالۍ لپاره مناسب شخص دی، چې هم د واکمنۍ تجربه لري او هم افغان قومونه پرې راټولېدلی او ملي پيوستون پرې واقعي کېدلی شي.(۱۰۶) ملا خاکسار او ملګري يې په دغه پروګرام کې له عبدالحق سره متحد شول او دغسې نفوذمن کسان لکه عبدالسلام مشهور په راکټي او ملا ملنګ هم ورسره ودرېدل، چې ملا محمد عمر د هغه په ډله کې جهاد کاووه.

دا هغه وخت و چې د امريکې متحدو دولتونو حکومت د جارج بوش په ولسمشرۍ د افغانستان هغه برخې بمباري کولې، په دغه مقصد چې د امارت نظام نسکور شي. دغه بمباري د ۲۰۰۱ کال د اکتوبر په اوومه شروع شوې وه او د هغه عمل په انتقام وه چې د القاعدې غړو د اسامه بن لادن د پلان له مخې نيويارک سوداګري مانۍ په هغو ملکي الوتکو سره وهلې او نړولې وې چې له باسټن ښار نه د لويديځ په لور روانې وې او دوی د هغو پيلوټې په زور ترلاسه کړې وه. په دغې بېساري پېښې سره په نيويارک او داسې هم په واشنګټن کې نږدې درې زره امريکايان ووژل شول او امريکې ته په مليارډونو ډالر تاوان واووښت. د الوتکو تښتوونکي چې عربان وو، د افغانستان په پکتيا کې د ژورې په سيمه د البدر په کامپ کې روزل شوی و، چې د جهاد په وخت کې د بن لادن په مرسته جوړ شوی وو. امارت د هغو پيسو او مېړو په بدل کې چې بن لادن د هغه د مخالفانو په وړاندې کول، هغه د البدر په کامپ کې ازاد پرې ايښي وو او دغه تښتوونکي هلته روزل شوي وو.

د امریکې ولسمشر د سپټمبر په ۲۰مه امارت ته التیماتوم ورکړ چې د القاعدې هغه مشران چې په افغانستان کې دي دوی ته وسپاري او د ترهګرۍ مرکزونه وتړي او که نه امارت دې د هغو په عمل کې ځان شریک وګڼي. په دغه وخت کې ما دوه ځله د امارت ویاند عبدالحی مطمین ته له کلیفورنیا نه په تیلفون کې وویل چې د بن لادن پر سر د امارت پر ضد نړیوال ایتلاف مخ پر جوړېدو دی او د امارت لویان باید هغه له ملک نه رخصت کړي او یا یې وهڅوي چې ځان د اسلامي کنفرانس موسسې ته تسلیم کړي، د دې لپاره چې د هغه پر سر پر افغانستان باندې یرغل ونه شي، خو د وی په اصطلاح لکه چې د پیل په غوږ کې ویده وو او په دې اړه یې هیڅ ونه کړل او امریکا بیا په نظامي عمل پر افغانستان رادمخه شوه. د امارت لویانو په تېره د ملا محمد عمر چې اساسي وظیفه یې د وطن او وطنوالو ساتنه وه د یوه بېګانه پر سر هغو ته شاکړه او یو بېساري تاریخي مسؤلیت یې پر غاړه واخیست. دوی په دې ډول پر افغانستان باندې یو ډول سودا وکړه، چې له امله به یې په تاریخ کې د تل لپاره محکوم وي.(۱۰۷)

خو قومندان عبدالحق د وطن بمباري کېدل زغملی نه شول، هغه لا له بمبارۍ نه دمخه د امریکې ولسمشر جارج بوش او د برتانیې صدراعظم ټوني بلییر نه غوښتي وو، چې افغانستان بمباري نه کړي، ځکه چې امارت د سقوط په حال کې دی او دی کوښښ کوي چې له دننه څخه یې نسکور کړي.(۱۰۸) ده په مرکو کې هم له بمبارۍ سره مخالفت و ښود او هغه یې بې لزوم وبللې. دی د ملا خاکسار په رښتین توب او ملګرتوب ډاډه و او د امارت د نسکورولو لپاره یې د اکتوبر په دریمه یانې د امریکې له بمبارۍ نه دمخه یو پلان و ایست چې مېرمن لوسي ایډورز د هغه پوره متن په خپل کتاب کې راوړی په نامه (د افغان کشاله هوارول.)(۱۰۹) د د غه پلان له مخې د کندهار

شاوخوا ټول قومندانان او يو څو وزيران حاضر وو ، د عبدالحق پر خوا واوړي.[۱۱۰] د انګليس سرجان ګن ستن په وينا عبدالحق د طالبانو په ليکو کې ډېر پلويان لرل. دى دا هم وايي چې څه وخت چې په روم کې د پاچا محمدظاهر ليدلو ته تللى و، هلته يې د فراه او هزاره جات نه ډېر کسان وليدل. «دوى ټول د عبدالحق له پلان سره وو.»[۱۱۱] ګن ستن ډېر ځله دننه افغانستان ته تللى و او انګليس ليکواله لوسي ايډوردز شپږ کاله په افغانستان کې زياتره د طالبانو په دوره کې او له هغه وروسته تېر کړي او د عبدالحق له کورنۍ سره ښه اشنا وه. لوسي د عبدالحق د کورنۍ په حواله وايي چې ملا خاکسار د سپټمبر له يوولسمې نه وروسته له عبدالحق سره په پېښور کې وليدل او د هغه په پلان کې يې ورسره مرسته وکړه او د پراخ بنسټ حکومت په جوړولو کې يې د ملګرتوب وعده ورکړه چې په کابل کې به د همدغه پلان په عملي کولو کې له قومندان خانمير سره په ګډه عمل وکړي. قومندان خانمير د جهاد په وخت کې د عبدالحق ملګرى او په دغه وخت کې د امارت يو قومندان و، دوى موظف شول چې د کورنيو چارو د وزارت نظامي واحدونه به د عبدالحق په لور واړوي.[۱۱۲] لوسي د دغې حساسې موضوع د ثقه کولو لپاره د ۲۰۰۴ کال په جنورۍ کې له ملاخاکسار سره په خيرخانه مېنه کې د هغه په کور کې وليدل. ملا خاکسار هغې ته وويل چې «په و روستيو ورځو کې د عبدالحق دوستانو د کورنيو چارو وزارت کې په عمل کې جنګ پيل کړى و، مونږ د عمل لپاره تيار وو،» هغه دا هم ورته وويل چې «ډېرو خلکو حتى په خوست، پکتيا، ګرديز او په ټول افغانستان کې د هغه د پلان ملاتړي کوله.» او «که هغه ژوندى واى او پلان يې عملي شوى واى، زما له نظر نه هغه به اوس د افغانستان ولسمشر واى.»[۱۱۳]

عبدالحق له پېښور نه د تیلفون له لارې د طالبانو له قومندانانو سره ګړېده او هغوی هم د هغه لیدلو لپاره پېښور ته تلل. د طالبانو قومندانان په سلو کې ځلوېښت یا پنځوس پخواني جهادي قومندانان وو او عبدالحق ډاډه و چې «هغوی به له مونږ سره یو ځای شي، دغومره چې هغوی د خپل ژوند په اړه اندېښنه ونه لري. ده دا هم ویل چې مجاهدانو جنګ په نظامي لحاظ وګټه، خو له سیاسي پلوه یې بایلوله او دا چې «هیڅوک یې په یوازې ځان نه شي کولی. مونږ ډله ییز عمل ته اړ یو، له سپټمبر نه دمخه مونږ یوه متحده مشري نه لرله، چې مختلف قومونه سره متحد کړو. اوس چې پخواني پاچا منلې چې خپل وطن ته ستون شي، دا کار له مونږ سره مرسته کوي چې خپله کشاله هواره کړو، مونږ دغسې ملي پروسه پیل کولی شو، چې پر قومي ډلو ولاړه نه وي.»(۱۱۴)

د امریکې له خوا د افغانستان بمباري کېدل د عبدالحق د پلان د عملي کېدلو په مخ کې اساسي خنډ و، له همدې امله و چې هغه د خپل پلان د عملي کېدلو لپاره له وخت نه د مخه پرې پیل وکړ، او له خپلو یو څو ملګرو سره د اکتوبر په یوویشتمه له پېښور نه د پاړه چنار ځاځیو او حصارک ته نږدې د غوږیزې تنګي درې ته چې د ناصرو سیمه وه ورسېد، د ده دغه تاریخي سفر حاجي دین محمد په خپل اثر کې په اوږد ډول بیان کړی، چې لنډیز یې دا دی.

عبدالحق خپله کورنۍ له خپل دغه سفر نه نه وه خبره کړې. مشر ورونه حاجی دین محمد په پېښور او حاجی عبدالقدیر په جبل سراج کې وو، ده د دغه خطرناک سفر لپاره تیاری هم نه و نیولی او دوی تهول یوه وړه ملکي ډله وه او ملګرو یې د پاړه چنار په برخه کې ورنه وغوښتل چې «پېښور ته به [بېرته] لاړ شو، یو قوي پروګرام به جوړ کړو او بیا به راشو.» خو هغه د خپل

عادت پر خلاف د هغو غوښتنه و نه منله، په دې چې «وخت راځخه تېرېږي؛ اوس لا بمباريو دومره حالات خراب کړي دي؛ که نور وخت ووځي حالات به لا ډېر خراب شي.» عبدالحق د ببر قوم مشر حاجی زرغون په ګډون د نورو دوستو قومي مشرانو مشوره هم ونه منله، چې ورته يې وويل دا يو خطرناک کار دی ، اوس ترېنه لاس پر سر شه، په عمومي ډول عبدالحق او ملګري يې چې له کومو سيمو نه تېرېدل، مشرانو يې ورسره خواخوږي ښووله، خو د عمل ژمنه يې نه کوله. په همدغه وخت کې و چې د ده سبز او شمشاد د امارت د مليشاوو قومندانانو له خوا هغه ته دغسې پيغامونه ورسېدل چې په لازمي وخت کې به له هغه سره يو ځای شي. تر غوړيزې پورې د امارت مليشاوو، د دوی د تګ مخه ونه نيوله، چې دا شايد له پاس نه د هدايت له مخې و، خو په غوړيزه کې يې دوی ټول محاصره کړل. د ننګرهار والي مولوي عبدالکبير لا «... يو غټ قوت له ځان سره د حصارک غلجي» په لور وخوځوه، شايد د دې لپاره چې حصارک ته د عبدالحق او د هغه ملګرو مخه ونيسي، ځکه چې که دی هلته لاړ شي د خپلو قوميانو له عملي ملاتړ نه به بهره من شي، دغه وخت د لوګر، پکتيا، ننګرهار، کابل او لغمان د استخباراتو کسانو غوړيزه محاصره کړې وه. د سيمو مشرانو او مجاهدينو عبدالحق خبر کړ چې طالبان د جنګ لپاره تياری نيسي، خو هغه ورته وويل چې «زه جنګ نه کوم، خبرې ورسره کوم او له مشرانو سره د اړيکو نيولو کوښښ کوم، پيغامونه مې ورکړي چې ورسره خبرو ته کښېنو.»(١١٥) خو د طالبانو مشران چې واک يې په زور نيولی و او په زوره يې ساته خبرو ته حاضر نه وو، دوی که څه هم د امريکا تر بمبارۍ لاندې وو، فکر يې کاووه چې نظام يې ابدي دی او که امريکا پر افغانستان پوځي يرغل وکړي، افغانان به د هغو په وړاندې هغسې جګ شي، لکه چې د

شورويانو په وړاندې جګ شوي وو او دا عبدالحق څوک دی چې غواړي له دوی نه واک واخلي.

طالبانو بیا د غوړېزې د محاصرې کړۍ ماته کړه او پر عبدالحق وردمخه شول. حاجي دین محمد وایي چې د عبدالحق ملګري «جګړن حامد له ما سره د تیلفون پر کرښه و او ویل یې چې د طالبانو د خبرو اواز راځي او وایي چې څوک یاست؟ عبدالحق چې د پښې د تکلیف او ستړیا له امله پر یوه ګټه ناست و، د طالبانو له خوا د کلاشنکوف باټونه وچلېدل او چیغې یې کړې. عبدالحق خپلو ملګرو ته وویل چې زما له څنګ نه ټول لیرې شئ؛ ځانونه محفوظ کړئ او یوه تن ته یې وویل چې طالبانو ته غږ کړه او ورته ووایه چې ډزې مه کوئ، دلته عبدالحق ناست دی؛ غواړي تاسې سره خبرې وکړي» حاجی دین محمد بیا وایي چې «په همدې وخت کې مې په تیلیفون کې شورماشور واورېد او جګړن حامد راته وویل چی دا دی مونږ ونیول شوو او تیلیفون هم بند شو.»(۱۱۶) دا د پنجشنبې ورځ د اکتوبر ۲۵ مه وه.

عبدالحق او ملګري یې د ازرې ولسوالۍ مرکز ته ورسول شول او بیا ولسوال بندي عبدالحق او ملګري یې په خپل پیک اپ کې د کابل په لور روان کړل. کابل ته نږدې د چارآسیاب سنګ نوشته په سیمه کې و چې د کورنیو چارو وزیر ملا عبدالرزاق په خپل لوکس ګړندي موټر کې ښکاره شو او سمله له لاسه نارې کړې چې «هغه کابل ته تللی نه شي او باید اعدام شي.» جګړن حامد زارۍ وکړې چې عبدالحق اعدام نه کړي، خو عبدالحق ورغږ کړ، چې «له دغو خلکو نه سوال مه کوه، ژوند په عزت سره کوه.»

پیک اپ د طالبانو د کورنیو چارو وزیر په موټر پسې روان شو؛ له یو څو دقیقو نه وروسته دوی یوه ګوښه ځای ته ورسېدل. عبدالحق چې له پیک اپ نه بیرون شو، د عبدالرزاق په امر یې لاسونه وتړل شول. عبدالحق په جهر

ناري کړې چې «دا د الله تعالی اراده ده او زه يې منم» عبدالرزاق ورته وويل چې «چوپ شه او وړاندې درومه. هغه خپل کلاشنکوف (AK-47) د هغه د شاپه لور ونيوه. عبدالحق چې نږدې پنځلس ګامونه اخيستي وو، رزاق چيغې کړې چې ودرېږه او راوګرځه او چې هغه همدغسې وکړل هغه يې په وچلي وويشت نورو محافظانو د هغه پر لوېدلي جسد د ګوليو باران جوړ کړ.»(۱۱۷) د عبدالرزاق جلادانو جګړن حامد هم وواژه، خو شاهپور او ناصر يې پر خپل حال پرېښود او د عبدالحق ځوان ورار‌ه عزت الله د حاجي دين محمد زوی طالبانو دمخه وژلی و، دا د جمعې ورځ د اکتوبر ۲۶مه او عبدالحق د درې څلوېښتو کالو ځوان و.

څرګنده ده چې طالبان د قومندان عبدالحق او ملګرو له ورتګ نه خبر وو او د هغو د نيولو لپاره تياری نيولی و. که خبر نه وای څنګه چې هغوی تر بمباري لاندې وو، پکتيا ته خاصه توجه نه کوله. ټامسن د سي‌آی‌اې د ترهګرۍ-ضد يوه پخواني چارواکي ونس کانسټرارو (Vince Cannistraro) په حواله وايي چې د پاکستان آی‌اس‌آی «... يو افغان قومي مشر د عبدالحق له موقعيت نه خبر کړ او دغه قومي مشر دغه خبر طالبانو ته ورسوه. د شمالي ټلوالې يو غټ کس هم همدغسې وايي. لکه د [امريکا] د کانګرس څو مرستيالانو هم همدغسې ويل.»(۱۱۷) د لوسي ايډوردز په روايت د عبدالحق قاتلان «پاکستانيان او عربان وو» هغه به د ملا عبدالرزاق هغه محافظان ښيي چې د عبدالحق پر جسد يې د ګوليو باران اورولی و، د افغانستان د روانو پېښو نوميالی ليکوال احمد رشيد هم وايي چې په پېښور کې «ډېرو ويرکوونکو آی‌اس‌آی برالا د عبدالحق په وژنې تورن کوه، چې د هغه موقعيت يې طالبانو ته ښوولی و.»(۱۱۸) عجبه ده چې د عبدالحق ورور حاجی دين محمد په دې اړه چې ورور يې د چا په تحريک او ولې ووژل

شو، نه غړېږي او دغومره وايي چې «د طالبانو او پاکستان حکومت په **نادودرمې** ټکونه وکړل.» لوسي ایډوروډز د ملا عبدالرزاق له قول نه وايي چې طالبانو عبدالحق ځکه ووژه چې «په خوست، پکتیا او پکتیکا کې هر چا د هغه د پلان ملاتړ کاووه.»[۱۱۹] لکه چې دمخه ویل شوي آی‌اس‌آی له عبدالحق سره مخالفه وه، په دې چې هغه هم د ډېرو نورو افغانانو په شان کوښښ کاووه، د افغان کشاله په ملي اجنډا سره هواره شي، دغسې ډېر افغانان لا دمخه د آی‌اس‌آی د اجنډا له مخې په پېښور او کوټه کې تررو شوي یانې وژل شوي وو، چې دمخه یې بیان شوی دی. حتی د طالبانو مشران هم چې په همدغه فکر وو، لکه ملا یارمحمد، ملا بورجان او مولوي احسان الله د جنګ په ډګر کې د شاله خوا ویشتل شوي دي، چې دا هم د آی‌اس‌آی د ایجنټانو کار و. عبدالحق خو یو نومیالی او د ملي پرنسیپ خاوند افغان و، چې د پراخ بنسټه حکومت لپاره یې فعالیت کاووه. امریکایي لیکوال بارنټ روبین د دغه نظر په تایید هم وايي چې «پاکستاني افسرانو چې غوښتل یې [پر افغان] نظامي عملیاتو باندې سیاسي او ستراتیجکي کنټرول ولري، عبدالحق یې له حد نه ډېر خپلواک ومونډ.» دی دا هم وايي چې کوم قومندان چې «تر ټولو ډېر بین المللي نوم درلود، هغه عبدالحق و.» او ده له ولسمشر ریګن او صدراعظمې مارګریت ته چر سره په لیدلو کې وکولی شول چې مجاهدان د الوتکو ضد د سټنګر او بلو پایپ راکټونو خاوندان شي. دی دا هم وايي چې د ژنیو له توافقاتو نه وروسته د پراخ بنسټه حکومت جوړېدلو په اړه هغه دومره فعال شو، چې د ۱۹۸۸ کال په جون کې د ملګرو ملتونو مرکز نیویارک ته لاړ، چې د دغسې حکومت جوړولو د پلان په هکله بحث وکړي او ده تر ۱۹۹۲ پورې د ملګرو ملتونو له ځانګړي ا ستازي سره په دې هکله همکاري کوله.[۱۲۰] په لنډ ډول قومندان عبدالحق د یوه ربښتیني

خپلواک افغان قومندان په توګه د افغانستان په اړه د آی‌اس‌آی د اجنډا په مخ کې لوی خنډ و.

ځینو غیر حکومتي باندنیو چې له افغانستان سره خواخوږي لرله، هم د عبدالحق پر خوا وو، چې مشهور او فعال یې دوه امریکایي ورونه وو، په نامه د جوریچي (Joe Richie) او جیمز ریچي (James Richie). دوی د ا فغان ملي اجنډا د واقعې کولو او په خاص ډول د عبدالحق د پلان د عملي کېدلو لپاره په پېښور او روم کې د پخواني پاچا محمد ظاهر په دربار کې فعالیت کاووه. دوی دمخه په افغاسنان کې اوسېدلي وو. یانې هغه وخت چې پلار یې هلته له یوې امریکایي کمپنۍ سره کار کاووه او هلته مړ او ښخ شو. جیمز ریچي لا په افغانستان کې زېږېدلی او اوس چې دوی ښه شتمن وو، کوښښ یې کاووه چې د افغانانو د بحران په حل کولو کې له پاچا محمدظاهر او عبدالحق غوندې افغانانو سره د غونډو او جرګو کولو لپاره پولي او نورې لازمې مرستې وکړي.[١٢١] خو آی‌اس‌آی د لارې خنډ وه او په مهارت سره یې د عبدالحق په شان افغانان د خپلو ایجنټانو او افراطي تنظیمونو له لارې له منځ نه وړل. د دې لپاره چې افغان سیاسي ډګر د دوی منونکو په انحصار کې وي، لا تریخ واقعیت دا و چې د امریکې سي‌آی‌اې د افغانستان پېښو ته د آی‌اس‌آی له نظر نه کتل. رابرت فارلین (Robert Farlane) چې د ولسمشر ریګن په وخت کې د ملي مصونیت شورا مشاور و، وایي چې د سي‌آی‌اې اساسي ستونزه دا وه چې چارواکي یې د افغانستان د جنګ په نظامي او سیاسي اړخونو نپوهېدل. «دوی دغه جنګ او اعتدالي او افراطي افغانانو ته د آی‌اس‌آی د استخباراتي د غرضناکو تعبیرونو تقلید کاووه.» احمد رشید هم وایي چې «په ا سلام‌اباد کې د سي‌آی‌اې ځانګې آمر د آی‌اس‌آی د خپه کېدلو له ویرې له عبدالحق سره مرسته نه کوله.»[١٢٢] د

سي‌آی‌اې دغه چارواکي به ملت ببيرډن وي، چې قومندان عبدالحق يې د «هالي وډ حق» په سپک نامه يادوه. له همدې امله به و چې سي‌آی‌اې د عبدالحق په ژغورلو کې موثر کار ونکړ، يا کولی نه شو، که څه هم د ريچي ورونو، رابرت فارلين او يو څو نورو نا رسمي باندنيانو په دې لار کې ډېر کوښښونه وکړل. پر دې سربېره هغوی هغه وخت له دغسې پېښې نه خبر شول، چې عبدالحق په غوربيزه کې محاصره شوی و او هغو ته دقيقه پته هم مالومه نه وه، دا هغه وخت و، چې په روم کې د پاچا محمدظاهر په حلقه کې زلمی خليلزاد د امريکې حکومت د يو ډ ول نارسمي استازي په توګه د عبدالحق له پلان نه غير يوه بله طرح وړاندې کړې وه، چې د هغې شرح دلته نه کېږي. په داسې حال کې چې قومندان احمدشاه مسعود دمخه په تخار کې د القاعدې غړو له خوا له مينځ نه وړل شوی و او په دغه وخت کې د قومندان عبدالحق له منځ نه تلل، د خليلزاد د طرح د عملي کېدلو لپاره لار ه هواره کړه.

د دغه سفر د ناکامۍ اصلي عامل په خپله قومندان عبدالحق و، دی په ډېر خطرناک وخت کې په سفر لاړه، که د هغه په بري سره امارت نسکور شوی هم وای، د امريکې د بمبارۍ دربېدلو احتمال نه و . د بمبارۍ اصل مقصد د بن لادن، القاعدې او ترهګرو ځپل وو، چې په افغانستان کې يې ځالې جوړې کړې وې. د ده ډله هم ډېره وړه او په خپله هم معيوب و. ملګرو يې دی دغې نيمګړتيا ته متوجه کړ او د لارې خواخوږو قومي مشرانو هم د هغه د وړاندې تګ پر خلاف مشوره ورکړه، خو ده د خپل عادت پر خلاف هغه هم په دغسې حساس وخت کې د هغو مشورې ونه منلې. د امارت متحدان او ملاتړان يې د ملاخاکسار په ګډون هم په وطن کې تيت وو او نه يې شو کولی له هغه سره يو ځای شي.

عبدالحق د خپل وطن او وطنوالو لپاره له خپل ژوند نه تېر شو، خو په دغې قربانۍ سره د وی نور هم زیانمن شول؛ ځکه چې په دغې قربانۍ سره دغسې افغان له مینځ نه لاړ چې د افغانانو په یو موټې کولو او د بېلو پرګنو له مشرانو نه د یوه پراخ بنسټه حکومت په جوړولو کې یې ډېر څه کولی شول. خو ده په دغسې مهم وخت کې هغسې تېروتنه وکړه لکه موسی شفیق چې د ثور له کودتا نه وروسته وکړه او له افغانستان نه ونه ووت او پر کمونستانو یې باور وکړ او هغو له منځ نه یووړ. د عبدالحق په وخت کې د افغانستان کشالې د هوارولو لپاره بین المللي ټولنې د پراخ بنسټه حکومت د جوړولو لپاره کار کاووه او ده په دې اړه ډېر څه کولی شول. ده د جهاد په وخت کې د همدغې روحیې له مخې عمل کاووه، خپلو ملګرو ته یې په وار وار ویل چې خلک ونه ځوروي او د نورو تنظیمونو له غړو سره د جنګ له کولو نه ډډه وکړي او حتی که هغوی غوښتل له دوی سره وجنګېږي یا وغواړي ځایونه یې ونیسي، مقابله به ورسره ونکړي. حاجي دین محمد په دې ا ړه مشخص مثالونه ورکوي. هغه د پخواني پاچا محمدظاهر په شان د انسان وژنې مخالف و. ده حتی د هغه روسي جنرال په سر چې ده نیولی او پېښور ته استولی و، او هلته بیا وژل شوی و، له مولوي خالص سره سخت جنجال وکړ.

عبدالحق شاید یوازنی قومندان و، چې له نظامي ډګر نه د باندې په سیاسي ساحه کې یې ډېر څه وکړل. د جهاد او جنګ له ډګر نه د باندې کوم افغان د هغه په امر له مینځ نه وړل شوی نه دی. دی د سالم فکر خاوند او یو موټی کوونکی افغان و او د دغه یو موټيوالي او پراخ بنسټه حکومت په هکله یې له احمدشاه مسعود سره په داسې حال کې چې یو ریچي امریکایي ملګری

هم ورسره و، په تاجکستان کې وليدل او په دې اړه يې له دوبی نه دوه ځله له ماسره په تليفون کې خبرې کړې وې.

انګليس سرجان ګن ستڼ چې د ۱۹۸۳ او ۱۹۸۹ ترمنځ څليرويشت ځله دننه افغانستان ته تللی و او د حکمتيار له تنظيم، احمدشاه مسعود او د محاذ تنظيم سره يې هم وخت تېر کړی و، وايي چې «... عبدالحق د شوروي جنګ په بهير کې د کابل په حوزه کې تر ټولو مهم قوماندان و، که څه هم له آی‌اس‌آی سره د جنجالونو لړلو له امله د ضرورت وړ منابع نه لرل. دی بې له مادي ګټې او ممکن د ښځګېز تلفاتو له امله د لويو ننداره ييزو عملياتو مخالف و، نو ځکه د آی‌اس‌آی خوښ نه و. پر دې سربېره له رسنيو سره د هغه دقيقې او اغيزناکې مرکې يې نه خوښولې او ده پر سي‌آی‌اې باندې انتقاد کاووه، چې د آی‌اس‌آی له لارې يې د افغان جنګ ملاتړ کاووه دا هغه څه وو چې د ۲۰۰۱ په سپټمبر [اکتوبر؟] کې پر ده باندې بېرته نازل شول.»(۱۲۳)

# قومندان احمدشاه مسعود

احمدشاه مسعود یو نومیالی خو لانجمن قومندان و، پلویانو یې له حد نه ډېر ستایلی او مخالفانو یې له حد نه ډېر غندلی. نو د هغه په اړه هغه لیکنې چې افغانانو کړې په خاص ډول یو اړخیزې دي، هسې هم واقعیت د جنګ په حال کې قرباني کېږي. خو د ده په اړه واقعیت ډېر قرباني شوی دی، خو له هغو ډېرو لیکنو نه چې هم افغانانو او هم باندنیانو د هغه په اړه کړې دي، د وخت او ځای په نظر کې نیولو سره په هکله یې یو انځوولیز او شاید یو افاقي انځور وکښل شي. دغه لیکنه په دغه لار کې یو کوښښ دی، په بل څپرکي کې به په پنجشېر کې نظامي عملیات هم وکتل شي.

د احمدشاه مسعود کوم نیکه له پار دریا یا له نني تاجکستان نه افغانستان ته مهاجر شوی. هلته د ده کورنۍ د نوروزخېل په نامه یادېده.(۱۲۴) مسعود د ب.ګروموف په وینا په کال ۱۹۵۴ کې او د مولف ګوهري په وینا په کال ۱۹۵۳ کې په پنجشېر کې د بازارک په کلي کې پیدا شوی، خو عبدالحفیظ منصور او حناني پر خپلو کتابونو کې چې له هغه نه یې په دفاع کې لیکلي دغه مطلب نه دی راوړی. احمدشاه مسعود شاید په کابل کې پیدا شوی وی، یانې چیرته چې پلار یې د دوست محمد پوځي افسر و او په کال ۱۹۷۶ کې د ډګروالۍ په رتبه متقاعد شو. که مسعود په پنجشېر کې پیدا شوی و... او لوی شوی وای د پنجشېر له خلکو سره به یې اړیکې هغسې نه وای، لکه چې وې، د دغه ټکي په اهمیت به زر یو څه نور ووېل شي. په هر حال مسعود په یوه روایت په ۱۹۷۲ کې د استقلال له لېسې او په بل روایت د ابوحنیفه

مدرسې نه له فارغ کېدلو نه وروسته په ۱۹۷۳/ ۱۳۵۲ کې په پولي تخنيک کې د محصل په توګه ومنل شو او هلته د انجينر حبيب الرحمن په هڅونې سره چې هغه هم هلته محصل و، د اسلامي غورځنګ تر تاثير لاندې لاړ او په اصطلاح اخواني شو. په همدغه کال کې د محمد داود د سرطان په کودتا سره يې سخت ټکان وخوړ. په دې چې مسکو پلوه پرچميان په نوي نظام کې په واک شول. بل کال (۱۹۷۴-۱۳۵۳) «... بدنبال افشای کودتای افسران هوايي حبيب الرحمن دستګير و احمدشاه مسعود با ديګران به پاکستان فرار می کنند.»[۱۲۵] مسعود په دغه وخت کې شل کلن يا تر هغه زيات و. دا هغه وخت و، چې د پاکستان حکومت او د افغانستان حکومت مخالفان د يوه بل پر ضد لمسول او تر روزنې لاندې نيول. په مخکيني څپرکي کې ويل شوي چې په پاکستان کې اته سوه افغان اخوانيان د اټک په حصار کې تر روزنې لاندې نيول شوي وو. رحمت الله ساپی په خپل کتابګوټي کې د (مسعود وپېژنئ) په نامه د احمدشاه مسعود په اړه دا هم وايي چې «... مسعود... د جنرال بابر تر څارنې لاندې پېښور ته نزدې چرات کې د کومنډو او ځانګړيو ځواکونو د ښوونکي تر لارښوونې لاندې د ترور، سبوتاژ، ړنګولو او وژلو، حملې او نورو چارو زده‌کړه وکړه.» دی دا هم وايي چې «مسعود او حکمتيار د نورو په پرتله غوره وو.» نظامي روزنې درې مياشتې دوام وکړ؛ حکمتيار د جمعيت د تنظيم د نظامي څانګې آمر، او مسعود يې دوهم شخص و.[۱۲۶] نصيرالله بابر د پاکستان د کورنيو چارو وزير و او مسعود بل کال (۱۹۷۵) له ۳۷- کسيزې اخواني ډلې سره په پنجشېر کې د حکومت پرضد پاڅون وکړ.[۱۲۷] لکه چې نورو په بدخشان او لغمان کې هم پاڅونونه وکړل. حکومت هغه ټول د خلکو په مرسته وځپل او د منصور په ژبه په پنجشير کې «تعداد کثيری از بهترين مجاهدين با شهيد و يا اسير دولت [محمد] داود شدند و

نهضت اسلامي متحمل ضربه شدیدی ګردید.» مسعود له پاتې ملګرو سره پېښور ته پر شاشو له دې وروسته د مسعود په اړه پېښو په اړه اختلاف لا ډېر دی او دا چې مسعود د ثور تر کودتا پورې د دغو دوه نیمو کلونو په بهیر کې چیرته و، لیکونکي په یوه خوله نه دي.

ګروموف او ساپی وایي چې مسعود مصر ته لاړ او په فلسطین کې یې د اسراییلو پر ضد جنګ کې برخه و اخیسته.[۱۲۸] خو حناني وایي چې «... احمدشاه مسعود قطعاً سفری به مصر و دیګر کشورهای خاور میانه نکرده.»[۱۲۹] منصور په دې هکله چوپ دی، خو په دغه اړه ټول په یوه خوله دي چې په دغه وخت کې حکمتیار او مسعود سره سخت مخالف شول، ځکه چې د حناني په وینا «حکمتیار به کومک آی‌اس‌آی انجینر جان محمد را زندانی و به... شهادت میرساند و در صدد اقدام مشابهی علیه احمدشاه مسعود می براید.» مسعود په دغه وخت کې بیا هم د حناني په وینا «... بخاطر ګم کردن رد پای خود مرتباً بین پشاور و افغانستان رفت و آمد داشت.»[۱۳۰] دغه لیکنه د اعتبار وړ نه ښکاري، ځکه چې په دغه حال کې مسعود د آی‌اس‌آی له چنګ نه خلاصیدلی نه شو، لکه څنګه چې حناني وایي چې غوښتل یې هغه له مینځ نه یوسي. خو احمدشاه مسعود د مصر په سفر کې نه یوازې له دغو خطرونو نه ځان ژغورلی شو، چریکي زده‌کړه یې هم کولی شوه. لکه چې ګروموف همدغسې وایي چې «... په غالب ګمان یې همدلته [منځني ختیځ] کې د پارتیزاني جګړو مهارتونه هم زده کړي دي.»[۱۳۱] د همدغې زده‌کړې له امله به وي چې مسعود وروسته په پنجشیر کې یو ماهر چریکي قومندان شو. په هر حال واقعیت چې هر څه وي د ثور په کودتا سره پاڼه واوښته او دوی ټولو ته د خلقي حکومت په بڼه یو نوی دښمن پیدا شو.

مسعود له یو شمېر ملګرو سره د نورستان له لارې د جوزا په میاشت کې د پنجشېر سردرې ته ننوت، خو دهغه په وړاندې پهلوان احمدجان یوه ستونزه وه، چې خلکو د مخه خپل ولسوال غوره کړی و او هغه یوې نفوذمنې کورنۍ ته هم منسوب و، دی په خپله هم یو پېژندلی شخص و او د قانوني پاچایۍ په دوره کې په کابل کې په غازي سټدیوم کې د پهلوانۍ په هرکاره کې پر پهلوان فیض محمد (هزاره) باندې غالب شوی و، له هغه وروسته خلکو په تېره پنجشیریانو هغه ته د قهرمان په سترګه کتل. له همدې امله به هم و، چې خلکو دی په خلقي د وره کې خپل ولسوال غوره کړی و او د هغه په سروالۍ سره د پنجشېر خلکو له یو لړ نښتو نه وروسته پنجشیر تر دهانه پنجشیر پورې ونیوه، خو خلقي حکومت دوی بېرته په شاووهل او دوی د ریوت تر دښتې پورې ورسېدل. دا په دغسې حال کې چې احمدشاه مسعود تر دغه وخت پورې نزدې ټول عمر له پنجشیر نه د باندې تېر کړی او درې کاله دمخه یې په اصل کې د پنجشېر خلکو د مخالفت له امله ماتې خوړلې وه، سره له دې هم منصور وایي چې «فرمانده مجاهدین برای بسیج مردم پنجشیربه سران تمام قریه ها نامه های جداګانه فرستاد و موضوع را باایشان درمیان ګذاشت که این امر باعث جلب سریع مردم با مجاهدین شد.»(۱۳۲) د سهراب روایت بل دی هغه و ایي چې «در ابتدا احمدشاه مسعود توسط پهلوان احمدجان به حیث سرګروپ یکی از ګروب های جنګی منطقه تعین ګردید و برای نخستین بار در جنګ های در مناطق دشت ریوت، و در کوه سرخ شرکت نمودکه در هر دو جنګ از طرف نیروهای دولتی شکست خورد.»(۱۳۳) احمدشاه مسعود د پهلوان اجمد جان په شته توب سره د پنجشیر جبهې سروال کېدلی نه شو نو هغه باید له ډګر نه وایستل شي په دې اړه هم روایتونه سره په تضاد کې دي، د منصور په روایت پهلوان احمدجان چې د پنجشیر

حاکم و «در داخل جبهه دست به تنظیم یکعده کمونستان مربوط به سازمان (شعله جاوید) زد و دو نفر را... به بهانه همکاری با رژیم تره‌کی در محضر عام اعدام نمود.» پر هغه سربېره دی وایي چې د شوروي له یرغل نه وروسته «ارتباط احمدجان با رژیم کابل بیشتر از بیش محکم شد.» دوه ځلې کابل ته لاړ «و منابع هنګفتی جهت جلب و جذب مردم از (خاد) با خود آورد.» په دغه کار سره د منصور په روایت په خلکو کې نارضایت تر دې حده ډېر شو تر څو چې «...توسط اقربایش مردم سفید چهر، اسیر و به امریت جبهه سپرده شد. سر انجام بعد از مدتی.... اعدام ګردید.»[۱۳۴] دغه روایت د تناقص په لرلو سره اعتبار وړ کېدلی نه شي. په دې اړه د سهراب روایت واقعیت ښکاري او هغه دا چې «احمدشاه مسعود به پهلوان احمد جان مشوره میدهد تا به کابل برود و با استفاده از امکانات خویش به حیث یک پهلوان مشهور اسلحه و کومک های مادي جمع اوري نموده و آن را به پنجشیر انتقال دهد.» احمدشاه مسعود بیا د هغه په نه شته توب کې «... جلسه از اخوانیها و ملاهای منطقه بشمول مولوی معراج الدین استانه یې را دایر مینماید و.... او پهلوان احمد جان را... بدون ارایه اسناد... متهم به همکاری دولت و فرد ګماشته شده دولت معرفي نمود. احمدشاه مسعود در این جلسه موافقت [نمود]و فتوای ملاها را برای قتل احمدجان بدست آورد و با برګشت دوباره او به پنجشیر توسط احمدشاه مسعود به قتل رسید.»[۱۳۵]

د منصور او ثریا بها د روایتونو سرچینه احمدشاه مسعود دی، خو هغه سره متفاوت دی. ثریا بیا له هغه سره په پنجشیر کې د یوې مرکې په ترڅ کې وایي چې هغه ورته ویلي وو چې پهلوان احمد جان پرچمي رجیم ته د خدمت لپاره پنجشیر ته راغی چې د هغه په ګټه د پنځم ستون په شان کار وکړي خو «...از سوی مردم سپید چهر شناسایي و زندانی شد، هنګام

بمباران روس ها پا به فرار ګذاشت که هدف تیر اندازی قرار ګرفت و کشته شد.»[۱۳۶]

دغه پېښه د پهلوان احمد جان پر پلویانو یا ملي فکر پنجشیریانو باندې د ملایانو او جمعیتیانو لاس برى ښيي، چې په پایله کې احمدشاه مسعود د جبهې قومندان او بیا «امرى صاحب» کېږي خو دغه پېښه د دغو ډلو ترمنځ د جګړې پای نه و، د بې اتفاقۍ پیل و. مسعود هم د قومندان حقاني په شان غوښتل ټولنه له مخالفانو نه خالي کړي خو د پهلوان احمد جان پلویان هم لږ نه وو، د هغو په ځپلو پیل وشو، چې «... از نخستین بنیادګزاران مبارزه مسلحانه علیه رژیم پوشالي و ارتش اشغالګر روسي در پنجشیر بودند.» په دې ډول د سهراب په وینا «احمدشاه مسعود تا اواخر سال ۱۳۵۹ جهت استحکام پایه های قوایش در پنجشیر در حدود پنجاه تن مجاهد پنجشیری و تعداد زیاد روشنفکران پنجشیری را به قتل رسانید و بعد مصروف جبهات اطراف پنجشیر ګردید.»[۱۳۷] سهراب د ځینو دغو وژل شویو کسانو نومونه اخلي او هویت یې هم یادوي. قومندان مسعود ددغې دښمنۍ او خاد له ویرې به هم و، چې د ځان ساتنې لپاره یې بېساري امنیتي تدبیرونه نیول؛ تل به په حرکت کې و، په یوه ځای کې به یې دوه شپې نه تېرولې او کورنۍ یې هم په پېښور کې اوسېدله او مخالفان یې د جهاد تر پایه پورې له منځ نه وړل کېدل. ان تر دې چې په یوه روایت په ۱۹۹۰/۱۳۶۹ کې د چترال په شاه سلیم نومي محل کې د افغان قومندانانو په لومړۍ سراسري شورا کې د کندهار یوه قومندان احمدشاه مسعود ته مخامخ وویل چې د قدرت ګټلو په لوبه کې یې «لس زره پنجشیریان» له منځ نه وړي دي، دغه رقم له حد نه زیات ښکاري خو د همدغه اعتراض له امله به و، چې قومندان مسعود د قومندانانو په دوهمې سراسري شورا کې ګډون ونکړ.

قومندان احمدشاه مسعود بیا د پنجشیر د جبهې یوازنی او نوښتګر قومندان شو او په دغو ساحو کې یې نوم وایست؛ د خلکو په پالنه، د خپلې ډلې په تنظیم، د پنجشیر جبهې په پیاوړي کولو او پراخولو او د یرغلګرو په وړاندې په دفاع کې. احمدشاه مسعود د دغې عقیدې له مخې د خلکو پالنه کوله چې ویل یې «مردم آب است و چریک ها در آن بمثابه ماهی.» په دې ډول خلک هغه ته د جنګ له نظر نه مهم وو، د هغو ژوند چارو ته متوجه شو، او کوښښ یې کاووه چې هغو ته دننه په پنجشیر کې د ژوند وسیلې برابرې کړي، خو منصور په دې اړه په دوه ډول غږېږي؛ هم وایي چې مسعود کوښښ کاووه «... وسایل زندګی مردم را در داخل مهیا ګرداند و... از مهاجرت وسیع مردم بخارج کشور... جلوګیری نماید» او هم وایي چې «... دوه هفته قبل از حمله قوای روس اهالی پنجشیر که تعداد شان به اضافه از صد هزار تن میرسید بدستور امریت جبهه خانه و کاشانه شان را بقصد کابل و یا شهرهای دیګر ترک ګفتند.» په عین حال کې دی دا هم وایي چې «مردم از زمان اغاز جنګ مساکن خویش را ترک ګفته به کوه ها پناه بردند.»[۱۳۸] امریکایي جورنلست جرارډت (Girardet) پنجشیر ته په سفر تللی او د هغه ځای ډېر وراني یې لیدلي، وایي چې په ۱۹۸۳ کې په پنجشیر کې د شورویانو په بمبارۍ او یرغل سره د کرنې مځکه ډېره لږه شوې وه چې د څلوېښت او پنځوس زره ترمنځ خلک یې له لوړې سره مخ وو او په همدغه شمېر خلک یې یا کابل یا پېښور ته کډوال شول.[۱۳۹] غیر له هغه هم په اصل کې د پنجشیر د تنګو درو کرنیز محصول لږ او هم پنجشیر په دغه وخت کې محصور و او خلکو یې د ستونزو په ګاللو سره له اندراب او نورو ځایونو نه غله راوړه.

قومندان مسعود د خپلې ډلې د مجاهدانو په تنظيم او د هغو د انضباط په هکله خاص مهارت وښود، په پنجشير کې لکه په نورو ځايونو کې جنګ اول دفاعي بڼه لرله، چې محلي نفوذمنو خلکو پکې غټ رول لوبوه. په داسې حال کې د شوروي يرغلګرو په وړاندې يوازې چريکي جنګ اغيزناک کېدلی شو. بيا نو د منصور په ژبه «... يک ګروه از جوانان مومن و شجاع بنام فدايي، پيمان مجدد بستند و جنګ را به شکل چريکی اغاز نمودند... هر فرد بعد از انتخاب و تعهد به صف مجاهدين پذيرفته شد، تعليم مجاهدين خبرنامه جبهه ګرديد. تقسيم وظايف بميان آمد، شرايط جديد متنفذين محلی را از راس مجاهدين دور نمود و جای آنها را جوانان متعهد احراز نمودند.»[۱۴۰] د ۱۹۸۲ کال تر اوړي پورې د دغسې وسله‌والو جنګياليو د اووه نيم زر په شاوخوا کې وو او د د وی په ډلو وويشل شول او په هرې يوې کې ۳۲تنه په نظامي خاورين يونيفورم کې ورننوتل. دوی هر يو په دوه ميل RPG ټانک ضد او يو ميل PK سل ټکه ماشين دار وسله‌وال و. دوی د قرارګاه به نامه مرکزونو کې سره ويشل شوي وو، چې هره قرارګاه په فرعي دره کې پرته وه. د ټولو شمېر ۲۲ و. په ۱۹۸۲ کې په هرې قرارګاه کې يو ضربتي ډلګی جوړ شو، چې اصلي وظيفه يې جنګ کول وو. په داسې حال کې چې د نورو مجاهدانو وظيفه د لوجستکي لوازم تهيه کول او د نورو چارو ترسره کول وو. د نظامي چارو تر څنګه په ملکي ساحه کې د قضا، فرهنګ او روزنې کمېټې هم جوړې شوې. په دې ډول په پنجشير کې د قومندان احمدشاه مسعود په نوښت له نفوذمنو خلکو نه د باندې له متعهدو ځوانانو نه دغسې يو ملکي او نظامي نظم مينځ ته راغی[۱۴۱] چې د افغانستان په بل ځای کې يې جوړه نه لرله، خو دا هم بايد په ياد ولرل شي چې پنجشير يوه وړه او ګوښه دره وه او د قومندان مسعود عوايد هم لږ نه وو. سوداګرو نقدي مرسته کوله، له

محصولاتو نه عشر اخيستل کېده او د پنجشير مامورانو په کابل کې د خپل معاش پينځمه دغې جبهې ته ورکوله. جبهې ته د کال تر نهو مليونو ډالرو پورې د زمرودو، ياقوت او نورو قيمتي کانونو ه هم ورکول کېدل. د پنجشير په سر دره کې د ختيځ د سياه قله په ګړنګونو کې پنځه ويشت کانونه وو، چې له هر يوه نه لس کارګرو په ډېر ساده الاتو کله د ځان په قيمت سره دغه کانې را ايستل، چې د هغو کالنی عوايد د اتيا او نوي مليون ډالرو ترمنځ و.(۱۴۲) داسې هم قومندان مسعود يو پراخ استخباراتي جال غوړولی و، چې په هغه سره د کابل له پېښو او چارو نه خبرېده. مولف ګوهري وايي چې «ده نه يوازې د حکومت په اړه مالومات ترلاسه کول، د نورو د مجاهدانو د ستراتجيکي او نورو فعاليتونو په اړه يې هم اطلاعات حاصلولی شول.» دی دا هم وايي چې «د يادولو وړ ده چې د هغه له نظامي دريځ سره په ګډه د هغه په اعلی درجه مفاهماتي مهارتونو دی په دې قادر کړ چې د استخباراتو او وسلو له مهمو سرچينو سره تماسونه ولري.»(۱۴۳) دغه استخباراتي جال دی قادر کاووه چې هر کله چې يرغلګر پوځ او کابل رجيم د هغه په وړاندې د حملې ترتيب نيوه، دی به ډېر دمخه له هغه نه خبرېده او لازمي ترتيب به يې نيوه.

احمدشاه مسعود په پنجشېر قانع نه و، څنګه چې اطرافي سيمې د کابل رجيم په ولکه کې نه وې، ده هم د ځينو نورو قومندانانو په شان کوښښ کاووه، خپله سيمه پراخه کړي. ده لا له اول نه ځان د کاپيسا او پروان آمر ښودلی و، خو د ده پرمخ ستونزې ډېرې وې، غټه ستونزه دا وه چې پنجشير يوه تنګه او کم حاصله دره وه، چې د خپلو خلکو لپاره هغه هم د جنګ او محصوريت په حال کې يې د خوړو او ژوند لپاره کافي ځيزونه نه لرل. پر هغه سربېره په وړاندې يې دوه غټ قوتونه هم وو. د شوروي او رجيم پوځ او

د حکمتیار اسلامي حزب. لومړني یې دی دننه په پنجشېر کې ځپلی شو او وروستی یې د ده د پراختیا په مخ کې خنډ و، چې په دغه وخت کې یې د اندراب، د بګرام شاوخوا سیمې او کوهستان تر چاریکارو پورې د قره باغ په ګډون تر ولکې لاندې وې. په کوهستان کې د حزب قومندان عبدالصبور فرید، چې په استاد فرید یادېده، د جمعیت او مسعود سخت مخالف و.(۱۴۴)
اندراب د پنجشیر لپاره حیاتي ارزښت لاره، د اندراب پر لار له پاکستان نه د وسلو کاروان ور رسېده. له هغه نه غله هم پنجشیر ته ورل کېدله. په دغه حال کې قومندان مسعود ته نه یوازې ګرانه وه چې خپله لاس لاندې ساحه پراخه کړي، د شوروي او رجیم د پوځونو د نظامي عملیاتو له امله د هغه (امریت) هم په شک کې و. وروستیو پوځونو په پنجشیر باندې په ۱۹۸۰ کې درې ځله په ۱۹۸۱ کې یو ځل او په بل کال هم یرغل وکړ. خو په مقصد ونه رسېدل، چې په بل څپرکي کې به یې بیان وشي. له پنځم یرغل نه وروسته د ګروموف په وینا د ۱۹۸۲ کال په ډسمبر کې او د نورو په وینا د بل کال په جنوری یا فبروری کې احمدشاه مسعود د یرغلګر پوځ له استازو سره اوربند لاسلیک کړ، که څه هم هغه د جهاد او وطن په تاوان او د ملي ارزښتونو پر خلاف و.

د تړون اصلي متن خپور شوی نه دی، منصور یې په لسو مادو او بروس رچرډسن یې د ک. ج. ب د یوه چارواکي د لیکنې له مخې په اتو مادو کې او ثریابها یې په اوو مادو کې ذکر کوي، خو دغه متنونه سره توپیر لري او د منصور او بها متنونه یو اړخیز دي.(۱۴۵) متنونه د دغه اثر په اخر کې نیول شوي دي، دلته به یې مهم ټکی راوړل شي.

په دغه «پروتوکول» کې چې په افغانستان کې د شوروي ځواکونو او «د پنجشیر د وسله‌وال اپوزیشن» ترمنځ لاسلک شوی،ویل شوي چې په جنوبي

سالنګ او داسې هم د کابل-حيرتان پر لار به وسله‌وال بريد هيڅ نه کېږي او د شوروي خوا به د مهماتو (Provisions) او سملاسي اړتيا ځيزونه او نور ځيزونه تهيه کوي او خپل نظامي واحدونه به له پنجشير نه وباسي او د درې په خوله عنابه کې به د کابل رجيم د يوه کنډک تر څنګه يو کنډک ساتي. داسې هم د شوروي خوا به اپوريشن ته ۳۵۰۰۰۰ ډالر ورکوي.(۱۴۵) دغه اوربند د ۱۹۸۴ کال تر اپرېل پورې اوږد شو. ګروموف وايي چې «... مسعود له ځينو کوچنيو مواردو نه پرته خپلې ژمنې بشپړې سرته رسولې.» دی دا هم وايي چې په د غه پروتوکول سره «... له احمدشاه مسعود سره مو داسې ټينګې اړيکې پيدا کړې چې له افغانستان څخه د شوروي پوځونو د وتلو تر وخته پر خپل حال پاتې وې.»(۱۴۶)

دا چې دواړو خواوو ولې سره اوربند وکړ په دې اړه هم اتفاق نه شته. د منصور په وينا «براى مجاهدين... ثابت شده بود که اګر بقول مسعود جبهه پنجشير فولادى هم باشد هر ګز به تنهايى مدت مديدى در برابر ارتش روس توان مقاومت را نخواهد داشت. لذا مجاهدين بعد از فيصله شرعى علما اتش بس موقت و محدود در داخل پنجشير را پذيرفتند.» دی د اوربند موخه «... يافتن فرصت براى انکشاف نظم و ايجاد هماهنګى ميان جبهات همجوار پينجشير»، ښيي د دې لپاره چې د جنګ ډګر پراخ کړي.(۱۴۷) ګروموف هم وايي چې «احمدشاه د خپلو ډلو د وسلو او مهماتو د کمبود له امله مجبور شو چې دغه تړون ته غاړه کښېږدي.» پنجشير کلابند و او په کاپيسا او نورو ځايونو کې د اسلامي حزب پنجشير ته د وسلو د انتقال مخه نيوله. ګروموف يو بل عامل هم په مسعود اغيزمن ښودلی او هغه دا چې «له بلې خوا د سيمه ييزو خلکو ناخوښي چې د احمدشاه مسعود د باندونو د فعاليت له امله ورته زيان رسېدلی و، هم نوموړی د د غسې يوې سولې کولو

ته اړ کړ.» تړون د پنجشیر جنګ ځپلي خلک قادر کړل چې خپل وران شوي کورونه ودان کړي؛ کرنه وکړي او د خوړو ځیزونه زېرمه کړي. مسعود هم ویلي وو چې ما «...ځکه سوله وکړه چې یو څه فرصت لاس ته راوړم؛ د وسلو، مهماتو او خوړو زېرمې له سره اکمال کړم او چې څنګه مې دغه هدف ترلاسه کړ، هماغه شېبه به مبارزه بېرته له سره پیل کړم.»(۱۴۸) د دغه مقصد لپاره په پنجشیر کې نوي مرچلونه جوړ شول او غارونه وکندل شول. په عین حال کې چې پنجشیر له بمباري کېدلو نه خوندي او د ګرځېدلو خطر له مینځ نه تللی و، د منصور په وینا د «۱۳۰» قوماندانانو په ګډون د نظار شورا بنسټ کېښېښودل شو. د احمدشاه مسعود په قومندانۍ دغه شورا د جمعیت د تنظیم په چوکاټ کې د یوه نظامي قدرت په توګه وروسته په تېره د افغانستان د شمال ختیځ په سیمه کې مهمه شوه.

ګروموف نه وایي چې استازو یې ولې له یوه محلي قوماندان سره دغه پروتوکول لاسلیک هغه هم په نېغ ډول یانې بې له دې چې د کابل رجیم د هغه یوه خوا وي، هر څه چې و، په دغه پروتوکول سره د کابل رجیم اعتبار نور هم لږ او لویان یې اندېښمن شول، خو د ګروموف او نورو شورویانو اندېښنه دا وه چې د کابل-حیرتان پر لار په تېره د بغلان او سالنګونو په برخه کې د وسلو او نورو ځیزونو پر کاروانونو باندې غلچکي بریدونه کېدل او هغه باید په امن کې شي. دغه لار لږ و ډېر د پنجشیر درې په اوږدو کې پرته ده. په داسې حال کې چې د ګروموف په نظر جنوبي سالنګ د احمدشاه مسعود بې رقیبه سیمه وه.(۱۴۹) له بلې خوا ګروموف چې پوځ یې په ټول افغانستان کې په جګړو بوخت و، نه غوښتل چې یوه برخه یې په یوې تنګې او سختې درې کې بنده وي، چې اوسېدونکي یې په دغه وخت کې د پنځوس زره په شاوخوا کې وو او پنجشیر هم محاصره وي. د ګروموف په وینا د شورویانو «...

هدف د هغه د ډلې له مينځ نه وړل او شخصاً د ده نابودول نه وو، که څه هم د شوروي پوځ کولی شول احمدشاه مسعود «.... له بشپړې ماتې سره مخامخ کړي.» دی دا هم وايي چې که «اړتيا وای مونږ به هغه له منځ نه وړی وای.»[۱۵۰] د دوی په اند دغه پروتوکول په اصل کې د دې لپاره و چې «... د محدودو قطعو قومنداني سخته علاقه درلوده چې مسعود د همکارۍ لپاره رامات کړي او په دې توګه په پنجشير او د افغانستان د شمال-ختيځ په نورو ولايتونو کې د خونړيو جنګونو د بيښيدلو مخه بنده کړي.»[۱۵۱] د «خونړيو جنګونو» مخنيوی هسې خبرې دي، ځکه چې همدغه پوځ هسې چې دمخه يې بيان شوی، نورې سيمې په هوايي بمبارۍ سره له خلکو نه خالي کولې، د دې لپاره چې مجاهدانو ته د مرستو سر چينې له مينځ نه يووړلی شي. داسې ښکاري چې دغه طرحه د هغې لويې طرحې يوه برخه وي چې شورويانو وروسته د پرچم رجيم له لارې په مزار کې يو فرعي حکومت جوړ کړ او دغه حکومت د شوروي اتحاد له جنوبي جمهوريتونو سره په ځينو برخو کې نېغې اړيکې ټينګې کړې، په اصل کې د دې لپاره چې دغه تجويز شمالي افغانستان په اول سر کې په اقتصادي لحاظ په شوروي اتحاد پورې تړلی وي.

شوروي چارواکو به دا هم په نظر کې لرله چې په دغې موافقې سره به د اسلامي حزب او اسلامي جمعيت ترمينځ مخالفتونه نور هم ټينګ شي. د ګروموف په وينا «د لاسليک شوي تړون له مخې مسعود خپلو وسلهوالو باندېونو ته امر وکړ چې د حکومتي عسکرو خلاف دې له جګړې نه لاس واخلي او خپل ټول ځواک دې د مخالفې ډلې اسلامي حزب د باندېونو خلاف جګړې ته اړم کړي.»[۱۵۲] شوروي اتحاد په خپل يرغل سره جمعيتيان او حزبيان خپل دښمنان ګرزولي وو، لکه چې نږدې ټول افغانان يې خپل

دښمنان کړي وو، خو د حزبيانو دښمني ورسره ټينګه او نه پخلاکېدونکې او د جمعيتيانو او احمدشاه مسعود دښمني ورسره انعطاف منونکې او نسبتاً نرمه وه. جورنلست مارتين دګروموف په څېر وايي چې «ما د جمعيت له يو څو مجاهدو سره وليدل. حتی دوی هم تاييد کړه چې د د وی ملګري له پنجشير نه وتل او کوښښ يې کاووه، کابل ته نژدې د حزب سيمې ونيسي. د د وی لوی برې له حزب نه د استالف نيول وو. ځينو پر مسعود انتقاد کاووه او ويل يې چې هغه د جهاد په تاوان له حزب سره په جنګ کولو کې خپله جاه طلبي غواړي. ما چې د حزب قومندانان هر چېرې وليدل د جمعيتيانو د دغسې کوښښونو له امله په جنګ کولو انديښمن وو.» دی دا هم وايي چې حزب په باميان کې متجاوز و «خو زه دلته قانع کېدلم چې حزب نظر دېته چې تېری وکړي پرې باندې ډېر تېری کېږي.»[153]

شورويانو ته د حزب او جمعيت د لويانو ترمنځ مخالفت مالوم و، دوی په دې هم پوهېدل چې احمدشاه مسعود او حکمتيار سره په خاص ډول مخالف دي او د لومړني اصلي ستونزه د مولف رای په نظر له وروستي سره ده او حزب «په منظمو وقفو کې پنجشير محاصره کړی و.»[154] لکه چې دمخه ويل شوي حزب په عمومي ډول دکابل پر شاوخوا سيمو باندې مسلط و او په دې ډول په ښه موقعيت کې و چې د شورويانو له وتلو نه وروسته تر نورو دمخه په کابل ننوځي او حتی ويې نيسي. لکه چې دمخه ويل شوي حزب پر نورو تنظيمونو باندې لاس بری غوښته، په دغه مقصد چې هغه دولتي واک خپل کولی وشي. د قومندان مسعود موخه هم دولتي واکمني وه. بيا نو هره خوا په دې لټه کې شوه چې د يرغلګر پوځ له وتلو نه وروسته د دولتي واک مرکز ياني کابل په خپله ونيسي. د دوی ترمنځ دغه سيالي دغومره ټينګه وه، چې يې نه غوښتل په ملي جهاد کې سره اوږه ورکړي.

احمدشاه مسعود په اصل کې د خپل دغه اساسي هدف لپاره له یرغلګر پوځ سره جوړه وکړه. په دې ډول هغه د قدرت په لوبه کې وطن او وطنوالو ته شاکړه او خپله موخه یې تر هغو غوره وبلله، هغه لا په ۱۹۷۵ کې د خپل سیاسي مقصد لپاره د افغانستان حکومت پر ضد د پاکستان له حکومت نه وسلې ترلاسه کړې وې، لکه چې حکمتیار هم همدغسې کړي وو، خو اوس یې له شورویانو سره هم همدغسې وکړل. د مارتین په ژبه «روسانو په ربښتیا ورته وسلې تهیه کولې، د دې لپاره چې حزب لاندې کولی وشي، چې هغه یې خپل ډېر ټینګ دښمن ګاڼه.»(۱۵۵)

د دغه پروتوکول ربښه د اسلامي تنظیمونو ډېروالی او د هغو خپلمنځي اختلاف او په خاص ډول د حزب او جمعیت او په دغو تنظیمونو کې قومندان احمدشاه مسعود او حکمتیار ته رسېږي. پخوا به چې وطن ته له دباندې نه خطر پېښ شو، افغانانو به خپل منځي اختلافونه پرې ښوول او په اتفاق سره به یې له وطن نه دفاع کوله او وروسته به د حکومت جوړولو په لټه کې شول، خو د شوروي د یرغل د وضع په وخت کې دوی د ګډې دفاع ازمیل شوې ملي عنعنه پرېښوده او په خپلې بې اتفاقۍ سره یې وطنوالو ته غټې زیانونه واړول.

# د کابل نه د باندې
# د نفوذ خپرولو هڅې

له قومندان احمدشاه مسعود سره د روسانو پروتوکول د هغوی د عمومي چلند یوه بېلګه وه. دوی او د رجیم چارواکو کوښښ کاووه په ټول ملک کې

له خپلو مخالفانو نه سربېره حتی نور محلي مشران او نفوذمن کسان هم د رجیم پلویان کړي. دوی دغه کار د استخباراتي چارواکو له لارې په پیسو، زور او چل او ول سره کاووه، چې د هرات شیراغا چونغر یې یوه څرګنده نمونه ده. د ۱۹۸۱ کال په پیل کې د کاسکېډ (Cascade) افسرانو قومندان شیراغا چونغر د کابل رجیم پر خوا راواړوه، کاسکېډ په لوړ اختیار سره د سبوتاژ، ترورستي عملونو او نور ډول ورانیو کولو او د مخالفانو د جلبولو لپاره د ک. ج. ب له افسرانو نه جوړ واحدونه وو. دوی له هغو تاکتیکونو نه کار اخسیت چې چیکا (Checka) په منځنۍ اسیا کې د بزمچیانو پر ضد ترېنه کار اخیست. چیکا د لینن په وخت کې د ځانګړي کمیسیون په مانا د شوروي روسي استخباراتي اداره وه. چونغر د پیسو او شوروي اتحاد ته د سفر او ځینو نورو امتیازونو په بدله کې ومنله چې له کاسکېډ سره به مرسته کوي او د رژیم مخالفان به ځپي. دی تر هغه د مخه د ۲۵۰ مجاهدانو قومندان و. «د ۱۹۸۱ له اپریل نه د ۱۹۸۲ تر مارچ پورې د هغه جنګیالیو [مجاهدانو] د کاسکید له واحد سره په ګډه په ۲۱ لویو عملیاتو کې برخه واخیستله او په بېل ډول یې ۴۰ مورچلیز بریدونه وکړل او د مقاومت د واحدونو ۳۱ قومندانان یې له مینځ نه یووړل.» په دوی کې ګلباغ اذاني، د هغه دوه مرستیالان او قیوم ترکان هم وو. وروستی هغه څوک و، چې د شوروي اتحاد د کمونست ګوند د مرکزي کمېټې مشاور کولاژنکو (Kalazhenko) یې تښتولی و. په ټولیز ډول د چونغر ډلې په چل او زور سره «۲۰۵۰۰» خلک [د رجیم او شوروي مخالفان] له مینځ نه وړي او اتیا تنه یې اسیر نیولي وو او د کوبالټ (Cobalt) ډلې قومندان یې وژلی، چې د هرات او شاوخوا سیمو کې یې پر شوروي پوخ ګذارونه کول. شورویانو چونغر د ۱۹۸۲ کال په اوړي کې شوروي اتحاد ته د تفریحي رخصتۍ لپاره

واستوه.[۱۵۶] له میتروخین نه سربېره ګروموف هم وایي چې هرات ته د هغه د خاص اهمیت له امله ډېره توجه کېده، چې په مخالفو قومندانانو او قومي مشرانو کې نفوذ وکړی، خو دی په مشخص ډول نه غږېږي او وایي چې «مونږ د هر باند اعمال په دقت څارل.» دی دا هم وایي چې په هرات کې «...زمونږ د فرقې مشرتابه او پوځي سلاکارانو په ګډه د لومړي ځل لپاره له دوو [مجاهدو] ډلو سره تماس پیدا کړ، چې مشرانو یې له حکومتي ارګانو سره د همکارۍ ژمنه وکړه.» په هرات کې هم له جاسوسانو نه ډېر کار اخیستل کېده. ګروموف لا وایي چې «دښمنانو په هره ډله کې د څلوېښتم لښکر د کشف دستګاه له لارې زمونږ سړي [جاسوسان] موجود وو.» هرات ته به له دې امله هم ډېره توجه کېدله چې په شین ډنډ کې هوایي ځواک د مجاهدانو له خوا له مینځ نه وړل شوی وو، ګروموف وایي چې د افغانستان هوایي ځواک اصلاً په هوا کې پاتې نه شو، هغه ټول د مځکې پرمخ له مینځ نه یووړل شو.»[۱۵۷]

په ۱۹۸۲ کې یو شمېر نور قومندانان هم د رجیم پر خوا واړول شول. په دې کې د جوزجان د اقچه سیمې دیر اوراز هلډي (Dir Oraz heldy) د همدغه ولالت د فیض ولسوالۍ دیر عبدالله جان او آیو عبداله حنایي (Iao Abdullah Hanai) هم شامل وو. د د وی له جنګیالیو نه هم هغسې کار واخیستل شو، لکه د چونغز له کسانو نه چې اخیستل شوی و. سید حسین شاه منصور چې په «شمال» کې د خلقي حکومت پرضد فعالیت کاووه په ۱۹۸۲ کال په دسمبر کې د پرچم پر خوا واړول شو. «د هغه په دستور د بلخ او جوزجان په ولایتونو کې د مخالفو پارتیزاني ډلو پرضد څلور ځله بمي چاودنې وشوې» کابل ته نزدې د قره باغ اغا محمد رحیم خان هم د کابل رجیم پر خوا واړول شو. ده چې په تېرو دوولسو کلونو کې د افغان حکومتو

پر ضد فعالیتونه کول، د ک. ج. ب په لمسونې یې د جمعیت ۲۶تنه غړي له مینځ نه یووړل او په رادیو کې یې څرګنده کړه چې دی د کابل حکومت پر خوا شوی دی.[۱۵۸] داسې هم ک. ج. ب او د خاد پنځمې څانګې په ۱۹۸۱ کې د «وطنپال» (Patriot) په نامه په هزاره جات کې یو نظامي قومندان د کابل پر خوا واړوه او د هغه په لاس د اسلامي اتحاد د ړنګولو په بدل کې په حکومت کې ورته برخه ورکړل شوه. خاد د دغې اتحادیې د ړنګولو پر ځای د ځوان هزاره (Young Hazara) ډله تر خپلې ولکې لاندې راوستله. په همدغه مهال کې یې د هزاره روحانیانو یا ملایانو د وعظونو او فعالیتونو د مخنیوي لپاره د اوږدې مودې یو پلان وایستل شو، خو په دې اړه دوی مهم بری ترلاسه کولی ونه شو، دغومره وشول، چې له هغو نه یې یو شمېر د رجیم پر خوا واړول، خو په ماجتونو کې وعظونه د امنیتي قوتونو له خوا کنټرول کېدل.[۱۶۰]

دغه چلندونه د انسجام ډلې یا کمیسیون له خوا کېدل، چې د کاسکېډ- ک. ج. ب او نظامي استخباراتو (GRU)له استازو نه جوړ و، دغه کمیسیون په خاص ډول د پکتیا او ننګرهار سرحدي قومونو ته متوجه و، او د پیسو او وسلو په بدل کې یې په هغو کې د قومي ملیشیا او نظامي پوستو د جوړولو پروګرام پرمخ بېوه. د ۱۹۸۰ کال له سپتمبر نه دمخه یې په پکتیا کې له بېلو قومونو نه دغسې نظامي پوستې جوړې کړې چې سروالان یې خلقي افسران وو. پرچمي افسران د هغو سروالۍ ته نه پرېښودل کېدل او خلقي افسرانو په خپل سر عمل کاووه. رجیم پیسې پرې ودرولې او وسلې یې ترېنه بېرته وغوښتلې، خو خلقیانو وسلې ورنکړې، په دې دلیل چې څنګه چې دوی په دغه کار سره دښمنان پیدا کړي، دوی مجبور دي په همدغو وسلو خپل ځانونه وساتي.

د پرچم رجیم خپل د قومي چارو وزیر فیض محمد، د دغه نوي سیاست د پلي کولو او په قومونو کې د نفوذ خپرولو لپاره وګماره، دی چې په ختهه مسید وزیر و په کابل او شوروي اتحاد کې یې زده‌کړه کړې وه. د محمد داود په ولسمشرۍ د کورنیو چارو وزیر په توګه د پکتیا خلکو ته ګټه رسولې وه، هغو ته یو پېژندل شول شخص و، ده وروسته له هغه چې د سید کرم او خوست پر ځینو قومونو کې یې یو څه بری ترلاسه کړ، د ځدران لوی قوم ته متوجه شو، چې د ۱۹۷۹ کال له پسرلي نه رادېخوا یې د خوست او ګردېز فرقو تر مینځ د ستهه کندهو لویه لاره بنده کړې وه. فیض محمد چې د پښتني قومونو په دود ښه پوهېده، د ځدرانو له مشرانو سره هم د وسلو او پیسو په بدل کې پرېکړه وکړه او د هغې له مخې دغو مشرانو ومنله، چې په خپلې سیمې کې به امنیت خوندي ساتي او د ستهه کندهو لار پرانیزي. د فیض محمد دغه بری په پکتیا کې د نورو بریو لپاره پیلامه کېدلی شوه. خو فیض محمد د میزي (Mizzi) څانګې په سیمه کې د اربکو یا اروبکیو له خوا له مینځ نه یووړل شو. اربکي د غتهو کورنیو ځوانانو نه جوړه ډله او دغومره واک خاونده وه، چې کولی یې شول چې هره هغه پرېکړه چې د قام پر ضد وګڼي له مینځ نه یوسي که څه هم هغه به قومي لویانو کړې وي.[۱۶۱] دوی د امنیتي او دفاعي دندو سربېره ټولنیزې چارې هم ترسره کوي، څنګه چې د ځدرانو لویانو د شوروي له یرغل نه وروسته پرېکړه کړې وه، چې د یرغلګرو او د هغو د لاسپوځي رجیم پر ضد به جنګېږي، اربکیو د فیض محمد سره جوړه د قوم پر ضد وګڼله او د هغه مرګ یې روا وباله. اربکو ته قومي څارندویان او د قومي ګټو مدافعان هم ویل کېدلی شي. د هغو یو سروال ببرک ځدران د پاچا محمد نادر په واکمنۍ کې د دغومره حیثیت خاوند شو، چې بیا د ټول قوم مشر او اعزازي جنرال هم شو. د ځائیو له حاجي کندهاري سره هم

همدغسې جوړه شوې وه، هغسې چې رجيم منګلو تـه پيسـې ورکـړې وې، پـه ځائيو کې يې هم د فيض محمد له لارې پيسې وررسولې ان تر دې چې ويل کېده چې رجيم د پکتيا له «قومونو» سره سوله کـړې ده. دغـه «قومونـه» شـايد منګل او ځائي وو، چې مليشياوو يـې د وردګـو پـر ضـد عمليـاتو کې برخـه اخيستې وه، له دغو قومونو سره د رجيم د بري يو دليل د او، چې د دوی يـو څو کسان د اسلامي حرکت مولويانو له خوا په دې نامه اعدام شـوي وو، چـې د هغوی په فکر له کابل رجيم سره يې لاس يو کړی و. رجيم د دې لپاره چـې دوی ارام اوسي دوی ته پيسې ورکړې وې، خو همدا چې د رجـيم او شـوروي پوځ په پکتيا کې وليدل شو، د حاجي کندهاري پـه ګـډون هغـوی ټول يـې پـر ضد شول. د دغو پوځونو د عملياتو اصـلي مقصـد دا و، چـې هغـه ډېـره لنـډه لار تر خپل کنټرول لاندې ولري، چې له پاکستان نه مجاهـدو تـه پـرې وسـلې رسېدلې.

د ځائيو ختيځ تـه د ننګرهـار خوګيـاڼي پراتـه دي، چـې وزيـر، خربـون او شيرزاد يې غټې څانګې دي. شيرزاد يې تر ټولو مهمـه څانګـه ده. خـو هغـه د مشهور ملک قيس او ملک محمد جان د کورنيو د خپلمنځي دښـمنۍ لـه املـه ډېره کړکېچنه وه. دغه دښمني د نيمې پېړۍ په اوږدو کې د دغو کورنيو ترمنځ په دغه ډول کېده، چـې د شـوروي تـر يرغـل پـورې لـه دواړو کورنيـو نـه ۱۵۰ کسان پکې وژل شوي وو. (ملک قيس لـه ۱۹۷۸ نـه دمخـه د ۱۲۰ کلونـو پـه منګ مړ شوی و.) رجيم له دغسې دښمنۍ نه په استفادې سـره د ملـک قـيس ګنډه وهڅوله چې د وسلو او پيسو په بدل کې ولسوالي ومني. د امان بېګ پـه سروالۍ د ملـک قـيس کـورنۍ ورسـره دغـه وړانـديز ومانـه، خـو د امـان بېـګ اصلي مقصد دا و چـې وسـلې او پيسـې ترلاسـه کـړي او بيـا د رجيم پـر ضـد عمليات وکړي. رجيم ته هم زر مالومـه شـوه، چـې د دغـو کورنيـو لويـانو پـه

پېښور کې سره روغه کړې او د هغه او يرغلګرو پرضد سره يو شوي دي، له خپل لوظ نه واوښت. له کمونستانو سره د ملک محمدجان ضديت يو څرګند واقعيت و. د خلقي حکومت د هغه ځينې زامن او ورېرونه چې د نظامي افسرانو په توګه په پوځ کې خدمت کاووه، په کوم تور بندي کړل او سيمه يې هم بمباري کړه. ملک محمدجان غرو ته وختـه او حکومت ته يې خبرداری ورکړ، چې که هغوی ازاد نه کړي او پر هغه سربېره د ده د هغه سپي ناغه ورنکړي چې په بمبارۍ کې تلف شوی و، پر ضد به يې عمليات وکړي. حفيظ الله امين چې نه يې غوښتل خوګيانۍ نور هم وپارېږي د هغه غوښتنې ومنلې او د سپي په ناغه کې يې پنځوس زره افغانۍ ورکړې. په هغه وخت کې د يوه سپي ناغه کې دغومره ډېرې پيسې ورکول، هغه هم د دغسې حکومت له خوا چې د مخالفو انسانانو د ژوند پروا يې نه کوله، ډېر عجب و.

له پرچمي رجيم سره د خوګيانو اړيکې د ملک خيرمحمد او نورو له يوې پېښې نه څرګندېږي. دوی د جلال‌اباد له خادستانو نه په يوه عجب چل سره دوه اويا تنه له منځ نه وړي وو. دوی په ظاهر کې له خاد سره همکاري پيل کړه. دغه خادستان يې په دغسې وعدې سره هلته وبلل، چې په ورتګ سره به يې پارېدلي خوګيانۍ د حکومت په خوا واړول شي، هغوی هلته په رسېدلو سره په وړو ډلو کې يوه خوا بله خوا واستول شول او د تاکلي پروګرام له مخې اعدام شول، خو رييس يې ژوندی وتښتېد. د دغې بېساري پېښې نېټه مالومه نه ده، خو په رښتين توب کې يې شک نشته. په ۱۹۸۵ کې ځينو خوګيانيو د خپل قوم په استازيتوب په کابل کې په جرګو کې ګډون وکړ، خو هغو نه يوازې دا چې په قوم کې نفوذ نه لاره، له هغو سره اوسېدلی هم نه شو، هغوی د ځينو نورو په شان په جلال‌اباد کې اوسېدل.

د شینوارو د قوم یوه څانګړتیا دا ده چې له څلورو لویو څانګو څخه د الي شیرخان څانګې یوه برخه د ډېورنډ له کرښې نه اخوا په لواړګي کې پرته ده. نورې څانګې یې سنګوخېل (یا سن خېل) ، سه پای، مندوزي یا مندېزي دي. د ملاګوړي په نامه له دوی سره نور خلک هم اوسېږي. شنواري د کابل-تورخم پر لارې باندې حاکم دي. شنوارو پخوا له حکومت نه د مواجب یا پیسې اخیستلو په بدل کې د جلال‌اباد-خیبر لار ساتنه کوله ، او له کاروانونو او سوداګرو نه یې باج ترلاسه کاوه. امیرعبدالرحمن نه یوازې د لارې ساتنه د حکومت وظیفه وګرزوله پر شنوارو باندې یې د مځکو مالیه هم حواله کړه. شنواري له ۱۹۸۲ نه تر ۱۸۹۲ پورې لس کاله له حکومت سره وجنګېدل، او بیا یې د حکومت اطاعت ته غاړه کښېښوده. شنوارو ته اوس هم د ډېورنډ کرښه پوله نه ده او له ډېرو لارو نه بې له کوم خنډ نه ترې اوړي را اوړي.

شنواري د افغانستان یوازنی قوم دی چې ډېر کسان یې په خلقي حکومت کې ننوتلي وو. د سنګوخېل څانګې شنواري نږدې ټول خلقیان شوي وو. د دوی خلقي توب په اصل کې د حفیظ الله امین په سبب وه، چې د دارالمعلمین او ابن سینا لیسو د مدیر په توګه د شنوارو زده‌کړه تر نفوذ لاندې راوستلي وو. په ټول شنوارو کې یوه لیسه یا لوړه ښوونځۍ وه، چې حکومت د ۱۹۵۰ په لسیزې کې د سنګوخېلو په نازیانو کې جوړه کړې وه، چې حکومت غوښتل د هغې له لارې په اپریدو کې هم نفوذ وکړي. د نازیانو اوږده دره اپریدیو ته رسېږي او د دغو قومونو ترمنځ یوازې سپین غر پروت دی. د خلقي حکومت په وخت کې تعلیم کړو شنوارو ته په نظامي او ملکي ساحو کې مقامونه ورکړل شول او په دغه وخت کې د سنګوخېلو او په خاص ډول د نازیانو د درې شنواري، چې د مځکې لږوالي له امله په تنګسه کې وو،

په غوره کې وو. مجاهدانو ناريانو ته «وړه مسکو» ويل، خو د هغو په وړاندې نور شنواري وپارېدل او د شوروي له يرغل نه وروسته يې جرګه وکړه. مجاهدانو هم د قومي دود او دستور په چوکاټ کې پکې ګډون وکړ. د جرګې په پرېکړه کې دوی په مرګ محکوم شول. شنوارو د غير کمونست سنګوخېلو په لاربښودنه پر کمونستي تورن شوي سنګوخېلو بريد وکړ؛ مال يې ورچور کړ او کورونه يې وسوزول، خو ټول يې له مينځ نه وړی ونه شول. خو په نازيانو کې د کمونست په نامه شنواري پاتې نه شو، دوی د جلال‌اباد ښار ته وتښتېدل او د ننګرهار خلقي والی يې له پېښې نه خبر کړ. دغه والي چې د نازيانو په لېسه کې يې د معلم په توګه د کمونستي فکرونو په خپرولو کې برخه لرله، په انتقام اخيستلو پيل وکړ. د نازيانو کلي څو ورځې بمباري شول او ډېر خلک ووژل شول. د نازيانو کمونستان په خپل ملک کې کډوال شول. له هغو نه څوک د جلال‌اباد لارې ساتلو لپاره په امنيتي ځواک کې ونيول شول، او نور يې د غني خېلو په دښته کې ميشت شول يا د کانال په برخه کې ورته کار ورکړل شو، دوی بيا د ټول قام د استازيتوب پېښې کولې او يو وخت بل وخت کې يې د پرچم رجيم په پلوي په تېره په تلويزيون کې مرکې کولې.

د سرحدي قوم په توګه د مومندو قام ډېر مهم دی، مومندان له کامې نه تر پېښور پورې پراته دي، او پېښور په اصل کې د د وی ښار و، خو اوسني اوسېدونکي يې تر مومندو او خليل نه ډېر دي. د ډېورنډ کرښه له مومندو نه تېره شوې ده، خو مومندان د ډېورنډ د توافق ليک موضوع نه و او امير عبدالرحمن تر اخر پورې ټول مومند د افغانستان خاوره ګڼله. د هغه له مرګ نه وروسته و، چې مومند پر دوه برخو وويشل شول. د مومند ختيځه خوا د پيتاوي يا کوز مومند او لويديځه برخه يې د سوري يا برمومند په نامه يادېږي. خو په دواړو خواوو کې د مومندانو عين خېلونه پراته دي: ترک زي،

بابیزي، حلیم زي او خوابیزي. مومندان د یوسف زیو او درانیو په شان د سړبن یا سرند زوزاد دي، دوی په شپاړسمې پېړۍ کې د کندهار له مرغه نومي سیمې نه اول غزني او بیا په اوسنۍ مېنه کې میشت شول. له کامې نه پرته د دوي سیمه زیاتره سپېره او غرنۍ او د مځکې او اوبو د لږوالي له امله خواره ده. په مومندو کې د ګوندیماري او تربوري اجتماعي مرض د نورو پښتني قومونو په پرتله ډېر ټینګ وو او شاید اوس هم وي. د نولسمې پېړۍ په دوهمې نیمایي کې یوه انګلیس څېړونکي مالومه کړې وه، چې د مومندو له لویانو نه ډېر یې د خپلمنځي دښمنۍ له امله او تر هغه لږ یې په طبعي مرګ مړه شوي وو.

د پرچم په وخت کې دوه ډلې مومندان یا په دقیق ډول د دوه ځایونو مومندان په غوره کې وو، د ګوشتې خانان او د حاجي محمد حسن خان کورنۍ. د لالپورې او ګرداو خانان له عنعنوي اهمیت نه لوېدلي وو. د شوروي له یرغل نه وروسته مجاهدان له پېښور نه د مومندو پر لار تلل راتلل. د هغو د مخنیوي او د لارې د بندولو په مقصد د یرغلګر او رجیم نظامي واحدونه هلته واستول شول او له څه ستونزو نه وروسته هلته یې نظامي پوستې جوړې کړې او وخت په وخت یې عملیات هم کول. د مومندو خانان له کرښې نه واوښتل او په لر یا کوز مومند کې یې یا له خپلو قومیانو سره یا د پېښور په ښار کې واړول او د مقاومت او مجاهدانو ملاتړ یې کاووه. یوه خان پیر دوست اتمرخېل مومند چې خپل تربوران یې د تنظیمونو پر خوا ولیدل، د کابل پر خوا شو، او په کال ۱۹۸۵ کې یې په کابل کې په جرګو کې د خپل قوم په استازیتوب ګډون وکړ، خو هغه نه قومي ملیشه تنظیمولی شوای او نه یې له خپل قام سره ژوند کولی شوای. په مومندو په تېره په کامه کې د عنعنوي خانانو په نه شته توب کې د یرغلګر پوځ او د کابل پرچمي رجیم پر

ضد نويو قومندانانو د ملي جهاد بيرغ رپانده وساته، په هغو کې د ګرداو اتمرخېل مومند مولوي عبدالشکور ياسيني ښه نوم وايست. د هغه جهادي عمليات به په بل څپرکي کې بيان شي.[۱۶۲]

## پنځم څپرکی

# د شوروي اتحاد
# د يرغل ځواب د جنګ په ډګر کې

**لومړنۍ خبرې:**

شوروي لويانو پر افغانستان باندې په وسلهوال تېري سره د حفيظ الله امين په سرواليۍ خلقي حکومت نسکور کړ او د ببرک کارمل په سرواليۍ يې پرچمي رجيم پر پښو ودروه، په دغه مقصد چې افغانستان لاندې او تابع وګرځوي لکه هسې چې د خپلې امپراتورۍ يو شمېر ګاونډي هېوادونه يې تابع کړي وو. دوی هغه وخت خپل مقصد ته رسېدلی شول چې افغانانو دغه يرغل او د هغه پرچمي رجيم منلی او له خپلې واکمنۍ نه تېر شوي وای. خو افغانان پر خپلې خپلواکۍ او واکمنۍ ټينګ ودرېدل او يرغلګر پوځ او پرچمي رجيم يې رد کړ. بيا نو د دواړو خواوو ترمنځ جنګ حتمی شو که څه هم دا يو ډېر نابرابر جنګ و، په يوې خوا کې پنځلس نيم ميليوني خودټينګې ارادې خاوند ولس او په بلې خوا کې د نړۍ دوهم زبرځواک حکومت و، چې د ۲۵۵ مليون نفوس او درې مليون منظم نظامي پوخ او د ډول ډول عصري وسلو خاوند و، خو لکه چې په تېرو پاڼو کې يې شرح شوې، د وطن مدافعان په اخلاقي او معنوي لحاظ تر يرغلګرو نه پياوړي او د عربي او غربي ولسونو او حکومتونو له خواخوږۍ او مرستو نه بهرهمن وو.

د دغه ډېر اوږده جنګ د ټولو نښتو بیان ناممکن دی که څه هم له دغسې بیان نه د دخیلو قواوو اصلي سیاستونه او چلندونه او د هغو د جنګیالیو او ولسونو شخصیتونه په ډېر ښه ډول پېژندل کېدلی شي. خو د دغسې تاریخ کښلو لپاره د رسمي پاڼو نه استفاده حتمي ده. له بده مرغه دغسې پاڼې درک نه لري. یوازې د شوروي اتحاد د کمونستي ګوند د پولټبورو ځینې هغه پرېکړې چې د افغانستان او دغه جنګ په اړه دي، د هغه له شړېدلو نه وروسته ترلاسه شوې دي. له بده مرغه د پېښو هم مهال جورنالونه هم نشته. په دې اړه زما خپل جورنال د یادولو وړ دی، چې د ۱۹۸۲ کال تر اپرېل پورې یو شمېر پېښې په زر مخونو کې ثبت شوې دي. خو د درېیم لاس لیکنې د یو څو کتابونو په بڼه راوتلې دي، چې له هغو نه هم دلته پوره استفاده شوې ده.

د شوروي اتحاد په خوا کې د (شوروي-افغان جګړه) په نامه اثر دی چې د روسیې د لوی درستیز اداري افسرانو کښلی او په کال ۲۰۰۲ کې په انګرېزۍ کې خپور شوی دی. خو دا یوازې نظامي تاریخ دی، چې پکې د جنګ اړخونه، وسلې، جنګي تاکتیکونه کتل شوي او انګرېزي ژباړونکو یې پر هغو ځای پر ځای انتقادي او دقیقې تبصرې کړې او په دې ډول یې هغه لا مهم او ګټور کړی دی. په دې اړه بل اثر (خرس غره ته وخته) په نامه دی، چې لیکوونکي یې هغه افسران دي چې په جنګي ډګرونو کې جنګېدلي دي، خو هغه ډېر مالومات نه لري، بل مهم اثر (د خرس تلک) په نامه د پاکستان د آی‌اس‌آی افسر ډګروال محمد یوسف دی. دی په دغې اداري کې د افغانستان د څانګې امر و. دغه اثر له دې امله هم مهم دی، چې د جنګ په اړوند ډېر مالومات هم ورکوي. په افغان خوا کې د (غره بله خوا) په نامه د ۹۳ جهادي قومندانانو ویناوې دي، چې د نظامي چارو متخصصانو علي احمد جلالي او لسترګراو تنظیم او انګرېزي کړې دي.

دغه اثر هم نظامي دي چې په هغه کې جهادي قومندانانو خپل جنګونه بیان کړي دي. په دې ډول دا یو ښېساري او مهم اثر دی. د یادولو وړ بل اثر د نظامي تاریخپوه سټیفن ټېنر (Stephen Tanner) په قلم د افغانستان په نامه اثر دی، چې د لوی سکندر نه د طالبانو تر نسکورېدو پورې د مجاهدو دوره په دقیق ډول بیانوي.

د افغان مجاهدو او یرغلګرو پوځونو ترمینځ تر دغه ځایه نښتې، بریدونه او جنګونه یو ځای بل ځای بیان شوي دي. دغه څپرکی یوازې دغسې پېښو ته ځانګړی شوی دی. خو د دغه جنګ جګړه ییزې پېښې دغومره ډېرې دي چې کتابونه پرې ډکېدلی شي. یوازې د درېیو کلونو (۱۹۸۵-۱۹۸۶-۱۹۸۷) په بهیر کې مجاهدو په شوروي او د رجیم پوځونو باندې تر لسو زرو نه ډېر غلچکي بریدونه (ambushes)او ۹۵۰۰ ځله یرغلونه (raids)کړي دي، له مخالفې خوا یرغلګر پوځ د ټول جنګ په بهیر کې شاوخوا ۲۲۰ځل په ځانګړې توګه او د کابل رجیم له پوځ سره په ګډه ۴۰۰ ځله غټ عملیات کړي دي. مجاهدو غلچکي بریدونه زیاتره په شپه کې یا د ورځې ناوخته یا نې هغه وخت کول چې شوروي سرتېري به ستړي وو.[1] دوی غلچکي بریدونه په وړو ډلو کول؛ په معمولي ډول هره ډله له لسو نه تر پنځلس مجاهدو نه جوړه وه. په دغه څپرکي کې کوښښ کېږي، چې د جګړه ییزو نښتو عمومي انځور وړاندې شي. د ځینو لویو او مهمو عملیاتو او د افغانانو ترور کېدلو بیان به هم وشي.

# کابل د جنګ په حال

د څرګندو دلیلونو له مخې کابل او شاوخوا سیمې یې یرغلګرو او کابل رجیم لپاره په خاص ډول مهمې وې، څنګه چې کابل د ټول افغانستان رسمي منځی یا پلازمېنه وه، د هغه نیول د ټول افغانستان نیول ګڼل کېده. په کابل کې ارګ د رجیم منځی او د تاج بېګ وداني، د ځلوېښتم لمبر پوخ او د دواړو په مینځ کې د شوروي اتحاد سفارت پروت و. د کابل او بګرام د هوایي میدانونو له لارې د کابل رجیم او شوروي اتحاد ترمینځ اړیکې په تېره نظامي اړیکې خوندي کېدلې. د حیرتان- سالنګ- کابل لار هم اساسي اهمیت لاره، ځکه چې پر هغې باندې دوسلو، لوجستکي او نورو ځیزونو کاروانونه روان وو. نورې لویې لارې په تېره د غزني-کندهار او هرات، د کابل-جلال اباد او تورخم او داسې هم د کابل-لوګر-پکتیا لارې مهمې وې، چې باید د هغو سرحدي سیمو په ګډون چې ستراتیجکي اهمیت یې لاره، د رجیم او یرغلګر پوځ تر حکم لاندې وي. د ولایتي مرکزونو او ښارونو خوندیتوب د همدغو لارو په خوندیتوب پورې تړلی و. له همدغو ښارونو نه وو چې په ۱۹۸۲ کې د اطرافي سیمو لپاره چې د رجیم له لاسه وتلې وې، یو خاص پروګرام وایستل شو، په نامه د «له ښار نه تر کلي پورې» کارمل څرګنده کړه چې اوس د دې وخت دی، چې «... انقلابي جګړه ولایتونو، ولسوالیو او کلیو ته یووړله شي.» اصلي مطلب دا و، چې په دغه ډول د پرچم رجیم ټول افغانستان لاندې کړي او حکومت پرې وکړي.

د کابل ښار او شاوخوا سیمو خوندي ساتنه د یرغلګر او کابل رجیم پوځ پر غاړه وه. دوی له کابل نه درې امنیتي کړۍ راتاوې کړې چې له نظامي پوستو، مایني ډګرونو او نورو بندیزونو نه جوړې وې. لکه چې دمخه ویل شوي، قومندان عبدالحق له دوی نه دمخه د کابل شاوخوا کلو کې د غلچکي بریدونو لپاره مرکزونه جوړ کړي وو، چې هغه تر پایه پورې پټ پاتې شول. مجاهدانو د شوروي او کابل رجیم پر دغو پوستو دانګل، خو نیولی یې نه شول. دغه بریدونه بې ګټې هم نه وو، د دغو پوستو یرغلګر او د کابل رجیم سرتېري په عمومي ډول غیر فعال وو او پوستې یې د مجاهدو لپاره د وسلو پیدا کولو سرچینې وې، خو تر کال ۱۹۸۵ پورې چې شورویانو درېیمه بېروني امنیتي کړۍ جوړه کړه، پر کابل باندې د توغندیو د ویشتلو مخه ونیوله شوه. دغه کړۍ له ښار نه له لس نه تر دوولس کیلومتر پورې لیرې جوړه شوې وه، چې د سقر په نامه د MBRL راکټونه وررسېدلی نه شول. دغو راکټونو تر نهو کیلومترو پورې هدف ویشتلی شو، دغه راکټونه درانده او وړل یې هم ګران وه، دغه ستونزه د ۱۹۸۷ په اخر کې رفع شوه، یاني څه وخت چې سي آی اې له چین نه د همدغه راکټ اصلاح شوی ماډل (SBRL) آی‌اس‌آی ته وسپاره. د ډګروال یوسف په وینا «دغې وسلې د کابل په ویشتلو کې زمونږ توان خورا ډېر کړ.»[۲] مجاهدو له ۱۹۸۵ نه د مخه هم حتی په کابل کې دننه ډول ډول رجیم ضد فعالیتونه کول خو بې له دې چې کومه برخه یې ونیوله شي.

د پاکستان آی‌اس‌آی د کابل ورانولو ته ډېره متوجه وه، سروال یې اختر عبدالرحمن لا ویل چې «کابل باید وسوځي.» د کابل له «سوځولو» نه د هغه اصلي مطلب نه مالومېږي خو دا مالومه ده چې د کابل «سوزول» په واقع کې د ټول افغانستان د ورانولو د پروګرام یوه برخه وه. آی‌اس‌آی د جهاد په نامه د

افغانستان د ورانولو او په نهایت کې د هغه د لاندې کولو لپاره دغه پروګرام ایستلی و. له جنرال اختر سره د کابل سودا و ه، ویل یې چې پر کابل باندې بریدونه باید لومړیتوب ولري که کوم قوماندان ورته ویل چې په کابل باندې د برید کولو لپاره درنو وسلو ته اړه لري. هغه ورته تهیه کولې، که څه هم د افغانستان د ځانګې مشر ډګروال محمد یوسف به یې مخالف و. دی وایي چې «کابل تر فشار لاندې نیول زمونږ د ستراتیجۍ یوه اساسي موضوع ده. خبره ډېره ساده وه، که کابل سقوط وکړي، مونږ جنګ ګټلی دی.»[۳] د شوروي پوځ په شته توب سره د «کابل سقوط» نه غږېدل، هسې خبره وه خو کابل تر فشار لاندې نیول او تاسیسات یې په راکټونو ویشتل شوونکی و. د دغه مقصد لپاره د ښار په شاوخوا کې او له درېیمې امنیتي کړۍ نه لېرې څلور لوی مرکزونه جوړ شوي وو: په پغمان کې، په چکري کې، په ساپي غره کې او په چاریکار کې. مجاهدو له همدغو مرکزونو نه هم پر لویو لارو حملې کولې او هم یې د کابل ښار تر فشار لاندې نیوه.

په کابل کې د راکټي بریدونو لوی هدفونه د کابل هوایي ډګر، د دارالامان ماڼۍ، د قرغې فرقه، د شوروي سفارت، مکروریان، د ریشخورو فرقې ودانۍ او چهلستون وو، خو مجاهدو کری کال عملیات کولی نه شول، دوی په نس ماړه او په تن ښه پټ نه وو، په اوړي کې تر ډسمبر پورې د کابل شاوخوا سیمې د مجاهدو وې خو په ژمي کې به دوی د سړو له امله **توخته** کولی نه شوه. او زیاتره به خپلو کورونو ته تلل او جهاد به سست شو. تر ۱۹۸۵ پورې دوی پرېړ جاکټونه، موزې او پلاستیکي خیمې نه لرلې. په دغه حال کې دوی د اوړي لاس ته راوړنې له لاسه ورکولې. یوه چاره په کار وه د ۱۹۸۴/۸۵ په ژمي کې دېرش قوماندانان لږ تر لږه د سل دوه ترمینځ مجاهدان وګمارل شول، چې کابل په راکټونو وولي. دوی ته د MBRL راکټونه هم د جایزې

په توګه ورکړل شول. په لومړيو اونيو کې هر څه د پلان له مخې پرمخ ولاړل، خو په جنوري کې د سړو د لګېدلو او د کافي خوړو، مناسبو کاليو او تودو ځايونو په نه شته توب سره ډېر قومندانان پر شاشول، شورويانو دغه تشه زر ډکه کړه. يو شمېر نوې پوستې يې جوړې کړې او ماينونه يې وکرل. په ۱۹۸۵ کې يې چکړي او په ۱۹۸۶ کې يې حتى پغمان هم ونيوه. ډګروال يوسف وايي چې «د ۱۹۸۷ په شروع کې د ستېنګر راکټونو تر لاسه کولو نه وروسته و، چې مونږ وکولی شو، په پغمان کې له لاسه وتلی ميدان بېرته ترلاسه کړو، تر دغه وخته هغه طرح په حتمي ډول تکرارېدله؛ تر ډسمبر پورې د بريدونو بريالۍ جګړې؛ په ژمي کې په شاکېدل او د شورويانو دفاعي کړۍ مخکې کېدل، چې د دغه کار له امله مونږ ته د اوږدو فاصلو وسلو ته اړتيا پيدا کېدله، په دې ډول د کابل د خپه کولو لپاره زمونږ توان له مينځ نه لاړ.»(۴)

د ساپې غره له مرکز نه پرته په بل هر مرکز کې له سل نه تر زر پورې مجاهدان د بېلو تنظيمونو د قومندانانو تر لاس لاندې غونډ وو. غټه ستونزه هغو ته د لوجستکي څيزونو رسول وو. د تودو کاليو، موزو، او خوراکي څيزونو په لېږوالي يا نه شته توب سره د مجاهدو ژوند ستونزناک و. دوی ډنګر کېدل، حال يې اوتر و، مخونه به يې د لړګيو په دود سره تور شوي او په منګ کې هم پاخه مالومېدل. آی‌اس‌آی د کابل د خاص اهميت له امله له دغو مجاهدانو سره خپل متخصصان ملګري کول. په ۱۹۸۴ کې د يوولسو دغسې پاکستاني ډلو نه اووه ډلې يې کابل ته واستولې شوې.[۵] د ريشخور فرقې پر ودانيو باندې بريد يو مثال دی، چې د هغه لپاره يوه قومندان د MBRL راکټ ويشتلو کې درې اونۍ زده‌کړه کړې وه، دغه قومندان د درې پاکستاني متخصصانو او د يو څو مجاهدانو په ملګرتيا اول اکتشافي څېړنې

وکړي. دوی د دې لپاره چې ريشخورو تـه نـزدې ورسـېږي پـه لـوګر او نـورو ځايونو کې بايد له حکومتي پوستو څخه تېر شي. دوی وېره ډله هـم نـه وه، لـه سلو مجاهدانو او پر قاطرو باندې بار شپېتو راکټونـو نـه جـوړه وه. قومنـدان د يـوې اوږدې بـې خطـر لارې پـر ځـای يـوه لنـډه لار غـوره کـړه چـې لـه يـوې حکومتي پوستې نه نزدې تېرېدل، خو د پوستې قومنـدان ورتـه ډاډ ورکـړی و، چې ورسره به غرض ونه شي، هغه لا په لږ ستونزې سره حتی د خپـل روسـي مشاور هوکه هم ترلاسه کړې وه، په دغه شرط چې له حملې وروسـته بـه دوی هوايي ډزې وکـړي. پاکسـتاني متخصـان ډاډه نـه وو، خـو پـه پـای کـې يـې د قومندان فيصله ومنله. کاروان د شپې پر لس نيمو بجو له حکومتي پوسـتې نـه په شل متري فاصله کې بې لـه کـومې پېښـې نـه تېـر شـو. مطلـوب ټکـي تـه پـه رسـېدلو سـره يـې لـه نـيم سـاعت نـه پـه لـږه مـوده کـې شـپېته واړه راکټونـه د ريشخورو پر ودانۍ حواله کړل او هغو اور واخيست. د عمليـاتو پـه بهيـر کـې له مخامخ لوري نه هم پخې ډزې وشوې، خو دوی په بېړه او روغ لـه صـحنې نه ووتل. دغه قومندان او پاکستاني متخصصان بيا په اسلام اباد کې د جنـرال ضياءالحق له خوا په مبارک ويلو او انعام سـره ونـازول شـول. د قومنـدان نـوم ښودل شوی نه دی.(۶)

د ۱۹۸۴ په جون کې د کابل راديو انتقالي سټېشن چې د کابل په ختيځ کې د اودخېل په سيمه کې و، نيمه شپه په راکټونو وويشتل شو او له کار نه ولوېد. د ملي محاذ تنظيم ولايتي قومندان ولي کږوخېل د سيوک (Sewak) د محـل قومندان شيراغا کوچي په دغه بريـد مـامور کـړ، چـې د نـرۍ اوبـه لـه قومنـدان حاجی حسين خان او د خاک جبار قومندان سيد حسين خان سره يې په ګـډه ووهي. د دغه کار لپاره د دوی زيات او کم نوي تنه مجاهدان پـه شـل کسـيزو ډلو وويشل شـول. لـه دوی سـره د PK ماشـين ګنـې، د AK-47 راکټونـه او

نور ډول راکټونه وو. د «RPG ګذارونو د لرګيو ودانۍ وسوځولې او اور ټولو ودانيو ته سرايت وکړ؛ مدافعان يې وارخطا شول او منظمه دفاع يې کولی ونه شوه. د بريد ډله پرې غالبه شوه، څو سرتېري يې ووژل، پنځه کلاشنکوفونه يې ترلاسه کړل او د انتقال سټېشن يې وران کړ.» د سيمې برېښنا يې هم پارچاو کړه، مجاهدان په دوه بجو لېوني کنډو ته چې د ملاعمر سمتو ته نږدې واقع دی، روغ ورسېدل. شپږ تنه يې ټپي شوي وو، چې يو يې وروسته وفات شو. د مجاهدو په بېرته تګ او د زخميانو په انتقال کې حسن خان کړوخېل چې د قومندان ولي کړوخېل مشر ورور و، پر خپلو قومي مليشاوو سره له هغو سره مرسته وکړه. په واقع کې په دغه ټول عمل کې د هغه ونډه غټه وه، که څه هم ده د حکومت په پيسو خپله مليشيا تنظيم کړې وه، پخوا له دې چې حسين خان کړوخېل خپله مليشاد مجاهدو په لور واړوي، تر ۱۹۸۴ پورې يې له هغو سره ډول ډول مرستې کړې وې.(۷) ورور يې قومندان ولي کړوخېل په ملي روحيې سره جهاد کاووه؛ او له افراطي تنظيمونو سره جوړ نه و، له همدې امله به و چې دی وروسته د اټک په سيمه کې په رڼا ورځ ترور شو او د پاکستان امنيتي مقامونو دهغه د وژنې په اړه هيڅ تحقيق ونه کړ.

د کابل ښار پر ضد د جګړې بله خوا د لارو پرېکول وو، د دې لپاره چې اړين څيزونه او سامانونه ورته ونه رسېږي. د دغه مقصد لپاره د ښار په لور پر روانو کاروانونو باندې بريدونه کېدل؛ بندونه په ماينونو سره ورانېدل. دا او دغسې نور غير نظامي هدفونه د آی‌اس‌آی په دستور د دې لپاره وهل کېدل، چې د شورويانو له په شاتګ نه وروسته وران شوی او ناتوان افغانستان د دوی ترلاس لاندې هېواد وي.

د ۱۹۸۵ په اکتوبر کې له کابل نه د غزني په لور د شوروي او کابل رجيم پر يوه کاروان باندې د سيداباد په شمال په سسۍ (Sisay) نومي محل کې د بېلو تنظيمونو اتيا مجاهدانو د مولوي فيضاني او نورو په قومندانۍ په ګډه بريد وکړ. دوی په لس کسيزو ډلو ويشل شوي وو او د کلاشنکوف، ټانک ضد راکټونو )RPG-7( پس لګد توپکونو په ګډون په ډول ډول وسلو سمبال وو د معمول په شان د دغه کاروان سر او اخر کې زغروري وسلې او له پاسه هليکوپټرونه روان وو، کاروان همدا چې د شيخاباد سهيل ته د عملياتو محل ته ورسېد پرې باندې بريد وشو. د بريد وخت د ماښام نهه بجې وې. د کاروان له جنګي وسيلو (BMP) او APC نه هم ډېرې وشوې، خو اثر يې کم و، ځکه چې مجاهدان په ښه موقعيت کې وو، نښته دوه ګړۍ اوږده شوه او تر يوولسو بجو پورې د شورويانو ټولې هغه وسيلې او جنګي وسيلې چې له سرتېرو سره وې، وراني شوې. له مجاهدو نه لس کسه شهيد او دوه تنه يې ټپي شول. د وړلو ټول څيزونه د څو کلاشنکوفونو په ګډون د مجاهدو لاس ته ورغلل او په داسې حال کې چې ۹۲ جنګي وسيلې يې د اور په لمبو کې وسوځېدلې.[۸] له دغسې بريدونو نه مقصد د وسلو، مهماتو، خوراکي څيزونو، کاليو او نورو څيزونو ترلاسه کول هم وو. مجاهدان بې معاشه رضاکاران وو او ډېرو يې د کورنيو مسؤليت هم پر غاړه لاره.

د کابل-جبل سراج پر نوې لار باندې هم بريدونه کېدل، که څه هم هغې ته نزدې د بګرام په نظامي ډګر کې په هر څو دقيقو کې يوه نظامي الوتکه له عملياتو نه وروسته ښکته کېدله. دغې لارې شورويانو او رجيم ته حياتي ارزښت لاره. پر هغې باندې دوی ته له شوروي اتحاد نه نظامي او غير نظامي څيزونه رسېدل. شورويانو د سالنګ سړک پر غاړه يو لړ پوستې جوړې کړې او شاوخوا يې ماينونه ايښي وو. يوه پوسته د غوربند درې په خوله کې په پل

مټک کې او بله يې د هغه په سهيل کې په تتمدره کې وه. د تتمدرې پوسته د ماينونو له امله دغومره خوندي وه، چې د ۱۹۸۱ په سپټمبر کې د قومندان سرشار په قومندانۍ شپېتو مجاهدانو هم ونه شو کولی پر هغې بريد وکړي، که څه هم دوی په درنو وسلو ښه سمبال وو، خو د چمتلې دښتې پوسته د ۱۹۸۲ کال په جون کې د شېراګي کوچي په قومندانۍ بې له ټکر او مقابلې نه د مجاهدانو په لاس ورغله. ده د قومندان څارنوال شيرحبيب په تدبير سره وکولی شول، د هماغه ځای د کوچيانو په مرسته او د هغو د رمې نه په استفادې سره ځانونه پوستې ته دغومره نږدې کړي، چې پر ساتونکي يې د ډوډۍ خوړلو په وخت کې ناڅاپه بريد وکړي او بې له مقابلې نه يې ونيسي او له ځان سره يې بوځي. په دغسې بريو کې به له مجاهدو سره د ځايي خلکو مرستو د اطلاعاتو د تهيه کولو ، اعاشه کولو او پټ کولو په برخه کې مهم رول لاره.[۹] د کابل-جبل سراج د لويې لارې په کومې برخې کې د قومندان عبدالکريم زايد په برياليو عملياتو سره د شوروي کاروانونو «په درجنو لارۍ ټوټه ټوټه شوې او ټول ځای پرې لړل شوی و.» قومندان زايد پر کاروانونو باندې د شپې په تياره کې بريدونه کول. قومندان زايد د انګليس جورنلست مارتين ليدلو لپاره يو ځل د خپلو مجاهدانو يوه ډله د بهادر محمد او صوفي احمد په سروالۍ وګمارله چې په رڼا ورځ هم په يوه کاروان بريد وکړي. مارتين بيا دې نتيجې ته ورسېد چې «زما په اټکل له کابل نه تر جبل سراج پورې پر لويې لارې باندې چې هره ورځ ډېر بريدونه کېدل روسانو او حکومت په هره اونۍ کې لږ تر لږه پنځوس لارۍ له لاسه ورکولې.»[۱۰] مجاهدانو به د شوروي اتحاد يوولس زره لارۍ، او تر هغو لا زياتې د رجيم لارۍ له کار نه غورزولې وې. د غره اخوا تنظيموونکو په نظر «د مجاهدانو دغه قابليت چې لويې لارې پرېکولی شي، د شورويانو لپاره د دايمي اندېښنې

وړ وه او د دې مخه یې نیوله چې دوی په افغانستان کې یو لوی اشغالي پوځ وساتي.»[۱۱]

د جګړې بل اړخ په کابل ښار کې سیاسي وژنې، ترور او سبوتاژ یا وران کاري وه. بریدونه له چاقو وهلو نه نیولې په دفترونو کې د بمونو ایښودلو پورې یو پراخ عمل و. په چاقو سره د وهلو عمل شوروي سرتېري اړ کړل چې په ښار کې ډله ډله و سله وال وګرځي. د فردونو وژنه به وروسته شرح شي. تر هغه دمخه به د ښار امنیتي وضع، لګول شوي بندیزونه او شاوخوا کې یې د مجاهدو فعالیتونه تر یوه حده بیان شي.

لکه چې دمخه ویل شوي د کب د میاشتې له پاڅون نه وروسته په ښار کې د شپې له لسو بجو نه د سهار تر څلورو بجوو پورې پر ګرځېدلو باندې بندیز لګول شوی و، خو خلک به د ماښآم تیارې په خپرېدلو سره په کورونو ننوتل او سړکونه به له خلکو نه خالی شول او ټول ښار به چوب و. د ورځې به شخصي موټرونه او ټکسي ګانې لټول کېدلې او په یوه وخت کې به یوه موټر ته د لس لیترو یا دوه ګیلن نه زیات تېل نه ورکول کېدل. پر دې سربېره د ښار کومه برخه به پوځي واحدونو ناڅاپه احاطه کړه او کورونه به یې د عسکري خدمت ته د ځوانانو او د وسلو موندلو لپاره لټول. وسله والو ګوندیانو او د ځوانانو د ټولنې تنکیو غړو به هم د ورځې پر سړکونو ګزمه کوله. خاد د ښار په هره ناحیه کې ځانګې پرانیستلې وې او جاسوسان به یې په ملکي او خوارو جامو کې په ټول ښار کې خواره وو، کله به وسله وال سرتېري له ټانکونو سره په یوه ټاکلي محل کې د ورځو ورځو لپاره ولاړ وو. په دې ډول ګوندي او حکومتي غړو او ډلو به ښار او خلک له ډېرو کوټو نه تر څارنې لاندې نیولې او مشکوک کسان به یې نیول او بندي کول. نه یوازې د لوړو چارواکو له هستوګنځیو نه اغزن سیمونه راچاپېر شوي وو د پولیس مرکزونه په خاص

ډول ټينګ کړل شوي وو[۱۲] سره له دې هم لکه چې په تېر څپرکي کې وويل شول، قومندان عبدالحق په ښار کې نفوذ کړی و، په هر حال دغه غير عادي امنيتي تدبيرونه د رجيم او خلکو ترمينځ ژوره بې اعتمادي ښيي او ټولنيز قرارداد او روغ نيتي چې په هرې سياسي ټولنه کې د ثبات بنسټ جوړوي په افغانستان کې د پرچم رجيم په وخت کې په نه پيوند کېدونکي ډول له مينځ نه تللی و.

که مجاهدانو د ورځې په کابل کې د رجيم په ضرر د فعاليت کولی نه شو، په شپه کې د تيارې په خپرېدلو سره له خپلو مرکزونو په تېره له پغمان نه ښار ته ننوتل؛ ګوندي کسان به يې له کورو نه تښتول؛ امنيتي پوستې به يې ړنګولې يا به يې له ګزمه کوونکو سره نښتې کولې. له يرغل نه وروسته نږدې هره شپه په خوشال مېنه کې ډزې اورېدل کېدلې. کله به دغسې نښتې ډېرې ټينګې وې او په ساعتونو به يې دوام کاووه. هغه ډزې چې د ۱۹۸۰ کال د اکتوبر په اتمه د فاضل بېګ او نيازبېګ په شاوخوا کې وشوې د همدغو مخالفو ډلو ترمينځ وې. د مجاهدو له لومړيو ډزو نه وروسته د شوروي پوځونو نه د ماشين ګڼو، راکټونو، او سپکو وسلو ډزې واورېدل شوې. وروسته له هغه چې نور وسله وال واحدونه د نښتو ځايونو ته نږدې شول، مجاهدان پر شاشول. د مجاهدانو يوې ډلې تر دغو نښتو يوه شپه دمخه تر دهمزنګ پورې ځان رسولی و. د دې لپاره چې د اسمايي غره له پاسه د تلويزيون سټېشن ووهي. خو د شوروي له نظامي واحد سره له نښتې وروسته پر شاشوه. يوه اوونۍ وروسته د مجاهدو او د رجيم د يوه نظامي واحد تر مينځ مکروريانو ته نږدې يو ټکر وشو. په مکروريانو کې زياتره ګوندي غړي، لوړ حکومتي چارواکي او شوروي مشاوران اوسېدل، خو د ښار په څنډو کې مجاهدانو د شپې له خوا حکومت کاووه. دوی د ښار په ځينو برخو کې په تېره په قلعه واحد او بيني

حصار کې د هڅيو په مخ کې د نرخ لستونه وڅړول او هڅې والو د هغو له مخې ځيزونه خرڅول. ماته اوس مالومه شوه چې دغه فعاليتونه زياتره د قومندان عبدالحق او د هغه د مجاهدانو کار و، چې له پغمان نه يې د ښار په لويديځ کې فعاليتونه کول.

د کابل امنيتي وضع لا مخ پر خرابېدو وه. د ۱۹۸۱ د جولايې په لومړۍ اونۍ کې مجاهدان په ډېر شمېر په ښار کې ننوتل که څه هم رجيم نوي امنيتي تدبيرونه نيولي وو. په دغه وخت کې شوروي ځواکونو بيرون وتلو ته زړه نه کاووه او د رجيم ځواکونو هوايي ډزې کولې او نه يې غوښتل له مجاهدو سره مخ شي. خو رجيم ته يې د وفا لرلو ډاډ ورکاووه. ډزې نه يوازې د ښار په څنډو کې بلکې ان په چندولو کې هم د «تل دې وي افغانستان» له اواز سره يو ځای اورېدل کېدلې. د ۱۹۸۱ د جولايې په درېيمه شپه شوروي ځواکونو د ميرويس ميدان شمال ته د قلعه واحد شاوخوا په درندو ماشين ګڼو، راکټونو او سپکو وسلو سره ډزې کولې. دغه ډزې د مجاهدانو په وړاندې او دغومره ټينګې او ويرونکې وې چې د هغو له امله د خوشال مېنې په دوهمه برخه کې زما کورنۍ لکه چې دمخه يې يادونه شوې، ټوله شپه په تهکاوي کې په ويښه او اندېښنه کې تېره کړه. په وروسته دوه اونيو کې د ښار لويديځې څنډې، د قرغې د فرقې په ګډون تر دغسې فشار لاندې نيول شوې وې، چې خلکو د رجيم د سقوط اوازې خپرې کړې، له هغه و روسته و، چې په پغمان کې زورور عمليات وشول.

د عملياتو سره سره ښار نا ارام و، د ۱۹۸۱ د سپټمبر تر ۲۳ م پورې مجاهدان په ښار کې تر هر بل وخت نه ډېر فعال وو. فعاليت يې د ښار په ختيځه خوا کې په تېره په نوې کارته کې ډېر و. شوروي ټانکونه به د مجاهدو دراکټونو له امله بېرون کېدلی نه شول. د ښار لويديځه برخه لکه خوشال مېنه

چې زه پکې اوسېدلم هم نا ارامه وه. د سپټمبر په اتلسمه شپه د مجاهدو يوه پنځوس کسيزه ډله وروسته له هغه چې خپل راتګ يې په ډزو سره وښود په خوشال مېنه کې په يوه کور ننوتل او درې حکومتي چارواکي يې چې ويل کېدل د رسمي ګوند غړي وو، له ځان سره بوتلل. مجاهدان د دريو ګړيو لپاره اخوا دېخوا وګرځېدل بې له دې چې ورسره مقابله وشي، خو رجيم به د ورځې په قوت سره ځان ښوده. دنوي کال په درشل کې چې د رسمي ګوند د جوړېدلو ورځ وه، مجاهدان د شپې په قوت سره ښکاره شول. په همدغه شپه کې دوی دننه په ښار کې په باغ عليمردان او ميوند جاده کې هم ننوتل او حکومت ضد پاڼې يې وشندلې. خو هټۍ وال يې د تېر پاڅون په وياړ هټۍ تړلو ته هڅولی ونه شول. رجيم دمخه د هغه مخه نيولې وه، ډېر سوړ ژمی به هم د رجيم په ګټه تمام شوی وی، خو تر هر څه زيات د شوروي نظامي عمليات وو، چې ښارېې د دغسې پېښو نه ژغوره.(۱۳)

سره له دې هم رجيم ته ګرانه وه چې د پغمان د ولسوالۍ مرکز د خپل پوځ په سرتېرو او لوجستيکي څيزونو پياوړي کړي. د ۱۹۸۳ د جون په لومړۍ اونۍ کې دغسې يو کوښښ وشو، خو هغه سرته ونه رسېد. د مولوي خالص د اسلامي حزب [قومندان عبدالحق] قومندان حبيب الله، د اسلامي اتحاد قومندان امان او د محاذ قومندان حاجي عقل شاه سهاک د ۲۵۰- ۳۰۰ مجاهدو په ملګرتوب پغمان ته د دواړو لارو په خواوو کې د شپې له خوا مهم ځايونه ونيول. له دوی سره هاوانونه، پس لګد توپونه، ټانک ضد توپونه (RPG-7) کلاشنکوفونه او يوولس ټکه ټوپکونه (Enfield) وو. اول د خوجه مساپر په برخه کې پر تلونکي پوخ باندې غلچکي بريدونه وشول؛ بريد زر په جګړې بدل شو او له پاسه هليکوپټرونه هم ښکاره شول، خو دوی يې بېځايه کولی ونه شول، د کليو ښځو به د جنګ په مهال کې هم

مجاهدو ته خواړه او پې رسولې. د جنګ په ټول وخت کې د پغمان اوریا خېل او خالداري خلکو مجاهدان اعاشه کول. د خالدارې مدیر ظاهر نهه ټپي مجاهدان خپل کور ته ورسول او مېرمنې یې د هغو پالنه وکړه. شورویانو بیا د قرغې لار ونیوله، خو مجاهدو په دودامست (Dodamast) کې د هغو په مخ کې خنډ شول. شوروي پوځي واحد بیا پغمان ته د خوجه مسافر په خوا راتاو شو، خو هلته مجاهدو غلچکي بریدونه پرې وکړل،تر څو د دوی ټول پوځ له درې ورځو جګړو نه وروسته کابل ته پر شاشو. د مجاهدانو او د هغو د مقابل لوري ټول تلفات مالوم نه دي، خو د قومندان سهاک دیارلس مجاهدان شهید اونور ډېر ټپي شول. د رجیم له سرتېرو نه څلوېښت یې ونیول شول، یا په خپله مجاهدو ته واوښتل، خو مجاهدو ته ډول ډول ډېرې وسلې په لاس ورغلې.(۱۴)

# په کابل ښار کې فرد وژنې

له دې وروسته به په ښار کې در جیم د چارواکو، ګوندیانو او داسې هم د شورویانو وژنه بیان شي. فرد وژنه له یرغل نه وروسته پیل شوه او ور ورو زیاته شوه. په لومړي سر کې شوروي سرتېري په کابل ښار کې ازاد ګرځېدل. په دې خیال چې کابل مسکو دی. خو افغانانو له دوی نه، چې د یرغل څرګنده بېلګه وه، کرکه لرله. د جنوري په لومړنۍ اونۍ کې عادي وګړو پر هغو مرګکي ګذار کاووه. په تېره په خیرخانه، قلعه شهدا او پل سوخته کې.

د شورویانو په یرغل سره په کابل او ټول افغانستان کې دغسې حال راغي چې په جنګ کې ښکېلو خواوو د یوه او بل ژوند له مینځ نه وړل روا باله. غیر له هغه هم افغانانو ته په عمومي ډول او هغو ته چې سیاست کوي په خاص ډول د مخالفانو ژوند سپېځلي نه وي. د ثور په کودتا سره چې کمونستي رنګ یې لاره واکمنو، د مخالفانو له مینځ نه وړل، د دولتي سیاست یوه برخه وګرزوله. مخالفانو یې هم همدغه چلند غوره کړ. هیڅ خوا ته ګرانه نه وه چې د مخالفو وژنې ته دلیل ولټوي. نو و واک ته رسېدلو خلقیانو او وروسته پرچمیانو د ټولنې، خلکو او «انقلاب» او مخالفانو یې د اسلام او وطن په نومونو او د زورواکۍ پر ضد وژنې پیل کړې. شوروي شویو خلقیانو او شوروي شویو پرچمیانو افغان وژنه د دغه فکر له مخې کوله، چې «انقلاب ضد» او «خلق ضد» په له مینځ نه وړلو سره به دغسې ټولنه رامینځ ته شي چې هغه به «د فرد په واسطه د فرد له استثمار څخه فارغه وي.» دوی په دې نه پوهېدل چې د انسان په تاریخ کې هیڅ چیرې دغسې ټولنه نه وه، او په

اوسني حال کې د دغسې تولنې جوړېدل ممکن نه دی. سره له دې هم دوی په دولتي زور سره د دغه فکر د عملي کولو لپاره له تشدد نه کار اخيست او خپله زورواکي يې جايزه ګڼله، خو له دولتي زور نه په دغه ډول کار اخيستل او افغان ژوند له منځ نه وړل د دغسې خلکو له خوا بېخوابه پاتې کېدلی نه شو، چې انتقام اخيستل يې د کولتور برخه ده. پر هغه سربېره څنګه چې شورويانو د پرچم رجيم په خپل پوځ سره پر افغانانو تحميل کړی او په پوځ سره يې ساتنه کوله، او د عوض کولو لپاره يې کومه لاره نه وه، پرې ايښې، افغانانو ته بله چار هم نه وه، خو دا چې هغه په تشدد سره د خپلې خوښې په حکومت عوض کړي. په نتيجه کې د وژنې روحيه له ګونديانو او رسمي چارواکو نه افغانانو او ولس ته سرايت وکړ او د انسان ژوند چې ډېر ارزښت لري په افغانستان کې په بېساري ډول بې ارزښته شو. په دغه حال کې د هغو ښځو ناشونکې شوه چې د افغانانو په هېواد کې يې دننه د افغانانو پرضد په تشدد او وژنې لاس پورې کړ، بې له دې چې د هغو له خوا پارول شوي وي.

لکه چې په حق ويل شوي «په انساني چارو کې د تشدد په هکله اساسي ټکی دا دی چې پر يوه کس تېری کېږي.» او «پر يوه کس هغه وخت تېری کېږي» چې هغه له خپلو حقونو، ځان واکي، حيثيت يا ژوند نه محروم کړل شي. دغه حکم پر و لسونو لا ډېر صدق کوي. پخوا هم په افغانانو کې ژوند له مينځ نه وړل کېده، ځکه چې افغانانو د ډېرو نورو انسانانو په شان ژوند ته چندان ارزښت نه ورکاووه (او اوس يې هم نه ورکوي)؛ دا د افغانانو اساسي نيمګړتيا وه (او لا هم ده.) خو په افغان کودتاګانو او په تېره د شوروي اتحاد په يرغل سره ژوند په دغومره پراخه اندازه او په دغومره بې رحمۍ سره له مينځ نه وړل کېده، چې په معاصر افغانستان کې يې ساری نه درلود.(۱۵)

د قانوني پاچايۍ نظام نه وروسته د پېړۍ تر پايه پورې نظامونه چې پر واک شول، په عمل کې د زورواکۍ او وژنې نظامونه وو.

د محمد داود په کودتايي نظام کې پرچميان د ثور کودتايي نظام کې خلقيان او د شوروي له يرغل نه وروسته بيا پرچميان په عادي حال کې هم د افغانانو د ژوند له مينځ نه وړلو عاملان شول. دغه وژنې د دوی د انقلابي فکر له مخې وې، چې د لينن او ستالين له ليکنو نه يې د شوروي اتحاد د کمونستي ګوند له لارې منلې وې. په نتيجه کې د لينن‌زم-ستالينزم کمونستي عقيدې، د افغان اسلامستانو لېوالتيا او د افغانانو انتقامي روحيې افغانانو ته خپل وطن دوزخ وګرځوه. ممکنه نه ده چې په دغو وختونو کې د افغانانو هغه ژوند پېښې هم پوره بيان شي، چې د جنګ له ډګرونو نه د باندې شوې دي. د دې مانا دا کېږي، چې وروستي نسلونه به په دې پوه نه شي، چې د دغه وخت ټولنې څنګه کار وکړ، يا څنګه په کار کولو کې پاتې راغله. اوازې به د تاريخ ځای ونيسي او راتلونکی نسل به د دغې دورې په هکله مسخ شوی نظر ولري او بده يې لا دا ده چې دغه تېروتنې به تکرار شي. هغه څه چې دلته اوس راوړل کېږي، د ۱۹۸۲ کال تر اپرېل يانې زما د بندي کېدلو پورې د عمومي وضع يو نيمګړی انځور دی چې مجاهدانو شوروي شوي افغانان څنګه له مينځ نه وړل او وروستيو څنګه هغوی او داسې هم ګوندي مخالفان او نور له مينځ نه وړل.

د شورويانو له يرغل نه وروسته ديني عالمانو يو ځای بل ځای په فتواګانو کې څرګندېده کړه چې څنګه چې د رسمي ګوند غړي «ملحدان» دي او د ملحدو کاپرو ملګري هم کوي، وژل يې روا دي. مجاهدو چې په دغه ډول ديني او اخلاقي وسلې ترلاسه کړې او څنګه چې دغه رجيم ملحدو يرغلګرو پر پښو درولی وو، نه په خپله افغانانو دوی د هغه چلوونکي «داخلي روسان»

ګډېل او لـه مـنځ نـه وړل. هغـه افغانـان هـم ځـپـل کېـدل چـې لـه پرچمیـانو او خلقیانو سره یې ملګرتیـا کولـه. د هغـو د ځپلـو یـو دلیـل دا و، چـې د هغـو او ګوندیانو ترمینځ توپیر ګران و او خلک په پټه هم د رسمي ګونـد غـړي کېـدل. پر هغه سربېره خاد هم د مجاهدو په تنظیمونـو کـې خپـل ایجنټان ننویسـتل. خلک په عام ډول او مجاهـدان پـه خـاص ډول د حکومتیـانو او ګونـدیانو پـه دوه مخیز توب سره هم د رجیم پر ضد شول، چې چلوونکو یې شورویانو تـه اطاعت او پر افغانانو زورواکي کوله. بیا نو په شک سره هم ژوند لـه مینځ نـه وړل کېده. پرچمیان له خلکو نه بېګانه شول. د ۱۹۸۲ په مارچ کې مـا پـه کابـل ښار کې پر خپلو تعلیم کـړو دوسـتانو کـې یـو ډول ذهنـي سـروې وکـړه؛ راتـه مالومه شوه، چې څنګه چې ګوندیان نه غواړي شورویانو ته له مریـي تـوب نـه لاس واخلي، له مینځ نه وړل یې روا شوي دي. نور افغانان هـم لـږ او ډېـر پـه همدغه فکر وو. ډېرو یـې لـه ګونـدي غـړو پـه تېـره لـه پرچمیـانو سـره اړیکـې وشکولې. نورو په عمومي ډول ګوندیانو ته لا کورونه پـه کرایـه نـه ورکـول؛ لـه دېنه یې هم ډډه کوله چې ورسره خپلوي او خېښي وکړي. په ځینو حالاتو کې حتی د هغوی د خپل فامیل غړو هـم رابطـه ورسـره وشـکوله. بلـه دا چې کلـه چې پر ګوندي غړي برید وشو او وبه وژل شو لارویو او نـورو بـه بـې تفـاوتي ښوولـه. ما هیڅ وانه وربېدل، چې چا به په دغسې پېښو کـې حکومـت تـه خبـر ورکړی وي، په داسـې حـال کـې چـې خلکـو پخـوا د قتـل پـه موضـوع کـې لـه حکومت سره مرسته کوله. نتیجه دا شوه چې د وژنې په محل کې بـه وژونکـی نه نیول کېده او خاد به وروسته کله کله کوم یو ونیولی شو.

په کابل ښار کې فرد وژنه د کب یا فبروری میاشتې لـه پـاڅون نـه وروسـته په پراخه اندازه پیل شوه. تر سرطان یا جولایـ پـورې وژنـې ډېـرې شـوې. پـه دغې مودې کې په کابل ښار کـې هـره ورځ د لسـو او دوولسـو تـرمنځ ګونـدي

غړي ترور یانې وژل کېدل. تر نومبر پورې دغسې وژنې هره ورځ تر درېیو پورې ښکته شوې، خو ترهګري دغومره عامه شوې وه، چې څه وخت به مهم ګوندي غړی ترور شو، خلک به یې په اړه ګړېدل؛ د عادي ګوندیانو په ترور کېدلو به خلک نه غږېدل، که څه هم هغوی به په رڼا ورځ کې ترور کېدل. پرچمیانو به د ترور ګوته حتی خلقیانو ته هم نیوله او هغوی به یې «اخوانیان» ګڼل. تر دغه وخته د دوی ترمنځ دښمني ښه ټینګه شوې وه او خلقیان چې ډېر یې وژګار شوي وو، تر خطر لاندې شوي وو. د ۱۹۸۰ تر اګست پورې اټکل درې سوه خلقیان یا له ګوند نه ایستل شوي وو، یا ښکته مقامونو ته ګمارل شوي وو. په دغه وخت کې دواړو ډلو د بېلو ګوندونو په شان ګوندي غونډې کولې.

د نوی کال (۱۹۸۱) تر پیل پورې د ترهګرۍ نوې څپه خوره شوې وه. شوروي سرتېرو په ښار کې د ګزمه کولو کار پرې ایښی و. په ګزمه کې دوی هم په خطر کې وو. ګزمه چې د پرچمیانو کار شو، دوی ته د ترهګرۍ خطر زیات شو. تر دغه وخت پورې د رجیم نظامي افسران، ګوندیان او سرتېري تر خطر لاندې شوي وو. د جنورۍ میاشتې په منځ کې د ښار له بېلو برخو په تېره له زمان خان کلا، قلعه نو، او قلعه واحد نه چې د تنګو کوڅو ګڼ ښارګوټي دي، د ترهګرۍ ډېر خبرونه خپرېدل. د فبرورۍ په دوهمې اونۍ کې د څلوېښت ګړیو په بهیر کې پنځه ویشت ګوندیان ترور شول. د ترهګرۍ په دغه شدید حال کې و، چې لومړی د نظامي خاد سیاسي آمر اکبري او بیا د پنځم لمبر خاد آمر حاجي سخي هم ترور شول. حاجي سخي چې د خاد «مغز» ګڼل کېده، په رڼا ورځ د شوروي سفارت ته نږدې سړک کې په دې ترور شو، چې د ساما د ګوند مشر مجید کلکاني یې نیولی او بندي کړی و، چې وروسته اعدام شو. داسې هم یو شمېر نور د نامه غیرګوندي کسان ترور

شول، چې له پرچمي رجیم سره یې همکاري کوله. پخواني جنرال میرفتح هزاره له همدغو کسانو نه و، چې رجیم ته اوښتی او د پلارنۍ جبهې غړی شوی و. د اګست تر میاشت پورې د ترور پېښې لړۍ شوې. سره له دې هم دکانو وزارت یو شوروي متخصص په نظامي درېشۍ کې د قومندان عبدالحق د یوه مجاهد له خوا په چل ونیول شو او د شپوه کیو اوزبین نغلو پر لار پاکستان ته ورسول شو او مولوي محمد یونس خالص ته تسلیم شو. له اکتوبر نه تر دسمبر پورې ترور بیا ډېر شو. مجاهدانو غوره ګڼله چې د ژمي په سړو کې که څه هم ډېر یې خپلوکورونو یا پاکستان ته تلل په کابل کې ګوندیان ترور کول. په دغه وخت کې به چریکي عملیات سست کېدل.(۱۵)

د ۱۹۸۲ په فبرورۍ کې صایمه مقصودي د تلویزیون ویندویه او په کابل پوهنتون کې زما پخوانۍ شاګرده هم ترور شوه. مقصودي ښه پیاوړې ویندویه او د هغو پرچمیانو په وړاندې ټینګه ولاړه وه، چې پښتنو خبرونو ته خنډ کېدل. په دغه وخت کې تلویزیون د ایډیالوجیکي پروپاګند او په دې چې هغه د کار او استخدام نوی مهم مرکز شوی و، خاص اهمیت پیدا کړی و. پرچمیانو د شوروي کولو پروګرام له مخې په تلویزیون کې هم لکه په کابل پوهنتون کې خپرونې د شوروي کلتور په ګټه کولې. نه د افغان کلتور په ګټه. د دغه مقصد لپاره د شوروي تاجکان او د ایران د کمونستي تودې ګوند غړي هلته په کار ګمارل شوي وو. شوروي شویو پرچمیانو دا کار د خپل کلتوري سیاست له مخې کاووه، خو نور افغانان په هرې ژبې چې ګړېدل وپارېدل.دوی دغه عمل کلتوري استثمار ګاڼه او په تلیفون کې یې اعتراض کاووه او حتی سپکې یې ورته ویلې چې له دغه استثمار نه لاس و اخلي خو ګټه یې ونکړه. ګټه یې ځکه ونه کړه چې هغه په اصل کې د شوروي مشاورانو د سیاست له مخې کېده او پرچمیان په تلویزیون او رسمي رادیو کې هغو ته د

مامورانو په شان وو. په پای کې دغه رقابت تولنې ته سرایت وکړ او د مقصودي له ترور نه وروسته د پښتو نامتو سندرغاړی خان قره باغي او نامتو سندرغاړې بخت زمینه هم ترور شول، خو مالومه نه شوه چې دا د چا کار و، خو د هغو په ترور او د نورو په پرار سره او دا چې تلویزیوني خپرونې پروپاګندې شوې وې، لیدونکي او اورېدونکي یې له لاسه ورکړل او افغانانو د بي بي سي او امریکې غږ رادیوګانې اورېدلې. د ۱۹۸۲ کال د مارچ په ۱۲مه د کابل پوهنتون رییس سعیدي او په کومه بله ورځ د مرکزي ځواکونو قومندان جنرال عبدالودود هم ترور شول. وروستی په خپل دفتر کې له مینځ نه یووړل شو او د سعیدي په اړه ویل کېدل چې هغه زهرجن شوی و. خو ډګروال محمد یوسف د هغه له مینځ نه وړل د مجاهدو کار بولي. حقیقت چې هر څه و، د هغه د جنازې مراسم د خلقیانو له خوا ډېر پراخ ونیول شول. دا به له دې امله هم وو، چې سعیدي له استادانو، محصلانو سره په ښه چلند کې نوم ایستلی او په خاص ډول خلقیانو ته یې د یوه پوه حیثیت پیداکړی و. بل کال د شوروي اووه افسران ترور شول، دوه یې د یوه اوولس کلن ځوان له خوا چې پلار یې د هغوی له خوا وژل شوی و په دهمزنګ کې د شوروي اتحاد په کلتوري مرکز کې چې په داسې حال کې چې هلته شورویانو ته فلمونه ښوول کېده ووژل شول. هلک د خلکو په ګڼه ګوڼه کې ځان وایست او وروسته پاکستان ته په تللو کې ورسره مرسته وشوه. د همدغه کال په پای کې د کابل پوهنتون د ډودۍ خوړلو په سالون کې د شوروي نهه استادان ووژل شول. دوی ته دمخه بمب ایښودل شوی و. په ۱۹۸۲ کې په کابل پوهنتون او نورو تخنیکي موسسو کې ۱۴۰ روسي متخصصانو او د روسي ژبې ۱۰۵ استادانو درس ورکاووه.(۱۶)

په ولایتي ښارونو کې هم ډېر ګونديان ترور شوي دي، په تېره خلقيان چې ترور له هغو نه پيل شو، د خلقيانو زور زياتی تازه و او د پرچميانو لا مالوم نه و. خو د دغو ترورونو په اړه دقيق مالومات نشته، لکه هسې چې دکابل ښار په اړه ماته مالوم و. پر خلقيانو باندې د ترهګرۍ بريدونه د حکومت په نسکورېدلو سره پيل شول. د کندهار په ښار کې ترورونه ډېر وو. په جنورۍ او فبرورۍ کې دننه په ښار او شاوخوا برخو کې يې ۱۳۰ خلقيان د ترهګرۍ په بريدونو کې له مينځ نه يووړل شول. دغه بريدونه د عادي خلکو کار و، نه د مجاهدو، هغه د کندهاريو په هغه انتقام کې و، چې د خلقيانو په واکمنۍ کې له مينځ نه وړل شوي وو د دوه غټ مثالونه يې دا دي چې د ټينګې اوازې پر بنا د هغوی په وخت کې د کندهار او هلمند اټکل سل تنه بنديان له الوتکو نه د ارغنداو په بند کې اچول شوي لکه چې يو شمېر بدخشانيان د والي منصور هاشمي په دستور د کوکچې په سين کې اچول شوي وو. هاشمي پخوا د ادبياتو په پوهنځي کې استاد او د صدارت په بندي خانه کې له ماسره په يوه کوټه کې اچول شوی او چې له بندي خانې نه ووت، د پوهنتون په ميدان کې په رڼا ورځ ووژل شو، چې بل مثال يې په کندهار کې د کرز لويان وو. چې شمېر يې اته څلوېښت تنه ښوول شوی. دوی د کندهار والي انجينر ظريف په امر له مينځ نه وړل شوي وو، دوی په هغه اعتراض له مينځ نه وړل شوي وو، چې حکومتي ماموران دې په سر شمېرنې کې يوازې د ښځو شمېر ثبت کړي، نه د هغو نومونه. انجينر ظريف بيا په پرچمي دوره کې په همدغه جرم اعدام شو. د تخار ولايت تالقانو ښار کې هم ډېر خلقيان ترور شول، خو په اړه يې دقيق مالومات نشته. د هرات په ښار کې خلقيان شايد تر هر بل ولايتي ښار نه ډېر ترور شوي وي، ځکه چې هلته لوی پاڅون شوی و او ډېر هراتيان له مينځ نه وړل شوي وو، چې زما د ثور کودتا نومي

اثر کې يې بيان شوی دی. په پرچمي دوره کې هم هرات دغومره ډېر نا ارام و، چې د ۱۹۸۰ کال په مې کې يوازې د والي هستوګنځی د رجيم په لاس کې و او هغه هم په ټانکونو او زغرورو وسيلو سره ساتل کېده. په هرات کې په دغه وخت کې تر ډېر وخت پورې هره ورځ د لسو او دوولسو ترمينځ ګونديان ترور کېدل. د مزار په ښار کې هم ترور کېده، خو په اړه يې مالومات نشته. په ولايتي ښارونو کې د ګونديانو د مړو په هکله بدعت هم شوی و، هلته به چې ګوندي غړي او د هغو مرستيالان ترور شول، ليکلی اخطار به هم ورکړل شو، چې ملايان دې د شرع له مخې د هغو جنازه نه کوي. په دغو اخطارونو عمل کېده، بيا به دغه ډول مړي په ورځو ورځو پراته وو او يا به له ديني او مروجي رسمونو نه پرته خښېدل.»(۱۷)

د ۱۹۸۲ کال د مارچ په ۲۲مه ما په خپل جورنال کې ليکلي وو، چې «په کابل کې د ګوندي غړو پرضد ترهګري ډېره شوې وه، مخالفانو خپل فعاليتونه د دې لپاره ډېر کړي چې د خلقيانو او پرچميانو ترمينځ دښمني نوره هم ټينګه شي. خلقيان په ترهګرۍ سره په زيات شمېر له مينځ نه وړل شوي دي او ويل کېږي چې دغه وژنې خادستان د خپلو لويانو په دستور کوي.»

ممکنه نه ده په يقين سره وويل شي چې د ۱۹۸۲ کال په اپرېل کې زما د بندي کېدلو تر وخت څومره ګونديان او مخالفان يې ترور شوي دي، دا خو لا پر ځای پرېږده چې د يرغلګر پوځ تر وتلو پورې به څومره افغانان ترور شوي وي. دغومره ويل کېدلی شي چې ډېر شمېر افغانان ترور شوي او زياتره ګونديان، نه ټول ګونديان، په خاصو هديرو کې خښ شوي دي. په کابل کې د مرنجان غونډۍ، چې ګونديانو د شهيدانو هديره بلله، د ګونديانو لويه هديره وه. هر ولايتي ښار د ګونديانو لپاره خاصه هديره لرله. د همدغسې ترور له

امله و، چې د وژنې روحيې په ټولنې، دولت او رسمي ګوند کې ځای ونيوه او تر کلونو پورې هلته پاتې شوه. ما د ۱۹۸۱ کال د جنورۍ په ۲۱مه د دغسې وژنو په اړه خپل احساس په دغه ډول ثبت کړی و.

«افغان ټولنه اوس وژونکې ټولنه ګڼل کېدلی شي. د اندېښنې وړ ځای دا دی چې د وژنې په موضوع کې هيڅ تحقيق نه کېږي. د انسان ژوند د مرغۍ د ژوند په شان شوی دی. دا چې ويل کېږي زور حق دی، اوس صدق کوي. پخوا به د قتل په موضوع کې تحقيق کېده. نه يوازې له هغو نه چې وژنه به پکې شوې وه. له ګاونډيو نه هم تحقيق کېده. په دې ډول د وژنې پر ضد په اجتماعي وجدان ويښ او پياوړی کېده، خو اوس وژنه دغومره ډېره شوې، چې يوازې يو څو تنه پرې خبرېږي. او يوازې خپل خپلوان پر وژل شوي وير کوي. مونږ بې روح او وچ شوي يو؛ نور نو د زړه سواندۍ او مينې انسانان نه يو؛ بې رحم او ويروونکي انسانان شوي يو. دا سمه نه ده چې يوه ټولنه وژونکې وګڼله شي؛ خو اوس افغان ټولنه دغسې ګڼل کېدلی شي، ځکه اوس دغسې حال دی چې پرچميان اخوانيان وژني او اخوانيان پرچميان، خلقيان او روسان وژني او روسان نه يوازې اخوانيان وژني، معصوم ملکي کسان هم وژني. دوی حتی پرچميان او خلقيان هم وژني. وضع اوس د وژلو ده، نه يوازې د جنګ په ډګر کې؛ د ښار په کوڅو او سړکونو کې هم، که څه هم هلته حال د جنګ نه دی. هيڅ څوک ځان مصون نه ګڼي او له دې امله ډېر بېرون ته تللي دي.»

«د وژنې په ډېروالي سره خلک بې تفاوت شوي دي، خلکو چې پخوا د وژونکي په نيولو کې له امنيتي ځواکونو سره مرسته کوله اوس د قتل په پېښه کې يوازې کتل کوي. پر دغې پېښې سوچ وکړي، چې پرون په رڼا ورځ د ميرويس ميدان په ګڼه ګوڼه کې وشوه. درې ځوانان د وژونکو په ګوليو سره په

مځکه ولوېدل. دوه یې کاري ولګېدل. یو وژونکی چې له خپلو ملګرو سره پـر موټر کې یو څه وړاندې تللی و، بېرتـه وګرځېـد، پـر هغـه ځـوان یـې چـې نـیم ژواندی و، بیا ګولۍ حواله کړې، او څـو ځـل یـې پـه لغتـه ووهـه او چـې ډاډه شوه، ساه یې ختلې وه، بېرته مـوټر تـه وختـه، کتونکـو د ویـرې یـا عقیـدې لـه مخې یوازې ننداره کوله. مالومه نه شوه چـې وژونکـی څـوک و. دوی پـه هغـه موټر کې له صحنې نه ووتل چې له هغه نه څرګندونې کېدلې، خو دا چـې دوی خادستان یا مجاهدان وو، مالومه نه شوه.» (۱۸)

# له کابل نه د باندې
# افغانستان د جنګ په حال کې

د کابل ښار وضع په ظاهر کې ارامه ښکارېده، په تېره د ورځې له خوا او د رجیم واکمني پرې چلېدله. رجیم البته د ټول افغانستان د حاکمیت دعوا کوله. په کابل کې د باندینیو هېوادونو سفارتونه خلاص او فعال وو. په تېره د سوشلستي کامپ هېوادونو، نورو هېوادونو د کابل رجیم په رسمیت نه پېژنده. خو سفارتونه یې په کابل کې تړلي هم نه وو، هغه خلاص وو او وړو چارواکو یې چلول. دغه سفارتونه د دې لپاره خلاص وو، چې حکومتونو یې غوښتل د هغو له لارې د افغانستان له جاري پېښو نه خبر وي.

له ښار نه د باندې افغانستان کې لکه چې دمخه ویل شوي، له یرغل نه زر وروسته مجاهدان خواره شول، وروسته بیا په لویو لارو او ځینو مهمو ستراتیجکي ځایونو کې د شوروي او رجیم نظامي پوستې ځای پر ځای شوې. رجیم لکه چې وویل شول، پر ټول هېواد حاکم وي، په داسې حال کې چې اطرافي سیمو په واقع کې یو پېژندل شوی حکومت هیڅ نه لاره. هو د رجیم او شوروي ځواکونو د افغانستان هره سیمه نیولی او لاندې کولی شوه، خو ساتلی یې نه شوه او حکومت یې پرې کولی نه شو او زر به تربنه ووتل او مجاهدان په پکې خواره شول، خو دوی هم واحده قوه نه لرله او حکومت یې پرې کولی نه شو، خو ځینې شخړې یې ورته فیصله کولې او امنیت یې ټینګولی شو. خو شوروي پوځونو به دوی بیا بېخایه کړل، دا په واقع کې یوه

تکراري پروسه شوه او دغه وضع و شورویانو ته د منلو و ړ نه وه، یو خو دا چې د نړۍ د دودهم زبرځواک په شان د دوی حیثیت او اعتبار زیانمن کاووه، نه یوازې په لویدیځې نړۍ کې؛ د وارسا د نظامي تړون او سوشلستي کامپ په هېوادونو کې او حتی دننه په امپراتورۍ کې هم بلکه دا چې څرنګه چې د پرچم رجیم پر ټول هېواد حاکم نه و، عواید یې نه لرل او لګښتونه یې هم ډېر وو، په تېره دغه وخت چې د جنګ و، په دغه حال کې شوروي اتحاد مجبور و چې د خپل تابع رجیم عادي لګښتونه هم پر غاړه واخلي. د شوروي حکومت د رجیم هره اداره تمویلوله او په خاص ډول خاد او امنیتي ځواکونه. د کرنې اوصناعت لپاره یې هم د پیسو تخصیص ښودلی. دوی حتی قومي لویانو او روحانیانو ته هم پیسې ځانګړې کړې وې او چارواکو یې د ښار ملایان دوولس زره او ښار نه دباندې اته دېرش زره ښوولې، خو دغه شمېر مبالغه ده. میتروخین دغو ټولو ته د پیسو تخصیص په اوږد ډول بیان کړی.[۱۹] دغه ټولې پیسې د یوه زبرځواک لپاره ډېرې نه وې. څنګه چې اقتصاد یې په بد حال کې و، چې په بل څپرکي کې به یې بیان وشي، دغه لګښت هم ورته اضافه او ګران و، خو هغه یې زغمه، په دغې هیلې چې د افغانستان په لاندې کولو سره به د هغه له طبیعي زېرمو نه چې ډېر وو، استفاده وکړي او خپل اقتصاد به پرې پیاوړی او د نزع په حال کې کمونزم به پرې وژغوري. ویل کېدلی شي چې دغه لګښتونه شوروي اتحاد ته لکه د پانګې اچولو غوندې و. مولف چارلیان هم وایي چې د افغانستان له یرغل نه د شوروي اتحاد اصلي مقصد د هغه له ډېرو طبیعي زېرمو نه ګټه وچتول و، چې غوښتل یې «...دغه هېواد په خپلې اقتصادي ساحې کې داخل کړي او د هغه له طبیعي زېرمو لکه تېل، یورانیم، کروم، منګانیز، مس، وسپنې، سکرو

او قیمتي ډېرو څخه چې یا پر خپل حال پاتې و، یا ورنه څه ګټه اخیستل کېدله، استفاده وکړي.»[۲۱]

شورویانو ته د رجیم د حاکم کولو لنډه لار د هغه د پوځ او نورو امنیتي ځواکونو پیاوړي کول وو، چې په تېر څپرکي کې پرې بحث شوی. دلته به دغومره وویل شي چې د شورویانو له دغو کوښښونو سره سره رجیم پر افغانستان حاکم نه شو او شوروي اتحاد مجبور شو په دغه اړه له خپل پوځ نه کار و اخلي، ځکه لکه څنګه چې په خپله شوروي نظامي افسران هم وایي چې «افغان پوځ د شوروي اتحاد د ډېرو وسلو او نظامي وسیلو سره سره په دولت کې د سیاسي بې ثباتۍ له امله نزدې پوره ناتوان و، نو د شوروي پوځونه په داخلي جنګ کې نور هم ښکېل شول.»[۲۱] شوروي اتحاد افغانستان ته ډېر پوځ استولی نه شو، یا یې په خپله نه استوه. د شوروي اتحاد امپراتوري چې ډېره پراخه وه، په ماهیت کې نظامي وه او شوروي اتحاد مجبور و، په نورو هېوادونو کې هم نظامي واحدونه ولري. له بلې خوا هغه څه باندې یو لک پوځ یې چې په افغانستان کې ځای پر ځای کړی و. ټول یې جنګ کولو ته ګمارلی هم نه شو. د پوځ پنځه اویا سلنه یې د روسي افسرانو په وینا د رجیم تاسیساتو، ارتباطي لارو او د امنیت لپاره ګمارل شوی و. رجیم له خلقیانو سره د ژور اختلاف له امله له خپل پوځ نه په اغیزناک ډول کار هم اخیستلی نه شو. په دغه حال کې د شوروي یرغلګر پوځ له ماشیني قوت، په تېره له توپ لرونکو هلیکوپټرونو نه ډېر کار اخیست او له ۱۹۸۲ نه د ۱۹۸۶ تر پایه پورې یې ډېر شدید عملیات وکړل، چې هغه «د مځکې سوزولو چلند» یا «د قالینې بمباري چلند» په نومونو یاد شول. له هغو نه مقصد دا و چې سیمې، لکه چې دمخه یې بیان شوی، له خلکو نه خالي شي، چې مجاهدان د هغو له مرستو نه محروم او ناتوان وي. په دې ډول هغه

اطرافي کلي او بانډې ډېرې بمباري کېدلې، چې مجاهدانو ته یې پناه او ډوډۍ ورکوله. شورویانو پر دې سربېره ډېورنډ ته نـږدې کلیـو کـې ډېـر ماینونـه هـم خښ کړل. د دې ټولو نتیجه دا شوه چې په پاکستان کې د افغان کډوالو پنځـه اتیا سلنه پښتانه او د هغو غټه برخه د لوی ننګرهار او لویې پکتیا اوسـېدونکي وي. روسي افسران هم وايي چې «د جنګ پېښه د لویې لارې او په ختیځ کې د افغانستان-پاکستان د پولې په اوږدو کې په خاص ډول شدیده وه.»(۲۲)

شـورویانو پـه عمـومي ډول پـه یـوې نظـامي عملیـې کـې د لـس زر نـه تـر پنځلس زر پورې سرتېرو او افسرانو برخه اخیستله، چې هغـوی بـه پـه یـوه یـا دوه موتوریزې ټوپک، هوايي توپونو او انجینري واحـدونو او جزوتـامونو کـې تنظـیم شـوي وو. د عملیـاتو تـر پیـل نـه دمخـه بـه د ټـاکلي سیمې لـه پاسـه اکتشافي الوتکو الوتنې کولې او بیا به هغه محاصره کېدله او پکې بـه عملیـات کېدل؛ کورونه به چورېدل، مظنون کسان به نیول کېـدل او د عسـکري خـدمت وړ ځوانان به وړل کېدل. په دغسې حال کې مجاهـدانو مقابلـه کـولی نـه شـوه. دوی به له عملیاتو نه دمخه ځانونه ایستل او یا به یې وسلې چیرته پټې کـړې، او د کلیو له خلکو سره به ګډ شول. توپ لرونکي هلیکوپټرونه به هره ورځ لـه کابل او بګرام نه د لویدځ او ختیځ په لور د زاټو په شان قطار قطار ډېـر جـګ روان و.

د پرچم رجیم دغسې تابع رجیم و، چې افسرانو یې په خپل وطـن کـې هـم د جنګ په ډګر کې د شوروي افسرانو په دسـتور عمـل کـاووه. دا چې نظـامي عملیات چېرته، څنګه او څه وخت کېدل، د شوروي افسرانو کـار و، عجبـه دا ده چې لوی عملیات د مسکو له اجازې نه پرته نه کېدل او د رجیم افسـرانو تـه په وروستي وخت کې خبر ورکول کېده. پر د وی باندې باور نه کېده، شاید لـه دې امله چې په رجیم کې وطنپالو افسرانو مجاهـدانو تـه مالومـات و رکـول. د

شوروي اتحاد هر عمومي منشي، چې په واقع کې د شوروي د امپراتورۍ لوړ او بې مسؤلیته واکمن و، د دغه جنګ پر څنګه والي بانـدې خاص اثر کړی دی. برېژنیف او چرننکو په نظامي زور سره د افغانستان لاندې کول غوښتل. د دوی په وخت کې جنګ شدید و. د اندروپوف په وخت کې سره له دې چې هغه د دغه جنګ اصلي محرک و، د مذاکرې لار جدي ونیوله شوه او له قومندان احمدشاه مسعود سره د اوربند تړون هم وشو. د ده په واکمنۍ کې شدید عملیات ونه شول. دوی ټول د پاخه عمر خاوندان او په مزمنو ناروغیو اخته وو، دوی ټول د افغانستان په موضوع کې نابریالي او ارمانجن لاړل. یوازې ګورباچوف چې د واکمن کېدلو په وخت کې ۵۴ کلن ځوان و، د نوی نسل پر استازیتوب په توګه دغه زړورتوب وښود، چې د یوه کال ډېر شدید جنګ په څنګ کې پر جدي مذاکرې هم لاس پورې کړي او بریالی هم شي. دغه مهمه موضوع به په دوو راتلونکو څپرکیو کې په اوږده ډول وکتله شي.

لکه چې دمخه ویل شوي د شوروي اتحاد په وسله وال یرغل سره د ښارونو، ولایتونو او ولسوالیو له مرکزونو نه پرته افغانستان د مجاهدو لاس ته ورغلی و، د پرچم رجیم کوښښ کاووه چې د یرغلګر پوځ په فعالي مرستې سره هغه تر خپل حاکمیت لاندې کړي. د دغه پلان غټ اړخ نظامی او یو څه اداري او سیاسي و. د دوی دغه پرېکړه په واقع کې د هغې اوازې په تایید وه، چې مسکو غواړي د اولمپیک د بین المللي لوبو څخه وروسته، چې هلته کېدلې په نظامي عملیاتو سره په افغانستان کې امنیت په خپله ګټه ټینګ کړي او رجیم پر ټول افغانستان باندې حاکم کړي. په دغه وخت کې د کابل پا څونونو او د مجاهدو فعالیتونو د ګوندیانو او حکومتي چارواکو معنویات ضعیف کړي وو. ببرک کارمل په ګوندي پلینوم کې هغوی ته ډاډ ورکړی و، چې شورویانو ورته وعده ورکړې چې «د ارتجاع او انقلاب ضد ځواکونه به

وځپـــــي» د ک. ج. ب د بانـــــدنۍ څـــــانګې مرســــتيال والادميــــر کريچکـوف(Vladmir Krych kov) چـې کابـل تـه راغلـی و، ورتـه پـه مشخص ډول ډاډ ورکړی و، چې «... د ۱۹۸۱ کـال پسـرلي او اوړي وروسـته به د انقلاب ضد ځواکونو ته د وروستي او پوره ماتې لپاره قـاطع وي.»[۲۳] د رجـيم چـارواکو بيـا د امنيـت د ټينګولـو او نظـامي عمليـاتو پـه کولـو سـره د ۱۹۸۰ کال په اګست کې افغانستان پر اتـو «زونونـو» يـا اداري لويـو واحـدونو وېشلی اعلام کړ، چې هر يو به يې له څو ولايتونو نه جوړ وي. په هغـه وخـت کې د افغانستان ولايتونه اته ويشـت وو. د هـر زون سـروال د ګونـد د مرکـزي کمېټې غړی او دهغه تر لاس لاندې يو دايمي کميسـيون وي، چـې لـه واليـانو او د شوروي اتحاد د نظامي واحد يو مشاور نه به جوړ وي. د زون سـروال تـه په اداري، سياسي اوامنيتي چارو کې لوړ اختيارات منل شـوي وو، خـو د هغـه اصلي دنده دا وه چې قومي، محلي او مذهبي مشران د پيسـو او سـوغاتونو لـه لارې د رجيم پر خوا واوړي او په دغه ډول د رجيم او خلکو ترمينځ اړيکې پر ځای او ټينګې کړي، خو څنګه چې دغه ترتيب په اصل کـې د هېـواد د لانـدې کولو لپاره نيول شوی و، امنيتي او نظامي چارې يې دغومره مهمې شوې چـې د شـوروي نظـامي مشـاور، چـې هغـه هلتـه د نظـامي واحـد قومنـدان و، ډېـر اهميت وموند. دغه واقعيت او د شوروي مشاور له غرور نه ډک چلنـد د زون د سروال او هم دغه ټول ترتيب عادي او اداري سطح ته کوز کړ، غير لـه هغـه هم دغـه خـاص ترتيـب د نظـامي عمليـاتو، بمبـاريو او وژلـو لـه املـه اغيـزمن کېدلی نه شو. په نتيجه کې دغه ټول ترتيب چې رجيم ورته ډېـره هيلـه لرلـه او په هکله يې ډېر پروپاګند کاووه، هغسې بې اغيزې شو او له مينځ نه لاړ، لکـه د رجيم موقتي اساسي قانون او د پلار وطني ملي جبهـه بـې اغيـزې او ناکامـه شوي وو.[۲۴]

په دغه حال کې د پخوا په شان نظامي عملیات زیات شول او د دې لپاره چې لویې لارې خوندي وي، په مهمو برخو کې یې نظامي پوستې یا تهانې واچولې او له «ښار نه تر کلي پورې» شعار ډېر ویل کېده، خو د لویو لارو د خوندي ساتلو غټ مشکل دا و، چې مجاهدو پر هغو کاروانونو او ترافیک باندې په اسانۍ برید کولی شو، چې هغه د لویو کلیو نه تېرېدل. روسانو بیا د مجاهدو د دغسې فعالیتونو د مخنیوي لپاره د کلیو شاوخوا کلي بمباري کول. د غزني، مقر شاوخوا کلي په سلو کې اتیا په دغه ډول تخریب شول. د کابل- ګردیز د سړک په اړه پلان دا شو، چې ټول هغه کورونه، باغونه او ودانۍ چې د سړک په ۱۵۰ مترۍ کې پرتې وې باید ورانې شي او نظامي پوستې پرې واچولې شي. دا چې دغه پلان تر کوم حده عملي شو، په یقین سره مالومه نه ده، خو د لوګر په برخه کې په هغه عمل وشو او د ډسمبر په میاشت کې ډله ډله ټانکونه د سړک پر غاړه ځای پر ځای شول او د شاوخوا کورونه د مجاهدو د نیولو لپاره ولټول شول. پر خلکو باندې د دغو ورانیو اثر د محمداغې د یوه سپین ږیري له دغې وینا نه اټکل کېدلی شي چې د منو یوه غټه و نه یې وهل شوې وه او د ده زاریو هیڅ اثر نه و کړی. ده بیا پر یوه دېوال ډډه وکړه او پورته اسمان ته یې سترګې ونیولې او غبږ یې کړ چې «او خدایه! چیرته یې؟ نه یې وینې؟.» د یوه سپین ږیري ټینګ مسلمان په دغه ډول ګړېدا د ناهیلي توب اخري حد ښیي. خو دی نېکمرغه و، چې یوه ونه یې له لاسه ورکړه، نه خپل ژوند، په داسې حال کې چې د ۱۹۸۰ کال په اکتوبر کې روسانو د لوګر پر سړک باندې څلوېښت تنه پلي تېرېدونکي د دې لپاره ووژل چې د کابل- ګردېز لویه لار د کاروانونو او ترافیک لپآره خوندي وي. د کابل –سالنګ پر لار هم ورته ګامونه واخیستل شول. د قره باغ او سرای خوجه بارازونه او د سړک په دواړو غاړو کې کلي او کورونه هم وران

شول. هغه دنګې غټې ببرې ونې چې د سړک په دواړو خواوو ولاړې وې، او دغه ښارګوټي یې ښکلي کړي وو، هم قطع شولې.[۲۵]

د ولایتي مرکزونو په شاوخوا پر لویو سړکونو باندې هم په مهمو ځایونو کې نظامي پوستې واچولې شوې او ماینونه خښ شول. د ۱۹۸۰ کال تر پای پورې د کابل-جلال‌اباد پر لویې لار باندې څلویښت پوستې جوړې شوې، خو د کابل-کندهار پر لار باندې پوستې نه وې، پر هغې باندې راکټونه او بمونه حواله کېدل. خو نظامي پوستو و موټروانانو او عابرانو ته ستونزې پېدا کړې. د سالنګ-کابل او کابل-جلال‌اباد د لارو له پوستو څخه شوروي سرتېرو د لاریو بارونه چورول او بیا به یې هغه او داسې هم خپل دولتي سامانونه د ټوپکو په زور پر نورو موټروانانو په ارزانه بیه پلورل. دوی به افغان موټروانان اړ کول چې چرس پرې خرڅ کړي. ډېرو موټروانانو به چرس د دې لپاره هم له ځانونو سره وړل چې شوروي سرتېري پرې معتاد کړي. دغسې معاملې کله کله د ژوبلې مرګ لامل کېدلې. شوروي سرتېرو د جلال‌اباد ختیځ کې د سمرخېلو د لرګیو فابریکې ته نزدې له کوم کلي نه چرس ترلاسه کول. د ۱۹۸۰ په اګست کې یوه ځانګړي سرتېري غوښتل هلته په یوه کور ننوځي، چې چرس یا پیسې ترلاسه کړي، خو د کور وره ته په رسېدلو سره شکمن شو، چې کور وال ورته کوم چال جوړ کړی، ده بیا د کورنۍ پر غړو ګولۍ واورولې او له یوه نه پرته چې تښتي او وروسته مړ شو، نور ټول ووژل، خو رجیم څرګنده کړه چې دا د «یاغیانو» کار و.

ډېره خطرناکه لا دا وه چې شوروي سرتېرو بې له دې چې پارول شوي وي، د سرویسونو پر سپرلیو هم ډزې کولې. دغه وژنې به د هغو شوروي سرتېرو د وژل کېدلو په انتقام کې وې، چې په بل ځای کې به وژل شوي وو. دغسې وژنه یوه ځانګړې پېښه نه بلکې د وژلو د کړۍ یوه برخه وه. د ۱۹۸۰

په ډسمبر کې د کابل-جلال اباد په لاره کې روسانو په یوې دغسې پېښه کې اته تنه شهید او نور ټپي کړل. موټروانانو بیا د دوه ورځو لپاره پر دغه لار له موټر چلولو نه ډډه وکړه. تر هغه دمخه د نومبر په اتمه سالنګ ته نږدې دوه موټروانان په همدغه ډول د روسانو له خوا ووژل شول او نورو موټروانانو د څو ورځو لپاره د کورنیو چارو وزارت په مخ کې د اعتراض اواز جګ کړ. او نورو ډېرو افغانانو روسان «وحشي» بلل. پر دغسې وژنو سره سره هم شورویانو ونه شو کولی پر لویو لارو باند ې کنټرول ټینګ کړي. مجاهدانو به زیاتره کابل ته د رسېدلو لویې لارې بندولې. کابل به په تنګه کې نیول کېده او تېل او د خوړو څیزونه به ورته نه رسېدل. عجبه وه چې وسله والو مجاهدانو به هم پر دغو او نورو لارو باندې ترانسپورتي وسیلې لټولې. دوی به په ځینو ځایونو کې دغه لټونې روسي سرتېرو ته به نزدې فاصله کې هم کولې. روسانو به ورته رډ رډ کتل، بې له دې چې مخه یې ونیسي، یا نیولی وشي. مجاهدو لا د کابل په خیرخانه کې د وړلو وسیلې لټولې. دغو مجاهدو او شوروي سرتېرو په واقع کې په عین دښمنۍ کې یو ډول ګډ ژوند غوره کړی و.[۲۶]

**اسمار**

د کابل له پاڅونونو نه وروسته ځینو ولایتونو ته پوځونه واستول شول، چې له پاکستان نه د مجاهدو د راتګ په مخ کې خنډ وي. د کونړونو په سر کې د اسمار سرحدي چونۍ ته ډېره توجه وشوه. اسمار د خلقي حکومت په وخت کې د قومندان عبدالروف ساپي په تدبیر د حکومت له کنټرول نه ایستل شوې او شورویانو غوښتل هغه بیرته ترلاسه کړي. لومړی یې د اسمار چونۍ شاوخوا ځایونه په الوتکو او هلیکوپټرونو سره بمباري کړل او بیا یې له هوا نه سرتېري ور ښکته کړل او اسمار یې ونیوه، خو همدا چې هوایي ځواک له سیمې نه ووت مجاهدانو له شاوخوا غرو نه پرې ودانګل او شوروي سرتېري

يې له مينځ نه يووړل او يو شمېر افغان سرتېري يې ژوندي ونيول. شورويانو بيا د اسمار شاوخوا سيمې بمباري کړې او په اسمار او بري کوټ يې قبضه وکړه او د کونړ له مرکز اسداباد له نهمې فرقې نه يوه قوه هلته ځای پر ځای کړه. د اسمار او شاوخوا سيمو خلک يانې مشوانيان له ډېورنډ کرښې نه واوښتل او کډوال شول. سره له دې هم شورويانو ونه شو کولی د مجاهدانو لار بنده کړي. د يادولو وړ ده چې د ډېورنډ کرښې مشوانې د کرښې په دواړو خواوو کې مځکې لري او کرښه هغو ته بين المللي نه ده.[۲۷] د دغو چونېو د خاص اهميت له امله په اسمار کې د شوروي د خاص ځواک سپتناز (Spetsnaz) يوه کنډک تر څنګه د رجيم يو دېرشم غرني غونډ او په بريکوټ کې يو پنځوسم غونډ ځای پر ځای شو، خو دغه پوستې او داسې هم د اسداباد نهمه فرقه هم د محاصرې په حال کې وې او پر شاوخوا سيمو يې اثر کولی نه شو. مجاهدان ورته په شاوخوا هسکو او مرکزونو کې پراته وو، خو دغو پوستو د رجيم له نورو پوستو نه غټ توبير لاره او هغه دا چې خپل اړين څيرونه يې له خلکو نه د پيسو په بدل کې ترلاسه کول، لکه اوړه، وريژې، غوړي، لوبيا او داسې هم پترول، ډيزل او د څراغ تېل کله به له دغو پوستو څخه د دغو څيزونو په بدل کې وسلې هم ترلاسه کېدلې او مجاهدانو او آی‌اس‌آی د دغسې راکړې ورکړې مخه نه نيوله يا نيولی نه شوه. د ډګروال يوسف په وينا «مونږ ډېر لږ کولی شول چې د دغې راکړې ورکړې مخه ونيسو، ځکه چې د مجاهدو د کاروانونو لار د دغو قومونو له سيمو نه تېرېږي او که ځايي خلک وپارېږي، دوی به لارې بندې کړي.» داسې هم قومي خلکو د وړلو راوړلو وسيلې هم لرلې چې د رجيم پوځونو ته يې څيزونه رسول. دغه وسيلې هم د مجاهدو له بريدونو څخه په امن کې وې، دی دا هم وايي چې «د وخت په تېرېدلو سره د افغان پوځ له خوا د قومي خلکو لاريو

او سرویسونو په کرایه نیول چې لېږي پوستو ته یې څېزونه رسول، یوه منلې طریقه شوه. دغو خلکو په پاکستان کې د هغو وسلو سوداګري کوله چې د خاد له ایجنټانو نه یې ترلاسه کولې... نو زه به وایم چې دغه قومونه هغه خلک وو، چې له دغه جنګ نه یې ډېره ګټه وچته کړه. سره له دې هم دوی به کډوال ملامتول چې د دوی اقتصاد یې زیانمن کړی دی.» دی په پای کې وایي چې «زه له نظامي نظر نه باور لرم چې که دغو پاکستاني قومي خلکو زمونږ دښمنان په دغه ډول حمایه کړي نه وای، هیڅ افغان پوستې به د پولې په پنځوس کیلومترۍ کې هم توخته کړی نه وای.»(۲۸)

# کامه

کامه د یوه سرحدي ښارګوټي په توګه په ننګرهار کې د جلال‌اباد له ښار نه وروسته مهم ښارګوټی و. بل اهمیت یې دا وچې له کامې نه پېښور ته لویه لار غزېدلې ده او په دغه وخت کې د مجاهدانو لوی معبر و، کامه د مومندو د نورو سیمو پرخلاف په یوې ښېرازې سیمه کې پرته ده؛ شمال او ختیځ ته یې څو غرونه پراته دي، په لویدیځ کې یې د کونړ سین او په سهیل کې یې د کابل سین روان دي. د کامې د خاص ستراتیجکي اهمیت له امله و، چې کابل ان د حمل په ۹مه، ۱۳۵۹/مارچ۳۰- ۱۹۸۰ پوځ ورواستوه، چې له ډېرو نښتو وروسته یې هلته یوه نظامي پوسته واچوله. دا وخت مجاهدانو نه لازمي تیاري او نه هم عصري وسلې لرلې. شورویانو داسې هم د جلال‌اباد-تورخم لارې ته ورڅېرمه په سمرخېل کې ۶۶ م موټوریزې غونډ میشت کړ. چې له

یرغلیز واحد، د توپ له واحد، انکشافي واحد او نورو نه جوړ و، مجاهدانو دغه غونډ د «تندر» په نامه یادوه، چې په اصل کې د وسله والو مخالفانو یا په اصطلاح «یاغیانو» پر ضد یو غونډ و، دغه غونډ کامه هم تر څارنې لاندې نیولې وه. دغسې غونډونه د افغانستان په نورو ځایونو کې هم ځای پر ځای شوي وو، له ۶۶م غونډ نه پر کامې باندې اووه ځله بریدونه شوي، او مجاهدانو هم له دفاع نه سربېره له کابل سین نه اخوا پر دغه غونډ باندې هم بریدونه کړي دي. مجاهدانو د شورویانو په راتګ سره خپل ټاکلی مرکز پرېښود او له نورو ځایونو نه یې عملیات کول. او په خپله یې متحرک ژوند لاره.

قومندان مولوي عبدالشکور یاسیني د ۱۹۸۱ کال د اپرېل په ۱۷م د دغه غونډ پر ضد د برید ترتیب ونیوه. د ګرداو د کلي اوسېدونکي مولوي یاسیني اول د مولوي خالص اسلامي حزب او بیا د ملي اسلامي محاذ د تنظیم غړی و او تر پایه پورې یې په کامه کې د شوروي یرغلګرو او کابل رجیم پر ضد جهاد کاووه. جهاد یې یوازې دفاعي نه یرغلیز هم و، په دې مانا چې مجاهدانو به یې د سین نه اخوا په سمرخېل کې هم پر غونډ باندې بریدونه کول. دغه برید یې شاید لومړنی یرغلیز برید وي، خو په دغه وخت کې یې نه ښې وسلې لرلې او نه یې جهادیان په زیات شمېر د ده په ډله کې تنظیم شوي وو. په هر حال دی د کامې په ختیځ کې د خپل ګرداو کلي نه له ۴۲ تنه مجاهدانو سره د کامې نه اول د درګو چینې ته او بیا د ماماخېل او بیا د کامې کلي کې واړول او خپل وراره شاهپور یاسیني یې د نورو مجاهدانو په ملګرتوب په برید مامور کړ. دوی د جمالي کلي په لار به ببله کې له سین نه په جالو کې تېر شول او د سمرخېل په کلي ننوتل. له دوی سره هاوانونه او د RPG وسلې وې. دوی د شپې په لس بجو کې د دوه ګړیو په بهیر کې په

وقفو سره پر غونډ ګولۍ واورولې او په سباوون کې له خپل مشر قومندان مولوي یاسیني سره په درګو چینه کې یو ځای شول او ټولو نور هم پاس غرو ختلو ته مخه کړه، چې د شورویانو د مقابلې حملې نه په امان وي. هغوی له خپلو هلیکوپټرونو نه د درګې غره سهیل ته په میرجي ګولي کې او داسې هم د ګیدړو غونډۍ کې په لمرخاته مهال کې سرتېري ښکته کړل، او کامې نه د وتلو لار د مخه یې هم بنده کړه او د خلکو په نیولو او بندي کولو یې پیل وکړ. مجاهدان په وړو وړو ډلو ویشل شوي وو، خو د تجاهل په قومنداني، یوه دیارلس کسیزه ډله پاس غرونو ته د تنګ په حال کې د شورویانو تر برید لاندې راغله او راکټونه پرې حواله شول. دوی هم تر اخر کس پورې ګولۍ واورولې، تر څو چې ټول شهید شول. په خپله لوی قومندان یاسیني په خپل شل ټکه ماشین ګڼ سره پر هلیکوپټرونو فیرونه وکړل، خو دی ترینه روغ ووت او شورویانو ده ته ورته یو بل کس ونیوه او د جلال‌اباد ښار کې یې ګرځوه، چې دا دی د «یاغیانو» مشر قومندان مولوي یاسیني مو نیولی. خو ورته زر مالومه شوه چې دوی تېر وتلي وو. شووریان په کامه کې تم شول، خو څنګه چې له مجاهدو نه په امان نه وو له دوه ورځو تېرولو وروسته ترینه ووتل، خو تر هغه دمخه یې د هغو دیارلس شهیدانو مړي په کیمیاوي موادو سره په دغه ډول شړولي وو، چې د وړلو نه وو او ځای پر ځای خښ شول.(۲۹)

شورویانو بیا د ۱۹۸۳ کال په فبرورۍ کې پر کامه باندې د لاس بري تکل وکړ. سرتېري یې له کابل سین نه تېر شول او د تېرا نه غشي په میدان یې واړول. ورپسې یې د فبرورۍ په ۱۵م سباوون کې په شل دېرش هلیکوپټرونو کې نور سرتېري د کامې په شمال او ختیځ غرونو کې ښکته کړل. په دې ډول کامه له درې خواوو نه محاصره شوه. شورویان چې په ټانکونو کې دمخه

کېډل او د محاصرې کړۍ يې تنګوله، د قومندان عبدالباقي بلوڅ مجاهدانو پرې ډزې کولې. مولوی ياسيني وايي چې هغه د ده د ډلې سرګروپ و، په هر حال دا د شاوخوا ۳۵تنه مجاهدانو يوه ډله وه. په کامه کې د مجاهدو نورې ډلې هم وې، ددوی ټولو د مخابرو وسيلې ابتدايي وې او پيغامونه به مجاهدو او ولسي خلکو مخابره کول. د قومندان بلوڅ مجاهدانو د کامې په سهيل کې چې د ببرو بوټو شنه سيمه وه، ځانونه پټ کړل او پر يرغلګرو باندې يې له بېلو ځايونو نه ډزې کولې، خو دوی دمخه کېډلای نه شول، تر څو چې د سپکو تلفانو له ورکولو نه وروسته له ميدان نه ووتل او پېښور ته پر شاشول. په دغو نښتو کې چې ټوله ورځ وشوې، ډېر خلک تلف شول. او ډېرې کورنۍ پېښور ته کډوالې شوې.(۳۰) دغې پېښې وښودله چې کامه به په سمرخېل کې د شوروي له غونډ نه په امن نه وي. لوی قومندان مولوي ياسيني د دې پر ځاي چې په کامه کې د غونډ د بريد په وړاندې دفاعي ترتيبات ونيسي، په سمرخېل کې يې په خپله پر غونډ باندې د خپلو قومندانانو په مشوره د بريد کولو پرېکړه وکړه، چې شورويانو ته د دوی د يرغل څلورمه کاليزه ترخه کړي. مولوي ياسيني د شوروي په ۶۶م غونډ باندې د خپلو ۱۵۰ مجاهدانو په قوت د ۱۹۸۴ کال د ډسمبر په ۲۹مه د بريد بندوبست ونيوه. له دوی سره دوه اتيا ملي متر راکټونه، دوه ټانک ضد راکټونه (RPG-7)، يو پس لګد ټوب، پنځه يا شپږ ټانک ضد ماينونه او د توپ ۲۵۰ ګولۍ وې. مجاهدان د شاهپور ياسيني په قومندانۍ په څلورو ډلو کې تنظيم شول، چې د يوې ډلې مشر عبدالبصير ياسيني د لوی قومندان زوی و، دغه وسيلې له بريد نه دمخه پر خرو او قاطرو باندې بار شوې او له کابل سين نه په جالو کې اخوا ګردي کڅ ته يووړل شوې او له بريد نه دوه ورځې دمخه د خواجه حنفي بابا غره کې ځای پر ځای شوې، دغه غونډۍ پر چونۍ باندې حاکمه وه. د ځايي

مجاهدانو په مرسته د چونۍ د مخې په سړک ماینونه ښخ شول. د شپې په یوولس بجو چې شورویان ویده وو، پرې برید وشو، هغو هم زر په راکټونو، توپونو او ټانکونو او داسې هم له جنګي لاریو نه ډزې پیل کړې. د دواړو خواوو په پرله پسې ډزو او د باراني شپې په تالندې او برېښنا سره توره شپه رڼا شوه. ډزې تر سهار پورې روانې وې. د رڼا په خورېدلو سره هلیکوپټرونه او الوتکې هم په هوا کې ښکاره شوې او پر هدفونو باندې یې راکټونه حواله کول. ټول مجاهدان په ګرداو کې له خپل لوی قوماندان سره یو ځای شول، بې له دې چې کوم یو یې حتی ټپي شوی وي، خو پر شورویانو باندې برید سخت تمام شو. د وروستیو مالوماتو له مخې له هغه نه شاوخوا دوه سوه کسان ټپي او وژل شوي وو.(۳۱)

شورویانو د ۶۶م غونډ نه د پورتني بریالي او درانده برید په انتقام د بل کال ۱۹۸۴ په مارچ کې پر کامې باندې د بریدد تکل وکړ، خو له سین نه د تېرېدلو په وخت کې مجاهدو د دوی یو ټانک له مینځ نه یووړ. مجاهدانو د سین په دواړو غاړو کې د میرزا خېل او ګردي کڅ ترمنځ د لوخو د شنو بوټو نه ډک ټاپوګانو کې ورسره مقابله وکړه او له سین نه یې د هغو د تېرېدلو مخه ونیوله. خو شورویانو هم په دغو ټاپوګانو کې مجاهدان تر سخت فشار لاندې ونیول. یوولس تنه یې شهید او یو څو یې ټپي کړل او د اعوذبالله په نامه مجاهد او یو بل یې ترینه ونیول. دوی شپږ ورځې د دغو ټاپوګانو له پاسه سر پر سر هلیکوپترونه ګرزول، خو هیڅ خوا خپل مړي ترلاسه کولی ونه شول او شهید شوي مجاهدان د سورلنډیو او ګیدړو خوراک شول. شورویانو هم ونه شو کولی د شل زره افغانیو په بدل کې خپل مړي تر لاسه کړي. مولوي یاسیني افغانان منع کول چې له شورویانو سره د هغو د مړو په

پیدا کولو کې مرسته وکړي. د دې لپاره چې د هغه په وینا «پربېږدئ چې د دغه ملک کارغان هم خپله مناسبه برخه ترلاسه کړي.»(۳۲)

مولوي یاسیني او مجاهدانو یې تر پایه پورې له کامې نه د شوروي یرغلګرو په وړاندې جهاد وکړ. په عین حال کې یې د امریکې چارلي ولس، چې د هغه ملک د ولسي جرګې یو نامتو غړی او د افغان مجاهدو ټینګ پلوی و او هغو ته یې د وسلو او مرستو کولو لپاره خپل حکومت په بري سره هڅولی و، افغانستان ته په راتلو کې ورسره ملګرتوب وکړ او داسې هم هغه د امریکې د نومیالی تلویزیوني جورنلست ډاین رادر په خپله جبهه کې د جهاد له چارو سره اشنا کړ. ده درې تنه شوروي سرتېري هم چې د کابل سین پر غاړه یې مېله کوله ونیول او له هغو نه یو یې د ناوموف په نامه مسلمان شو. پښتو یې هم زده‌کړه او په پای کې په کاناډا کې میشت شو. مولوي صاحب په تنظیمي دوره کې د جلال‌اباد د شورا غړی و. څو موده کېږي چې په خپله دی هم د امریکې د کلیفورنیا ایالت په فریمان کې د خپل زوی عبدالنصیر یاسیني په کور کې اوسېږي، چې وروستی دلته د افغان کلتوري ټولنې مشر دی. مولوي یاسیني د ډېرو مالوماتو خاوند او یو ښه غوریالی شخص دی.

دی ښه شاعر هم دی.

# سرخ رود

له فتح اباد نه تر جلال‌اباد پورې سرخ رود یوه پراخه، اواره کرنیزه سیمه ده له څو ښارګوټو چارباغ، سلطانپور، کټه پور، بالاباغ او ډېرو کلیو سره دجهاد په شروع سره قومندان ادم خان او رسول خان په تور غره کې د جهاد لپاره مرکزونه جوړ کړل. خو هغوی زر شهید شول. څنګه چې سرخ رود د دوو لویو سړکونو ترمنځ یوه هواره سیمه ده، پوځي عملیات پکې ستونزناک نه دی. له همدې امله به و، چې یرغلګر پوځ د مې (جوزا) په میاشت کې هلته لوی عملیات پیل کړل. تر دغه وخت پورې څو تنظیمونو ته منسوبو مجاهدانو د دواړه سړکونو په اوږدو کې په کلیو او هم د تور غره په وړو تنګو درو کې مرکزونه جوړ کړي وو. یرغلګر پوځ غوښتل دغه مرکزونه وران کړي او د سره رود ولسوالي بېرته فعاله کړي. دوی له جلال‌اباد نه کټه پور ته چې د مجاهدانو یو لوی مرکز و، رسېدلي نه وو، چې اسلامي حزب ته منسوب له اتیا مجاهدانو نه پنځوس تنو یې د محمد اصف په قومندانۍ پرې برید وکړ او د هغو د راتګ مخه ونیوله. هغوی چې ټول په عصري وسلو سمبال وو او مغرور مالومېدل، په متقابلو ډزو لاس پورې کړ، یو څو یې لا پیاده دمخه کېدل او په داسې حال کې چې د مجاهدانو پر ځایونو یې ګولۍ اورولې د غره په لور مخه وکړه. د قومندان اصف په وینا «دوی یو څه متجاوز وو او زمونږ ډزو دوی قطع کړل. شورویان پر خپلو وینو کې ولمبېدل. شورویانو زما پر ځایونو په پراخ ډول د توپونو باران جوړ کړی و. ما خپله قوه د تیارې په خورېدلو سره د درې په سر کې د غره څنډې ته و رسوله او بیا د لویدیځ

په لور يوې بلې درې ته واوښتلو او د درې په خوله کې کټه پور ته ورسېدلو.»
شورويانو لا دمخه په کټه پور کې وژنه پيل کړې وه او خپل دوه مړي يې هم پرې ايښي وو. د هغو د ترلاسه کولو لپاره چې بېرته راغلل اووه تنه نور يې هم له لاسه ورکړل. دوی بيا د هغو په انتقام کې په بالاباغ او کټه پور کې ډېر جنګ او حتی ځاروي ووژل او بيا فتح اباد ته لاړل او په فتح اباد، بالاباغ او سلطانپور کې يې درې پوستې واچولې او په کليو کې يې لټول پيل کړل، چې له امله يې ډېر خلک د لويديځ په لور او مجاهدان په تور غره کې خپلو مرکزونو ته لاړل. د ځينو مجاهدو په وينا «شورويانو په دغو دوولس ورځو ښتو کې يو زر او اته سوه خلک په سره رود کې له مينځ نه يوووړل. دوی زياتره ملکي خلک وو. شورويانو فکر کاووه چې دوی به مجاهدان ايستلی وشي، په خپل نابريالي توب سره زړه خوړين شول. شوروي سرتېرو د ځناورو په شان وژل او لوټ وکړ.»(۳۳)

په سره رود کې د شورويانو له دغې عام وژنې سره سره د مجاهدو مرکزونه پر ځای پاتې وو او دوی د تور غره له دغو مرکزونو نه کار اخيست. په يوې خوا کې يې د کابل-جلال اباد سره نظامي پوستې ورانې کړې وې او په سره رود کې يې پر نظامي پوستو بريدونه کول او محلي حکومت يې له کار نه ايستلی و. په کال ۱۹۸۰ کې څلور يا پنځو تنظيمونو ته منسوب شاوخوا دوه سوه مجاهدان د قاري الله ګل په لويې قومندانۍ د تور غره په مرکز کې ځای پر ځای شوي وو. شورويانو د همدغه کال په جولايۍ کې د دغې پوستې د له مينځ نه وړلو لپاره عمليات پيل کړل او له سره رود، جلال اباد او درونټې نه پرې رادمخه شول. دلته يوازې د قومندان عبدالله (لغماني) په مشرۍ د پنځه ويشت مجاهدو مقابله بيان شوې ده، چې په ټانک-ضد راکټونو (RPG-7) کلاشنکوفونو، برناو (شل ټکه ماشين ګڼ (M26) او

ټوپکونو سمبال وو. د غره له شمال-لویدیځې خوا نه د شوروي ټانکونو له خوا دزې پیل شوې. له جلال‌اباد نه د (Bm-21) راکټونه او له هوا نه له هلیکوپټرونو نه توغندي پر دغه مرکز حواله شول. د قومندان شیر پاچا په وینا «دوی غره ته اور واچوه، بیا شورویان غره ته راوختل، مرکز ته ورسېدل او درې ورځې یې جګړه وکړه. په ځینو ځایونو کې جنګ لاس په لاس شو. مونږ نه شو کولی [له چارباغ] نه د هغو مرستې ته ورشو، ځکه چې شورویانو دغه سیمه تړلې وه. زمونږ مجاهدانو تر هغو چې وسلې لرلې، جنګ وکړ او ټول شهید شول. شورویانو دغه مرکزونه وران کړل او په غره کې یې ماینونه خښ کړل.»(۳۴) په دغې نابرابرې جګړې کې د دغو شهیدانو قرباني د حیرانۍ وړ ده. دوی کولی شول چې لکه ویل کېږي د مېږه هم خرپ او هم ترپ دی، ځانونه له مرګ نه بچ کړي، خو قومندان عبدالله د مخه قومندان پاچا ته ډاډ ورکړی و، چې «تر هغو چې زما د برناو اواز اورې ته پوه شه چې مونږ مقاومت کوو. مونږ په قران مجید باندې لوړه کوو، چې خپل ځایونه به خوشې نه کړو.»(۳۵)

# لغمان

لغمان (پخواني لمپاکا) کابل رجيم ته له دې امله مهم و، چې د کابل- جلال‌اباد سړک د هغه له يوې برخې عزيزخان کڅ نه تېرېږي، چې د تور غره او کابل سين ترمينځ غزېدلی دی. لغمان درې برخې لري. د لغمان په سر کې د الينګار او الی شنګ اوږدې لويې درې دي چې د کاوون له لوړ غره نه پيل کېږي او د لغمان مرکز مهترلام پورې رسېږي. وروسته بيا پراخ او هوار لغمان دی چې د درونټې تر پله پورې رسېږي. د عزيز خان کڅ د لغمان يوه برخه ده، چې د کابل سين پر غاړه اوږده پرته ده. د کابل-جلال‌اباد د لوی سړک مامون کېدلو لپاره لغمان بايد د رجيم په لاس کې وي، خو لکه چې دمخه ويل شوي مجاهدان له يرغل نه زر وروسته له مهترلام مرکز نه پرته په ټول لغمان کې خپاره شوي وو. شوروي پوځ هم له يرغل نه وروسته د عزيزخان کڅ ته مخامخ په ګمبيري دښته کې واړول او ټانکونه يې هلته دېره کړل. دغه پوځ په داسې حال کې چې توپ لرونکو هليکوپټرونو يې له پاسه ملګرتوب کاووه، د ۱۹۸۰ کال د اپرېل په ۶مه په ټانکونو کې مخ په پورته روان شول او په لار کې يې په زيړانيو او قرغه يي کې ډېر وراني وکړ.

له زيړانيو نه د کابل —جلال‌اباد پر سړک پر يرغلګر پوځ بريد شوی و، د ټانکونو په ليدلو سره څه مجاهدان وړو تنګو درو ته پر شاشول او هغه يې چې پاتې شول له خلکو سره ګډ شول. لکه چې دمخه ويل شوي مجاهدان چې زياتره يې د حکمتيار اسلامي حزب او اسلامي جمعيت ته منسوب وو، د لغمان ولايت له مرکز مهترلام نه پرته په ټول لغمان کې خواره شوي وو.

یرغلګر پوځ چې مخالفت یې ونه لید مخ پورته روان شو، په کلیو کې په وړو ډلو ننوتل. په دې ډول دوی تر خطر لاندې شول او یو ځای بل ځای پرې ډزې وشوې. هغه څه چې د دوی په یوې ډلې زما پـه کلي پلوټـه (یا دېوه) او شاوخوا بانډو کې پېښ شول، په نورو کلیو کې به هم د دوی په نورو ډلو لـږو ډېر هماغسې شوي وي، پلوټه د الیشنګ په دره کې د مسکوري د ښـار ګـوټې مخامخ د شاوخوا سلو کورونو یوه ټولګه وه.

یو څو روسان د الیشنګ له سین نـه پـه زانګـو کـې تېر شـول او پلـوټې تـه ورسېدل. په پسرلي کې چې د واورې په ویلي کېدلو سره د سین اوبـه ډېـرې او سین ګړندی او خطرناک شي، یو ځای بل ځای پرې لـه پاسـه زانګـو ګـانې درولې کیږي او خلک پرې تېرېږي، په دغه وخت کې د سین له پاسه پـل نـه و او هغه وسپنیز قوي پل چې د امیر حبیب الله په واکمنۍ کې په ده زیـارت کـې درول شوی ډېر دمخه د پسـرلي یـوه خـونړی سـیلاو نړولـی و. روسـان چـې د پلوټې په کلي ننوتل د یوه دکان مخې ته ودرېدل او غږ یې کړ چې «دوست یـا دښمن؟» له دوی سره ژباړونکی نه و، کوم پرچمـی هـم ورسـره ملګـری نـه و، دوی په دغسې پوښتنې سره غوښتل چې د رجیم او شـوروي اتحـاد د وسـتان یا مخالفان مـالوم کـړي. کلیوالـو لکـه څنګـه چـې د سـالم فکـر تقاضـا وه، پـه ځواب کې وویل چې «دوست.» په همدغه مهـال کـې یـوه ځـانګړي افغـان لـه کوم بام نه په ټوپک پرې ډزې وکړې، یـو یـې ترېنـه ووژه او بـل یـې ټپـي کـړ. روسانو په ډزو سره ځواب ورکړ او پـر شاشـول او خپـل مـړی او ټپـي یـې لـه ځان سره یووړ. په همدغه مهال کې یې د اسـمان پـه لـور پـه ډزو کولـو سـره د سـین اخـوا ملګـرو تـه د خطـر علامـه ورکـړه او هغـو پلوټـه پـه توغنـدیو سـره وویشتله. دغو روسانو د بېرته تګ په حال کې دوه بزګر چـې پـه پټـو کـې یـې کار کاوه، بې له کوم دلیل نه ووژل.

د کلي خلکو له دغې پېښې نـه زر وروسـته د روسـانو د انتقـام اخيسـتلو لـه ويرې کلی پرېښود، خو څنګه چې په هغه ورځ څـه پېښـه ونـه شـوه، يـو شـمېر يې کلي ته ستانه شول، خو دوی تېر وتل، روسـانو دوی تـه پـه بلـه ورځ خپلـه اصلي څېره وښودله، د پېښـې پـه سـبا پلوټـه پـه ليـرې ويشـتونکو توپونـو سـره وويشتل شوه، په داسې حال کې چې توپ لرونکو هليکوپترونو د کلي له پاسه الـوتنې کـولې او شـاوخوا يـې پـه راکټونـو سـره ويشـتل. و روسـته څلوېښـتو روسانو په ټانکو کې پلوټه چارپېره کړه. پلوټه يـې چـې پـه دغـه ډول محاصـره کړه، شېږ وسله وال يانې هغه شمېر چې دمخه پلـوټې تـه ننوتلي وو، پـه کلـي ورننوتل او هر هغه نارينه يې واژه چې يې ليده. له ښځو او ماشومانو سره يـې غرض نه کاووه. ځينې نارينه يې په کوڅو کې، نور يې په ماجت کـې او ځينـې يې په دننه پر خپلو کورونـو کـې ووژل. زمـا د ځـوانۍ ملګـری مـلا اظغـر يـې خپل کور ته د ننوتلو په وخت کې وواژه. ګل محمد د هغه زوی چې نـوی يـې واده کړی و او د هغو د وه مېلمانه غلام سرور او يو بل يې دننه د کور په انګړ کې د ښځو په مخ کې په دغه ډول ووژل چې لکه لوبې کوي. هر يوه ته به يـې ويل چې يوه ټاکلي حد پورې وځغلي او چې هلته به ورسېد وبه يې ويشته. پر روسانو باندې د ښځو نارو سورو او د لاسونو او سر په علامـو سـره د هغـوی عذر او زارۍ هيڅ اثر ونه کړ. ګل محمد چې په ګل محمدخان يادېـده، د پېښ په کورنۍ کې پيدا شوی و، بزګري يې کوله په عين حال کې يې زما د خسـر او له خپل مشر اوښی محمد عزيز کاکو سره شمعکت ته په نژدې غرونو کـې پـه ښکار کې ملګرتيا کـړې وه. ګـل محمـد پـه خـوارو جـامو کـې د عـالي سـلوک خاوند او تل به موسکی او خندان و. ما په ټول عمـر کـې د هغـه پـه شـان ښـه انسان کم ليدلی دی. په هر حال که زما د ځوانۍ انډيوال اروابښـاد سـيد احمـد هوښياري نه وای په هغه ورځ به روسانو پلوټيوال تر هغـو نـه ډېـر وژلـي وای،

چې په واقع کې يې ووژل. دوی په هغه ورځ په پورته ډول نونس پلوټيوال ووژل. نالوستی بزګر سيداحمد د خطر په منلو سره ځان روسانو ته نـزدې کړ او هر پلوټيوال به چې دوی ليده، هغه به ويل چې «دوست» روسانو په دغه ورځ اتلس کورونه يا ټول يا لږ وسوزول او نور يې د وسلو مونـدلو لپاره ولټول او ترانستري راديوګانې، نغدي پيسې، خوږې او نور دغسې څيزونه يې لوټ کړل. دوی د سيداحمد يو زوی فيض محمد چې يو ګلالی ځوان و، له کلي نه پورته په ډاګ کې هم وواژه، چې هلته يې د مرغيو نيولو ته دام ايښی و.

روسانو د پلوټي شاوخوا وړو کليو او بانډو کې هم همدغسې وکړل او د وژل شويو شمېر يې شپېتو تنو ته ورسوه. د مسکورې په ښارګوټي کې يې شل تنه ووژل، دا چې دوی به په ټولې درې کې څومره افغانان به دغه ورځ وژلي وي، مالومه نه ده، خو څنګه چې دوی هغه وژنې په پلوټه کې وکړې، د درې تر اخره پورې يې هم همدغسې وژنې وکړې، شاوخوا دوه زره افغانان به يې وژلي وي. د الينګار په دره کې نورو روسانو شپېته افغانان ووژل، سره له دې چې هلته خلکو په عمومي ډول پر روسانو باندې له ډزې کولو نه ډډه کړې وه. روسانو هلته يو څو سرتېري او يو څو ټانکونه له لاسه ورکړل. د يرغلګر پوځ ټول واحدونه بيا له لغمان نه ووتل او جلال‌اباد ته پر شاشول او مجاهدان د پخوا په شان له مهترلام او د هغه له نزدې شاوخوا نه پرته په ټول لغمان کې خواره شول.

په لغمان کې د وسله والو شوروي سرتېرو ننوتل، په هغه ډول چې ننوتل، د حيرانۍ وړ دي، په دغو عملياتو کې يوازې دوی وو، د رجيم سرتېري ورسره نه وو. ژباړونکي هم ورسره نه وو، په داسې حال کې چې لغمان لکه چې دمخه يې بيان شوی، د رجيم له ولکې نه په زياته اندازه ازاد شوی و.

لغمان ته د باندنیو وسله والو هغه هم د یوه ملحد یرغلګر سرتېرو ننوتل په خبل ذات کې یو پارونکی عمل و. دا په واقع کې د سالم عقل مخالف یو کار و. داسې ښکاري چې د شوروي نظامي چارواکو د ټول وژنې لپاره پلمه لټوله. سره له دې هم په دواړو اوږدو دروکې ډله ییز مقاومت ونه ښودل شو. او ځانګړو مجاهدو دلته او هلته پر وسله والو یرغلګرو ډزې وکړې. بیا هم دغو سرتېرو ډېر او بې شمېره لغمانیان دننه پر خپلو کورونو کې ووژل . د حیرانۍ ځای لا دا دی چې هیڅ لغماني پرچمي پر دغو وژنو اعتراض څه چې حتی خپګان ښکاره نه کړ. دوی لا خوښ شول چې «د شوروي دوستو قوتونو» د دوی رقیبان وځپل د پلوټې شوروي پلو پرچمیان لا د عملیاتو په ملاتړ ودرېدل، سره له دې چې ځینو یې حتی خپل نزدې خپلوان له لاسه و رکړي وو. په ټول لغمان کې پلوټه یوازنی کلی و، چې د خپلو تعلیم کړو په تناسب یې ډېر پرچمیان لرل، له دوی نه حتی ځینو د شورویانو او رجیم په ملاتړ ویل چې که مجاهدانو پر «دوستو قواوو» باندې برید نه وای کړی شوروي سرتېرو به پر دوی برید نه وای کړی. د پرچم ګوندګي د مرکزي کمېټې غړي ظهور رزمجو چې د لغمان د پاچاخېلو دکلي اوسېدونکی و، په دغه اړه لا وویل چې «هغه څه چې مونږ یې کوو، د خواریکښو د ښېګڼې لپاره یې کوو.» د هغه او نورو پرچمیانو له سلوک نه څرګنده شوه چې د شورویانو قبضه په پرچم ګوندګي او د ګوندګي قبضه د هغې پر غړو باندې ټینګه وه او دوی ټول د شورویت په جال کې نښلول شوي وو.[۳۶]

دا چې د نه پارېدل شویو نظامي عملیاتو پایله دغسې وه، لوستونکي تصور کولی شي، چې د پارول شویو عملیاتو پایلې به څومره ګرانې وي. دغو شورویانو د عملیاتو د ملکي خلکو له وژلو نه پرته بل څه ونه شو کولی. دوی به شاید د خلکو د ډارولو لپاره د شوروي اتحاد قوت ښوولی وي. دغه

عملیات د هغه نظر په ملاتړ و چې که افغانان په ملي پخلاینې سره تسلیم نه شول، د مقاومت حرکت به یې په اونیو یا میاشتو کې په نظامي قوت سره وځپل شي، خو د دغو عملیاتو نه فکر کېدونکې پایلې د دغه نظر پر خلاف شوې. د الیشنګ د سر درې د د ولت شاه قومندان په وینا له دغو عملیاتو وروسته د مجاهدو وړه ډله د نویو ځوانانو په یو ځای کېدلو سره لویه او پیاوړې شوه.

د بل کال (۱۹۸۱) په اګست کې دولت شاه ته نزدې یوه جهادي مرکز ته د قومندان شېرپادشاه په مشرۍ د مجاهدو یوه ۲۹ کسیزه ډله د الیشنګ ښارګوټي ته ښکته شوه او د ځایي مجاهدو په یو ځای کېدلو سره یوه لویه ډله ترېنه جوړه شوه، خو دوی په ښار کې په سباوون کې د کوم ځایي کس په لارښود د شوروي د یوه پوځ له خوا محاصره شول. شورویان او مجاهدان سره ونښتل او له مجاهدو نه په اولو څو دقیقو کې څوارلس تنه شهید او پنځوس تنه ټپي شول. پاتې پنځلس مجاهدو د سل ټکه ماشین ګڼو (PK) ټانک ضد وسلو (RPG-7) شل ټکه برناو او کلاشنکوفونو سره جګړه توده وساتله او په ځانښت کې یې د رجیم له سرتېرو نه ډک یو جیپ له مینځ نه یووړ او سرتېري یې تسلیم کېدلو ته اړ کړل. د مازیګر په څلور بجو د شوروي پوځ په شالاړ او د الیشنګ ښارګوټی د مجاهدو په لاس کې پاتې شو. د نښتو په بهیر کې د الیشنګ خلکو د شهیدانو په و رکولو سره مجاهدو ته پناه ورکوله. د شوروي پوځ بیا د قوال خېل د کلي د لویانو په مرسته د خپلو سرتېرو مړي ترلاسه کړل.[۳۷]

دا هم د یادولو وړ ده چې د همدغه کال (۱۹۸۱) اګست په اخر کې د قومندان شېرپادشاه او قومندان شیراغا مجاهدانو د جلال اباد-مهترلام پر لار

د مندروړ ښارګوټي په برخه کې د ماينونو په ايښودلو سره څلور شوروي له منځ نه لاړل او تر اتلس پورې د رجيم او شوروي سرتېري ټپي شول.

# کندهار

په کندهار په تېره د کندهار ښار په سهيل کې د ماله جات په ښېرازې سيمې کې مجاهدانو دغسې سنګرونه لرل چې د شوروي او رجيم پوځونو ونه شو کولی هغوی وځپي که څه هم هلته يې د جهاد تر پايه پورې په منظم ډول عمليات کول. د دوی د ناکامۍ يو دليل دا و، چې ماله جات د ګڼو باغونو، ويلو، نهرونو دغسې زرغونه کرنيزه سيمه ده، چې د ټانکونو ګرځېدلو لپاره سمه نه ده. بله دا چې د کندهار مجاهدانو په تېره د لويو عملياتو په وخت کې په ګډه جهاد کاووه. دوی جهادي په تېره نظامي چارې په ګډه شورا سره تنظيمولې. دوی که څه هم بېلو تنظيمونو ته منسوب وو، ځايي خلک او په جهادي چارو کې سره يو موټی وو، مذهبي توپير هم دوی سره نه بې اتفاق کول. د دغه پيوستون يو دليل به دا وي چې د کندهار شيعه ګان (پارسيوانان) د نورو په شان په روانه پښتو ګړېږي. بل دليل يې دا دی چې د کندهار شيعه ګان په سياسي لحاظ د ايران تر نفوذ لاندې نه وو. د اسلامي حرکت مشر شيخ اصف محسني به ويل چې دی يوازې په مذهبي چارو کې د ايران د مجتهدو پلوی دی نه په مدني او ملي چارو کې، چې په هغو کې دی افغان او د افغانستان د قانون تابع دی. ده په خپل دغه نظر او چلند سره خپل ځان او خپل پلويان له هغه حال نه وايستل، چې په افغانستان کې د شيعه ګانو او سنيانو ترمينځ د کړکيچ لوی عامل و. په هر حال د محسني مجاهدو د علي ياور په قومندانۍ د ماله جات په چاردېوال او د ارغنداو په چارباغ کې

جهادي مرکزونه لرل. په خاکرېز، ګرشک او اروزګان کې یې هم په عملیاتو کې برخه اخیستله، خو قومندان یاور وروسته په جنګ کې شهید شو.

مجاهدانو په ماله جات کې دوه ډوله مرکزونه لرل: ګرځنده او تر مځکې لاندې واړه پناه تونونه. وروستي دوه یا درې متره پلن او له شپږ نه تر اته مترو پورې اوږده وو. پر سر باندې به یې د ونو ښاخونه، لرګي او ختې اچول شوې او په دې ډول له ګولیو او راکټونو نه خوندي وو. کله کله به یې د ننوتلو خولې بندېدلې او هغه به بیا د شپې په تیاره کې د ملګرو مجاهدو له خوا خلاصېدلې. د مجاهدو قومندانانو مرکزونه د کندهار په نورو برخو کې هم وو، ماله جات د زر یو نیم زر تر مینځ مجاهدان لرل، خو په عملیاتو کې به تر هغو لږو په وړو ډلو کې برخه اخیستله.

په کندهار کې ماله جات او د ارغنداو ناووه د مجاهدو او شورویانو د نښتو مهمې سیمې وې. دغو مجاهدانو د کندهار ښار او هم د کندهار ولایت ناارام کړی او هم یې پر لوی سړک باندې د شوروي او پرچم رجیم پر کاروانونو باندې غلچکي بریدونه کول. د دوی د فعالیت له امله و، چې نه یوازې په ټول کندهار، او پر ښار باندې هم د رجیم ولکه سسته وه. سره له دې چې هلته در جیم او شوروي لویه قوه پرته وه: د پلیو پنځلسمه فرقه، د ټانک اووم غونډ، د سرحدي ساتونکو درېیم غونډ، د ۳۶۶ جنګي الوتکو کنډک، د ۳۷۹ بم غورځوونکي واحد، د ماشین ګڼو موتوریزې غونډ او د سپتناز کنډک دغو نظامي واحدونو به لږ و ډېر په هر دوه میاشتو کې یو ځل د ماله جات پراخه سیمه په ټانکونو سره محاصره کوله. سره له دې هم دوی تر پایه پورې مجاهدان ځپلی ونه شول. له ماله جات نه یې هم ایستلی ونه شول، حتی د دغو مرکزونو څرک یې هم پیدا نه کړ.

دوی یو ځل ماله جات د ۱۹۸۴ په مني کې محاصره کړ. دسهار په اوو بجو، دېرش، پنځه دېرش ټانکونه او نورې موټوریزې سرتېري وړونکې جنګي لارۍ له سرپوزي څخه او د شپاړس ټانکونو او جنګی لاریو په ګډون پولان (Poolan) ته نږدې د مځکې له سړک نه بله قوه د مجاهدو د دفاعي مرکزونو په لور په حرکت شوه، چې د درې کیلومترو په اوږدو کې له چار دېوال نه تر سپین زیارت پورې پراته وو. د اسلامي حزب مجاهدو د قومندان سرکاتب په مشرۍ نورو د ګل اغا شېرزوی په مشرۍ او له اسلامي حرکت نه دوه ډلو مجاهدانو ورته سنګرونه نیولي وو. سره له دې چې له توپ لرونکو هلیکوپټرونو نه راکټونه پرې غورځېدل، بیا هم د توپخانې سلطان محمد په وینا «... دښمن وړاندې کېدلی ونه شو، ځکه چې مونږ پر خپلو دفاعي ځایونو کې ښه خوندي وو. دښمن له خپل زره لرونکو وسیلو څخه نه بېرون کېده او خپلې وسیلې یې د ډزو په مخکې لیکو کې درولې وې او دوه-درې ګړۍ یې په مونږ ګولۍ واورولې. حتی شنو ونو هم اور واخیست. زمونږ دفاعي پناه تونونه دوه په درې متره کې وو، چې دوه یا درې کسان پکې ځایېدل... د دښمن د ډزو په وقفو کې به زمونږ ملګري له پناه تونو نه ووتل او سپک ټانک ضد راکټونه (RPG-7) او بس لګد توپونه به یې د هغو په لور وار کړل. دښمن بیا سمله لاسه په ډزو پیل کاووه.» د غرمې په مهال له سل نه تر یو سل او شل مجاهدان له سپین زیارت نه د سهیل او سهیل لویدیځ له لارې د زله خان او واله کان له کلیو نه د دوی مرستې ته ورسېدل. دوی پر هغې خوا راورسېدل، چې شورویانو خلاصه پرې ایښې وه، دغو ملاتړو پله واړوله او شو رویان د مازیګر په شپږو بجو له سیمې نه پر شاشول . دوی یو څه وسلې هم له لاسه ورکړې. کله کله به د ښتو په وخت کې د مځکې لاندې پناه تونونه بند شول او نورو مجاهدانو به هغه په نیمه شپه کې خلاص کړل.

دغسې پېښې د پنج آو پله تر څنګه ډېرې کېدلې. کله به مجاهدان «... په دغو پناتونونو کې د مازيګر له پنځو بجو نه تر نيمې شپې پورې ايسار وو. خو هغو د دښمن لپاره په ماله جات کې اساسي اهميت لاره.»(۳۸)

د شورويانو لپاره ډېره مهمه دا وه چې ښار په امن او رجيم پر ځای او ټينګ وي او مجاهدان بايد له ماله جات نه وويستل شي. دوی د دغه مقصد لپاره د سيمې محاصره او د ښار او شاوخوا کليو لټول حتمي ګڼل. بيا به يې د ترنک سين د شمال لوري کلي او ځايونه نيول لکه ښور اندام، ذاکر شريف، لوی کارېزک، انګوريان او بالا ده. په لويديځ کې به يې د ګيرووال غره، صوف غره، زره غره او چل زينې غره باندې د محاصره کولو موقعيتونه هم ونيول. د محاصره کولو حلقه د ښار د مامون ساتلو حتمي برخه وه. د دې لپاره چې له دغو ځايونو نه ماله جات ته وړاندې شي، خو دوی په دغه مقصد نه رسېدل، مجاهدانو دلته نفوذ لاره او دوی به اول به ماله جات او بيا په جنوب کې د لوی کارېزک او انګوريان او هندوکلا چې سيمو کې ورسره وهل، دوی په مقصد نه رسېدل، خو دغه کار به يې په بيا بيا کاووه.

مجاهدانو په اول سر کې له دوه درې ورځو نه زيات مقاومت کولی نه شو. خو وروسته چې سنګرونه جوړ او ډېر شول، هغو کولی شول دوی په شاووهي. شورويانو د ۱۹۸۷ کال په نومبر کې د اتلسو ورځو لپاره محاصره او لټول وکړل. د دوی او د رجيم پوځونه سهار له خپلو ځايونو نه بهر شول او د محاصرې ځايونه يې ونيول. د مجاهدانو په وړاندې يې د کندهار لويديځ مخامخ مخکينۍ ليکه پر څلور برخو وويشله. شمال-لويديځه خوا د اسلامي حزب برخه شوه؛ د پخه بولان سيمه د شير سرخ، ذاکر شريف او کوخ اباد د مجاهدانو مسؤليت شو، د دې مانا دا شوه چې د محمد شاه کاکو سيمه د درې قومندانانو شوه. دوی که څه هم درې تنظيمونو ته منسوب وو،

سره یې همکاري کوله، ځکه چې دوی ټول د محل خلک وو او سره پېژندل یې. دویمه برخه د ریګي په نامه وه، چې قومندان یې عبدالرزاق و، څلورمه سیمه یا یخ کاریز، د قومندان څارنوال شوه. د ټولو برخو منتظم قومندان غفور جان وټاکل شو. د رجیم پوخ له ښار نه برید وکړ، خو شورویان دغه ځل له خپلو ځایونو نه بیرون نه شول. د رجیم له سرتېرو سره اوږدې تېرې ارې وې. دوی د ونو ښاخونه پرېکول او د تللو لارې یې هوارولې. د قومندان محمدشاه کاکو او عبدالغني په وینا: «مونږ د خپلو ځایونو په مخ کې ماینونه خښ کړي وو، چې هغو د رجیم خراب روزل شوي سرتېري وویرول. مونږ له خپلو ټینګو ځایونو څخه په پرله پسې ډول ډزې کولې. مونږ له یو سل او شپېته نه تر دوه سوه پورې احتیاطي مجاهدان لرل. هر ماښام به یوه مرستندویه ډله رادمخه کېدله. اذوقه به یې راوړله او [زمونږ] یوه ډله به د دوه ورځو دمې کولو لپاره تلله. بیا به دوی له نورو سره عوض کېدل، د شپې په ارامۍ کې به مونږ دغه کار بیا بیا کاووه. په دغه ډول مونږ په اتلسو ورځو کې دفاع وکړه.... در جیم سرتېرو برې ترلاسه کولی ونه شو. خو مونږ پخوا له دې چې له مینځ نه یې یوسو، یو څه ونې یې قطع کړې. زمونږ موقعیتونه ښه وو، خو د څېزونو رسېدل ګران وو، دښمن د ښنتې په ټول وخت کې په سیمې کې پر ټولو مشکوکو ځایونو باندې بمونه غورزول او ډزې یې کولې. هغه یو بم چې په پخه پولان کې زمونږ لپاره و، هدف یې خطا کړ، د ښار په لویدیځ وره باندې ولګېد، ډېر ملکیان یې له مینځ نه یووړل. دوی زمونږ دمخه لیکې موقعیتونه وهلی نه شول، ځکه چې مونږ د دوی لیکې ته ډېر نږدې وو، او په دې ډول مونږ د دوی له هوایي بریدونو نه په امن کې وو.»(۳۹)

په کندهار کې د جنګ بله مهمه جبهه د ارغنداو وه. دغه دره د ارغنداو سین له برکته د ویلو، نهرونو، باغونو او کلیو یوه ډېره شنه کرنیزه سیمه ده

چې د ماله جات په شان د ټانکونو ګرځېدلو لپاره سمه نه وه. پر دې سربېره دا چې دواړه، په تېره ارغنداو، ښار ته نژدې دی د جنګ دواړو خواوو ته یې خاص اهمیت لاره. او دواړه د اوږدې مودې لپاره د ډېرو پوځي عملیاتو سیمې شوې. خو شورویانو او پرچمیانو سره له دې چې د کندهار ښار تر څنګ یې لوی پوځونه میشت کړي وو او له جنګي الوتکو او توپ لرونکو هلیکوپترونو نه یې کار اخیست، تر پایه پورې یې هغه لاندې کولی او حاکمیت پرې چلولی ونه شو.

ارغنداو د سرقومندان ملا نقیب د مجاهدانو سیمه وه، چې اسلامي جمعیت ته منسوب و، د هغه دایمي مرکز لېرې په خاکرېز او لوی مرکز یې د ارغنداو سین په لویدیځ کې د چار قلبې په کلي کې و. قومندانانو یې یو ځای بل ځای هم مرکزونه لرل او د قومندان اختر جان مرکز د ارغنداو په ختیځ کې په بابای ولي صاحب او بل یې په لویدیځ کې په پیر پایمال کې و. پر دې سربېره په ارغنداو کې مجاهدانو د مځکې لاندې د اوږدو غارونو په شان واړه پناه تونونه هم جوړ کړي وو. د اختر جان په وینا د ارغنداو سین «لویدیځه غاړه په واقع کې د مجاهدو ټینګه سیمه وه، چې په پناه تونونو، جنګي موقعیتونو او خندقونو سره تړل شوي وو. پر هغه سربېره څنګه چې دغه شنه سیمه له باغونو نه ډکه وه او د خندقونو په شکل یې پرېمانه اوبه لرلې، تل به اسان و، چې له یو ځای څخه ډزې او برید وشي.» اختر جان وروسته له هغه چې دوه مشر ورونه یې د وطن په دفاع کې شهید شول، په دوولس کلنۍ کې یې جهاد پیل کړ، دی د ښوونځي زده کوونکي و.

شوروي سرتېرو وروسته له هغه چې سیمه به یې له هلیکوپټرونو نه په راکټونو او پر مځکې باندې له ټانکونو نه په توپونو وویشتله، ټانکونه به یې د سیمې په څنډه کې ودرول او سرتېري به یې چې زیاتره به د رجیم جلبیان وو،

واستول، چې د مجاهدو و سلې ټولې کړي، چې د دوی په ګمان هغوی مړه شوي وو، خو دوی به د همدغو غارونو د مجاهدو د ګولیو قرباني کېدل. د رجیم او شوروي پوځونه په ۱۹۸۷ کال په جون کې په ارغنداو کې په یوه لوی نظامي عمل پیل وکړ. دا د روژې میاشت وه، په دغو عملیاتو کې دوی په ناګهان نومي سیمې کې سره یو ځای شول او بیا د ارغنداو سین لویدیځې غاړې ته په حرکت شول. د دوی بله قوه له باباي ولي صاحب څخه له ارغنداو سین نه تېره شوه. مجاهدان په دې شنې سیمې کې پر خپلو غارونو یا پناه تونونو کې ننوتل. نور یې لیرې ځایونو ته پر شاشول ، چې د جنګ لپاره د مانورې خای ولري. دغه پوځیان له دواړو خواوو نه په مجاهدو دمخه شول، سره له دې چې هغو پرې ډزې کولې. ټانکونه یې له زېړې دښتې نه راووتل او د شنې سیمې په لویدیځ کې په میدان کې تم شول او بیا یې د مجاهدو مرکز ته په چار قلبه کې مخه وکړه. دوی په شپږو ورځو کې د نښتو په حال کې هلته ورسېدل خو د دوی د ټانکونو د مخه برخې د شګو په بوجیو سره پوښل شوې وې او د ټانک صد سپکو راکټونو (RPG) پرې اثر کولی نه شول، قومندانانو چې د ټانکونو په درولو کې خپله ناتواني ولیدله، په پای کې یې خپل سرقومندان ملا نقیب ته ښکاره کړه چې غواړي مرکز پرېږدي؛ خو هغه ورته کړه چې «... دا د د وی وروستی چانس دی، چې زمونږ او د هغو ترمینځ به جګړه وټاکي، هغوی شپږ کاله کوښښ کړی چې دغه مرکز ونیسي، او دا د هغوی وروستی چانس دی، که مونږ مرکز پرېږدو بیا به یې هیڅکله بېرته ترلاسه کولی ونه شو، او که یې ودروو بیا به رانه شي.» قومندانانو بیا خپل معذرت ورته وړاندې کړ، د قومندان اختر جان په و ینا «نقیب یو ټانک ضد راکټ ته لاس کړ، وړاندې لاړ چې ټانک پرې وولي، مونږ قومندانانو هغه ودروه او وعده مو ورکړه چې تر پایه به ورسره

وجنګېږو.» بیا ټوله ورځ جګړه وشوه، د شوروي او رجیم ټانکونه اول ودرېدل او وروسته تعبیلز (Taibils) ته پر شاشول .

څو ورځې وروسته د شوروي او رجیم پوځیان له درې اړخونو نه پر چارقلبې باندې رادمخه شول، له تعبیلز نه، له باباولي صاحب نه او په شمال لویدیځ کې له جیله ور (Jelawar) نه. په زیږې دښته کې شاوخوا زرټانکونه خواره شوي وو، ټانکونه دغومره ډېر وو، چې زیږې د ښته یې خړه دښته کړې وه، خو د هغو دلیلونو له مخې چې دمخه ویل شوي، ټانکونه د چار قلبې په شنه سیمه کې هم نه رادمخه کېدل. پلان دا و چې په هغه حال کې چې د رجیم سرتېري مرکز ته نزدې شي ټانکونه به ډله ډله یو ځای بل ځای ودرول شي. سرتېري وړونکي جنګي لارۍ د سرتېرو د ملاتړ لپاره را دمخه کېدلې، خو څنګه چې هغه هم مجبورې وې، په وړو وړو ډلې وویشلې شي، تر خطر لاندې کېدلې. د بریدونو ترمخه به لکه څنګه چې معموله وه، له هلیکوپټرونو نه ډېر کار اخیستل کېد ه. دغه مهال به مجاهدان پر خپلو غارونو کې ننوتل او یوازې یو څو کتونکي به یې د نښتو په ځایونو کې د څارنې لپاره ګمارل. دوی به چې د سرتېرو رادمخه کېدل ولیدل مجاهدان به یې پرې خبر کړل؛ هغوی به له غارونو نه ووتل او د نښتو په موقعیتونو کې به ځای پر ځای شول او د تاکونو په ښاخونو به یې ځانونه پټ کړل او چې سرتېري به ورنږدې شول په ډزو سره به پر مځکه ولوېدل. په دې ډول د رجیم ډېر سرتېري له مینځ نه لاړل، کله به دوی په خپله مجاهدانو ته اوښتل، چې په لوډسپیکرونو به ورته غږ کېده چې «مونږ ستاسې دښمن نه یو؛ مونږ ستاسې ورونه یو، له مونږ سره یو ځای شئ.» ملا نقیب چې یو نیول شوی افسر دمخه ازاد کړی و، د رجیم سرتېری به یې هم هڅولي وي، چې له

مجاهدو سره يو ځای شي. خو دغه افسر له مجاهدو سره همکاري کولو ته حاضر نه شو، په دې چې کورنۍ يې په کابل کې وه.

دغه نښتې يوه مياشت او څلور ورځې روانې وې، په عملياتو کې يو ډول والی راغی. اول د هليکوپترونو بمباري او بيا د پليو سرتېرو را دمخه کېدل. غارونو ته د مجاهدانو ننوتل او بيا راوتل او پر نږدې شويو سرتېرو ډزې کول. د خپله ور خوا نه سرتېري په دغه دام کې ډېر کېوتل. د رجيم سرتېري به په ماينونو سره هم له مينځ نه وړل کېدل. دغه واړه ماينونه په مجاهدو کې د قندانۍ په نامه يادېدل. د چارقلبې د مجاهدو ستونزې هم ډېرې وې، غټه ستونزه خواړه و و، چې له سين نه اخوا کورونو نه به ورته استول کېدل. په چارقلبه کې په يوه وخت کې پنځه سوه مجاهدان وو، خو خواړه د جګړې په وخت کې ورته رسېدلی نه شول. «کله به مونږ هغه خوراکي څيزونه خوړل چې له شورويانو يا د رجيم له پوځ نه به پاتې کېدل. له شورويانو نه به ډېر خواړه په تېره وچه ډوډۍ پاتې کېدله، زمونږ خوراک به زياتره وخت وچه ډوډۍ وه، چې د اوبو په زور به مو له ستوني نه تېروله.» بله غټه ستونزه د ټپي شويو مجاهدو وه، له مجاهدو سره د لومړۍ طبي مرستې روزل شوي کسان هم وو، ټپيان به په عادي حال کې د درملنې لپاره پاکستان ته استول کېدل خو «مونږ نه شو کولی شرينل د له ټپي شويو نه وباسو او په دې ډول ډېر سخت ټپيان له خپلو زخمونو نه تلف کېدل.» له مجاهدو سره عربان هم وو خو « دوی هلته د دې لپاره وو، چې د جهاد کريډټ ترلاسه کړي او جنګ کول وويني.» دوی جنګ ته زړه نه کاووه، په دغو نښتو کې د دواړو خواوو تلفات په يقين سره مالوم نه دي، د قومندان اختر جان په و ينا «مونږ په دغه مرکز کې تر شپېتو مجاهدانو او قومندانانو نه ډېر په جنګ کې له لاسه ورکړي. د مرکز شاوخوا په نورو ځايونو کې ډېر نور هم شهيد شوي.» د رجيم پلي

سرتېري به په ډېر شمېر له مینځ نه وړل شوي وي، ځکه چې دوی به، نه شوروي سرتېري به، د ښنتو مخنۍ لیکې ته استول کېدل او تر ۱۹۸۷ پورې د رجیم پوځ هم ډېر شوی او روزل شوی و. بیا هم د قومندان اختر په وینا «د رجیم او شورویانو تلفات مالوم نه دي، خو څنګه چې مونږ په ناڅاپي ډول پر هغو برید کاووه، د هغو تلفات باید زمونږ تر تلفاتو نه ډېر وي او د شورویانو تر تلفاتو نه د رجیم د سرتېرو تلفات په یقین سره ډېر وو. زه فکر کوم چې دښمن په پای کې د تلفاتو له امله میدان پرېښود.»[۴۰]

د پاکستان د ستراتیجکي مطالعاتو موسسه، د قومندان اختر جان وینا په ضمني ډول تاییدوي او په یوې څېړنې کې وایي چې «د یوه راپور له مخې د یوې نیمې میاشتې په موده کې چې د ۱۹۸۷ کال په جون کې دی، د شوروي-کابل له پوځونو نه په کندهار او شاوخوا سیمو کې ۲۵۰ تنه سرتېري وژل شوي او اته سوه تنه ټپي شوي دي. له سلو نه ډېرې لارۍ، ټانکونه، او جیپونه له دیارلس الوتکو او هلیکوپترونو نه یې له لاسه ورکړي دي. د رجیم دوه نیم زره سرتېري په دغې مودې کې له مجاهدو سره یو ځای شوي دي، چې ښکاري دغه موده په ځو کلونو کې د مجاهدو پر ضد د شوروي-رجیم د عملیاتو تر ټولو اوږده موده وه. ښکاري چې دغه عملیات د ۱۹۸۷ کال تر جولایۍ پورې غزېدلې وي.[۴۱]

(د غره نه اخوا) د اثر منتظمانو د کندهار ښنتو عمومي نتیجه په دې ډول ښودلې ده: «د جنګ په ټولې مودې کې شورویان او د افغانستان دموکراتیک جمهوریت ونه شو کولی، کندهار تر خپل پوره کنترول لاندې کړي. د مجاهدانو ښاري ډلو بېل بېل جنګ کاووه او د ګرځنده مجاهدو ډلو د ښار پر شاوخوا سیمو باندې خپل کنټرول ټینګ کړی و.»[۴۲]

# پنجشیر

پنجشیر د هسکو غرونو ترمینځ یو سل او شل کیلومتره اوږده تنګه دره ده له یو څو اړخیزو دره ګیو سره. د پنجشیر درې په مینځ کې هم د نورو غرنیو درو په شان یو ګړندی سین بهیږي، چې د هندوکش له جګو واورینو غرونو نه راوځي. په دغه سین سره د کرنې وړ مځکې خړوبیږي، خو له هغو نه هغومره حاصل نه ترلاسه کیږي، چې د ټولو خلکو ګذاره پرې وشي. که څه هم د دغې دریمې درجې ولسوالۍ ټول خلک لږ او په ۱۹۸۵/۱۳۶۴ کې څه باندې پنځه نوي زره تنه تخمین شوي دي، په پنجشیر کې نژدې هره کورنۍ څاروي هم ساتي، چې له محصولاتو نه یې استفاده وکړي. پنجشیر لوی مځکه وال نه لري او د خلکو څلوېښت سلنه یې بې مځکې دي، پنجشیر د توت ونې ډېرې لري، قیمتي ډبرې هم لري، چې زمرد او لاجورد یې مهم دي.

پنجشیر له غرني موقعیت سره سره ګاونډیو سیمو ته تګ لارې لري لکه د درې په سر کې د انجمن کوتل او د پریان په سیمه کې د درې نومې درې له لارې نورستان، لغمان او ننجراو ته او ښکته د پنجشیر په خوله کې له عنابې نه ګلبهار او کابل ته. د پنجشیر دغه برخه چې بازارک، رخه او عنابه پکې واقع دي ډول ډول میوو ونې لري. ټوله دره شنه او ښکلې ده، خو ځینې پنجشیریان د نورو سیمو خلکو په شان اړ دي په کابل کې کسب او کار او له خپلو کورنیو سره ژوند وکړي.(۴۳) هغسې چې د امیر عبدالرحمن په واکمنۍ کې د ټول هزاره جات له لاندې کولو نه وروسته ډېر اوسېدونکي یې کابل ته د کسب او

کار لپاره لاړل، داسې هم ډېر پنجشېريان د سالنګ کوتل له پرانيستل کېدلو نه وروسته د کابل په ښار کې په زياتېدونکي شمېر په کار او کسب بوخت شول. پنچشېر په واقع کې له دغه وخت نه وروسته لـه ګوښـه تـوب نـه ووت او مهـم شو. د ملي جهاد په بهير کې په نړۍ کې هم وپېژندل شو.

په پنجشېر کې د شورويانو او پرچمي پوځيانو يرغليز نظامي عمليـات او د هغو په وړاندې د احمدشاه مسعود په قومندانۍ دفاعي عمليات هـم لانجمـن دي. غټ دليل يې دا دی چې هيڅ ليکوال په پنجشېر کې هيڅ نظـامي عمليـه يا عمليات په اوږد ډول نه دي بيان کړې لکه هسې چې (د غـره نـه اخـوا) اثـر کې د نظامي عملونو بيان شوی دی. په دغه اثر کې د پنجشېر جبهه هيڅ يـاده شوې نه ده. له دې امله د پنجشېر د پېښو رښتين توب مـالومول اسـان نـه دی. حفيظ الله منصور په خپـل کتـابګوتي «پنجشـير در دروان جهـاد» کـې د دغـو عملياتو پـه اړه ګړېـدلی، خـو هغـه کاشـکي د واقعيـت مونـدلو لپـاره ځـانګړی شوی وای او پر هغه سربېره مولف يې د ځينو موضـوع ګـانو پـه اړه ډول ډول ګړېدلی دی. د بېلګې په ډول پـه ۸۶مـخ کـې وايـي چې «مـردم از زمـان اغـاز جنګ مساکن خويش را ترک ګفته به کوها پناه بردند.» خو په ۱۰۶ مخ کې بيا وايي چې «آمريت جبهه تصـميم ګرفتـه بـود کـه يـک روز قبـل از آغـاز تهـاجم روس ها پنجشير را کاملاً تخليـه نمايـد.» پـر دې سـربېره د ده ليکنـه پـه نـورو برخو کې د عـين پېښـو پـه اړه د قومنـدان ګرومـوف او مولـف لياخوفسـکي او داسې هم د افغان-شوروي جنګ له اثر نـه چـې روسـي افسـرانو ليکلـی تـوپير لري، چې وروسته به په ګوته شي. منصـور د ځينـو نـورو موضـوع ګـانو پـه اړه دغسې غبرګري، چې هر څوک يې منلی نه شـي. پـه ۱۱۰ مـخ کـې وايـي چـې د کابل رجيم او شوروي ګډو قوتونو په اوومه حمله کې «۲۵۰۰ تـن و در حملـه هشتم ۱۷۶۰ تن از افرادش را از دست داد.» دی دا هم پرې اضافه کوي چې

«علاوتاً ۵۰۰ تا ۶۰۰ تن عراده جنګي شان به وسیله مجاهدین تخریب ګردید.» په ۱۱۳ مخ کې وايي چې «طی این مدت [جورای ۱۹۸۸/۱۳۶۷] ۸۵۰۰ تن از عساکر شوروي و یا داخلي به هلاکت رسیدند. ۱۱۰۵۰عراده موتر و ۳۲۵ عراده تانک و زرهپوش تخریب و یا طعمه حریق شدند. حدود صد فروند طیاره جت و هلیکوپتر تخریب و یا ساقط ګردیدند و در برابر آن بین ششصد تا هشتصد تن از اهالی ملکی پنجشیر و ۹۰ مجاهد به شهادت رسیدند.»

منصور په کال ۱۹۸۲/\۱۳۶۱ کې د شوروي رجیم له ګډ نظامي عملیې نه غږېږي او لیکي چې «تعدا افراد مهاجم روس و رجیم کابل در این حمله به ده تا پانزده هزار عسکر میرسید که ۱۵۰۰ عراده نظامي اعم از تانک و توپ و لاري های نفر بر در اختیار داشتند.» دغه پوځ د ده په وینا نابېره په شپږ سوه هلیکوپټري الوتنو سره په دشتک، رخه او استانه کې سرتېري ښکته او ځای پر ځای کړل او په بله ورځ په رخه کې له مجاهدانو سره ونښتل، چې په نتیجه کې «... در ان عملیات پنج هلیکوپتر توسط زیکو یک مجاهدین بفرماندهي شاه سلیمان ساقط ګردید و صد سرباز روسي به هلاکت رسید و مجاهدین ۴۰ میله کلاکوف، سه میل هاوان، سه میل نارنجک انداز و دو میل راکت R-143 به غنیمت ګرفتند.» دی دا هم وایي چې «در یک ماه اول جنګ ۱۲۰۰ سرباز روس و داخلي به هلاکت رسیدند، ۱۴ هلیکوپتر و ۳ جت به وسیله مجاهدین سرنګون شدند و ۶ عراده تانک و لاری نظامی تخریب ګردیدند و از جانب مجاهدین ۴۰ تن به شمول قومندان تازه از هزاره دره و از افراد ملکی ۳۰۰ تن... به شهادت رسیدند.» دی د مجاهدانو په اړه وايي چې «تعداد مجاهدین مسلح پنجشیر در اغاز این حمله به ۷۵۰ تن میرسید و سلاح های ثقیل آن جبهه را چند پایه توپ و دهشکه تشکیل

میداد.» په پای کې دی دغه ټوله حمله ناکامه بولي او وایي چې «تهاجم پنجم روس ها باوجود بمباردمان متکاثف بی نتیجه ماند.»[۴۴] خو ده دا نه ده سنجولې چې ۷۵۰ تنه جنګیالان به څنګه وکولی شي چې لس زره یا پنځلس زریز پوځ چې په عصري وسلو سمبال و، په دغه ډول ناکام کړي، هغه هم په یوې لنډې مودې کې.

د شوروي- افغان جنګ د لیکونکو بیان د منصور له روایت نه پوره توپیر لري. دغه روسي افسران د دغې نظامي عملیې بیان په اوږد ډول کوي او وایي چې هغه د دوو اونیو کار وو، نه د میاشتې یا میاشتو، چې منصور وایي. د دوی د لیکنې له مخې دغه عملیات د ۱۹۸۲ کال د مې په ۱۵ مه پیل شول او په څلورو مرحلو کې د مې په ۲۸ مه پای ته ورسېدل.[۴۵] اول د غوربند په دره کې محض د تېر ایستلو لپاره عملیات وشول. «دښمن قومندان دغه انحرافي حمله اصلي حمله وګڼله او په بیړه یې د سیمې له اطراف نه حتی له پنجشیر درې نه اضافي قوتونه غوربند ته واستول.» په دې ډول په دوو وروستیو ورځو کې د بګرام له شمال نه د پنچشېر درې په خوله کې د ګډ پوځ واحدونه ځای پر ځای شول او د مې په ۱۷ مه شپه یوه زره پوش لوا (Battalion) پنجشېر ته ننوتله او وړاندې لاړه، د یوه ځایي لارښود په ملګرتوب. دغه مرحله د مې له ۱۷ نه تر ۲۲ پورې اوږده وه او په شروع سره ټوله دره سخته بمباري شوه. اول په توپ سمبال واحدونه وړاندې لاړل او وروسته د ګډو پوځونو واحدونو په اصلي عملیاتو پیل وکړ او د شوروي موټوریزې لوا (Battalion) او در جیم یوه پلې لوا په رخه او بازارک کې له هوا نه ښکته کړای شول، څنګه چې تر هغه دمخه هغه ځای سخت بمباري شوی وو اغیزمنې حملې پرې ونه شوې او د ښکته کولو په وخت کې یې تلفات ډېر نه وو. «خو دوی [ګډو قواوو] ونه شو کولی د مجاهدانو د

هـوايي» دفـاع سيسـتمونه لـه مينـځ نـه يوسـي. «مجاهـدانو پـه رخـه کـې دوه هليکوپټرونه د ښکته کېدلو پـه وخـت کـې وغـورزول او څـو نـور يـې زيـانمن کړل.»

د دوهمې مرحلې په لومړۍ ورځ د شوروي-افغان د شپږو لـواوو سـرتېري چې ټول شـمېر يـې ۱۲۰ تنـو تـه رسـېده، د پنجشـېر پـه دره کـې تـر پنځـوس کيلومترو پـورې وړانـدې ولاړل او د شـاوخوا هسـک ځايونـه يـې ونيـول او د مجاهدو ټينګ ځايونه يې وران کړل. هـوايي بمبـاريو پلـي پوخونـه قـادر کـړل چې انووا (Anova) [عنابه] ته له درې لارو په يوه وخت کې ورسېږي. د مې په ۱۹مه د شوروي- رجيم يو بټاليون (لوا) د استانه او بله د متـا (Mata) پـه سيمه کې له هوا نه ښکته شوه، لکه چې يوه ورځ وروسته څلور نورې لواګـانې د اې وم (Evim) په سيمه کې ښکته شوې. په دې ډول د عملياتو لـه پيـل نـه پـه څلـورو ورځـو کـې ۶۵ لواګـانې (Battalion) د مجاهـدانو شـاته لـه هليکوپټرونو نه ښکته شولې، خو د روسي افسرانو په وينا «د هـوايي ځواکونـو نه د ډېرې استفادې او د مځکې پوځونـو لـه ښـې همغـږۍ سـره سـره دښـمن سخت مقاومت ته دوام ورکړ. ... هر چېرې يې له ډول ډول تاکتيکونو نه کـار اخيست او له ګړنګونو، کمرونو، سمڅو او پټو ځايونو او هسکو څوکو نه يـې ډزې کولې. ... دغې دفاع وړاندې تلونکي مخکيني قوتونه پـر ځـای ودرول. د شوروي-افغان حکومتي پوځونو ته د سر او سامان ډېر تاوانونه واوښتل.»(۴۶)

سره له دې هم ګډو پوځونو په پـای کـې مجاهـدان اړ کـړل چـې خپـل ځايونـه پرېږدي او په شاشي بې له دې چې تلفات ورکړي. د دغو درې ورځو پـه بهيـر کې د اې وم (Evim) د ښکته کېدلو په سيمه کې په هليکوپټرونو سره پـه ټنـو مهمات او خوراکي څيزونه انتقال شول. او پيلوټانو له معيـاري حـد نـه ډېـرې الوتنې وکړې.

د عملیاتو څلورمه مرحله (د مې ۲۵مې نه تر ۲۸مې پورې) د جنګ له ډګر نه د ځايي ځواکونو په ایستلو پیل وشو او د مې په ۲۸مه ټول ګډ پوځ بګرام ته په شاشو. دوی دغه عملیات بریالي وګڼل. د عملیاتو په وخت کې «دوی ډېر پټ سندونه ترلاسه کړل. په هغو کې د دغه شریکې حرکت د مشرۍ تشکیل، د افغانستان د اسلامي جمعیت د غړو لستونه دهغه له عکسونو او فورمونو سره، په کابل کې د سري فعالو غړو لستونه، په راتلونکو ورځو کې د حکومت او شوروي ځواکونو پر ضد د حملې پلان او داسې هم د هغو [حکومتي] چارواکو لستونه وو، چې د له مینځ نه وړلو لپاره په نښه شوي وو.»(۴۷)

له دغو عملیاتو نه وروسته و چې قومندان احمدشاه مسعود د جنرال ګروموف په وینا د همدغه کال په دسمبر کې د یرغلګر پوځ له چارواکو سره لکه هسې چې په تېر څپرکي کې وویل شول، د اور بند تړون لاسلیک کړ. تر هغه دمخه یې د لومړي ځل لپاره د ۱۹۸۰ کال په اپرېل کې د یرغلګر پوځ د یوه چټک نظامي عمل نه وروسته «... د شوروي پوځي ټولګیو له قومندانۍ سره یو پټ خوښاوي [توافق] لاسلیک کړی و. په دغه خوښاوي لیک کې یې ژمنه کړې وه چې د «حکومتي او شوروي پوځونو پر خلاف به له دښمنۍ نه ډک عملیات نه ترسره کوي.»(۴۸)

په پنجشېر کې د نظامي عملیاتو د شمېر په اړه هم اختلاف دی او ځینې عملیات چې د کاغذ پرمخ ثبت دي، په واقع کې نه دي شوي.

د منصور په روایت په پنجشېر کې دغه عملیات اته ځله د حناني په روایت لس کرته او د روسي افسرانو په وینا شپږ ځله شوي وو.(۴۹) روسي افسران دغه عملیات د جنګ په دوهمې مرحلې کې ښیي، چې د ۱۹۸۰ مارچ نه د ۱۹۸۵ تر اپرېل پورې مودې ته ویل کېده. دوی ټول جنګ له نظامي نظر

نــه پــه څلــورو مرحلــو ویشــلی و او جنــرال لیاخوفســکي چــې پــه دې اړه د صــلاحیت خاونــد و، وایــي چــې «لــه ۱۹۸۶ کــال نــه وروســته د احمدشــاه پــر خلاف ستر پوځي عملیات ترسره نه شول او دا کار به تر ډېره ځایـه یـوازې د هوایي بمباریو او توپچي ګذارونو په کچه ترسـره کېـده، چـې پـه غرنیـو سـیمو کې د هغو اغیزه د تیرو او پرخو له ماتولو پرته بل څّه نه و.» دی دا هـم وایـي چې «... د تېرو څلورو کلونو [۱۹۸۴-۱۹۸۸] په ترڅ کې د مسعود پـرخلاف لـه څـو مـاتو ګـوډو ګـذارونو نـه پرتـه نـور هـیڅ ډول سـتر عملیـات نـه دي شوي.»(۵۰) په دې اړه هم شک دی چې دغه یاد شـوي عملیـات بـه پـه رښـتیا شوي وي. تر ټولو لویه عملیه د ۱۹۸۴ کال وه، چې د هغې په اړه د منصور او د ک. ج. ب جنرال شېر شین او په پېښور کې د سي‌آی‌اې د څانګې مشر ملت بیـرډن لـه روایتونـو سـره نقاضـت لـري. دغـه حملـه د منصـور پـه روایـت د ۱۳۶۳ کال د ثور په اوله [اپرېل ۱۹۸۴) «... اغـاز یافـت خـلاف توقـع روس ها بیش از چار سال بطول انجامید.» د ده په وینـا «حملـه بـا هجـوم طیـارات بلنـد پـرواز TU-16 و SU-25 کـه تعـداد شـان بـه صـد بـال میرسـید اغـاز یافـت... بـدنبال بمباردمـان شـدید آن منطقـه یـک لشـکر خـاص قـوای سـرخ (Spitnaz) با پشتیبانی ۴۰۰ تا ۶۰۰ عـراده تانـک بـه وادی پنجشـیر یـورش برد.» دغه حمله په دغسې حال کې وشوه چې بیا هم د منصور په وینـا «... دو هفته قبل از حمله قوای روس اهالی پنجشیر که تعداد شان بـه اضـافه از صـد هزار تن میرسید بدستور امریت جبهه خانه و کاشانه شان را بقصد کابل و یـا شهرهای دیګری ترک ګفتند.» دی د مجاهدو په اړه هم وایـي چې «... چهـل و هشت ساعت قبل از حمله قوای روس کـه آمریـت جبهـه دقیقاً از ان مطلـع بود، دستور خروچ کلیه مجاهدین را در آن دره صادر نمود که باسـتثنای چنـد ګروپ محدود تمام مجاهدین از پنجشیر بیرون رفتند.» د همدغو «محـدودو

مجاهدینو» په قوت و، چې «...قوای مشترک شوروي و رژیم کابل بګفته مسعود در حمله هفتم ۲۵۰۰ تن ... از افرادش را از دست داد. علاوتاً ۵۰۰ تا ۶۰۰ عراه جنګی شان بوسیله مجاهدین تخریب ګردید.»(۵۱)

د پورتۍ عملیې په اړه د منصور روایت د شبرشین او ملت بیرډن له روایتونو سره هیڅ سر نه خوري. د دوی د لیکنو له مخې د شوروي او کابل رجیم د دغه ګډ عمل په وړاندې په پنجشیر کې مقابله هیڅ نه ده شوې. د شبرشین په وینا د دغې نظامي عملیې قومنداني د شوروي اتحاد د دفاع د وزیر لومړی مرستیال مارشال سوکولوف پر غاړه وه او هغه د پنجشیر په رخه کې په یوه لوی کور کې یوه غونډه وبلله، هلته ورته راپور ورکړل شو چې په دغې نظامي عملیې کې «له درې زره یاغیانو څخه یې یو زر اووه سوه وژل شوي دي او هغو نورو یې وژل شوي کسان او د هغو وسلې له ځانو سره اخیستې او د جګړې له ډګر څخه وتلي دي.» چا له راپور وړاندې کوونکي نه پوښتنه وکړه، چې څنګه ممکنه ده دیارلس سوه کسه اوولس سوه مړي د جنګ له ډګر نه وباسي، په داسې حال کې چې د جنګ غالب لوری هم هلته شتون ولري؟ راپور ورکوونکي له ځواب ورکولو نه ډډه وکړه. جنرال شبرشین چې په غونډه کې حاضر و، وایي چې څنګه چې مجاهدانو هیڅ مقابله نه ده کړې «... له هغو نه څوک نه وو وژل شوي.» مجاهدانو ځکه مقابله نه وه کړې چې د هغه په وینا قومندان «احمدشاه د خپلو ایجنټانو له خوا چې د افغانستان د دفاع په وزارت کې وو، د عملیاتو او د یرغل د چمتو کېدو په باب مخکې له مخکې خبر شوی و او د ګذار له ګوابښ نه یې نه یوازې خپل جګړه ییز ټولګي ګوښه کړل، بلکې د پنجشیر ټول اوسېدونکي یې هم له خپلو سیمو نه وایستل.» دی دا هم وایي چې «زمونږ توپچي، هوایي ځواکونو او

زمونږ ټانکونو د غرو په تشو لمنو، په تشو پرېښودل شويو کليو، بې خلکو لارو باندې ډزې کولې.»[۵۲]

په پېښور کې د سي‌آی‌اې د څانګې مشر بېيرډن روايت د پورته روايت په تاييد دی، خو هغه نور مهم ټکي هم لري. يو ټکی يې دا دی چې سپين ږيري مارشال سوکولوف د راپور اورېدلو په جريان کې راپور ورکوونکی وپوښته چې «دښمن چيرې دی؟ ايا هغه په نږدې تنګو درو کې پټ دی؟» ځواب يې واورېد، چې هو همدغسې ده او «مونږ پوستې، ګزمې او چورکلي لرو چې حرکتونه يې څارو.» بيا جنرال شبرشين راپور ورکوونکی و پوښته چې «ايا دغسې قوه له دغسې ماتې نه وروسته تهديد کېدلی شي؟» ځواب يې وانه ورېد، او راپور ورکوونکي داسې وښووله چې پوښتنه يې هيڅ نه ده اورېدلې. شبرشين بيا له کومې بلې سرچينې نه خبر شو چې په دغه جنګ کې له مقابل لوري نه ممکن پنځلس کسان تلف شوي وي، ځکه چې لکه دمخه ويل شوي، پنجشېر له خلکو نه خالي و او دا چې ممکن د دفاع وزارت ځينو لوړو افسرانو احمدشاه مسعود د نظامي عملياتو خبر دمخه ورکړی وي، خو دی پوره باوري نه و، ځکه چې شوروي افسرانو له اول نه نظامي عمليات په خپل نوښت کول او د رجيم افسران يې په اخري شېبه کې له هغو نه خبرول. قومندان مسعود په پنجشېر کې د شورويانو له کېدونکي نظامي عمل څخه تر افغان افسرانو نه شايد دمخه خبرېده، دا به ځکه دغسې و، چې د شبرشين په وينا «... هغه د شوروي له نظامي استخباراتو (GRU) له يوه افسر سره پټې تماسونه لري، چې هغه د مشاور په مستعار نامه دنده ترسره کوي.»[۵۳] دغه «مشاور» به ډګرمن اناتولي و، چې د لياخوفسکي په وينا يې «خورا اوږد وخت د احمدشاه په استوګنځي کې تېر کړ او په دې ترڅ کې يې له هغه سره اړوند کار پرمخ بېوه.»[۵۴]

اوس پوښتنه دا ده چې پوځي چارواکو خپل ستر آمر مارشال سوکولوف ته ولې ناسم اطلاعات ورکړل؟ د شبرشین په نظر د ک. ج. ب چارواکو ته داکومه نوې خبره نه وه. هغوی د مجاهدو په اړه مسکو ته هم ناسم اطلاعات ورکول. د هغه په وینا «له ۱۹۸۲ څخه تر ۱۹۸۶ پورې دښمن [مجاهدان] له خپلو ټولو عمومي وسله والو کسانو څخه، چې شمېر یې پنځه څلوېښت زره دی، هر کال دېرش زره کسان له لاسه ورکوي.»(۵۵) ک. ج. ب والو د حفیظ الله ا مین په اړه هم مسکو ته جعلي اطلاعات ورکول، چې د هغو له مخې د مسکو لویانو په پای کې د هغه حکومت په نظامي یرغل سره نسکور کړ. د شوروي په دکتاتوري نظام کې حکومتي چارواکو په تېره د ک. ج. ب چارواکو د خپلې موخې او د کار د اسانۍ لپاره واقعیتونه په خپله جوړول یا پټول او په ټولنه کې هم دغسې مخالفان او جورنلستان نه وو، چې پر هغو انتقاد وکړي. او خپلو ناسمو کارونو ته یې متوجه کړي. داسې ښکاري چې شوروي چارواکو غوښتل قومندان احمدشاه مسعود تر خپل نفوذ لاندې راولي او د خپلې موخې لپاره ترېنه کار واخلي.

شورویانو شمالي افغانستان ته له پخوا نه سترګې نیولې وې. د (داود خان د ک. ج. ب په لومو کې) اثر په دې اړه ډېر مالومات ورکوي. د ۱۹۷۷ کال په اپرېل کې چې بریژنیف له ولسمشر محمد داود سره په کریملن کې لفظي ټکر وکړ، د افغانستان د شمال په اړه و. د هغه اعتراض دا و چې هلته ولې د امپیریلستانو کارکوونکي په کارونو ګمارل کېږي. د دې مانا دا وه چې دغه کار کوونکي چې ده جاسوسان وبلل ، د شوروي اتحاد پرضد کار کوي. شوروي لویان چې د خپل یرغل په وخت کې پوه شول، چې د د وی تر لاس لاندې د پرچم رجیم د دوی په مرستې سره هم ټول افغانستان لاندې کولی او حکومت پرې کولی نه شي، په ۱۹۸۷ کې یې د شمالي افغانستان د نهو

ولایتونو لپاره یو فرعي حکومت پر پښو ودروه، چې سروال یې د نجیب مسیر په نامه د صدراعظم مرستیال او غړي یې د وزارتونو معینان وو. دغو ولایتونو ته دغه بې ساري امتیاز ورکړل شو، چې د شوروي اتحاد د منځنۍ اسیا له جمهوریتونو سره د سوداګرۍ او نورو څیزونو په اړه نېغې اړیکې ولري.[۵۶] له دغه تجویز نه نهایي مقصد دا و، چې دغه پراخه سیمه اول کورواکه یا خودمختاره وي او په پای کې د شوروي اتحاد په قوت ځانله سیاسي نظام ولري او له اصلي افغانستان څخه جلا وي.

دغه تجویز هم لازمي کوله چې شورویان له قومندان احمدشاه مسعود سره په دغه اړه وغږېږي او همکارۍ ته یې رامات کړي. د خبرو لپاره هوا هم برابره وه. تر دغه وخته له نظامي عملیاتو او خوتړیو مقابلو سره سره دواړو خواوو د یوه بل مراعات کاووه. د شوروي پوځ قومندان ګروموف ویلي وو، چې دوی نه غوښتل احمدشاه مسعود په بشپړ ډول مات کړي او له مینځ نه یوسي. لیاخوفسکي هم په دې اړه وایي چې «...د شوروي اتحاد دفاع وزارت د اوپراتیفي ډلې مشرتابه او د څلوېښتم لمبر اردو قومنداني هم د احمدشاه د ډلو پرخلاف د عملیاتو پر نه ترسره کولو ټینګار کاووه.» دی دا هم وایي چې احمدشاه مسعود هم «...په غوڅه توګه خپلو ډلو ته ویلي وو چې د شوروي پوځونو پرخلاف جګړه ییز عملیات ونه کړي او ډلې یې هم دغه خبره پرته له ولې او څنګه نه پلې کوي.»[۵۷] «په دې ترڅ کې شوروي قومندانۍ له مسعود سره له پټو اړیکو نه په ګټې اخیستنې سره یو لړ پوښتنې چې اړوند لاسلیکونه او په کابل کې د شوروي سفارت ټاپه هم پرې لګېدلې وه، د څېړنې لپاره نوموړي ته ورواستولې.» دا د ګورباچوف د واکمنۍ وخت و، دغه لیک په اوو مادو کې و، چې مهمه یې د بدخشان، تخار، او بغلان او داسې هم د پروان او کاپیسا د ځینو برخو په ګډون د تاجکو د استوګنې د سیمو پربنسټ

د تاجکانو د کورواکۍ یانې خودمختارۍ په اړه وه. د لیک یو متن چې په ژباړه کې هم ښول شوی، د قومندان مسعود د یوه ډلمشر ملا غوث په لاس[۵۸] استول شوی و. د شوروي اتحاد لوړ واکمن میخاییل ګورباچوف هم دغه موضوع د ولسمشر نجیب الله د وخت صدراعظم محمد حسن شرق ته په مسکو کې یاده کړې وه، په دې ډول چې «شما فکر نمی کنید اګر با احمدشاه مسعود حکومت شما با یک خودمختاري ساحه وسیع تری در قسمت شمال همکاری و موافقه نمایند او جنګ را کنار ګذارند، زیرا بعضی از اطرافیان او چنین ارزو دارند.»[۵۹] په دغه وخت کې د ګورباچوف حکومت حاضر و، افغان جهادي قومندانانو ته د خپلو سیمو کورواکي ومني خو چې له جنګ نه لاس واخلي. او له مرکزي حکومت سره په ګډه کار وکړي.

«احمدشاه مسعود هم موده پس په دې اړه خپل ځواب راولېږه او په هغه کې یې څرګنده کړې ده، چې دی د دغو پوښتنو د څېړلو لپاره خبرو اترو ته چمتو دی.»[۶۰] خو دغه خبرې لکه چې هیڅ نه وي شوې، ځکه چې د ګورباچوف حکومت دننه په شوروي اتحاد کې له نویو اساسي ستونزو سره مخ شو، که څه هم احمدشاه مسعود حاضر و، د کورواکۍ یا خودمختارۍ په اړه له اشغالګر پوځ سره خبرې وکړي، لکه چې ویل شوي، ده لا دمخه په افغانستان کې له شوروي چارواکو سره تړونونه کړي وو. قومندان احمدشاه مسعود خپل مقصد ته در سېدلو لپاره د وطن پروا نه کوله، لکه چې د ولسمشر محمد داود په وخت کې یې هم د پاکستان په هڅونې د افغانستان پرضد فعالیت کړی و. په دې ډول قومندان احمدشاه مسعود د وطنپالنې په امتحان کې ناکام دی او که شوروي ا تحاد شړېدلی نه وای، د دغه تجویز له امله به د افغانستان بشپړوالی له خطر سره مخ و. وطنپال افغانان هیڅ وخت د پردیو په لمسه او مرسته پر خپلو وطنوالو باندې واکمنۍ کولو ته نه

حاضرېږي او په هر حال کوښښ کوي چې په ډېره سخته کې هم د خپل هېواد حـق ادا کـړي او وروسـتيو نسـلونو تـه سرمشـق او دالهـام سـرچينه وي. خـو قومندان احمدشاه مسعود که څه هـم د ملـي جهـاد پـه پيـر کـې نـوم وايسـت، دغسې وطنپال افغان نه شو.

# پکتیا

پکتیا او پکتیکا د افغان جهاد په دوره کې په خاص ډول مهمه سیمه شوې ده. یو دا چې دا سرحدي سیمه وه او د ډیورنډ د کرښې په دواړو خواوو کې عین پښتني قومونه اباد وو، بله دا چې مجاهدانو له پاړه چنار ، میرانشاه او نورو ځایونو نه د جهاد په غرض وسلې او نور اړین څیزونه پکتیا او د کابل حوزې په ګډون نورو سیمو ته نقلول. د رجیم او شوروي چارواکو کوښښ کاووه د دغسې انتقالاتو مخه ونیسي خو دغه کار یې کولی نه شو، ځکه چې په دې اړه یې د قومونو همکاري جلبولی نه شوه، که څه هم په دغې لار کې یې ډېرې پیسې لګولې او یو وخت تر څه حده بریالي شوي هم وو. باندني جورنلستان او مهم لویدیځ کسان هم له دغې لارې پکتیا او نورو ځایونو ته له افغان تنظیمونو سره تلل. په دوی کې د امریکې د ولسي جرګې غړی چارلي ولسن هم و، چې افغان مجاهدانو ته یې د ستېنګر راکټونو په ورکولو کې بریالی کوښښ وکړ. د کابل رجیم په پکتیا کې له غټو ستونزو سره هم مخ و، یو دا چې په پکتیا کې په نظامي واحدونو کې د خلقي افسرانو له پرچمي افسرانو سره نه لګېده او حتی خلقي افسرانو له هغو سره زیږ چلند هم کاووه. دوی دلته بس د مجاهدانو له امله سره متحد وو. بله دا چې رجیم ته ګرانه وه، د مجاهدانو له امله خپلو نظامي واحدونو ته وسلې او خواړه او نور څیزونه ورسوي، که څه هم د ګردیز او خوست په ښارونو کې یې د پخوا په شان دوه نظامي فرقې ځای پر ځای وې، خو ستړه کنډو چې له هغه نه د خوست او ګردیز ترمینځ یوازنی لار تېرېده په ۱۹۸۱ کې د قومندان جلال

الدين حقاني (ځدران) تر کنټرول لاندې شوې وه. سټه کنډو په جګه سطح کې له سختو کږليچو سره اوږد پروت دی او د دواړو بناړونو ترمينځ يوازنۍ لنډه لار ده، په دغه حال کې رجيم مجبور و، له نورو اوږدو لارو او يا د هوا له لارې اړين څيزونه د خوست فرقې ته ورسوي.

پکتيا په عمومي ډول د مولوي محمد يونس خالص د اسلامي تنظيم سيمه وه، چې حقاني يې نامتو قومندان و. دی سخت دريځه او د چپيانو ټينګ دښمن و. په پکتيا کې د حکمتيار اسلامي ګوند، د پير سيداحمد ګيلاني ملي اسلامي محاذ او د سياف د اتحاد تنظيم هم جهاد کاووه، خو پکتيا د حقاني له امله د مولوي خالص د حزب سيمه ګڼل کېده. د حقاني تر څنګ نور قومندانان هم وو او قومندان عبدالحق چې هغه هم د خالص د حزب قومندان و، له پکتيا نه جهاد پيل کړی و. په واقع کې دا پکتيا وه چې هلته تنظيمي جهاد له ښاري پاڅونو نه وروسته پيل شوی و. د خلقي حکومت په وړاندې هم جهاد د خدران د زيړوک علاقه دارۍ نه شروع شوی و. په پکتيا کې د رجيم د قوتونو او مجاهدانو ترمينځ بې حسابه جنګونه شوي دي، خو هغه جنګونه چې په ژوره او سټه کنډو کې شوي، غټ او تر ټولو لوی وو.

# ژوره

ژوره د ډېورنډ د کرښې په څلور کیلومترۍ کې په یوې غرنۍ سمې کې پرته ده. پنځلس کیلومتره اخوا یې د میران شاه ښار دی، چې په شمالي وزیرستان کې پروت دی. ژوره اول د مجاهدانو د روزنې ځای و، چې ورو ورو په دغسې لوی او پراخ مرکز بدل شو، چې هلته د جهاد لپاره ضروري څیزونه د وسلو په ګډون زېرمه کېدل او مجاهدان پکې روزل کېدل. دغه مرکز یا بیخ (Base) په سهیل ختیځ کې د سودیاکي (Sodyaki) غره مخامخ یوولس ټونلونه په بولډوزرونو او چوونکو موادو سره وکندل شول. دغه تونلونه پینځه سوه متره اوږده وو، یو هوټل، د وسلو زېرمه تونه، د ترمیم ورکشاپونه، روغتیایي مرکز، د راډیو سټېشن وه پخلنځي یې هم لاره. برېښنا هم په جنرېټر سره ورته تولیدله. د مجاهدو یو پنځه سوه کسیز کنډک هلته میشت و، چې وظیفه یې په سیمه کې د مولوي خالص د تنظیم ګرځنده مجاهدو لپاره دلوجستکي موادو برابرول وو. دغه کنډک ته د محل د دفاع او د پاکستان او افغانستان ترمینځ د خاد او ک. ج. ب ایجنټانو د مخنیوي وظیفه هم ورپه غاړه وه. د مرکز شاوخوا غونډیو کې هوایي دفاعي ماشین ګنې هم ځای پر ځای وې.(۶۱)

په افغانستان کې د جهاد په ټوله دوره کې د ژورې په شان بل ټینګ مرکز نه و. د هغه جوړښت د چا کار او ابتکار و؟ داسې ښکاري چې د هغه د جوړېدلو نوښت د اسامه بن لادن کار و، د تونلونو او ودانیو جوړول په عربستان کې د بن لادن شرکت تخصص و. د اسامه بن لادن په وینا «کله

چې مونږ د مجاهدانو د ځایونو په بمباري کولو کې د روسانو وحشت ولید... مونږ د دوو سپېځلو ځایونو له هېواد [عربستان] نه اټکل په سل ګونو ټنه سامانونه نقل کړل، چې په هغو کې بولدوزرونه، لارۍ ګانې، بار اچونکي سامانونه او د خندقو کېندلو ماشینونه وو... مونږ یو شمېر اوږده تونلونه وکندل او په هغو کې مو د زېرمې کولو ځایونه او په ځینو نورو کې مو روغتیایي مرکزونه جوړ کړل.» مشهور امریکایي جورنلست اومولف رابرټ فسک (R.Fisk) وايي چې هغه له بن لادن سره د مرکې کولو لپاره په دغسې یوه تونل کې انتظار کاووه، چې «د یوه کلک غره په ډډه کې د سلګونو مترو په اوږدو کې کندل شوی و.»[۶۳] د البدر په نامه دغه مرکز ورو ورو شپږ شول: لومړی البدر، دوهم البدر، الفاروق، خالد بن ولید، ا بو جندال او سلمان فارس. له دغو نومونو نه ښکاري چې دغه مرکزونه په کوم عربي هېواد کې وي، نه په افغانستان کې. په البدر کې د شوروي پوځ له ایستل کېدلو نه وروسته باندنیان روزل کېدل، همدغه باندني عربان وو، چې د بن لادن د پروګرام له مخې هلته روزل کېدل چې هغو د ۲۰۰۱ کال د سپټمبر په یوولسمه په امریکې کې د نیویارک ښار نړۍ واله سوداګري څو پوړیزه دنګه ماڼۍ او د واشنګټن ښار د امریکې په تښتول شویو الوتکو ووهل او ونړول، چې امریکې ته یې په ملیاردونو ډالرو تاوان واړوه او اثرونه یې په ټولې نړۍ کې محسوش شول. د همدغه کال په اکتوبر کې و، چې د امریکې په نوښت د ملګرو ملتونو د یوې فیصلې له مخې د نړۍ د څلور ځلوېښت هېوادونو پوځونه افغانستان ته ننوتل؛ په ټولې نړۍ کې د ترهګرو ځپل پیل شول او د افغانستان اسلامي امارت د امریکې په یرغلیز پوځ نسکور شو، خو دا یوه بېله موضوع ده، چې دا یې د بیان ځای نه دی. دلته به دغومره وویل شي چې د افغانستان اسلامي امارت په ټولې نړۍ کې لومړنی نظام و، چې په خپل ملک

کې یې دغسې یو عرب، چې د خپل هېواد عربستان لـه تابعیت نـه محـروم شوی و، ازاد پرېښود چې د دغسې هېواد په تاوان خپل پلان عملي کړي، چې د شوروي اتحاد د یرغل په دفع کولو کې یې له افغانستان سره د وسلو، پیسـو او نورو اړینو څیزونو بې مثاله مرستې کړې وې.

شورویانو او د رجیم چارواکو د ۱۹۸۵ کال تر سپټمبر پـورې د دغـه مرکـز په وړاندې څه ونکړل. د رجیم چارواکو د همدغه کال په سپټمبر کې د ګردیـز له دوولسمې پلې فرقې نه ځینې واحدونه د ۳۷ او ۳۸ کماندو غونـډونو څخـه ځینې واحدونه د ځاځي میدان له لارې، نه د ستړه کنـډو لـه لارې، خوسـت تـه واستول. د خوست له ۲۵ مې فرقې نه هم ځینې واحدونه ورسره یو ځای شول او ټولـه قـوه د جنـرال شـاهنواز تنـي پـه قومنـدانۍ د ژورې د لانـدې کولـو پـه مقصد روانه شـوه. څنګـه چې رجـیم د یـوه نظـامي واحـد پـه ټولـو سـرتېرو د اعتبار نه درلود له بېلو و احدونو څخه یې له خپلو پلویانو نه یوه ترکیبي قـوه د دغه ماموریت لپاره وګمارله. د همدغې میاشتې په پای کې دغه قـوه د درنـدو توپونو او هوایي قوې په ملاتړ پر بـاړې (Bari) وردمخـه شـوه، چـې د ژورې په شمال ختیځ کې موقعیت لـري. د ژورې د دفـاع لپـاره دا ښـه وخـت نـه و، لوی قومندانان د قومندان حقاني په ګـډون د حـج ادا کولـو لپـاره عربسـتان تـه تللي وو. پوځ باړه ونیوله او له هغـه وروسـته یـې د ژورې د نیولـو تکـل وکـړ، خو د مجاهدو یوې اتیا کسیزې ډلې د مغلګۍ په غونډیو کې چـې د ژورې پـه شمال کې د دېوال په شـان پرتـې دي، د هغـو مخـه ونیولـه او تلفـات یـې هـم ورواړول. په پای کې د رجیم پوځ خوست ته بېرته پر شاشـو او بـاړه د کـوچي قومندانانو په مخکښې بېرته ونیول شوه، خو دا د جنګ پای نه شو.

د رجیم پوځ له تنیو څخه چې د جنرال شهنواز د قوم سـیمه او د ژورې پـه شمال-لویدیځ کې پرته ده، دمخـه شـو او د لـڅ سـیمه یـې ونیولـه او قومنـدان

مولوي احمدګل یې هم شهید کړ. د لښې مجاهدان پر شاشول او یوه ډله یې په مني کنډو کې چې د ژورې په لار کې پروت دی، د هغه لاندې غارونو کې پټه شوه. په دغه وخت کې لوی قومندانان له حج نه ستانه شوي وو. د رجیم پوځ پر دغه کنډو باندې پرله پسې لس ورځې وارونه وکړل، خو اثر یې کولی ونه شو، بیا یې دغه کنډو له هوا نه بمباري کړ او مجاهدان له دې ویرې نه چې نه چې د بمباریو له امله له غره لاندې شي، پر شاشول او دښمنو یې هلته د څارنې پوستې واچولې او د توپونو د ویشتلو لپاره یې ترتیبات ونیول. دوی تورکمر هم ونیوه چې د ژورې د مرکز په یو کیلومتري کې پروت دی، خو دوی بې پروایي وکړه او فکر یې نه کاووه چې مجاهدان به ټانکونه ولري، په داسې حال کې چې هغوی ټانکونه لرل او دوه مجاهدانو یې علم جان او محمد سلیم چې پخوا د ټانک واحد قومندانان وو، خپل ټانکونه له غارونو نه وایستل، اول یې د رجیم د څارنې پوستې ونیولې او بیا یې پر سر تېرو ګذارونه وکړل. جنرال تنې که څه هم کوښښ وکړ چې د خپلو سرتېرو روحیه پیاوړې کړي، خو کوښښونو یې ګټه ونکړه. په تېره وروسته له هغه چې مجاهدانو د د وی یو هلیکوپتر هم نسکور کړ. خو مجاهدانو خپل یو تکړه قومندان مولوي فتح الله هم له لاسه ورکړ. په همدغه وخت کې و چې نه یوازې لوی قومندانان له میران شاه نه د جنګ ډګر ته ورسېدل، له جلال اباد او ارګون نه هم ملاتړ ورته ورسېدل. له بلې خوا د سرتېرو په تښتېدلو سره د رجیم پوځ مخ په لړېدو شو. په دغه حال کې جنرال تني له ۴۲ ورځو نښتو نه وروسته د شپې په تیاره کې خپل پوځ پر شا کړ. په دغو ټولو نښتو کې له مجاهدانو نه ۱۰۶ تنه شهید او ۳۲۱ تنه ټپي شول. د رجیم تلفات هم درانده وو، خو شمېر یې په یقین سره مالوم نه دی.(۶۳)

د بل کال (۱۹۸۶) د اپرېل په سر کې د شوروي او رجيم پنځلس هليکوپټرونو د ا ته دېرشم کماندهو غونډ سهار په اوو بجو د ژورې شاوخوا ځايونو ته ښکته کړل. زر وروسته د غونډ پاتې سرتېري هم په هليکوپټرونو کې ور ورسېدل.

لومړی دوه هليکوپټرونه د سپين خوړ (Spin Khwar) ميدان ته ښکته شول. د ځينو هليکوپترونو د ناستې ځايونه د ډېورنډ کرښې په يو متري فاصله کې وو، خو زياتره يې د ژورې په لويديځ ته په لوړو ځايونو کې وو، مجاهدانو که څه هم دغو پېښو ته تياری نه درلود، بيا هم دوه ناست هليکوپترونه يې وويشتل او له کار نه يې وغورزول. له دغې پېښې نه وروسته د شوروي جنګي الوتکو د مجاهدانو ځايونه سخت بمباري کړل. مجاهدانو يې په وړاندې څه نه شو کولی. د هغه پر ځای يې د ناستې په ډګرونو کې پر سرتېرو بريد وکړ؛ ډېر زر يې څلور ميدانونه لاندې کړل او د رجيم ډېر کماندوګان يې ونيول. په همدغه وخت کې د وزيرستان له ميرانشاه مجاهدانو ته ملاتړان ورسېدل او کماندوګان يې له شانه ګير کړل. په دې ډول کماندوګان چې له دواړو خواوو نه چارپېر شول، يا ووژل شول يا ونيول شو. د ورځې تر پايه پورې له اته دېرشم غونډ څخه پنځه سوه او دېرش کماندوګان د مجاهدانو لاس ته ورغلل.

په همدغه مهال کې و، چې د شوروي خاصو جنګي الوتکو د ژورې غارونه بمباري کړل، څنګه چې د دغو غارونو ختيځ د وزيرستان په لور و، د شوروي الوتکې په هغې خوا لاړې او له هغې خوا نه يې دغه غارونه بمباري کول. په دغو بمباريو کې اتلس مجاهدان شهيد شول. داسې هم دغو الوتکو يو بل غار چې يو نيم سل متره اوږد و او يو نيم سل مجاهدان يې په داخل کې وو، بمباري کړ. قومندان حقاني هم چې نوی له ميرانشاه نه راستون شوی

و، هم په دغه غار کې و. د الوتکو بمباري ټینګه ونیول شوه، سره له دې هم ایسار شویو مجاهدانو وکولی شول له هغو نه بیرون شي. د هلیکوپټرونو د ناستې په ځایونو کې نښتې سختې شوې او د کماندو یوې ډلې چې په جګړه کې وه، سخت مقاومت وکړ، خو په پای کې تسلیم شوه.

د رجیم قواوو په یوه بل محاذ کې هم فعالیت کاووه. دوی له لومړۍ حملې نه وروسته لژه پیاوړې کړې وه او ژورې ته د رسېدلو په مقصد یې له دغې دوهمې مرحلې نه زر وروسته د مني کنډو لپاره په نښتو لاس پورې کړی و، چې په دغه وخت کې له هغو نه لس ورځې تېرې شوې وې. مجاهدانو د خوست پر فرقه برید کاووه او هم یې په مني کنډو کې د رجیم د پوځ د وړاندې تګ مخه نیوله. خو په داسې حال کې چې د رجیم او شوروي قوتونو تېر کال په حملو کې په شپه کې د توپونو ګذارونه او له هوا نه بمبارۍ نه کولې، اوس یې دغه کار په شپه او ورځ کې کاووه. په شپه کې به یې رڼا کوونکي ځېرکي خپرول. په همدغه مهال کې و چې له خوست نه د تڼیو له لارې لژې ته نور ملاتړان هم ورسېدل او نښتې دوولس ورځې اوږدې شوې. مجاهدان مجبور شول لژه پرېږدي او لوړو غرونو ته وخېژي. د مني کنډو د رجیم پوځ ته په لاس ورغی او ګډې قواوې له لژې نه د مغلګۍ خواته دمخه شوې، چې د ژورې په شمال کې پرته وه. دلته د حکمتیار د حزب یو کنډک ځای پر ځای و، خو مجاهدانو یې د پوځ په رانږدې کېدلو سره میدان پرېښود او پر شاشول. په همدغه وخت کې مولوي حقاني په بمبارۍ سره ټپي شو او اوازه شوه چې هغه هم شهید شو، په دغه حال کې مجاهدانو ژوره له دوولس ورځو نښتو نه وروسته خوشې کړه او ژوره د شوروي او رجیم ګډ پوځ ته په لاس ورغله، خو دوی هلته بس پینځه ګړۍ تم شول.

له بلې خوا مجاهدانو خپلې وسلې د MRL په ګډون وزیرستان ته یوووړې او له هغه ځای نه یې د دښمن په لور ډزې کولې. پوځیانو په دغې لنډې مودې کې هم د ژورې د ځینو تونلونو خولې په چوونکوې موادو سره ورانې کړې او ماینونه او نور وژونکي ځیزونه یې په مځکه کې خښ کړل، خو عجبه ده چې له زېرمه شویو وسلو سره یې غرض ونه کړ او لکه چې وویل شول، هلته له پنځه ګړیو تم کېدلو نه وروسته خوست ته پر شا شول. مجاهدان د دښمن د پوځونو د پر شاکېدلو په سبا ژورې ته ستانه شول، خو ماینونو د دوی یو شمېر تلف کړل او نور ماینونه دوی په خاصو الو سره خنثی کړل. داسې هم دوی د غارونو ترمینځ تولنونه بېرته جوړ کړل او تر پنځه سوه مترو پورې یې نور هم اوږده کړل او ژوره یې په لنډه موده کې بېرته فعاله کړه. په دغو ټولو نښتو کې ټول ټال ۲۸۱ مجاهدان شهید ا و ۳۶۳ ټپي شول. د مقابل لوري تلفات مالوم نه دي، خو مجاهدانو د هغوی دوه ناست هلیکوپترونه وران کړل او دوه الوتکې یې نسکورې کړې. د مجاهدانو غټه بری دا و، چې د رجیم ۵۳۰سرتېري او افسران یې ژوندي ونیول. د مولوي نظام الدین حقاني او ملګرو په روایت د مولوي محمد یونس خالص او نورو په قضاوت افسران اعدام او سرتېري په مشروط ډول وبښل شول او بیا له دوه کاله خدمت او عقیدې له تغیر نه وروسته ازاد شول.[۶۴] د یوې بلې سرچینې په حواله چې نه غواړي نوم یې یاد شي، د رجیم یرغمل شوي کسان شاوخوا دیارلس سوه تنه وو، چې په اسلامي تنظیمونو وویشل شول او د مولوي خالص د اسلامي حزب له برخې نه ډېر یې ووژل شول او مړي یې د تورخم په وچو شېلو کې وغورزول شول.

پاکستان د ژورې د نښتو په اړه اندېښمن و او مجاهدانو ته یې د MRL او نور ډول وسلې واستولې او هغوی یې پر دې قادر کړل چې د ډېورنډ له

کربنې څخه اخوا هم پر دښمنانو فيرونه وکړي. داسې يې د ښتو په بهير کې هم خپل يو څو افسران ژورې ته واستول چې مجاهدانو ته د بلو پايپ راکټونو اغېزناک استعمال وښيي. په خپله يې هم له يوه غره نه ديارلس راکټونه وار کړل، خو نتيجه يې ورنکړه. يو پاکستانی کفتان او ملګري يې لا د دښمن د الوتکې په بمبارۍ سره سخت ټپي شول.(۶۵)

يرغلګر پوځ هر وخت او هر چيرې له لويو عملياتو نه وروسته، که غالب به هم و، د جنګ له ډګر نه پر شا کېده، خو له ژورې نه ډېر زر پر شا شو. دا به له دې امله و، چې ژوره يوه سخته غرنۍ او سرحدي سيمه وه او مجاهدان يې له هغې نه ايستلي وو، لاندې کړي نه وو، په دغه حال کې د هغو او د هغو له زياتېدونکو ملاتړانو له غلچکي بريدونو نه ويرېدل. د شوروي ا و رجيم پوځي لويانو دا يو غټ بری ګاڼه، چې د ژورې دنه لاندې کېدلو افسانه يې له اعتبار نه وغورزوله، خو دوی د دې پروا نه کوله چې په دغو عملياتو کې به څومره انسانان تلف شي، لکه چې په واقع کې تلف شول، او ژوره هم ډېر زر د مجاهدانو شوه.

# سته کنډو

لکه چې دمخه ویل شوي سته کنډو د ګردیز او خوست ترمنځ پروت دی او د دواړو ترمنځ ډېره لنډه لار له هغه نه تېرېږي. ویل کېدلی شي چې هغه د دغو ښارونو ترمنځ یوازنۍ لار ده، له نورو لارو نه هم خوست ته رسېدل ممکن د ي، خو هغه ډېرې اوږدې د ي او د رجیم لپاره پر هغو پوځ استول ډېر ګران وو. سته کنډو په جګه سطح کې له څلور سوه مترو نه هم اوږد دی او هغه دغسې کږلیځې لري چې په عادي حال کې هم له هغه نه تېرېدل ګران وي. شاوخوا یې د دنګو ونو ځنګل دی، دغه کنډو د ګردېز په دېرش کیلومتري کې د ځدرانو په سیمه کې پروت دی. هلته نور پښتني قومونه هم اباد دي او سته کنډو د لویې پکتیا کلي یاور ګڼل کېدلی شي. سته کنډو په ۱۹۸۱ کې د رجیم له کنټرول نه ایستل شوی او د مجاهدو په قبضه کې و، چې قومندان جلال الدین حقاني (ځدران) او جنرال ګل زرک ځدران یې وتلي قومندانان وو، لکه چې په تېر څپرکي کې ویل شوي، قومندان حقاني د مولوي خالص اسلامي حزب ته منسوب و، خو ده په واقع کې د یوه ازاد قومندان په توګه جهاد کاووه او د عربي شیخانو له پرېمانه مالي مرستو نه هم بهره من و.

د ژورې له نښتو نه وروسته مجاهدانو د خوست فرقه محاصره کړه. د شوروي یو افسر ای.ان. ششکوف چې د سته کنډو په عملیاتو کې برخه اخیستې وه، وایي چې «د ۱۹۸۷ کال په مني کې چې سرسختو سرکښانو یا یاغیانو د افغان حکومت او شوروي پوخونو سره نښتې وکړې او خوست یې

پوره محاصره کړ، د انتقال لارې يې پرېکړې او زمونږ قواوو تـه يـې د وسلو، مهمـاتو او خـوړو شـيانو رسـول محـدود کـړل. لوړمقـام فيصـله وکـړه چـې د موثرو او پياوړو عملياتو په نامه د پوځ د څو فرقو او کنډکونو عمليات ترسـره کړي. لوی مقصد دا و چې د کابل-ګرديز-خوست پر لار د شـريکانو قوتونـه وځپي.»[۶۶]

د سته کنډو او تر هغـه دمخـه د ژوري د دوهمـې دورې نظـامي عمليـات د نويـو انکشـافونو پـه رڼـا کـې ښـه واضـح کيـدلی شـي. پـه شـوروي اتحـاد کـې ميخاييل ګورباچوف چې په ۱۹۸۵ کې عمـومي منشـي شـوی و، وغوښـتل لـه افغانستان څخه خپل څلوېښتم لمبـر پـوځ پـه ښـه نامـه وباسـي، خـو د پـوځي لويانو د مخالفت له امله يـې هغـو تـه دغـه اختيـار ورکـړو چـې د يـوه يـا دوه کلونو په موده کـې پـه افغانسـتان کـې د مجاهـدو پـه وړانـدې ټينـګ عمليـات وکړي او که په دغې مودې کې يـې هغـوی ځپلـی ونـه شـول، دی بـه د افغـان کشاله د ډيپلوماسۍ له لارې حل کـړي او پـوځ بـه لـه افغانسـتان څخـه بېرون کړي له هغه وروسته د يوه کـال پـه مـوده کـې چـې پيـل يـې مـالوم نـه دی، پـه افغانستان کې شوروي پوځيانو دغسې ټينګ عمليات وکړل، چې پخوا يې نـه وو کړي. زما د سياسي جورنال له مخې چې د څرخي پله زندان نه له ازادېدلو نه وروسته مې پيا پرې پيل کړی و «...په دې ورځـو کـې غټـه خبـره پـه ګردېـز کـې د قوتونـو تجمـع دی، چـې حتـی لـه ليـرې سـيمو لکـه کنـدهار، کنـدوز او ننګرهـار نـه هـم حکـومتي قـواوې ورتـه اسـتول شـوې دي. يـوازې د شـوروي قواوو شمېر د دقيقو نظامي کسـانو پـه قـول ۶۰۰۰۰ تـه رسـېږي.. د قـوس پـه څلورمه، پنځمه او شپږمه (نـومبر ۲۵، ۲۶، ۲۷ کـال ۱۹۸۷) د سـته کنـډو پـر شاوخوا بانـدې شـپه او ورځ بمونـه وغـورزول شـول، لـه ګرديـز نـه پـه توپونـو وويشتل شو... بمونه له نه ليدونکو ستراتيجکي طيارو نه په وقفـو سـره اچـول

شوي دي... سترګو ليدلی حال دی چې بمونه په دغسې سيمې لوېدلي چې اور او چاودنې يې له لېرې ليدل شوي. بې لـه دې چې طيارې چا پـه سترګو ليدلې وي يا يې اواز اورېدلی وي. دغه طيارې دغومره وچتې الـوزي چـې تـر لس زره مترو پورې د ستېنګر راکټ يې هم نه شي ويشتلی... له دغو عمليـاتو نه مقصد دا دی چې خوست لـه محاصرې نـه خـلاص شي او هغـه د درېو کلونو لپاره د خوراکي موادو او د وسلو له مخې تامين شـي... شـورويانو دغـه عمليات د دې لپـاره وکـړل چـې د خوسـت فرقـې پـه تـامين سـره هلتـه خپـل حضور وساتي او د مجاهدو له خوا هلته د موقتي حکومت د جوړولو احتمال له مينځ نه يو سي.»[۶۷]

په داسې حال کې چې شوروي نظاميانو عمليات شـديد کـړل، امريکـا د پاکستان له لارې افغان مجاهدانو تـه د سـتېنګر راکټونـه ورسـول. امريکـا دغـه راکټونه نوي جوړ کړي وو او هغه په اسانۍ سره وړل کېدلی او له اوږې نه فيـر کېدلی شي او په هوا کې تر لس زره متره پورې الـوتکې ويشـتلی او لـه کـار نـه غـورزولی شـي. پـه لـومړي راکـټ سـره د اسـلامي حـزب قومنـدان انجينـر عبدالغفار د ۱۹۸۶ کال د سپټمبر په ۲۶ مه د جلال اباد پـه هـوايي ډګـر کـې د شوروي يوه چورلکه وويشتله او له کار نه يې وغورزوله. دغـه راکـټ پـه واقـع کې د افغانانو په ګټه په دغه جنګ کې يو نوی فصـل پرانيسـت. پـه دې ډول د افغانستان فضا نور نو د شوروي الوتکو لپاره خوندي نه وه. په کال ۱۹۸۷ کـې په يوه اټکل سره لـه ډول ډول الوتکـو نـه پـه متوسـط ډول د ورځـې يـوه نيمـه الوتکه ويشـتل کېدلـه. پـه دغـه ډول د سـتېنګر راکـټ د دې لامـل شـو، چـې د شوروي د الوتکو په تېره د توپ لرونکو هليکوپټرونو اثر کم او په ديپلوماسـۍ سره له افغانستان څخه د شوروي د پوځ ايستل کېدل چټک شي.[۶۸]

د شوروي افسر ششکوف په وينا پرچمي رجيم اول کوښښ وکړ چې کشاله په خبرو اترو سره هواره شي، خو د مقاومت لوی قومندان حقاني له دغه وخت نه د خپلو ځواکونو د تنظيم او پياوړي کولو لپاره کار واخيست او په پای کې يې د رد ځواب ورکړ. دی دا هم وايي چې په دې سيمې کې اټکل پنځلس زره مجاهدانو فعاليت کاووه.(۶۹) په دغه ستر نظامي عمل کې چې قومنداني يې د شوروي د څلوېښتم لمبر پوځ قومندان ګروموف پر غاړه وه، دغه واحدونه شامل وو: د موټوريزي ټوپک دوه فرقې، د هوايي فرقه يا له هوا نه د انتقال فرقه، د هوايي بريد يو بېل غونډ، د هوايي بريد غونډ، له هوا نه د انتقال کنډک او نور واحدونه او فرعي واحدونه، د ده په وينا د رجيم نظامي واحدونه دا وو: د اتمې، يوولسمې، دوولسمې، څوارلسمې او پنځه ويشتمې پلي فرقه، د ټانک پنځلسم غونډ او د څو نورو خاصو قوتونو فرعي واحدونه.(۷۰) خو هيڅ نظامي واحد پوره نه و، او فرقې د بېلو څانګو د سرتېرو ترکيب وې. په دې ډول په دغو عملياتو کې د سرتېرو رښتينی شمېر مالوم نه و، خو دا يقيني ده چې په افغانستان کې دا د شوروي او رجيم د ګډو پوځونو تر ټولو لوی عمليات وو.

د جنرال ګل زرک ځدران په وينا دغه قواوې له څو موټو رېزې ټوپک فرقو، هوايي فرقې (airborne) د رجيم له نظامي واحدونو، سپتناز، د توپونو واحدونو، له مځکې نه مځکې توغنديو او د شوروي له هوايي ځواک نه جوړې وې. د ده په نظر شورويانو د دغسې لوی پوځ په استولو سره غوښتل چې د ناممکن په ممکن کولو سره نړۍ ته خپل نظامي قوت وښيي، د دې لپاره چې بيا د افغانستان اشغال ته خاتمه ورکړي او خپل ځان ته د ګرېډت په ګټلو سره له [افغانستان څخه] ووځي. دی د خپلو مجاهدانو د ځواک په اړه وايي چې موږ يو شمېر راکټ ويشتونکې وسلې (BM-12)،

زیکویک (ZGU-1)، دهشکې (DSHK) ماشین ګڼې او نورې وسلې ځای پر ځای کړې وې.[۷۱] داسې هم دوی د سته کنډو د لویدیځ په دوه کیلومترۍ کې په خادي کنډو کې وسلې ځای پر ځای کړې وې.

زیاتره مجاهدان ځایي خلک وو، چې د نورو سیمو د خلکو پر خلاف تر دغه وخت پورې پر خپلو مېنو کې پاتې شوي وو او پاکستان ته اوښتي نه وو. دوی له خپلې سیمې نه د دفاع فیصله په قومي جرګې سره کوله، نه له اسلامي تنظیمونو سره. دوی تکړه قومندانان لرل او هغوی هم قومي خلک وو. پر دې سربېره هر قوم د اربکیانو په نامه قومي څارونـدویان یا مـدافعان هم د جنګ محاذ ته استول او درې سوه اربکیان په سروتې کنډو کې ځای پر ځای شول، چې د سته کنډو په شمال- لویدیځ کې د دري خېل په سیمه کې پروت دی. شورویانو په دره (Dara) او ازاووه (Azawa) کې چې د سته کنډو په شمال- لویدیځ کې د ګردیز په لور پراته دي، ځایونه ونیول او بیا یې له زاووه نه پر سروتي کنډو (Saroti Pass) برید وکړ، چې د سته کنډو په شمال- ختیځ کې پروت دی. دغه ناڅاپي برید مجاهدانو ته د توقع پر خلاف و. شورویانو د څلور پنځو ورځو له نښتو نه وروسته مجاهدان له هغه ځای نه پر شا وتمبول او قومندان بادشاه یې هم شهید کړ. د سروتې کنډو یې ونیوه او له هوا نه یې په بمبارۍ پیل وکړ او د لوی سړک او سروتي کنډو ترمینځ په هسکو ځایونو کې ښکته شول. په دې ډول دوی په هوايي قوې او د توپونو په زور کلیدي ځایونه ونیول. له دغو لوړو څوکو څخه دوی د مجاهدانو ځایونه ویشتل. دوی د سروتي له لارې د خپلو وړاندې تلونکو سرتېرو ملاتړ کاووه. ان تر دې چې په ساراني (Sarani) کې یې د مجاهدانو ځایونه چې د سته کنډو په ختیځ کې واقع وو، هم ویشتل په دغه وخت کې ډېر مجاهدان خپلو کورنیو ته په اندېښنه کې شول او هغوی یې پاکستان ته ورسولې. د

مجاهدانو دغه لوی پر شاتګ د شورویانو لپاره لار خلاصه کړه. دوی وړاندې لاړل. دوی اوس د ستې کنډو پر ضد د لویې حملې لپاره اماده وو.

شورویانو په هوايي حملو او د توپونو په ویشتلو سره د ستې کنډو پر ضد عملیات پیل کړل او د خپلې مانوري قوتونه یې دره (Dara) ته نقل کړل. دوی همدا چې خپل موقعیتونه ونیول، د کنډو له پاسه یې الوتکې جګې والوزولې او «پاراشوټي عسکر» یې ښکته کړل. مجاهدانو له دوی سره پر خپلو ماشین ګڼو سره سخته مقابله وکړه، خو چې ورنږدې شول، ورته مالومه شوه چې هغه مومیايي یا جعلي څېرې وې او دوی تېر ایستل شوي وو. په دغه چل سره د شوروي کشافو الوتکو د مجاهدانو موقعیتونه په نښه کړل. شورویانو هغه له هوا نه بمباري کړل او له مځکې نه په توپونو ویشتل یې ټینګ کړل. مجاهدان پر خپلو ځایونو کې مېخ شول. توپونو پر دوی اثر نه شو کولی خو له هوايي بمباریو نه په امان نه وو. په تېره په هغه حال کې چې کشافو الوتکو به د دوی ځایونه په نښه کړي وو. دوی تر سختې بمبارۍ لاندې ونیول شول. له هغه وروسته د شورویانو مځکنۍ قوه دمخه شوه، خو مجاهدانو هغه مغلوبه کړه. په بله ورځ د ډسمبر په اوله ۱۹۸۷ شورویانو ویشتل او بمباري کول نور هم شدید کړل او ابتکار یې له مجاهدانو نه ترلاسه کړ او مجاهدان یې د MRL په درنو توپونو د BM-21 او BM-27 په ګڼون سره ویشتل. په داسې حال کې چې له پاس نه یې د کلستر بمونه (Cluster bombs) پرې غورزول. په دغه حال کې مجاهدان مجبور شول خپل موقعیتونه پرېږدي او په لویدځ کې لوړو غرونو ته پر شا شي، چې دغمبور خولۍ (Ghumbor Khuwalay) او فخري نومېدل. شورویان د مجاهدو تر شاروان شول او پینځه ورځې وروسته یې ستې کنډو ونیوه، خو دا د نښتو پای نه و.

شوروړیانو چې د لوی سړک د پرېکړ شویو ځایونو په ترمیم پیل وکړ، مجاهدانو له خپلو هسکو ځایونو نه په درندو وسلو پرې وارونه کول، خو هوايي بمباریو مجاهدان مجبور کړل چې د غرو هسکو ځایونو ته نور هم وخېژي. د شوروي ځواکونو د دوی شا پرېکړه او دوی نور هم د سهیل-لویدیځ غرو ته مخه وکړه. دوی څه وسلې او مهمات له ځان سره یوووړل، خو ډېر یې پر ځای پاتې شول. شوروړیانو شواک (Shwak) هم ونیوه، چې د جنرال ګل زرک ځدران مقر و. شوروړیان دوه ورځې هلته تم شول او بیا د ساراني (Sarani)په لور دمخه لاړل، چې د ستړه کنډو په سهیل کې پروت دی او د مجاهدانو مرکز و. شوروړیانو د هغه په و رانولو پیل وکړ، دغه ورانی د دې نښه وه چې دوی غوښتل هلته تم شي.

خو مجاهدان له یوې بلې غتې او بې ساري ستونزې سره مخ وو او هغه دا چې د شوروړیانو د بمبارۍ په شدت سره د ویالو اوبه زهرجنې شوې وې. د مځکې له پاسه واوره هم زهرجنه شوې وه. خینو مجاهدانو ویل چې شوروړیانو اوبه له قصده زهرجنې کړې دي. مجاهدان د تندې سربېره له ولږې سره هم مخ وو، ځکه چې شوروړیانو دوی ته د خوړو رسېدلو لار پرېکړې وه. په دغسې حال کې چې د موټرو او قاطرو پرمخ لارې بندې وې، یو شمېر مجاهدانو د اوبو او خوړو د رسولو دنده پر غاړه و اخیستله. په عین حال کې شوروړیانو د سهیل په لور وړاندې تګ ته دوام ورکړ. تر هغه دمخه یې دغه لار په بمباري کولو سره خوندي کړې وه. په داسې حال کې چې دوی یو ځای بل ځای د ښار پوستې جوړې کړې او د لکه تیرې (Laka tega) محل ته ځان ورسوه، چې خوست ته نږدې یو ځای دی. دوی دلته ستړه کنډو له سروتې سره په پوځي واحدونو سره ونښلوه. له هغه وروسته وړاندې تګ دوی ته اسان و. په لکه تیره کې یې یو واحد د دوی هر کلي ته ورسېد او بیا

دوی ټول په ګډه خوست ته ننوتل او د لارې په خوندي کولو سره يې فرقې ته وسلې او خوراکي مواد ور ورسول.

خو په همدغه وخت کې و چې څېره ناڅاپه د مجاهدو په ګټه واوښته. ټولو هغو ځايي مجاهدانو چې خپلې کورنۍ په پاکستان کې خوندي کړې وې، ځانونه خپلو مجاهدو ته ورسول. داسې هم لوی قوماندان حقاني له لس دوولس نورو قوماندانانو سره د خوست لويديځې خوا غرونو ته ورسېدل. د پاکستان کرنېل امام هم ورسېد، او هغه د مجاهدو د بريدونو په منظمولو پيل وکړ. د افغانستان له نورو ځايونو څخه هم ملاتړان ورغلل. دوی ټولو دوولس قوماندانان موظف کړل چې د سته کنډو او وازې (Wazi) ترمينځ د دښمن پر پوستو بريد وکړي. دوی شورويان په دې ډول اړ کړل چې له ا ړخيزو تنګو درو څخه د لوی سړک تر څنګ سيمو ته ووځي. مجاهدانو پر دوی بريد پيل کړ. د دواړو خواوو ترمينځ سختې نښتې وشوې. قوماندان حقاني په دغه وخت کې په فخري نومي محل کې و. دی يو ځل بيا د جنګ په ډګر کې په **شرپنل** سره ټپي شو، خو دا ځل دی يوه اونۍ هلته پاتې شو، بيا د قاطرې په سورلۍ د غرو له پاسه ميرانشاه ته ورسول شو.

د شوروي او رجيم قوتونو د سته کنډو لوی سړک د دوولس ورځو لپاره خوندي وساته او بيا پر شا شول او سيمه يې ترک کړه. د شوروي هوايي حملې که څه هم د الوتکو د ډېر جګ الوتلو له امله چندان اغيزناکې نه وې هم ودرېدلې. شورويانو هسک ځايونه هم پرېښودل. وسلې يې له ځان سره يووړې، خو مهمات يې پر ځای پرېښول. مجاهدانو پر لوی سړک قبضه وکړه او دښمنانو يې ونه شو کولی، هغه بېرته ونيسي. په دې ډول د دوی عمليات پای ته ورسېدل.

د بریدونو او نښتو له شدت سره سره د مجاهدانو تلفات ډېر نه وو. له دوی نه شاید سل تنه شهید شوي وي. د رجیم او شورویانو تلفات مالوم نه شول. مجاهدانو د دوی یوه څرخي الوتکه او د جت درې الوتکې وغورزولې. دوه ټانکونه او څلور لارۍ یې هم د مجاهدانو لاس ته ورغلې. د مجاهدانو غټ برى دا شو چې د رجیم شپږ سوه سرتېري یا په خپله مجاهدانو ته واوړي یا ونیول شي، دوی زیاتره له وسلو سره له مجاهدانو سره یو ځای شول.(۷۲)

د ا مریکې د نظامي چارو متخصص او (خرس غره ته وخوت)اثر انګرېزي کوونکی او تنظیم کوونکی لستر ګراو (Lester Grav) په نظر د شورویانو له خوا له هوا نه د مومیایي یا جعلي سرتېرو ښکته کول د دې لپاره چې د مجاهدانو د ویشتلو ځایونه کشف شي، د تیر ایستلو ډېره اعلی نمونه وه، خو د دوی د توپونو ګذارونه که څه هم ډېر پراخ وو، بریالي نه وو، لکه هسې چې د مجستړل عملیات بریالي نه وو، که څه هم دا د افغان-شوروي د جنګ ډېر ستر عملیات وو. دی دا هم وایي چې «د مجستړل له ډېرو تاواني عملیاتو نه وروسته مجاهدانو یو ځل بیا خوست قطع او محاصره کړ.»(۷۳)

شوروي پوځیانو ژوره یو کال دمخه نیولې وه او اوس یې سته کنډو هم ونیوه او خوست یې د مجاهدانو له محاصرې نه خلاص کړ، خو شورویانو هغه هم ساتلی ونه شو. اساسي ټکی دا دی چې یرغلګر پوځ د هغو مدافعان لاندې کولی ونه شول. هغوی یې یوازې له خبلو ځایونو نه، هغه هم د لږ وخت لپاره بېځایه کولی وشول او هغو د دوی په بېرته تګ سره هغسې چې ژوره بېرته نیولې وه، سته کنډو یې هم بېرته ونیوه او خوست یې بیا محاصره کړ. په دې ډول وضع بېرته د پخوا پر شان شوه، په دغومره تفاوت چې په دواړو خواوو کې انسانان ووژل شول، ورانی وشو او تاوانونه واوښتل. نو دغه

عملیات هم په واقع کې ناکام وو، خو دغې ناکامۍ به ګورباچوف پر خپل نظر نور هم ټینګ کړی وي، چې د افغانستان کشاله نظامي حل نه لري او باید په خبرو اترو سره هواره شي. اساسي دا ده چې د ژورې او سټه کنډو مدافعانو په خپلې دفاع سره دوی ټولو ته وښودله چې له افغانستان څخه د دوی له وتلو نه پرته بله لار نشته.

پای

دوهمه برخه

## شپږم څپرکی

# په مسکو کې دګورباچوف پرستروکا او په کابل کې د نجیب الله ملي پخلاینه

شوروي لویان ډاډه وو چې پوځ به یې په کابل کې د ببرک کارمل په سروالۍ دوی ته یو تابع حکومت پر پښو ودروی او ترهکی او زرغوني خلقیان به د اسدالله سروري په مخکښې ورسره په ګډه حکومت وکړي. په رښتیا هم کارمل او سروري په مسکو کې د ک. ج. ب تر څارنې لاندې سره اتحاد کړی او شوروي لویان یې له هغه ډاډه کړي وو، خو دغه اتحاد واقعي نه و او هغه د دې لپاره و، چې د شوروي پوځ د حفیظ الله امین حکومت نسکور او دوی په واک کړي. د شوروي لویانو بله غټه تېروتنه دا وه چې دوی افغان ولس له نظر نه غورزولی و، په داسې حال کې چې دغه ولس په خپل هېواد کې نه د دوی پوځ او نه د دوی ترلاس لاندې رجیم منه، لکه چې له دغه یرغل نه زر وروسته حتی په ښارونو کې ټینګ مخالفت وښودل شو، خو دوی هغه مهم ونه ګاڼه چې دا د دوی بله تېروتنه وه. سره له دې هم دوی ډاډه وو چې پوځ به یې دوی ارومرو لاندې کوي، لکه هسې چې د ختیځې اروپا هېوادونه یې لاندې کړي وو، خو د وطن، اسلام او خپلواکۍ په دفاع کې د ولس په ننګ ملاتړ افغان مجاهدانو هوډ د دوی د پوځیانو له هوډ نه ډېر

پیاوړی و، په تېره وروسته له هغه چې دوی د ډېرو غربي او عربي هېوادونو له ملاتړ نه بهره من شول. په کال ۱۹۸۵ کې چې میخاییل ګورباچوف د شوروي اتحاد اعلي واکمن شو، دغه واقعیت درک کړ او پر خپلو نظامي او ملکي چارواکو یې هم ومنله چې له افغانستان نه د پوځ له ا یستلو او دننه په شوروي نظام کې له اصلاحاتو راوستلو نه پرته بله لار نه ده پاتې. بیا نو دوی د همدغه مقصد لپاره د ملګرو ملتونو د ځانګړي استازي په منځګړیتوب د خبرو لار تېنګه ونیوله، چې دمخه په کال ۱۹۸۲ کې پرېپ پیل شوی و، خو څنګه چې شوروي لویان هیڅکله لاندې کړي هېواد نه د پوځ په ایستل کېدلو مجبور شوي نه وو، او څنګه چې د پوځ په ایستل کېدلو سره په کابل کې د دوی تابع حکومت پاتې کېدلی نه شو او څنګه چې دا وېره هم وه چې د دوی د امپراتورۍ نور تابع هېوادونه به هم پر خپلواکۍ غوښتلو باندې لا هم ټینګ شي. د ژنیو په خبرو کې یې کوښښ کاووه چې له ښکېلو خواوو سره دغسې موافقه وکړي چې د هغې له مخې خپل پوځ له افغانستان څخه په عزت سره و باسي او هم په کابل کې د دوی تابع حکومت په کوم ایتلافي ډول پاتې وي. دوی د دغه مقصد لپاره چنې وهلې تر څو د ۱۹۸۸ کال د اپرېل په ۱۴ مه یې ومنله چې خپل پوځ به په نهو میاشتو کې په دوه جوپو کې له افغانستان څخه وباسي. خو تر دغه وخت پورې د شوروي اتحاد عمومي وضع دغومره ډېره خرابه شوې او پوځ یې له مجاهدانو سره په مقابله کې خپل مورال تر دې حده له لاسه ورکړی و، چې زر وروسته اول د شوروي اتحاد امپراتوري چې نظامي امپراتوري وه، له مینځ نه لاړه او ورپسې په کابل کې د دوی ترلاسه لاندې رجیم نسکور شو او پر ځای یې افغان اسلامي تنظیمونه په واک شول.

# د سولې لار

په خبرو اترو سره د افغانستان د لانجې هوارول چې پر افغانستان باندې د شوروي اتحاد د نظامي یرغل له امله پیدا شوې او بین المللي اړخونه یې پیدا کړي وو او د ساړه جنګ یوه برخه ګرزول شوې وه، اسان کار نه و. په اصل کې شوروي اتحاد نه غوښتل دغه کشاله په خبرو یا دیپلوماسۍ سره هواره شي، که څه هم بین المللي موسسو او د ډېرو حکومتونو سروالو له شوروي اتحاد نه وغوښتل چې خپل پوځ له افغانستان څخه وباسي او د افغانستان د ناپېیلتوب او خپلواکۍ درناوی وکړي او دوی په ظاهر کې له یرغل نه دوه کاله وروسته په ژنیو کې په دې اړه د خبرو اترو لار ونیوله.

د ملګرو ملتونو عمومي اسامبلې له یرغل نه یوه اونۍ وروسته د ۱۹۸۰ کال د جنورۍ په پنځلسمه په خپلې بیړنۍ ناستې کې له شوروي اتحاد نه وغوښتل چې خپل پوځ له افغانستان نه بیرون کړي. اروپایي ټولنې هم د دغې کشالې د هوارولو لپاره یو فارمول وړاندې کړ، لکه د ناپېیلو هېوادونو وزیرانو په ډهلي کې په یوې غونډې کې له شوروي اتحاد نه د خپل پوځ د بېرته غوښتلو غوښتنه وړاندې کړه، خو شوروي لویانو د لیوینډ برېژنیف په مشرۍ دغو غوښتنو ته اهمیت ورنه کړ. دوی پر خپل پوځ ډاډه وو، چې هلته به کراري خوندي کړي او د کارمل په سروالۍ پرچمي رجیم به د ختیځې اروپا د تابعو حکومتونو پر شان حکومت کوي. دوی په دغه ډول هغه وخت د خبرو اترو له لارې د کشالې د هوارولو چانس له لاسه ورکړ او جنګ ته په

دوام ورکولو سره يې چې د يرغل حتمي نتيجه وه، د زرګونو انسانانو د وژل کېدلو او د افغانستان د ورانېدلو مسؤليت پر غاړه واخيسته.

لکه چې په دوهم څپرکي کې ويل شوي د اروپايي ټولنې مشر د باندنيو چارو وزير لارډکرنګټن د ۱۹۸۱ کال په جولايی کې په مسکو کې له ګروميکو سره وليدل او د خپلې ټولنې د پرېکړې له مخې يې له هغه نه وغوښتل چې شوروي اتحاد دې خپل پوځ له افغانستان نه بيرون کړي او ا فغانستان دې دغسې هېواد شي لکه استريا چې په کال ۱۹۵۵ کې د شوروي اتحاد د پوځ له وتلو نه وروسته يو ناپېيلي هېواد شوی و، خو ګروميکو دغه فارمول «غير عملي» او دولتي اژانس يې هغه «د نه قبول وړ» وباله. شوروي لويانو د فرانسې د ولسمشر وړانديز هم ونه منه، چې مطلب يې د افغانستان د کشالې د هوارولو لپاره د بين المللي کنفرانس جوړول و. د امريکې ولسمشر کارتر په وار وار شوروي لويانو ته ښکاره کړه ا و فشار يې پرې واچوه چې خپل پوځ له افغانستان څخه بيرون کړي او د ډيناټ درناوی وکړي، کوم چې دوی نوی د بين المللي کړکېچ د کمولو په مقصد سره منلی و، د دغو ټولو وړانديزونو په وړاندې د شوروي لويانو ځواب دا و چې «شوروي اتحاد به همدا چې پوځ ته يې ضرورت له مينځ نه لاړ، له افغانستان څخه بېرون کړي.» خو په دې هر څوک پوهېده چې دا يو تېر ايستونکی ځواب دی.

شوروي لويانو داسې پتېيلې وه چې افغانستان به له مخالفت نه لاس واخلي او د کابل رجيم به ومني لکه د ختيځې اروپا ولسونو چې لږووډېر همدغسې کړي وو او د لويديځو حکومتونو له هغو سره مرسته نه وه کړې. خو شوروي لويان دېته متوجه نه وو، چې د ختيځې اروپا نمونه په افغانستان کې نه چلېده، لکه د بخارا نمونه چې په افغانستان کې غير عملي وه. غټ توپير دا و چې افغان مجاهدانو د تش په نامه ډيورنډ کرښې نه اخوا د ډاډ وړ

پناه ځایونه لرل او دوی هلته د دوستو هېوادونو له ډول ډول مرستو نه برخمن کېدلی شول. په رښتیا هم دغسې مرستې وروسته له هغه دوی ته په زیاته اندازه ورسول شوې، چې دوی د خپل وطن په دفاع کې نه خلل منونکی هوډ وښود. په دې ډول دغو افغانانو هم د دغه فکر په حق توب ثابت کړ چې د وطن او خپلواکۍ ساتنه حتی د یوه یرغلګر زبرځواک په وړاندې هم په ولسي زور او ټینګ هوډ او قوت کېدونکې ده. څه موده و روسته حتی ځینو شوروي لویانو هم خپله تېروته او د دغه فکر حقانیت ومنه، خو لیوینډ برېژنیف د پخوا په شان پر خپل سر زورۍ ټینګ و، د شوروي امپراتوري یې دغه امپراتور چې له لاندې کړي هېواد نه هیڅکله د پوځ په ایستلو مجبور شوی نه و، اوس یې منلی نه شوه چې خپل پوځ له افغانستان څخه په ډیپلوماسۍ سره بیرون کړي، تر څو چې ۱۹۸۲ کال په نومبر کې له اتلس کالو واکمنۍ نه وروسته مړ شو او ځای ناستی یې د ک. ج. ب مشر اندروپوف د ده سرزوري ترک کړه او ډیپلوماسۍ لار یې ټینګه ونیوله، سره له دې چې د دغه یرغل طرح د ده نوښت و، له یرغل نه وروسته دی کابل ته لاړ او هلته سره له دې چې د کابل رجیم او شوروي پوځ په وړاندې یې د افغانانو ټینګ مخالفت مشاهده کړ، بیا هم د پوځ د ایستلو مخالف و. خو چې د شوروي اتحاد عمومي منشي یا اعلی واکمن شو، د دیپلوماسۍ لار یې ټینګه ونیوله. د شوروي کمونستي ګوند د سیاسي دفتر علی البدل غړی کورني ینکو په نظر «تر کال ۱۹۸۱ پورې که د شوروي ټولو لویانو ته نه، زیاترو ته یې چې د عقلي تفکر استعداد لاره څرګنده شوې وه، چې دغه کشاله نظامي حل نه لري.» دی په مشخص ډول وایي چې اندروپوف د ۱۹۸۳ په ۲۸ مه د یونو سر منشي ته په یوې کتنې کې وویل چې شوروي اتحاد «...نه یوازې په سولې سره دافغان د کشالې هوارول غواړي، په څرګند ډول یې هغه دلیلونه هم وړاندې

کړل چې دغه پرېکړه ضروري کوي. ده چې موجوده وضع د شوروي اتحاد لپاره ډېره خطرناکه وبلله هغه یې په ګوتو سره یو په بل پسې وښوولې: لومړی له لویدیځ سره په اړیکو کې؛ دوهم دننه په سوشلستي هېوادونو کې؛ درېیم له اسلامي نړۍ سره په اړیکو کې؛ څلورم د پاتې له درېیمې نړۍ سره په اړیکو کې؛ او پنځم دا چې دغه وضع دننه په شوروي اتحاد کې د دنني حال لپاره دردناکه ده.»[1] له همدې امله و چې اندروپوف په خپلې یوې کلنۍ واکمنۍ کې په افغانستان کې خپل پوځ ته د سختو عملیاتو اجازه نه ورکوله او د ژنیو خبرې یې ټینګې ونیولې، خو دی هم چې د ډېر عمر خاوند و، د ۱۹۸۴ کال په فبرورۍ کې مړ شو او پر ځای یې د پولټبورو غړی کان سټن تاین چرننکو په واک شو. دی هم زوړ خو د برېژنیف پر شان په نظامي حل معتقد و. د ده په یوې کلنۍ واکمنۍ کې شوروي پوځ په افغانستان کې شپږ ځله لوی عملیات وکړل او هر ځل به له پنځه زره تر لس زره سرتېرو پکې برخه اخیستله. د دغو جنګونو یوه پایله د ۲۳۴۳ شوروي سرتېرو وژل کېدل و. دغه تلفات د هر بل کال تلفاتو په پرتله ډېر وو.[2] د چرننکو له مړینې نه وروسته د پولټبورو غړی میخایل ګورباچوف د ۱۹۸۵ کال په مارچ کې د شوروي اتحاد ستر واکمن شو. ده په شوروي اتحاد کې دننه دغسې اصلاحات عملي کړل چې د هغو پایله له افغانستان نه د شوروي اتحاد پوځ پر شا کېدل، خپله شوروي اتحاد پر خپلواکو هېوادونو ویشل کېدل او په نړۍ کې د ساړه جنګ ختمېدل شول.

# د ګورباچوف اصلاحات

ګورباچوف د شوروي اتحاد د نسبتاً ځوانو واکمنو څخه و؛ د عمومي منشي کیدلو په وخت کې څلور پنځوس کلن او ډینامیک و. په دغه وخت کې د شوروي اتحاد په زیاترو چارواکو کې دغه فکر خپور و، چې له جنګه سربېره «... اقتصاد له غټې ستونزې سره مخ دی او دا په زیاته اندازه د نظامي لګښت له امله ده.» دوی ټولو ویل چې شوروي اتحاد له حد نه دېر «ټوپک» تولیدوی، نه «کوچ» لیګاچوف چې د پولټبورو ساتنپال غړی و لا ویل چې «... هېواد د اقتصادي او اجتماعي مصیبت په لور روان دی.» په ټول هېواد کې ګوندي چارواکي هم پوهېدل چې «...اقتصاد له جدي ستونزې سره مخ دی او اجتماعي مسئلې غټې دي او دا چې د راتلونکو بحرانونو د مخنیوي لپاره ډراماتیک عمل په تېره د نظامي لګښت کمول حتمي شوي دي.» د هېواد عمومي وضع دغومره خرابه وه چې ګورباچوف له منشي کېدلو نه یوه ورځ دمخه خپلې مېرمنې ته ویلي وو چې «...دغه ډول ژوند ته دوام ورکولی نه شو.» بیا نو دغسې چاره په کار ده چې نظامي لګښت کم شي او په صرفه شویو پیسو «کوچ» یا ملکي لګښتي څیزونه ډېر تولید شي او د برېژنیف د وخت پر ځای درېدلی اقتصاد په ګړندي حرکت راوستل شي. د ګورباچوف «ټول مرستیالان، مشاوران، د پولټبورو غړي او حتی جنرالان له دغې ستراتیجۍ سره موافق وو.»[۳] خو دا چې دغه سمونونه د موجودې بیوروکراسۍ د چارواکو له لارې یا د نویو چارواکو په لاس پلي شي، په دې اړه اختلاف و. په خپله ګورباچوف غوښتل چې موجود نظام پر ځای وي او

هغه د اساسي اصلاحاتو په عملي کېدلو سره سم شي، خو د هغه نږدې ملګري په خاص ډول د باندنيو چارو وزير ايډورډ شيوارد نازي او اليکزاندر ياکوليف چې دواړه د پولټبورو غړي وو، او داسې هم د دوهمې درجې چارواکي اناتولي چرنيايوف د اساسي اصلاحاتو د عملي کېدلو په لار کې د نظام له مينځ نه تللو پروا هم نه کوله.

سره له دې هم ګورباچوف ته ګرانه وه چې د موجودو لوړپوړو ملکي او نظامي چارواکو له لارې اساسي سمونونه پلي کړي او خپل پوځ له افغانستان څخه بېرته وغواړي، حتی ليګاچوف په دې نظر و، چې «...ممکنه نه ده د برېژنيف د وخت په فاسدو چارواکو سره اصلاحات پلي شي.» خو چا چې ګورباچوف د راډيکال او افراطي لارې غوره کولو ته وهڅوه، هغه ياکوليف و، چې د شوروي نظام مخالف شوی و او په دې اړه يې دوه کتابونه هم وليکل، چې يو يې د شوروي اتحاد د مارکسزم برخليک او بل يې په روسيې کې يوه پېړۍ تشدد نوميږي.[۴] بيا نو ګورباچوف په دوه کلونو کې په زياته اندازه په ملکي ساحه کې اصلاحات عملي کړل. ګروميکو يې د ولسمشرۍ مقام ته پورته کړ، چې هغه يو تشريفاتي مقام و او پر ځای يې شيواردنازي وټاکه. داسې يې هم د ملي دفاع وزير مارشال سوکولوف پر ځای جنرال يازوف مقرر کړ . اوستينوف په ۱۹۸۴ کې او نفوذناک ګوندي ايډيالوګ سوسلوف تر هغه دمخه مړ شوی و. زر وروسته ګورباچوف او ليګاچوف سره وران شول. وروستی له پولټبورو نه وايستل شو، خو ګورباچوف له خپل هيڅ سياسي مخالف سره لکه څنګه چې په شوروي اتحاد کې دود و، زيږ چلند ونه کړ. په دغه وخت کې هلته د نفوذ او غټ نامه خاوند هم پاتې نه و.

بيا هم د ګورباچوف لپاره ګرانه وه چې په نظامي ساحه کې اساسي سمون پلی کړي. شوروي اتحاد په واقع کې يوه نظامي امپراتوري وه، چې د ملي

عايد د شل-سلنه يا حتی څلوېښت-سلنه ورته ځانګړې کېدله، چې دا بيخي ډېرې پيسې کېدلې.[۵] له دې امله و چې شوروي اتحاد هم ډېر افسران لرل او هم ډېر لوی پوځ، چې د هغو دنده دننه په شوروي اتحاد کې له مرکز نه د فرار قوتونو او بغاوتونو ځپل، د باندنيو تېريو خنثی کول او له شوروي اتحاد نه د دفاع په پلمه د ګاونډيو هېوادونو لاندې کول وو، چې افغانستان يې يو نوی مثال و. او دا په داسې حال کې چې د شو روي اتحاد له پيل نه نظامي افسرانو د مارکسيزم-لیننزم له مخې د پانګه وال هېوادونو او شوروي اتحاد ترمنځ ټکر او طبقاتي جنګ حتمي ګاڼه. په شوروي اتحاد کې په نظامي افسرانو او ملکي چارواکو کې له اولې ورځې نه دا يو حاکم او رسمي نظر و، خو لکه چې دمخه وليدل شول د د غه نظر پايله په عمل کې له حد نه د ډېرو «ټوپکونو» او له حد نه د لږو «کوچو» توليد بلل شوی و، چې له امله يې په دغه وخت کې لوړ پوړي چارواکي په دغه نظر شوي وو، چې دغه فکر يا په بله ژبه د شوروي سوشلزم نور کار نه کوي او هغه بايد په ا ساسي سمونونو سره اصلاح شي. ګورباچوف له خروشچېف نه وروسته د شوروي په لويانو کې دغسې زړور او ډيناميک شخص و، چې د خپلو همفکرو ملګرو په مرسته يې دغه بنسټيز کار ته ملا وتړله. دغه اصلاحي پروګرام چې په اصل کې د شوروي اتحاد داخلي موضوع وه نړيوال اړخ هم لاره او هغه دا چې د ساړه جنګ په دغه پړاو کې چې پر افغانستان باندې يرغل هغه ډېر جدي کړی و، په بري سره عملي کېدل يې اسان کار نه و، ګورباچوف پوهېده چې دغه اصلاحي پروګرام يوازې هغه وخت عملي کېدلی شي، چې له پانګه والې نړۍ او له باندنيو کمونستي ګوندونو سره د شوروي اتحاد په اړيکو کې «اساسي تغيير» راوستل شي.[۶] دغه اساسي تغيير هغه وخت شونکی کېدلی شو، چې له امريکې سره د شوروي د وسلو سيالي پر ځای ودروله شي او

خبره د بې وسلې کولو تر پولې ورسوله شي؛ د افغانستان اشغال ختم شي او د شوروي اتحاد سر پټه ټولنه سرخلاصه او ډموکراته ټولنه شي.

ګورباچوف خپل اصلاحات په کال ۱۹۸۷ کې د پرسترویکا (Perestroika) په نامه کتاب کې اعلام کړل. په هغه کې یې ویلي وو چې «د نظامي لاس بري ترلاسه کولو لپاره هلې ځلې نامعقولې دي... د مصونیت لپاره یوازنۍ لار سیاسي پرېکړې او بې وسلې کول دي. رښتینی او برابر مصونیت زمونږ په عصر کې په پرله پسې ډول د ستراتیجکي انډول سطح په ښکته راوستلو سره تضمین کېدلی شي، چې له هغه نه د ټول وژنې او نورې وسلې باید پوره له مینځ نه یووړلی شي.» داسې هم دهغه په فکر «د نوی تفکر طریقه د بشري ارزښتونو، یا په دقیق ډول د بشریت د ژوندي پاتې کېدلو پېژندل دي.» د ګورباچوف د دغو نظرونو مانا دا کېده چې د کارل مارکس او لینن د طبقاتي جنګ مفکوره چې په شوروي اتحاد کې د عقیدې پر شان منل شوې وه، په اوسني حال کې یې اثر له لاسه ورکړی و، ګورباچوف دا منله چې په تېره کې د طبقاتي جنګ مفکورې له مخې د کارګري طبقې مباره د بشریت د ژغورنې لپاره وه خو «اوس د ټول وژنې یانې د عالمي تباهۍ د وسلو په عصر کې په بین المللي ډګر کې د طبقاتي جنګ په وړاندې واقعي محدودیت پیدا شوی چې هغه د عالمي تباهۍ ګواښ دی.» دغه نظرونه په ۱۹۸۵ کې د ګوند د مرکزي کمېټې په پلینوم او د ګوند په اووه ویشتم کانګرس کې ومنل شو او د شوروي اتحاد رسمي سیاست شوی و.[۷] په دې ډول شوروي اتحاد د میخاییل ګورباچوف په واکمنۍ کې د طبقاتي جنګ له مفکورې سره د لومړي ځل لپاره په رسمي ډول مخه ښه وکړه، له هغه وروسته دغه مفکوره په کتابونو کې قید پاتې شوه. په ټولې نړۍ کې د عملي سیاست له ډګر نه ووتله او له یاده وایستل شوه.

د پرستروکا (له سره رغونه) تر څنګه د ګلاس نوست (Glasnot) په نامه چلند هم غوره شو، چې د هغه له مخې خلک پرېښودل شول د خپل ژوند او رسمي سیاست په اړه خپل نظرونه څرګند کړي. له ګلاس نوست نه چې د دموکراسۍ او ازادۍ یو اړخ ګڼل کېدلی شي، خلکو پوره ګټه وچته کړه په دې ډول چې هغو بې له ډار نه حکومتي او ګوندي کسانو ته د ګورباچوف په ګډون، انتقادي او له شکایت نه ډک لیکونه استول پیل کړل، پخوا هم شوروي لویانو دسولې، بې وسلې کولو او داسې نورو مسئلو په اړه څرګندونې کولې، خو خلکو پر هغو باور نه کاووه، ځکه چې شوروي لویانو پر خپلو وینانوو او څرګندونو عمل نه کاووه. خو ګورباچوف خپلو څرګندونو او وعدو ته رښتین و، په دې اړه د ګورباچوف یوه ملګري چرنیایوف د نوي فکر مخالف، مارشال پونوماریف ته د هغه د یوې انتقادي پوښتنې په ځواب کې وویل چې «کوم څیز چې نوی دی هغه دا دی چې هغه نوی دی. ستالین د سولې په پلوي او د جنګ پر ضد غږېده او چا پرې باور نه کاووه، دوی په خروشچف د باور کولو پیل وکړ. برېژنیف نزدې شلو کلونو په موده کې د سوله ییز ګډ ژوند په اړه ګړېده، هیڅ چا پرې باور نه کاووه. اوس دوی پر ګورباچوف باور کوي، ځکه چې د هغه قول د هغه له عمل سره نزدې دی.»(۸)

په خپله ګورباچوف هم د باور موضوع ته پوره متوجه و. د ځان او خپل نوي چلند د باوري کولو لپاره یې د جرمني، فرانسې او برتانیې حکومتي سروالانو سره د هغو په هېوادونو کې لیدنې کتنې وکړې. ده به هغوی د خپل سیاست او ځان په اړه ډاډه کړي وي، چې هغو د امریکې ولسمشر رانلډ ریګن ته د هغه په اړه روغ نیتی وښود. هغه و چې بیا ګورباچوف او ریګن اول په ریک جاویک او وروسته په واشنګټن کې د هغه له ځای ناستي

ولسمشر جارج بوش سره څو ځلې وليد. دغه ليدنې دغومره ډېرې مهمې ثابتې شوې، چې هغه په نړۍ کې د ساړه جنګ د ختم کېدلو لومړنی ګام ګڼل کېدلی شي.

خو په پوځ کې اصلاحات راوستل چې هم ډېر لوی وو او هم يې ډېر افسران لرل او هم د ک. ج. ب پر شان له انتقاد نه مامون و، اسان کار نه و. ګورباچوف سره له دې هم پرې پيل وکړ او د نږدې درې کلونو په بهير کې يې سمونونه يو په بل پسې پلي کړل. اول يې ټينګه توجه نظامي ايډيالوجۍ ته واړوله، په دې اړه د هغه نظر دا و چې نظامي دکتورين دې له دې وروسته «بايد په حتمي ډول «دفاعي وي» په دې ډول ده د طبقاتي جنګ مفکوره او داسې هم د جرمني نظامي پوه کلازوتز (Clausewitz) تيوري منسوخه کړه، چې شوروي افسران د لينن له وخت نه په دغو مفکورو روزل کېدل. د کلازوتز تيوري جوهر چې په ډېرو ملکونو کې هم نظامي افسرانو منلې وه، دا ده چې جنګ «په نورو وسيلو سره د سياست دوام دی.» په دې ډول جنګ د هغه په نظر د سياست يوه حتمي برخه کېدله.

د همدغه نظر له مخې و، چې جنګ په شوروي اتحاد کې د سياست يوه برخه شوې وه. ځينې افسران يې لا په دې فکر و، چې «تېری ښه دفاع ده.» پرته له دې هم شوروي کمونستان، د نورو کمونستانو پر شان، خپلې موخې ته د رسېدلو لپاره هر راز وسيله، د جنګ په ګډون جايزه ګڼله. خو ګورباچوف اوس دغه فکرونه زاړه او بېځايه بلل. د چرنيايوف په وينا ګورباچوف په دې فکر شوی و، چې «... که شوروي اتحاد په يو اړخيزه ډول بې وسلې هم شو، امنيت به يې له خطر سره مخ نه شي.» د هغه په نظر د هستوي بمونو او لېرې ويشتونکو راکټونو په عصر کې «لويديځ به پر شوروي اتحاد حمله ونه کړي.» نو ګورباچوف د چرنيايوف په قول «اراده کړې وه چې

هر څه کېږي، د وسلو سیالي باید ختمه شي.» په خپله چرنیایوف هم درک کړې وه، چې «... ناټو تېرې کوونکي پلان نه لري.» د هغه په نظر شوروي اتحاد ته «... واقعي خطر تر ناټو نه زیات اخرامییف او د شوروي پوځ و.» اخرامییف پر موجودې نظامي ایډیالوجۍ ټینګ ولاړ و، د لیګاچوف پر شان چرنیایوف «... هم ویل چې دغه جاري اقتصادي بحران او ټولنیز پرابلمونه د پوځ له لېږولو نه پرته حل کېدلی نه شي.»[۹]

هر څه چې ګورباچوف په پوځ کې د دغو فکرونو له مخې سمونونه پیل کړل، که څه هم «تر ټولو هغو دندو نه چې د پرسترویکا پر غاړه ولوېدل، تر ټولو پېچلي یې د هېواد غیر نظامي کول وو.» هغه دغه سمونونه وروسته له هغه نه نور هم ټینګ ونیول چې ۱۹۸۷ کال په مې کې د ماتیاس رست په نامه د لویدیځ جرمني یوه ځوان خپله یوه وړه الوتکه د مسکو په ښار کې ښکته کړه، بې له دې چې په دغې اوږدې لار کې شوروي پوځیانو هغه لیدلې او مخه یې نیولې وي، دغه پېښه د پوځ اعتبار ته غټه صدمه وه.

څرګنده ده چې د ګورباچوف سمونونه د برحال لویو نظامي افسرانو له لارې پلي کېدلی نه شول. چاره دا شوه چې لوړ پوړي افسران تبدیل یا ګوښه کړل شي او نوي افسران ورته وټاکل شي. «د ۱۹۸۸ کال تر پای پورې د دفاع وزیر او هغه له دوه مرستیالانو نه پرته د هغه ټول مرستیالان، د لوی د رستیز ټول لومړي نایبان، د وارسا د تړون ځواکونو قومندان او د لوی د رستیز د سمندري او ډله ییز ځواکونو ټول قومندانان او د سیمو ټول قومندانان تبدیل شوي وو.» پر دې سربېره شاوخوا یو نیم سل افسران محاکمه او له کار نه ګوښه شول. د مولف اودوم په وینا د شوروي اتحاد په ټول تاریخ کې د دغومره ډېرو افسرانو تبدیلي بې ساري وه. «حتی په ۱۹۳۷-۱۹۳۸ کې د ستالین په وخت کې د لوړو افسرانو د تبدیلېدو سلنه دغومره ډېره نه وه.»[۱۰]

د پوځ لوی درستیز مارشال اخرامییف د ۱۹۸۸ په اخر کې په خپله ځان ګوښه کړ. له لېږې ملکونو لکه منګولیا نه هم ځینې نظامي واحدونه وغوښتل شول. له افغانستان نه د پوځ غوښتل د همدغه پلان له مخې و.

سره له دې هم ګورباچوف خپل پوځ څلور کاله وروسته له افغانستان څخه بېرون کړ. هغه نه غوښتل پوځ یې خپل حیثیت بایلي لکه د امریکې پوخ چې له ویتنام نه په وتلو کې خپل حیثیت بایللی و. داسې هم دی دېته ځیر و، چې له افغانستان څخه د پوځ ایستل د دې سبب نه شي، چې شوروي ته په تابع هېوادونو کې د ازادۍ خوځښتونه تحریک او شوروي پوځ او افسران بې زړه شي. پر دې ټولو سربېره څنګه چې کارمل د شوروي پوځ د بیرون کېدلو ټینګ مخالف و، ګورباچوف کوښښ کاووه د هغه پر ځای دغسې یو څوک په واک شي چې د ده له پروګرام سره جوړ وي. پرته له دې هم څنګه چې ګورباچوف د بین المللي طبقاتي جنګ مفکوره رد کړې وه، په افغانستان کې د دوی د پوځ شته توب او جنګېدلو دلیل هم له مینځ نه تللی و.

دا ټول په دغسې حال کې چې دننه په شوروي اتحاد کې د ګلاس نوست له امله د ازادې ورښ په چلېدلو سره خلکو چارواکو ته اعتراضي لیکونه استول او غوښتل یې چې پوخ له افغانستان څخه وباسي. دغسې لیکونه د ګوند مرکزي کمېټې، مرکزي رسنیو او د ګوند بین المللي څانګې ته هم له اطرافي سیمو نه د سرتېرو او د دوی له کورنیو له خوا استول کېدل. ګورباچوف د پولټبورو په یوې ناستې کې د ۱۹۸۵ کال د اکتوبر په ۱۷ مه چې له افغانستان څخه یې د پوځ ایستلو په اړه بللې وه، د سرتېرو د ځینو میندو له سوز او درد نه ډک دغسې لیکونه ورته ولوستل، چې د هغو په اورېدلو سره د ځینو ملګرو له سترګو نه اوښکې وبهېدلې. په خپله ګورباچوف هم همدا چې

عمومي منشي شو، د چرنیایوف په وینا د افغانستان جنګ د ده د اجنډا په سر کې موضوع وه. مولف اودوم د سرتېرو د دغو میندو لیکونه او غوښتنې په دې ډول لنډې کړې دي، چې تر ټولو غټه موضوع دا ده: «بین المللي وظیفه؟ په کوم نامه؟ ایا په خپله افغانان یې غواړي؟ ایا هغه زمونږ د بچیو په ژوند ارزي، چې په دې نه پوهېږي چې د څه لپاره استول کېږي، د څه لپاره جنګ کوي، واړه کسان او ماشومان وژني؟ او تاسې [شوروي لویانو] سوچه نوي سرتېري د مسلکي وژونکو [مجاهدانو] په وړاندې استولي چې په ډېرو ښو وسلو سمبال دي او داسې استعداد لري چې د خپلو یو څو تنو په قربانۍ سره ټول غونډ له مینځ نه وړي؟» د اودوم په نظر موخه واضحه وه « پولټبورو تېروتنه کړې وه او هغه باید سمه شي او ډېر زر هره ورځ ارزښتناک ژوند له مینځ نه وړل کېږي.»[۱۱]

تر هغه دمخه په کابل ۱۹۸۴ کې د ملي دفاع وزیر اوستینوف د مارشال سوکولوف په سپارښتنه اضافي سرتېري هم استولي وو. خو له هغه نه زر وروسته چې جنرال وارینکوف افغانستان ته له سفر نه وروسته په یوه راپور کې ښکاره کړه چې که څه هم په مخالفانو (مجاهدانو) سخت ګذارونه شوي دي، جنګ وړل کېدلی نه شي. کرنېل الیکزاندر لیاخوفسکي چې د جنګ په اړه د یوه اثر په لیکلو مامور شوی و، د دغه راپور په اړه یې خپل نظر په دغه ډول ښکاره کړ، چې «... یا ډېر قوتونه واستوئ، ټول افغانان بې رېښې کړئ او په هېواد کې یې نور خلک میشت کړئ، ځکه چې ممکنه نه ده چې افغانان له سره جوړ کړئ او عقیدې یې په زور سره واړوئ یا خپل پوځ له افغانستان څخه وباسئ.»[۱۲] د لیاخوفسکي د نظر مانا دا کېده چې شوروي اتحاد بله چاره نه لري، خو دا چې خپل پوځ له افغانستان څخه وباسي.

# د کارمل لېرې کول
# او د نجیب الله ملي پخلاینه

د ۱۹۸۵ کال د پولټبورو له ناستې دمخه کارمل مسکو ته بلل شوی او هلته ګورباچوف ترېنه وغوښتل چې خپل سیاست لبرالي کړي او له مخالفانو سره جوړه وکړي، د دې لپاره چې شوروي پوځ له افغانستان څخه ووځي. ا ناتولي چرنیایوف لیکي، چې «کارمل هک پک شو.» «کارمل فکر کاووه چې مونږ [شوروي اتحاد] هغه ته دېره اړتیا لرو، چې هغه یې مونږ ته لري او دی په دې عقیده و، چې مونږ به هلته [افغانستان کې] که د تل لپاره نه وي، د ډېرې اوږدې مودې لپاره پاتې یو.» له همدې امله و، چې «کارمل ګورباچوف ته وویل چې که تاسې اوس ووځئ بل ځل به مجبور شئ، چې یو ملیون سرتېري راولېږئ.»(۱۳) ګورباچوف بیا د پولټبورو ناسته وبلله او له هغې نه یې وغوښتل چې «له کارمل سره وی، یا له هغه نه پرته وي، مونږ به خپل سیاست په ټینګه پرمخ بوځو چې نتیجه یې له افغانستان څخه په ډېرې لنډې مودې کې زمونږ د پوځ وتل دي.»(۱۴) د پولټبورو پرېکړه دا شوه چې ګورباچوف دې کارمل ته «... رډ ووایي چې په افغانستان کې انقلابي بنسټ نه شته، سیاست دې اقتصادي مارکیټ ته په څرګند ډول واړوي، د افغانانو د اسلامي ارزښت درناوی وکړي، له مخالفانو سره دې واک وویشي او له یاغیانو سره دې روغه جوړه وکړي.» ګورباچوف دا هم وویل چې «حتمي ده کارمل له ځان نه دفاع وکړي،» او شوروي اتحاد به وسلې ور استوي. عجبه

ده چې ګرومیکو هم اوس په دغه فکر شوی و. په همدغه میاشت کې کارمل په پټه مسکو ته وغوښتل شو او هلته ګورباچوف ورته همدغسې وویل خو «هغه هیڅ یقین ونه کړ.»(۱۴) بیا ګورباچوف خپل دغه چلند د ګوند اووه ویشتمې کانګرې ته د ۱۹۸۶ کال د فبرورۍ په ۲۵ مه اعلام کړ، په دې ډول چې «انقلاب ضد او امپیریلزم افغانستان د ناسور په زخم بدل کړی دی.» عجبه ده چې ګورباچوف هم د دغه جنګ پړه پر نورو اچوي. نه پر برېژنیف او ملګرو یې، چې د دغه جنګ اصلي عاملان وو. سره له دې هم هغه په همدغه مهال کې هیله ښکاره کړه، چې خپل پوځ به له افغانستان نه «په نږدې راتلونکي کې» د وړاندیز شوو ملګرو ملتونو په فیصله وار په وار بیرون کړي.(۱۵) دا په داسې حال کې و، چې کارمل د تېر کال په پای کې د لسو تیسیسونو له مخې په خپل رجیم کې یو څه اصلاحات راوستي او یو څو غیر ګوندي کسانو ته یې رسمي مقامونه ورکړي وو. خو حتی شوروي اتحاد هم دا یو تش په نامه تغییر باله. کارمل د شوروي پوځ د وتلو په اړه هیڅ نه کول او د ژنیو خبرو ته لا خنډ هم کېده او ویل یې چې تر څو د پاکستان استازي په ژنیو کې د ده له استازي سره په نېغه خبرې ونه کړي او پاکستان د ده رجیم په رسمي ډول ونه پېژني، پر هغه دې اعتبار ونه شي.(۱۶) په اصل کې کارمل د یوه ټینګ کمونست په توګه له کمونستي چوکاټ نه د باندې پر تغییر معتقد نه و او د ګورباچوف او د هغه د نوي سیاست له درک نه عاجز و، او خپل د عمومي منشي مقام یې لکه هسې چې په کمونستي ګوندونو کې دود و، تر مرګ پورې خپل ګاڼه او فکر یې نه کاووه چې ګورباچوف به یې له هغه نه کوز کړي. خو ده دا هیره کړې وه، چې دا د شوروي لویان وو، چې دی یې دغه مقام ته هسک کړی او دوی یې اوس کوزولی هم شي. هغه په دې هم نه پوهېده چې شوروي لویانو هغه وخت دی د خپل مقصد لپاره هسک کړ او

اوس يې د خپل مقصد لپاره له دغې هسکې نه کوزوي. په بله ژبه هغو کارمل د خپل مقصد لپاره يوه وسيله ګڼله، خو دغو فشارونو کارمل ښه وزبېښه. د يوه شوروي چارواکي په وينا دی لا په ۱۹۸۴ او ۱۹۸۵ کې «ډېر لټ شوی و، ډېر غږېده او عمل يې نه کاووه» يولي ورانتسوف چې د افغانستان د باندنيو چارو وزارت کې يې د وزير پر شان عمل کاووه لا ويل چې کارمل په ۱۹۸۵ کې کار کول ترک کړل او الکول څښل يې شروع کړل [ډېر کړل]. د هغه په وينا هغه به «... ډېر وخت غلی و، لږ و ډېر د نيشې په حال کې مخ په ځوړی روان و.» دا به ومنله شي چې شوروي چارواکو د هغو په اړه دغسې څيزونه ويل چې خوښ يې نه وو. خو د کارمل په اړه يې مبالغه نه کوله. د ۱۹۸۶ د مارچ په ۳۰مه چې کارمل مسکو ته د درملنې لپاره وغوښتل شو، په روغتون کې مالومه شوه چې دی د وينې فشار لري او ځيګر يې سم کار نه کوي، خو دی په يوه مياشت درملنې سره ښه شو، بې له دې چې د ک. ج. ب د مدير مرستيال شبرشين په وينا ډاکټرانو ته يې چا هدايت ورکړی وي، حتی د هغه د ځيګر رنځ هم خطرناک نه و، خو هغه ته هدايت و، چې له قوي الکولي څښاک نه لاس واخلي.(۱۷)

ک. ج. ب والو ته ښه موقع وه چې کارمل ته په روغتون کې خپل نوي تغييرونه شروع کړي، چې دی هم په خپل رجيم کې تغيير راوستلو ته وهڅوي. شبرشين وايي چې په پای کې مونږ ورته ښه سپين وويل چې «وضع په نړۍ او افغانستان کې اوړي او د دې وخت دی چې د عمومي منشي مقام خپل کوم ځوان ملګري ته پرېږدي... په پرنسيپ کې هغه هوکه وکړه، خو ويې ويل چې ضروري ده له خپلو ملګرو سره مشوره وکړي او وسنجوي چې په داسې حال کې چې تغييرونه راولي په ګوند کې ثبات يقيني کړي.» ک. ج. ب والو په هغه باور نه کاووه او همدا چې کارمل د مې په اوله

ورځ د کابل په لور روان شو، د ک. ج. ب د بین المللي څانګې مشر ولادمیر خریچکوف ورپسې رهي شو او له کارمل سره یې د مې په دوهمه پخوا له دې چې هغه په کومې دسیسې لاس پورې کړي، ولیدل او ترینه وغوښتل چې له وعدې سره سم په ګوند کې تغییر راولي. د شبرشین په وینا چې دی هم هلته و، د دغې خبرې په اورېدلو سره «د کارمل مخ تور شو» هغه ومنله چې په مسکو کې ځینې موافقتونه شوي وو، خو هغه «... خبرداری ورکړ، چې د هغه ګوښه کول به د قهر او غوسې یوه څپه خوره کړي او د شوروي اتحاد نوم به په نه پیوند کېدونکي ډول زیانمن کړي.» کارمل د مقام بایللو په حال کې خپل ربښتینی ځان وښود، چې هغه پر ځان مین توب او ماشومتوب و، هغه بس په پرتو ویلو پیل وکړ او چیغې یې کړې چې «ومې وژنئ! قرباني مې کړئ! زه مړګ، بندي توب او کړاو منلو ته تیار یم.» شبرشین وایي چې کارمل د خریچکوف خبرو ته غوږ نه نیوه؛ نه یې غوښتل خبرې یې پرې شي او هغه یې په یو اړخیز ډول اوږدولې او ډول ډول پرتې ویلې.

شبرشین دا هم لیکي چې خریچکوف په نرمۍ او ډېرې نرمۍ او خواخوږۍ سره لکه چې له کوم ناهیلي ناروغ خواږه ملګري سره غږېږي، کارمل متیقن کاووه؛ د هغه ځان درناوی ستاینه او د هغه د عزت او درناوي خوښېدونکی انځور یې کاږه چې دی به په هغه ډول په شوروي اتحاد او افغانستان کې په ټول عمر کې د ملګرو په مینځ کې وي.» شبرشین دا هم وایي چې خریچکوف کارمل ته ښکاره کړه، چې دغه ټولې خبرې خصوصي دي او د شوروي اتحاد نوم به زیانمن نه شي، خو کارمل یې خبره ورپرېکړه او نارې کړې، چې «ته فکر کوې افغانان خره دي.» کارمل بیا د نزاکت له دایرې نه ووت او «...په دغه واقعیت افسوس یې وکړ، چې هغه چې هر څه کولی شول وکړل، د دې لپاره چې شوروي اتحاد په افغانستان کې مداخله

وکړي.» خريچکوف ورته په ټينګه ياده کړه چې «... شوروي سرتېري په افغانستان کې مري او دا د شوروي خوا ته يو څه حقونه ورکوي... او ته بايد د افغانستان انقلاب لپاره خپل ځان وساتې.» کارمل بيا په قهر سره نارې کړې چې «د افغانستان انقلاب په سولې سره پرېږدئ. ته وايې چې شوروي سرتېري په افغانستان کې وژل کېږي؟ وځئ، خپل پوخ وباسئ، پرېږدئ چې افغانان خپل انقلاب په خپله وساتي.» په دغه وخت کې دواړه ستړي شوي وو او خريچکوف وويل چې د دې لپاره چې په دې اړه ښه فکر وکړو، سبا به بيا سره ووينو. کارمل موافقه وکړه، خو د همدغې ورځې په مازيګر د دفاع وزير، د کورنيو چارو وزير او د خاد سروال کارمل په ګډه وليدل او ترېنه يې په ټينګه وغوښتل چې ځان ګوښه کړي. کارمل په ژورې ناهيلۍ سره تسليم شو او د مې په ۴مه يې د مرکزي کمېټې پلينوم ته خپل ګوښه ليک وړاندې کړ.[۱۸] کارمل د انقلابي شورا سروال پاتې شو. دغه مقام د دولت رييس هم ګڼل کېده.

د ک. ج. ب چارواکو لا دمخه د خاد سروال نجيب الله د ګوند د عمومي منشي په توګه غوره کړی او لويانو يې ورسره منلې وه. په دې اړه دليلونه هم لږ نه وو. يو دا چې دی ځوان (په دغه وخت کې ۳۹ کلن و) او د **کابل** پر خلاف ډيناميک و. د شورويانو نوی پروګرام يې هم منلی و. لا مهمه دا ده چې هغه شورويانو ته ځان د اعتبار وړ ګرزولی و. د ده په وخت کې خاد داسې و، چې لکه د ک. ج. ب کومه څانګه وي، هلته د شوروي مشاورانو په هدايت د شوروي د يرغل او د هغه د تابع رجيم مخالفو افغانانو ترور کول، بندي کول، کړول او له مينځ نه وړل عام وو. ټولو پرچمي لوړپوړو چارواکو هم د نجيب الله پر شان د شوروي مشاورانو په هدايت کار کاوه، خو د خاد سروال هغو ته خاص اهميت لاره، هغه و، چې نجيب الله د ۱۹۸۶ کال د

مى په ۱۵مه د شورويانو له خوا د خلق ګوند د مرکزي کمېټې د عمومي منشي په توګه غوره شو. خو د ده غټه ستونزه دا وه چې کارمل ورسره وران او د هغه پلويان په ګوندي لويانو او ګوندي ليکو کې ډېر وو او هغو زر د سنما په نامه يو نوى ګوندګى جوړ کړ، چې نه يوازې د نجيب الله پر ضد يې وراني کاووه، د شوروي اتحاد پر ضد يې هم شعارونه ورکول، خو هغه زر له ډګر نه ووت. ګورباچوف له نجيب الله نه ملاتړ وکړ او د هغه د ستاينې په ترڅ کې وويل چې «هغه وضع په افاقي ډول ارزوي او د روانو مسئلو په کړکېچ هم پوهېږي.» ده دا هم وويل چې «دا شپږ کاله کېږي، چې مونږ په افغانستان کې جنګېږو او که لاره بدله نه کړو، مونږ به شل دېرش کاله نور هم هلته وجنګېږو.» او «مونږ ضرورت لرو چې دغه پروسه چې څومره زر کېږي، ختمه کړو.» ده دغه څه د ۱۹۸۶ کال د نومبر په ۱۳مه په خپلې پولټبورو کې وويل.[۱۹]

خو سره له دې هم کارمل نجيب الله ته يو خنډ و او پلويانو يې سخت وراني کاووه. نجيب الله کوښښ کاووه، کارمل له دغه موجود تشريفاتي مقام نه هم کوز کړي، خو کوښښونه يې سرته ونه رسېدل. د قدرت پر سر د دوى مخالفت د نورمحمد تره‌کي او حفيظ الله امين د مخالفت پر شان زيږ کېده، خو کارمل نېکمرغه و، چې په شوروي اتحاد کې دا د ګلاس نوست دوره وه، نه د ستالين او برېژنيف دوره چې هغه وخت له ګوندي مخالفانو سره ډېر زيږ چلند کېده. خو کارمل بايد بې اغيزې وي. نجيب الله دغه کار ته ملا وتړله.

د يوه باوري کس په وينا نجيب الله چې د کارمل په اړه د شوروي اتحاد له ملاتړ نه ډاډه شو، د هغه د وخت پنځوس دغسې دوسيې يې راسربېره کړې، چې په هغو سره کارمل محکوم کېدلى شو. کارمل ته بله چاره نه وه پاتې خو دا چې له خپل دغه تشريفاتي مقام نه هم په ظاهر کې په خپله

خوښه ځان ګوښه کړي. هغه و چې د ۱۹۸۶ کال د نومبر په شلمه یې خپل ګوښه لیک واستوه. په دې ډول د کارمل سیاسي ژوند ختم او اجتماعي ژوند یې نور هم محدود شو او په خپله یو عادي کس شو. دی نور د هغه شوروي اتحاد په کار نه و، چې ده ورته سجده کوله او غوښتل یې چې افغانستان د هغه یوه برخه وګرځوي. ده حتی د همدغه شوروي ا تحاد مشاوران دغسې کامل انسانان ګڼل چې نه تېر وځي. په داسې حال کې چې د افغانستان مدافعان یې په ډالرو او کلدارو پلورل شوي اجیران ګڼل. دا ټول ځکه چې شوروي اتحاد ده او د ده ملګرو ته یوه ژوند ښښونکې سرچینه وه. د ده یو ټینګ پلوی فرید مزدک لا ویل چې هغسې چې لمر د ځمکې انسانانو ته ژوند ورکوي، شوروي اتحاد یې افغانانو ته ورکوي. خو کارمل په خپل لنډ رسمي ژوند کې یو ډېر مهم رښتین توب په ډاګه کړ او هغه دا چې یو څوک چې د افغانانو په هېواد افغانستان کې حتی د نړۍ د یوه زبرځواک لویانو له خوا هم په واک راوستل شوی وي، په غوڅه توګه به ناکام او خلکو او تاریخ ته به یې مخ تور وی.

نجیب الله له عمومي منشي کېدلو نه وروسته په درې برخو کې هلې ځلې کولې: د ځان د اصلاح، د ملي پخلاینې او د ژنیو خبرو په اړه. دځان د اصلاح په لړ کې یې د هغو ملي او دیني ارزښتونو له مخې کړه پیل کړل چې ملي او دیني افغانانو کول. ده حتی د پل خشتي لوی جومات کې له نورو افغانانو سره په ګډه لمونځ هم وکړ او پر خپلو چلندونو او کړو سره یې ښووله چې له مارکسزم-لیننزم سره یې مخه ښه کړې او ملي افغان شوی دی. د ملي پخلاینې په برخه کې یې د پروسترویکا نه په الهام د خپل ضیق شوروي ډول رجیم په نرمولو پیل وکړ؛ د کابل ښار کې یې د شپې ګرځېدلو بندیز چې شپږ کاله دمخه نافذ شوی و، له مینځ نه یووړ. نوی اساسي قانون

يې وايست او د خلق دموکراتيک منفور ګوند يې د وطن په نامه ياد کړ او په حکومت کې يې غير ګوندي کسانو ته هم لوړ مقامونه ورکړل او له وسله والو مخالفانو سره يې د ايتلافي حکومت د جوړولو په لور کوښښونه جاري کړلو چې هغه کوم ځای ته ونه رسېدل. نجيب‌الله له افغانستان څخه د يرغلګر پوځ د ايستل کېدلو په مقصد د ژنيو خبرې تر پخوا ټينګې ونيولې، خو لکه چې زر به وليدل شي د ژنيو خبرې چې بين المللی وې، پيچلې وې او ډېر وخت يې ونيوه چې په خبرو کې ښکېل حکومتونو سره جوړه وکړي او د هغې له مخې د شوروي اتحاد دوهمه او اخري پوځ برخه د ۱۹۸۹ کال د فبرورۍ په پنځلسمه له افغانستان څخه ووځي.

# اووم څپرکی
# د ژنیو خبرې او د یرغلګر پوځ پر شاتګ

د اروپا د سویس هیواد ژنیو په ښار کې د ملګرو ملتونو په منځګړیتوب افغانستان د کشالي هوارولو لپاره د ښکېلو هیوادونو د استازو له خوا خبرې پیل شوې. دغه خبرې په اصل کې د شوروي اتحاد د یرغل په وړاندې د افغانانو د مقاومت نتیجه وه. د مقاومت په نه شته توب سره دوستو هیوادونو د افغانانو ملاتړ نه کاووه. شوروي اتحاد خبرو ته نه حاضرېده او د ژنیو خبرې نه کېدلې او افغانستان د شوروي امپراتورۍ یوه برخه کېدله لکه د ختیځې اروپا هېوادونه چې شوي وو. په دې ډول هغسې چې د ژنیو خبرې په اصل کې د افغان مقاومت له امله وې، د مقاومت څنګه والی د ژنیو پر خبرو اثر لاره. د ژنیو ښار له لومړي نړۍوال جنګ نه وروسته د ملګرو ملتونو د لیګ منځی غوره شوی و، لکه د نیویارک ښار چې له دویم نړیوال جنګ نه وروسته د ملګرو ملتونو د مؤسسې منځی غوره شوی و.

## د ژنیو له خبرو نه د مخه

د ګورباچوف تر هسکېدلو پورې د ژنیو په خبرو کې اساسي پر مختګ نه و شوی، که څه هم دغه خبرې په کال ۱۹۸۲ کې د ملګرو ملتونو په منځګړتوب پیل شوې وې. شوروي اتحاد د برېژنیف او چرننکو په وخت کې او د کابل رجیم د کارمل په وخت کې د ژنیو خبرو ته رښتین نه وو. دوی

پلمې کولې او خبرې اوږدولې په دې هیله چې پوځونه به یې افغان مقاومت وځپي، خو افغان مجاهدانو د دوی محاسبه غلطه ثابته کړه. لکه چې په تېر څپرکي کې ویل شوي اندروپوف غوښتل افغان کشاله د ژنیو په خبرو سره هواره شي، خو د هغه د واکمنۍ موده لنډه وه او په مرګ سره یې نظامي لار بیا ټینګه ونیول شوه تر څو په کال ۱۹۸۵ کې میخایل ګوربا چوف د شوروي اتحاد اعلی واکمن شو، او د هغه په وخت کې د ژنیو خبرې ټینګې ونیول شوې. دغه وخت د شوروي اقتصاد په عمده ډول د ډېرو نظامي لګښتونو له امله په بدحال کې و، او په افغانستان کې یې سرتیري هم ډېر وژل کېدل، او دغو تلفاتو په شوروي جامعه کې هم ترخه غبرګونونه خلق کړی وو. ګورباچوف او نزدې ملګري یې په دغه فکر کې شوی وو چې ستونزې هغه وخت له مینځ نه وړل کېدلی شي چې په دولتي نظام کې اساسي تغیرات او ریفورم راوړل شی، نظامي لګښتونه لږ شي او شوروي سرتیري له افغانستان څخه وایستل شي. دوی په دغه فکر هم وو چې په افغانستان کې جنګ ګټل کیدلی نه شي او دوی نه غواړي، یا نور نه شي کولی جنګ ته دوام ورکړي. سره له دې هم دوی حاضرنه وو خپل پوځ له افغانستان څخه زر وباسي. لکه امریکا چې له ویټنام نه خپل پوځ زر ایستلی و له دوی سره دا وېره وه چې که دوی دغسې وکړي هغه به د دوی په امپراتورۍ باندې ناوړه اغېزه وکړي او پوځیان به یې حیثیت بایلي او معنویات به یې ضعیف شي، د دغسې دفع د مخنیوي لپاره ګورباچوف په افغانستان کې خپل پوځ ته په یوې ټاکلې مودې کې د شدیدو عملیاتو اجازه ورکړه. له بلې خوا څنګه چې د نړۍ لویو هېوادونو د ساړه جنګ په حال کې د شوروي اتحاد پر لویانو اعتماد نه کاووه ګورباچوف او ملګرو یې کوښښ کاووه چې ثابته کړي چې دوی په رښتیا غواړي خپل دولتي نظام سم کړي او خپل پوځ له افغانستان څخه وباسي. له

همدې امله به و چې د ګورباچوف په وخت کې هم د ژنيو خبرې اوږدې شوې او څه باندې درې کاله يې ونيول چې هغه په بري سره سرته ورسېږي.

لکه چې د مخه ويل شوي پر افغانستان باندې د شوروي اتحاد نظامي يرغل په وړاندې ډېر غبرګونو نه وښودل شول: دننه په افغانستان کې د افغانانو له خوا،د اسلامي هيوادونو د کنفرانس له خوا، د ناپيليو هيوادونو د غونډې له خوا، او د اروپايي اتحاديې له خوا. پر افغانستان باندې د شوروي د يرغل په اړه ملګرو ملتونو اول د امنيت شورا کې د ۱۹۸۰ د جنورۍ په پنځمه او بيا د عمومي اسامبلۍ له خوا د جنورۍ په ۱۴ مه او وروسته د کال په اخر کې (نومبر) کې په عادي غونډه کې بحث وکړ. په دغو ټولو غونډو کې په غوڅ اکثريت سره وغوښتل شول چې باندني پوځونه دې له افغانستان نه بې له کوم قيد او شرط نه ووځي، او افغانان دې پرېښودل شي چې خپل سياسي برخليک په خپله وټاکي. اروپايي ټولنې لا د شوروي حکومت ته دغه وړانديز هم وکړ چې افغانستان دې د استريا پر شان يو ناپييلی هيواد وي. خو شوروي لويانو دغه ټولې غوښتنې رد کړې. د دوی نظر دا و چې پر افغانستان باندې دې تجاوز قطع شي، او د کابل له حکومت سره دې دوه اړخيزې خبرې وشي، او د افغانستان حکومت دې په رسمي ډول وپېژندل شي. د شوروي حکومت دغه غوښتنه د متقابل لوري هيڅ خوا ته د منلو وړ نه وه. په دې ډول دغو وړانديزونو، او متقابلو وړانديزونو سمله لاسه هېڅ نتيجه ورنکړه،خو هغه بې اثره هم نه وې. دغو وړانديزونو د ملګرو ملتونو په عمومي اسامبلو يا غونډو کې د هغو هېوادونو د استازيو په نظريو کې پوره انعکاس وکړ په تېره وروسته چې د اسلامي کنفرانس مؤسسې څرګندنه کړه چې د افغان خواوو او مسکو تر مينځ دې خبرې روانې شي.

د افغانستان په اړه د ملګرو ملتونو په منځګړتوب د ژنيو خبرې د عمومي

اسامبلې له دوهمې غونډې پر راولاړې شوې. په دغې غونډې کې د پاکستان استازي له ټولو خواوو نه وغوښتل چې د افغانستان کشاله دې په سياسي لحاظ يانې د خبرو له لارې هواره شي. په همدغې پرېکړې کې د ملګرو ملتونو له سرمنشي کورت والډ هايم نه وغوښتل شول چې د دغې کشالې د هوارولو لپاره دې يو خاص استازی وټاکي او فيصله دې د دغو ټکو پر پرنسيپ وي:

1- په سياسي لحاظ خپلواک او ناپيیلی افغانستان.

2- د باندنيو پوځونو وتنه.

3- د افغانانو له خوا د خپل برخليک ټاکنه، له بهرنۍ لاسوهنې نه پرته.

4- د افغان کډوالو لپاره په مصونيت او عزت سره د بېرته تګ شرايط برابول. د پاکستان دغه وړانديز د شوروي اتحاد له خوا رد شو خو وروسته يې همکاري وکړه او حتی له سرمنشي نه يې وغوښتل چې د پرېکړې په لور خپل کوښښونه جاري وساتي! دغه موضوع ګانې پاکستان ته مهمې وې. متقابلې خوا ته نورې موضوع ګانې اساسي وي، چې د خبرو په بهير کې وړاندې کېدلې. دا وروسته له هغه و چې شوروي لويانو ته څرګنده شوه چې افغان مقاومت پياوړی او عام دی، او د لويديځ او عربي ډېرو هېوادونو خپل غبرګونونه لا سخت کړي دي. مسکو بيا له خبرو سره علاقمندي وښودله په دغه شرط چې په کابل کې د دوی تر لاس لاندې رجيم په مشروع او رسمي ډول و پېژندل شي. د کابل رجيم هم د دوی په ملاتړ د ۱۹۸۰ په مې کې دغسې يو وړانديز وړاندې کړ چې مطلب يې له ايران او پاکستان سره د مخامخ خبرو کول وو.په عين حال کې شوروي لويانو په دغې کشالې کې د ملګرو ملتونو منځګړتوب هم ومانه په دې چې د هغه د مقررو له مخې د کابل رجيم په دغو خبرو کې برخه اخيستلی شوه. د **نويو** منځګړتوب په

موقتي ډول ومنل شو خو دا د ۱۹۸۲ کال په اولو کې و چې د ټولو ښکېلو خواوو په موافقه د بحث د اجنډا او کړنلارې په اړه يو ډول مبهم پوهاوی راغی چې نتيجه يې د همدغه کال په جون کې په ژنيو کې د کابل رجيم له استازو سره د غيرمستقيم خبرو کول وو. پر دغې لارې حرکت هغه وخت شونکی شو چې کابل د نيغو خبرو په اړه خپل دريځ نرم کړ، او اسلام آباد له خپل دغه وړانديز نه تېر شو چې د په خپله ټاکنې پرنسيپ دې د خبرو په اجنډا کې ونيول شي. سره له دې هم ستونزې ډېرې وې چې مهمې يې دننه په افغانستان کې د جګړو او نښتو شدت او د لويديځ —ختيځ د اړيکو لا خرابېدل وو.[۲]

د ملګرو ملتونو سرمنشي کورت والډ هايم د ۱۹۸۱ د فبروري په ۱۱مه په ډهلي کې چېرته چې دی د ناپېيلو هيوادونو د باندنيو وزيرانو کنفرانس ته تللی و، په سياسي چارو کې خپل مرستيال جاوير پريز دي کويلر (Javier Perez de Cueller) د خپل شخصي استازي په توګه وټاکه چې (د ښکېلو هيوادو تر مينځ د سولې) خبرې پر مخ بوځي. کويلار په اصل کې د پيرو هيواد ديپلومات و. ده بيا په ۱۹۸۱ کې دوه ځله سيمې ته سفر وکړ. اول د ۱۹۸۱ په اپرېل او بيا د همدغه کال په اګست کې. په کابل او اسلام آباد کې له مقاماتو سره د ده د خبرو نتيجه د کشالې د هوارولو لپاره د ملګرو ملتونو د ماموريت او په خپله د هغه د فعال رول ومنل شول. په خپله سرمنشي هم د همدغه مطلب لپاره د همدغه کال په مې کې د لومړي ځل لپاره مسکو ته په سفر لاړ او هلته يې د همدغه پوهاوي په اړه د ګروميکو او نورو موافقه ترلاسه کړه، او ګروميکو ورته وويل چې په دغو خبرو کې به پاکستان محوري رول ادا کړي. د دې معنی دا کېدله چې پاکستان به له کابل سره په نيغه خبرې وکړي چې دا به کابل رجيم ته يو ډول مشروعيت ورکړي.

کويلار په اسلام آباد کې په دې اړه د جنرال ضياءالحق موافقه هم ترلاسه کړه، خو هغه په عين حال کې يې دوه ټکي هم ورته په ګوته کړل: د افغانستان د ټولو اړخونو ترمنځ تړاو او شته توب، او د افغان کډوالو د سياسي او نظامي اړخونو يو ځای کول په نظر کې نيول. پاکستان د کډوالو د استازيتوب موضوع وروسته بيا بيا يادوله د دې لپاره چې د افغانستان په موضوع کې افغان کډوالو استازيتوب، او په عمومي ډول د افغانستان استازيتوب په عمل کې په خپله کاووه او افغان اسلامي تنظيمونو ته يې هم چې د مقاومت مخکښان وو، دغه چانس نه ورکاووه. د تنظيمونو مشرانو هم د خپل هېواد د کشالې په اړه د پاکستان مخکښي منلې، او د خپل ملي حاکميت اصل يې له نظر نه غورزولی و. په زياته اندازه له همدې امله و چې دوی ملي اهميت پيدا نه کړ او و يې نه شو کولی، لکه هسې چې د پېښور او پښين ممثلو لويو جرګو مشرانو غوښتل د هغو له مشرانو او پخواني پاچا محمد ظاهر سره په ګډه يو جلا وطني مؤقتي حکومت جوړ کړي، د دې لپاره چې له دوی ټولو نه دغسې يو پياوړی افغان ځواک جوړ شي چې د ژنيو په خبرو کې ګډون وکولی شي. دوی چې دغسې ونه کړل هم يې په افغانانو کې ژور درزونه توليد کړل او هم تر پايه پورې د پاکستان د آیاس‌آی تر مشرۍ لاندې جنګي ډلې پاتې شوې او د هېڅ تنظيم امير يا سروال ملي مشر نه شو، په داسې حال کې چې له وطن نه د باندني خطر د رفع په وخت کې د دفاع مخکښانو ته او فعالانو ته د ملي مشر کېدلو ښه وخت وي.

پاکستان نه غوښتل له کابل رجيم سره مخامخ وغږيږي، هغه هم د ايران په نه شته توب سره. پاکستان د کابل رجيم له استازي سره د ملګروملتونو په منځګړتوب په غيرمستقيم يا نامخامخ ډول خبرې وکړي. له بلې خوا د کابل رجيم د ۱۹۸۱ په اګست کې يعنې د ملګروملتونو د عمومي اسامبلې له

غونډې نه د مخه چې د افغانستان پر موضوع يې بحث کاووه څرګندو کړه چې حاضر دي په دوه اړخيزو يا درې اړخيزو خبرو کې ګډون وکړي. کابل د«خالي» څوکۍ تجويز هم وړاندې کړ، په دې معنی چې که يو هيواد نه غواړي سمله لاسه په خبرو کې ګډون وکړي بلې هر وخت چې وغواړي هم ګډون کولی شي. د کابل رجيم دا هم ومنله چې که خبرې دوه اړخيزه، يا درې اړخيزه وي بين المللي ضمانت مني. د دې معنی دا کېده چې دغه رجيم د کشالې د هوارولو په برخه کې د شوروي اتحاد او امريکې ضمانت منلو ته حاضر دي. د همدغه کال په سپټمبر کې ګروميکو د پاکستان او کابل تر منځ بيا د مخامخ خبرو وړانديز وکړ او د پاکستان د باندنيو چارو وزير آغاشاهي ته يې هم څرګنده کړه چې شوروي اتحاد حاضر دی د هغه له هيواد سره د اوږدې مودې لپاره اقتصادي همکاري ولري خو چې د ده حکومت له کارمل سره د دوی د فکر له مخې چلند وکړي. خو زر وروسته د شوروي اتحاد د اندېښنې غټ چيلينج په امريکې کې د ولسمشر رانلډريګن هسکېدل و، چې هغه د افغانستان په موضوع کې له شوروي اتحاد سره د ولسمشر کارټر له وخت نه سخته ونيوله او چارواکو يې د پاکستان له چارواکو سره د نويو وسلو د جنګي الوتکو په ګډون د څلور ملياره ډالرو په اندازه توافق ليکونه لاسليک کړل، چې امريکا به يې پاکستان ته په اسانو شرايطو ورکوي.

د ۱۹۸۱ کال په پای کې و چې د ملګرو ملتونو په پاسنۍ کړۍ کې بدلون راغی او په هغه سره د کورت والډهايم پر ځای پريز دي کويلار د ملګروملتونو سرمنشي شو، او هغه د ايکوادور د هيواد ديپلومات دييګو کوردوويز (Diego Cordovez)په سياسي چارو کې د سرمنشي مرستيال د ۱۹۸۲ په فبرورۍ کې د افغانستان د کشالې لپاره د خپل خاص استازي په توګه وټاکه.

# کوردوویز او د ژنیو خبرې:

کوردوویز یو ډینامیک او د ابتکاري تخیل خاوند ډیپلومات و. دی دغسې یو ماهر دیپلومات و چې د افغانستان د کشالې په اړه یې د ملګرو ملتونو دیپلوماسي په یو نوي طرز سره په ټینګه روانه کړه. د دغې کشالې په اړه لومړني کارونه د مخه شوي وو او د بحث موضوع ګانې تر ډېره حده مشخصې شوې وې. ده د جولادماکو دیپلوماسي یا د «بېړې دیپلوماسي» غوره کړه، په دې معنی چې ځان به یې د خبرو اترو ځایونو او مقاماتو ته په مسکو، اسلام آباد، کابل او ژنیو کې په بېړه رسوي. د یادولو وړ ده چې ده دغه ټولې خبرې اترې لیکلې او (له افغانستان نه د باندې) په نامه اثر کې یې خپرې کړې. په همدغه اثر کې د افغانستان په اړه سیاسي پېښې د امریکایي لیکوال سلیګ هری سن په قلم بیان شوې. په دې ډول دا یو ډېر مهم او ارزښتناک اثر دی. (د افغان غوټې پرانیستل) په نامه د ریاض خان اثر هم د افغانستان د دغې دورې د ډیپلوماسۍ پېښو ته ځانګړی شوی. دی د پاکستان د باندنیو چارو وزارت لوی مدیر و، او په هغو غونډو کې یې ګډون کاووه چې د افغان کشالې په اړه کېدلې، خو څنګه چې په دې هکله د کوردوویز اثر د لومړنۍ سرچینې اهمیت لري، زه دغه لیکنه د هغه له مخې کاږم، او د ضرورت په حال کې د ریاض خان او هري سن له لیکنو هم کار اخلم.

کوردوویز د ۱۹۸۲ په اپرېل کې سیمې ته په سفر لاړ. په پاکستان کې یې اول له صاحبزاده محمد یعقوب خان سره ولیدل چې د آغا شاهي پر ځای د باندنیو چارو وزیر شوی و. صاحبزاده یعقوب خان چې په اصل کې د مهاجرو پښتنو له نسل څخه و، د لوړ اختیار خاوند و، خو مطلق اختیار له

جنرال ضیاءالحق سره و. د کوردوویز د دغه سفر مقصد د خبرو د څنګه والي او کرنلارې ټاکلو په اړه و . دی وایي چې «ما د نزدې والي غږېدو (proximatly talk) د فارمول وړاندیز وکړ، په دې ډول چې خبرې کوونکي یا ښکېلو خواوو استازي به په بېلو کوټو کې ناست وي، دوی به سره نه ګوري او دی به هغوی پر خپلو کوټو کې ویني او د مقابل لوري خبرې به ورته اوروي. کوردوویز د خبرو اترو دغه فارمول ځکه وړاندې کړ، چې د کابل رجیم د وارسا تړون غړو هېوادونو نه پرته ټولو حکومتونو ته مردود و، او پاکستان نه غوښتل چې استازي یې د هغه له استازي سره مخامخ خبرې وکړي، د دې لپاره چې مخامخ خبرې به هغه ته رسمیت ورکړي. له بلې خوا شوروي لویانو کوښښ کاووه د کابل رجیم په خبرو کې برخه ولري چې رسمیت یې په برخه شي. دا د خبرو تر پایه پورې یوه لانجمنه موضوع وه. یعقوب خان د «نزدې والي غږېدو» فارمول ومنه خو هغه د د «غیرمستقیم خبرو» په نامه یادوه. جنرال ضیاءالحق لا د هغه پر ځای «د بېړې دیپلوماسي» غوره بلله او دا یې هم ویل چې د افغان کشالې د هواورولو کلي په کرېملن کې ده خو ضیاء په ژنیو کې په نامخامخ خبرو اترو کې د ایران د ګډون په هکله له خپل سخت دریځ چلند نه تېر شو.

په کابل کې د باندنیو چارو وزیر شاه محمد دوست د کوردوویز له فارمول سره موافقت وښود، خو چې وروسته له ښکېلو خواوو سره د کوردوویز خبرې مخامخ وې. کوردوویز له کارمل سره خپل لیدل زړه تنګونکی وباله، په دې دلیل چې «کارمل د یوه زیرک خو د نه ښه ایسیدونکي شخص پر شان احساس وکړ چې ما ته د افغان ټولنې په اړه لیکچر راکړي» کوردوویز په همدغه وار سفر کې بیا کابل ته لاړ د دې لپاره چې خپله مسوده نهایي کړي. دی وایي چې «زه چې له کابل نه د تهران په لور روان شوم له هفه پرمختګ

نه خوښ وم، چې (په دغې موضوع کې) شوی و» په تهران کې د باندنیو چارو وزیر علي اکبر ولايتي هغه ته وویل چې کومه هغه سناریو چې ده ټاکلې پرمخ بوتلله شي، خو ایران نه غواړي په کې ګډون وکړي. کوردوویز دغه منفي ځواب د خپل مأموریت د بري لپاره ښه نښه ونه ګڼله، خو دغه منفي ځواب هغه ته غیر متوقع نه و. په پاکستان کې ورته ویل شوي و چې ایران ممکن په خبرو کې ګډون ونه کړي. کوردوویز بیا ولايتي ته کړه چې زه به په خپل لیک کې ووایم چې زه به «ایران له بحثونو نه باخبره وساتم» او «هغه به هر هغه نظر ما ته انتقال کړي چې د تر بحث لاندې موضوع ګانو په اړه یې لري» ولايتي زړه نازړه هوکه وکړه. په یاد دې وي چې ایران په دغه وخت کې له عراق سره د جنګ په حال کې و، او ورته به ګرانه وه چې افغان کشالې ته پوره پام واړوي.په ټولیز ډول کوردوویز له خپل دغه لومړنی سفر نه راضي و، او د کراچی د ډان ورځپاڼې هغه تبصره یې له خپل نظر سره یوه وګڼله چې لیکلي و «لکه هغسې چې وه درې واړه خواوې له خپلو لومړنیو چلندونو ډېر وړاندې تللي، او که د دغه چلند نرم والی وساتل شي هغه به بریالیو خبرو ته مساعد وي». (۵)

له دغه سفر نه وروسته په ژنیو کې د اصلي خبرو کېدل وو، چې د هغه لپاره کوردوویز په هاوانا کې له صاحبزاده یعقوب خان او شاه محمد دوست سره ولیدل، او د خبرو په اړه یې ځان نور هم ډاډه کړ. هلته دوی د ناپییلو هېوادونو کنفرانس ته د ګډون لپاره تللي وو. ده بیا خپل هغه لیک چې د بحث وړ موضوع ګانو اجنډا یې بللې اول یعقوب خان او بیا نورو ته واستوه، او چې له هغو نه یې د هوکې ځواب واورېدو د ژنیو په ښار کې یې د خبرو نېټه وټاکله چې هغه د ۱۹۸۲ کال د جون ۱۵ مه وه. په دې ډول په دغه ښار کې په دغه نېټه کې د افغانستان د کشالې په اړه د خبرو دغسې لړۍ پیل شوه

چې څه باندې شپږ کاله یې ونیول چې د خبرو په دوولسم پړاو کې سره یوې فیصلې ته ورسېدل، چې د هغې له مخې یرغلګر شوروي پوځ له افغانستان څخه و ایستل شو. دا د افغانستان په اړه یو بېسارې لومړنی بین المللی کنفرانس و، خو په خپله د افغان ولس استازو په کې برخه نه لرله. سره له دې هم دا د افغان ملت بېساری بری او د شوروي اتحاد او د پرچم رجیم دغسې بېساري ناکامي شوه چې له هغه زر وروسته لومړنی یې ټوټه ټوټه شو،او وروستنی یې له منځ نه لاړ.

څنګه چې د ژنیو د خبرو بریالی ختم د کوردوویز بری هم کېده، هغه له دیپلوماسۍ او حوصلې نه پوره کار اخیسته، او هم یې د ملتونو په ماڼۍ کې د ملګرو ملتونو د استازي په توګه کوربه توب کاووه. په دې ډول چې «نو بیا ما د استفادې لپاره د کوټو تیارول پر غاړه واخیسته، فرنیچر مې غوره کړ، د دفتر کافي او چای سر رشته مې هم وکړه او د مناسب مصؤنیت ترتیبات مې هم ونیول» دی دا هم وایي چې «هر هیئت به د ملتونو ماڼۍ ته جلا راته؛ یو په سهار او بل په ماسپښین کې. په بلې اونۍ کې به دغه ترتیب سرچپه کېده، د دې لپاره چې هر هیئت لږ او ډېر په برابر شمېر په سهار او ماسپښین ماڼۍ ته راغلی وي. دواړه هیئتونه به هیڅکله په یوه وخت کې په ماڼۍ کې نه وي».(۶)

کوردوویز د خبرو په درشل کې په ژنیو کې د شوروي اتحاد استازی ستانس لاوګویلوف(Stanislav Gavrilov) سره هم ولیدل. دی په کابل کې د شوروي لوړپوړی دیپلومات او د سیمې د چارو متخصص و او له ګرومیکو سره یې په نېغه توګه مخابره کوله. په دې ډول کوردوویز د شوروي اتحاد د دغه سفیر له لارې د هغه حکومت په سیاست ځان پوهوه. دی وایي چې دی له هغه سره جوړ راغی او«..... شورویانو دی هیڅکله تېرایستلی نه دی. د همدغه اعتماد له امله به و چې کوردوویز وایي چې«ما تل په څرګنده کلمو

ورته ویل چې دغه یرغل محکوم کړي، او زما په ذهن کې هېڅ شک نه و، چې ټولو شوروي دیپلوماتانو هغه یوه غټه تېروتنه ګڼله. دوی په مسکو کې هغو (سرزورو) ته تل اشاره کوله چې فکر یې کاووه چې د خبرو له لارې وتل به سپکاوی وي». په یاد دې وي چې د ژنیو خبرې په ظاهر کې د پاکستان او کابل رجیم د استازو ترمینځ وې،خو هلته د شوروي غټ استازي شته توب ښيي چې هغه د رجیم استازو ته هدایت ورکاووه، او شورویانو هیله کوله چې د ژنیو خبرې و کابل ته یو ډول مشروعیت یا لږ تر لږه بین المللي حیثیت ورکړي.

د نړۍ‌بل زبرځواک امریکا چې په دغه وخت کې یې د افغانستان پر پېښو ژور اثر لاره د ژنیو له خبرو سره چندان علاقه نه ښودله. کوردوویز وایي چې په ملګروملتونو کې د امریکې د دایمي استازي یو مرستیال جارج شرمان ورته په رسمي ډول څرګنده کړه، چې امریکا په داسې حال کې چې د خبرو له لارې د کشالې د هوارېدلو ملا تړ کوي نه غواړي چې په هغو خبرو اترو کې برخه ولري چې د همدغه مقصد لپاره کېږي.خو په ژنیو کې د یونو په دفتر کې د امریکې استازي هرمن سوای بي (Herman Swaebe)، چې د ولسمشر ریګن نزدې ملګری و، کوردوویز هلته ولید او ورسره یې ومنله چې دغه موضوع به په کرسمس کې له ریګن سره مطرح کړي.

کوردوویز د ژنیو په ښار کې د ملتونو په ماڼۍ کې د ۱۹۸۲ دجون په ۱۶ مه اول د پاکستان د هیئت ډګروال یعقوب خان سره ولیدل. د هغه په وینا «په دې ډول مونږ په هغو خبرو پیل وکړ چې په تېر یو نیم کال کې د خبرو موضوع وه.» پاکستان د ملګروملتونو له خوا د اخري فیصلې پر کوم ډول تائید باندې ټینګار کاووه خو افغانستان د هغه پر خلاف په دې فکر و چې یونو دې له فورمات نه لېرې وساتله شي. د دوی ترمینځ غټ اختلاف د

بحث د موضوع ګانو په اړه و، چې له افغانستان څخه د پوځ ایستل کېدل، او د هغه په چارو کې له مداخلې نه انکار و. شاه محمد دوست د هغه پر خلاف په پرله پسې ډول یادوله، چې که دغه لاسوهنه ودرول شي«نورې موضوع ګانې به حل شي» یعقوب خان ټینګار کاووه چې د پوځ د وتلو په مادو، د شرایطو او وخت ټاکلو په ګډون دې خبرې او فیصله و شي. له بلې خوا افغانستان دغه چلند غوره کړ چې د شوروي د پوځ ایستل کېدل دې د اخري فیصلې «د قرینې د ننه» وي، او ټول اړوند ترتیبونه به «علاقمن دولتونه» نیسي. له دغو «دولتونو» نه د هغه مقصد د کابل رجیم او شوروي اتحاد و. په پای کې د پوځ د وتنې موضوع په متن کې د اساسي ټکي په توګه ومنل شو. خو د کابل رجیم استازي د خبرو په بهیر کې په وار وار له هغه سره مقاومت کاووه.

زر مالومه شوه چې دواړه خواوې سره ډېرې بې اعتماده او مخالفې دي. د پولې (د ډیورنډ سرحدي سیمې) په یادیدلو سره دوی سره احساساتي هم شول. په دغه حال کې د خبرو فورمات یا کړنلاره د عادي منظمو مسودو لپاره مساعده نه وه. کوردوویز وایي چې ځکه به د خبرو په بهیر کې مهم او معقول ټکی وړاندې کېدلو به و متن ته تغیر ورکاووه، خو دی د خبرو په ورو تګ سره خواشینی و، په تېره هغه وخت چې له دغو استازو سره یې جلا خبرې کولې، چې هغه ستړې کوونکې او ستونزناکې وي. بیا نو ده غوره وګڼله چې دوی د دوی په هستوګنځیو کې ووینې چې سره نږدې وو. په پای کې له دغسې متن سره هوکه وشوه چې د جامعې فیصلې لپاره اساس کېدلی شو. کوردوویز وایي چې ما د خبرو په پیل کې له یعقوب خان او دوست نه وغوښتل چې اساسي دا ده چې دوی دې د پوځ وتلو او د مداخلې د مخنیوي موضوع ګانې سره حل کړي، خو دوی هر یوه فکر کاووه چې د دغو موضوع

ګانو له یادونې نه ډډه وشي، په داسې حال کې چې اساسي موضوع ګانې همدغه وې او یوازې هغه د پرمختګ لامل کېدلی شوې.

کوردوویز د شوروي اتحاد سفیر ګوریلوف ته د جنرال ضیاءالحق دغه خبره هم یاده کړه، چې مجاهدان به په کومې مرحلې کې هم په خبرو کې ګډون وکړي، خو ګوریلوف د خپل حکومت او د کابل رجیم پر شان هغوی په زیږو الفاظو یاد کړل او دا یې هم وویل چې هغوی د دې وړ نه دي چې سیاسي حیثیت ورته ورکړل شي. کوردوویز ګوریلوف ته دا هم وویل چې په ورته حال کې د دغسې خبرو تر څنګه (ملي پخلاینې) موضوع هم تر بحث لاندې نیول کیږي، او که دا خبره رښتیا وي چې پاکستان، امریکا او نور د افغانستان په چارو کې لاسوهنې کوي، دا هم رښتیا ده چې د افغان ملت غوڅ اکثریت د کابل رجیم پر خلاف دی او وایي چې دغه رجیم یوه باندني پوځ پر پښو درولی دی. کوردوویز دا هم وویل چې په کابل کې به یو نوی «پراخ بنسټه»حکومت یقیني کړي چې اخري فیصله په سولې او اثرناک ډول عملي شي. ګوریلوف دغه وړاندیز ومنه خو دا یې هم وویل چې اوس یې د خبرو وخت نه دی او په راتلونکي کې په پرې بحث وشي. د کوردوویز دغه فکر ټولو ته نوی و، خو کارملیان او شورویان په دغه وخت کې د پراخ بنسټ حکومت د طرح مخالف وو.

د ۱۹۸۲ د نومبر په ۱۱مه د شوروي اعلی واکمن بریژنیف مړ شو او د ک. ج. ب سروال یوري اندروپوف د هغه پر ځای د کمونست ګوند عمومي منشي یعنې دشوروي اتحاد لوی واکمن شو. تر دغه وخته د ژنیو په خبرو کې یو څه پرمختګ شوی و، او د اندروپوف په واکمن کېدلو سره د ژنیو په خبرو کې د پرمختګ هیله ښه پیاوړې شوه، که څه هم لمکه چې د مخه ویل شوي، دی د دغه یرغل او له هغه نه د را پیدا ملي او بین المللي کشالو اصلي

مؤسس دی خو افغان مجاهدانو د نړۍ د پیاوړو حکومتونو په ټینګ ملاتړ د ده دغه یرغل د ناکامۍ پولې ته نزدې کړی او دغه امکان یې له مینځ نه وړی او یرغلګر پوځ ته یې ناشونکی کړی و، چې هغوی به په عادي نظامي عمل وځپي. اندروپوف اوس خپلې تېروتنې ته ځیر شوی او په دغه فکر شوی و، چې خپل پوځ د ښکېلو حکومتونو په افقي سره له افغانستان نه په عزت وباسي. د بریژنیف مړینې ده ته یو چانس برابر کړ چې په دې اړه د ښکېلو حکومتونو له مشرانو سره په مسکو کې وګوري چې د بریژنیف جنازې ته هلته تللي وو. په دغو مشرانو کې د پاکستان مشر جنرال ضیاءالحق هم و، چې اندروپوف څلوېښت دقیقې ورسره په خصوصي توګه خبرې وکړې . په داسې حال کې چې هغه له کارمل سره سوړ چلند وکړ. ضیاءالحق وروسته په اسلام اباد کې کوردوویز ته وویل چې ده «....اندروپوف ته وویل چې له سیاسي حل نه پرته بله لار نشته، او دا چې ملګري ملتونه د حل یوازنۍ وسیله ده» کوردوویز وایي چې په مسکو کې د پوځ د ایستل کېدلو، او د ژنیو په خبرو کې د ممکن وړاندې تګ په اړه په وار وار ښې «اشارې» ورکول کېدلې. دی دا هم وایي چې څنګه چې بین المللي ټولنې په اتفاق سره د ده د مأموریت ملاتړ کاووه، دغه ملاتړ دده له بري سره مرسته کوله، که څه هم د همدغه کال (۱۹۸۲) په اخر کې هغه پرېکړه چې د افغانستان د کشالې په اړه د عمومي اسامبلی له خوا وشوه د ۲۱ رایو په وړاندې ۱۱۴ رایې وې چې د تېر کال له رایو نه دوه کمې وې. په دغه کال کې د دیارلس هېوادونواستازو رایې ورنکړې.

کوردوویز همدا چې د لومړي پړاو خبرې پای ته ورسېدلې،د خپل یوه ملګري په مرسته «د جامعي فیصلې لومړنۍ مسوده» تیاره کړه. دغه متن څلور برخې لرلې،او دغسې ټکي یې لرل چې د خبرو خواوو یې غوښتنه کوله.

لومړۍ برخه يې د پوځ د ايستل کېدلو او په هغـو پـورې د اړونـدو ټکـو پـه اړه وه؛ دوهمه برخه يې د نه لاسـوهنې او نـه مـداخلې پـه بـاب وه؛ دريېمـه يـې د هغو هيوادونو له خوا د ضمانت په ارتباط وه،چې لا مشخص شوي نـه وو، او څلورمه يې د کډوالو د ستنېدو په هکله وه. په مسودې کې دا هـم ويـل شـوي وو چې فيصله بـه د دې لپـازه چې عملي کېـدل يـې چټـک ،واقعـي او کامـل وي،يو ځای عملي کېږي، خو کوردوويز خپل تګ سيمې ته د توقع پر خلاف وځنـډوه. کـوردوويز د ۱۹۸۲ کـال د ډسـمبر پـه ۳۱مـه پـه نيويـارک ټـايمز ورځپاڼې کې ولوستل چې د شوروي اتحاد دولتي خبرې اژانس تاس لـه يـوې اعلاميې نه ښکارېده چې مطلب يې «.... په افغانسـتان کـې د شـوروي اتحـاد تر لاس لاندې حکومت متيقن کـاووه او پـه لويـديځ کـې يـې دغـه خبـرې اثـر کاوه چې د شوروي نوی واکمن، يوري اندروپوف ممکن تيارى نيسـي چـې د حيثيت نه بايللو فيصله وشي» د تاس دغه اعلاميه که څه هـم څرګنـده نـه وه، د هيلې هغه توده هوا چې د انـدروپوف پـه واکمـن کېـدلو سـره پيـدا شـوې وه بېرته سړه کړه او د کراچی د ډان ورځپاڼې نظر ښکاره کړ چې پاکسـتان تـه نـه ښايي«د دراماتيک بدلون» هيله وکړي.

دغه نوی انکشاف کـوردوويز پـه دې فکـر کـړ چـې د افغـان کشـاله اوس د زبرځواکونو په کړکېچنو اړيکو کې نغښتل شوي ده. دی وايـي چـې «د مسـکو په څرګندو کلمو زه پوه کړی وم، چې غواړي پـه خبـرو کـې وړانـدې لاړ شـي ، خو دا يې نه شو زغملی چې په ښکاره يا حتی په ضمني ډول ووايـي چـې هـر ډول چې وي فيصلې ته رسېدل غـواړي، يـا دا چـې امـاده ده د دې لپـاره چـې فيصله تر لاسه شي، د کابل رجيم له پښـو نـه وغـورزول شـي». مهمـه لا دا ده چې کوردوويز په دغه وخت کې د شوروي لويانو ځانګړتياوې درک کړي چـې د هماغې يوې موضوع په اړه د وخت پـه تقاضـا سـره ډول ډول غبرګېـږي. دی

وايي چې « د ټولو خبرو په بهير کې زه له دغسې حالتونو سره مخ کېدلم چې شورويانو په ضمني ډول ډېر لږ په کلمو ما ته يو څه ويل، په داسې حال کې په ښکاره يې د امريکې لـه ديپلوماتـانو يـا نـاټو سـره (پـه خبـرو کـې) بـل ډول دريځ نيوه»دی وړاندې وايي چې د دوی دغه چلند «..... د منځګړي پـه توګـه زما دنده پـه ټينګـه پيچلـې کولـه ، او زمـا اعتبـار زيـانمن شـو، ځکـه چـې هـم پاکستانيانو او هم امريکايانو تل نه شو کولی د شورويانو د سـلوک پـه اړه زمـا انتباهات تائيد کړي، اړينه به نه وي چې ووايم چې ما له شورويانو سـره عـين سـتونزې لرلـې چـې ورتـه مـې د يـوې ټـاکلې موضـوع پـه اړه د امريکايـانو يـا پاکستانيانو چلند ښکاره کاووه. د وخت پـه تېرېـدلو سـره زه د يـو منځګـړي د دندې د ځينو له ښه نه ايسيدونکو اړخونو سره روږدی شوم.

ډېر وخت تېر شـوی نـه و، چـې نـاهيلی کـوردوويز بېرتـه هيلـه مـن شـو. د ۱۹۸۳ د جنـوری پـه ۶مـه پـه ملګروملتونـو کـې د شـوروي اسـتازی ولادميرشوستوف ورته وويل چې « له يوه ډېـر لـوړ ځـای نـه هغـه تـه هـدايت شوی چې تا ته ووايي چې پـه مسـکو کـې دجـامعي فيصـلې مسـودې درنـاوی شـوی او دا چـې د شـوروي حکومـت هيلـه کـوي چـې پـه ژنيـو کـې بـه لـه خبروکونکو سره د هغه خبرې بريـالۍ وي».بيـا نـو کـوردوويز پـه لـږ ډاډه زړه سيمی ته پـه سـفر لاړ،او پـه تهـران کـی علـی اکبـر ولايتـی ورتـه وويـل چـې د فيصلی اصلی او محوری موضـوع د پـوځ ايسـتل کيـدل دی چـی بايـد پـه دوه کلونو کی سرته ورسيږي .هغـه دا هـم ورتـه وويـل چـی ملګـری ملتونـه بايـد يقينی کړی چی افغان کډوال خپل هيواد ته ستانه شي کوردوويز وايی چـی مـا په نرمه ژبه ورته ياده کړه چی دا د ملګرو ملتونو وظيفه ده چی خپل هيـواد تـه د کډوالو ستنيدل د هغوی په خپله خوښه يقينـي کـړي. کـوردوويز دوه ورځـی وروسته بيا اسلام اباد ته لاړ ، او هلته يې له يعقوب خـان سـره وليـدل چـې د

ده په وينا دغه ليدنه ډېره ښه وه. کوردوويز په همدغې ليدنې کې يعقوب خان ته يو خاص جدول ورکړ چې په هغه کې د فيصلې په مسوده کې څلور عنصرو نه يا برخې په مهارت سره انځور شوې و. «وتنه، نه لاسوهنه ضمانتونه او کډوال» د جدول سرليک ډيډې (D.Day) يا د بري ورځ غوره شوې وه. هغه د جدول په اړه اوږده معلومات هم ورکړل. په بله ورځ يعقوب خان د هيئت له ټولو غړو سره وليدل، ورته يې وويل چې اساسي ټکې د هغې پراخې شوې مسودې پر محتوياتو موافقه ده چې دی يې غواړي چې په ژنيو کې يې وړاندې کړي. هغوی ته يې دا هم ياده کړه چې د شورويانو او کارمليانو موافقه د پاکستان په هغه اماده توب پورې تړلې ده، چې د تنظيمونو د مشرانو، او اصلي مهاجرانو ترمينځ توپير وکړي. په بله ورځ يعقوب خان کوردوويز ته ډاډ ورکړ چې په مسودې کې نه هوارېدونکی جنجال نه ليدل کېږي،خو د ده حکومت ټينګار کوي چې د پوځ د ايستل کېدلو لپاره دې د وخت چوکاټ وټاکل شي. کوردوويز ورسره ومنله او د جدول په نظر کې نيولو سره يې چې ده د «ميکانزم سياست» نومولی و، موافقه وکړه چې په سياسي لحاظ پائيدونکی حل غواړي چې د فيصلې د ټولو عنصرونو پلې کول په يوه وخت کې وې. کوردوويز په دې هکله دا هم وويل چې پلې کېدل يې د فيصلې له ختم نه يوه يا دوه مياشت وروسته شروع شي. خو يعقوب خان ورته کړه چې په دې اړه به له دولت مشر ضياءالحق سره مشوره وکړي. هغه يو ځل بيا په ټينګه وويل چې پاکستان نه شي کولی د کابل رجيم استازو سره مخامخ خبرې وکړي، او دا په ده پورې اړه لري چې د کابل رجيم قانع کړي چې خبرې دې نائبي ياني نامخامخ او واسطه ييزې وي. ده دا هم وويل چې دی کولی شي د امريکې حکومت هم قانع کړي چې دغه کړنلاره ومني، خو هره هغه لاره به چې په هغې سره د کابل رجيم په

رسميت وپيژندل شي، دغسې کړکېچونه پيدا کړي چې ممکن د خبرو ټول پروګرام زيانمن کړي.

کوردوويز د همدغې ورځې په ماښام ضياءالحق، يعقوب خان، د ماليـاتو وزير غلام اسحاق خان او لوی درستيز جنرال عارف د ضياء په دفتر کې سره په ګډه وليدل.دی وايي چې د توقع پرخلاف لـه هغـو سره بحث ډېر جدي شو، او له هغه نه يوې پخې فيصلې تـه د رسېدلو پـه اړه پوښـتنې وشـوې چـې هغه په اصل کې د شورويانو د اماده توب په اړه د پاکستانيانو له شـاکي تـوب نه ولاړې شوې وې چې خپل پوځ لـه افغانسـتان نـه وباسـي او د کابـل رجـيم عوض کړي. کوردوويز وايي چې ما دوی ته وويل چې دغه ټوله پروسـه او پـه خاص ډول مسوده په دغه ډول تنظيم شوې چې پاکستان هر وخت کولی شي هغه اندازه يا درجه يقيني کړي چې شـورويانو پـه رسـمي ډول د پـوځ وتـل د وخت په يـوه چوکـاټ کـې د ننـه منلـي وي پـه سـاحه کـې هـېڅ څيـز تـه تغيـر ورکړي. کوردوويز دا هم ورتـه وويـل چـې کـه پـه خبـرو کـې پرمختـګ وشـو، شورويان به د ملي پخلاينې په اړه عمل وکړي او « تاسې ته په يقين وايم چې کارمل د هغوی نه خوښېږي» کوردووېز هم وايي چې زما د دغې «محاکمې» په بهير کې يعقوب خان چوپ و او چې بله ورځ مې ورتـه وويـل چـې دولـت مشر دې زه « د زمريانو په کوټه کې اچولی وم» هغـه وخنـدل او چـې ضـياء تـه يې زما خبره وکړه هغه وويل چې«ده د يوه ښه عيسوي پر شان سلوک وکـړ.» د کوردوويز پاکسـتاني ملګـرو ورتـه دا هـم وويـل چـې د اسـلام ابـاد پـه لـوړه سطح کې ويل کېدل چې ضياءالحق د هغه کـار منلـی و. پـه بلـه ورځ يعقـوب خان ورته ډاډ ورکړ چې پاکستان هم د « همپال توب» او هم د فيصلې د پلـې کېدلو ټول عنصرونه منلي، خو مشاورانو يې دغه موضوع هم ياده کړه چې پـه فيصلې کې دې د موجودو سرحدونو د قبولۍ ذکر پـه حتمـي ډول وشـي» خـو

کوردوویز وایي چې ده له دغه بحث نه وروسته لازمه نه ګڼله چې په دې اړه اوس بحث وکړي. کوردوویز په دې ډول په اسلام اباد کې له یو ډول «محاکمې» نه بریالی ووت خو په کابل کې یې هم ستونزې لږې نه وې.

په کابل کې شاه محمد دوست د کوردوویز جدول خوښ کړ خو د څلورو برخو په لړلو سره یې د یوه سند مسوده «غیر واقعي» وبلله او ویې ویل چې د هغه پرځای دې د بحث موضوع ګانې په څلورو سندونو کې ذکر شي. له پاکستان سره یې د مخامخ خبرو په هکله سرسري یادونه وکړه. خو د ده په خبرو کې د اندېښنې وړ ټکی دا و چې د پوځ د ایستل کېدلو په اړه یې د وخت د ټاکل کېدلو چوکاټ ونه مانه. کوردوویز بیا ورته کړه چې که دی پخوا له دې چې پوهاوی راغلی نه وي، نیویارک ته روان شي ټولې خبرې به په ټپه ودرېږي. د کوردوویز په وینا «دوست دغسې دریځ غوره کړ چې حکومت ته به یې «ناشونکی» نه وي چې له پاکستان سره د شوروي پوځ د ایستل کېدلو پر سر د نېټې د تکمیلېدلو په اړه خبرې وشي» کوردوویز له کارمل سره د لیدنې په وخت کې په مسوده کې د وخت د چوکاټ د ټاکل کېدلو پر ذکر ټینګار کاووه او هغه د خبرو په پیل کې ورته ویلي و چې «ببرک د خدای(ج) کار نه دی» کارمل زیاته کړه چې د پوځ ایستل کېدل به د افغانستان او شوروي اتحاد لپاره «یوه تاریخي پرېکړه وي» نو هغه باید له پاکستان سره د خبرو موضوع نه وي. کوردوویز بیا ورته کړه چې که دوی په دې اړه خپل دریځ بدل نه کړي ده ته به ممکنه نه وي چې پاکستان قانع کړي چې خپل هیئت ژنیو ته واستوي.

بل سبا له دوست سره د کوردوویز خبرې بیا کړکیچنې وې، او هغه یو وخت بل وخت جذباتي کېده هغه د هم مهالتوب پرنسیپ ومانه او له اخري فیصلې نه دېرش ورځې وروسته یې د ټولو عنصرونو له پلې کېدلو سره هوکه

وکړه. خو هر ځل چې د پوځ د ایستل کېدلو په اړه بحث کېده دوی به جدي شول. کوردوویز وایي چې «دی کله کله دغسې یو څوک ښکارېده چې لکه د خپل د اعدام پر نېټه چې بحث کوي.» کوردوویز وروسته په شوروي سفارت کې له ګوریلوف او سفیر سره هم د دوه‌ړۍ خوړلو په مهال خبرې وکړې. ده هغو ته وویل چې «... په ژنیو کې د مخه دغسې څرګند پوهاوی مینځ ته راغلی و، چې د (پوځ) وتل به د وخت د یوه موافقه شوي چوکاټ دننه وي.» ده ګوریلوف ته دا هم وویل چې «.... دی پوهېږي چې دغه مسئله د شورویانو لپاره ډېره حساسه ده خو هغه د امریکایانو او پاکستانیانو لپاره هم په هماغه اندازه جدي ده.» ګوریلوف هم د دوست پر شان د پوځ د ایستل کېدلو د وخت ټاکلو له موضوع سره مخالفت وکړ، خو په پای کې یې د کوردوویز د دلیلونو په وړاندې وویل چې په دې اړه به له مسکو سره مشوره وکړي. کوردوویز دغه وخت کې هم بېحوصلې او هم اندېښمن شوی و. سره له دې هم اسلام اباد ته یې خپل تګ وځنډاوه، د دې لپاره چې له دوست سره بیا وویني. هغه بیا د هماغې ورځې په شپه کې ورسره ولیدل. د کوردوویز په نظر دوست ستړی او ترفشار لاندې مالومېده او ویې ویل چې له ګوندي او حکومتي لویانو سره یې مشوره کړې او اوس دېته تیاردي چې د ده وړاندیز ومني خو په لږ تغییر سره او هغه دا چې « پوره وتلو د ټاکلې نېټې» پر ځای دې د «ممکنې نېټې» ذکر وشي. کوردوویز دغه نظر سمله لاسه دغه دلیل رد کړ، چې دده د فارمول او د رسمي موافقې د نه شته توب ترمینځ توپیر نه شته. دوی وروسته په دغه اړه ډېر وغږېدل، او په پای کې کوردوویز ورته کړه چې ده هغه لیکنه منلې چې هغه د فیصله لیک په مسوده کې ذکر کړې. « هغه سر وخوځاووه او زه ترېنه رخصت شوم.» کوردوویز وایي چې په کابل کې ما غوښتل له دوست سره خپلې اړیکې ترمیم کړم چې د مخه داغې شوې وې،

خو هغه اقرار وکړ جې له ګوندي او حکومتي لويانو سره يې جنجال لاره او هغوی د ديپلوماسي په نزاکت نه پوهېږي. په هر حال کوردوويز وايي چې کله له افغانستان نه روانيده احساس يې کاووه چې ټول هغه څه چې يې غوښتل تر لاسه کړي دي.

په اسلام اباد کې د امريکې سفير رانلډ سپايرز(Ronald Spires) کوردوويز ته وويل چې کابل او مسکو ورته امتيازونه ورکړی او ده ورته ډاډ ورکړ، چې دده خکومت به همکاري ونه سپموي. ده دغه څه وروسته له هغه وويل چې کوردوويز ورته ويلي و، چې ويل کېږي امريکا نه غواړي د افغان کشاله په خبرو سره هواره شي، په داسې حال کې چې اندروپوف له سياسي حل سره علاقه ښودلې وه. يعقوب خان هم په دې اړه رضايت ښکاره کړ، خو مشاوران يې قانع نه وو. دولت مشر ضياءالحق هم کوردوويز ته خپل رضايت په يو پيغام کې څرګند کړ. کوردوويز وايي چې په تهران کې په اسلام اباد او کابل کې دده دخبرو په هکله مثبتې تبصرې وشوې، خو تهران د پخوا پر شان په خبرو کې ګډون کولو نه ډډه وکړه. په اخر کې کوردوويز وايي چې «سه شنبه د فبروري په اتمه يو ډېر ستړی او پوره راضي مينځګړی د بېرته تللو لپاره په الوتکه کې کېناست.»(۱۱)

# د دوستانو هېوادونو سفيران او د ژنيو خبرې

څنګه چې د شوروي يرغل او له هغه نه د پيدا شوې کشالې د هوارېدلو موضوع بين المللي اړخونه لرل،کوردوويز په نيويارک کې لازمه وګڼله چې د علاقمنو هېوادونو سفيران د خپل سفر او په عمومي ډول د ژنيو د خبرو له نتيجو نه خبر کړي چې د ضرورت په وخت کې دوی همکاري وکړي. اول يې د هند او بيا د چين له سفير سره وليدل. وروستۍ ليدنه په دې مقصد وه چې که د امريکې او شوروي حکومتونو له خوا پاکستان ته ستونزې پيدا شوې چين به په دې اړه رغنده رول لوبوي. خو د اروپايي ټولنې له سفيرانو سره د کوردوويز ليدنه د توقع پر خلاف يو څه زيږه وه. هغو پر شوروي اتحاد اعتماد نه کاووه. دی وايي چې «...... د دوی د شوروي ضد احساساتو له ژورتيا نه خبر نه وم چې هغه له دوهم نړيوال جنګ نه وروسته د ختيځې اروپا د پېښو نتيجه وه.» شوروي اتحاد له دوهم جهاني جنګ نه وروسته د ختيځې اروپا هيوادونه لاندې کړي، او يو وخت بل وخت يې د هغو د ځينو ازادی غوښتونکي قيامونه په نظامي زور ځپلي و. کوردوويز وايي چې « يوه اروپايي دوست راته وويل چې دوی ته ممکمنه نه ده پر دغسې حکومت باور وکړي چې کمونيستي رجيمونه يې په ډېرې بې رحمۍ سره تحميل کړي او بشري حقونه يې تر پښو لاندې کړي دي.» دی وايي چې زما هغو اطميناناتو ته غوږ ونه کاږه وو چې اندروپوف په ښکاره اراده کړې چې دغه کشاله په ديپلوماسي سره هواره شي.» دی دا هم وايي چې د فرانسې سفير لا « .... زه

تورن کړم چې د شوروي اتحاد هغه توطیه اسانه کوي چې په کابل کې یو پوره تابع کمونستي رجیم خوندي او دغه جذمي فکر واقعي کړي چې سوشلستي انقلاب پر شاتلونکی نه دی. کوردوویز په ځواب کې ورته وویل چې « که پاکستان لکه څنګه چې ضیاء په وار وار ویلي چې له سیاسي حل سره علاقمن دی ملګري ملتونه او د هغه ټول غړي ددې لپاره چې دغه بحران ختم شي باید د دیپلوماسي له لارې د هغه ملاتړ وکړي.» د اروپايی ټولنې د سفیرانو پر خلاف د امریکې د بانـدنیو جارو د وزیر مرستیال ایګل برګر(Eagle Burger) د کوردوویز له کوښښو نه خوښي وکړه او « په وار وار یې په ټینګه ویل چې د پوځ ایستل کېدل امریکې ته خاص اهمیت لري او که شورویان ووتل د کابل رجیم نسکورېدل به لږ و ډېر اتومات وي.» کوردوویز لا وایي چې « کله چې رسمي لیدنه ختمه شوه ایګل برګر راته په درندو الفاظو اطمینان راکړ چې د امریکې حکومت په رښتینې توګه زما د کوښښونو ملاتړ کوي.» خو کوردوویز دا هم وايي چې دی لا دمخه پوهېده چې په دې اړه په اسلام اباد،کابل، مسکو او واشنګټن کې او دا سې هم د لویدیځې اروپایي هیوادونو په مرکزونو کې ژور اختلافونه وو، او په دې اړه په هماغه وخت کې دغسې خبرې کېدلې چې د ژنیو پر خبرو اترو یې اثر کاووه.

# په مسکو کې له اندروپوف سره د کویلار او کوردوویز لیدنه

د کوردوویز بل سفر د سرمنشي پریزوي کویلار په ملګرتوب مسکو ته و. د شوروي حکومت سرمنشي مسکو ته په رسمي ډول بللی و ددې لپاره چې له هغه او کوردوویز سره په ځینو مهمو موضوع ګانو د افغانستان د موضوع په ګډون پوهاوی وکړي. کوردوویز وایي چې شوروي لویان د امریکایانو او پاکستانیانو په اړه په ژور ډول شکمن وو. دواړو منشیانو له دود سره سم د ۱۹۸۳ کال د مارچ په ۲۸مه په یوې غونډې کې د غتو نړۍ والو موضوعګانو په اړه لنډې لیکنې واورولې. کویلار وویل چې پاکستان د افغانستان د کشالې د هوارولو لپاره یوه تړون ته چمتووالی ښودلی خو اندروپوف د هغه پرخلاف وویل چې «بین المللي چارې پر خطرناکې لارې روانې شوې دي.» هغه وروسته له هغه چې په نړۍ کې یې نښتو ته ګوته ونیوله د افغانستان شاوخوا وضع په اړه ډېر وغږېد او ویې ویل چې دی د ملګروملتونو له لارې د افغانستان په چاروکې د لاسوهنې مخالف دی. په عین حال کې یې د ډیپلوماسۍ له لارې د افغانستان د کشالې په اړه د کوردوویز کوښښونه مثبت وارزول خو یو ځل بیا یې په ټینګه وویل چې که لاسوهنې ودرولی شي «ګرانه به نه وي د اړوندو موضوع ګانو په اړه د شوروي پوځ د وتلو په ګډون موافقه وشي.» په دغه وخت کې هغه خپله لیکنه یوې خوا ته واچوله او پر خپلو الفاظو یې وویل چې «..... شوروي اتحاد اراده نه لري خپل پوځ په افغانستان کې وساتي، شوروي پوځ به تر هغو پاتې وي چې ورته ضرورت وي. ځکه چې دا هغسې یوه موضوع ده چې د شوروي اتحاد پولې امنیت

ورسره تړلی دی.» هغه دا هم ښکاره کړه چې ډېر کسان ولې د شوروي اتحاد په رښتیین توب شک کوي او بیا یې د ګوتو په شمېر ښودله چې په افغانستان کې د پوځ پاتې کېدل به دغه پایلې ولري . یوه، هغه ډېر لګښت غواړي، دوه ، دننه په شوروي اتحاد کې ستونزې پیدا کوي؛ درې،د امریکې له متحدو دولتونو، دریيمې نړۍ او اسلامي نړۍ سره د کشالو لامل کېږي؛ او څلور له ټولو هغو هیوادونو سره چې له دغې موضوع سره علاقه لري. حتما پرابلمونه خلق کوي. نو دی له زړه نه غواړي چې « دغه حال ته د پای ټکی کېږدي.» (۱۲) دغه وینا د مخه راوړل شوې ده، او د هغې د خاص اهمیت له امله دلته بیا راوړل شوه. دا لومړی ځل و چې د شوروي اتحاد لوړ واکمن په څرګند ډول په افغانستان کې د خپل پوځ شتون له څو اړخونو مضر وباله، او په ضمني ډول یې تېروتنه وبلله . خو په مسکو کې دغسې څوک نه و چې ورته ووایې چې دپوځ استولو اصلي عامل خو ته په خپله وې او لوی درستیز اوګارکوف چې درته وویل چې په دغه کار سره به اسلامي نړۍ وپاروو، او په ټولې نړۍ کې به له سیاسي پلوه بایلو تا هعه ته وویل چې ستا کار د نظامي چارو تر سره کول دي، او سیاست به مونږ پرمخ بیایو، او چې هغه سره له دي هم وویل چې « اخر زه لوی درستیز یم» تا هغه په غوسه وترټه او ورته وویل چې «نور نو بس» داسې هم د دفاع وزیر مرستیال جنرال پاولوفسکی چې د یوه لوی نظامي هیئت په مشری په افغانستان کې څو میاشتې تېرې کړې، او د هغه د امنیتی او نظامی چارو په اړه یې معلومات ترلاسه کړي و، د دفاع وزیر اوستینوف ته مشوره ورکړه چې افغانستان ته د پوځ استولو ضرورت نشته، هغه بېرته وغوښتل شو او د رتبې تنزیل ورته ورکړ شو.دغه متل څومره پرځای دی چې وایي: کجا کاری کند عاقل که بار آرد پیشماني. په هر حال د اندروپوف دغه هیله هم د هغه په واکمني کې تر سره نه شوه، او

دی هم په دغې کشالې کې د بریژنیف پر شان ارمانجن لاړ، خو کوردوویز به یې په خپل مأموریت کې نور هم جدي کړی وي.

له هغه وروسته کوردوویز او مرستیال یې ریمونډ سومرنیز د جامعې فیصلې په تکمیل کولو بوخت شول،خو په دغه وخت کې پاکستانیانو یوه نوې کشاله خلق کړه.دوی له کوردوویز نه وغوښتل چې د فیصلې په وروستي متن کې دې د ډیورنډ کرښه بین المللي پوله وښودله شي. دغه کرښه په ۱۸۹۳ کې د هند برتانوي حکومت پر امیرعبدالرحمن باندې تحمیل کړې وه او د کرښې ختیځې سیمې یې، چې د افغانستان برخې وې ، د برتانوی حکومت په نفوذي سیمې کې نیولي وې. پر هغه سربېره په دې اړه توافق لیک هم هغسې چې خپور شوی دی، دغه څه په شک کې دی ما په خپلو اثارو کې تثبیت کړي دي. دلته به دغومره وویل شي، چې د پاکستان له هسکېدلو نه وروسته د افغانستان حکومت او پارلمان هغه رد کړی او افغانستان د همدغې موضوع په ملګرو ملتونو کې د پاکستان په غړي کېدلو په وخت کې منفي رایه ورکړې ده، خو پاکستان په دغه وخت کې چې افغانستان قانوني حکومت نه لاره، او هیوراد د شوروی پوځ تر اشغال لاندې و، او د افغانانو غوڅ اکثریت د شوروي د تابع رجیم مخالف و، کوښښ کاووه چې دغه کرښه د همدغه لاسپوڅي رجیم له خوا په رسمي ډول و پېژندل شي. رجیم حاضر و چې د دغې موضوع پر سر سوداګري وکړي، خو چې پاکستان یې په رسمي ډول وپیژني. کوردوویز وایي چې شاه محمد دوست راته وویل چې «.... لکه هسې چې د اګست په وړاندیزونو کې ښودل شوي، دغه مسئله په ربښتیا د خبرو موضوع کېدلی شي. خو په مستقیم ډول د دواړو حکومتونو تر مینځ او یوازې د پریکړې له ختم نه وروسته.» خو پاکستان دغه تجارت ته حاضر نه و، یاحاضرېدلی نه شو که څه هم محمد«یعقوب تر فشار لاندې و،

ځکه چې په پاکستان کې ډېرو خلکو بې له شک نه احساس کاووه چې یوه نیمګړې پرېکړه هم په حقه ښودل کېدلی شي خو چې کابل د ډېورنډ کرښه په رسمي ډول پېژندلې وي.» (۱۳) غیر له هغه هم له پېښور او شاوخووا علاقو نه پرته د برتانوي هند تر نفوذ لاندې سیمې هغسې چې په دغه توافق لیک کې ښودل شوي، هم د برتانوي هند د حاکمیت په وخت کې او هم د پاکستان له هسکېداو نه وروسته د چارو په اجرا کې خپلواکې وې.

بله موضوع د نهایي برېکړې پلې کېدل و چې هغه هم باید د هغې یوه برخه وي په تېره چې « .... کابل د امریکې او نورو حکومتونو څخه د لیکلې ژمنې هیله کوله چې دوی به د افغانستان په چارو کې لاسوهنه او مداخله نه کوي، او د پاکستان د مداخلې مخه به هم نیسي.» له بلې خوا امریکې په ټینګه احساس کاووه چې د شوروي اتحاد د پوځ وتل به تضمین شوي وي. په پای کې وروسته له دې چې ځینو هېوادونو ته ناکامه مراجعه وشوه، ومنله شوه چې د پرېکړې ضمانت به د امریکا او شوروي اتحاد پر غاړه وي په دې ډول چې لومړنی به مجاهدانو ته خپله مرسته دروي، او وروستی به ژمنه کوي چې خپل ټول پوځ به له افغانستان څخه بیرون کوی. له هغه وروسته د پرېکړې لومړنۍ لیکنه په اوولسو مخونو کې تکمیله شوه. کوردوویز وایي چې ددغې مسودې په وروستي لوستلو سره مې «..... احساس وکړ چې هغه هغسې په وخت، په غور او په دقیق ډول تهیه شوې چې د انسان لپاره ممکنه ده. مونږ تیار وو،چې وړاندې لاړ شو.» (۱۴)

# بېرته ژنيو ته

سره له دې هم د ژنيو په غونډه کې (اپرېل ۱۹۸۳) د ښکېلو هيوادونو استازو د مسودې د ځينو ټکو په اړه نارضايت ښکاره کړ. ګوريلوف لا ويل چې «..... مسکو له دغې مسودې نه ناهيلی دی.» او دا چې د نه مداخلې فقره بايد په ټينګه بيان شي. کوردوويز وايي چې «ما زر درک کړه چې افغانانو (دکابل رجيم استازو) څه نه شو ويلی ځکه چې ګوريلوف ته له مسکو نه هدايت نه و رسېدلی. دی تعجب کوی چې ګوريلوف د دغې موضوع په هکله له ماسره خبرې کوي، ځکه چې هغه په رسمي ډول د خبرو شخص نه و. په هر حال له هغه وروسته و چې دوست د مسودې په اړه نظر ښکاره کړ او کوردوويز او مرستيال يې د استازو د نظرونو په رڼا کې مسوده بيا وکتله او هغه يې د يوه متن په چوکاټ کې پر څلورو حقوقي برخو وويشله او د نوي متن مسوده يې د اپرېل په ۱۵ مه تياره شوه. په همدغه وخت (مې ۱۹۸۳) کې و چې د کوردوويز دغه وينا چې د مسودې متن ۹۵ سلنه تکميل شوی په رسنيو کې په دې ډول خپره شوې وه چې ګواکې د فيصلې ۹۵ سلنه تکميل شوې ده، او وضع په بحراني کېدلو سره د ملامتي ګوته هغه ته نيول کېدله. د يادونې وړ ده چې د امريکې د باندنيو چارو وزير جارج شولتز د مې په ۲۶ مه شوروي حکومت ته په يوې ليکنې کې د کوردوويز د مأموريت ملاتړ و کړ او په ځرګند ډول يې ډاډ ورکړی و، چې امريکا له دغې پروسې سره د زړه نه همکاري کوي. خو چې شوروي اتحاد يوې فيصلې ته د رسېدلو لپاره په رښتيا ژمن وي. يعقوب خان هم په هماغه ورځ په نيويارک کې کوردوويز ته ويلی و، چې بيجنګ،پاريس،لندن او واشګټن ته يې په خپل تازه سفر کې

درک کړه چې حکومتونه يې د ژنيو د خبرو په هکله په ژور ډول شکمن دي او ټول په دې نظر دي چې «فيصله يوازې هغه وخت کېدلی شي چې کارمل له ډګر نه وتلی وي.» کوردوويز د ژنيو خبرو له بيا پيل کېدلو نه درې ورځې دمخه ژنيو ته لاړ چې له خبروکوونکو سره يې د مخه ليدلي وي. خو په دغه وخت کې دی له يوه بل مشکل سره مخ شو، او هغه دا چې د شوروي استازي ګوريلوف د زړه په حملې مړ شو، او پر ځای يې واسيلي سفرونچوک (V.Safron chuk) ژنيو ته ورغی. کوردوويز له ګوريلوف سره ښه بلد شوی و او سفرنچوک ورته هم نااشنا و او هم هغه دده په وينا «... ډېر سخت دريځی او ستونزمن معامله کوونکی دی.» دی پخوا په ملګروملتونو کې د شوروي اتحاد د دايمي استازي مرستيال، او د افغانستان په چارو کې د تجربې خاوند و. د خلقي حکومت په وخت کې په کابل کې د يوه سياسي هيئت مشر، او له يرغل نه وروسته يې په واقع کې د باندنيو چارو د وزير پر شان کار کاووه، او شاه محمد دوست هسې په نامه وزير و. کوردوويز وايي چې دی له اول نه داسې ښکارېده چې غواړي د مسودې ځينې موضوع ګانو ته تغير ورکړي خو ده ورته په ټينګه وويل چې دغه کار به ډېرې ستونزې ولري. کوردوويز له يعقوب خان او سفرنچوک سره له ليدنې وروسته په دې فکر شو چې «.... په مسکو کې کومه سخته پيښه شوې ده.» د «پيښې» يوه نښه دا وه چې سفرنچوک پر پاکستان تور ولګاووه چې د نه مداخلې په فقره کې له داډ ورکولو نه تېر شوی دی او «... په دغه دريځ کې ټينګ ودرېد چې کومې هغه خبرې چې د شوروي پوځ د وتلو په اړه کېږي بايد وروسته له هغه وي چې پاکستان د نه لاسوهنې په اړه په رسمي ډول ژمنه وکړي.» د هغه په هدايت به و، چې « دوست هم خپل دريځ سخت کړ او په خپل وار يې د (پوځ) ايستل کېدلو د وخت ټاکلو په مقصد د خبرو په اړه په ټينګه انکار

وکړ، او په خبرو کې يې د ايران د پوره ګډون کولو موضوع راپورته کړه، چې له هغه پرته به افغانستان هېڅ ژمنه کولی ونه شي.» له دغو نه فکر کېدونکو دريځونو نه کوردوويز دغې ته ورسېد چې د کابل او اسلام اباد استازي خپلو ملکونو ته په ستنېدلو سره د سخت دريځو له خوا تر فشار لاندې نيول شوی دي. په پای کې کوردوويز وايي چې « زه په دغه فکر شوم چې د مسکو پېښې د (ژنيو) خبرې ترټلی دي.» (۱۵) کوردوويز وايي چې ده د يادو شويو اعتراضونو په نظر کې نيولو سره د فيصلې لومړی ليکنه يا مسوده تعديل کړه او نوی تعديل شوی متن يې د جون په ۱۷ مه وړاندې کړ، خو هغه هم ټولو ته د قناعت وړ نه و. د کابل استازي «.... دنه مداخلې د ټولو مادو په اړه يو نوی متن وسپاره» او ده هغه د « مشاهداتو او تبصرو پر شان په کې ځای کړ، او بيا يې هغه و هڅوه چې د هغه له متن نه د کار د متن په شان کار واخيستل شي. يعقوب خان هم په خپل وار وويل چې امريکايانو بيا د ضمانتونو ټولو اړخونو موضوع طرح کړې په دې ډول چې هغه دې نه يوازې د نه مداخلې په اړه وي، بلکه د ټولي فيصلې په هکله وي.د همدغه وړانديز په رڼا کې و چې امريکا او شوروي اتحاد هغه وخت، چې په خبرو کې پرمختګ وشو، د ټولې فيصلې ضامنان شول. بيا نو کوردوويز په دغه هکله وويل چې «..... پر نوي متن به بيا کار وکړو.» سره له دې هم څه وخت چې ټول کوښښونه سر ته ونه رسېدل کوردوويز فيصله وکړه، چې خبرې دې وځنډولې شي.» خو سفرنچوک په وار وار ويل چې حوصله په کار ده او «دغسې چارې کلونه نيسي».

کوردوويز د دغې اوږېدلې هوا په علت نپوهېده، خو په دې پوهېده چې لکه د مخه ويل شوي د کابل او اسلام اباد استازي پر خپلو ملکونو کې تر فشار لاندې نيول شوي وو. په کابل کې «ډېرو ګوندي غړو» ټينګار کاووه چې

پاکستان باید اړکړل شي چې له لاسوهنې نه لاس واخلي او د پوځ د ایستل کېدلو موضوع دې په فیصله کې یاده نه شي. د کوردوویز په نظر واشنګټن او مسکو د فیصلې مخالف شوي و، خو لږ څه وروسته د امریکې د باندنیو چارو وزیر مرستیال ایګل برګر کوردوویز ته ډاډ ورکړ چې امریکا په افغانستان کې د شوروي اتحاد د وینې بهېدل نه غواړي، خو د دې لپاره چې د فیصلې یوه خوا وي شوروي اتحاد باید په رسمي ډول ژمنه وکړي چې خپل پوځ به له افغانستان څخه بېرون کوي. (۱۶)

کوردوویز واورېدل چې «... اندروپوف سخت ناروغ شوی او د حکومت کنترول یې له لاسه ورکړی.» دا چې د ژنیو خبرې نورې هم ستونزمنې شوې وې، په اصل کې له همدې امله وې. ایګل برګر هم کوردوویز ته ویلی و چې « .... د خبرو ورو ورو کېدل په شوروي اتحاد کې د مخ په زیاتېدونکی داخلي بې نظمۍ او مخالفت نتیجه ده. دا چې د افغانستان په اړه څه وشي دننه په پولټبوروکي د کړکېچنو بحثونو موضوع شوې او ګرومیکو په کې سخت دریځي غوره کړې ده.» په دغو بحثونو کې دا هم ویل شوي چې امریکا فیصلې ته د رسېدلو چانس له مینځ نه وړی دی . خو ایګل برګر یو ځل بیا کوردوویز ته وویل چې امریکا په افغانستان کې د شوروي د وینې بهېدلو پلوي نه کوي. (۱۷) په دغه کړکېچن حال کې له کوردوویز نه لاره ورکه وه او ویل یې چې « زه نه پوهېدلم بل څه وکړم .» یعقوب خان ورته مشوره ورکړه چې مسکو او واشنګټن ته سفر وکړي،او له لویانو سره یې په دې اړه وغږېږي. خو کوردوویز د یو څو نورو پېښو په کتنې سره، چې وضع یې نوره هم کړکېچنه کړې وه،په سفر نه لاړ او د ۱۹۸۳ د اګست په ۱۸ مه یې خپله پرېکړه څرګنده کړه او ویې ویل چې دده په نظر په خبرو کې«.... د پرمختګ چانس نه لیدل کېده.»په دغه اعلام سره څرګنده شوه چې د ژنیو«... خبرې له

ژورې ستونزې سره مخ شوې» سره له دې هم «پاکستانیان،افغانان او شورویان سخت قهرېدل.» خو دی په دې نظر و چې په دغسې حال کې دغو ملکونو ته ناکام سفر به د ژنیو خبرې په ټپه ودروي.دغې وضع د ۱۹۸۳ کال د ملگروملتونو په رپورټ کې هم انعکاس وکړ. په دغه رپورټ کې سرمنشي عمومي اسامبلي ته څرگنده کړه چې د دغه کال په بهیر کې د ژنیو په خبرو کې وړاندې تګ شوی خو ممکنه شوې نه ده چې هغه اختلافونه له مینځ نه یووړل شي چې په اساسي موضوع گانو کې موجود وو. په پای کې ده وویل چې « دا به د خواشینۍ ځای وي چې کوم هغه اساسي پرمختگ چې شوی ضایع کړل شي.» په همدغه حال کې په عمومي اسامبلې کې له افغانستان نه د باندني پوځ د ایستل کېدلو موضوع د ۱۱۶ موافقو، شلو مخالفو، او اولس سپینو رایو سره پاس شوه. خو کوردوویز ناهیلی و په دې چې موجود دریځونه د خبرو د دوام لپاره ښه علامه نه وه، سره له دې هم ایگل برگر په یوې خصوصي لیدنې کې ورنه وغوښتل چې خپل کوښښ جاري وساتي او دا« د ملگروملتونو مسؤلیت دی چې هر وره ټکولو ته دوام ورکړي.» (۱۸)

کوردوویز د دواړو خواوو اساسي غوښتنو، یا په بله ژبه د کشالې د هوارېدلو اساسي ټکو ته ښه ځیر و. هر څوک پوهېده چې ددغو ټکو په حل سره کشاله هوارېدلی، یا لږ تر لږه د هوارېدلو لپاره یې ډگر هوارېدلی شي. کوردوویز وایي چې « په وار وار راته ویل کېده چې د شوروي پوځ ایستل کېدل، د فیصلې اصلي کلي ده. کومه موضوع چې امریکې او لویدیځو هېوادونو ته مهمه وه، همدغه وه. نو زه باید دغسې لاره غوره کړم چې شورویان وهڅوم چې د پوځ د ایستلو لپاره د وخت چوکاټ وټاکي. د همدغه مقصد لپاره زه باید پاکستان وهڅوم چې هغسې چې سفرنچوک غوښتل د نه مداخلې په اړه معقوله ډاډینه ورکړي» خو کوردوویز ته زر مالومه

شوه چې په دې اړه د پاکستان د باندنيو چارو وزارت او د هغه د ډېر پياوړي آی‌اس‌آی تر مينځ ژور اختلاف موجود دی او امريکا د پخوا پر شان ټينګار کاووه چې له شوروي اتحاد نه (د پوځ ايستلو په اړه) د اعتبار وړ ژمنه غواړي کوردوويز د ۱۹۸۴ په جنوري کې د مراکش هيواد په کازا بلانکا کې له ضياءالحق سره وليدل چې هلته په اسلامي کنفرانس کې د ګډون لپاره تللي وو. دوی د يو ډول اخطار په توګه وويل چې « تر هغو چې له ټولو ښکېلو خواوو نه يې د سياسي ارادې ډاډېنه تر لاسه کړي نه وي د خپل منځګړتوب کوښښونو ته به دوام ورنکړي.» خو ضياء هم د سفرنچوک پر شان ورته کړه چې دا يوه ستونزمنه کشاله ده او هوارېدل يې کلونه غواړي.

په بله مياشت (فبروري ۱۹۸۴) کې چې اندروپوف مړ شو، او پر ځای يې يو بل عمر خوړلي او د بريژنيف پر شان امپراتوری پال او جنګ پال کان ستنټاين چرننکو (Constantine Chernenko) د شوروی اتحاد لوړ واکمن شو، د کوردوويز ماموريت نور هم ستونزمن شو.

د چرننکو په واکمن کېدلو سره کوردوويز لازمه وبلله چې سيمې او ژنيو ته سفرونه وکړي، خو ان په اول سفر کې ورته مالومه شوه، چې کابل او مسکو تر پخوا نه ډېر سخت دريځي شوي دي. دوست په کابل کې ورته وويل چې «...د مخامخ خبرو کولو وخت رارسېدلی دی.» هغه دا هم وويل چې که «... پاکستان د نه لاسوهنې په اړه دوه اړخيزه موافقه لاسليک کړي، کابل او مسکو به په هماغه وخت کې د [پوځ] ايستل کېدلو په هکله د بېلې، موافقې په اړه ورسره خبرې وکړې.» په اسلام اباد کې له ضياءالحق سره د کوردوويز ليدنه يو څه اوږده او توده وه، خو هغه د کابل له کتنو نه ډېره د هيلي وړ وه، چې «...هغې د پاکستان ولسمشر قانع کړ، چې هغه د دې لپاره

چې خبرو ته حرکت ورکړي، باید په یوه زړور کار لاس پورې کړي.»
کوردوویز دا هم وایي چې په پای کې «د هغه سلوک قانع کړم، چې پاکستان
یوې فیصلې ته اړ و او غوښتل یې [هم].» خو په کابل کې کوردوویز بیا له
دوست سره په خبرو کې دغې نتیجې ته ورسېد چې «د ډپلوماسۍ پروسه په
تېره د درېدلو په حال کې ده.» په اسلام اباد کې یعقوب خان «شورویان د بې
رحم، ظالم او په خپل سرچلند په کولو سره تورن کړل.» ضیاء هم لږ څه
دمخه د شوروي اتحاد په اړه په همدغسې روحیې سره غږېدلی و. شوروي
لویان یې سر زوري بللي وو، چې غواړي پاکستان اړ کړي یو ګوښه شوی او
له هر چا سره په جنګ اخته هېواد وي. په همدغې هوا کې و، چې په نیویارک
کې کوردوویر ته یو لیک ورکړل شو، چې پکې ویل شوي وو، چې «... مونږ د
[پوځ] ایستل کېدل، د فیصلې د یوه عنصر پر شان هیڅکله نه وو منلی او دا
چې د شوروي اتحاد او افغانستان ترمینځ د [پوځ] د ایستل کېدلو په اړه
خبرې به هغه وخت پیل شي چې په مخامخ خبرو کې اساسي پرمختګ شوی
وی.»

د ۱۹۸۴ په مینځ کې ګرانه وه چې د دیپلوماسۍ دغه ورو حرکت د هغو
شدیدو نظامي عملیاتو له په پام کې نیولو نه پرته درک شي، چې شوروي پوځ
په افغانستان کې کول او په تېر څېرکي کې یې بیان شوی دی. شورویانو دا
ځل حتې د وزیرستان یو کلی هم بمباري کړ. د شورویانو د سخت دریځۍ
یوه علامه دا هم وه، چې ضیاءالحق چې د اندروپوف د جنازې لپاره مسکو ته
تللی و، له چرننکو سره یې د لیدلو غوښتنه وکړه، خو هغه ورسره ونه لیدل،
ویل کېده چې چرننکو له افغانستانه د خپل پوځ له ایستلو سره علاقمن نه و.
«... ځکه چې شوروي لویان... په دې نظر نه وو، چې پوځ یې د افغانستان په
جبه کې نښتی دی.» دغه فکر وار په وار پیاوړی کېده، چې دوی دغسې

ستراتيجي غوره کوي، چې «... لنګر يې پر ډګر وي، نه د خبرو پر مېز.»

د شوروي لويانو شديدو نظامي عملياتو پر واشنګټن هم اثر وکړ، هلته جمهوريت غوښتونکي ګوند او کانګرس له ولسمشر ريګن نه وغوښتل، چې افغان مجاهدانو ته د مرستې پروګرام نور هم پياوړی کړي. ريګن بيا د ۱۹۸۵ په مارچ کې خپل ملي مصونيت ته صلاحيت ورکړ، چې په «ټولو موجودو وسيلو سره» کوښښ وکړي، چې شوروي ځواکونه له افغانستان څخه وايستل شي.(۱۹)

د واشنګټن پوست ورځپاڼې بيا په يوې اوږدې ليکنې کې څرګنده کړه، چې افغان مجاهدانو ته د سي‌آی‌اې پټه مرسته د اول ځل لپاره د ويټنام له جنګ نه وروسته په بېساري ډول زياته شوه.

د ژنيو د خبرو بې نتجيه توب په نړۍ والو رسنيو کې پراخې ا نګازې وکړې. د کراچۍ ډان ورځپاڼه کې وويل شول، چې دا ټول به د پاکستان مصونيت، سياسي ثبات، اقتصادي پرمختګ، ملي پيوستون او اجتماعي همغږۍ لپاره جدي پايلې ولري. اروپايي ټولنه لا په دې نظر وه چې د کوردوويز «...کوښښونه هسې بابيزه شوي. هغوی په ښېلو لارو ښوولې، چې بين المللي وضع دغومره کړکېچنه او د شوروي مشري دغومره ضعيفه ده، چې دا به يو خيال وي، چې د سياسي فيصلې په لور د حرکت هيله وشي.»

خو د همدغه کال (۱۹۸۴) په پای کې کوردوويز يوه ښه علامه ترلاسه کړه او هغه دا چې د ملګرو ملتونو په عمومي اسامبلې کې د ۱۱۹ هېوادونو استازو له شوروي اتحاد نه د معمول پر شان وغوښتل، چې خپل پوځ له افغانستان څخه بېرون کړي او د افغانانو د ملي واکمنۍ درناوی وکړي. دغه شمېر د پاکستان د استازو په هڅولو سره تر بل وخت نه ډېر شوی وو. مخالفې رايې شل او سپينې پاڼې ۱۴ وې. د چرننکو له سخت دريځې سره

سره د ژنیو د خبرو لار خلاصه وه او هغه د بېلو دلیلونو له مخې اول د بل کال له اپرېل او بیا مې ته وځنډول شوې.

د ۱۹۸۵ کال د مارچ په لسمه و ه، چې د ایډیالوجۍ ځپلي چرننکو د مړینې خبر خپور شو او په بله ورځ میخاییل ګورباچوف د هغه پر ځای د شوروي اتحاد ستر واکمن شو او د هغه په واکمن کېدلو سره پاڼه واوښته.

ګورباچوف له اول نه د ډینامزم او پر ځان ښه ډاډمن شخص څېره وښودله، خو په هغه وخت کې هیچا **د هغو سره** تحولونو فکر نه کاووه، چې د ده په واکمنۍ کې پېښ شول.

# د ژنیو خبرې د ګورباچوف په واکمنۍ کې

ضیاءالحق چې د نورو هېوادونو د مشرانو پر شان د چرننکو په جنازه کې د ګډون لپاره مسکو ته تللی و، هلته یې پنځوس دقیقې له ګورباچوف سره ولیدل، وروسته یې په اسلام اباد کې خبریالانو ته څرګنده کړه، چې «د شوروي د نوي مشر ډینامزم، انرجي او د فکر روڼ والي پر ما اثر وکړ.» د دوی لیدنه یو څه زیږه هم وه، خو مهمه دا ده چې د ضیاء په وینا «زه د هغه په وینا له سره باوري شوم، چې شوروي اتحاد د ملګرو ملتونو تر څارنې لاندې په نامخامخ خبرو سره د سیاسي حل ملاتړ ته ژمن دی.» ګورباچوف د شوروي اتحاد دغه یرغل تېروتنه ګڼله او وروسته یې له رېګن سره په یوې ناستې کې لا وویل چې ده دغه خبر د اول ځل لپاره له رادیو نه واورېد. د رېګن په نظر د هغه له دغې وینا نه مالومېده، چې هغه په جګړه کې نه مسؤلیت لاره او نه یې ورته په ښه نظر کتل.[۲۰] البته دا هغه وخت و، چې جګړه اوږده شوې او شورویانو یې د ګټلو امکان هم نه لیده او د هغو اعتبار او حیثیت ته یې لکه هسې چې اندروپوف هم ویلي وو، غټ تاوان اړولی و. سره له دې هم د ګورباچوف په واکمنۍ کې د ژنیو خبرې پیچلې او اوږدې شوې او درې کاله وروسته یې ومنله چې خپل پوځ به له افغانستان څخه بېرته وغواړي. د دغه کار دلیل دا و، چې د شوروي اتحاد امپراتوري چې په واقع کې نظامي امپراتوري وه، شوروي لویان اندېښمن وو، چې د نظامي ځواک په بې اعتبار کېدلو سره به په اسیا او ختیځې اروپا کې د هغه تر لاس لاندې هېوادونه له خپلو ملکونو د شوروي پوځونو ایستل کېدل هم وغواړي. له دې

پرته هم د دغسې ښېساري پرېکړې لپاره ډګر برابرول او چارواکي، په تېره نظامي افسران د پوځ ایستلو د پرېکړې پلي کولو لپاره هڅول څه اسان کار نه و. په تېر څېرکي کې د ګورباچوف د عمومي اصلاحاتو په ترڅ کې د هغه پوځي اصلاحات هم کتل شوي دي. دلته د افغانستان د کشالې په هکله د هغه د سیاست پربنسټ له مقابلو خواوو سره دهغه د چارواکو خبرې کتل کېږي.

کوردوویز سیمې ته د سفر په لړ کې د مې په ۲۵ مه اسلام اباد ته ورسېد او هلته یې اول له صاحبزاده یعقوب خان سره ولیدل. هغه ورته وویل چې د ژنیو په خبرو کې پرمختګ به د ختیځ او لویدیځ ترمینځ کړکېچ کم کړي، خو دی د شورویانو د طریقو په اړه اندېښنه لري. کوردوویز ته زر مالومه شوه، چې په پاکستان کې د ژنیو د خبرو په اړه کوم تغیر نه دی پېښ شوې او پاکستانیان له شورویانو نه د ښې علامې په انتظار وو. دا سره له دې چې ضیاء ویلي وو، چې په مسکو کې له ګورباچوف سره د ده خبرې یو څه کړکېچنې وې، خو «دوی د یوه اساسي څيز په اړه موافقه کړې ده. مونږ باید ستا [کوردوویز] د خبرو ملاتړ وکړو، ځکه چې فیصله یوازې په خبرو سره ممکنه ده.» کوردوویز بیا د ضیاء په غوښتنه د پاکستان له صدراعظم جونیجو سره هم ولیدل، چې د عمومي انتخاباتو په نتیجه کې صدراعظم شوی و. خو د کوردوویز کتنه په کابل کې د مې په ۲۸ مه له شاه محمد دوست سره زیږه وه. دی وایي چې له هغه سره «یو ډېر مشکل بحث شروع شو، چې په هغه کې هغه بیا کوښښ وکړ، د [پوځ] وتل له [مسودې] نه بېرون کړي او زما ټول هغه کوښښونه چې د عمومي فیصلې د کولو لپاره مې کړي وو، تر پوښتنې لاندې راولي. ما ورته اخطار ورکړ، چې نور به [په دغې موضوع] خبرې ونه کړم، مګر په هغه حال کې چې د ټولو سندونو په اړه

پوهاوی راغلی وی.» خو په کابل کې د شوروي اتحاد استازي کوزیریف (Kozerev) په یوې جلا لیدنې کې ورته ډاډ ورکړ، چې «...ګورباچوف تصمیم نیولی چې فیصله دې د ملګرو ملتونو په منځګړتوب وشي.» په عین حال کې کوزیریف وړاندیز هم وکړ چې فیصله دې د یو څو قانوني سندونو (Set of instruments) په شکل وې. د نه مداخلې دوه اړخیز توافق لیک، د کډوالو په اړه توافق لیک، یو سند یا سندونه د ضمانتونو په اړه د شوروي پوځ د وتلو په ګډون د «بین المللي اړیکو» په اړه توافق لیک، ګوزیریف دا هم وویل چې «ګوره! پاکستانیان تر هغو چې د فورمات حالت (Status) او د بین المللي اړیکو د سند په اړه پوره قانع شوي نه دي، مجبور نه دي، چې هیڅ څیز لاسلیک کړي.» د کوریزیف له خبرو نه داسې ښکارېده، چې ګورباچوف د ژنیو د خبرو په اړه ټینګ ولاړ دی. کوردوویر له شاه محمد دوست سره په مسوده کې د هغو «دقیق توبونو» په اړه پوره دوه ورځې بحث وکړ، چې ده پکې نیولی و. دی وایي چې «دوست ډېر خپه و؛ پر هغه مې زړه وسوزېد، ځکه چې زه پوهېدلم چې هغه تر ډېر فشار لاندې دی.» خو ده تعجب وکړ، چې هغه دا ځل د مخامخ خبرو یادونه ونه کړه. کوردوویز بیا په اسلام اباد کې یعقوب خان او نیازنیک ته وویل چې د «سندونو» په اړه وړاندیز د ګورباچوف په دستور شوی او دا چې اوس «...مونږ په خبرو کې له پوره ښې پړاو څخه پیل کړی دی.» په بله ژبه کوردوویز او پاکستانیانو ته د ژنیو د خبرو په هکله له مسکو نه هغه علامه ورسېده، چې دوی ورته سترګې په لار وو.[٢١]

په دغه هیله من حال کې د ژنیو د خبرو څلورم پړاو پیل شو (جون ٢٠، ١٩٨٥) چې نتیجه یې د کوردوویز په ژبه «د تفصیل په هکله د یو څو وړو ټکو نه پرته مونږ وکولی شول، چې اول، دوهم او درېیم لمبر سندونه بشپړ

کړو.» دی دا هم وایي چې زما هغه ستراتیجي بریالۍ شوه، چې د پوځ موضوع مې ترېنه بېله کړې وه. خو دی په داسې حال کې چې ګرومیکو د باندنیو چارو وزیر و، د دغې بنې هوا په دوام مشکوک و، ځکه چې هغه «... داسې شخص نه و، چې هغه څه چې ګورباچوف فکر کاووه، دی ورته حرکت ورکړي.» په همدغه وخت کې و، چې هغه لکه چې دمخه ویل شوي، د ولسمشرۍ مقام ته جګ کړل شو، چې هغه یو تشریفاتی مقام و او پر ځای یې شیواردنازي د باندنیو چارو وزیر شو، چې هغه ښه فعال او ګورباچوف ته ډېر نزدې و.

د یوه پخواني پوهاوي له مخې د شوروي اتحاد او امریکې چارواکي د افغانستان د کشالې په اړه له ۱۹۸۰ نه وروسته د لومړي ځل لپاره په واشنګټن کې سره جرګه شول او هلته د امریکې چارواکي یو ځل بیا څرګنده کړه، چې امریکا نه غواړي له شوروي اتحاد سره د افغانستان د کشالې په اړه وغږېږي او د دغې ناستې یوازنۍ موخه دا وه چې هره خوا د بلې خوا په دریځ پوهه وي. خو دواړو خواوو د ژنیو د خبرو ملاتړ وکړ، دا د کوردوویز لپاره یوه ښه نښه وه.

کوردوویز نیویارک ته په ستنېدلو سره له سفرنچوک سره د ۱۹۸۵ په جولايۍ کې څو ځله ولیدل. وروستی هلته نوی په ملګرو ملتونو کې د شوروي اتحاد د دايمي استازي مرستیال ټاکل شوی و. د کوردوویز په وینا «دی ښه باوري مالومېده، خو په خبرو کې یې په وار وار ویل چې د خبرو نزدې والي فورمات باید ترک شي او د مخامخ خبرو په لور حرکت وشي.» خو یعقوب خان په نیویارک کې دغه وړاندیز په غوڅه توګه رد کړ. دوست هم کوردوویز ته په یوه لیک کې وویل چې که خبرې مخامخ وي، کابل به تیار وي، چې د څلورم سند په اړه غور وکړي. یعقوب خان دغه وړاندیز هم ونه

مانه او ويې ويل چې «... د مخامخ خبرو موضوع به هغه وخت تر غور لاندې ونيوله شي چې د ټولو څلورو سندونو په اړه په کافي ا ندازه پرمختګ شوی وي.» په دغه وخت کې چې د درېيو سندونو په اړه د دواړو خواوو ترمينځ د مخه موافقه شوې ده. يوازې څلورم سند پاتې و، چې د شوروي پوځ د ايستل کېدلو په اړه و. د کابل او شوروي استازو غوښتل چې د پوځ ايستل کېدل د وخت په چوکاټ کې دننه هغه وخت ومني، چې پاکستان د کابل رجيم له استازو سره مخامخ خبرې وکړي. مقابل لور د (پاکستان، امريکا، اروپايي ټولنې او په خاص ډول افغان اسلامي تنظيمونو) دغه وړانديز نه منه، ځکه چې په هغه حال کې به کابل د شوروي پوځ په لاس درول شوی رجيم په رسميت پېژندل شوی او منل شوی وي. واقعيت دا و چې شوروي اتحاد ته د کارمل بندګي، په افغانستان غوندې هېواد کې د سوشلستي نظامی د درولو په لور هڅو او د ژنيو په خبرو کې د هغه د استازي منفي دريځ ټولې يادې خواوې ورسره مخالفې کړې وې. کوردوويز لا دمخه ګوريلوف ته ويلي وو، چې د پاکستان او افغانستان د استازو ترمينځ د مخامخ خبرو د واقعي کېدلو لپاره د کارمل ګوښه کول ضروري دي. ده د ۱۹۸۵ په اګست کې خپله غوښتنه بيا ياده کړه، په دغه دليل چې «...د پاکستان لپاره ناممکنه ده، له دغسې کس سره وغږېږي، چې د هر هغه منفي خاصيت تمثيل کوي، چې پاکستان خپل دريځ او سياستونه د افغانستان په هکله موجهه کړي دي.» او کله چې شورويانو ورته وويل چې «ضياء او کارمل دواړه دکتاتوران دي، ده په ځواب کې وويل چې په دې اړه يو اساسي توپير شته دی، کارمل يوه باندني پوځ د واک پر څوکۍ کښېنولی دی.» کارمل د شورويانو هم ښه نه ايسيده، له همدې امله و، چې کوردوويز د شوروي استازي ته وويل چې دوی بايد کارمل وهڅوي چې له خپل مقام نه ځان

ګوښه کړي. د دې لپاره چې د ژنيو خبرې په بري سره سرته ورسيږي. په دې ډول مخامخ خبرې د کارمل په شته توب سره ممکن نه ښکاره کېدلې.

په همدغه حال کې په ژنيو کې د ۱۹۸۵ د اګست په ۲۷مه د خبرو پنځم پړاو پيل شو، هسې چې يې توقع کېدله دوست کوردوويز ته وويل چې «... که يعقوب له مخامخ خبرو نه ډډه کوي، دی حاضر دی، دوه يا درې کاله انتظار وباسي تر څو پاکستان (نور هم معقول) شي.» يعقوب خان هم «... په هماغه اندازه ټينګ او په برابره اندازه تيار و، چې تر هغو انتظار وباسي چې افغانستان درک کړي، چې (د کرنلارې لوبې) بې ګټې دي.» کوردوويز دوه ورځې يوازې د خبرو د تنظيم په موضوع تېرې کړې، تر څو په پای کې «...دوست ومنله، چې د نـزدې والي فورمات لـه مخې خبرې وکړی» دا وروسته له هغه و، چې کوردوويز د خبرو په هکله يو نوی فارمول ايستلی و، په دې ډول چې د نزدې والي فورمات خبرې به تر هغو روانې وي، چې څلور واړه سندونه بشپړ کېدلو ته نزدې شوي وي، خو په دې هکله «دوست يو انچ هم تغيير ونه کړ» او «يعقوب خان وويل چې پاکستان غوښتل د اساسي موضوع ګانو په اړه د کابل امادګي وګوري. دوست وويل چې اساسي موضوع مخامخ خبرې دي.» کوردوويز لږ څه ناهيلی شوو، په دغه دليل چې «د دغه پړاو خبرو هيڅ نتيجه ورنکړه.» ده حتی د نورو خبرو ضرورت هم بې ګټې ګاڼه او په اړه يې دواړه وپوښتل چې «ايا لازمه به وي چې د کال په پای کې د ناندريو يو بل پړاو پيل شي.» خو د ده د توقع پر خلاف هغو هو وويل.[۲۲]

د دغو خبرو د بې نتيجې توب د ملامتۍ ګوته کوردوويز ته هم نيول کېدله خو ده ويل چې «هغوی چې زه يې په پلوي تورن کولم، درک نه کاوه، چې ما له افغانانو او شوروپانو نه څومره په ټينګه غوښتل چې خپل کار [پروګرام] وښيي، دا زما په ګټه وه چې د [پوځ] د وخت په چوکاټ خبرې يقيني شي،

په دغه ساده دليل چې تر هغو يا که خبرې د شوروي [پوځ] د ايستل کېدلو په اړه نه وي، دغه ډيپلوماسي پروسه به اعتبار ونه لري، چې د فيصلې په لور د حرکت کولو لپاره ضروري وي.» دا هغه وخت و، چې کوردوويز، لکه څنګه چې دمخه يې ويلي وو، چې پاکستان د کارمل په شته توب سره مخامخ خبرو ته نه حاضرېږي او شورويان بايد هغه ګوښه کولو ته وهڅوي خو د ده په نظر «شورويان هيڅکله دغومره تغيير نه منونکي نه مالومېدل.» د شوروي اتحاد د باندنيو چارو وزير مرستيال ميخاييل کاپتسا (M. Kapitsa) لا د اکتوبر په لسمه وويل چې «يوازې وروسته له هغه چې افغانستان او پاکستان پر دغې موضوع مخامخ وغږېږي، د افغان خوا او مونږ به غونډه وکړو، چې د [پوځ] د ايستل کېدلو په اړه پرېکړه وکړو.» د شورويانو د دغه چلند په اړه کوردوويز د ډول ډول تعبيرونو په ترڅ کې دا هم وايي چې دوی که څه هم وار په وار راته ويل چې غواړي پوځ وباسي، ممکن په اصل کې يې نه غوښتل خپل پوځ له افغانستان څخه وباسي او که «... زه هر وخت دغې نتيجې ته ورسېدلم، چې حالت په رښتيا همدغسې دی، زه به له خپلو هڅو نه لاس واخلم.»(۲۳)

د ملګرو ملتونو کالنی راپور هم د کوردوويز د نظر ښکارندوی و، په هغه کې ويل شوي، چې په دغه کال کې ډيپلوماتيکې خبرې پرمخ تللې او د درې سندونو په اړه موافقه شوې، خو يوازې څلورم سند موافقه غواړي او دا به د خواشينۍ ځای وي، چې د خبرو د کړنلارې دغه رکود چې دواړه خواوې يې نه غواړي د نه هوارېدونکو ستونزو لامل شي. خو کوردوويز ته په خاص ډول د دغه کال د عمومي اسامبلې پرېکړه هيله منه وه، چې د هغه په ژبه «له شپږو کلونو او اووه پرېکړو نه وروسته د دغې پرېکړې د ملاتړ اکثريت د ۱۹۸۰ کال په جنورۍ کې له ۱۰۴ څخه په ۱۹۸۵ کې ۱۲۲ ته جګ شوی،

چې پر افغانستان باندې له تېري کوونکي نه غوښتل شوي، چې خپل پوځ ترېنه وباسي. خو لکه چې د پاکستان ولسمشر ضیاءالحق دمخه په ډاګه کړې وه، د افغانستان د کشالې د هوارولو اصلي کلي د شوروي اتحاد له چارواکو سره وه، چې ګورباچوف يې په دغه وخت کې لوړ واکمن و، هغه که څه هم د افغانستان موضوع د خپل پروګرام په سر کې نیولې وه او په اړه يې د هیله منۍ نښې هم ښوولې وې، خو په نظامیانو او په خاص ډول په پوځي څارګري (GRU) کې ډېرو نظامیانو د پوځ ایستلو مخالفت کاووه. په دغه دلیل چې افغان اسلامي تنظیمونو د شوروی اتحاد پر جنوبي سیمو حملې کولې. په کابل کې اوازه وه، چې ګورباچوف خپلو پوځیانو ته يو کال مهلت ورکړی و، چې که دوی په دغې مودې کې وسله وال مخالفان ونه ځپل بيا به دی دغه کشاله د ديپلوماسۍ له لارې حل کړي. خو داا مالومه نه ده چې دغه مهلت له کومې نښې نه تر کومې نښې پورې و. خو په دې کې شک نشته چې شوروي پوځ په دغې مودې کې تر هر بل وخت نه ډېر شدید عملیات وکړل. په دغه وخت کې شوروي پوځ چې له هر مانع سره مخامخ کېده، ځپه ا و له مینځ نه وړه. دغه عملیات د چنګیزیانو د وخت عملیاتو ته ورته و، چې په اړه يې ويل کېده چې «راغلل، ويې وژل او لاړل.»

(د شوروي-افغان جنګ) د ا ثر ژباړونکي او مبصران لسترګراو او ملګري يې په دې هکله وايي چې «۱۹۸۵ کال د پرېکړې او د جنګ تر ټولو خونړی کال و. په اول سر کې پرېکړه وشوه، چې برى دې په پوځ سره ترلاسه شي، چا پرېکړه وکړه، لا هم مالومه نه ده. عمومي منشي ګورباچوف نوی په کار پیل کړی و، ممکن د هغه دفاع وزارت او د لوی درستيز [افسرانو] پرېکړه کړې وي، چې جنګ دې په پوځي ځواک سره وګټل شي. په داسې حال کې چې سیاسي مشري په کریملن کې د قدرت ټینګښت ته توجه اړولې وه. بله دا

چې شاید ګورباچوف امر کړی وي، چې د مجاهدانو په ځپلو سره جنګ وګټل شي. په داسې حال کې چې په پټه یې د پوځیانو له خبرتیا نه پرته د [پوځ] ایستلو ترتیب نیوه.» دوی دا هم وایي چې مجاهدان د ۱۹۸۵ په عملیاتو کې سره دېر ژوبل شول، خو مات نه شول. ګورباچوف د ۱۹۸۵ به اکتوبر کې پولټبورو وهڅوله چې جنګ افغاني کړي او ووځي. دغه پرېکړه د ۱۹۸۶ په سر کې اعلام شوه.(۲۳) خو که شورویانو جنګ شدید کړ، امریکا او پاکستان د مجاهدانو د مقابلې وړتیا نوره هم پیاوړې کړه. په دې مانا چې هغو ته یې د ستینګر راکټونه ورکړل او په استعمال کې یې وروزل. ستینګر له اوږې نه په فیر کولو سره یو سپک، پیچلې الوتکې ضد توغندي دي، چې تر لس زره متره جګ هوایي الوتکه ویشتلی شي. امریکا دغه راکټ نوی را ایستلی او له امریکا نه دباندې یې د اول ځل لپاره مجاهدانو ته ورکړی و. د ۱۹۸۶ د سپتمبر په ۲۵ مه د مازیګر درې بجې وې، چې انجینر عبدالغفار د حکمتیار اسلامي حزب غړی د جلال اباد به هوایي ډګر کې یو هلیکوپټر د ښکته کېدلو په و خت کې په بري سره وویشت. دغه ویشتل د جنګ اړونکی ټکی شو. له هغه وروسته دغو راکټونو د شورویانو هوایي حملې تر یوه حده بې اغیزې کړې. د پاکستان د آیاس‌آی په اټکل د ۱۹۸۷ کال په اوړي کې هره ورځ په متوسط ډول د الوتکو ډول ډول یو عشاریه پنځه راغورزولې شوې دي او د همدغه کال تر پایه پورې نظامي وضع تر دې حده خرابه شوې وه، چې د نجیب ا لله په قول د اطراف اتیا سلنه او د ښارونو څلوېښت سلنه د رجیم له کنټرول نه وتلې وه.(۲۴) د روسیې د لوی درستیز افسران هم وایي چې ستینګر فضایي دفاع په دغو سپکو راکټونو سره له توب لرونکو هلیکوپټرونو څخه کار اخیستنه ډېره محدوده کړه. پرته له دې هم شوروي قومندانۍ ته څرګنده وه، چې دوی به و نه شي کولی مجاهدان په څلوېښتم

لمبر محدود پوځ سره په لنډه موده کې وځپي. د دوی په نظر «افغان پوځ د پرسنل له دېرېدلو سره سره په د ولت کې د سیاسي ثبات د نه شته توب له امله نږدې پوره ناتوان و.»[۲۵] په یاد دې وي، چې دغه توپ لرونکي هلیکوپټرونه شورویانو ته ډېره اغیزناکه وسله وه او دوی له هغه نه ډېر کار اخیسته.

لکه چې د مخه ویل شوي، ګورباچوف د پوځ ایستلو په مسئله کې مخالفان په نظر کې نیول او د بې ا ثر کولو لپاره یې یو ډول عامه هڅه پیل کړه. ده پخوا له دې چې په دې اړه د پولټبورو پرېکړې خبر خپور کړي، د دیپلوماسۍ له لارې یې د افغانستان د کشالې هوارولو لپاره خپل نظر له ریګن سره په هغې کتنې کې څرګند کړ، چې له هغه سره یې د ۱۹۸۵ کال د نومبر په نونسمه او شلمه د لومړي ځل لپاره په جنیوا کې ولیدل. د سپینې ماڼۍ ویاند «د ا فغان جنګ په اړه د ګورباچوف له سړې لهجې... او د هغه له څرګندې هیلې نه چې په کرارۍ سره د وتلو لار لټوي، په ټینګه وغږېد.» د نیویارک ټایمز ورځپاڼې په حواله د سرانو دغه لیدنه د سیمه ییزو موضوع ګانو په اړه تېره وه. «خو ښاغلی ریګن تربنه قانع ووت، چې ښاغلي ګورباچوف د افغانستان د کشالې لپاره د دیپلوماتیکې حل په لټه کې دی.» ریګن «... تینګار کړی و، چې په افغانستان کې د شوروي دوام لرونکی دخالت د امریکې او شوروي اتحاد ترمینځ بې اعتمادي له غټو دلیلونو څخه دي.» په راپور کې دا هم ویل شوي وو، چې ګورباچوف د ملګرو ملتونو د فیصلې ملاتړ کوي، هغه د مخامخ خبرو موضوع هم یاده نه کړه او پر هغه سربېره هغه معمول تورونه یې هم یاد نه کړل، چې شورویانو د افغان کشالې په اړه د پاکستان، چین او امریکا پر غاړه اچوله.[۲۶]

اتم څپرکی

# د ژنیو خبرې او د یرغلګر پوځ پر شاتګ
# ۲

## د ژنیو خبرې د ګورباچوف په واکمنۍ کې

سره له دې هم د همدغه کال ۱۹۸۵ په ډسمبر کې په ژنیو کې «کوزیریف د دوست پر شان غیر متحول و.» کوردوویز وایي چې «زه حیران کېدلم ځکه چې دغه ډول چلند د ګورباچوف له وینا وو او د سرانو له څرګندونو سره پوره متناقص و.» کوردوویز بیا د پوهاوي یادښت په نامه په څلورو مادو کې د پخواني متن پر بنسټ بل متن جوړ کړ، خو دوست ته دغه متن هم د منلو وړ» نه و... د کوردوویز په نظر په دیپلوماتیکو خبرو کې د شاه محمد دوست ګډون د دې لپاره و، چې رجیم یې په رسمي ډول وپېژندل شي. کوردوویز بیا ورته په ډاګه کړه چې «که وضع رښتیا همدغه وي، ستا د پېژندنې چانسونه به هغه وخت ښه وي، چې د مخامخ خبرو په اړه لېږ او د اصل مطلب په هکله ډېر وغږېږي.»

کوردوویز چې نیویارک ته ستون شو، د شوروي اتحاد د حکومت په

بلنه د فبرورۍ په میاشت کې مسکو ته لاړ، هلته یې د باندنیو چارو وزیر مرستیال کورني ینکو او وزیر شیواردنازي ورسره ولیدل. دواړو د هغه د پوهاوي له یادښت سره موافقه وښووله، په داسې حال کې چې دوست هغه رد کړې وه. لا مهمه دا وه چې شیواردنازي هغه ته وویل چې اوس «لازمه ده، د دغه متن د څلورم سند په اړه خبرې وشي.» د دې مانا دا کېدله، چې د شوروي د پوځ وتلو موضوع به د فیصلې یوه برخه وي. هغه دا هم ورته وویل چې د ژنیو خبرې، چې ده د ولاړې په حال کې ګڼلې وې، هغسې نه دي، بلکې هغه یوه کشاله ده، چې دی ورته حرکت ورکولی او هوارولی شي او شوروي اتحاد حاضر دی، د فیصلې د عملي کېدلو ضمانت وکړي. د ضمانت موضوع دمخه یاده شوې، خو هغه اوس یقیني شوه. امریکا دغه ضمانت د مخه منلی و، شیواردنازي کوردوویز ته دا هم وویل چې افغان حکومت د خپل ټولنیز بنسټ د پراخولو لپاره کوښښونه پیل کړي دي. کوردوویز د کارمل په اړه، چې د کشالې د هوارېدلو په لار کې یې یو خنډ ګاڼه په یوې خصوصي کتنې کې دې نتیجې ته ورسېد، چې پخوا له دې چې په ژنیو کې د اووم پړاو خبرې پیل شي «کارمل به هلته نه وي.» کوردوویز نیویارک ته راضي ستون شو او خپل دغه سفر یې د خپل ماموریت لپاره یوه ښه نښه وګڼله. لا مهمه د ګورباچوف وینا وه، چې د همدغې میاشتې (فبرورۍ) په ۲۵ مه یې په کریملن کې د خپل ګوند په ۲۷ م کانګرس کې د پنځه زره ګوندي غړو په وړاندې وکړه او د افغانستان جنګ یې لکه چې په یوه تېر ځپرکي کې ویل شوي، د «ناسور زخم» په نامه یاد کړ او د هغه پړه یې په امپیریلزم او انقلاب ضد واچوله. ده دا هم وویل چې پوځ به «په

دې ډېرې نږدې راتلونکې» کې لـه افغانسـتان څخـه بېرتـه وغـواړي او د افغانانو [پرچمي لويانو] په موافقې سره دغسې ترتيب نيول شوی، چې «همدا چې په دې اړه سياسي پرېکړه وشوه. پوځ بـه پـه وار وار وايسـتل شي.» کوردوويز په خپل ماموريت کې د لومړي ځل لپاره ډاډه شو، لکـه چې وايي «له ما نه غوښتل شوي وو، چې دواړو پلازمېنو [اسلام اباد او کابل] ته په لسو ورځو کې له يوې بلې نه څو ځلې حل موندنې لپاره لاړ شم. خو اوس د لومړي ځل لپاره په رښتيا باوري شوم، چې مونږ د يوې فيصلې پـه لـور درومـو.» (۱) لـه دې وروسـته د پـوځ د ايسـتل کېـدلو د مودې ټاکل د خبرو اساسي موضوع ده، چې د هغې لپاره کـوردوويز پـه بلې مياشت (مارچ) کې په سفر لاړ.

کوردوويز په اسلام اباد کې له ضياءالحق سره په ليدنه کې د مخامخ خبرو موضوع ياده کړه او «هغه په ټينګه تاييد کړه، چې پاکستان به هغه وخت دغه خبرې وکړي، چې ټول سندونه بشپړ شوي وي.» خو په کابل کې دوست چې د خپلو لويانو لـه خـوا تـر فشـار لانـدې نيـول شـوی و، کوردوويز ته دغسې يوه ليکنه ورکړه، چې د هغـې لـه مخـې «... دپـوځ وتل به څلور کاله ونيسي، هغه هم يوازې په هغه حال کې چې وخت پـه وخت يقيني شوه چې د نه مداخلې په اړه د ايران او پاکستان ژمنې پوره او په کامل ډول ترسره شوې وي.» دغه موده سـربېره پـر دې چې اوږده وه، د شرط منل کېدل او عملي کېدل يې ګران څـه چې ناشـوني وو، لـه همدې امله به و، چې شورويانو له هغه نه فاصله ونيوله او کوزيريـف لا له کوردوويز نـه وغوښـتل چې هغـه يـوازې لـه ځـان سـره وسـاتي. خـو پاکستان په دې خوښ و، چې په پای کې د پوځ د ايستل کېدلو موضـوع

تر بحث لاندې نیوله کېږي.

کوردوویز په نیویارک کې د خپل مرستیال ریموند سومیرینز سره په ګډه څلورم سند بیا په انتقادي نظر وکوت او نور یې هم ترمیم کړ، بې له دې چې د دوست لیکنه یې په نظر کې نیولې وي. دوی په هغې کې د پوځ د ایستل کېدلو د مودې ځای سپین پرېښود او چې کله یې خپل دغه اصلاح شوی متن سفرنچوک ته وښود، هغه وویل چې «عجبه ده چې هغه زموږ متن ته ورته او لا ترېنه ښه دی.» کوردوویز ورته کړه چې ستا متن به هغه وی، کوم چې دوست ماته راکړی او هغه ورته د هیلې وړ یو بل څه وویل او هغه دا چې «تر هغو چې د وخت رښتینی چوکاټ ترلاسه کوي، خپلو خبرو ته دوام ورکړه او دغه کار به ډېر وخت ونه نیسي.»

کوردوویز بیا له مایکل ارمه کاسټ سره چې نوی د امریکې د باندنیو چارو وزیر مرستیال ټاکل شوی و، د اپرېل په څلورمه په خصوصي توګه ولیدل. هغه د دغو اکتشافاتو په اړه رضایت ښکاره کړ او د سفرنچوک پر شان یې ورته وویل چې خپلو خبرو ته دوام ورکړه، په خپله ارمه کاسټ څو ورځې وروسته د باندنیو چارو په شورا کې د ګورباچوف د وینا په هکله د خپل حکومت رسمي نظر په دې ډول ښکاره کړ.

«موږ مسکو ته څرګنده کړې ده چې که [د پوځ] د ایستل کېدلو په اړه سیاسي پرېکړه کوي، موږ به د خبرو له پرمختګ سره مرسته وکړو... زموږ مقصد دا نه دی، چې د روسانو وینې وبهېږي، بلکې دا دی چې دوی خپل پوځ له افغانستان څخه وباسي. شورویان چې تر

هغو پر پوځي لار روان وي، مونږ به په ټولو مناسبو وسیلو سره د افغان د داعیې ملاتړ وکړو: او افغانستان به د امریکې، شوروي اړیکو د عمومي ښه والي ته یو خنډ وي.»

په ژنیو کې د ۱۹۸۶ په مې کې د اووم پړاو خبرو په بهیر کې و، چې کارمل هسې چې په تېر څپرکي کې بیان شوی، له خپل مقام نه ځان ګوښه کړ او پر ځای یې د خاد سروال نجیب الله په واک شو. کوردوویز ته دا په خاص ډول یو ښه خبر و. کارمل د یوه نه تحول منونکي کمونست په توګه د افغانستان کشالې هوارولو، په تېره د ژنیو خبرو په وړاندې خنډ و. د هغه پر خلاف نجیب الله چې دغه وخت ۳۹ کلن تحول منونکی ډینامیک کمونست و، د افراسیاب خټک په ژبه، چې هغه یې له نږدې نه پېژنده، «...د هغو تحولونو اهمیت زر درک کړ، چې په مسکو کې د ګورباچوف په واکمنۍ کې پېښېدل او په هغو کې یې د ځان لپاره دغه چانس ولید، چې د شوروي د نوي سیاست له مخې په عمل کولو سره له کارمل نه واک ترلاسه کړي.»

د همدغو انکشافونو له امله و، چې د ژنیو د خبرو کړنلار د پخوا پر خلاف له ستونزو نه خالي وي. داسې هم دا ځل د حساسو موضوعګانو په اړه پوهاوی محسوس و، که څه هم خبرې به کله کله زیږې وې. لا مهمه دا ده چې دا ځل خبرې د څلورم سند په محور څرخېدلې. د متن په اړه هم یو څو واړه ټکي وړاندې شول، خو هغه زر حل شول. خو د پوځ د ایستل کېدلو په اړه چې د خبرو اساسي موضوع وه، موافقه ونه شوه. دوست د پوځ د ایستل کېدلو موده شپږ میاشتې کمه کړه، یانې درې نیم کلونو ته ورسوله، خو یعقوب خان وویل چې پوځ دې په درې

يا څلور مياشتو کې ووځي، خو دوست هغه سمله لاسه په زيږو الفاظو رد کړ، خبرې بيا د دواړو خواوو په سلا د همدغه کال د اګست مياشتې ته وځنډول شوې.

خو کوردوويز وايي چې تر اګست پورې ده ته له هر لوري نه ډول ډول نښې ورسېدلې، ډېره مهمه دا وه چې د شوروي حکومت په خپل مينځ کې کړکېچ او له پوځ او کابل سره ستونزې لرلې. پر دې سربېره په مسکو کې په لوړ پوړو کې ويل کېده چې څنګه چې امريکا فکر کوي، چې شوروي اتحاد له افغانستان څخه وتل غواړي، دوی غوښتل «... امريکا ته وښيي چې مونږ به په هره بيه له افغانستان څخه ونه وځو.» د نيويارک ټايمز ورځپاڼې د اعتبار وړ جورنلستې فلورا لوويس هم کوردوويز ته وويل چې هغه په مسکو کې دغې نتيجې ته رسېدلې ده، چې «... ګورباچوف لا خپل دريځ ټينګ کړی نه دی او له پوځ سره کشالې لري.» د مارګريت ته چر په حواله هم کوردوويز ته مالومه شوې وه، چې ګورباچوف له هغو ستونزو نه ورسره غږېدلی و، چې ورسره مخ و. سره له دې هم ګورباچوف د جولايی په ۳۱مه په والادي وستوک کې د يوې مهمې وينا په ترڅ کې څرګنده کړه، چې د شوروي د پوځ شپږ کنډکونه به له افغانسان څخه وايستل شي. هغه دغه هيله هم ښکاره کړه، چې په دغه يو اړخيز عمل سره په افغانستان کې په لاسوهنو کې هم کمی راوستل شي. بل مهم ټکی دا وو، چې د افغان «سياسي ځواکونو په ګډون له جوړ حکومت څخه ملاتړي وښووله. له «سياسي ځواکونو» نه د ګورباچوف مطلب په پاکستان کې اسلامي تنظيمونه، پخوانی پاچا محمد ظاهر او د هغه پلويان وو. په دغه ډول ګورباچوف

هم په افغانسان کې لږ.و ډېر د دغسې حکومت تجویز وړاندې کړ، لکه د پېښـور او پښـین د ممثلـو لویـو جرګـو مشـرانو چـې وړانـدې کـړی و. ګورباچوف به په دې اړه د کابل رجیم له نوي سروال نجیب الله سره د مخه غږ.بېدلی وي،چې هغه لا دمخه د همدغه کال (۱۹۸۶) د جـولایـې په ۱۹مه د پاکستان له مسلم ورځپاڼې سره پـه مرکـه کـې ویلـي وو، چـې «مونږ په ښکاره سیاسي زړه تیار یو له هغو سـره خبـرې وکـړو، چـې پـه مخالفه خوا کې واقع دی.» دغه وینا له دوه اړخونو څخه مهمـه وه: یـوه دا چې د کابل رجیم تر دې وخته وسله وال مخالفان په دېرو زیږ.و کلمـو یادول او ده هغـوی د رجـیم مخالفـان وبلـل. بلـه دا چـې نجیـب اللـه د رجیم له ټولو مخالفانو سره د خبرو تیاری وښود، نه یوازې له هغو سره چې د رجیم په وړاندې یې وسـله نـه وي پورتـه کـړې، لکـه کارمـل چـې همدغسې پر خپلو لسو تیسسونو کې ښوولي وو.

کوردوویز پخوا له دې چې سیمې ته سفر وکړي، لـه یـوه بـل پـه زړه پورې انکشاف څخه هم واورېدل او هغه دا چې د اکتـوبر پـه یولسـمه د ایس لینډ په ریک جاویک ښار کې دګورباچوف او ریګن ګډه ناسته وه. دغه غونډه په اصل کې د وسلو د کنټرول په اړه وه، خو مشـاوران یـې د افغاستان د کشالې په اړه هم سره وغږ.یـدل. یـو څـه وروسـته د شـوروي اتحاد د باندنیو چـارو وزیـر مرسـتیال ولادمیـر پتروسـکي کـوردوویز تـه وویل چې ګورباچوف د باندنیو چارو وزارت چـارواکو پـه وړانـدې یـوه اوږ.ده او مهمه وینا واوروله او دی د هغې پر بنسټ ده ته ویلی شي، چې «د افغانستان د کشالې حل... دګورباچوف په اجنډا کې لوړ ځای لري.» شیواردنازي هم په نومبر کې چې نیویارک ته پـه عمـومي اسـامبله کـې د

ګډون لپاره تللی و، د کویلار په هستوګنځي کې د میو جام د پورته کولو په وخت کې غبږ کړ، چې «... زما کوښښونه به زر پای ته ورسیږي.»[۲] خو د پوځ د ایستل کېدلو د وخت چوکاټ لا هم ټاکل شوی نه و. د هغه له امله دواړه خواوې اندېښمنې وې، د رجیم چارواکي اندېښمن و، چې د پوځ د وتلو لنډه موده به د دې لامل شي، چې په ختمېدلو سره به مجاهدان عملیات له سره پیل کړي او دا ځل په ډېر قوت سره او پاکستان اندېښنه کوله چې اوږده موده به شورویانو ته د دې چانس ورکړي، چې مجاهدان په شدیدو عملیاتو سره وځپي.[۳] دغو اندېښنو ښووله چې د یوې بلې په وړاندې د دواړو خواوو اعتماد د صفر په درجه کې و، له هغه وروسته و چې نجیب الله کوښښ کاووه، په وطن کې او له وطن نه د باندې له اسلامي تنظیمونو او سیاسي ډلو او نومیالیو سره د خپل ملي پخلاینې پروګرام له مخې چې بیان یې دمخه شوی دی، د خبرو ور پرانیزي. هغه په مشخص ډول پخواني پاچا محمدظاهر شاه ته چې په روم کې اوسېده، بلنلیکونه استول او هم یې په وطن کې پخواني ملي اتلان ستایل او کوښښ یې کاووه، خپل رجیم ته ملي بڼه ورکړي.

له دې وروسته دوه موضوع ګانې کتلی کېږي، چې یوه یې د شوروي پوځ د ایستل کېدلو د مودې چوکاټ ټاکل او بله یې د نوي حکومت په اړه موافقه ترلاسه کول وو. وروستۍ د راتلونکي څېړکي اساسي موضوع ده. دلته به یوازې د پوځ د ایستل کېدلو موده وکتله شي، چې هغه د افغان کشالې د هوارولو اصلي کلي ده.

کوردوویز د همدغې موضوع لپاره د ۱۹۸۶ کال په نومبر کې سیمې

ته په سفر کې اول اروپا ته لاړ، په لندن کې د اروپايي ټولنې استازي سر جفري هاو ورته وويل چې «... د لويديځې اروپا ديپلوماتانو احساس کاووه، چې شوروي اتحاد بې له شک نه غواړي، چې يو ډراماتيک بدلون راولي خو په دې اړه يې شک ښکاره کړ، چې که هغه تيار وي، د هغه بيه يا تاوان ومني.» له «تاوان» نه د هغه مطلب د کابل رجيم قرباني وه، خو په اسلام اباد کې د امريکې سفير ډين هنټن ورته څرګنده کړه، چې «...امريکا به د پوځ وتلو موده له درې مياشتو نه اوږده په نظر کې ونه نيسي او سخت زيار به وباسي، چې پاکستان په کرښه کې دننه وساتي.» دا په دغسې حال کې و، چې پاکستان د مخه د شپږ مياشتو موده منلې وه او ضياءالحق په دغه وخت کې وويل چې پاکستان به هره هغه موده ومني، چې د «مياشتو دننه وي» خو يعقوب خان وروسته په خپلې هستوګنځي کې ورته کړه چې دی دې دغه «مياشتې دننه» يوولس مياشتې نه بلکې «شپږ» وګڼي. کوردوويز چې په کابل کې و، له نجيب الله او دوست سره يې لا خبرې نه وې کړې، چې ګورباچوف هند ته د رسمي سفر نه دمخه جورنلستانو ته وويل چې د کوردوويز په مشرۍ د ملګرو ملتونو هيئت د افغانستان د شاوخوا سياسي وضع په اړه ښه پرمختګ کړی او هغه به هغه وخت په بري سره سرته ورسيږي، چې پاکستان سياسي فيصله وغواړي، خو څنګه چې مونږ وينو هر کله چې د فيصلې په اړه ښې علامې وليدلې شي، هغوی د هغې د شنډولو لپاره کارونه کوي. «خو زه سره له دې هم په دې فکر يم چې هغه ورځ ليرې نه ده، چې دافغانستان شاوخوا د وضع په اړه سياسي فيصله وشي. دغه فيصله به به عين حال کې له افغانستان څخه زمونږ د پوځ د وتلو په مانا

وي.» نجیب الله وروسته له دې چې کوردوویز ته یې د ملي پخلاینې په اړه مالومات ورکړل، ورته وویل چې «... کابل په هره بیه د سولې په لټه کې نه دی او هغه د (سپېڅلې ګټې) موضوع ګاڼې دي.»

د ژنیو خبرې دا ځل د نوي کال (۱۹۸۷)فبروری ۲۵ مې نه پیل شوې. دا د ژنیو خبرو نهم پړاو و، چې د ۱۹۸۲ کال په جون کې پیل شوې وې. دا ځل د شاه محمد دوست پر ځای عبدالوکیل د کابل رجیم استازیتوب کاووه، چې نوی د باندنیو چارو وزیر شوی و او دوست په نیویارک کې په ملګرو ملتونو کې د افغانستان د هیئت مشر ټاکل شوی و. وکیل له کوردوویز سره د سولې په موضوع کې د ایران ګډون ضروري باله، خو د کوردوویز په نظر هغه په دغه تاکتیک سره غوښتل خبرې وځنډوي. د شوروي دیبلومات کوزیریف چې د هغه له دریځ نه وغږېد، هم تربنه سرټکاووه او یعقوب خان چې د مسکو له سفر نه وروسته ژنیو ته ځان رسولی و، د وکیل د دریځ په اړه وویل چې هغه چې واړه ټکي وړاندې کوي په دې سره د اصلي فیصلې مخه نیول غواړي، خو وکیل په بلې ناستې کې هم د دغو ټکو له یادولو نه تېر شو او هم یې وویل چې نه غواړي، د ملي پخلاینې په اړه خبرې وکړي. خو د شوروي پوځ د وتلو موده یې دوه ویشت میاشتې وښووله او په ټینګه یې وویل چې «... دا د ده د حکومت اخري ګذشت دی، چې تیار دی ویې کړي.» په دغه مهال کې په پاکستان کې په دوه پېښو سره هم د خوښې او هم د اندېښنې څپې خورې شوې. یو دا چې د پاکستان د اټومي پروګرام مشر عبدالقدیر خان له قول نه وویل شول، چې پاکستان د اټومي وسلې خاوند شوی او بله دا چې افغان جنګي الوتکو د دغه

پړاو د خبرو له پیل نه لـه ډیورنـډ کرښـې نـه اخـوا کلـي بمبـاري کـول او اندېښمن یعقوب خان رسنیو ته څرګنده کړه، چې «... کابل پـه قصـدي ډول کوښښ کوي، د [ژنیو] خبرې اترې له خطر سره مخ کـړي.» عجبـه دا ده چې په همدغه وخت کې کوزیریف د وکیل د وړانـدیز ملاتـړ وکـړ او هغه یې نه بدلېدونکی وګاڼه. د یعقوب خان لپاره د اندېښنې وړ ټکی لا دا و، چې ورانتسوف چې د کـومې بلـې موضـوع لپـآره ژنیـو تـه ځـان رسولی و، ونه غوښتل چې له یعقوب خان سره ووینې، که څه هـم هغـه یې د لیدلو غوښتنه کـړې وه. د یعقـوب خـان اندېښـنه پـه خپګـان بدلـه شوه، چې یې واورېده چې شیواردنازي د تایلینډ په بنکاک کې حکومتي چارواکو ته ویلي وو، چې شوروي پوځ به په دوه ویشت میاشتو کې لـه افغانستان څخه وایستل شي.

ورانتسوف وروسته له کوردوویز سره ولیدل او ورتـه یـې وویـل چـې یعقوب خان ته په مسکو کـې ویـل شـوي وو، چـې د ژنیـو فیصـله بـه د دواړو هېوادونو د ښه والي لامل وګرځي او په اړه بـه یـې لـه فیصـلې نـه وروسته خبرې وشي، خو پاکستان بیا هم نه غوښتل د ملي پخلاینې لـه پرمختګ سره مرسته وکړي. کـوردوویز وایـي چـې «مـا بیـا وویـل چـې یوازې د پوځ د ایستل کېدلو لنډه موده به پاکسـتان او امریکـا وهڅـوي، چې نور هم مرستندوی شـي.» او کـه «...ممکنـه وي د ګورباچوف کـار وکړل شي.» یانې په هغسې زړورتیا سره حرکت وشي، چې ګورباچوف د بې وسلې کولو په اړه کړی و. د ورانتسـوف ځـواب دا و، چـې کـه دی (کوردوویز) پاکستان قانع کړي، چې د خپل وړانـدیز مـوده اوږده کـړي او په خپله دی به زیار وباسي چې افغانستان یو بل ګذشـت هـم وکـړي.

خو يعقوب خان قانع نه و او هغه په دې اند و، چې شوروي اتحاد فيصلې کولو ته تيار نه دی او د کابل رجيم لويان هسې لوبې کوي او دی غواړي خبرې پرېږدي او پاکستان ته ستون شي. خو کوردوويز ورته وويل چې که دی په دغه حال کې ميدان ترک کړي، د فيصلې د ناکامۍ ګوته به ده ته ونيوله شي. يعقوب خان تم شو، خو پر مقابل لوري يې باور نه لاره. کوردوويز بيا له وکيل سره وليدل او د يوه بل ګذشت پر اهميت يې ټينګار وکړ او ورته يې کړه، چې يو دوه مياشتې کمښت به نورو ته د قناعت وړ نه وي. خو هغه د کوم غټ تغيير علامه ونه ښووله «او زه په نهايي درجه اندېښمن شوم.»

وکيل په بله ورځ له د وه ويشت مياشتو نه اتلس مياشتو ته ښکته شو او ويې ويل چې دا دغسې وړانديز دی چې «يا واخيستل شي يا پرېښوول شي» او بله پکې نشته. خو يعقوب خان ته دغه وړانديز هم د منلو وړ نه و او په خپله اووه مياشتو ته پورته راغی، چې وکيل او کوزيريف يې په غوسه کړل. کوردوويز بيا له وکيل سره په بلې ليدنې کې له هغه نه غوښتل چې دغسې حرکت وکړي، چې له فيصلې سره مرسته وکړي، خو د هغه سلوک داسې و، چې دمخه ښې لپاره وي او دا په دغسې حال کې چې «د پاکستان د هيئت غړو لا دخه د رسنيو غړو ته ويلی وو چې خبرې د سقوط په حال کې دي. د دوی ټولو پرخلاف، کوردوويز ته له دغو تعبيرونو څخه د هيلې احساس پيدا شوی و. او «... ما داسې احساس کاوه، چې دغو خبرو په پای کې هغه اعتبار او درناوی پيدا کړی، چې ورته يې ډېره اړتيا لرله.»[۴]

په نيويارک کې لا د اتلس مياشتو چوکاټ په ټاکل کېدلو سره دغسې

فکر پیدا شوی و، چې فیصله شونکې او حتی راتلونکې ده. د امریکې نامتو دیپلومات هنري کیسنګر له کوردوویز سره د مارچ په ۲۴مه په یوې لیدنې کې خپل نظر په دې ډول ښکاره کړ، چې افغانستان اوس شورویانو ته دوهمه مسئله ده او دوی ته اوس د ولسمشر ریګن د ستراتجیکې دفاع نوښت یا د ستورو جنګ ډېره غټه ستونزه ده. ده دا هم وویل چې امریکې ته ښایي د شوروي اتحاد نیت وازمیي چې د پوځ د ایستلو موده لنډه کړي او د ملي پخلاینې موضوع دې په خپله «افغان داخلي تکامل» ته پرېږدي. په دغه وخت کې چې د امریکې او شوروي اتحاد اړیکو کې د ښه والي «یوه نوې دوره» پیل شوې وه، د امریکې د باندنیو چارو وزیر جارج شولتز شوروي اتحاد ته د سفر په وخت کې له مسکو رادیو نه شورویانو ته په خطاب کې وویل چې افغانان «غواړي ووځئ» [یانې له وطن نه یې خپل پوځ بیرون کړئ] او دوی هلته ستاسې پوځي ځواکونه نه غواړي او دا یو بربادوونکی جنګ دی.... دوی له تاسو سره سوله غواړي، خو دوی نه غواړي، هېواد یې ونیسئ.» مرکه کوونکي هم له شولتز ته وویل چې د پوځ د ایستل کېدلو ښه لار دا هم ده، چې «یاغیانو» ته د وسلو ورکول ودرول شي او دا د ټولو شورویانو ټینګه غوښتنه ده، خو کوردوویز وایي چې ژباړونکي د شولتز ټولې خبرې ونه ژباړلې، خو د شوروي لویان به د هغه په ټولو خبرو پوهېدلي او هغه به یې د امریکې د حکومت نظر په توګه مهمې ګڼلې وي. له بلې خوا دغه نظر د همدغه کال (۱۹۸۷)د ملګرو ملتونو په عمومي اسامبلۍ کې په ښه قوت تایید شو. دا ځل دغې اسامبلې د ۱۲۳ رایو د ۱۹ رایو په وړاندې فیصله وکړه، چې باندني پوځونه دې له

افغانستان څخه بې له قید او شرط نه ووځي. دغه اکثریت تر هر بل وخت نه زیات و.

شوروي اتحاد په خاص ډول د ګورباچوف له واکمن کېدلو نه وروسته په وار وار ویل چې غواړي خپل پوځ له افغانستان نه وباسي، خو چارواکي یې له دغو نویو انکشافاتو ته راضي نه وو. کوزیریف چې تازه نیویارک ته راغلی و، کوردوویز ته څرګنده کړه، چې د ځینو شورویانو په نظر «...امریکا او پاکستان هوډ کړی، چې سیاسي فیصلې ته د رسېدلو لپاره د شوروي اتحاد هڅې شنډې کړي، ځکه چې دوی لا هم غواړي شورویان په افغانستان کې بند پاتې وي.» له بلې خوا په کابل کې د ملی پخلاینې سیاست د ګوندیانو ترمینځ اختلاف ډېر کړی او د پراخ بنسټ حکومت جوړول یې ګران کړی و. کوردوویز په دې اړه کوزیریف ته وویل چې «که مونږ انتظار وباسو، چې دغه خلک سره تنظیم شي، مونږ به فیصلې ته ونه رسېږو. له افغانانو سره زما له ټولو مشورو [تجربو] څخه مالومېږي چې دوی به یوازې هغه وخت یو څه وکړي، چې کله تاسې خپل پوځ له افغانستان څخه بېرون کړئ.» کوردوویز سره له دې هم فیصله وکړه، چې د دې لپاره چې د ژنیو خبرې پای ته ورسېږي، پاکستان او کابل ته لاړ شي. ورانتسوف هم کوردوویز ته وویل چې د ژنیو خبرې دا ځل «باید اخري وي» خو هغه دې له فبرورۍ څخه وروسته نه وي. له فبرورۍ نه دمخه وي، چې یعقوب خان له خپل مقام نه ګوښه شوی و، چې دا د کوردوویز په نظر د ژنیو خبرو ته صدمه او په خپله ده ته یوه ضایعه وه. دی له هغه سره ښه بلد شوی او هغه په دغو خبرو کې د صلاحیت خاوند و او د فیصلې لپاره

یې ډېر کوښښ کاووه.[۵] ده به له دې امله هم د فیصلې د کېدلو لپاره د زړه کوښښ کاووه، چې دی په خټه محمدزی پښتون و.

# د ژنیو د خبرو بریالی پای

د ۱۹۸۷ کال د ډسمبر په نهمه ګورباچوف او ریګن په رسمي توګه په واشنګټن کې سره ولیدل. ګورباچوف له لیدنې نه وروسته د بې وسلې د موضوع په اړه خوښي وښووله، خو د سیمه ییزو نښتو په ا ړه له پرمختګ نه ونه غږېد او د افغانستان د کشالې په اړه یې دغومره وویل، چې «مونږ په دغسې پایلې پسې نه یو، چې په کابل کې دې یو شوروی پلوه حکومت وی.» په افغانستان کې یې د پوځ په اړه دغومره وویل چې «مونږ سیاسي پرېکړه کړې ده، چې خپل پوځ په «دوولس میاشتو کې» وباسو. په ټولیز ډول دغې غونډې د افغانستان د کشالې په هوارولو کې ښه اثر وکړ او کوردوویز یې په دغه فکر کړ، چې له افغانستان نه د پوځ د ایستل کېدلو موضوع به د دواړو هېوادونو په اړیکو کې یو نوی فصل پرانیزي. ګورباچوف د ببرته تګ په وخت کې دا هم وویل چې «زه فکر کوم مونږ پر یوه او بل ډېر اعتماد کوو.» د امریکې د باندنیو چارو وزارت مرستیال ارمه اسټ لا د بې وسلې کولو د موضوع په اړه موافقه د افغانستان د اشغال په ختم پورې تړلې وګڼله. شیواردنازي هم په خپل کتاب کې چې نوم یې دی«راتلونکې په ازادۍ پورې اړه لري» دغې غونډې ته په اشاره لیکلي چې ده لا «هغه وخت دغسې فکر کاووه، چې د شوروي د [پوځ] ایستل کېدل به د شوروي باندنی سیاست د اعتماد وړ وګرځوي.» ده د افغان کشاله دغومره مهمه ګڼله چې ویل یې «ممکن

دا د افغانـانو حماسـه وه، چـې مـونږ يـې وهڅولـو لـه لويـديځ سـره د ملګرتوب او همکـارۍ فکـر وکـړو.» پـه دې ډول لـه افغانسـتان څخـه د شوروي د پوځ ايستل کېـدل، د بـين المللي کـړکېچ د لرېـدلو کلي ګڼل کېدله. اسلام اباد او واشنګټن خو تل همدغسې ګڼله.

په دغه وخت کې و، چې په پاکستان کې د جونيجو په مشرۍ يو نوی حکومت جوړ شو او د باندنيو چارو نوي وزير نـوراني او نـورو لوړپـوړو چارواکو تر پخوا ډېر په افغانستان کې د فيصلې لپاره کوښښ کاووه. خو په کابل کې د ملي پخلاينې سياست او د شـوروي پـوځ د ايسـتل کېـدلو موضوع ګانو دننه په رجيم او ګوند کې نوي کړکېچونـه پيـدا کـړي وو او هغه مخ په ډېرېدو وو. دغه وخـت پـه پېښـور کـې د انتقـالي حکومـت د موضوع په اړه اسلامي تنظيمونـو او د پخـواني پاچـا محمـد ظـاهر شـاه پلويانو په فعاليت لاس پورې کړ، ان تر دې چې کلـه کلـه يـې سـره اخ و ډب هم کاووه. د دوی ترمينځ اختلافات نه هوارېدونکي وو.

په اسلام اباد کې د شوروي استازي وزيروف (Vezirov) کوردوويز ته وويل چې له مسکو نه يې غوښتي چې کابل وهڅوي د پوځ د ايسـتل کېدلو د موضوع په اړه نرمي وکړي. سره له دې هم په کابل کې له وکيل سره د کوردوويز خبرې د هيلې وړ نه وې او هغه نجيب الله ته بيا وويل چې که د پوځ د ايستل کېدلو موده له يوه کال نه په لنډه موده کې نه وي، د ژنيو خبرې په پيل نه شي. کوردوويز چې بيـا د فبـرورۍ پـه اوومـه پـه کابل کې دغه څه نجيب الله ته بيا په ټينګار ياده کړه، خو هغـه د رجيم له چارواکو سره جنجالونه لرل، له هغه نه يې يوه ورځ مهلـت وغوښـته او کوردوويز په بېړه اسلام ابـاد تـه لاړ، د دې لپـاره چـې هلتـه جونيجـو

ولسمشر ضیاء قانع کړي، چې د ژنیو خبرې باید ونه ځنډولې شي. په بله ورځ چې کوردوویز کابل ته بېرته لاړ، هلته نجیب الله هغه ته هغه څه وویل چې دی یې سخت په انتظار کې و.

کوردوویز وایي چې «افغان پلازمینې ته په رسېدلو سره زه هستوګنځي ته نه بلکې سیده له نجیب الله سره لیدلو ته ورسول شوم... هغه لومړی د ا فغانانو د سجیې او د سولې په اړه د دوی له هغو مبارزو نه وغږېد، چې یې کړې دي. ولسمشر بیا په درناوي سره دغسې سند راکړ، چې ویل یې دا د هغې څرګندونې متن دی، چې نیت یې کړی نن شپه یې واوروي. ولسمشر ګورباچوف به په مسکو کې همدغسې وینا واوروي. ما هغه د هغه په مخ کې په بیړه ولوست.» په دغه متن کې ویل شوي وو، چې «د شوروي اتحاد سوشلستي جمهوریتونه او د افغانستان ولسمشري چې غواړي د ژنیو خبرې په بیړه او بري سره سرته ورسېږي، موافقه کړې، چې د شوروي پوځ د وتلو پیل د ۱۹۸۸ کال د مې په ۱۵مه او ختم یې په لسو [نهو] میاشتو کې وي. دغه نېټه پر دغې ګڼنې بنا شوې، چې د دغې فیصلې په اړه موافقه به د ۱۹۸۸ کال د مارچ تر ۱۵ مې لاسلیک شي. نه تر هغه وروسته.»

ټولې رسمي ښکېلې خواوې له دغې موافقې سره جوړې وې او هیله کېدله چې هغه زر لاسلیک شي، خو د ژنیو دغه وروستۍ خبرې د همدغه کال دمارچ په دوهمه پیل شوې او د اپرېل تر ۱۴ مې پورې وغزېدلې، هغه موضوع ګانې چې هغه یې اوږدې کړې، دا وې: په کابل کې د نوي حکومت جوړېدل، د وسلو د تناظر اصل، د پولې موضوع او د کابل رجیم رسمي پېژندل. هرې خوا غوښتل د هغې د علاقې وړ

موضوع په سند یا سندونو کې یاده شي، د دې لپاره چې هغه بین المللي حیثیت پیدا کړي. کوردوویز په خپل اثر کې هغه په دېرش مخونو کې شرح کړې او دلته به یې لنډیز په دغه ډول راوړل شي. نږدې د هرې موضوع په اړه بحث به هوا کړکېچنه کوله. د کوردوویز په وینا د خبرو دوهمه اونۍ ډېره ترخه تېره شوه. شوروي اتحاد لا اخطار ورکړ، چې که دغه فیصله د مارچ تر ۱۵ مې لاسلیک نه شوه، پوځ به یې د مې په ۱۵مه په وتلو پیل ونه کړي، خو استازي یې دا هم وویل چې خپل پوځ به په هر حال کې وباسي. وکیل لا یو ځل وویل چې «که پاکستانیان فکر کوي، چې د افغانستان په وړاندې د جنګ تنظیمولو ته دوام ورکولی شي، مونږ باید ورته ووایو چې د جنګ لمبې پولې نه پېژني. که تاسې د خپل ګاونډي کور ته اور اچوئ، لمبې به یې ستاسې کور ته هم وغزېږي.» د وکیل دغې جذباتي وینا کوردوویز په ژور ډول اندېښمن کړ. له بلې خوا د پاکستان استازو غوښتل د ډېورنډ کرښه په فیصله لیک کې د بین المللي پولې په ډول یاده شي، خو په پای کې په خپله ضیاءالحق د هغې له ذکر نه تېر شو او کوردوویز ته یې وویل چې هیڅ څوک نه غواړي، دغه خبرې ناکامې شي. د همدغو خبرو په بهیر کې و، چې شیواردنازي او جارج شولتز د مارچ په ۱۴مه په واشنګټن کې سره ولیدل او ټولو علاقمنو فکر کاووه، چې دغه لیدنه به د ژنیو پر خبرو ښه اثر وکړي، تر هغه لا مهمه په تاشکند کې د اپرېل په ۶مه د ګورباچوف، نجیب الله او د شیواردنازي ګډه غونډه وه، چې په هغې کې په بله ورځ پرېکړه وشوه، چې «...د فیصلې د لاسلیک کولو لپاره وروستی خنډ له منځه ولاړل شوی» او دوی «د هغو د سملاسي لاسلیک کولو پلوي

وکړه.» شورویان تر دې حده د فیصلې علاقمن وو، چې ویل یې چې که واشنګټن د مارچ تر یوویشتمې پورې فیصله ونه منله، دوی به موافقه له اسلام اباد او کابل سره لاسلیک کړي. امریکا د وسلو د تناظر موضوع تر نورو ټولو موضوع ګانو نه مهمه ګڼله. تناظر په دې مانا چې امریکا او شوروي اتحاد به خپلو دوستو خواوو ته د وسلو ورکول یا نه ورکول د عین اصل له مخې کوي. که یو یې ورکوي، بل به یې هم ورکوي او که نه دواړه به یې نه ورکوي. عبدالستار د پاکستان د هیئت یوه مهم غړي درک کړې وه، چې «...که مونږ شوروي اتحاد او امریکا وهڅوو چې د تناظر په هکله سره موافقې ته ورسېږي، نه به نورې فرعي مسئلې او نه هغه موضوع ګانې چې د افغان نوي حکومت پورې به تړاو ولري، غټه ستونزه پیدا کړي.» د امریکې د باندنیو چارو وزارت مرستیال رابرت پیک لا دمخه ویلي وو، چې د واشنګټن لپاره د تناظر اصل مرکزي موضوع ده، نه په کابل کې د نوي حکومت د تاسیس. ده وروسته په ژنیو کې کوردوویز ته دا هم وویل چې د تناظر موضوع په اړه د شوروي اتحاد نوي دلیلونه امریکې ته د منلو نه دي او دا چې د وسلو د مرستې په اړه له قانوني مهلت منلو نه پرته به هیڅ څیز د منلو وړ نه وي. په پای کې د تناظر اصل ومنل شو. جارج شولتز د دغې موافقې له لاسلیک کولو نه وروسته په رسمي ډول وویل چې «... هغه مکلفیتونه چې ضمانت کوونکو دولتونو پر غاړه اخیستي، هغه متناظر دی.» ده دا هم وویل چې امریکا شوروي اتحاد ته د مصلحت په توګه وایي چې د ضمانت کوونکو په توګه دغه حق ځانله خوندي ساتي، چې په افغانستان کې دوستو خواوو ته نظامي وسله تهیه کړي او که شوروي

اتحاد په افغانستان کې خپلو دوستو خواوو ته له وسلو ورکولو نه ډډه وکړي، امریکا به هم په همدغه ډول ډډه وکړي.

له اول نه د امریکې اساسي موخه دا وه، چې شوروي اتحاد له افغانستان څخه بېرون کړي، یانې دهغه پوځ له افغانستان نه وتلو ته وهڅوي. شوروي اتحاد د امریکې دغه سیاست درک کړی و، شوروي اتحاد د تناظر د اصل په اړه په مسکو کې د اپرېل په نهمه یو لیک واستوه، په واشنګټن کې د دغه لیک په وړاندې د امریکې حکومت لومړی غبرګون دا شو، چې ولسمشر رېګن د هغه په ځواب کې د اپرېل په ۱۱مه په رسمي ډول څرګنده کړه، چې «فکر کوم امریکا اوس له شوروي اتحاد سره د ژنیو د سندونو ضمانت کوونکي په توګه شریک کېدلی شي.» هغه دا هم وویل چې شولتز به ژنیو ته لاړ شي، چې د ژنیو د موافقو د لاسلیک کولو په مراسمو کې برخه واخلي.

د ژنیو توافق لیکونه (accords) د پنجشنبې په ورځ د ۱۹۸۸ کال د اپرېل په ۱۴مه د ژنیو د ملتونو په ماڼۍ کې د پاکستان د باندنیو چارو وزیر زین نوراني او د کابل رجیم د باندنیو چارو وزیر عبدالوکیل له خوا او د ضمانت کوونکو هېوادونو په استازیتوب د امریکې د باندنیو چارو وزیر جارج شولتز او د شوروي اتحاد د باندنیو چارو وزیر شیواردنازي له خوا لاسلیک شول. د دغې ځانګړې او مهمې ناستې مشري د ملګرو ملتونو د سرمنشي پریزدي کویلار پر غاړه وه. البته کوردوویز هم هلته حاضر و، د پخواني ترتیب له مخې نوراني له یوه وره نه او وکیل له بل ورنه نه سالون ته ننوتل. د دې لپاره چې دوی یو بل سره ګډ نه وي، خو دوی په پټه سره وکتل. اول کویلار یوه لنډه وینا واوروله، شولتز هم د

تناظر پر اصل لنډ وغږېد. شیواردنازي دغومره وویل چې «د شوروي خوا ډاډه ده چې د ژنیو د توافقونو په اړه د ښکېلو خواوو حقونه او مکلفیتونه د ضمانت کوونکو د امریکې او شوروي اتحاد په ګډون په څرګند ډول هغسې ذکر شوي، چې د ژنیو توافقونو کې دي.» ټول مراسم په شلو دقیقو کې پای ته ورسېدل.[۶]

د کوردوویز په نظر «دغه ساړه تشریفات د جنازې سروېس ته ورته وو.» ما لیکونکي هم په هماغه وخت کې په بېښور کې همدغسې نظر څرګند کړی و. «فضا چوپه او سړه وه، له تلویزیوني تصویرونو نه داسې ښکارېده چې غونډه د وېرې وي، نه د کومې موافقې او خوښۍ. ټول ګډون کوونکي ځار او اندېښمن ښکارېدل؛ خوښي خو یې څه کوي، حتی یو هم د تظاهر او عکاسانو لپاره موسکی نه شو. تا به ویل چې دلته هغه څه کېږي، چې باید هیڅ ونه شي. په مسکو کې د یوه لویدیځ دیپلومات په قول عبدالوکیل په دغسې سړې فضا کې رېږدېده او خولې پرې ماتې وې.»[۷]

د توافق لیکونو څلور واړو متنونه په انګرېزۍ کې د کوردوویز او هري سن په اثر او پښتو متنونه یې زما په اثر کې راوړل شوي دي. شورویانو د همدغو توافق لیکونو له مخې خپل پوځ په نهو میاشتو کې د ۱۹۸۹ کال د فبرورۍ په ۱۵مه له افغانستان څخه وایست او د دغه پوځ قوماندان جنرال ګروموف وروستی شوروی و، چې له افغانستان څخه ووت. د وتلو په وخت کې دوی ته غټه ستونزه پېښه نه شوه، خو یو ځای بل ځای له دوی سره تر پایه پورې نښتې وشوې. د دوی او مجاهدانو ترمنځ اوربند نه و شوی، یوازې قوماندان احمدشاه مسعود له

دوی سره اوربند کړی و، په دې ډول چې د هغه په وینا «مونږ تر اوسه په لسو کلونو کې له تاسو سره جنګ او ستاسې شته توب وزغمه، که د خدای تعالی رضا وه، مونږ به یو څو ورځې نور هم ستاسې تحمل وکړو، خو که تاسې زمونږ پر ضد عملیات وکړل، مونږ به مناسب ځواب درکړو.»(۸)

# د ژنيو توافقونو په اړه تبصرې

پر افغانستان باندې د شوروي اتحاد وسله وال تېری، د هغه په وړاندې د افغان ملت په ملاتړ د وطن، خپلواکۍ او اسلام مدافعانو یا مجاهدانو پیاوړی او پرله پسې ټینګه دفاع او په نتیجه کې د یوه زبرځواک یرغلګر پوځ ایستل کېدل په افغانستان، سیمه او نړۍ کې ژور اثرونه وکړل. دلته به د دغو توافق لیکونو په اړه د افغانانو تبصرې راوړل شي. او ښېګنې او نیمګړتیاوې به یې په لنډ ډول په ګوته شي.

اساسي او غټ بری یې دا و، چې شوروي اتحاد خپل پوځ په ټاکلی وخت کې یانې د ۱۹۸۹ کال د فبرورۍ په ۱۵مه په نهو میاشتو کې په دوه جوپو وایست. د شوروي د پوځ دغه ډول پر شا کېدل، د هغه په تاریخ کې یوه بېساري پېښه وه، خو د جنګ غرامات یې ورنه کړل. یا یې په ورکولو مجبور نه شو، که څه هم د هغه دغه نظامي یرغل د بین المللي قانونو پر خلاف و او افغانانو دوی پارولي هم نه وو، سره له دې هم افغانان خوښ شول، چې د هغه دغه پوځ له افغانستان څخه وایستل شو او شورویان خوښ وو، چې خپل پوځ یې د ملګرو ملتونو په منځګړتوب او د امریکې، پاکستان او نورو حکومتونو په موافقه له افغانستان څخه په عزت وایست، که څه هم دغه پېښه د دوی په تاریخ کې نوې وه او دوی یې فکر نه کاووه، خو شورویان چې په افغانستان

کې وو، هغه مقصد يې تر لاسه کولی ونه شو، د کوم لپاره چې دوی خپل پوځ استولی و. په دې ډول دا د دوی بېسارې ناکامي او د افغان مجاهدانو بېساري بری و، چې د يوه زبرځواک په وړاندې يې ترلاسه کړ، په دغې ناکامۍ سره دوی هغه غرور له لاسه ورکړ، چې ويل يې د دوی پوځ نه ماتېدونکی دی. افغان مجاهدانو د دوی دغه افسانه له اعتبار نه وغورزوله، چې هغه وروسته د دوی د امپراتورۍ د له مينځ نه تللو غټ عامل شو، چې زر به شرح شي. مولف هاروي هم په خپل اثر کې په نامه د (نړۍ وال کمونزم هسکېدنه او نسکورېدنه) کې وايي چې شورويان په افغانستان کې ناکام شول او دی دغه ناکامي «... له دوهم نړۍ وال جنګ نه وروسته د دغه هېواد ستر مغلوبيت ګڼي.»(۹)
شورويان حتی په دې کې هم ناکام شول، چې په افغانستان کې د خپل شته توب په وخت کې د خلق او پرچم ګوندګي سره پخلا او يو موټی کړي. د دوی پوځ په څه باندې نهه کلونو کې چې په افغانستان کې کوم رغنده کار هم نه دی کړی. پوځ يې بس ورانول، وژل، لوټول او تښول هغه څه کول چې خپل ترلاس لاندې پرچمي رجيم په دغه هېواد کې حاکم کړي. دوی په ورانولو کې تر دې حد دمخه ولاړل، چې د ديارلسمې پېړۍ د چنګيزيانو وحشت يې خلکو ته په ياد کړ. په واقع کې په افغانستان کې د دوی وراني له هغه وراني نه زيات او پراخ و، چې چنګزيانو کړی و. د رسنيو د راپور له مخې دوی اټکل يو نيم مليون افغانان ووژل، تر پنځه مليون نه زيات يې له وطن نه په بهرون ايستلو مجبور کړل او په زرګونو ماينونه يې په مځکه کې خښ کړل. يوازې دا هم نه و، لاس لاندې رجيم يې د شوروي مشاورانو په هدايت په

زرګونو مخالف افغانان بندي کړل. په کال ۱۹۸۲ کې چې زه د صدارت له بندي خانې نه د ځرخي پله کامپ ته يووړل شوم، هلته د نورو بنديانو په مرسته راته مالومه شوه، چې يوازې د دغه کامپ په اووه بلاکونو کې ديرش زره افغانان بندي دي. عجبه ده چې د بغلان د مطبوعاتو مدير محمد جان وړ اتکل هم په لږ توپير سره هم همدغومره و. هغه هم هلته بندي و.

په دغه نابرابر جنګ کې د شوروي سرتېرو تلفات په يقين سره مالوم نه دي. د شوروي حکومت په وينا د دوی د سرتېرو تلفات ديارلس نيم زره وو. خو واقعي شمېر يې تر دې نه ډېر و. په دې اړه حتی د فيدرالي روسي افسرانو د شوروي-افغان جنګ په نامه اثر کې داسې ويلي چې «ارقام ښيي چې د شوروي ځواکونو د ۱۹۸۰ او ۱۹۸۵ کلونو ترمينځ ډېر درانده تلفات لرلي دي، چې وسطي شمېر يې په يوه کال کې ا ته زره او دوه سوه او څلويښت تنه وو. دغه شمېر په وروستيو کلونو کې دوه يا درې ځله لږ شو، خو د لومړيو کلونو تلفات ډېر مهم وو. د ۱۹۸۴ ډېر خونړي کال کې له څلويښتم لمبر پوځ نه هره ورځ ۲۶ سرتېري وژل کېدل يا ټپي کېدل. د ۱۹۷۹ کال د ډسمبر ۲۶ او د ډسمبر تر ۳۱ ترمينځ شورويانو هره ورځ په متوسط ډول ۶۹سرتېري له لاسه ورکول.» (۱۰) د شوروي سرتېرو د ناروغانو شمېر له ټپي شويو سرتېرو نه ډېر و. مولف اوډوم د جنرال لياخوفسکي د رسمي شمېرنې پر بنسټ د شوروي سرتېرو د تلفاتو (په جنګ کې او غير له هغه)، ټپيانو (په جنګ کې او غير له هغه) او معيوبانو شمېر ۶۵۸۶۸ او د ناروغانو شمېر له څلور سوو نه ډېر ښودلی.[۱۱] د شوروي اتحاد مالي

زیانونه پنځلس ملیارډ روبل اټکل شوی، خو څنګه چې په دغه هېواد کې شتمني تر ډېره حده دولتي وه، د مالي زیانونو تشخیص او اټکل یې کېدلی نه شي. خو دا ویل کېدلی شي، چې څنګه چې د شوروي اتحاد اقتصاد د برېژنیف په وخت کې د رکود په حال کې و، وده به یې تر دغه وخت پورې نوره هم پخه شوې وي. له همدې امله و، چې ګورباچوف ویلي وو، چې مونږ په دغه ډول ژوند ته دوام ورکولی نه شو. خو په دې کې شک نشته چې د څلوېښتم لمبر سرتېرو مورال او معنویات په افغانستان کې دغومره ضعیف شوي وو، چې د شوروي اتحاد پر امپراتورۍ یې بد اثر وکړ.

په اصل کې شوروي لویانو پر افغانستان باندې یرغل سره د خپل پوځ اعتبار او حیثیت ته سخته صدمه ورسوله. ګورباچوف د دغه واقعیت او داسې هم د خپلو سرتېرو د مورال په ضعیف کېدلو او په ټولیز ډول د اقتصادي ودې په پخېدلو او د هېواد د بېرته پاتې کېدلو له امله د لاس لاندې هېوادونو د خپلواکۍ غورځنګ په وړاندې له نظامي ځواک نه د خروشچیف او برېژنیف پر خلاف کار وانه خیست، هغه لا د همدغه کال (۱۹۸۹) په مارچ کې د نجیب الله غوښتنه نه وه منلې، چې په جلال اباد کې مجاهدان بمباري کړي. دا هغه وخت و، چې مجاهدانو د جلال اباد پر ښار حمله کړې او حتی کابل ته یې خطر پېښ کړی و. د چرنیایوف په وینا «هغه [نجیب الله] له مونږ نه غوښتل چې... د شوروي اتحاد له سیمې نه هوايي بریدونه وکړي او که نه هر څه به په څو ورځو کې سقوط وکړي.» شیواردنازي او کریچکوف چې په دغه وخت کې د ک. ج. ب سروال و، د نجیب الله ملاتړ وکړ.

شینواردنازي څو اونۍ دمخه نجیب الله ته وعده ورکړې وه، چې «... شورویان به یې پوره ترک نه کړي.» هغه بیا ګورباچوف ته وویل چې «مونږ باید ومنو، چې مونږ دغه هېواد په ډېر بد حال کې پرېږدو.... ښارونه او کلي یې وران شوي دي، مرکز یې له لوږې نه مري.» ده له ګورباچوف نه وغوښتل چې له نجیب سره له خپل قول نه وانه وړو، «دا یوازنۍ لار ده که نه هغه به خیانت وي، مونږ ورسره وعده کړې او که یې ترسره نه کړو، خپل دوستان به ترک کړو... دربیمه نړۍ به څه ووایي؟» ګورباچوف هم خپلې پښې ټینګې کړې او خپل ملګري شواردنازي ته یې لا په غوسه وویل چې «نه، په غوڅه توګه نه. زه په غوڅه توګه د ټولو بمباري کولو او د دغسې نورو څیزونو کولو مخالف یم.» هغه دا هم وویل چې «تر هغوی چې زه عمومي منشي یم، پرې به نه ږدم هغه وعده ماته کړم، چې د ټول جهان په وړاندې مو وکړه، چې خپل ټول پوځ به له افغانستان څخه بېرون کوو.» د هغه اخري خبره دا وه چې «ایا مونږ په دې نپوهېدلو چې هغه وخت چې مو فیصله وکړه، چې خپل پوځ بېرون کوو، د هېڅ بم اچولو له انکار نه پرته به یې ځواب نه وي.»(۱۲)

له هغه وروسته و، چې شوروي ا تحاد اول په ختیځې اروپا کې د خپلواکۍ له غورځنګ سره مخ شو، دغه حال په ختیځې اروپا کې د شوروي تر لاس لاندې هېوادونو باندې اغیزه وکړه. دغه خلک د افغان جهاد په پیل سره د شوروي پر ضد بدورګي شوي وو او اوس یې د پوځ په ناکامۍ او پر شاتک سره زړور شول. د ۱۹۸۹ کال په نومبر کې چې د ختیځ جرمني د کمونستي ګوند سروال شابوسکي خلکو ته له څو

محدودو ځایونو څخه د وتلو اجازه ورکړه، خو په بله ورځ دغومره ډېرو جرمنانو لویدیځ برلین ته مخه وکړه، چې حکومتي محافظانو یې مخه نیولی ونه شوه او په نتیجه کې د برلین دېوال چې ۲۸ کاله مخې په ۱۹۶۱ کې درول شوی او د برلین ښار یې پر دوه برخو ویشلی و، جرمنانو ته نور خنډ کېدلی نه شو او دواړه جرمن بېرته سره یو موټی شول. دا دغومره غټه پېښه وه، چې په اروپا او نړۍ کې د ساړه جنګ د ختم پیل شوه. ورپسې د چک کمونستي رجیم سقوط وکړ او د خپلواکۍ غورځنګ مشران یې لاهاول او الیکزاندر دوبچک چې په کال ۱۹۶۸ کې شورویانو د هغه حکومت نسکور کړی و، میدان ته ووتل او د چک خپلواکي یې اعلام کړه.(۱۳)

د شوروي اتحاد د ټوټه کېدلو موضوع چې نړۍ وال او تاریخي اهمیت لري، له دغه بحث نه د باندې ده. دلته به یې په لنډ ډول یادونه وشي. د برلین دېوال له نړېدلو او د چک د خپلواکۍ له اعلام نه وروسته د پوره خپلواکۍ ورښ د شوروي امپراتوري پر ټولو جمهوریتونو باندې د اسیایي جمهوریتونو په ګډون، په قوت ولګېد او هغو یو په بل پسې خپلواکي اعلام کړه. میخاییل ګورباچوف هغسې چې یې ژمنه کړې وه، د هغو په وړاندې له نظامي ځواک نه کار وانه خیست او امپراتوري یې چې د شوروي نظامي ځواک له ملاتړ نه محروم شوه، د ۱۹۹۱ کال د ډسمبر په ۲۵مه یانې پر افغانستان باندې له یرغل نه ۱۲ کاله وروسته له څه باندې اویا کاله کړکېچن ژوند نه وروسته پر پنځلس برخو وویشل شوه او له مینځ نه لاړه. روسیه یوازې یو هېواد شو، خو له اوکراین او سوشلستي نظام نه پرته. ورسره ک. ج. ب او د

وارسا تړون هم له مینځ نه لاړ او نړۍ دوه قطبي شوه او سوشلستي او کمونستي نظامونه له اعتبار نه ولوېدل او ترک شول، خروشجف دغه وینا چې سوشلزم به یوه ورځ کاپټیلزم په ګورکي ننباسي سرچپه شوه. د هغه پر خلاف ولسمشر ریګن اوس وویل چې «د کمونزم وروستی فصل لیکل کیږی.» په دغه نوي حال سره د مارکیټ اقتصاد او لبرل دموکراسي نوره هم عامه شوه او پلویانو یې هغه د راتلونکې څپه وګڼله. په دغه ستر تحول کې د افغان مجاهدانو ونډه بې له شک نه غټه وه.(۱۴)

د ژنیو د توافقاتو نیمګړتیا هم غټه وه او هغه دا چې افغان اسلامي تنظیمونو پکې ګډون نه لاره، په داسې حال کې چې دغه تنظیمونه د شوروي له یرغل نه وروسته د هېواد پر نزدې اتیا سلنه باندې یوازنی منظم ځواک و او د یرغلګر پوځ او د هغه ترلاس لاندې پرچمي-رجیم په وړاندې یې له وطن، خپلواکۍ او ننګ ناموس نه دفاع وکړه او د دوی همدغه دفاع وه، چې د ژنیو توافقات یې ممکن کړي وو. په دې ډول د ژنیو په خبرو کې د ګډون مستحق دوی وو. په سیاسي لحاظ هم دوی باید په خبرو کې ګډون کړی وای، ځکه چې د توافقاتو په پلي کېدلو او د امنیت په راوستلو او خوندي کولو د دوی ونډه مهمه وه. البته ورانی په دې کې و، چې د شوروي اتحاد په یرغل او د پرچم رجیم په هسکېدلو سره افغان سیاست بین المللي شوی او د افغانانو له لاسه ایستل شوی و. په دې ډول چې په یوې خوا کې شوروي اتحاد او په بلې خوا کې پاکستان د افغانستان د سیاست لوری ټاکه او هغو د خپلو لاس لاندې افغان ګوندونو له لارې هغه عملي کاووه، بلـه دا چې پـه دواړو خواوو کې د سیاست کولو فرصت افراطي ډلو ته ورکړل شوی و او دغه

ډلې تر دې حده د دولتي واک لېوالې وې، چې په دواړو خواوو کې د سیاست کولو فرصت افراطي ډلو ته ورکړل شوی و او دغه ډلې تر دې حده د دولتي واک لېوالې وې چې یا یې ټول غوښته یا هیڅ. په دغه حال کې نورو حکومتونو د امریکا په ګډون د هغو په واک کېدل نه غوښتل. دوی هم سره پر خپلو کې جوړ نه راتلل. او د پراخ بنسټه یا ملي حکومت احتمال هم نه لیدل کېده. له همدې امله و، چې هیڅ حکومت د ژنیو په خبرو کې د تنظیمونو د ګډون پلوي ونه کړه. ملګرو ملتونو هم د کابل رجیم یوه خوا وګڼله، خو هغه یې د حکومت په نامه نه، بلکې د ګوند په نامه ومنه. تنظیمونه هم که لږ تر لږه پر خپلو کې په رښتیا جوړ وای، د ژنیو په خبرو کې منل کېدلی شو، خو د پورته واقعیتونو له امله په دې اړه هیڅ ونه شول. نتیجه دا شوه، چې د یرغلګر پوځ له ایستل کېدلو نه وروسته هم جنګ قطع نه شو او سوله او امنیت رانغی. په تېره چې د ژنیو پر توافقاتو کې اوربند منل شوی نه و او د تنظیمونو په غیاب کې اوربند هم عملي کېدلی نه شو.په دغه حال سره افغانان په تېره تنظیمي لویان د ژنیو په توافقاتو انتقادي شول. د کوردوویز په وینا اسلامي تنظیمونو یا ځینو یې غوښتل د ژنیو خبرې ناکامې کړي او ده ته لا د ۱۹۸۵ په فبرورۍ کې له کابل نه اسلام اباد ته د تګ په وخت کې خبر ورکړل شوی و، چې «افغان یاغیان پلان لري، هغه الوتکه نسکوره کړي، چې د ملګرو ملتونو خاص استازی پکې و.»(۱۵)

د اووه ګوني تنظیمونو اتحاد مشر حکمتیار د ژنیو توافقات پخوا له دې چې لاسلیک شوي وي، رد کړل او د اپرېل پر نهمه یې وویل چې د

ژنیو «... خبرې د دې پر ځای چې د هغو واقعي خواوو ترمينځ وشي، چې د جنګ په جبهو کې مقابله کوي، د غير واقعي قواوو ترمينځ شوې دي.» هغه دا هم وويل چې «پاکستان متاثره خوا وه او هغه د افغانانو تمثيل کولی نه شي او نه دننه په افغانسان کې د هيڅ ډول توافق تضمين کولی شي.» د هر تنظيم امير هم د ژنيو توافقات رد کړل. خو پخواني پاچا محمدظاهر هغو ته په هيله منۍ سره وکتل او وويل چې «با وصف اينکه در مذاکرات ژنيو طرف های اصلی قضيه يعنی نمايندګان واقعی ملت مجاهد افغانستان و اتحاد شوروی مستقيماً شرکت نداشتند باز هم اميد ميرود اين موافقت راه را برای خروج قوای شوروي از افغانستان که متضمن استقلال کامل، تماميت ارضی کشور و حق خود اراديت مردم افغانستان بدون مداخله خارجی در امور سياسی و داخلی و اجتماعی آن باشد، باز نمايد» نامتو ديپلومات عبدالرحمن پژواک لا وويل چې «... من از اغاز ګفتګوهای ژنيو با ان مخالف بودم و ان را غير مثمر و مخالف با منافع ملی و ارزومندی های مردم ا فغانستان ميدانستم... روز امضای موافقه های ژنيو روز بازار سياست بود که منافع ملی افغانستان در آن رايګان فروخته شد... معلوم شد منظور صلح در افغانستان نبود، زيرا فيصله ژنيو جنګ و خون ريزی را شدت خواهند بخشيد.» د وطن بل نامتو شخصيت د عدليې پخوانی وزير شمس الدين مجروح هم وويل چې د ژنيو په توافقاتو سره د افغانستان کشاله هواريدلی نه شي.(۱۶)

دوی ټول د ژنيو پر توافقاتو تر دې حده انتقادي شول چې د هغو له مخې يې د يرغلګر پوځ ايستل کېدل له پام نه وغورزول، په داسې حال

کې چې د دغه پوځ شتون افغانستان ته غټ خطر او د افغانانو د ستونزو اصلي عامل و، البته ستونزې لا هم وې، هغه هم په جنګ ځپلي او وران شوي افغانستان کې، خو د هغو هواروول د افغانانو او په خاص ډول د تنظیمي لویانو کار و، چې د کوم ډول پراخ بنسټ او افغان شمول موقتي حکومت تنظیم وکړي، په دغه مقصد چې هغه ولسي استازو ته ډګر برابر کړي، چې د نوي اساسي قانون پربنسټ منظم حکومت پر پښو ودروي، خو دوی د دغه اساسي مکلفیت په رفع کې پاتې راغلل او د دوی په دغې ناکامۍ سره په و طن کې د جنګ او افغان وژنې یوه نوې مصیبت لړلې دوره پیل شوه.

## نهم څپرکی

# د نجیب الله لنډه واکمني
# او د تنظیم واکۍ پیل

د ژنیو له توافقاتو سره دوه پوهاوي لیکونه هم وو، چې یو یې د وسلو د تناظر اصل او بل یې د یوه ایتلافي حکومت په اړه وو. یو پوهاوی یا تفاهم لیک دا و، چې امریکا او شوروي اتحاد به په ترتیب سره مجاهدانو او د کابل رجیم ته د تناظر د اصل له مخې وسلې ورکوي یا نه ورکوي. د مثبت تناظر له مخې به دوی خپلو خواوو ته وسلې ورکوي او د منفی تناظر له مخې به یې نه ورکوی. د حاضر وخت لپاره د مثبت تناظر اصل ومنل شو، چې مانا یې د جنګ دوام و، د ۱۹۹۱ د سپټمبر په ۱۳ مه یانې د شوروي اتحاد له ټوټه کېدلو نه دمخه و، چې د امریکې ا و شوروي اتحاد د باندنیو چارو وزیرانو په موافقه د مثبت تناظر اصل پر ځای د منفي تناظر اصل ومنل شو، چې هغه به د نوي کال له پیل نه عملي کېږي.

دوهم تفاهم دا و، چې د ژنیو د توافقاتو څلور واړه خواوې به د کوردوویز له هغو کوښښونو سره مرسته کوي، چې دی به په شخصي توګه، نه په رسمي توګه زیار باسي په افغانستان کې د یوه ایتلافي

حکومت د جوړولو لپاره لار هواره کړي، څرګنده ده چې د کوردوویز دغه ماموریت نه پیاوړی و او نه د ایتلافي حکومت لپاره لاره هواره وه. د افغانستان پخواني پاچا محمد ظاهر په دې اړه اغېزناک رول لوبولی شو. کوردوویز وايي چې په دې اړه یې له ډېرو افغانانو سره خبرې اترې وکړې او ورته مالومه شوه چې يوازې دی د افغانستان لپاره د اتحاد سمبول کېدلی او افغانان پر ده غونډېدلی شي. کوردوویز بیا د همدغه مقصد لپاره په روم کې چې دی هلته اوسېده،ولید او هغه ورته وویل چې دی په دې اړه «لويه جرګه بې له ځنډ نه بللی شي.» خو کوردوویز دا هم وايي چې پاچا محمد ظاهر د دغسې تاریخي کار لپاره نه فزیکي او نه فکري قوت وښود. د ده په اند که هغه پېښور ته تللی وای، مهاجر افغانان به سمله لاسه پرې راټول شوي وای او هیڅ تنظیم به دغسې سیاسي ملاتړ نه لرلای، چې ورته چیلنج ورکړي. «کوم هغه رول چې پاچا زوی نورو دوم سهانوک د خپل ملک [کمبودیا] د کشالې په هوارولو کې ادا کړی و، دغه فکر یې پیاوړی کړ، چې د هغه په قوت ما له ظاهرشاه نه په وار وار وغوښتل، چې په خپل فعالیت سره په خپل هېواد کې د ډېر بد کورني جنګ مخه ونیسي.» کوردوویز دا هم وايي چې د واشنګټن په مرستې سره ممکنه وه، چې پاکستان هم د هغه په خوا واوړي! (۱)

کوردوویز بیا «په افغانستان کې د سولې له لارې د یوه مشروع پراخ بنسټ حکومت په نامه د یوه انتقالي حکومت تجویز وړاندې کړ، چې هغه به «د نفوذ خاوندانو یوه شورا وی» چې د لويې جرګې د تنظیمولو لپاره به لار هوارولي، له دغه تجویز نه د کوردوویز مقصد دا و، چې له

دې لارې به افغانان فیصله وکړي، چې خپل سیاسي برخلیک په خپله وټاکي. کوردوویز په دې اړه په پېښور کې د افغانانو له پوره ملاتړ نه ډاډه و.

کوردوویز وایي چې په اسلام اباد کې په هغه هوټل کې چې ده اړولي وو، دغومره ډېر افغانان یې لیدلو ته ورغلل، چې حتی د پاکستان د استخباراتو خلک یې حیران کړل. په دوی کې د قومونو استازي، د ډګر قومندانان او دیني عالمان وو او دوی کوردوویز ته د نورو ډېرو افغانانو په لاسلیک، غوښتنلیکونه وړاندې کړل. په دغه مضمون چې «جرګه یوازنۍ وسیله ده، چې د نورو وینو تویېدلو مخه نیسي او افغانان د افغانانو له وژنو نه ژغوري.» دوی پر خپلې غوښتنې دغومره ټینګ او ورته رښتیني وو، چې پر کوردوویز یې ډېر اثر وکړ، لکه چې دی وایي «دا یوه اوږده او ستومانه کوونکې ورځ وه، خو زه به هیڅکله د دغو افغانانو د سترګو ځیرې هېرې نه کړم، چې دوی په دغه ورځ زما د لیدلو لپاره اسلام اباد ته راغلل.» او «زه زیاتره وخت فکر کوم، چې زما په ټول بین المللي ماموریت کې دا ممکن تر ټولو خوښوونکې تجربه وه.»
په واقع کې افغانانو هر چیرې د کوردوویز هلو ځلو ته سترګې نیولې وې او درناوی یې کاووه. د نیویارک په ښار کې له هغه سره د یوه افغان چلند په دې اړه شاید یوه پر ځای نمونه وي. کوردوویز وایي چې دی هلته یوه ورځ په یوه ټکسي کې خپل هستوګنځي ته روان شو، ټکسي چلوونکی افغان او په افغانستان کې نظامي افسر و، دی یې وپېژنده او دواړه سره وغږېدل. افغان چې هغه خپل ځای ته ورسوه، کرایه یې ترېنه نه اخیستله، په دې چې ده افغانانو ته خدمت کاووه، خو کوردوویز

ټينګ و، چې كرايه دې واخلي. دغه عمل دوه درې ځل تكرار شو، ان تر دې چې په پاى كې افغان د هغه په جيب كې پيسې تخته كولې، او د محل پوليس په شک كې شو او ځان يې ور ورسوه، خو كوردوويز ورته كړه چې خير خيريت دى او دى افغان دى، له ما نه كرايه نه اخلي او بيا يې وويل چې «افغانان ډېر ښه خلک دي.» په رښتيا هم كوردوويز په خپل اثر كې افغانان په ښه نامه ياد كړي دي. په هر حال قومندان حقاني هم د جرګې له تجويز نه په ټينګه پلوي وكړه، لكه چې وروسته د محاذ د تنظيم مشر پير سيد احمد ګيلاني او د نجات د تنظيم مشر صبغت الله مجددي هم د هغې په ملاتړ وينا وكړه. كوردوويز په دې هكله د يوه بل اعتدالي تنظيم مشر هم يادوي، چې هغه شايد مولوي محمد نبي وي. مجددي په خپلې وينا كې وويل چې «د جرګې تجويز د اسلامي ارزښتونو او د افغانستان د ملي عنعنې له مخې د افغان د يوه مشروع او قانوني حكومت تنظيمولو لپاره ډېره ښه وسيله ده.»(۲)

د كوردوويز د جرګې وړانديز په افغانانو كې هغسې شور او زوږ توليد كړ، لكه په پېښور او پښين كې ممثلو لويو جرګو توليد كړى و، خو دغه وخت د تنظيمونو پله تر پځوا نه ډېره درنه وه. كوردوويز وايي چې ما «په متوافق ډول د قومندانانو، قومي مشرانو، روحاني كسانو، روڼ اندانو، ټكنوكراتانو، په تهران ميشت مقاومت [مشرانو] او د كډوالو نوماليو كسانو په ګډون ټينګار كاووه، چې پايله يې بايد يو ملي يا پراخ بنسټ حكومت وي.» دغه وړانديز په افغانستان كې دننه او دباندې افغانانو كې چې د هرې سياسي ډلې او قوم نه وو، ډېر پلويان لرل، خو دوى نه كوم تنظيم او نه منلى مشر لاره. له بلې خوا د تنظيمي

حکومت له فکر نه یوازې سخت دریځو تنظیمونو ملاتړ کاووه، نه اعتدالي تنظیمونو. کوردوویز دا هم وایي چې امریکا او شوروی اتحاد اول دغه وړاندیز ته زړه نا زړه وو، خو بیا یې په پلوي نظر ښکاره کړ. پخوانی پاچا لا هم له روم نه نه بېرون کېده او ضیاءالحق هم د ۱۹۸۸ په اګست کې ناڅاپه مړ شوی او د پاکستان آی‌اس‌آی هم پر تنظیمي حکومت ولاړ و، لکه چې د مخه یې د پېښور او پښین لویې ممثلې جرګې ناکامې کړې وې. خو حکمتیار هغسې چې فکر کېده د کوردوویز نظر پوره منفي وباله، د هغه په نظر افغان ملت پر هغه باور له لاسه ورکړی او دی باید عوض شي، ځکه چې د هغه په ژبه «کوردوویز تل کوښښ کاووه ثابته کړي، چې د افغان بحران داخلي دی، په داسې حال کې چې مونږ د یوه باندني تېري په وړاندې جنګېږو.» هغه په دې نظر و، چې «همدا چې باندنۍ لاسوهنې پای ته ورسېږي، په افغانستان کې به سوله بېرته ژوندۍ شي.» ده په افغانستان کې د شوروي اتحاد پر نوي سفیر ورانتسوف هم ترخې نیوکې وکړې، چې په روم کې یې له پخواني باچا سره لیدلي وو، شاید په دې مقصد چې په کابل کې د کوم ډول پراخ بنسټه حکومت سروالي ومني. حکمتیار په عین حال کې «لویدیځې نړۍ» هم سختې وغندلې، چې دی یې «راډیکال» یانې افراطي ښوولی و.[۳] دا هغه وخت و، چې په نیویارک کې د سر منشي ځینو مرستیالانو کوردوویز په خپل نوي ماموریت کې ناکام ښوولی و، خو کوردوویز په څرګند ډول نه وایي چې دا څوک یا کومه خوا وه، چې په پای کې یې د ده وړاندیز سبوتاژ او ناکام کړ، په همدغه وخت کې و، چې دی په خپل هېواد ایکواډور کې د باندنیو چارو وزیر وټاکل شو او

له دغې وظیفې نه لاس پر سر شو. خو دی لکه چې په تېرو پاڼو کې ویل شوي... د ملګرو ملتونو د سرمنشي د منځګړي په توګه په خبرو اترو سره د شوروي اتحاد د پوځ د بېرون کولو په موضوع کې پوره مهارت او وړتیا وښودله او خپله دغه بین المللي دنده یې په بري سره پای ته ورسوله.

د کوردوویز له رخصت کېدلو نه وروسته د ملګرو ملتونو سرمنشی پریېزدي کویلار، د عمومي اسامبلې په سپارښتنه چې دی باید په افغانستان کې د یوې جامعې سیاسي فیصلې لپاره ډګر هوار کړي، د ۱۹۹۱ کال د مې په ۲۱مه یو پلان وایست چې د هغه له مخې افغانان به په انتقالي دوره کې د خبرو له لارې یو پراخ بنسټ حکومت جوړ کړي او بیا دغه حکومت «د ازادو او عادل انتخاباتو» لپاره لار هواره کړي، د دې لپاره چې په افغانستان کې یو جامع حکومت پر پښو ودرول شي. بیا دې د افغانستان د سیاست له مهمو خواوو نه وغوښتل شي، چې په دغې حیاتي موضوع کې سره ټول شي او یو سیاسي نظام په اتفاق سره غوره کړي. دغه پلان د کوردوویز پلان ته ورته و، خو اوس د هغه د عملي کېدلو لپاره تر پخوا نه وخت ښه برابر و، سر منشي کویلار بینان سیوان د دغه ماموریت لپاره وټاکه. ما دغه موضوع له نورو اړوندو موضوع ګانو سره په ګډه په خپل یوه انګرېزي اثر کې شرح کړې او دلته به د هغه لنډیز راوړل شي او له نویو اثرونو نه به هم کار واخیستل شي.[۴]

شوروي اتحاد پخوا له دې چې ټوټه ټوټه شي د افغان مقاومت له یوه هیئت سره په یوې څرګندونې کې موافقه وکړه، چې په افغانستان کې

دې قدرت يوه انتقالي اسلامي حکومت ته انتقال شي. د امريکې د باندنيو چارو وزير جيمز بيکر هم د نجيب الله په اړه د خپل حکومت نظر بدل کړ، په دې ډول چې په افغانستان کې د يوې سياسي فيصلې يا انتقالي حکومت په اړه د بحث لپاره د نجيب الله «ګوښه کېدل به مخکينی شرط نه وي.» دا هم مهمه وه چې د پاکستان د باندنيو چارو وزير د شوروي اتحاد له انحلال نه وروسته د ۱۹۹۲ کال په پيل کې د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د نوې طرح په ملاتړ څرګندونه وکړه. دغه وخت په منځنۍ اسيا کې خپلواک جمهوريتونه هسک شوي وو. پاکستان له هغو سره اړيکې نيول په اقتصادي لحاظ د يوه باثبات او ارام افغانستان له لارې شونکي او ګټور بلل. نږدې ټولو افغان سياسي ډلو د دغې طرح په اړه څرګندونې وکړې، حکمتيار هم چې اول يې هغه «پيچلې، مبهمه او غير عملي بلله» دغه وخت يې خپل نظر د هغې پر خوا واړوه او د ۱۹۹۲ کال د اپرېل په سر کې يې لا وويل چې د هغې ځنډېدل به ناوړې پايلې ولري. داسې هم لږ څه دمخه د همدغه کال په فبرورۍ کې په پکتيا کې د قومندانانو يوې شورا چې له پنځه سوه نه ډېرو قومندانانو نه جوړه وه، په يوې څرګندونې کې ښکاره کړه، چې که «هغه زموږ د جهاد د غوښتنو، ملي ګټې، د اسلامي حکومت د تاسيس د نتايجو مخالفه نه وي، مخالفت به يې ونه شي.» يوازې عبدالرب رسول سياف د اسلامي اتحاد د تنظيم مشر هغه رد کړه، په د اسې حال کې پخواني پاچا او داسې هم اعتدالي تنظيمونو په غوڅه توګه د هغې ملاتړ وکړ. په دې ډول دا يوازنۍ طرح وه، چې په افغانستان کې د انتقالي حکومت جوړېدلو لپاره ټولو داخلي او خارجي ښکېلو خواوو ته

د منلو وړ وه او هیله کېدله چې د هغې په عملي کېدلو سره به په پای کې د افغانستان لپاره کوم ډول حکومت پر پښو ودرول شي او د کورني جنګ مخه به ونیوله شي، خو په همدغه وخت کې (اپرېل ۱۹۹۲) په کابل کې د نجیب الله پر ضد د کارملیانو په کودتا سره، چې په کابل کې امنیت ګډوډ شو، او دغه طرح عملي کېدلی ونه شوه.

# د نجیب الله واکمني او ناکامي

لکه چې دمخه په لنډ ډول ویل شوي، نجیب الله په کابل کې د رجیم په سروال کېدلو سره د ګورباچوف او شیواردنازي په سپارښتنه په یو لړ سمونونو پیل وکړ، ده په ظاهر کې له هغو کمونستي تمرینونو نه لاس واخیست، چې د خلقي رجیم او کارمل په وخت کې یې کول. ځان یې مسلمان وښود او د پل خشتي په لوی جومات کې یې د جمعې ورځې نمونځونه له نورو مسلمانانو سره په ګډه ادا کول. په ښار کې یې د شپې ګرځېدلو بندیز چې په کال ۱۹۸۰ کې د ښاریانو د پاڅون په وخت کې نافذ شوی و، لغو کړ؛ بندیان یې جوپه په جوپه ازاد کول او د سولې کمیسیونونه یې په کار واچول. په همدغه وخت کې و، چې زه او زما نور ملګري استادان له محبس نه وایستل شوو، او ازاد شو، پخوا له دې چې زموږ د هر یوه د محبس موده پای ته رسېدلې دي، تر دغه وخت پورې موږ هر یوه پنځه کاله په محبس کې تېر کړي وو.

ډېر غټ او مهم سمون یې په خپله د دولتي رجیم په اړه و، چې د هغه لپاره لویه جرګه د ۱۹۸۷ کال د نومبر په دېرشمه په پولي تخنیک کې پرانیستله شوه. دغه جرګه له دوه ورځې بحث کولو نه وروسته په بري سره پای ته ورسېده، سره له دې چې جنرال عصمت اڅک او ملیشاوو یې په کابل کې یو څه ګډوډي واچوله، او یو څو راکټونه له

پغمان نه پر کابل واورول شول، چې هغه په غالب ګمان د قومندان عبدالحق او د هغه د ملګرو کار و. په جرګه کې نجیب الله د اوو کلونو لپاره ولسمشر غوره شو، چې په دقیق ډول هغه دولتمشر و، داسې هم د افغنستان لپاره یو نوی اساسي قانون وایستل شو، چې د هغه له مخې حکومت د دوو انتخابي مجلسونو ته مسؤل وبلل شو. د «اسلام سپېڅلی دین» د افغانستان رسمي دین او سیاسي ګوندونه ازاد اعلام شول، په دې ډول د افغانستان په تاریخ کې سیاسي ګوندونه د لومړي ځل لپاره په رسمي او لیکلي ډول ومنل شول او قانوني شول. وروسته د افغانستان خلق دموکراتیک ګوند، د وطن حزب ونومول شو، چې مفهوم یې ملي و، خاد چې پر خپلو کړو سره یې خلک ډېر زورولي او تورولي و، په واد واړول شو، چې د وزارت امنیت ملي د سر له ټکو نه جوړ و، خو د واد د سرچارواکي د پخوا په شان کارملي خادستان وو، چې ځانونه یې د شوروي اتحاد د ژنسکي (Dezerzhinsky)ربښتیني زامن ګڼل، چې هغه ټینګ وینې بهوونکی انقلابي او د ک. ج. ب سر مؤسس و.

په دې ډول له واد نه پرته د افغانستان سیاسي نظام د ملي او لبرالي ارزښتونو له مخې له سره جوړ شو، خو وخت ته ضرورت و، چې مالومه شي هغه د ژوند په ډګر کې عملي او یقیني کېږي، یا یوازې په تورو کې محصور پاتې کېږي لکه موقتي اساسي قانون چې په کال ۱۹۸۰ کې ایستل شوی و، یوازې په نامه و، خو په دغه وخت کې چې هم دننه په افغانستان او هم په شوروي اتحاد کې وضع په اساسي ډول اوښتې وه، نجیب الله د هغې په درک سره کوښښ کاووه، چې تحول

واقعي کړي او د خلکو اعتماد وګټي چې د خاد د سروال په توګه ترېنه بېګانه شوي وو. د همدغه مقصد لپاره يې د صدراعظم سلطان علي کشتمند پر ځای چې کارملي پرچمي و، اول محمد حسن شرق او وروسته په ۱۹۸۹ کې فضل حق خالقيار صدراعظم وټاکه چې د کوم ګوند غړی نه و. په دغو سمونونو سره ولسمشر نجيب الله دغسې حرکت شروع کړی و، چې حتی اسلامي تنظيمونو هم پرې سترګې پټولې نه شوې، په تېره چې هغه پر دې نور هم لنګر واچوه، چې د مقاومت قومندانان لږ تر لږه بې پرې کړي او په عين حال کې د قومي مليشاوو پروګرام پرمخ بوځي.

تر دغه وخت پورې په خاص ډول د کشتمند په توجه دغو قومندانانو ته په خاص ډول له هندوکش نه اخوا ولايتونو قومندانانو ته په عمل کې دننئ خپلواکي منل شوې وه، په مزار کې لا يو ډول فرعي حکومت پر پښو درول شوی وو چې د وزارتونو له مرستيالانو نه جوړ او نجيب الله مسير يې سروال و. دغه فرعي حکومت ته اجازه وه، چې د شوروي اتحاد د منځنۍ اسيا له جمهوريتونو سره کابل ته له مراجعې نه پرته د سوداګرۍ او کولتوري اړيکې ټينګې کړي. نجيب الله دغه ترتيب چې د افغانستان د دوه ټوټه کېدلو پيلامه ګڼله، د محمد حسن شرق په صدراعظمۍ کې له مينځ نه يووړه. نجيب الله چې د دفاع د عالي شورا سروال هم و، د سيمو قومندانانو ته دننۍ خپلواکي ومنله، خو چې له جنګ او وژلو نه لاس واخلي. له اټکل څلور زره محلي قومندانانو نه يو شمېر قومندانانو د هغه دغه طرح ومنله، خو حسن شرق وايي چې هيڅ نوميالی قومندان او هيڅ ملکي مخالف افغان حاضر نه شو، چې په دې

اړه له حکومتي چارواکو او استازو سره خبرې وکړي.

د شوروي پوځ د اخري واحدونو له وتلو نه دمخه او لږ وروسته په ننګرهار کې یو څو پېښې وشوې، چې په هغو سره د کابل حکومت اعتبار وموند او د تنظیمونو اعتبار زیانمن شو. حکومت د شوروي پوځ له وتلو نه لږ دمخه خپلې نظامي قواوې د کونړ له مرکز نه وایستلې او هغه د اکتوبر پر یوولسمه کال ۱۹۸۸ د مجاهدانو لاس ته ورغلی، خو دوی او په خاص ډول د مولوي جمیل الرحمن پلویانو چې د وهابیانو په نامه یادېدلې له خلکو سره د ژغورونکو پر شان نه، بلکې د لوټمارو په شان چلند وکړ. پر هغه سربېره د همدغه کال په پای کې د رجیم څلور اویا تنه افسران او سرتېري تورخم ته نږدې د پاکستان سرحدي چارواکو ته تسلیم شول او هغوی دوی د مولوي خالص د اسلامي حزب یوه قومندان ته وسپارل. خو وروسته پولې ته ورڅېرمه د افغانستان په سیمه کې د دوی مړي ولیدل شول. د ۱۹۸۹ کال د جنوري په سر کې چې زه له پېښور نه د امریکې غبږ له جورنلست عبدالباري جهاني او نورو سره هلته ولاړم، د هغو د ځینو جسدونو پاتې غوښې مې په یوه خوړ کې ولیدلې. دغه وژنې چا وکړې، مالومه نه ده، خو لکه چې ویل کېږي دا د پټې سر دی، پټې وروسته سورور دی، لږ څه وروسته چې مجاهدانو په ښېوه کې یوه حکومتي نظامي پوسته لاندې کړه، دوه تنه افسران یې چې ورته تسلیم شوي وو، ووژل او اټکل یوویشت ښځې یې د جنګ د غنیمت پر شان خپلې کړې. خلکو ته دغه فکر نه کېدونکی عمل د ځینو تنظیمی غړو او په زیاته اندازه د مولوي رحمن د عربي وهابیانو کار و. د کابل حکومت د دغو مړو جسدونه په تلویزیون

کې په وار وار وښودل او ویل یې چې که مخالفان په واک شي، دغسې ویره وونکې پېښې به لبرې نه وي.

په یوې بلې غمې پېښې سره چې د شوروي پوځ له وتلو نه وروسته د ۱۹۸۹ کال د مارچ په ۶مه وشوه، د کابل حکومت اعتبار نور هم ډېر او د هغه د افسرانو او سرتېرو معنویات لوړ شول. په دغه ورځ د پنځه زره او اووه زره ترمینځ مجاهدانو د اته لویو قومندانانو په قومندانۍ د ختیځ له خوا د منظم پلان له لرلو نه پرته پر جلال اباد ښار ودانګل او په بیړه د مخه ولاړل خو د ښار د مدافعانو له خوا یې د نور پرمختګ مخه ونیول شوه. د ښار مدافعان هم په ښو وسلو سمبال وو او هم یې په مهمو ځایونو کې ځای نیولی و، څنګه چې دوی ته د تورخم تراجیدي مالومه وه، د ښار دفاع یې په ټینګه وکړه. پر هغه سربېره د محمود قارییف د نجیب الله د نظامي چارو د مشاور د لیکنې له مخې «هر شبانه روز برای پشتیباني از جبهه جلال اباد هوا پیماها ۱۰۰-۱۲۰ پروار انجام میداند.» خو دی د دغو ټولو الوتنو شمېر ۳۲۰ ښیي. دی د جلال اباد د محاصرې په وخت کې هلته و، لکه چې د مخه ویل شوي، ګورباچوف د نجیب الله دغه غوښتنه نه وه منلې، چې د هغه دغه مخالفان پر خپلو الوتکو سره بمباري کړي. سره له دې هم حکومتي ځواکونو چې ټول شمېر یې ۸۰۰۰ تنه وو، د اتو سکاډ راکټونو له ویشتلو نه وروسته د شا له خوا په یرغلیز عمل سره مجاهدان پر شا تللو ته اړ کړل او د ښار د محاصرې کړۍ یې له څو میاشتو محاصرې نه وروسته ماته کړه او له درې زره نه ډېر تلفات یې هم ور واړول. د دفاع وزیر شهنواز تني جلال اباد ته غښه قوه وانه ستوله، په دغه دلیل

چې په دغه حال کې به په کابل کې کافي قوه نه وي باتې.[۵]

دغې پېښې دننه او دباندې پراخ انعکاس وکړ. تر دغه وخته عام نظر دا و، چې د کابل حکومت به په یوازې ځان د مجاهدانو په وړاندې مقاومت کولی ونه شي او نسکور به شي. خو باید په یاد ولرل شي، چې دا په ښار کې له منظم پوځ سره د مجاهدانو لومړنۍ غټه مقابله وه. نه شریکي مقابله چې دوی ورسره ښه روږدي وو. دوی دغه ښار لاندې کولی ونه شو، خو دوی د پخوا پر شان په ټول هېواد کې یو لوی قوت وو. د دغې ناکامۍ سملاسي قرباني د آی ایس آی مشر جنرال حمیدګل شو، چې دغه عملیات د هغه په نوښت شوي وو. د پاکستان حکومت دی له دغه مقام نه کوز کړ او پر ځای یې جنرال شمس الرحمن کالو وګماره، خو د کابل د حکومت دغه بری د نجیب الله او د هغه د حکومت اخري حد و. له هغه وروسته په نظام او ګوند کې د جنرال شهنواز په مخکښې له خلقیانو او بیا له کارملیانو او نورو سره مقابلې او کودتاګانې وې، چې پای یې د دوی ټولو نسکورېدل، د بینان سیوان د ماموریت پای او په کابل کې د تنظیمي حکومت هسکېدنه او د بې امنیتۍ د یوې بلې خونړۍ دورې پیل شو.

# د جنرال تڼي په نامه یاده شوې ناکامه کودتا

دا چې د ملي دفاع وزیر جنرال شهنواز تڼي «د ولسمشر نجیب الله پر ضد یا د هغه نظامي پلویانو د تڼي پر ضد په کودتا پیل وکړ، په یقین سره مالومه نه ده، خو دا د تڼي په کودتا یاده شوې ده. دغه کودتا ژورې ریښې لري او هغه په اصل کې د پرچم او خلق ګوندګیو له رقابت څخه توکېدلې دي. دغه اوږد او کله کله ډېر تریخ رقابت د شوروي پوخ له وتلو نه وروسته په کودتا بدل شو، چې په دغو اثرونو کې یې په ډول ډول بیان شوی دی: د صالح محمد زېري د نیمې پېړۍ خاطرې (چاپ کال ۲۰۰۵)، د اقبال وزیري د ثور پاڅون (۲۰۰۷)، د نبي عظیمي اردو و سیاست (۱۹۹۸)، د فقیر محمد ودان دشنه های سرخ (۱۹۹۹) او سیاست مصالحه ملي و جبهه ګیری در حزب وطن (۲۰۰۲)، د رزاق مامون راز خوابیده اسرار مرګ نجیب الله (۲۰۰۷) او د محمود قارییف افغانستان پس از بازګشت سپاهیان شوروي (۱۹۹۸ د عزیز اریانفر په ترجمه) زه به له دغو اثرونو څخه خپل پوهاوی دلته په لنډ ډول وړاندې کړم.

د کارمل په دوره کې که څه هم په پوځ او ملکي ا داره کې امنیتي خلقیان ځپل شوي وو، بیا هم خلقي افسران تر پرچمي افسرانو نه ډېر

وو او دا په دغسې حال کې چې رجيم له مجاهدانو سره په جنګ اخته و او خلقيانو ته يې سخت ضرورت لاره. پر دې سربېره زرغوني او تره‌کي افسرانو د شوروي له يرغلګر پوځ سره د امين د حکومت په نسکورولو کې برخه اخيستې وه او پرچمي افسرانو پکې هيڅ رول نه لاره. له همدې امله و، چې په دغې ټولې دورې کې له جنرال محمد رفيع نه پرته چې ګوندي پلوی توب يې واضح نه دی، د دفاع وزير خلقي و، نه پرچمي، دغه حال کارمل او ملګرو ته چې رجيم يې خپل ګاڼه او د شورويانو مخلص مريدان وو، د منلو وړ نه وو. بيا نو دوی له مسکو نه په الهام سره چې ک. ج. ب ته يې په عمل کې ډېر واک ورکړی و، خاد ته ډېر واک او اهميت ورکاووه. خاد دوی ته ځانګړی شو او کارملي پرچميان د خاد د ځانګو امران شول او دوی لکه چې دمخه ويل شوي، ځانونه په وياړ سره خادستان بلل په دغه فکر چې خادزم لکه کوم ډول کارملي انقلابي کمونزم وي.

د دغې کودتا په مهال (مارچ ۱۹۹۰) خاد يا واد د ملي امنيت د خوندي کولو په نامه له يوې غير معمولي لارې نه هم ډېر پياوړی شوی و. رجيم د شورويانو په مشوره يا هدايت له اول نه د سپاهيانو انقلاب، د انقلاب مدافعان او د ځان دفاع په نومونو وسله والې ډلې تنظيم کړې وې، خو دغه ډلې سربېره پر دې چې وړې وې، تل فعالې نه وې، خو کله چې شورويانو د پوځ د ايستلو پرېکړه وکړه، د مليشيايي يا د غير منظمو قوتونو دغه پروسه يې پراخه کړه. له قومونو نه يې تنظيم کړه او د هرې مليشيا سروال يې د قومندان په نامه ازاد پرېښود چې د خپلې مليشيا افسران په خپله وټاکي. د ځينو مليشياوو او قومونو سروالان

پرچميان وټاکل شول. په دې ډول دغه مليشياوې قومي شوې او په ولس کې يې حساسيتونه وپارول. په تېره هغه وخت چې دوی په نورو سيمو کې له مجاهدانو سره د مقابلې په وخت کې لوټول او وژل هم کول. خادستانو د هغو پر دغو جنايتونو سترګې پټولې. دغه مليشياوې او نورې د امنيتي ځواکونو په توګه په دولتي رياست پورې تړلې وې، نه د دفاع وزارت پورې، خو په عمل کې هغه د واد يا خاد تر ولکې لاندې وې او دا خاد و، چې هغو ته يې وسلې او پيسې ورکولې او دندې ورسپارلې. مليشيايي ډلې لويې او دايمي وې. په دوی کې د ځينو لږه کيو قومونو مليشياوو په ټول ملک کې نوم وايست، لکه د عبدالرشيد دوستم د ازبکو مليشيا چې اول کنډک، بيا غونډ او وروسته ۵۳مه فرقه شوه. دغې مليشيا په ډېرو سيمو کې د کابل په ګډون عمليات او په پراخه اندازه لوټول وکړل. دوستم د همدغو عملياتو په جايزه کې «د انقلابي شورا غړی او وروسته د مرکزي کمېټې غړی شو.» دا سره له دې چې مليشيايي ګلم جم بلل کېده، په دې مانا چې هغې له يوه سره هر څه لوټول. صالح محمد زېری لا وايي چې «د دوستم د مليشو له ظلم څخه چا شکايت هم نه شو کولای.... دغه قوت دغومره قوي شو، چې وروسته يې د دفاع له وزارت سره سيالي کوله.» بله غټه مليشيا د اسماعيلي فرقې پير سيد جعفرنادري وه. دی مامور شو چې «...د حيرتان څخه تر سالنګ پورې د لارې ساتلو لپاره يوه... امتياز لرونکې اتيا زريزه فرقه جوړه کړي.»[۶]

د رجيم بل غټ ځواک دولتي «خاص ګارد» و، چې افسران يې د خاد پر شان پرچميان او سرتېري يې د هغوی خپلوان او اعتمادي کسان

او «...زیاتره دري ژبي د کابل، شمالي او د شمال د ولایتونو اوسېدونکي وو.» دوی ته د پوځ او څارندوی تر منسوبانو نه ډېر معاش او اعلی خواړه ورکول کېدل او له جنګ کولو نه هم معاف وو. د دوی دنده د دولتي مقام او حکومتي مهمو ودانیو ساتل وو. پخوا دغه کار شورویانو کاووه. د همدغو بېسارو امتیازونو د لرلو له امله وو، چې د دفاع او کورنیو چارو د وزارتونو نه هم د خاد اعتمادي کسان ګارډ ته لاړل او په دې ډول د «... ګارډ خاص قطعات بشپړ او لوی قوت ځني جوړ شو.»[۷] هیڅ مولف د دوی شمېر نه دی یاد کړی، دا یې هم نه دي ویلي چې ګارډ د څه او کوم مقصد لپاره دغومره ډېر پیاوړی شو. دغه ځواک به د دوی لپاره دغومره ډېر پیاوړی شوی وي، چې ارګ ډاډمنه دفاعي قوه ولري، چې د کومې نه فکر کېدونکي احتمالي خطر مخه ونیسي. دا هغه وخت و، چې نجیب الله چې پرچمي او د رسمي ګوند عمومي منشي و، د دفاع وزیر شهنواز تڼی چې په اصل کې زرغورني خلقي او په دغه وخت کې د ټولو خلقیانو استازی ګڼل کېده، سره دغومره وران شوي وو چې نجیب الله جنرال نبي عظیمي ته ویلي وو، چې «... ما باید جلو یک توطیه و دسیسه بزرګ را که از طرف وزیر دفاع در حال سازماندهي است بګیریم.» نجیب الله دغه عظیمي سربېره پر دې چې په نامه د دفاع وزارت لومړی مرستیال و، نوی د کابل ګارنیزیون عمومي قومندان ټاکلی او ګارنیزیون یې له غونډ نه قول اردو ته جګ کړی و. نبي عظیمي چې ټینګ پرچمي و او لا هم دی، په دې ډول په پوځ کې د لوی درستیز پر شان د صلاحیت خاوند شو.[۸]

نجیب الله کوښښ کاووه د ټولو پوځي ځواکونو د عمومي قومندان

په توګه د شوروي پوځ له وتلو نه وروسته خپل ځواکونه پیاوړي کړي، خو دی د پرچمي توب له کړی نه هیڅ ونه ووت او ملي نه شو او ویې نه شو کولی یا نه یې غوښتل د خلقیانو اعتماد وګټي او هڅه وکړي، چې د واړه ګوند ګوتې سره یو موټي کړي، که څه هم دی او تنی دواړه په اصل کې د پکتیا پښتانه وو. په دغه حال کې خلقي لویانو داسې ګڼله چې د هغه ټولې هلې ځلې د دوی د ځپلو لپاره دي، لکه خلقي حکومت چې دوی ځپلي وو. دوی پر دغه فکر نور هم ټینګ شول، چې له کونړ او پکتیا نه یې پوځي واحدونه وایستل او د هغه پر خلاف له کابل نه تر امو پورې غزېدلې سیمو قومي ملیشیاوې یې نورې هم پیاوړې کړې او حتی د سازا او سزا په نومونو ستمي ډوله ډلې یې په حکومت کې هم ګډې کړې. دا سره له دې چې د فقیر محمد ودان په وینا د ۱۳۶۷ په ثور (۱۹۸۸) کې مزار ته د قدرت د احتمالي انتقال په اړه د اجرائیې هیئت په یوه بحث کې چې دی هم د ګوند د مرکزي کمېټې د فرهنګي څانګې د مشر په توګه هلته حاضر و، نجیب الله په ټینګه ویلي وو، چې «..این پلان تجزیه افغانستان است و من حاضر نیستم مسؤلیت تاریخی آن را بعهده بگیریم.»[۹] صالح محمد زېری هم وایي چې خلقیان لا د نجیب الله له استحکاماتو نه د مخه په دغه فکر شوي وو، چې که شورویان «... ټول افغانستان تر خپل نفوذ لاندې ونه ساتلای شي، نو به هېواد تجزیه کړي او شمالي سیمې به خامخا تر خپل نفوذ لاندې وساتي.» د ده په اند د نجیب الله په دغو نویو استحکاماتو سره خلقیان نور هم اندېښمن شوي وو.[۱۰] نورې غټې وړې پېښې او انکشافونه هم ډېر وو، چې د دواړو خواوې یې نورې هم سره بې اعتمادې کړې. ان تر دې

حده چې د دفاع وزير او د دولت سروال له مجاهدانو سره د مقابلې او حتى د جنګي چارو په اړه هم نه سره جرګه کېدل.دوه پيښو د نجيب الله او تنې ترمينځ بې اعتمادي نوره هم ډېره کړه، يوه دا چې هر يوه پر خپلو نظامي واحدونو کې افسران په خپله ټاکل او تبديلول، تنې دغه کار په پراخه اندازه کاووه او حتى شپې به يې هم پر خپلو نظامي قطعو کې تېرولې. داسې ښکارېده چې په کابل کې دوه حکومتونه وي، هغه هم د دښمنۍ په حال کې. وضع هغسې وه چې په خلقي نظام کې د صدراعظم امين او اسدالله سروري او يو شو وزيرانو په وخت کې وه. د حيرانۍ ځاى دى چې نجيب الله او تنې له دغې دښمنۍ نه عبرت وانه خيست او د هغو پر شان يې د قدرت په لوبه کې د وطن او وطنوالو پروا ونه کړه.

بلې پيښې چې نجيب الله او تنى يې نور هم سره ترخه کړل، د جنرال ولى شاه او د هغه د يو شو تنو ملګرو بندى کېدل وو، «جنرال ولي شاه د راکټونو د لوا قومندان او يو شمېر ملګري يې په دې تور بنديان شول، چې ګواکې د افغانستان د اسلامي حزب له خوا جذب شوي وو.»(١١) د يوه باوري راوي په وينا جنرال ولي شاه او تنى په دغه و خت کې سره خپه وو، خو د هغه او ملګرو بندي کېدل او کړول يې د ځان لپاره بد شګوم ګاڼه او نبي عظيمي ته يې لا ويلي وو چې د خاد رييس غلام فاروق «... يعقوبى بدون مشاورت من جنرالان وزارت دفاع را زنداني ساخته و به ازار و شکنجه برقى از انها اعتراف ميګيرد. اګر من از انها دفاع نکنم ساير قومندانان وجنرالان چګونه بالاى من اعتماد خواهند کرد.»(١٢)

د نجيب الله او تڼي د پخلاينې لپاره يو څه کوښښونه هم وشول، خو هغو مثبته نتيجه ورنکړه. محمود قارييف د نجيب الله نظامي مشاور هم په دې اړه کوښښ وکړ، خو دی وايي چې «در روند گفت و شنود هر يک ميکوشيدند حقانيت خود را با ثبات برسانند و طرف ديگر را به کليه گناهان متهم سازند.»[۱۳] د محمد حسن شرق په وينا ورانتسوف چې په دغه وخت کې په کابل کې د شوروي اتحاد سفير و، هم په دې اړه کوښښ وکړ، خو دی د هغه په اړه شکمن و او وايي چې هغه سخت علاقمن و، چې له مجاهدانو سره جنګ شديد شي. د نجيب الله ولسمشري دوام وکړي، پوخ منحل شي او قومي مليشياوې نورې هم پياوړې شي، نو ځکه د شرق په فکر «... با تمام مساعی که مشاورين شوروی در ظاهر امر بوحدت حزب داشتند، به تکرار شنيده ميشد که جناح خلق و پرچم را مشاورين به حمله مسلحانه، و يا دفاع از طرف متقابل... تشويق ميکردند.»[۱۴] د نجيب الله مشاور محمود قارييف هم همدغه نظر وړاندې کوي او وايي چې «... عده ای از نظاميان و ديپلوماتان شوروي در کابل گمان ميزدند که سناربوی کودتا را کګب در مسکو نګاشته بود. اين سناريوي از يک سو کګب تڼی را به کودتا و از سوی ديګر پنهانی نجيب را برای سرکوب آن از پيش اماده گردانيده بود.» خو دی دا هم وايي چې د ک. ج. ب يوه پخواني چارواکي شبرشين دغه اوازه بې بنسټه ګڼله.[۱۵] لکه چې زر به وليدل شي اقبال وزيري هم د قارييف پر شان نظر وړاندې کوي.

د سولې د يقيني کولو بل حرکت د صالح محمد په مخکښۍ د خلقي لويانو له خوا پيل شوی و. دوی چې دغه نظام په اصل کې د خلقي

کودتا محصول باله، ساتنه يې هم خپل مسؤليت ګڼله. دوی د شوروي پوځ له وتلو نه وروسته په دې لټه کې شول، چې په ګوند او نظام کې اساسي مقامونه خپل کړي، يا لږ تر لږه له دغه اوسني حال نه ځانونه بېرون کړي.

په دغه وخت کې پوځ د جنرال شهنواز تڼي په وزيري د خلقيانو غټ ځواک و. د بګرام هوايي قوه هم د دوی تر لاس لاندې وه. نجيب الله لکه چې دمخه ويل شوي، جمهوري ګارډ، خاد يا واد او قومي مليشيا پياوړې کړې او شوروي اتحاد دهغه د نظام او سياست پلوی و، خو چارواکو يې په کابل کې په ظاهر کې له خلقيانو سره خواخوږي ښووله. د نجيب الله او تڼي ترمينځ مخالفت دغه وخت عام شوی او دواړو د يوه بل په وړاندې تياری او احضارات نيولي وو. د دې مانا دا کېده چې په دغه حال کې د ناڅاپي کودتايي عمل لپاره وضع ښه نه وه. اميني خلقيان چې نوي له محبس نه ازاد شوي وو، له تڼي سره نه وو او د هغه تکيه يوازې په زرغوني خلقيانو وه، چې ډېر نوميالي يې ميرصاحب کاروال، نيازمحمد مومند او په نظاميانو کې ګلابزوی (په مسکو کې سفير)، جنرال قادر اکا او نور جنرالان وو. د کورنيو چارو وزير اسلم وطنجار که څه هم په اصل کې زرغوني خلقی و، د نجيب الله پر خوا او د تڼکر مخالف و، خو دغو خلقيانو د حفيظ الله امين پر شان دراک، پياوړی او نوښتګر مشر نه لاره. دوی مجبور وو د دفاع وزير تڼي تر شاودرېږي، خو هغه چې يو زړور مسلکي نظامي افسر و، سياسي مشر نه و، سره له دې هم د زېري په وينا په دغو خلقي لويانو کې نظر دا و، چې نجيب الله دې په نظامي عمل يانې کودتا سره نسکور شي. د

شوروي د پوځ په نه شته توب کې دوی دغه عمل کېدونکی ګاڼه. په یوه روایت تڼي لا دمخه، که جلال اباد د تنظیمونو لاس ته ورغلی وای، په کودتا لاس پورې کاووه. په هر حال د زېري په وینا ده خپل ملګري قانع کړل، چې د دغو اختلافاتو د له مینځ نه وړلو لپاره لازمه ده، چې د ګوند کانګره وبلله شي، چې شل کاله کېږي نه ده بلل شوې. دی دا هم وایي چې کارملیان د دې لپاره چې اختلافات شدید کړي د «... د کنګرې د دایرولو سره سر نښوروه [او] د کنګرې دایرول ورو ورو د ګوند د اکثریت غوښتنه شوه.»(۱۶) خو پر دې سربېره چې په دغسې کړکېچن حال کې د کانګرې رابلل عملي نه و، نجیب الله د هغې په رابللو کې خپل مقام ته خطر لیده. خو یو څو خلقي لویانو د زېري په مخکښې او د غلام دستګیر پنجشېري په ګډون د حوت په ۱۵ مه له نجیب الله سره په ارګ کې ولیدل، خو د دوی خبرې د ګیلو او د احتمالي ټکر د مخنیوي په هکله په ښې هوا کې وشوې او د کانګرې په اړه بحث هم ونه شو.

اقبال وزیري لکه چې دمخه یا ده شوې، د تڼي کودتا په اصل کې د ک. ج. ب ابتکار بولي. دی وایي چې شورویان په تېره جنرال ګروموف په دې نظر و، چې د شوروي پوځ په وتلو سره د خلق او پرچم ګوندګیو ترمینځ ټکر کېدونکی دی او دوی یو ځل بیا د هغې د واقعي کولو لپاره غلام دستګیر ته دنده وسپارله او «دستګیر پنجشېری، صالح محمد زېری، نیاز محمد مومند، شهنواز تڼی او یو شمېر نورو کسانو خلقي افسران یوې بې نتیجې کودتا ته وهڅول.» له ټکر نه موخه دا وه، چې خلقي پوځ کمزوری شي، د ملګرو ملتونو پروګرام شنډ شي، د نجیب

حکومت ناتوان او بیا نسکور شي او دولتي واک کارملیانو او شمالي ټلوالې او نورو ته انتقال شي او شمالي سیمې له افغانستان څخه بېلې او د شوروي اتحاد تر دایمي نفوذ لاندې شي.[۱۷]

د زېري او نجیب الله له لیدنې نه یوه ورځ وروسته (حوت ۱۶، ۱۳۶۸-مارچ ۶، ۱۹۹۰) پر کابل ښار باندې بمونه وغورځېدل او هغه د نظامي عمل شروع شوه، چې د جنرال تڼي په کودتا یاده شوې ده. خو په دې اړه دوه متضاد روایتونه دي، د نجیب الله د پلویانو په نظر دا د تڼي کودتا وه، چې د بګرام له هوایي ډګر نه یې پرې پیل وکړ، خو په دې هکله چې ما له درې کسانو سره په ټیلیفون کې مرکې وکړې، چې دوی هغه وخت په کابل کې وو او اوس دوه یې په امریکې او یو یې په اروپا کې ژوند کوي، وایي چې دغه کودتا د تڼي ابتکار نه و، بلکې هغه پر هغه تحمیل شوی و، وروستی راوي په ه غه وخت کې په ډېره لوړه سویه دولتي چارواکی و، په هغو دوو راویانو کې یو یې وایي چې په دغه وخت کې تڼی چېرته په خیرخانه کې و، او چې د ملي دفاع پر ماڼۍ د نجیب الله ځواکونو حمله وکړه، دی له خیر خانې نه بګرام ته لاړ او ځوابي عملیات یې پیل کړل. یو راوي یې دا هم وایي چې دولتي واک په دغه وخت کې د خاد یا واد په لاس کې و.

د نجیب الله د پلویانو په روایت جنرال تڼی د همدغې ورځې (مارچ ۶) په سهار له دارالامان څخه... د دفاع وزارت له مرکز نه په یوه ډېره لرونکي ټانک کې هلته په پټه تللی او د جنرال قادر اکا، نیازمحمد مومند او یو شمېر نورو جنرالانو په ملګرتوب یې قومندې مرکز تنظیم کړی و. په داسې حال کې چې په دفاع وزارت کې یې د قومندې چارې

د جنرال اصف شور په مشرۍ یو شمېر جنرالانو ته سپارلې وې، چې په هغو کې جنرال کبیر کارواني او جنرال جعفر سرتېری هم وو.

د همدغې ورځې د ماسپښین پر شاوخوا کې و، چې اول ارګ او بیا د پښتونستان واټ څلور لارې او بیا د میوند جادې لویدیځه برخه بمباري شوه او پر حکومتي او ګوندي ودانیو هم بمونه و غورزول شول. نجیب الله د بمبارۍ په پیل سره په داسې حال کې چې د ګلخانې په مانۍ کې د سیاسي بیورو د غونډې مشري کوله ځان «... به دفتر ریاست جمهوري... رسانید و محل قومنده که در عمق زیاد زیرزمینی تعمیر مذکور مجهز با وسایل مخابراتی ساخته شده بود، شتافت و قومنده عملیات ضد کودتا را بدست ګرفت که یک تعداد جنرال های اردو اورا کمک میکردند.»(۱۸) عجبه ده چې نبي عظیمي هم وایي چې «... شدت بمباردمان مرا مجبور ساخت که در محل قومنده زیرزمینی ګارنیزیون کابل بروم و از انجا به بعضی از قطعات... و فرقه ۸ و سایر قطعات و جز و تام های ګارنیزیون وظیفه بدهم تا با استفاده از اسلحه دست داشته وس سلاح های دافع هوایی خویش بمقابل طیارات فیر نمایند.»(۱۹) دی دا هم وایي چې «از طرف دیګر رفیع، وطنجار و یعقوبی محل قومنده دیګر را بوجود اورده و به جمعه اځک وظیفه سپرده بودند تا طیارات مقرزه هوایي میدان هوایی مزار به پرواز در امده و میدان بګرام را تحت ضربات قرار داده فلج نماید.» په شپه کې هم پر بګرام ډګر باندې بمونه وغورزول شول او رن وې یې ورانه شوه. کودتا یې الوتکې بیا مجبورې شوې، چې پر کابل باندې د هوا ضد ډول ډول وسلو له امله له ډېرې وچتې فاصلې نه بمونه وغورځوي. په

دغه ډول دغو الوتکو خپل هدفونه په دقیق ډول وهلی نه شول. په کابل ښار کې جمهوري ګارډونه هم په مهمو ځایونو کې ځای پر ځای شول او تڼي پلوه پلیوو قطعو پرمختګ کولی ونه شو. له دغو روایتونو نه واضحه ده چې دوی د عملیاتو لپاره د یوه سنجول شوي پروګرام له مخې دمخه ترتیبات نیولي وو. شروع به یې هم دوی کړې او جنرال تڼی به یې مجبور کړی وي، چې دفاع وکړي او ناکام شي.

د ودان په وینا «... قرارګاه وزارت دفاع پیوسته با دکتور نجیب الله تماس تلیفونی برقرار نموده او را به تسلیم شدن... فرا میخواند. فقط صبح روز ۱۷ حوت جنګ فروکش نموده قطعاتیکه به حمله بالای وزارت دفاع موظف شده بودند، موفق شدند در قصر دارالامان نفوذ نمایند... بعداً معلوم شد که اعضای قرارګاه مذکور موفق شده بودند با یک تعداد افراد مسلح از عقب تعمیر در وزارت دفاع جانب ریشخور فرار نمایند. در جریان فرار با یک قطعه برخورد نموده کشته شدند.» دی دا هم وایي چې «جنرال شهنواز تنی و دیګر همکاران امر بعد از تنګ شدن حلقه محاصره میدان هوایی بګرام آتش ګرفتن و انفجار دیپوی میدان هوایی و قطع ارتباط شان با محل قومنده وزارت دفاع از پیروزی خود مایوس[و] بوسیله طیاره به پاکستان فرار نمودند.»[۲۰]

د کودتا ناکامي په دغومره لنډه موده کې (یوه نیمه یا دوه ورځې) عجبه نه ښکاري ځکه چې د نجیب الله په وینا دی او ملګري یې پوهېدل چې تڼی کودتا کوي او د مخالفو روایتونو له مخې تڼي د کودتا پر وړاندې تیاری نه درلود او دغه عمل پرې تحمیل شوی و.

په کابل کې عظیمي او ملګرو یې پرله پسې تبلیغ کاووه، چې دا د

تڼي- ګلبدين كودتا وه، بې له دې چې په هكله يې شواهد وښودل شي. نيازمحمد مومند دغه تبليغ بې بنسټه ګڼي او په پېښور كې يې له فقيرمحمد ودان سره په مركې كې ويلي وو، چې «امكانات پيروزی ما محدود و سر انجام مايوس ګرديديم، تصميم ګرفتيم توسط طياره به اتحاد شوروي برويم، مقامات شوروی معذرت خواستند... بناءً برای ما دو راه باقی مانده بود، ماندن در افغانستان كه مرګ حتمی ما را در قبال داشت و فرار به پاكستان كه در آن چانس زنده ماندن را تصور مينموديم. بنا بر همين ملحوظ به پاكستان آمديم. در ميدان هوايی منسوبين آیاس‌آی ما را... به حزب اسلامي حكمتيار تسليم كردند. ما درګذشته و هم بعد از پناه اوردن به پاكستان با حكمتيار تفاهم نداشتيم و نداريم.»[۲۱] اقبال وزيري هم د پاچاګل وفادار له قول نه وايي چې حكمتيار په پېښور كې وغوښتل چې له تڼي سره اړيكې ولري او ده د هغه يو ليک تڼي ته واستوه «تڼي يوازې يوه يا دوې ورځې د كودتا دمخه د ګلبدين له خوا ليک ترلاسه كړ او پخوا يې د هغه سره اړيكې نه درلودې.»[۲۲]

سره له دې هم د كابل تبليغ عام ذهنيت د دوی پرضد وپاروه، له دغه تبليغ نه پرته هم دغه كودتا يوه ستره غميزه وه، خلک پكې ووژل شول، كابل ډېر وران شو او پايلې يې د هېواد او هېوادوالو لپاره درنې وې. سمله لاسه يو شمېر جنرالان او افسران ووژل شول او په سوونو نور افسران او ملكي ګوندیان بندي شول. ملي سياست او چلند نور هم قطبي شو او سياسي ډلې نورې هم سره ترخې شوې. د انديښنې وړ ټكی دا دی چې دغه كودتا او د هغې دفع د تش په نامه جنرالانو كار و او

دغومره ډېرو جنرالانو پکې برخه اخیستې وه، چې په بلې کودتا کې په دغه شمېر جنرالانو برخه نه وه اخیستې، په داسې حال کې چې د دوی اصلي وظیفه دا وه چې خلک او وطن وساتي نه دا چې کودتا وکړي، خلک ووژني او وطن وران کړي، هغه هم د قدرت په لوبه کې. په دغې کودتا سره دوی ثابته کړه، چې دوی د سیاست او حکومت کولو خلک نه دي او د سیاست او قدرت په لوبه کې د نورو له خوا استعمالېږي هم. هو دوی د عصري پوځ د منتظمانو په توګه د دې توان لري، چې غوڅ عمل یا کودتا وکړي او واک ترلاسه کړي، خو د واک چلولو او حکومت کولو وړتیا نه لري. له همدې امله به وي، چې په لویدیځو هېوادونو کې برحال یانې په رسمي یونیفورم کې نظامیان عملي سیاست نه کوي، خو د مدني فردونو پر شان په انتخاباتو کې رایه ورکوي.

د کودتا په نتیجه کې د قوت توازن هم تغیر وکړ، د لومړي ځل لپاره په پوځ کې پرچمي پله درنه شوه او نجیب الله او ملګرو یې له خلقیانو نه په انتقام اخیستلو پیل وکړ، که څه هم وطنجار د دفاع وزیر او راز محمد پکتین د کورنیو چارو وزیر شول. د محمد حسن شرق په وینا «... برای خاموش نګاه داشتن خلقی ها و تجزیه اردو تقریباً سه هزار از اعضای جناح خلق از اردو و دوایر ملکی و حزبی های حرفوی به زنجیر کشانیده شده به محبس فرستاده شدند.» پر دې سربېره قومي ملیشیاوې نورې هم پیاوړې شولې، بیا هم د شرق په وینا «... بعد از تصفیه و تضعیف و پاشان نمودن اردو تحت نام طرفداران تنی قومندان های قومی سمت شمال و ولایت هرات را تا ګلون مسلح و تا فرق به پول غرق کردند و روابط مستقیم قوت های قومی... به ایالت

ها [جمهوریت های] اتحاد شوروی تحت امر داکتر نجیب تامین نموده و زمینه رفت و آمد آن ها را بدون پاسپورت به اتحاد شوروی مهیا کردند.»[۲۳] په دغو تغیرونو سره نجیب الله په واقع کې د ببرک کارمل ډله پیاوړې کړه، چې وروسته یې په خپله دی هم له مقام نه کوز کړ.

پر تنې باندې له لاس بري نه څه باندې یو کال وروسته نجیب الله ته یو لړ ستونزې پیښې شوې، چې په پای کې یې دی له قوت نه وغورځاووه. مجاهدانو د ۱۹۹۱ کال د مارچ په ۳۱مه د پکتیا خوست فرقه او د جون په ۲۱مه د تخار ولایت د خوجه غار پوځي واحد ونیو او یو شمېر پوځیان یې له مینځ نه یووړل. د همدغه کال په اګست کې و، چې د ګورباچوف پر ضد د ک. ج. ب سروال ګریچکوف په مشرۍ سخت دریځو په کودتا لاس پورې کړ، کودتا زر شنډه شوه، خو د همدغو سخت دریځو له خوا کارمل چې دمخه مسکو ته تبعید شوی و، کابل ته ولېږل شو او هغه هلته خپل ګوندي پلویان د نجیب ا لله پر ضد فعالیتونو ته وهڅول. په دغه فکر چې دوی بیا قدرت ته رسول کېږي. د نجیب الله بله ستونزه لا غټه وه او هغه دا چې د امریکې او شوروي اتحاد د باندنیو چارو وزیرانو د سپټمبر په ۱۳مه سره موافقه وکړه، چې حکومتونه به یې د نوي کال له پیل نه افغان مجاهدانو او کابل حکومت ته وسلې نه ورکوي. شوروي اتحاد تر دغه وخته هره میاشت د ۲۵۰ او ۳۰۰ ملیون ډالرو په ارزښت وسلې ور رسولې. زر وروسته نجیب الله خپل یوازنی باندنی مرستندوی حکومت هم له لاسه ورکړ، لکه چې دمخه ویل شوي، د همدغه کال (۱۹۹۱) د ډسمبر په ۲۵مه پر

افغانستان باندې د شوروي اتحاد له يرغل نه پوره ۱۲ کاله وروسته په خپله شوروي اتحاد پنځلس ټوټې شو او هره يوه يې خپلواکه ولسمشري شوه او د فيډرالي روسيې ولسمشر د نجيب الله په حکومت مرسته پوره بنده کړه. وروسته د يلسن حکومت چارواکو د نجيب الله پر مخالفت عمل کاووه، شايد له دې امله چې هغه د هغو هغه توطيه شنله کړې وه، چې د شوروي اتحاد چارواکو د افغانستان د شمال په اړه په خاص مهارت پرمخ بيوله.

دا هغه وخت و، چې د سرمنشي ځانګړي استازي بينان سيوان د افغانستان په موضوع کې له ټولو ښکيلو خواوو سره موافقه کړې وه، چې د ۱۹۹۲ کال د اپرېل په ۲۸ مه به د قدرت لېږد عملي کېږي. په دې دول چې لومړی به پنځلس کسيز کميسيون ته واک ورکول کېږي او هغه به بيا له هغې نېټې نه ۴۵ ورځې وروسته د ۱۵۰ مجاهدانو، قومندانانو او نفوذمنو افغانانو نه د ملګرو ملتونو تر سيوري لاندې په ژنيو يا انقره کې يوه جرګه جوړوي، د دې لپاره چې هغه يو انتقالي يا موقتي حکومت پر پښو دروي. نجيب الله لا د مارچ په ۱۸ مه د بينان سيوان په سپارښتنه په رسمي ډول منلې او څرګنده کړې وه، چې د دغه کميسيون په جوړېدلو سره به له ولسمشرۍ څخه ځان ګوښه کړي. د ده دغه قرباني د افغانستان په تاريخ کې سارى نه لري. په دې ډول نجيب الله د انتقالي حکومت د جوړېدلو په مخ کې اخري غټ خنډ له مينځ نه يووړ، چې له امله يې په افغانستان کې او هم د باندې وستايل شو. خو کارملي ګونديان د خپلې راتلوکې په اړه په ژور ډول اندېښمن شول. بيا نو پخوا له دې چې د بينان سيوان د دغه پنځه فقره ييز تجويز په عملي

کېدلو پیل وشي. په مزار کې د نجیب الله پر ضد د شمال ایتلاف په نامه یوه دسیسه عملي شوه، چې په هغې سره نجیب الله دواک له څوکۍ نه وغورزول شو او د بینان سیوان تجویز یوازې د کاغذ پرمخ پاتې شو.[۲۴]

# د نجیب الله د واکمنۍ پای

د جنرال تڼي په پرار او د خلقیانو په ځپلو سره پرچمیان په حکومت او ګوند کې د لومړي ځل لپاره یوازني لوبغاړي شول. کارمل که څه هم په دغه وخت کې رسمي او ګوندي مقام نه لاره، پر ګوندیانو باندې یې تر هر بل ګوندي نه نفوذ ډېر و او هغوی هم ورته د مشر په سترګه کتل او درناوی یې کاووه. خو دی او پلویان یې د نجیب الله د پخلاینې له سیاست او نورو سمونونو سره نه یوازې وران وو، کارمل هغه خپل رقیب ګاڼه، چې د ګورباچوف په قوت یې د ده مقامونه نیولي وو، کارمل چې تر دغه وخته یې خپل رقیبان په چل او دسیسو سره له خپلې مخې نه لېرې کړي، یا د مرګ پنچو ته سپارلی و، کوښښ کاووه چې نجیب الله هم له تخت نه کوز کړي، خو په څه ډول؟ دغه عمل ته به هم کودتا وویله شي، که څه هم په هغې سره د نجیب حکومت په نظامي عمل سره سمله لاسه نه، بلکې په چل او ول سره چپه شو. د نجیب الله په وړاندې بریالۍ کودتا د کارملیانو وه، چې لومړني کارونه یې ستر جنرال نبي عظیمي په مهارت سره ترسره کړي وو. دی ټینګ کارملی و، خو په ظاهر کې یې له نجیب الله سره همکاري او د هغه پلوي کوله. د پوځ وزیر اسلم وطنجار او د کورنیو چارو وزیر رازمحمد پکتین و، چې دواړه یې زرغوني خلقیان وو. خو دا عظیمي و، چې په

پوځي چارو کې تر هغو نه ډېر د تجربې او نفوذ خاوند و. پر دې سربېره دغو وزیرانو د خاد یا واد په وړاندې چې د کارملي خادستانو له خوا چلول کېده، څه نه شو کولی، که څه هم سروال یې یعقوبي د نجیب الله پلوی و. د پوځ نوی درستیز جنرال آصف دلاور و، چې نجیب الله د عظیمي په سپارښتنه پر دغه مقام ګمارلی و، خو هغه هم کارملي و. رسمي ګوند هم چې نجیب الله دوطن ګوند په نوم یاد کړی و، هم تر ډېر حده د کارملیانو تر نفوذ لاندې و او کارملیانو چې د خلقیانو تر ځپل کېدلو پورې د مصلحت له مخې د پښتون نجیب الله ملاتړي کوله، په دغه وخت کې یې د پخوا پر شان د کارمل خوا په ټینګه ونیوله.

د کارملیانو کودتا دوه دغسې اړخونه هم لرل، چې د افغانستان بشپړتیا ته خطرناک کېدلی شو، د کارملیانو په تېره د نبي عظیمي او یو څو ستمیانو په هڅونې او دسیسې سره د ازبکي ملیشیا سروال جنرال عبدالرشید دوستم په سروالۍ د افغانستان مرکزي حکومت له پښو نه وغورځاووه. بله دا چې د دغې کودتا په پوره سرته رسېدلو سره له هندوکش نه اخوا سیمې د شورویانو د تجویز له مخې د روسانو تر دایمي نفوذ لاندې کېدلې، چې پای یې د افغانستان دوه ټوټې کېدل کېدلی شو. د دغو لنډپارو دغه دسیسه د دوی په ناکامۍ سره د تنظیمي حکومت له خوا شنډه شوه، خو ورسره د بینان سیوان طرح هم له منځ نه لاړه.

مولف فقیر محمد ودان د نجیب الله له قول نه وایي چې په مزار کې د روسیې قونسل یو ځای بل ځای دغومره ډېر سفرونه کول، چې

کابل يې اندېښمن کړی و. نجيب الله په دې اړه د روسيې سفير ته اخطار ورکړ، چې له دغه عمل نه لاس واخلي. په عين حال کې د حارث شاه په نامه د دوشنبه اطلاعاتو رييس چې په بلخ کې يې د مشاور په توګه کار کاووه، او له نظامي او ملکي چارو سره بلد و، د شمال ايتلاف له مشرانو سره د ارتباطي غړي پر شان فعال و. په دغه وخت کې چې دوستم په کابل کې و، نجيب الله يې په وار وار له خپل اخلاص او وفا نه ډاډه کاووه او په عين حال کې يې شبرغان ته د تګ اجازه غوښتله. نجيب الله پر هغه اعتماد نه کاووه، خو په پای کې يې هغه ته «...در اثر وساطت عده ای از اعضای بيروی سياسی حزب وطن» شبرغان ته د تللو اجازه ورکړه، خو دی چې جوزجان ته ورسېد، د حيرتان د لوا ياغي قومندان جنرال عبدالمومن خوا يې ونيوله، چې وروستی لا دمخه د فريد مزدک په تليفوني دستور له دېنه سر غړولی و، چې کابل ته لاړ شي. د حيرتان بندر مهم و، په دې چې د هغه له لارې له شوروي اتحاد نه د اړتيا وړ ځيزونه کابل ته رسېدل. د دوستم بله غوښتنه دا وه، چې جنرال اڅک او نور نظامي قومندانان دې له مزار نه کابل ته وغوښتل شي، په داسې حال کې چې دوی ټول د مرکزي حکومت ټينګ پلويان او د غوڅ عمل خاوندان وو او دوستم يې د وطن بشپړتيا ته خطر باله. سره له دې هم نجيب الله د ګوند د اجراييې شورا په وړانديز همدغسې وکړل، خو له دوستم نه يې هم وغوښتل چې کابل ته راشي، خو دوستم له دغه امر نه سر وغړاوه او په تليفون کې يې د دولت سروال ته وويل چې «کلان های ما در کابل است، شما با انها صحبت کنيد.» هغه بيا خپل لويان محمود بريالی (د کارمل

وروړ)، نجم ا لدین کاویاني، فرید احمد مزدک او سید اکرام پیګیر وښودل. زر وروسته دوستم له نجیب الله نه دا هم وغوښتل چې «... ولایات شمالي افغانستان را بحیث فیدریشن در جمهوری افغانستان به رسمیت شناخته ان را اعلان نماید.»(۲۵) دغه غوښتنه د شمالي افغانستان په اړه د شورویانو له تجویز سره اړخ لګاووه، چې د افغانستان د دوه ټوټه کېدلو پیلامه کېدلی شوه. دغه پېښه د دوستم او مومن یاغي توب په ډاګه کوي. هغه دا هم ښیي چې دوی لکه چې ودان وایي د «ستون پنجم» ځینو کسانو دغه کار ته هڅولي وو. دوی دواړه دغسې کسان نه وو، چې له کوم قوي ملاتړ او هڅونکي نه پرته یاغي توب ته ملا وتړي. دغو «کلان ها» کولی شول، دوستم له یاغي توب نه واړوي خو هغو دا کار ونه کړ. نجیب الله د امنیت د خوندي کولو لپاره جنرال اڅک له دوه نورو جنرالانو او ځینو نظامي واحدونو سره بېرته مزار ته واستوه، خو د ګوند د مرکزي شورا په اجرایوي ډله کې «توطیه کوونکو» نجیب الله ته وویل چې په دغه وخت کې چې د بینان سیوان پلان د عملي کېدلو درشل ته رسېدلی په مزار کې به نظامي عملیات د هغه په مخ کې خنډ شي او که نبي عظیمي هغې خواته ولېږل شي، دوستم به د فیدریشن له غوښتنې نه تېر شي. دغه نظر ومنل شو، په عین حال کې یو ځانګړی کمیسیون د سلیمان لایق په سروالۍ د نجم الدین کاویاني، فرید احمد مزدک، انجینر نظر محمد او محمود بریالي او نورو په غړیتوب وګمارل شو، چې په شمال او نورو ولایتونو کې اوسنۍ وضع د بینان سیوان تر پلي کېدلو پورې خوندي وساتي. جنرال اڅک او نور بېرته کابل ته وغوښتل شول او ستر جنرال نبي عظیمي د

۱۹۹۱ د مارچ په میاشت کې مزار ته ولېږل شو.[۲۶]

په مزار کې د نظام او ګوند د لوړ چارواکي او د دولتمشر نجیب الله د ځانګړي ا ستازي په توګه د نبي عظیمي وظیفه دا وه، چې دی هلته هغه څه وکړي، چې په هغو سره د رجیم سست شوي لینګي ټینګ او ارامي خوندي او یقیني شي. خو هغه هلته په خاص مهارت سره د دوستم ملیشاوو ته ممکنه کړه، چې مزار ونیسي او ورپسې کابل ته ځان ورسوي او د امنیت په ګډوډولو کې یې برخه واخلي. د دغو پېښو په اړه د فقیر محمد ودان او نبي عظیمي ته منسوبه د اردو او سیاست لیکنه د لومړي لاس لیکنو پر شان خاص اهمیت لري، خو هغه د اساسي موضوع ګانو په اړه د یوه او بل پر ضد دي. د بېلګې په ډول عظیمي وایي چې نجیب الله په ټیلفون کې ورته وویل چې «من به جنرال دوستم وظیفه دادم که با قطعات نظامی خویش [از شبرغان] فردا وارد مزار شود.» عظیمي بیا خپله دغه وینا په خپله ژبه په دې ډول بیانوي، چې «نجیب شخصاً امر داده است که فرقه ۵۳ بدون کدام مانع و رادعی به مزار شریف مواصلت کند و آن شهر بیدفاع را تسلیم شوند.»[۲۷] دا وروسته له هغه و، چې عظیمي له جنرال اشک څخه د ټولو حکومتي قطعو قومندانې ترلاسه کړې وه. ودان د عظیمي پر خلاف وایي چې دا په خپله دی و، چې دوستم یې د مزار ښار په نیولو مامور کړ، په دغه ډول چې «...در تفاهم با سید اکرام پیګیر، با جنرال دوستم تماس ګرفته اورا به مزار شریف دعوت کرده بود و جنرال دوستم با قوای خود بطرف مزار شریف حرکت نموده فرقه ۱۸ را خلع سلاح و قدوم خویش را به مزار شریف به اطلاع (ستر جنرال) رسانید. بعد از

ان قـوت هـای مشـترک دوسـتم شـورای نظـار و سـایر قومنـدان هاییکـه بعدها در (جنبش ملی اسلامی افغانستان) شامل شدند، بدون هیچ نوع مقاومت داخل شـهر مـزار گردیدنـد. آنهـا قـوای مسـلح دولـت را خلـع سـلاح و کنتـرول شـهر را بتـاریخ ۲۴حـوت ۱۳۷۰ (۴مـارچ ۱۹۹۲) بدست گرفتند.» ودان دا هم وایـي چې هغـو «بـه تعقیـب آن حاکمیـت دولـت را در ولایـات فاریـاب، سـرپل، سـمنگان تعـویض و در ولایـت بغلان حاکمیـت فامیـل سـید کیـان تحکـیم بخشـیده شـد.»[۲۸] د مـزار وروستۍ پیښې او د پورته یاد شویو ډلـو تـرمینځ اتحـاد او لـه هغـو نـه د سیاسي او نظامي شـوراګانو ترکیـب د ودان لیکنـه تاییـدوي. د عظیمـي لیکنه په دې هم د اعتبار وړ نه ښـکاري، چې نجیـب اللـه بـه ولـې هغـه څوک د مزار ښار په نیولو مامور کړي چې د یاغي توب لار یې نیولې او د عظیمـي د لیکنـې لـه مخې زړه نـا زړه و چې لـه نجیـب اللـه سره پـه تیلفون کې وغږېږي، پـر دې سـربېره نجیـب اللـه بـه ولـې د یـوې قـومي ملیشـیا سـروال مـامور کـړي، چې هغـه ښـار ونیسـي، چې د حکـومتي ځواکونو په لاس کې و. سره له دې هم عظیمـي حکـم کـوي، چې هغـه دغه کار وکړ او دا چې هغه «غولېدلی» و. واقعیت دا دی چې نجیب الله مزار ته د ده په مامور کولو سره تېر وتلی و او هغه هلته د خپلې وظیفـې له مخې کوم مهم کار هم ونه کړ او لکه چې زر به ولیـدل شـي، کابـل تـه ناکام ستون شـو. ده لا هلتـه هغـه حکـومتي لوړچـارواکي لکـه د اردو د سیاسي چارو آمر ماڼوکی منګـل او جنـرال جمعـه اڅـک او تـاج محمـد اڅک او نور چې کوښښ یې کاووه پـه مـزار او نـورو سـیمو کـې امنیـت ټینګ کړي، په دغسې لفظونو یاد کړي لکه یو څوک چې په دغسې کلمو

سره نازي فاشستان يادوي. لا مهمه دا ده چې نبي عظيمي په مزار کې توطيه کوونکی په خپل حال پرېښوول چې له هغه ولايت نه کابل ته خطر متوجه کړي، چې دا په افغانستان کې يوه ډېره بېساري پېښه ده. دغه خطر د نالوستي دوستم په سروالۍ د ګلم جم د مليشياوو له خوا و، چې عظيمي هغه په دغو الفاظو ستايلی دی. «جنرال دوستم و قطعات تحت امر وی در تمام مدت انقلاب، خاصتاً در دفاع مستقلانه يکی از بزرګترين و نيرومند ترين جز و تام های بزرګ قوای مسلح افغانستان شمرده شده، نقش قاطعی را در دفاع از تماميت ارضی و استقلال ملی کشور بازی کرده بمثابه ستون فقران اردوی افغانستان شمرده ميشود.»[۲۹] دا هغه جنرال و، چې ستر جنرال عظيمي ته يې د اخطار په ډول ويلي وو، چې نجيب الله دې مانوکی منګل، جمعه اڅک، رسولي او تاج محمد کابل ته وغواړي او «اګر دست به سلاح برده شود چنان آتشی درخواهد ګرفت که هيچ کس پيش روی آن را ګرفته نخواهد توانست.» د رسمي ګوند مرستيال فريدمزدک هم عظيمي ته همدغسې ويلي وو: «در مزار چنان آتشی برپا کنيم که خشک و تر را بسوزاند.»[۳۰]

دوستم او مزدک به پر دغه ستر جنرال ډاډه وو، چې هغه ته يې خپل دغه خطرناک رازونه ښکاره کړل، که څه هم دی د خپل رجيم لوړچارواکی او د دولتمشر ځانګړی استازی او په دې مامور و، چې په دغه حساس وخت کې په مزار کې د امنيت ورانوونکو مخه ونيسي. د همدغه اعتماد له امله و، چې دوستم ترېنه وغوښتل چې د نوروز په ورځ (حمل ۱-۱۳۷۱-مارچ ۲۱-۱۹۹۲) «... علم را بالا کنيد.» او

ده د هغه امر پر ځای کړ، که څه هم د هغه په وینا دوستم «با وصف تیلفون های مکرر نجیب حاضر نه شد باوی صحبت کند.»[۳۱]

په دغه وخت کې په مزار او کابل کې پټې غونډې او فعالیتونه ډېر کېدل. نجیب الله لکه چې دمخه ویل شوي، چې د سیوان د پلان په تطبیق سره به د هېواد د ښېګڼې لپاره له خپل مقام نه ځان ګوښه کړي، خو «... وظیفه فعلی را تا هنگامی دوام میدهم که طرح ملل متحد تطبیق شود و حکومت موقت بوجود آید.»[۳۲] په رښتیا هم د موقتي حکومت تر راتللو پورې د دولت مشر په توګه د نجیب شته توب د بې امنیتۍ په وړاندې حتمی و، خو سره له دې هم په کابل کې کارملیانو او په مزار کې دوی ته اخلاصمنو قومي ملیشیاوو او نورو په دغه حساس وخت کې دغسې ورانی وکړ، چې د بینان سیوان د تجویز له مخې د موقتي حکومت رامینځ ته کېدل یې ناممکن کړل. د نجیب الله پخواني صدراعظم سلطان علي کشتمند هم په دغسې دسیسې کې بې برخې نه و. دی چې په دغه وخت کې په مسکو کې و، د مزار په سقوط سره د تاجکستان دوشنبه ښار ته واستول شو او هغه هلته «... بعد از دید و باز دید با عده ای از فعالین شامل توطیه که قبلاً در دوشنبه و تاشکند جمع شده بودند یک عده از گروپ مخالفین مذکور را به شمول برادرش اسدالله کشتمند و نجیب الله مسیر به شهر مزار فرستاد.» مسیر هغه څوک و، چې د کارمل په وخت کې د یوه فرعي حکومت یا د ودان په ژبه «شبهه حکومت» سروال و او هغه اوس «... در تحریک و سازماندهی بغاوت دوستم و تشکیل ایتلاف شمال نقش برجسته داشت.»[۳۳]

په مزار کې د جنډې د پورته کولو په ورځ د ودان په وینا دغو کسانو یوه پټه غونډه وکړه. عظیمي، قومندان احمدشاه مسعود، دوستم ازاد بېګ خان (د ازبکستان اوسېدونکی چې د ازبکانو د یو موټې کولو لپاره کار کاووه)، نجفي (د ایران د جاسوسی سازمان افسر)، عبدالعلي مزاري د اسلامي دعوت ګوند مشر. هدف دا و،چې نجیب الله له واک نه وغورزول شي او د دغه مقصد لپاره دوه کمېټې جوړې شوې. سیاسي کمېټه او نظامي کمېټه. سیاسي کمېټه به د احمدشاه مسعود، محمود بریالي، اکرام پیګیر، عبدالعلي مزاري او یو څو نورو په غړیتوب او نظامي کمېټه به له ۳۲ جنرالانو نه جوړه وي. د نبي عظیمي، اصف دلاور، دوستم، مومن، جعفر نادري، قسیم فهیم او نورو په ګډون، د سیاسي کمېټې سروال به ا حمدشاه مسعود او د نظامي کمېټې سروال به نبي عظیمي وي.[۳۴] د عظیمي روایت له دغه روایت نه توپیر لري. دی لیکي چې نظامي شورا د نجیب په سپارښتنه وه، چې دی یې د سروال په توګه وګماره، چې دی به د هغه (نجیب الله) له ګوښه کېدلو سره د کابل امنیت ساتي او بیا به قدرت د ملګرو ملتونو تر څارنې لاندې نوي حکومت ته سپاري.[۳۵] د دغې لیکنې مانا دا وه چې عظیمي به د نجیب الله پر ځای نوی حکومت یا پنځلس کسیز کمیسیون ته قدرت سپاري، حال دا چې دی د دولت سروال نه و، په هر حال د ودان لیکنه زما له هغې لیکنې سره سر خوري، چې ما هغه وخت د یوه اعتبار وړ شخص د اورېدې لاسي لیکنې له مخې کښلې، چې اول مې د مجاهد ولس په جریده کې خپره کړه او وروسته مې په خپل یوه انګرېزي اثر کې ونیوله، په نامه (د افغانستان- د شوروي یرغل او د افغانانو ځواب). ما

ليکلي وو چې «... د مارچ په ۲۲مه په يوې غونډې کې احمدشاه مسعود، دوستم، عبدالعلي مزاري او نبي عظيمي پرېکړه وکړه، چې نجيب الله دې نسکور شي او يو نوی حکومت دې پر پښو ودرول شي، چې مسعود به د دولت مشر، مزاري به صدراعظم او دوستم د دفاع وزير وي.[۳۶] خو د رزاق مامون په روايت قومندان احمدشاه مسعود په يادې غونډې کې ګډون نه لاره او قسيم فهيم يې د خپل استازي په توګه استولی و. دی له يادې غونډې نه هم نه غږېږي، خو وايي چې «... مذاکرات ميان قسيم فهيم، به نماينده ګی از احمدشاه مسعود، جنرال دوستم و منصور نادری و جنرال مومن صورت ګرفت.» دی دا هم وايي چې «... در سقوط مزار شريف، ميان شورای نظار و فرماندهان ناراضی شمال تفاهم قبلی وجود نداشت.» لا مهمه دا ده چې مامون د جنرال هلال له قول نه وايي چې احمدشاه مسعود په دې اړه په يوې ليدنې کې ورته ويلي وو، چې «... من اساساً طرفدار سقوط نظام درين مقطع زمانی نيستم. نه من توان رهبری و مديريت اين حوادث دراماتيک را در خود می بينم و رهبران هفت ګانه در پشاور پاکستان نيز ظرفيت رهبری افغانستان کنونی را ندارند.» مسعود ورته دا هم ويلي وو چې «من شخصاً برای انجام مسؤليت تاريخی درين وضعيت حساس دو هزار کدر ورزيده در اختيار ندارم.» په دغه حال کې د احمدشاه مسعود نظر دا و، چې «پلان پنج فقره ای ملل متحد را اګر بګذاريد تطبيق شود تا رسيدن زمان انتخابات به چيزهای زيادی دست خواهيم يافت.»[۳۷] په دې حساب د بينان سيوان د پلان او د هغه د تطبيق په اړه د قومندان مسعود او د نجيب الله نظر يو و. په هر حال د

مزار پټه غونډه غير عملي وه. ګډون کوونکي يې دغسې کسان نه وو، چې پر افغانستان باندې واک چلولي وشي، هغه هم په هغه حال کې چې د باندنيو په غونډه کې ګډون لاره. ډېره مهمه دا ده چې په دوی کې د يوه کس ژبه هم پښتو نه وه او اسلامي تنظيمونو د دوی حکومت نه منه. که دوی د کابل ښار هم نيولی وای، د ګډوډۍ او جنګ يوه بله دوره به شروع شوې وای. داسې ښکاري چې دوی ټولو فکر کاووه، چې په کابل کې وضع نوره هم ګډوډه کېږي، دا يوه عامه او واقعي اندېښنه هم وه او دوی بايد له دغې ګډوډۍ نه ګټه ترلاسه کړي او هغه سپکې او درنې وسلې ترلاسه کړي، چې هلته په ډېر مقدار شته وې او د دولتي شتمنيو په لوټولو سره خپلې ډلې پياوړې کړي او بيا به د قدرت په لوبه کې غټه برخه واخلي. دوی په رښتيا هم همدغسې وکړل.

نبي عظيمي په داسې حال کې چې په مزار کې يې د مجاهدانو له خوا د خطر احساس کاووه، د دوستم په مرسته په يوې الوتکې کې د حمل په ۴مه (مارچ ۲۵) ځان کابل ته ورسوه او هلته يې نجيب الله ته د خپل ماموريت د ناکامۍ او د شمال له سيمو نه د رجيم د لاس لنډېدلو راپور ورکړ. د راپور ورکولو په وخت کې يې د يوې بوډۍ پر شان ځان دغومره غمجن وښود، چې له سترګو نه يې اوښکې بهولې. دا هغه وخت و، چې د نجيب الله د ګوښه کېدلو خبر خلک اندېښمن کړي او کارمليانو په ګونديانو او نظاميانو کې د هغه پر ضد پارونې کولې. په کابل کې له دې وروسته پېښې چې ډېرې او ګړندۍ روانې وې، په ډول ډول بيان شوې دي، چې د هغو سم کښل يې ګران دي. په لنډ ډول نجيب الله هڅه کوله چې د کابل وضع ارامه وساتي او د دغه مقصد

لپاره له اطراف نه نظامي قطعې وغواړي. په دغه لړ کې یې هغه نظامي واحدونه چې مخکې یې مزار ته استولي وو، کابل ته وغوښتل، خو په دغه وخت کې د ګوند اجراییوی کمیسیون د محمود بریالي او سلیمان لایق په مخکښې د هغه په وړاندې د یوه اجراییوی قدرت پر شان عمل کاووه. په دوی کې ځینې لا د دسیسو په کولو کې تر هغه نه هم ماهر شوي وو، که څه هم دی کلونه کلونه د خاد سروال و، چې د دسیسو غټ مرکز و. ودان وایي چې «بالاخره اعضای کمیسیون به رییس جمهور پیشنهاد می نمایند که جنرال دوستم را قانع ساخته اند تا افراد قطعاتی را که قبلاً برای دفاع شهر مزار شریف فرستاده شده بودند (قعطاتیکه جنرال نبی عظیمی ان ها را بدون مقاومت به دوستم تسلیم نموده بود) و نزد دوستم اسیر اند دوباره ازاد و بکابل بفرستند. زیرا این افراد برای دفاع از شهر کابل ضرورت است بناءً برای انتقال آنها طیاره فرستاده شود. در نتیجه ۱۸ فروند طیاره جهت پرواز به مزار شریف موظف ګردید.»[۳۸] خو د اپریل په ۱۵مه ۱۹۹۲ (حمل ۲۶، ۱۳۷۱) د حکومتي قطعو پر ځای د دوستم ملیشیاوي د کابل په هوایي میدان کې ښکته شوې. عظیمي وایي چې د هغو لومړۍ ۶۰۰ کسیزه ډله له میدان نه چاراسیاب ته واستول شوه، خو بله اته سوه کسیزه ډله یې چې د شپې په نهو بجو ورسېده، د هغو د قومندان روزي په غوښتنه یوازې د یوې شپې تېرولو لپاره په میدان کې پرېښودل شوه. نور نو د ده په خپله ژبه «من فکر کردم که موجودیت آنها برای یک شب در میدان هوایی اشکال ندارد، قانع شدم و اجازه دادم.»[۳۹]

په دغه ډېر حساس وخت کې کابل ته د ګلم جم د ملیشیاوو بلل د

سلیم عقل پرخلاف کار و، هغه چا وغوښتلې؟ د ودان د لیکنې له مخې د رسمي ګوند د اجراییوي کمیسیون امر کړی و، چې هغه حکومتي قطعې دې کابل ته وغوښتلې شي، چې دمخه مزار ته استول شوې وې او هلته د دوستم تر کنټرول لاندې شوې وې، خو نبي عظیمي وایي چې نه، قضیه دغسې نه وه او په خپله نجیب الله هغه ته امر کړی و، چې د دوستم ملیشاوې کابل ته وغواړي، په دې ډول چې «...بنابر خواهش بیروی اجراییه حزب وطن، مخصوصاً بریالی اجازه دادم که جهت تقویه قوت های شهر کابل و مصونیت رفقا چار طیاره به مزار شریف بروند و جنرال دوستم با رفقا وعده کرده است که برای شان پرسونل بکابل بفرستند.» د عظیمي د لیکنې له مخې نجیب الله دا هم ورته ویلي وو، چې «... حینیکه سربازان مذکور بکابل رسیدند فوراً به محلات فرستاده شوند.»[۴۰] له «محلات» نه مراد چاراسیاب او له ښار نه د باندې نور ځایونه وو، خو عظیمي د هغه د امر پر خلاف هغو ته په هوایي میدان کې د پاتې کېدلو اجازه ورکړه او نجیب الله یې هم پرې خبر نه کړ.

دلته یو ځل بیا د ودان او عظیمي لیکنې سره ټکر کوي، خو د ودان لیکنه جنرال محمد اسحق توخي تاییدوي او د اعتبار وړ ګرځوي. دی چې د نجیب الله مرستیال او مشاور و، وروسته په یوې لیکنې کې ویلي چې «... بتاریخ ۲۶ حمل به هدایت محمود بریالی بدون اجازه رییس جمهور برحال و قومندان اعلی قوای مسلح افراد شورشي جنرال دوستم و شورای نظار را ذریعه طیاره به کابل انتقال داده و میدان هوایی پای تخت را در اشغال قرار دادند.»[۴۱] بل مهم ټکی دا دی چې دغو

ملیشیاوو د کابل هوایي میدان تر خپل کنټرول لاندې ونیوه او هلته یې په یوه ډول حکومت کولو پیل وکړ، ان تر دې چې لکه زر به ولیدل شي، چې د نجیب الله له امر نه یې هم سر وغړوه، په داسې حال کې چې له هغه غوښتل شوې وه، چې په کابل کې د چارواکو په هدایت امنیت ټینګ کړي، نه دا چې حکومت وکړي. د میدان امر هم د هغو مخه ونه نیوله، یا یې نیولی نه شوه. د مامون په نظر دوستم د مشری شخص نه و، خو دا نورې پېښې وې چې دی یې د سیاست ډګر ته هم و رکش کړ. بل مهم ټکی چې تر اوسه له نظر نه لوېدلی د کابل هوایي میدان ته د دغو ملیشیاوو په هغه ورځ راتګ دی، چې د ګوند اجراییوي کمیسیون کارملي غړي د نجیب الله په وړاندې خپله توطیه عملي کوي. دغه هم مهالتوب تصادفي نه بلکې تجویز شوی و. یوازې کوم ژمن کس یا پارتیزان به هغه په بل ډول وښيي، لکه ک. ج. ب چې افغانستان ته دخپل یرغلیز پوځ استولو ورځ او په هماغه ورځ د حفیظ الله امین وژنه او د هغه د حکومت نسکورېدل تصادفي اعلان کړې وه.

ودان په خپل دوهم اثر کې د ملیشیاوو راتګ او د نجیب الله پر ضد دسیسې برالا پیل په یوه ورځ د حمل ۲۵مه (اپرېل ۱۴) ښيي، چې هغه زما له لیکنې سره هم سر خوري، خو د عظیمي دغه نېټه د حمل ۲۷مه ده. زما او د توخي د لیکنې له مخې د کورنیو چارو وزیر رازمحمد پکتین نجیب الله د ملیشیاوو له راتګ نه خبروي، خو دی دغه نېټه د حوت ۲۶مه ښيي او لیکي چې «... در همان ساعتی که ملیشیه های شورشی دوستم ذریعه طیاره به کابل انتقال میشدند، نګارنده [توخی] هم به دفتر رییس جمهور حاضر بودم که رازمحمد پکتین از پیاده شدن

ملیشه های دوستم به رییس جمهور تیلفونی اطلاع داد و رییس جمهور از جنـرال عظیمـی، اصـف دلاور، لـوی درسـتیز و جنـرال عبـدالفتاح قومندان هوایی و مدافع هوایی تیلفونی پرسید که کی به انها اجازه داده است که وارد کابل شوند؟ رییس جمهور به جنرال های مـذکور هـدایت داد تا انهای را که فرود امده اند از میـدان خـارج و ورود بعـدی شـان را توقف دهند.»[۴۲]

نجیب الله به تر دغه وخته هم نـه پوهېـده چې دا هماغـه جنـرال و، چې د بریالي په مخکښې یې دغه ملیشاوې راغوښتې او دوی ټولـو د ده پر ضد عمل پیل کړی وو، چې تـوخي هغـه پـه دې ډول یـاد کـړی دی. «... جنرال عظیمي و همدستانش با بغاوت و ملیشه شمال همدسـت و هم پیمان و هم نظر بودند. بغاوتی که نه تنهـا منجـر بـه تخریـب عملیـه صـلح ملـل متحـد شـد، بلکـه کشـور را در حمـام خـون غوطـه ور ساخت.»[۴۳] په خپله نجیب الله هم دغه عمل توطیه او هغه د عظیمـي له خوا بولي لکه چې عظیمي په خپلې وروستۍ لیدنې کې د نجیب نـه د قول نقل کوي او وایي چې «رفیـق عظیمـی مـن از تـو و رفقایـت توقـع نداشم بمقابل من کودتا کنید.»[۴۴]

ودان د دغې کودتا وروسـتۍ صـحنه پـه دغـه ډول انځـوروي، چـې د حمل په ۲۶ مه (په بل اثـر کـې ۲۵ مـه) د وطـن ګونـد د مرکـزي شـورا د اجراییـوي هیئـت یـو شـمېر غـړي بریـالی، کاویـاني، مـزدک او وکیـل د نجیب الله اداري ته لاړل او ورتـه یـې وویـل،چې «قومنـدانان شـمال از جمله جنرال دوستم و احمدشاه مسعود که اکنون بر شـهر کابـل مسـلط اند بنا بر خصومت با شخص خودت نمیتواننـد موجودیـت را در مقـام

ریاست جمهوری تحمل کنند در حالیکه آنها با سایر رهبران حزبی و اعضای حزب کدام ضدیتی ندارند. با این حال باید [شما] از مقام ریاست جمهوری و دیگر مقام های حزبی و دولتی استعفا بدهید.»
نجیب الله ورته کړه چې په دغه وخت کې چې د بینان سیوان پلان عملي کېدلو ته نژدې شوی، د ده ګوښه کېدل به د مشرۍ تشه رامنځ ته کړي، چې نتیجه به یې د پلان ناکامي او په وطن کې نا ارامي وي، خو هغوی په خپلې غوښتنې ټینګ وو او ده بیا ورته وویل چې په دغه حال کې به دی خپله استعفا د ګوند مرکزي شورا یا لویې جرګې یا ولسي جرګې ته وړاندې کړي. د هغه په دغه ځواب سره وضع ترخه شوه او مزدک لا هغه وترټه په همدغه وخت کې و چې د نجیب الله د تیلفون او مخابرې سیستم له کار نه ولوېد او بریالي ورته اخطار ورکړ چې که غواړې ژوندی پاتې شې باید د دوی هغه لیکنه خلکو ته واوروې چې پکې ویل شوي وو، چې ده د شوروي پوځ افغانستان ته او د دوستم ملېشه کابل ته راغوښتې ده او دی اوس له دې امله له دوی نه بښنه غواړي او له ولسمشرۍ نه استعفا کوي. نجیب الله د دوی دغه غوښتنه په ظاهر کې ومنله او دوی په خپل فکر په مقصد ورسېدل او د ولسمشرۍ له ماڼۍ نه ووتل. لایق وروسته ودان ته ویلي وو، چې دی په دغې ډلې کې نه و.
په بله ورځ د نجیب الله د دوو مهمو ملاتړانو مړي پر خپلو دفترونوکې وموندل شول، چې یو یې د غلام فاروق یعقوبي د امنیت وزارت وزیر او بل یې دجنرال عبدالباقی د همدغه وزارت پنځمې څانګې سروال و. د یعقوبي مرګ انتحار اعلام شو، خو ویل کېده چې

هغه دهمدغه وزارت د لومړي مرستيال جنرال يارمحمد کار و،چې د مزدک ورور و.[۴۵]

نجيب الله سره له دې هم د امنيت وزارت په لور روان شو، چې د راتلونکو پېښو په وړاندې تياری ونيسي، خو د ګارډ يوې ډلې يې د سپرلۍ موټر ودروه او ورته يې وويل چې دوی ته همدغسې امر شوی دی خو آمر يې د مسؤليت په منلو سره اجازه ورکړه. خو نجيب الله پوه شو، چې نور هر څه ختم دي او ژوند يې هم په خطر کې دی. بيا دی سيده د ملګرو ملتونو دفتر ته لاړ او د هغه ځای له تيلفون نه يې له بينان سيوان نه چې په دغه وخت کې په اسلام اباد کې و، وغوښتل چې کابل ته ځان په بيړه ورسوي او هغه د سهار په يوه بجه کابل ميدان ته ځان ورسوه خو د دوستم مليشاوو له الوتکې نه د وتلو اجازه ورنکړه، ترڅو چې د جنرال عظيمي په مرسته يې وکولی شول نجيب الله ته ځان ورسوي او له هغه سره يو ځای بېرته ميدان ته لاړ شي، چې هغه په الوتکه کې له افغانستان څخه بېرون کړي، خو جنرال عبدالرزاق د ملي ګارډ يوه جنرال د نجيب الله د تللو مخه ونيوله. مامون د ډګروال وهاب نورستاني د ملي ګارډ يوه قومندان له قول نه وايي چې «...تورن جنرال عبدالرزاق... شخصاً هدايت داده که هيچ کس را نګذارند که از کابل به طرف ميدان هوايی برود. حتی اګر رييس جمهور باشند.»[۴۶] جنرال عبدالرزاق د دغه کار صلاحيت نه لاره خو دا چې د مرکزي شورا اجرايیوي هيئت غړی وو، چې مخکښ يې محمود بريالی و، په دغه کار مامور کړی وی، په دغه وخت کې دی او ډله يې ده چې د نجيب الله په وړاندې درېدلې او هغه ته يې اخطار هم ورکړی و. زر وروسته

چې بينان سيوان د همدغه هيئت له مخکښانو بريالي او لايق سره څو خله وليدل، چې د هغو په اجازه نجيب الله بېرون ته بوتلل شي، هغو اجازه ورنکړه او نجيب الله بيا لکه بندي مېلمه د ملګرو ملتونو په د فتر کې پاتې شو. تر څو چې طالبانو د ۱۹۹۶ په اکتوبر کې چې کابل ونيوه هغه او د هغه ورور د کابل د نيولو په اولو ساعتونو کې په غالب احتمال د آی‌اس‌آی کوم ګمارل شوي کس د طالب په جامه کې د اريانا په څلور لارې کې په دار وځړول.[۴۷] لکه چې تر هغه لږ دمخه يې د ملا بورجان په نامه د طالبانو يو ملي فکره قومندان د څرخي پله ترڅنګه له مينځ نه وړی و.

د نجيب الله په جبري ګوښه کېدلو سره د مشرۍ يا سياسي تشه راغله او د بد امنيتۍ انديښنه نوره هم عامه شوه. عبدالوکيل په جبل سراج کې له احمدشاه مسعود او محمد رفيع په لوګر کې له حکمتيار سره وليدلو په دغه مقصد چې د کومې فيصلې تر کېدلو د ارامۍ رعايت وکړي او خپل ځواکونه په کابل ښار کې دننه نه کړي. هغو په ظاهر کې هوکه وکړه، خو بې اعتمادي دغومره ډېره وه او د شمال د ايتلاف منسوبانو قومی احساسات تر دې حده پارولي وو، چې دغو ليدلو ګټه ونه کړه. له بلې خوا د نظامي شورا تجويز پر خپل حال پاتې و او د شمال ايتلاف درزي شو او وضع په عمومي ډول ډېره کړکېچنه شوې وه.

کابل بې ولسمشر پاتې او له دغسې مورال لرونکو نظامي افسرانو نه محروم و، چې امنيت خوندي وساتي، که څه هم په دې وخت کې په ښکلو يونيوفورمونو کې نظامي افسران او جنرالان د ستر جنرال په

ګڼهون تر هر بل وخت نه ډېر وو. د فیشني او د اوتو کړو درېشیو ګوندیان او چارواکي هم لږ نه وو، خو هیڅ یوه د کارمل په ګڼهون د مشرۍ دغه تشه ډکولی ونه شوه. کارمل که څه هم ځان نه ښوده، د دغو ورانکاریو سرچینه وه، که نه مخلصانو یې دغه ورانی نه کاووه، دا په دغسې حال کې چې د دوی توان نه لاره چې حتی د کابل امنیت وساتي. کارمل چې پخوا د کابل خلکو دوه ځلې ولسي جرګې ته د خپل استازي په توګه غوره کړی و، اوس یې جرئت نه لاره چې له خپل هستوګنځي نه بېرون شي. دی چې پر افغانستان باندې د شوروي د یرغل محرک و، افغانانو لا هم د بکوف یانې ببرک کارمل وطنفروش په نامه یادوه. خو دی له خپل دغه حال نه هم راضي و، په دې چې ده په پای کې له هغه چا نه هم انتقام واخیست، چې د ده مقامونه یې نیولي وو. ده ته په خاص ډول د ګوند د عمومي منشي مقام، د نورو کمونستي ګوندونو د عمومي منشیانو پر شان سپېڅلی و او هغه یې خپل تلپاتې حق او نجیب الله یې مرتد او غاصب ګاڼه. ده د خپل دغه حق په وړاندې قانوني نظام او ملي پخلاینې ته اهمیت نه ورکاووه، لکه تحول منونکی نجیب الله چې ورته ورکاووه. کارمل د خپلې عقیدې پر حقانیت باندې تر مرګ پورې هغسې ټینګ ولاړ و، لکه برېژنیف چې په شوروي اتحاد او هټلر چې په جرمني کې پر خپلو عقیدو ټینګ ولاړ و. د همدغې عقیدې په قوت و، چې کارمل ګورباچوف ته ویلي وو، که تاسې اوس خپل پوځ له افغانستان څخه بېرون کړئ بیا به مجبور شئ چې یو ملیون پوځ راواستوئ. دی اوس هم د ستالین د وخت جذمي کمونست و او په ماضي کې یې ژوند کول غوښتل که څه هم دی په دغه وخت کې د

خپلو سیاستونو او کړو په نتیجه کې د یوه افسانوي پاچا پر شان لوڅ لغړ شوی و.

په دغه حال کې په کابل کې دوه پروسې روانې وې، له یوې خوا د ملیشیاوو او اسلامي تنظیمونو کسانو ښار ته ننوتل وار په وار ډېرېدل او له بلې خوا د رجیم چارواکو، نظامي افسرانو او ګوندیانو له ښار نه بېرون کېدل. دوی اول په شخصي کورونو کې پټ شول او بیا ډېری یې له خپلو کورنیو سره د نورو په مرسته له وطن نه ووتل. له دوی نه ډېرو پېښور ته مخه وکړه که څه هم پاکستان ته یې د خپلې ایډیالوجۍ او جنګي چلند له مخې بد رد ویل. په خپله کارمل د حیرتان په ښار ګوتې کې جنرال مومن ته پناه یووړه، تر څو هلته د بې کسۍ او بې وسۍ په حال کې په حسرت سره مړ او خښ شو. خو وروسته طالبانو د هغه جسد د آمو په سین کې لاهو کړ، د دې لپاره چې هغه د خپلې خوښې ملک د روسیې په لور وړول شوی او په بېګانه افغانستان کې یې هیڅ نښه نه وي پاتې.

د ودان د لیکنې له مخې رازمحمد پکتین او اسلم وطنجار «تا تاریخ ۲۵ اپریل (۵ ثور) بافراد حزب اسلامی ګلبدین حکمتیار زمینه مساعد نمودند با لباس های ملکی در وزارت داخله جابجا و انها را مسلح ساختند. همچنان ماموریت های څارندوی شهر کابل را بانها تسلیم نمودند. ضمناً عده ای از افراد حزب اسلامی بکمک بعضی از صاحبمنصبان ګارد امکان یافتند در ارګ ریاست جمهوری نفوذ نمایند.» خو په ښار کې د شمال ایتلاف پله دېره درنده وه ځکه چې «...جنرال دوستم و متحدین او احمدشاه مسعود حزب وحدت

اسلامی قبلاً بطور علنی با کمیت بیش تر و امکانات بهتر که توسط (ستون پنجم) در قوای هوایی، اردو، قطعات گارد ملی وسایر ارگان های وزارت امنیت دولتی داخل شهر شده نقاط ستراتیجکی شهر را اشغال نموده، سلاح های ثقیل و تجهیزات بیشتر جنگی را بدست اورده بودند.»[۴۸] دغو ځواکونو په کابل کې د وسلو او دولتي شتمنيو په چور کولو پيل وکړ، چې هغه وروسته نورو ته سر مشق او په تنظيمي دوره کې د چور او وژنې يوه بله دوره شوه.

کارمليان د نجيب الله له ګوښه کېدلو نه وروسته په کابل ښار کې د لږ وخت لپاره لاس په کار شول. دغه وخت کابل تر هر بل وخت نه ډېر د مجاهدانو له خوا محاصره و او کارمليانو پر پوځ هم باور نه لاره او د هغه په وړاندې يې د خپلو موتلفانو په مټ لاس په کار شول او هغوی يې «برادران مجاهد» وبلل او دا يې له ياد نه وايستله چې هغوی يې تر دغه وخت پورې په ډالرو او کلدارو پلورل شوي اجيران ګڼل. اوس يې دغه «برادران مجاهد» مامور کړل چې ملي پوخ بې وسلې کړي. ودان وايي چې «در نتيجه قطعات قوای مسلح جمهوری افغاسنتان، اردو، څارندوی و امنيت دولتی را در مجموع خلع سلاح کردند و برادران را مسلح کردند.»[۴۹]

دوی هغه کسان وو، چې ويل يې غواړي په افغانستان کې ټولو خواريکښو وروڼو ته بې له هيڅ ډول توپير نه د مځکې په سر جنت جوړ کړی، خو اوس يې د قدرت په لوبه کې د ژبني او قومي تعصب لار ونيوله. دوی چې د خپل ا قتدار په وخت کې خپل مخالفان د انقلاب ضد په نامه مجبورول، خپل پلارنی هېواد پرېږدي او نورو ملکونو ته

کډه وکړي، اوس په خپلې لنډپارۍ سره مجبور شول، په خپله کډه وکړي او له دغسې حکومتونو نه پناه وغواړي، چې د خپلې ایډیالوجۍ له مخې یې تل ښکنځل.

# د تنظیم واکې پیل

د اپریل تر ۲۴ پورې اټکل شل زره وسله وال مجاهدان او قومي ملیشیا په کابل کې ننوتلې او ښار یې تر دې حده خطرناک کړی و، چې د بینان سیوان په ژبه «کابل په هر چا پورې اړه لري، خو هیڅ څوک پرې کنټرول نه لري.» بینان سیوان چې موظف و، د سیاست مخکښ افغانان وهڅوي چې سره په ګډه کوم ډول پراخ بنسټ حکومت پر پښو ودروي، اوس په دې لټه کې شو، چې افغانستان د بې امنیتۍ له ناوړو پایلو نه وژغوري. د اپریل په ۲۳مه یې په داسې حال کې چې د تنظیمونو مشران یې د وسله وال ټکرونو ناوړو پایلو ته متوجه کړل، د پاکستان صدراعظم میا نواز شریف یې په افغانستان کې له خطرناک حال نه خبر کړ. هغه په سبا ماښام د اپریل په ۲۴مه ۱۹۹۲ په پېښور کې د اسلامي تنظیمونو سران د کوم ډول فیصلې لپاره د ګورنر هوس هال ته وبلل. حکمتیار چې کابل ته نزدې چیرته و، په غونډه کې ګډون ونکړ او قطب الدین هلال د هغه په استازیتوب پکې ګډون وکړ، خو هغه له غونډې نه د کومې موضوع پر سر د اختلاف له امله زر ووت. په دغه وخت کې د نوازشریف حکومت او حکمتیار اړیکې سړې شوې وې. د یادولو وړ ده چې د دغو تنظیمونو مشرانو له افغانستان نه د شوروي پوځ وتلو نه یوه اونۍ وروسته د فبرورۍ په ۲۳مه ۱۹۸۹ یو عبوري یا

انتقالي حکومت په پښو درولی و، چې سروال یې صبغت الله مجددي او صدراعظم یې عبدالرب رسول سیاف و. خو دا چې یو انحصاري حکومت و، تر دغه وخته یې اعتبار له لاسه ورکړی و. په تېره چې مجاهدان یې د جلال اباد ښار په نیولو کې پاتې راغلي او تر دغه وخت یې کوم مهم کار هم نه وکړي. سربېره پر دې چې هغه یوازې تنظیمي جوړښت و، د هغه په جوړښت کې د عربستان ډالرونو غټ رول لرلی و. هر څه چې و، د حالاتو په تغییر سره د نوي انتقالي حکومت پر پښو درول ضروري شوي وو. خو د دغه حکومت په جوړولو کې هم هماغه تېروتنې تکرار شوې چې هغه وروسته د کورني جنګ یو علت شو. زه د دواړو حکومتونو د جوړېدلو په وخت کې په پېښور کې وم او د دواړو په اړه مې دقیق مالومات ترلاسه کړي، چې د هغو پر بنسټ دلته خپله لیکنه په لنډ ډول وړاندې کوم او خپله لیکنه پای ته رسوم.

د پېښور دوهمه فیصله د افغان حکومت د تنظیم په اړه څنګه وشوه، په یقین سره مالومه نه ده. دغومره مالومه ده چې هغه په یوه ماښام کې وشوه او د عبدالرب رسول سیاف په قلم له حکمتیار نه پرته ټولو اسلامي تنظیمونو مشرانو لاسلیک کړ، چې زه یې دلته ټکی په ټکي نقلوم:

بسم الله الرحمن الرحیم

۱- پرېکړه وشوه چې د حضرت صاحب صبغت الله مجددي تر مشرۍ لاندې دې یو پنځوس کسیز هیئت داخل د افغانستان ته ولاړ شي، تر څو د دوه میاشتې [میاشتو] په موده کې د موجود واکدارانو څخه قدرت په پوره ډول او بې [له] قید او شرطه ترلاسه کړي. د دغه

هیئت مشر به په همدې [همدغو] دوو میاشتو کې د دولت د ریاست ممثل هم وي. دغه هیئت به د دغې مودې څخه وروسته د عبوري دولت تر اړخه د اسلامي موقتي شورای په حیث پاتې کېږي او ریاست به [يې] د حضرت صاحب په غاړه وي. د دې شورى موده به هم څلور میاشتې وي.

۲- پرېکړه وشوه چې استاد رباني دې د څلورو میاشتو لپاره د افغانستان د اسلامي موقت دولت د رییس او د رهبرۍ شورى د مشر په حیث وي، دى به خپل کار هلته شروع کوي، چې د قدرت د انتقال دوه میاشتې پوره شوې وي.

۳- دا پورته تعین شوې مودې کې به یوه ورځ هم نه تمدیدېږي.

۴- د صدارت مقام او د کابینې نور غړي به د تنظیمونو د مشرانو نه پرته د دوهمه درجه غړو څخه ټاکل کېږي.

۵- د صدارت مقام د افغانستان اسلامي حزب ته ورکړل شو.

۶- د صدارت معاونیت او داخلې وزارت د افغانستان اسلامي اتحاد ته.

۷- د صدارت معاونیت او د معارف وزارت د مولوي صاحب خالص حزب ته.

۸- صدارت معاونیت او خارجه وزارت د محاذ ملي اسلامي ګوند ته ورکړ شو.

۹- د دفاع وزارت د افغانستان اسلامي جمعیت ته ورکړ شو.

۱۰- ستره محکمه د حرکت انقلاب اسلامي تنظیم ته ورکړ شوه.

او دا پرېکړه هم وشوه چې شورای رهبري به علاوه پر

تقسیمات.... د حزب وحدت او شورای ایتلاف او مولوي صاحب منصور او نورو وروڼو لپاره وزارتونه تثبتیږي.

د دې ټولې پروسې عمر شپږ میاشتې ده او په دې ترڅ کې به د راتلونکي انتقالي حکومت لپاره ا سلامي متفق علیها شورا تصمیم نیسي، د هغه انتقالي عمر به دوه کاله وي.»

لکه چې دمخه وویل شول دغه غونډه د پېښور د ګورنر هاوس په ماڼۍ کې د ۱۹۹۲ کال د اپرېل په ۲۴مه په یو ماښام کې پیل او تمام شوه. په هغې کې غیر افغانان له افغانانو نه ډېر وو، که څه هم موضوع د افغانستان لپاره د حکومت تنظیم و، نهه تنه د شپږو تنو په وړاندې: د پاکستان صدراعظم، د پاکستان د پوځ لوی درستیز، د آی‌اس‌آی مشر، د عربستان د استخباراتو رییس، په اسلام اباد کې د عربستان او ایران سفیرانو او داسې هم بینان سیوان او دوه نور د پاکستان او عربستان. دغو لوړو چارواکو چې د مقاومت په دوره کې د خپلو حکومتونو او نورو مرستې د پیسو او وسلو په ګډون زیاتره د آی‌اس‌آی له لارې د تنظیمونو امیرانو ته رسولې، هغوی یې احسانمن او تر نفوذ لاندې وو. له همدې امله به وي، چې د دغې پرېکړې په متن کې د افغان او ملت نوم هیڅ یاد شوی نه دی. ډېره مهمه دا ده چې دغه حکومت د خپل سلف، عبوري حکومت پر خلاف چې د تنظیمي شورا د غړو له خوا غوره شوی و، د یو څو تنو باندنیانو او افغانانو له خوا تنظیم شو او دوی حکومتي لوړ مقامونه یوازې تنظیمي لویانو ته ځانګړي کړل، هغه هم په هغه ډول چې هغه لکه د دوی شخصي ملکیت وي. د دوی دغه چلند او ذهنیت وښودله چې د اعلی واکمنۍ سرچینه لکه چې دوی

وي، نه د افغانستان خلک. په دې ډول دغه حکومت يې د عقيدې له مخې يوازې خپلو تنظيمونو ته منحصر کړ او دا يې په نظر کې ونه نيوله چې د خلق او پرچم نظامونه چې د سياسي عقيدې له مخې انحصاري وو، په مطلق ډول ناکام شول. دوی بې له شک نه د مقاومت په دوره کې جهاد کړی وو،خو دوی په خپله ويل چې د دوی جهاد في سبيل الله يانې دخدای تعالی لباره دی، نه د کوم مقام يا پيسو لپاره. دوی دا هم په نظر کې ونه نيوله چې دا د نورو په شان د دوی ملي، ديني او انساني وظيفه وه چې د تېري په وړاندې له خپلو ارزښتونو نه دفاع وکړي. سره له دې هم تنظيمي کسانو او پاکستاني چارواکو ويل چې د دغو تنظيمونو کسانو جهاد کړی، دوی حق لري حکومت تنظيم کړي او حکومت وکړي. خو دوی دا په نظر کې ونه نيوله چې د يرغلګرو او د هغو د تابعانو او پلويانو پر ضد ټولو افغانانو په بېلو درجو او په ډول ډول وسلو جهاد کړی، نه يوازې دوی. پر هغه سربېره په ټولو حقوقي منشورونو کې منل شوی پرنسيپ دا دی، چې په يوې سياسي ټولنې کې د حکومت جوړول د خلکو يا د هغو د استازو حق دی.

چې ځانله حکومت د انتخاباتو يا اتفاق او يا په کومې بلې لارې جوړ کړي، دا به ومنله شي، چې دا يو اضطراري وخت او په لنډه موده کې د انتقالي حکومت تجويز نيول حتمي وو. خو په همدغه حال کې هم پوره ممکنه وه، چې هغه پراخ بنسټ يا افغان شمول او په هغه کې دغسې افغانان وي، چې په دولت او سياست کې د تجربو او ښه نامه خاوندان وي، لکه سيد شمس الدين مجروح، ډاکټر محمد يوسف، ډاکټر صمد حامد او ډاکټر عبدالقيوم او نور. په افغانستان غوندې هېواد کې له پراخ

بنسټ حکومت نه پرته کېدونکې هم نه ده، چې د يو څو تنو له خوا جوړ شوی حکومت به حکومت وکولی شي. تجربو ښوولې ده چې دغسې حکومت په هر نامه چې ياد شي په اوله درجه به په خپل ټينګښت پسې وي او که پاتې شي زورواک کېږي او د زورواکۍ او انحصار پايله بيا سياسي کړکېچ، بې اتفاقي، ورانی، وژنې او د مغرضو ګاونډيو مداخلې دي، لکه په افغانستان کې په تنظيمي دوره کې چې همدغسې وشول.

لا عجبه دا ده چې سربېره پر دې چې حکومت تنظيمونو ته ځانګړی شو، سياسي واقعيتونه هم په نظر کې ونه نيول شول او د دولت د سروالۍ مقام د يوه واړه تنظيم مشر ته ځانګړی شو. هغه هم د دوه مياشتو لپاره. په دغې لنډې مودې کې هغه په وران شوي او جنګ ځپلي هېواد کې اساسي کار کولی نه شو، هغه هم په هغه حال کې چې چارواکي يې په حکومتي چارو کې نابلد خو په جنګي چارو کې د تجربو خاوندان وو. د استاد رباني لپاره هم څلور مياشتې لږې وې، له همدې امله وه چې ډېرو تنظيمي غړو په هماغه وخت کې دغه پرېکړه غير عملي بلله او رباني بيا خپله دوره له څلور مياشتو نه څلورو کلونو ته اوږده کړه، چې هغه بيا د تنظيمي جنګونو غټ علت شو. بل اساسي ټکی دا دی چې د دغې پرېکړې اصلي نوښتګر د پاکستان صدراعظم نوازشريف و او هغه د يوه مجرب سياستمار په حيث په دغې طرح کې د افغانستان لپاره يوه بده راتلونکې په نظر کې نيولې وه. هغه په خپله هم وروسته د انتخاباتي فعاليتونو په وخت کې په وياړ سره ويل چې ده دغسې کار وکړ، چې په هغه سره د افغانستان پوځ منحل شو.

عبدالله شينواری دغې موضوع ته ځير شو او ويل چې بهرنيو «د

افغانستان پر ضد په یوې ستړې دسیسې» لاس پورې کړ، چې دغسې نظام رامینځ ته کړي چې د افغانستان د ډېرهکي قوم او لږهکیو ترمینځ ټکر حتمي کړي. دی دا هم وایي چې له دغه تجویز نه اصلي مطلب دا و، چې دغه تنظیمونه سره وجنګېږي او په جنګونو کې د سکد او رېګن لونا-۱ ، لونا-۲ په نومونو راکټونه او داسې هم هغه ډېرې وسلې چې دغو تنظیمونو لرلې او زېرمه کړې وې او ګاونډیو هېوادونو نه لرلې، په جنګونو کې مصرف کړي او افغانستان یو بې وسلو ناتوان هېواد شي.[۵۰] دا ټول ځکه چې د پېښور دغه غونډه داسې وه چې لکه جنګ ګټونکي جنګي غنیمتونه پر خپلو کې سره ویشي او د ملت پروا نه کوي.

په دې ډول د پېښور دغه پرېکړه لیک وښودله چې افغانان اوس مجبور دي، د یوه شوروي اتحاد پر ځای له څو شوروي اتحادونو سره سر او کار ولري. په رښتیا هم هر مغرض ګاوندی له هماغه وخت نه په دې پیل وکړ، چې له افغانانو سره د اسلام په جامه کې د لوی ورور په شان چلند وکړي او د هغو پر هغو قربانیو او رول سترګې پټې کړي، چې یې د شورویت په نسکورولو کې لرلې او په دې ډول یې دوی هم د هغه له خطر نه د تل لپاره بچ کړل.

# پایلیک

د شلمې پیړۍ په دوهمې نیمایي افغانستان کې د سرطان په کودتا، د ثور په کودتا او د شوروي اتحاد په یرغل سره دغسې حکومتونه په واک شول، چې انحصاري او یو ګوندي وو او د اساسي قانون په نه شته توب سره د چارواکو په فکر او اراده چلول کېدل، بې له دې چې دوی کوم مقام ته ځواب ووایي. دوی په تېره امنیتي چارواکو هغه څه کول چې یې په خپله غوښتل یا له پاس نه ورته هدایت کېده. د لومړي حکومت په اخر کې یو قانون وایستل شو او پرې عمل کېده. په پرچمي رجیم کې هم یو موقتي اساسي قانون اعلان شو خو هغه نه یوازې له پام نه غورزول شوی و، چارواکو د هغه پر خلاف هم عمل کاووه. د دغو ټولو نتیجه دا شوه چې په افغانستان کې په دغه څه کم دوو لسیزو کې دغومره ډېر جنګونه وشي، دغومره ډېر افغانان ووژل شي، هېواد دغومره ډېر وران شي او دغومره ډېر افغانان باندنیو ملکونو ته کډوال شي او ټولنه او ملي پیوستون دغومره ډېر درزي شي، چې بل هیڅ وخت دغسې نه و شوي. دا په دغسې حال کې چې دغه رجیمونه د عصري تعلیم کړو، پرمختګ غوښتونکو افغانانو له خوا چلول کېدل او هر یوه یې نارې وهلې چې مونږ خلکو ته خدمت کوو او هېواد ودانوو. په فیشني دریشیو کې دغه حکومتي او ګوندي چارواکي په ظاهر کې

مدني او مهذب ښکارېدل خو کړه یې په واقع کې د ځناورو په شان وو. رسمي پروپاګند هم بل هیڅ وخت دغومره عام نه و، افغان ټولنه هم بل هیڅ وخت دغومره کړکېچنه نه وه او د چارواکو د کړو او ویناوو ترمینځ توپیر یا دوه مخیزتوب هم دغومره عام نه و، لکه په دغې دورې کې چې و.

دغه ټول کارونه چې زیاتره یې نوي او بېساري وو، په خلقي او پرچمي دوره کې وشول. دواړه یې په یوه ګوند کې- د افغانستان خلق دموکراتیک ګوند کې تنظیم شوي وو،خو هغه په واقع کې سره بیل ګوندونه وو او غړي یې په حکومتي چارو کې بې تجربې، خو د ټینګې سیاسي عقیدې خاوندان او پر شورویت او زورواکۍ دغومره ټینګ ولاړ وو، چې غوښتل یې افغانستان غونډې هېواد د شورویانو په مخکښۍ او هدایت اداره کړي، نه د خپلو وطنوالو په مرسته او همکارۍ. په دې ډول دوی د شورویت د عقیدې له مخې دغسې یوه ناشونکي کار ته ملا تړلې وه، چې له امله یې دواړه په مطلق ډول ناکام شول. په دغې پوره ناکامۍ کې د دواړو ګوندګیو د مخکښانو یا لویانو رول اساسي او ټاکونکی و.

د دوی ټولو د ناکامۍ سرچینه د ثور له کودتا نه یو څه وروسته د افغان د ملي تور، سور او شین رنګه بېرغ پر ځای یوازې د سره رنګ بېرغ غوره کول او د خلکو په مخ کې د هغه پورته کول او رسمي کول وو. په دغه کار سره خلکو په حقه درک کړه چې دا د ټولنې د کمونستي کولو په لور لومړنی ګام دی، په رښتیا هم نورمحمد تره‌کي د ک. ج. ب یوه لوړپوري چارواکي کریچکوف په پټه ډاډه کړی و، چې «... خو مونږ

غوره ګڼو د شوروي اتحاد مثال عملي کړو، هغه څه چې په افغانستان کې پيښيږي، هغه د شوروي د ماډل له مخې د پرولتاريا دکتاتورۍ پيل دی.»[1] له هغه وروسته و، چې د حکومت په وړاندې د خلکو پاڅونونه پيل شول، او خلقي چارواکو هغه وځپل. خلقي لويانو د پرچم ګوندګی هم وځپه او لويان يې اول د سفيرانو په توګه د باندې ملکونو ته واستول او بيا يې له افغان تابعيت نه محروم کړل او په دې ډول ګوندي پيوستون له مينځ نه لاړ. د هرات له پاڅون نه وروسته وو چې د خلقي حکومت د مشرۍ په سطح کې هم درزونه ښکاره او وار په وار ژور او په پای کې مرګکي شول. له دغه پاڅون نه وروسته و، چې حفيظ الله امين د لومړي وزير په توګه غوره شو او د اکسا سروال اسدالله سروري او وزيرانو سيد محمد ګلابزوی او محمد اسلم وطنجار او مزدور يار ورسره مخالفت پيل کړ او د کليوالي ذهنيت له مخې يې ورسره د ګونديمارۍ لار ونيوله او د هغه په وړاندې د تره‌کي تر شاودريدل. تره‌کي هم داسې وګڼله چې دوی يې ربښتيني مخلصان او امين يې رقيب او په دې لټه کې دی چې دوی ټول بېواک او لوړ واک د ځان کړي. دوی ټول په شورويانو ډاډه وو، چې رقيب به يې چې په ګوند، پوځ او حکومت کې تر ټولو پياوړی و، له واک نه وغورځوي، نو دوی نور هم پر شورويت معتقد او پر لويانو يې متکي شول. تره‌کي لا دمخه شوروي لويان له خپل اخلاص نه ډاډه کړي او ورته ويلي وو، چې هغومره چې دوی له دوی سره نزدې دي له بل چا سره به نزدې نه شي. د همدغه نزدې والي له امله و، چې بريژنيف وروسته (سپټمبر ۱۰۷۹) کې تره‌کي ته هدايت وکړ، چې له امين نه چې له حد نه ډېرواک يې تر لاسه کړی

ځان خلاص کړي.

بریږنیف سره له دې چې د تجربو خاوند و، تره‌کي ته دغسې وظیفه وسپارله چې تر سره کولی یې نه شوه او شاید نه یې هم غوښتل. خو څنګه چې هغه د ستر واکمن هدایت و، باید ترسره شي. بېچاره تره‌کی د دغه هدایت په ترسره کولو کې نه یوازې پاتې راغی، خپل ژوند یې هم له لاسه ورکړ او امین د دولت او ګوند بېجوړې سروال شو او د دغو ګوندیمارو ځای هم د ک. ج. ب والو په مرسته بلغاریه شوه. خو امین د دولتمشر په توګه د شوروي اتحاد په قالب کې نه ځایېده. هغه په دې پیل وکړ، چې خپل هېواد د یوه خپلواک سروال په شان اداره کړي. خو شوروي لویانو په تېره د ک. ج. ب سروال یوري اندروپوف ته دغسې امین د زغملو نه و او فیصله یې وکړه چې هغه او حکومت یې په نظامي زور نسکور او پر ځای یې خپل شوروي شوي افغانان په واک کړي. دا هغه څه وو، چې دغه پراري ګوندیماران او شوروي شوی پراري پرچمیان ورته سخت په انتظار وو، هغه و چې ک. ج. ب والو دوی ټول د ختیځې ا روپا له هېوادونو نه مسکو ته انتقال کړل. هلته خلقیانو د اسدالله سروري په مشرۍ او پرچمیانو د ببرک کارمل په مشرۍ د ک. ج. ب د پروګرام له مخې سره اتحاد اعلام کړ. دوی تر دغه وخته سره مرګکي دښمنان وو. دوی دغه اتحاد د دې لپاره وکړ، چې شوروي اتحاد ورسره مرسته وکړي او په خپل پوځ سره امین او حکومت یې نسکور کړي. دوی په واقع کې په خپل دغه چلند سره شورویانو ته د افغانستان د لاندې کولو لپاره پلمه برابره کړه. شوروي لویانو بیا په خپل پوځ سره د دوی په نامه پر افغانستان پوځي یرغل

وکړ، امین یې وواژه، حکومت یې ړنګ کړ او پر ځای یې د کارمل په د ولتمشرۍ او د سروري په مرستیالۍ یو تابع حکومت پر پښو ودروه.

په دې ډول شوروي لویان خوښ شول چې د دغو پراري او شوروي شویو پرچمیانو او خلقیانو په غوښتنه یې افغانستان لاندې کړ او خپله امپراتوري یې پراخه کړه. دغه پرچمیان او خلقیان هم خوښ شول چې شوروي لویانو د دوی وطنوال دښمن او حکومت له منځ نه یووړ او پر ځای یې دوی په واک ورسول. په دې ډول دواړو خواوو له یوه او بل نه د خپل مقصد لپاره کار واخیست. خو په واقع کې دا شورویان وو، چې دغه خلقیان او پرچمیان یې د خپل مقصد په لار کې استعمال کړل، ځکه چې دوی یې هم د خپلو پوځیانو په یونیفورم کې په افغانستان کې دننه کړل او هم یې هلته له هغو او هم د هغو له نورو ملګرو نه جوړ یو تابع حکومت پر پښو ودروه. په دې ډول دغو خلقیانو او پرچمیانو په خپل دغه عمل سره د خپلو وطنوالو ملي حاکمیت، خپلواکي او داسې هم د هغو ملي او دیني ارزښتونه تر پښو لاندې کړل. دوی ځکه دغسې وکړل چې واک ته د رسېدلو په مقصد دوی شوروي شوي او له افغانیت نه وتلي وو، په داسې حال کې چې د دوی اصلي وظیفه د نورو افغانانو په شان دوطن او خپلواکۍ ساتنه وه. دا په داسې حال کې چې دوی پوهېدل چې زمونږ د عصر په ملي دولتونو کې منل شوی حقوقي پرنسیپ، په ټول جهان کې غوره تعامل او د سلیم عقل تقاضا دا ده چې که څوک یا کومه ډله غواړي دولتي واک وچلوي هغه باید له خپلو وطنوالو نه ترلاسه کړي، نه له باندنیانو نه. دغو خلقیانو او پرچمیانو دا هم په نظر کې ونه نیوله چې که نور هم د دوی پر شان عمل وکړي،

افغانستان به د یوه هېواد په توګه او افغانان به د یوه ملت په توګه پر خپل حال پاتې نه وي. دوی دا هم په نظر کې ونه نیوله چې دوی د دغسې بېګانه ګانو په ګټه عمل وکړ، چې وطنوالو يې هغوی ملحد او کمونست ګڼل او د هغو ترلاس لاندې حکومت يې هیڅ نه منه، نو وطن او وطنوالو ته د دوی دغه خیانت د بښلو نه دی، چې له امله يې په لکونو افغانان د خپل وطن، خپلواکۍ او د عزت او ننګ په دفاع کې شهید شول. په نتیجه کې دوی او هم د دوی بادران د دغه مظلوم او باتور او عزتمن ولس له دغسې ټېنګ او پرله پسې مقاومت سره مخ شول، چې په پای کې دوی ټول په خپل مقصد کې ناکام، خپلو خلکو او نړۍ والو ته بې اعتبار او په بېسارو مصیبتونو اخته شول. په دغسې بېجوړې مقاومت سره افغانانو په رښتیا رستمي حماسه وکړه.

کارمل که څه هم د یوه زبرځواک پوځ يې تر شاولاړ و، له اول نه له غټو ستونزو سره مخ شو، چې ډېره غټه يې د هغه د رجیم او د یرغلګر پوځ په وړاندې ولسي مخالفت و، چې ډېر زر ښاریانو په تېره دکابل خلکو، د ښوونځیو د نجونو او هلکانو او د پوهنتون د محصلانو له خوا په ټېنګه او عام ډول وښودل شو. د معاصر افغانستان په تاریخ کې دا لومړی ځل و، چې د یرغلګر پوځ او د هغه د لاس لاندې رجیم په وړاندې مخالفت د ښاریانو له خوا وښودل شو. له هغه زر وروسته د اسلامي تنظیمونو مجاهد ځوانانو په ټول افغانستان کې د خلکو د غوڅ اکثریت په ملاتړ د یرغلګر پوځ پرضد ګوریلایي یا شریکي جنګونه په پرله پسې ډول وکړل، تر څو يې په څه باندې نهو کلونو کې دغه زبرځواک پوځ له خپل هېواد نه سرښکته په وتلو مجبور کړ.

د کارمل بله غټه ستونزه له خلقیانو په تېره له اميني نظامي خلقیانو سره وه، چې هم تر پرچمي افسرانو ډېر وو او هم ښه جنګېدل. شورویان له دغه حال نه ښه خبر وو، جنرال شبرشين لا وايي چې «هغه افغانان چې زمونږ په لور دي، هغه ډارن او سست دي.»[۲] په جنګ کې ښکېلو افسرانو هم ويل چې «...افغانی پوځ په خلاص مټ نه جنګېږي.»[۳] کوم هغه اتحاد چې په مسکو کې د کارمل او سروري ترمينځ شوی و، د امين د حکومت له ړنګېدلو نه وروسته له مينځ نه تللی و او کارمل د پیاوړي خاد په لرلو سره هم نه شو کولی نظامي خلقیان هغسې وځپي، چې د مخه يې دوی ځپلي وو. دغه ستونزه تر پايه پاتې وه او دواړه ګوندګي د پخوا په شان سره مخالف وو، نو کارمل هم «...نه له دغه پوځ سره مينه لرله او نه يې پرې باور کاووه [او هغه لا] ترې ډارېده.» په دغه حال کې «...ببرک په هېواد کې د ملي دموکراتيکې واکمنۍ ټينګښت چاره په عمومي ډول د شوروي په مټو ټينګول غوښتل.»[۴] کارمل بيا لکه چې په متن کې يې بيان شوی، له شورويانو نه دا هم غوښتل چې څنګه چې دی پر خپل پوځ باور نه لري، شوروي سرتېري دې وسله وال مخالفان وځپي. د مايوروف په وينا کارمل لا «...د هغه [پوځ] له ماتو يې خوښي هم ښودله، ځکه همدا افغانستان ته د نورو او لا نورو پوځونو د راليږلو په اړه مسکو ته د لمن غوړولو موجهه پلمه وه.»[۵] شوروي پوځ مجبور شو چې له مجاهدانو سره په نښتو کې ډېره برخه واخلي او په خپل بري سره دغومره ډاډه اوسي چې د هغه لپاره نېټې وټاکي. مايوروف وايي چې «...زه پر دې باوري وم چې د ۱۹۸۱ کال تر پای پورې به د دښمنو ډلو له مينځ نه

وړل بشپړ شي.»[۶] دغه نېټه چې يوازې د کاغذ پرمخ پاتې شوه، په بل کال په خپله اندروپوف د دوو ورځو لپاره په پټه کابل ته راغی او هلته يې له کارمل او نجيب الله او نورو سره خبرې وکړې، چې د هغو په «...پايله کې يوه داسې ستراتيجکي دنده طرح شوه چې د ۱۹۸۲ کال په بهير کې به د افغانستان په خاوره کې ټول وسله وال باندونه شنډ وي.»[۷] دغه نېټه هم بې مانا شوه او څومره چې شوروي پوځ په جنګونو کې ښکېل کېده، تلفات يې هم ډېرېدل. مايوروف وايي چې «...افغانستان کې د دغسې بري هرې ورځې زما د مورني پوځ له اتو تر لسو تنو ژوند رانه اخيسته، نور شل-پنځه ويشت تنه» ټپي کېدل او «... له ۱۵-۱۷ سرتېري، واړه ظابطان او آن افسران په زيړي اخته کېدل.» دی دا هم وايي چې «ماته دا پته هم وه چې د جګړې هره ورځ زما هېواد ته له يو نيم نه تر دوو مليونو روبله تمامېږي.»[۸] مايوروف د يوه دراک او واقع ليدونکي جنرال په توګه دې نتيجې ته ورسېد، چې د «...افغانستان لانجه بايد په عمومي ډول په سياسي او ديبلوماتيکې لارو غوځه شي.» په دې اړه دی د چارو په لټه کې شو، چې مهمه يې دا وه چې د ۱۹۸۱ کال د مارچ په ۲۲مه يې په مسکو کې دغسې يوې خاصې غونډې ته وړانديز وکړ، چې له برېژنيف نه غير له نورو ګوندي او حکومتي لويانو نه جوړه وه او اندروپوف يې مشري کوله.

دغه غونډه د دې لپاره بلل شوې وه، چې مايوروف چې په افغانستان کې د شوروي لوی سلاکار او په شوروي اتحاد کې د مځکنيو قواوو د قومندان مرستيال و، هغو ته د افغانستان د سياسي او نظامي وضع په اړه مالومات ورکړي. خو ده هلته د خبرو په مينځ کې د توقع پر خلاف

د خپل پوخ په اړه خپل نظر په دې ډول ښکاره کړ، چې مونږ «...باید د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت مشرتابه او ملګري کارمل ته خبر ورکړو، چې په راروانو شپږو میاشتو کې د څلویښتم لښکر نیمایي برخه له هېواده وباسو او پاتې نیمایي به یې په نورو شپږ میاشتو کې ایستل کیږي... باید د انقلاب د ننګې مسؤلیت د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت د خلکو دموکراتیک ګوند او د هغه د مشر تابه پر غاړه واچول شي.» په دغه وانديز سره د ده په الفاظو « د څو شېبو لپاره مرګوني چوپتیا وشوه» او د دفاع وزیر «اوستینوف په قهر راوکتل» خو دی وایي چې «په هغه شېبه کې مې هر څه پر ځان منلي وو.» دغه وړاندیز وروسته د ګورباچوف فارمول ته ورته و، چې د هغه له مخې دغه پوځ له افغانستان نه وایستل شو، خو د مایوروف وړاندیز رد شو او دی د پخوا په شان د دندې د ترسره کولو لپاره کابل ته واستول شو.[۹]

مایوروف به په خپل دغه ډول وړاندیز سره د یو شمېر افغانانو له نظرونو نه متاثر شوی وي. سلیمان لایق په یوه خصوصي کتنه کې ورته ویلي وو، چې «هیڅوک پر دې بریالي شوي نه دي، چې افغانستان لاندې کړي. نه مقدوني سکندر، نه چنګیز خان او نه هم انګرېزان او تاسې هم دا کار کولی نه شئ... هیڅوک ستاسې د دې انقلاب ملاتړ نه کوي.» په پای کې هغه رډ ورته کړه چې «ځئ، له افغانستان نه لاړ شئ، په سمه ووځئ، په حیا سره» له دغه رډ ویلو سره سره مایوروف ورته وعده ورکړه چې «... د هغه له خوا پر وړاندې شویو ستونزو به فکر وکړي» د قول اردو قومندان ډګروال خلیل هم د ۱۹۸۱ کال په

جنوري کې مايوروف ته ويلي وو، چې «...تاسې به شرمېدلي له افغانستانه ووځئ» او تاسې «...افغانستان پيرلی شئ، خو ماتولی نه شئ.»[۱۰] د کارمل پلار متقاعد جنرال محمد حسين هم مايوروف ته ويلي وو، چې برى مو ناشونى دى او خپل پوځ له افغانستان څخه وباسئ. شکاکان ممکن دغه ويناوې مبالغه وګڼي، خو مايوروف چې د ښه احساس خاوند انسان و، غوښتل د افغانانو په نظرونو پوه شي او هغوى يې دغه کار ته هڅول او ډاډه کول، چې ويناوې به يې پټې وي. د ده ښه انسان توب له دېنه هم څرګند دى، چې د شوروي اتحاد د پوځ لوى درستيز اوګارتوف ته چې لکه دمخه ويل شوي، د يرغل په مخالفت يې اواز جګ کړى و، له کابل نه په تيلفون کې ويلي وو، چې زمونږ پوځيانو «...په جنايت لاس پورې کړى دى، پر مجاهدينو له مېخونو نه ډک بمونه... ډېر تخريبوونکي بمونه اورووو.» اوګارتوف ورته په ښکته اواز وويل چې «دا د لوړو مقامانو پرېکړه ده، پوه شوې.»[۱۱]

د مايوروف بل تجويز دا و، چې دولتمشر کارمل بايد خپل پوخيان وهڅوي، چې د زړه جنګ وکړي، خو هغه ځان په ارګ کې قيد کړى او حتی خپل لوړ پوړي ګوندي او پوځي ملګري يې هم نه ليدل. د جنګي وضع او د پوځ د ناتوانۍ له امله چې مجاهدان وځپي تر روحي فشار لاندې شوى و. دى به له دې امله هم غمجن و، چې ډګروال اوساد چې تل د کارمل تر څنګ و او د هغه څارنه يې کوله، دى چې د (او) په نامه يادېده، د ک. ج. ب افسر و له شخص اندروپوف سره يې «د ځانګړي اعتمادي کس» په توګه ارتباط لاره.[۱۲] مايوروف وايي چې کارمل «...له ملګري (او) سره په ګډه شراب څښلو ته دوام ورکاوه او

دا دویمه اونۍ وه، چې هیڅ څوک یې مانۍ ته نه پرېښودل.»[۱۳] مایوروف په دغه حال کې یوه ورځ چې نېټه یې ورکړل شوې نه ده، په یوازې ځان له کارمل سره په ارګ کې ولیدل، خو کارمل لکه څنګه چې ورته ویل شوي وو، د نېشې په حال کې و او د هغه په مخ کې یې هم د وډکا پیالې تشولې او پرتې ویلې. د هغه په دفاع کې (او) مایوروف ته وویل چې «هغه غمجن دی... د مزار غمیزه... کندهار... هغه ډېر غمجن دی.» مایوروف وایي چې «کله مې دا فکر کړی و، چې داسې له شرمه ډکه پېښه به ګني پر خپلو سترګو ووینم؟» په پای کې دی بېحوصلې شو او (او) ته یې په ټینګه وویل چې زما له خوا ورته ووایه چې «که دی، ببرک کارمل همدا نن له شراب څښلو نه لاس وانخلي نو زه به یوري اندروپوف او دیمتري اوستینوف ته خبر ورکړم... او بله دا چې خو دا تاته وایم چې له دې ځایه به داسې والوزي، چې خدای خبر چېرته به مځکې ته راکوز شي.» ډګروال (او) د کارمل ځواب په دې ډول وژباړه چې «دی پوښتنه کوي، چې څه وکړم، هغه د اپرېل (ثور) انقلاب لپاره هر څه ته چمتو دی....» او «هر هغه څه به وکړي چې ملګري برېژنیف، اندروپوف، اوستینوف، ګرومیکو یې... ورته ووایي.» د مایوروف سملاسي هدایت ورته دا و، چې «... د اوس لپاره باید دی همدا سبا د کابل په تلویزیون کې وینا وکړي، د هېواد د حالاتو او د انقلاب د بریاوو په ساتنه کې له دښمن سره د وسله والې مبارزې د بریالیتوبونو به اړه دې وغږېږي... باید عسکري چونېو ته ورشي، له قومندانانو، د ټبرونو له مشرانو او د ولایتونو له والیانوسره وګوري.» په پای کې مایوروف وایي چې «په ژوند کې مې احمقان، لټان او شرابیان

نه خوښېدل او دلته دا ټول صفتونه په یوه کس کې راټول شـوي وو او دا سړی بیا ګوندي لارښود او د دولت مشر و. له ارګ نه بېروحه ووتلم. زه پوهېدلم چې څه ناولې او خبیثه پېښه شوې ده.»

دا به ځکه «ناولې پېښه» وه، چې مایوروف د اندروپوف د هدایت پـر خلاف له کارمل سره چلند کړی و، هغه ورتـه ویلـي وو، چـې «پـوهېږو چې کارمل یوه کرغېړنـه څېـره ده، خـو زمـونږ لارښـودنو تـه کلـک غـوږ نیسي. د هغه ملاتړ وکړه.»(۱۵) دا د برېژنیف اخري وخت و او شورویان ډاډه وو، چې پوځ به یې مجاهدان ځپي. دوی ټول پر کارمـل ولاړ وو، د همدغه کال په پای کې و، چې ستر جنرال مایوروف په افغانسـتان کـې له څه باندې یـو کـال خـدمت نـه وروسـته مسـکو تـه وغوښـتل شـو او کارمل د هغه په سپارښتنې عمل ونه کړ.

اصلي خبره در جیم د پوځ وه چې د مجاهدانو په وړاندې یې جنګـي قابلیت ښه نه شو او خلقي افسران د پخوا پـر شـان لـه پرچمـي افسـرانو سره وران وو او په سیاسي لوړه سطح کې د لویانو ترمینځ یې بې اتفاقي وه، چې دا ټول د رجیم او د پوځ اساسـي نیمګړتیـا وه. شـوروي پـوځ د پخوا پـه شـان پـه نښـتو او جنګونـو کـې ښـکېل و، چـې د هغـه لـه املـه شوروي افسـرانو له پرچمي ا فسـرانو سـره زیـږ چلنـد کـاووه، لکـه چـې جنرال شبرشین وایي «...قومندې مو ورکولې، خپـل ترتیـب او دود مـو ورته لېږداووه؛ د (ته) په خطاب سره مو ورسره سلوک کاووه؛ په سـوک مو مېز ورتـه ډبـاووه، [او] پـه انټرنیشسـلتي سـاحه کـې مـو ورتـه د مـور ښکنځا کولې [کوله].»(۱۶) کارمل څو کاله پر خپل مقام پاتې و او دا پـه ۱۹۸۶ کې د ګورباچوف په واکمنۍ کې و، چې له دغه مقام نه وغورزول

شو او نجیب الله یې پر ځای وټاکل شو.

نجیب الله د ګورباچوف د پروسترویکا له اصلاحي پروګرام نه په الهام سره د ملي پخلاینې په نامه په ورته سمونونو پیل وکړ او خپل زیږ او ضیق پرچمي رجیم یې تر ډېره حده نرم کړ او ځان یې هم ملي او دیني شخص وښود، چې دمخه یې بیان شوی دی. په دغو سمونونو سره په دواړو هېوادونو کې دغسې نوي ځواکونه او هیلې هسکې شوې، چې له امله یې دواړه نظامونه له مینځ نه لاړل او په نړۍ کې یوه نوې دوره پیل شوه او پر ځای یې مخالف نظامونه واکمن شول.

د نجیب الله په واکمنۍ کې غټه پېښه د ژنیو توافق لیکونه وو، چې د هغو له مخې شوروي پوځ په دوه جوپو کې ووت او افغانستان د ۱۹۸۹ کال د فبرورۍ له پنځلسمې نه وروسته بېرته خپلواک شو. په بله میاشت (مارچ) کې د نجیب الله پوځي ځواک د عامه ذهنیت پر خلاف پر جلال اباد ښار باندې د مجاهدانو بېسارې غټه ګډه حمله پر شا وتمبوله او رجیم یې نوم او اعتبار وموند. خو له هغه وروسته دننه په ګوند او حکومت کې د خلقیانو او پرچمیانو ترمینځ د واک په سر مسابقه تېنګه ونیول شوه او خلقیان په دې لټه کې شول، چې د شوروي پوځ په نه شته توب سره به واکمني بېرته ترلاسه کړي. په وړاندې یې نجیب الله قومي ملیشاوې په پراخه پیمانه تنظیم کړې او د دې پروا یې ونه کړه چې د دغسې ځواک تنظیم به د حکومتي چوکاټ او پوځي مقررو نه د باندې پایلې د عامه نظم په تاوان شي. په ګوند کې خپلمنځي سیالي په قوت روانه وه او د دواړو ګوندګیو لویانو دغه قابلیت ونه ښود چې د هېواد او عمومي نظم په خاطر له معتدلو قوتونو

سره جوړه وکړي او حتی له اسلامي تنظیمونو سره کوم ډول پوهاوي ته ورسیږي او د یونو د ځانګړي استازي بینان سیوان تجویز عملي کولو لپاره لار هواره کړي، که څه هم نجیب الله په دغې لار کې کوښښونه جارې کړي او حتی حاضر شوی و، چې د هغه د ترسره کېدلو لپاره له خپل مقام نه ځان ګوښه کړي. خو په دغه وخت کې د دوی ټولو ترمینځ بې اعتمادي ډېره ژوره او چلندونه او سیاستونه سره دغومره په تضاد کې وو، چې سره نه پخلاکېدونکي مالومېدل. خو په دغسې حساس او سیاسي پړخه لیک ټاکونکي وخت کې له نجیب الله نه پرته بل یو دغسې شخص ثابت نه شو، چې لږ تر لږه د پراخ بنسټ حکومت د جوړولو په لور له نورو سره اوږه ورکړي. دوی ټول پښتو پر سر اخیستي او یوه یې هم له ضییق فکري چوکاټ نه د باندې فکر او عمل کولی نه شو، په واقع کې دوی ټول پښتو ته تسلیم وو.

په دغه حال کې هم رسمي ګوند په مینځ کې د قدرت سیالي په قوت روانه وه، تر څو د ۱۹۹۰ د مارچ په ۶مه په یوه روایت د دفاع خلقي وزیر جنرال شهنواز تنې په کودتا لاس پورې کړ او په بل روایت د رجیم مخالفو لویانو دی مجبور کړ، چې په دفاعي عمل لاس پورې کړي. حقیقت چې هر څه و، دغه کودتا یې عمل ناکام شو او پرچمیان د لومړي ځل لپاره په پوځ، ګوند او رجیم کې سروال شول او خلقیان یې د دوهم ځل لپاره وځپل، لکه دوی چې یې دمخه دوه ځلې ځپلي وو. له هغه وروسته و، چې نجیب الله دننه په خپل ګوندګي کې له خطرناکې ستونزې سره مخ شو، چې هغه د کارملي پرچمیانو له خوا د قومي ملیشاوو په قوت د نجیب الله پر ضد حرکت و، دغه حرکت له هغه

وروسته قوي شو چې د ۱۹۹۱ کال د دسمبر په ۲۵مه شوروي اتحاد منحل شو او د ده پر رجیم باندې د وسلو او پیسو مرسته بنده شوه. په دغه حال کې کارملي پرچمیانو وکولی شول، چې د همدغو ملیشاوو په قوت نجیب الله له واک نه وغورزوي او اسلامي تنظیمونو ته اسانه کړي چې کابل له دوی سره بې د کومې موافقې له مخې ونیسي. په دې ډول په افغانستان کې د لومړي ځل لپاره اسلامي تنظیم واکي پیل شوه او د پرچم رجیم ځای د خلقیانو په اصطلاح د تاریخ کنده شوه.

پر افغان ټولنه باندې د شوروي د یرغل پایلې ډېرې ژورې وې. تر ټولو غټه او نه ښنوونکې یې د وطن، دین او خپلواکۍ په دفاع کې د لکونو افغان مجاهدانو شهادت، د ملیونونو افغانانو کډوالي او د هېواد ورانی و. بله غټه پایله یې په افغانانو کې د دیني ذهنیت بېساري پیاوړیتوب او په افغانستان کې د لومړي ځل لپاره د تنظیم واکۍ هسکېدل وو، چې د هغه پایله هم د جنګ یوه بله دوره شوه. د شوروي اتحاد په یرغل سره یوه ډله تعلیم کړي ځوانان په واک شول، خو دوی لکه چې په مخکې پاڼو کې ویل شوي، خپلواک نه بلکې بلواک وو.

د دوی د بلواکۍ یو علت دا و، چې دوی د هېواد په اداره کې له پردیو سره لاس یو کړ، نه له خپلو وطنوالو سره. دوی ځکه دغسې وکړل، چې دوی دغه پردي خپل او خپل وطنوال بېګانه ګڼل. خو دغو پردیو هم چې دوی یې له نزدې نه وپېژندل ورته په سپکه کتل په تېره وروسته له هغه چې د دوی لپاره یې ځاني او مالي تلفات ورکول، بیا نو د دوی سروال د هغو سروال ته «یوه کرغېړنه څېره» وه. د چیریومنیخ او بروبینکس په نومونو د ستر جنرال مایوروف مشاورانو لا د هغه په اړه

ویل چې «هسې په دې یابو خبل وخت ضایع کوو، زر یا وروسته یې ان که وخت نازک هم وي باید بدل کړو، هسې خوشې پرې دا وابنه خورو.»(۱۷)

څوک چې خپل وطن او خپلو وطنوالو ته خیانت او پردیو ته خدمت وکړي، پای به یې دغسې ذلت وي. فاعتبرو یا اولی الابصار- نو عبرت واخلئ اې! د بصیرت خاوندانو.

(پای)

# ملونه

لاندې درې متنونه د هغې موافقې په اړه دي چې د ۱۹۸۲ کال په دسمبر کې د قومندان احمدشاه مسعود او د شوروي اتحاد د څلوېښتم لمبر پوځ د کوم چارواکي ترمینځ لاسلیک شوې ده. دغه متنونه سره ډېر توپیر لري او یو یې هم رسمي نه دی.

د عبدالحفیظ منصور په وینا «خلاصه مندرجات موافقتنامه مذکور بنا به گفته احمدشاه مسعود چنین است:

1- از انجاییکه این متارکه قدم اولی در جهت ازادی افغانستان تلقی میشود بناءً از جانب مجاهدین پذیرفته شد.

2- تمام قوای روسي و نیروهای رژیم کابل پنجشیر را ترک گفته صرفاً یک کندک روسي و یک کندک داخلي در ساحه غیر مسکوني اعنابه باقي خواهد ماند. این پوسته هیچ نوع پوسته های امنیتي دیگری را دارا نمیباشد و قطعاً در کارهای مردم دخالت کرده نمیتواند و حق هیچگونه فیر زمینی یا هوایی را ندارد.

3- مجاهدین بالای قوای دشمن مستقر در اعنابه حمله نکرده و در مقابل روس ها بسایر مناطق پنجشیر حمله نمی نمایند.

4- مجاهدین حق دارند تا وسایلی را که وارد مرکز دشمن در اعنابه میشود باز رسی کنند و قوای روسی و داخلی حق ندارد دست باستحکامات نظامی و تقویه قوای خویش بزنند.

5- هر گاه وسایطی بغرض اکمالات غذایی وارد آن مرکز شود قبلاً باید از مجاهدین اجازت حاصل گردد.
6- ماین های کاشت شده در مناطق مسکونی توسط روس ها خنثی میگردد.
7- در خارج پنجشېر مجاهدین و روس ها هر دو ازادی دارند، اهداف خود را تعقیب کنند.
8- افراد طرفین داوطلبانه میتوانند تسلیم یکدیگر شوند و کسانیکه بزور دستگیر میگردند دوباره مسترد میشوند.
9- ساحه اتش بس شامل، پنجشیر، شتل و قسمتی از اندراب، سنجن، بولغین و گلبهار بالا میشود.
10- ولسوالي که بطور نام نهاد در اعنابه مستقر میشود، بموافقه امریت پنجشیر تعین میگردد. وی بجز اینکه تسهیلاتي را برای اهالی در رابطه به تردد شان به پنجشیر و کابل فراهم کند، دیگر دخالتی در امور مردم نمیتواند داشته باشد.

منبع: (پنجشېر در راه جهاد) یاد شوی اثر، مخونه ۹۵-۹۷

بل متن ټکی په ټکي د ثریا بها له کتاب نه نقل کېږي، په نامه د (رها در باد). بها هم وایي چې دغه متن قومندان مسعود ورته ویلی دی.
یک: تمام قوای روسي و نیروهای رژیم کابل باید پنجشېر را ترک بگویند. تنها یک گاردیزیون در عنابه باقی میماند که حق دخالت درکار مردم و حق هیچ گونه فیر زمینی و یا هوایی را ندارد.
دو: هیچ نوع نیروهای رزمی وارد مرکز دشمن در عنابه شده نمیتواند.
سه: هرگاه وسایط به غرض اکمالات وارد ان مرکز شود قبلاً باید از مجاهدین اجازه گرفته شود.

چهار: ماين هاى كشت شده در مناطق مسكوني بوسيله روس ها خنثى ميگردد.
پنج: روس ها و رژيم كابل از هر نوع توطيه از قبيل ترور و سبوتاژ خودداری كنند.
شش: افراد طرفين داوطلبانه ميتوانند تسليم يكديگر شوند اما كسانى كه به زور تسليم ميكردند، دوباره مسترد گردند.
هفت: ساحه اتش بس، شامل پنجشير، شتل و بخشى از اندراب، سنجن بولغين و گلبهار ميباشد.
بها دا هم وايي چې «... اناتولى ايوانو ويچ تكاچوف افسر ستا د كل كشف اتحاد شوروى موظف در افغانستان (۱۹۸۲ و ۱۹۸۳) پيشنهاد اتش بس را بوسيله ميرداد و داود به مسعود فرستاد. هيئت بخانه محمد غوث در قريه «بلندي» بازارک پنجشير رفتند. در اين ملاقات چهار نفر حضور داشتند: احمدشاه مسعود، جنرال اناتولي، مترجم اميرمحمد سمرقندى و ميرداد.»
منبع: بها، رها درباد، ناشر، شركت كتاب، لاس انجلس، ۱۲،۲۰ مخ ۵۵۰.

لاندې متن د بروس رچړډسن له کتابګوټي نه اخيستل شوى چې وايي هغه د ک. ج. ب د يوه چارواكي جنرال ليونيد شبرشين له كتاب نه نقل شوى دى.

## د پروتوكول مسوده

په افغانستان کې د شوروي پوځونو د مشرۍ او د پنجشير د وسله وال اپوريشن ترمينځ د دوه اړخيزو اړيكو د حالاتو په اړه.

د ښه نیت او هیلې د هڅونې له مخې د دې لپاره چې په افغانستان کې سوله ټینګه شي، ژمنو خواوو دغه پرېکړه لیک لاسلیک کړ، چې د هغه پر بنسټ به لاندې مکلفیتونه ترسره کوي.

1- په جنوبي سالنګ او د کابل-حیرتان د لارې په نورو سیمو کې به نظامي عملونه په ټپه دروي، له هر ډول وسلې نه د هرې هغې ډزې په ګډون چې په هر هغه ځای کې وي، چې د افغانستان د اسلامي جمعیت، کلیو، نظامي پوستو او د افغان او شوروي پوځونو او د بندر محافظانو او څارندویانو تر لاس لاندې وي.

2- د پنچشیر وسله وال واحدونه د تاجکستان او چوګاني (Chaugani) ترمنځ د لارې ساتنه پر غاړه اخلي، په دغه مقصد چې د افغان او شوروي پوځي واحدونو په وړاندې د ډزو کولو، داړه اچولو او نورو عملونو مخه ونیسي.

3- د شوروي خوا ژمنه کوي، چې د دواړو په موافقې سره د سملاسي اړتیا او نورو څیزونو د ضروري مقدار مواد او نور هغه څه تهیه کړي، چې دواړو خواوو د ټاکلې مودې په چوکاټ کې دننه کړي، چې د پنجشیر او د هغو سیمو د لارې د ساتنې لپاره پرې موافقه شوې، چې په همدغې لارې پورې تعلق لري.

4- د نورو ګوندونو واحدونه او ډلې به پرې نه ښودلي شي چې د بحث لاندې سیمه کې په دغه مقصد ننوځي چې پر افغان او شوروي واحدونو باندې ډزې وکړي، تر وروستي عملیات وکړي یا پایپ لاین وران کړي.

5- [دواړه خواوې دا هم مني] چې اطلاعات سره مبادله کړي او په ګډه زیار وباسي، چې هغه افغان او شوروي کسان ومومي چې په دغې یا دې سیمې کې ورک شوي دي.

6- چې د سختو کړکېچونو په حال کې سره غونډې وکړي، د دې لپاره چې په همدغې يادې سيمې کې د سولې د ساتنې لپاره د نويو نظامي عملياتو د مخنيوی لپاره وي.

7- د دغه پروتوکول د نفوذ ساحه د تاجکستان او چوګاني (Chaugani) ترمينځ د انتقال پر لار په دواړو خواوو کې دېرش کيلومتره غزېږي. له دغه حدود نه اخوا د شوروي پوځ او د پنچشېر وسله وال ځواکونه حق لري، د هغو وسله والو واحدونو او ډلو د له منيځ نه وړلو لپاره عمليات وکړي، چې د دواړو خواوو پر ضد يې نظامي عمليات نه دي درولي.

8- دغه پروتوکول د لاسليک کېدلو له وخت نه وروسته نافذ دی.

د شبرشين د ليکنې له مخې، بروس رچرډسن، ياد شوی اثر، مخونه ۲۷-۲۸. دغه پروتوکول په افغانستان کې د شوروي څلوېښتم لمبر پوځ لوی قومندان ب.ګروموف په وينا چې د دواړو خواوو ترمينځ پر د ۱۹۸۲ کال په دسمبر کې لاسليک شوی و، د ۱۹۸۴ کال تر اپرېل پورې اوږد شو. سرې لښکرې، ياد شوی اثر، مخ ۲۶۸.

د دغو متنونو ترمينځ اختلاف د يوه انګليس تاريخپوه کيسه راپه زړه کوي، چې په کومې فقرې کې بندي شوی او په محبس کې يې له ډېر کوښښ سره هم ونه شو کولی، د يوه بندي د قتل قاتل مالوم کړي. ده بيا خپل مسلک پرېښود، په دغه دليل چې ده چې په خپل وخت کې د يوه انسان په قتل کې واقعيت مالومولی ونه شو، څنګه به وکولی شي، د تېرو پېښو واقعيتونه کشف کړي. په رښتيا هم د واقعيت پر بنسټ د تېرو پېښو کښل يو ډېر ګران کار دی، خو ناممکن نه دی.

# یاددښتونه

## پر افغانستان باندې د شوروي اتحاد وسله وال یرغل


1- برنارد پیرس، د روسیې تاریخ، ډورسټ پرس خپرونه، نیویارک، ۱۰۵۳، مخ ۱۱-۱۲.

2- د قول نقل، محمد حسن کاکړ، د افغانستان سیاسي او دیپلوماتیکي تاریخ-۱۸۶۳-۱۹۰۱، برل خپرونکې موسسه، لیډن، ۲۰۰۶، مخ ۱۹۴.

3- پورتنی اثر، مخونه ۱۹۳-۲۰۹

4- محمد حسن کاکړ، افغانستان د شوروي ا تحاد یرغل او د افغان ځواب، کلیفورنیا پوهنتون خپرونه، برکلي، لندن، ۱۹۹۵، مخونه ۲۱۷-۲۱۹

5- ۴ الف-وستاډ، د یرغل په درشل کې، شوروي اتحاد او افغان کمونستان، ۱۹۷۸-۱۹۷۹، د بین المللی تاریخ مجله، سایمن فریزر پوهنتون، لمبر ۱، فبروري ۱۹۹۴، مخ ۴۹

6- پاسنی اثر، مخ ۶۰

7- واسیلي میتروخین، ک. ج. ب په افغانستان کې، ژباړونکي او تنظیم کوونکی کرستین اوسټرمان او اووډ وستاړ، د ساړه جنګ بین المللي تاریخ پروجه، د پوهانو لپاره د ودرو ولسن بین المللي مرکز، واشنګټن، فبروري ۲۰۰۲، مخ ۴۲

۶ الف: پاسنی اثر، مخ ۴۱

۷ وستاد، یاده شوې مقاله، مخ ۵۳
8- میتروخین، یاد شوی اثر، مخ ۴۳
9- پاسنی اثر، هماغه مخ
10- پاسنی اثر، مخ ۴۹
11- پاسنی اثر، مخ ۴۹
12- پاسنی اثر، مخ ۵۰
13- پاسنی اثر، مخ ۵۰
14- پاسنی اثر، مخ ۵۰. کرستیفراندرو، او میتروخینن، نړۍ زمونږ په لور روانه ده، ک. ج. ب او د دریېمې نړۍ لپاره مبارزه، خپرونکی بیشک بوکس، نیویارک، ۲۰۰۵، مخ ۳۹۴
15- میتورخین، ک. ج. ب په افغانستان کې، یاد شوی اثر، ۸۲
16- پاسنی اثر، ۷۵
17- د ساړه جنګ بین المللي تاریخ پر وجه، پر ا فغانستان باندې د شوروي یرغل په اړه سندونه، څلورم لمبر دوسیه، د ودروولسن مرکز د پوهانو لپاره، واشنګټن، نومبر ۲۰۰۱، مخ ۱۵۷
18- پاسنی اثر، مخ ۱۵۸
19- پاسنی اثر، مخ ۱۵۹
20- میتروخین او اندرو، یاد شوی اثر، ۳۹۵
21- دییګو کوردویز، سلیګ هری سن، له افغانستان نه د باندې د شوروي د پر شا کېدلو دننۍ قیصه، د اکسفورډ پوهنتون خپرونه، ۱۹۹۵، مخ ۴۵
22- میتروخین، اندرو، نړۍ زمونږ په لور روانه ده، یاد شوی اثر، ۳۹۸

23- هنري براډشر، افغانستان او شوروي اتحاد، د ډيوک پوهنتون خپرونه، درهم، ۱۹۸۵، مخ ۱۳۷، امستوتز، افغانستان، د شوروي اتحاد پنځه کاله اشغال، ملي دفاع پوهنتون خپرونه، ۱۹۸۶، واشنګټن، مخ ۴۲

24- پر افغانستان باندې د شوروي يرغل په اړه سندونه، ياد شوی ا ثر، مخ ۱۶۰

25- پاسنی اثر، ۱۵۸

26- محمد حسن کاکړ، د ثور کودتا او د هغې ژورې پايلې، د افغانستان کلتوري ودې ټولنه، ۲۰۱۰، کابل، مخ ۳۸۴

27- د قول نقل، ميتروخين، ک. ج. ب...، ياد شوی اثر، ۳۴

28- پاسنی اثر، ۳۵

29- ميتروخين، اندرو، نړۍ زمونږ په لور روانه ده، ياد شوی اثر، ۳۹۸

30- ميتورخين، ک. ج. ب..، ياد شوی اثر، ۸۸

31- پاسنی اثر، ۸۹

32- ميتروخين، اندرو، نړۍ زمونږ په لور روانه وه، ياد شوی اثر، ۳۹۹

33- پاسنی اثر، مخ ۴۰۰

34- سلبيګ هري سن، له افغانستان نه د باندې، ياد شوی اثر، مخ ۴۸

35- د قول نقل، پورتنی اثر، مخ ۴۹

36- پاسنی اثر، مخ ۶۵

37- وارينيکوف و اوسترمان ته. اوګارکوف دغه څه د پولټبورو ه غونډه کې، دسمبر ۱۰، ۱۹۷۹، د افغانستان د جنګ په اړه د بين المللي تاريخ په لور، ۱۹۷۹، ۱۹۸۹، د وډروولسن مرکز، د ساړه جنګ بين المللي تاريخ، ۲۹-۳۰ اپريل ۲۰۰۲، واشنګټن، مخونه په اصل کې په نښه شوي نه دي.

38- کرستفر ا ندرو، واسیلي میتروخین، توره او سپر، د میتروخین ارشیف او د ک. ج. ب پټ تاریخ، خپرونکي بېسک، بوکس، نیویارک، ۱۹۹۹، مخ ۳۸۹

39- اندرو میتروخین، نړۍ زمونږ په لور روانه وه، یاد شوی اثر، مخ ۴۰۱

40- میتروخین، ک. ج. ب، یاد شوی اثر، مخونه ۸۹-۹۳

41- پاسنی اثر، مخونه ۹۵-۹۴

42- اقبال وزیري، د ثور پاځون، د ک. ج. ب دسیسې او شوروي یرغل، خپرونکی د پښتونخوا د پوهنې دېره، پېښور، ۲۰۰۷-۱۳۸۶، مخ ۱۵۲

43- کاکړ، افغانستان، د شوروي یرغل او د افغان ځواب، یاد شوی اثر، مخ ۴۶

44- د روسیې افسران، د شوروي- افغان ځواک جګړه، یو زبر څنګه وجنګېد او بایلله، دلسترګراو او میکاییل ګریس ژباړه، د کنساس پوهنتون خپرونه، ۲۰۰۲، مخ ۱۲

45- کاکړ، افغانستان، د شوروي یرغل د افغان ځواب، یاد شوی اثر، مخ ۲۱

46- صالح محمد زېری، د نیمې پېړۍ خاطرې، د لیکوال خپرونه، پېښور، ۲۰۰۵، مخ ۴۴۷

47- پورتنی اثر، مخ ۴۴۷

48- د قول نقل وزیري، د ثور پاځون، یاد شوی اثر، ۱۶۱

49- زېری، د نیمې پېړۍ خاطرې، ۴۴۷

50- وزیري، د ثور پاځون، یاد شوی اثر، مخ ۱۵۹

51- خیال محمد کتوازي پاڼې. کتوازی په خلقي حکومت کې د کلتور او اطلاعاتو وزیر او تره‌کي او امین ته نږدې او د خپل ګوند او حکومت په اړه د مالوماتو خاوند و. دی یو وخت په پوهنتون کې زما شاګرد و او په جرمني کې اوسېده. ما ده ته د خلقي حکومت په تېره د امین او تره‌کي ترمینځ د اختلاف په اړه ډېرې پوښتنې ورواستولې، او ده ماته په لیکلي ډول ځوابونه واستول، چې هغه له ماسره خوندي دي. دغه پاڼې به زه دلته د کتوازي پاڼې په نامه یادې کړم او که وشوه یوه ورځ به یې تنظیم او خپرې هم کړم. دی دوه کاله دمخه په جرمني کې وفات شو، دی شاعر او لیکوال هم و.

52- عبدالعلي ارغنداوی، ژوندۍ خاطرې، په تېرو نهو لسیزو کې د افغانستان تاریخ، ۱۹۰۰-۱۹۹۲، خپرندوی بي بي سي، پېښور، مخ ۳۰۷

53- زېری، د نیمې پېړۍ خاطرې، یاد شوی اثر، مخ ۴۵۶

54- د قول نقل، ارغنداوی، ژوندۍ خاطرې، یاد شوی اثر، مخونه ۳۰۸-۳۰۹

55- زېری، د نیمې پېړۍ خاطرې، یاد شوی اثر، مخ ۴۵۷

56- کتوازي پاڼې،

57- میتروخین، اندرو، نړۍ زمونږ په لور روانه وه، یاد شوی اثر، مخ ۴۰۲

58- اقبال وزیري، د ثور پاڅون، یاد شوی اثر، مخ ۱۶۴

59- محمد حسن کاکړ، سیاسي جورنال ج-۱، مخ ۱۰۹ ما په خلقي حکومت کې د بالاحصار نظامي پاڅون نه د پرچم رجیم په وخت کې په ۱۹۸۲ کې تر بندي کېدلو پورې په زرمخونو کې سیاسي پېښې ثبت

کړې، دلته هغه د سیاسي جورنال په نامه یادوم او هیله لرم، چې هغه به یوه ورځ تنظیم او خپرې کړم.

60- کاکړ، جورنال، یاد شوی اثر، ج۱، مخ ۱۱۲

61- میتروخین، ک. ج. ب په افغانستان کې یاد شوی اثر، مخ ۸۷

62- پر افغانستان باندې د یرغل په اړه سندونه، یاد شوی اثر، مخونه ۱۶۰-۱۶۱. میتروخین، ک. ج. ب، یاد شوی اثر، مخونه ۱۰۳-۱۰۶

63- وزیري، د ثور پاڅون، یاد شوی اثر، مخ ۸۵

64- د افغانستان د جنګ په اړه د بین المللي تاریخ په لور ۱۹۷۹-۱۹۸۹، پوهانو لپاره د ودرو ولسن بین المللي مرکز، یاد شوی ا ثر، مخ ۱۸۹، د سندونو دغه پړ اثر، د مخونو لړۍ نه لري، دغه مخونه ما په خپلې نسحې کې په نښه کړي دي.

65- میتروخین، ک. ج. ب..، یاد شوی اثر، مخ ۴۲

66- اقبال وزیري، د ثور پاڅون، یاد شوی ا ثر، مخ ۷۷

67- د افغانستان د جنګ په اړه د بین المللي تاریخ په لور، ۱۹۷۹-۱۹۸۹، یاد شوی اثر، مخ ۱۵۸

68- موروزوف، په کابل کې زمونږ سړي، نیوټایمز (مجله)، ۳۹، ۱۹۹۱، مخ ۳۳.

69- اقبال وزیري، د ثور پاڅون، یاد شوی اثر، مخ ۱۶۶

70- هري سن، له افغانستان نه د باندې، یاد شوی ا ثر، مخ ۲۹

71- وزیري، د ثور پاڅون، یاد شوی اثر، مخ ۱۲۰

72- په متن کې نیول شوی نه دی، سهوه ده.

73- زیری، د نیمې پیړۍ خاطرې، یاد شوی اثر، مخ ۴۵۰

74- وزيري، د ثور پاڅون، ياد شوى اثر، مخ ۱۶۶
75- پاسنى اثر، مخونه ۱۶۶، ۱۶۵
76- کاکړ، افغانستان د شوروي يرغل د افغان ځواب، ياد شوى اثر، مخ ۲۹-۳۱
77- پورتنى ا ثر، ۴۷
78- د قول نقل، هري سن، له افغانستان نه د باندې، ياد شوى اثر، مخ ۴۳
79- اوليور راى، اسلام او مقاومت په افغانستان کې، د کيمبرج پوهنتون خپرونه، کيمبرج لندن، ۱۹۸۶، مخ ۷۶، ۱۲۱
80- د قول نقل، هري سن، له افغانستان نه د باندې ياد شوى اثر، مخ ۴۲
81- وزيري، د ثور پاڅون، ياد شوى اثر، مخ ۱۴۰
82- اووړ وستاد، د «الف» د وضع په اړه، پر افغانستان باندې د شوروي د يرغل په هکله نوي شواهد، پر افغانستان باندې د شوروي د يرغل په هکله سندونه، ياد شوى اثر، مخونه ۱۲۸-۱۳۱ له «الف» نه مقصد افغانستان دى، دغه ليکنه د شوروي يرغل په اړه ډېر دقيق مالومات ورکوي.
83- د قول نقل، هري سن، له افغانستان نه د باندې، ياد شوى اثر، مخ ۴۴
84- د قول نقل، برادشير، افغانستان او شوروي اتحاد، ياد شوى اثر، مخ ۱۵۵. کاکړ، افغانستان، ياد شوى اثر، مخ ۴۹
85- براډشير، ياد شوى اثر، مخ ۱۱۸. کاکړ، ياد شوى اثر، مخ ۴۳
86- د قول نقل، ميتروخين، ک. ج. ب...، ياد شوى اثر، مخ ۹۷
87- پر افغانستان باندې د شوروي اتحاد د يرغل سندونه، ياد شوى اثر، مخ ۱۵۸
88- ميتروخين، ک. ج. ب په افغانستان کې، ياد شوى اثر، مخ ۷۷

89- پر افغانستان باندې د شوروي يرغل په اړه سندونه، ياد شوی اثر، مخ ۱۵۳
90- پورتنی اثر، مخ ۱۵۴
91- براډشير، افغانستان او شوروي اتحاد، ياد شوی اثر، مخ ۱۱۷
92- وزيري، د ثور پاڅون، ياد شوی اثر، مخ ۱۵۱
93- پورتنی اثر، مخ ۱۵۲-۱۵۴
94- براډشير، افغانستان او شوروي اتحاد، ياد شوی اثر، مخ ۱۸۵. کاکړ، افغانستان، ياد شوی اثر، مخ ۴۸
95- پر افغانستان باندې د شوروي اتحاد د يرغل سندونه، ياد شوی اثر، مخ ۱۵۷
96- پورتنی اثر، مخ ۱۴۴
97- پورتنی اثر، مخ ۱۴۲. د سليګ هري سن په ليکنه کې دغه مطلب په لږ تغيير سره ذکر شوی دی، له افغانستان نه د باندې، ياد شوی اثر، ۳۷
98- پر افغانستان باندې د شوروي اتحاد د يرغل سندونه، مخ ۱۴۳
99- پورتنی اثر، مخ ۱۶۱
100- ج. کورني ينکو، افغان کوښښ: د نظامي يرغل او بېرته کېدلو پيچلتوب، د جنوبي اسيا او منځني ختيځ د مطالعاتو جورنال، ويلو نووا پوهنتون، ژمی ۱۹۹۴، مخونه ۷-۸
101- هري سن، له افغانستان نه د باندې، ياد شوی اثر، مخ ۴۷. نوګي او ډانلډسن له دوهم نړيوال جنګ نه وروسته د شوروي اتحاد باندنۍ چارې، پرګامون خپرونه، ۱۹۸۴، مخ ۲۶۲
102- د قول نقل، براډشر، افغانستان او شوروي اتحاد، ياد شوی اثر، ۱۵۳
103- ميتروخين، ک. ج. ب په افغانستان کې، ياد شوی اثر، مخ ۳۹

104- پورتنی اثر، مخ ۱۱۲
105- کاکړ، افغانستان د شوروي یرغل او د افغان ځواب، یاد شوی اثر، ۴۲، شخصي مرکه، زلمی خروټی
106- کټوازي پاڼې
107- شخصي مرکه، کانکوړډ، جنوري، ۱۲،۲۰۱۲
108- زېری، د نیمې پېړۍ خاطرې، یاد شوی اثر، مخ ۳۰۵

# ۲

## د تېري په وړاندې غبرګونونه

1- د شوروي اتحاد د کمونست ګوند د مرکزي کمېټې فيصله، ۱۲ دسمبر ۱۹۷۹، د برېژنيف، اندروپوف، اوستينوف او ګروميکو په لاسليک. کوسيګين، دغه فيصله د ډسمبر په ۲۵مه لاسليک کړه، نوم يې و د «الف» ياني افغانستان د وضع په اړه. دغه سند د چرننکو په قلم ليکل شوی و، د جنوبي اسيا او منځنۍ ختيځ د مطالعاتو جورنال، د ولانوا پوهنتون خپرونه، ژمی ۱۹۹۴، ۷۶-۷۹ پر افغانستان باندې د شوروي يرغل په اړه سندونه، څلورم لمبر دوسيه، ودروولسن مرکز، ياد شوی اثر ۱۴۹-۱۶۱. ميتروخين، ک. ج. ب...، ياد شوی ا ثر، ۱۰۴-۱۰۷

2- ميتروخين، ک. ج. ب...، ياد شوی اثر، ۱۰۵

3- کاکړ، افغانستان، د شوروي يرغل د افغان ځواب، ياد شوی اثر، ۱۹۶

4- د قول نقل، هيدريک سمت، نوي روسان، رينډم هاوس خپرونه، ۱۹۹۰، نيويارک، مخ ۲۶

5- د قول نقل، ميتروخين، ک. ج. ب...، ياد شوی اثر، مخ ۱۰۹

6- کاکړ افغانستان د شوروي يرغل او د افغان ځواب، ياد شوی اثر، ۱۹۵

7- د افغانستان د جنګ په اړه د بين المللي تاريخ په لور، ۱۹۷۹-۱۹۸۹، ۲۰۰۲، تنظيم کوونکی او سترمان او منتهينو، پوهانو لپاره د

وډروولسن مرکز، واشنګټن، دغه ډېر پڼ اثر، چې د سندونو ټولګه ده، شمېره نه لري.

8- ريمونډګارتوف، ديتانت او مقابله، له نکسن نه تر ريګن پورې د امريکې-شوروي اړيکې د پروکنګزس موسسه، خپرونه، واشنګټن، ۱۹۸۵ ، مخونه ۹۴۱-۹۴۵

9- ډانلډسن د شوروي باندنی سياست له دوهم نړۍوال جنګ نه وروسته، برګرمون خپرونه، ۱۹۸۴ ، مخ ۲۸۹

10- د افغانستان د جنګ په اړه د بين المللي تاريخ پر لور، ۱۹۷۹-۱۹۸۹ ، ياد شوی اثر، له برېژنسکي نه ولسمشر کارتر ته، دسمبر، ۲۶، ۱۹۷۹

11- له ډانووان نه ولسمشر کارتر ته، جنوري ۲ ، ۱۹۸۰ پورتنی اثر

12- براډشير،افغانستان او شوروي اتحاد، ياد شوی اثر، ۱۹۴-۱۹۶ له سپايرز نه، د باندينو چارو وزير ته، په افغانستان کې د شوروي د مقصد په اړه، مارچ۴، ۱۹۸۰ ، پورتني اثر

13- اناتولی دوبري نن، په محرم ډول، رينډم هاوس، ۱۹۹۵ ، مخ ۴۵۳ ، ډوبري نن، په امريکې کې ۲۴ کاله له ۱۹۶۲نه تر ۱۹۸۶ پورې د شوروي اتحاد سفير و.

14- د قول نقل ګارتوف، ديتانت او مقابله، ياد شوی اثر، مخ ۹۴۶

15- د قول نقل ګارتوف، پورتنی اثر، ۹۴۶

16- ګارتوف، ديتانت، مقابله، مخ ۹۵۴. براډشر، افغانستان او شوروي اتحاد، ياد شوی اثر، ۱۹۲ . هري سن، له افغانستان نه د باندې، ياد شوی اثر، مخ ۵۵

17- هري سن، له افغانستان نه د باندې، ياد شوی اثر، مخ ۵۶

18- براډشر، افغانستان او شوروي اتحاد، یاد شوی اثر، مخ ۱۹۸
19- ګارتوف، دیتانت او مقابله، یاد شوی اثر، مخ ۹۷۴
20- د قول نقل، هري سن، له افغانستان نه د باندې، مخ ۵۸
21- د قول نقل، پورتنی اثر، مخ ۵۷
22- کاکړ، افغانستان،،... یاد شوی اثر، مخونه ۱۷۶=۱۷۹
23- میتروخین، ک. ج. ب، یاد شوی اثر، مخ ۱۱۶
24- محمد طوقیرعلم، له افغانستان سره جفا، د شوروي د یرغل په وړاندې د افغان مقاومت تحلیل، د پېښور پوهنتون د سیمې د مرکز خپرنه، د پېښور پوهنتون، پېښور، ۲۰۰۸، مخ ۲۳۴

## ۳
## د پرچم رجیم، اسلامي تنظیمونه، ملي حرکت او پاکستان


1- میتروخین، ک. ج. ب، یاد شوی اثر، مخ ۱۳۱

2- انتوني ارنلډ، د افغانستان دوه ګوندي کمونزم، د سټنفورډ پوهنتون خپرونه، کلیفورنیا، ۱۹۸۳، مخ ۹۹

3- پر افغانستان باندې د شوروي د یرغل په اړه سندونه، یاد شوی اثر، مخونه ۶۲-۱۶۳

4- پورتنی اثر، مخ ۱۶۲

5- ایډورډ جرارډت، افغانستان، د شوروي جنګ، کروم هیلد خپرونه، لندن، ۱۹۸۵، مخ ۱۳۶. ارنلډ، دوه ګوندي کمونزم، یاد شوی ا ثر، مخ ۹۹

6- جرارډت، افغانستان، یاد شوی اثر، مخ ۱۳۸. ارنلډ، پورتنی اثر مخ ۹۹

7- جرارډت، یاد شوی اثر، مخ ۳۹

8- محمد حسن شرق، کرباس پوشهای برهنه پا ۱۳۰ تا ۱۳۷ مخ، یاد شوی اثر، مخونه ۲۳۶، ۲۳۷

9- راجا انور، تراجیدی افغانستان، ترجمه له اردو نه انګلیسي ته د خالد حسن، خپرونکې موسسه ورسو، لندن، ۱۹۸۸، مخونه ۲۲۵-۲۲۸

10- میتروخین، ک. ج. ب، یاد شوی اثر، مخ ۱۳۱

11- کاکړ، افغانستان، د شوروي یرغل او د افغان ځواب، یاد شوی اثر، مخونه، ۱۵۳-۱۶۸

12- میتروخین، ک. ج. ب، یاد شوی اثر، مخ ۱۲۸
13- افغانستان باندې د شوروي یرغل په اړه سندونه، دوسیه لمبر۴، یاد شوی اثر، مخ ۱۶۰
14- زېری، د نیمې پېړۍ خاطرې، یاد شوی اثر، ۴۹۰
15- زېری، پورتنی اثر، ۴۹۰، ۴۹۱
16- میتروخین، ک. ج. ب، یاد شوی اثر، مخ ۱۳۰
17- پورتنی اثر، مخ ۱۲۸
18- میتروخین، ک. ج. ب، یاد شوی اثر، مخونه ۱۲۹، ۱۳۰
19- د قول نقل، پورتنی اثر، مخ ۱۳۴
20- پورتنی اثر، مخ ۱۳۶
21- پورتنی اثر، او مخ
22- پورتنی اثر، مخ ۱۲۹
23- پورتنی اثر، مخ ۱۳۹
24- حسین حقاني، پاکستان د ماجت او پوځ ترمینځ، خپرونه د بین المللي سولې لپاره دکار نیکي انعام، ۲۰۰۵، واشنګټن، مخ ۱۸۰
25- براډشر، افغانستان او شوروي اتحاد، یاد شوی اثر، ۱۹۲
26- د افغانستان د جنګ په اړه د بین المللي تاریخ په لور ۱۹۷۹-۱۹۸۹، یاد شوی اثر، جارج شولتزنه و ولسمشر ریګن ته، نومبر ۲۹، ۱۹۸۲
27- میتروخین، ک. ج. ب، یاد شووی اثر، مخ ۱۶۱
28- پورتنی اثر، مخ ۳۰۹
29- پورتنی اثر، د افغانستان د جنګ په اړه د بین المللي تاریخ په لور ۱۹۷۹-۱۹۸۹ یاد شوی اثر، د ضیاءالحق او ریګن او نورو په ګډه لیدنه، ډسمبر ۷-۱۹۷۲ په سپینې ماڼۍ کې

30- مایک مارتین، افغانستان: دننه د یاغي په کلا کې، له مجاهدانو سره سفرونه، د هاټن مفلن کمپنۍ خپرونه، ۱۹۸۸، باسټون، نیویارک مخ ۱۵۲

31- د قول نقل، هري سن، له افغانستان نه د باندې، یاد شوی اثر، مخ ۶۶

32- هري سن، له افغانستان نه د باندې، یاد شوی اثر، مخ ۶۱-۶۶. براډشر، افغانستان او شوروي اتحاد، یاد شوی اثر، مخ ۱۹۸

33- حقاني، د جومات او پوځ ترمینځ، یاد شوی اثر، مخ ۱۸۸

34- پورتنی اثر، مخ ۱۸۸

35- محمد حسن کاکړ، طالبان او اسلامي بنسټ پالنه، د افغانستان کلتوري ودې ټولنه، ۲۰۰۴-۱۳۸۳، مخونه ۲۱۱-۲۱۳

36- کاکړ، پورتنی اثر، مخونه ۲۰۸-۲۶۴. کاکړ، افغانستان: د شوروي اتحاد یرغل او د افغان ځواب، یاد شوی اثر، ۷۹، ۹۲. سټفن شوارتز، د اسلام دوه خواوې، ډبل ډې خپرونه، نیویارک، کال ۲۰۰۲، مخونه ۱۳۱-۱۳۵

37- کاکړ، افغانستان: د شوروي اتحاد یرغل او د افغان ځواب، یاد شوی اثر، افغان مهاجرو کمپونه د پاکستان په ایالتونوکې

38- اناتول لي وین، پاکستان، یو ستونزمن هېواد، د پنګ ون ګروپ خپرونه، ۲۰۱۱، لندن، مخ ۴۴۶

39- عبدالجلیل وجدي، د عنعنوي جرګو نن او پرون، امان خپرونکې موسسه، پېښور، ۱۹۸۶ ا رواښاد وجدي د دغې جرګې منشي و.

40- وجدي؛ پاسني اثر، مخونه ۲۲۴-۲۲۶

41- پورتنی اثر، مخونه ۲۲۶-۲۳۱

42- پورتنی اثر، مخونه ۲۲۴-۲۳۶

43- هري سن، له افغانستان نه د باندې، یاد شوی اثر، مخ ۶۱
44- کاکړ، افغانستان: د شوروي یرغل او د افغان ځواب، یاد شوی اثر، ۹۹
45- وجدي، د عنعنوي جرګو نن او پرون، یاد شوی اثر، ۲۵۷-۳۶۳.
46- ۴۵-ب. وجدي، پاسني اثر، ۲۷۱
47- کاکړ، افغانستان: د شوروي یرغل او د افغان ځواب، یاد شوی اثر، مخ ۸۹
48- حقاني، د جومات او پوځ ترمینځ، یاد شوی اثر، ۱۵۹
49- حقاني، پورتنی اثر، مخ ۱۶۷. کاکړ، افغانستان، پاکستان، پښتونستان لیکنه، ډېورنډ د واحد ملت د بیلتون کرښه، د مقالو ټولګه، د افغانستان کلتوري ودې ټولنه، ۲۰۰۷، مخ ۳۵
50- حقاني، د جومات او پوځ ترمینځ، یاد شوی ا ثر، مخ ۱۶۷
51- زاهد حسین، د مخکې کرښې پاکستان، د کولمبیا پوهنتون خپرونه، ۲۰۰۷، مخ ۳۰، کاکړ یاده شوې لیکنه د ډیورنډ مقالو ټولګه کې، مخ ۳۵
52- زاهد حسین، د مخکې کرښې پاکستان، پورتنی اثر، مخ ۳۰
53- محمد حسن کاکړ، د افغانستان سیاسي او دیپلوماتیکي تاریخ، ۱۸۶۳-۱۹۰۱، برل هاوس خپرونه، لیدن، ۲۰۰۶، مخ ۱۷۷
54- د قول نقل، حسین حقاني، د جومات او پوځ ترمینځ، یاد شوی اثر، مخ ۱۶۶
55- محمد یوسف او مارک ادکن، د خرس تلک، د افغانستان ناویل شوې قیصه، جنګ خپرونکو پرس، لاهور، ۱۹۹۲، مخ ۲۵. حقاني، د جومات او پوځ ترمینځ، یاد شوی اثر، ۱۸۴
56- محمد یوسف او ادکن، د خرس تلک، یاد شوی اثر، مخ ۱۲

57- زاهد حسين، د مخكې كربنې پاكستان، ياد شوى اثر، مخونه، ۱۸-۱۹

58- پورتنى اثر، مخونه ۷۶-۸۸

59- ګل زرک زدران، د تاريخ له خاطرو نه، درسونه عبرتونه، لومړى ټوک، خپرونكى نامالوم، شايد شخصي وي. ۱۳۶۷/۱۹۸۸، مخ ۵۰۹. د قول نقل كاكړ، افغانستان: د شوروي يرغل او د افغان ځواب، ياد شوى اثر، مخ ۸۷

60- كاكړ، افغانستان: د شوروي يرغل او د افغان ځواب، ياد شوى اثر، مخ ۹۵

60 ب- بارنت روبين، د افغانستان برخه كېدل، د ييل پوهنتون خپرونه، ۱۹۹۵، نيوهى ون، لندن، مخ ۲۲۳.

61- حقاني، د جومات او پوځ ترمينځ، ياد شوى اثر، مخ ۱۷۴.

62- شهرت ننګيال، د افغانستان سياسي احزاب، لاسي ليكنه، مخونه ۳۴،۳۵

63- محمد يوسف او ادكن، د خرس تلک، ياد شوى اثر، مخونه ۳۸، ۳۹

64- روبين د افغانستان برخه كېدل، ياد شوى اثر، مخ ۲۱۵

65- پورتنى اثر، مخ ۲۲۴

66- محمد يوسف او ادكن، د خرس تلک، ياد شوى اثر، مخ ۳۹

67- اليور راى، په افغانستان كې اسلام او مقاومت، د كيمبرج پوهنتون خپرونه، كيمبرج، نيويارک، ۱۹۸۶، مخ ۱۲۲

68- برادشر، افغانستان او شوروى اتحاد، ياد شوى اثر، مخ ۲۹۵

69- غلام غوث وزيري، آيينه عبرت، نشر كرده مولف، محل طبع نامعلوم، ۲۰۰۸، ۳۷

70- محمد يوسف او ادكن، د خرس تلک، ياد شوى اثر، مخ ۱۳۶

71- هري سن، له افغانستان نه د باندې، ياد شوى اثر، مخونه ۹۲، ۱۶۲

72- محمد یوسف او ادکن یاد شوی اثر، مخ ۱۰۵
73- افغانزوی (محمد حسن کاکړ) مسئله افغان، چاپ شخصي، ډهلي، ۱۹۹۰، ص ۴
74- ملتې ببیرډن او جیمز (ایران) لوی دښمن، له ک. ج. ب سره د سي‌آی‌اې د وروستۍ مقابلې قصه، د رینډم هاوس خپرونه، نیویارک، ۲۰۰۳، مخ ۲۳۷
75- افغانزوی (کاکړ)، مسئله افغان، یاد شوی اثر، مخ ۱۵

# ۴

## د يرغلګر او کابل رجيم پوځونه او د وطن مدافعان


1- د شوروي-افغان جنګ، ياد شوی اثر، مخونه ۲۶، ۳۰۵

2- ويليیم اودوم، د شوروي پوځ نسکورېدل، د ييل پوهنتون خپرونه، نيوهي ون او لندن، ۱۹۹۸، مخ ۲۴۷

3- د شوروي-افغان جنګ، ياد شوی اثر، مخ ۳۰۵

4- د شوروي- افغان جنګ د اثر منتظمان او ژباړونکي ګراو او ګريس ليکنه، ياد شوياثر، مخ ۳۱۳

5- اودوم، د شوروي پوځ نسکورېدل، ياد شوی ا ثر، مخ ۲۴۸/. يوسف او

6- يوسف او ادکين، خرس تلک، ياد شوی اثر، مخ ۵۵

7- ګراو او ګريس، د شوروي- افغان جنګ، ژباړونکی او تنظيم کوونکي، ياد شوی اثر، ۳۱۳

8- محمد يوسف او ا دکن، د خرس تلک، ياد شوی اثر، مخ ۵۵

9- د شوروی-افغان جنګ، ياد شوی اثر، مخ ۳۰۹

10- ګراو او ګريس (تنظيم کوونکی)، د شوروی-افغان جنګ، ياد شوی اثر، مخ ۳۰۳

11- د شوروي-افغان جنګ، ياد شوی اثر، مخ ۳۰۹

12- محمد يوسف او ا دکن، د خرس تلک، ياد شوی اثر، مخ ۵۴

13- د شوروي-افغان جنګ، ياد شوی اثر، مخ ۱۹

14- پورتنی اثر، مخ ۳۰۹

15- ماریک سلیونسکي، افغانستان، جنګ، نفوس او ټولنه ۱۹۷۸-۱۹۸۷، لمبر۶، لندن مې ۱۹۸۸

16- شوروي-افغان جنګ، یاد شوی اثر، مخ ۲۰

17- ټینر، افغانستان: له لوی سکندر نه د طالبانو تر سقوط پورې نظامي تاریخ، ډه کاپوپرس خپرونه، کال ۲۰۰۲، مخ ۲۵۵

18- شوروي-افغان جنګ، یاد شوی اثر، مخونه ۲۴، ۳۰۵

19- پورتنی اثر، مخ ۱۸

20- اناتولي دوبري نن، په محرم ډول، یاد شوی اثر، مخ ۴۴۵

21- جان سټوسنګر، ملتونه ولې جنګ کوي، د سان مارتن پرس خپرونه، نیویارک، ۱۹۸۵، مخ ۱

22- شوروي-افغان جنګ، یاد شوی اثر، مخ ۱۸

23- پاسنی اثر اومخ

24- علي احمد جلالي اولسترګراو، د غره اخوا: په شوروي- افغان جنګ کې د مجاهدانو تاکتیکونه، د امریکې د مرین یا سمندري ځواکونو د مطالعاتو او تحلیل څانګه، ورجنیا، جون ۱۹۹۵، مخ ۴۰۲. له څه باندې څلور سوه مخونو کې دغه پن اثر، د افغان مجاهدانو د قومندانانو د مرکو ټولګه ده. دا لومړی مهم اثر دی، چې د عمل په ډګر کې جنګونه، نښتې او د هغو په اړه مهم ټکي په خپله د افغان مجاهد قومندانانو له خوا بیانیږي.

25- کاکړ، افغانستان: د شوروي یرغل او د افغان ځواب، یاد شوی اثر، ۱۳۶

26- محمد یوسف او ادکن، د خرس تلک، یاد شوی اثر، مخ ۵۷

27- کاکړ، پورته یاد شوی اثر، مخونه، ۱۳۵-۱۳۷، ۱۷۰-۱۷۳

28- میتروخین، ک. ج. ب په افغانستان کې، یاد شوی اثر، مخ ۱۲۵

29- دغه شمېره په متن کې نه ليدله کېږي، چې دا يوه تېروتنه ده.
30- د شوروي-افغان جنګ، ياد شوی اثر، مخ ۴۸
31- پورتنی اثر، مخ ۳۳۲
32- شوروي —افغان جنګ، مخ ۴۹
33- پورتنی اثر، مخ ۲۳، ۲۴. شبرشين دا هم وايي چې «په پايله کې مونږ يو کمزوری او داسې متحد لاس ته راوړ چې جګړه ييز قابليت يې نه درلود...[او] هغه ډارن او سست دی.» شبرشين، د ماسکو لاس، ژباړونکي محمد طاهر کانی، پېښور، ۲۰۰۳، مخونه ۱۲۷-۱۲۸
34- د شوروي-افغان جنګ، مخ ۲۴
35- پورتنی اثر، مخ ۲۴
36- ميتروخين، ک. ج. ب په افغانستان کې، ياد شوی اثر ۱۲۴
37- محمد يوسف او ادکن، د خرس تلک، ياد شوی اثر، مخ ۳۷
38- انجيلو رساناياګام، افغانستان، عصري تاريخ، د تاريس خپرونه، لندن، نيويارک ۲۰۰۳، مخ ۱۰۹
39- محمد يوسف او ادکن، د خرس تلک، ياد شوی اثر، ۳۵
40- مايک مارتين، افغانستان: دننه د ياغي په کلا کې، ياد شوی اثر، مخ ۷۶
41- پورتنی اثر، مخ ۱۳۷
42- پورتنی اثر، مخ ۱۶۵
43- محمد يوسف او ادکن، د خرس تلک، ياد شوی اثر، مخ ۳۲
44- عزيز الله دين محمد، بس همدا و عبدالحق، صميم ادبي ټولنه، پېښور، ۱۳۸۹/ ۲۰۱۰، مخونه ۹۱-۹۳
45- محمد يوسف ياد شوی اثر، ۶۴

46- ګراو او ګریس (منتظمان)، د شوروی-افغان جنګ، یاد شوی اثر، مخونه ۲۹-۳۱۲

47- محمد یوسف او ادکن، د خرس تلک، یاد شوی اثر، مخ ۹۸

48- پورتنی اثر، مخونه ۹۷-۱۱۲

49- اډګار او بالانس، افغان جنګونه، په یوه دښمن ملک کې جګړې له ۱۸۳۹نه تر حاضر وخت، اکسفورد خپرونه، مخ ۱۴۰،کال ۲۰۰۳

50- محمد یوسف او ادکن، د خرس تلک، یاد شوی اثر، مخ ۱۰۵

51- اولییور رای، په افغانستان کط اسلام او مقاومت، یاد شوی اثر، مخ ۱۸۶

52- محمد یوسف او ادکن، یاد شوی اثر، مخ ۹۶

53- جلالي او ګراو، د غره اخوا، یاد شوی اثر، مخ ۴۰۴

54- محمد یوسف او ادکن، د خرس تلک، یاد شوی اثر، مخ ۱۱۵، ۱۱۶، ۱۱۷

55- پورتنی اثر، مخ ۴۱

56- پورتنی ا ثر، مخ ۱۰۶

57- پورتنی اثر، مخ ۹۳

58- پورتنی اثر او مخ

59- جلالي او ګراو، د غره اخوا، یاد شوی اثر، مخ ۳۱۱

60- مارتین، افغانستان: دننه په کلا کې، یاد شوی اثر، مخ ۲۳۷

61- پورتنی اثر، مخ ۲۳۴

62- پورتنی اثر، مخ ۱۵۴

63- پورتنی اثر، مخونه ۱۰۰-۱۶۶

64- پورتنی اثر، مخونه ۱۵۶، ۱۶۵

65- پورتنی اثر، مخونه ۱۲۰، ۱۷۰
65 ب- کاکړ، طالبان او اسلامي بنسټ پالنه، یاد شوی اثر، ۳۲۳
66- بارنت روبین، د افغانستان برخه کېدل، یاد شوی اثر، مخ ۲۱۷
67- د قول نقل، کاکړ، طالبان او اسلامي بنسټپالنه، یاد شوی اثر، مخ ۲۷۲
68- ابوبکر صدیق، د پښتون مسئله: د افغانستان او پاکستان راتلونکې ته نه موندل شوې کلي، ناچاب شوی اثر، مخ ۱۶۴
69- د قول نقل، د غره اخوا، یاد شوی اثر، مخ ۱۶۸
70- اوبالانس، افغان جنګونه، یاد شوی اثر، مخ ۱۲۴
71- عزیزالله دین محمد، بس همدا و عبدالحق، خپرندوی صمیم ادبي ټولنه، پېښور، ۲۰۱۰/۱۳۸۹، مخ ۲. حاجي دین محمد د قومندان عبدالحق ورور دی.
72- پورتنی اثر، مخ ۱۳
73- پورتنی اثر، مخونه ۵۶، ۵۷
74- رابرټ کاپلان، د خدای تعالی سرتېري، ونټیج بوکس خپرونه، ۲۰۰۱، نیویارک، مخ ۱۵۴
75- پورتنی اثر، مخ ۱۵۵
76- دین محمد، بس همدا و عبدالحق، یاد شوی اثر، مخ ۱۵۵
77- کاپلان، د خدای تعالی سرتېري، یاد شوی اثر، مخ ۱۵۶
78- پورتنی اثر او مخ، ۱۵۷
79- پورتنی اثر مخ ۱۵۶
80- پورتنی اثر، مخ ۱۵۷
81- کاپلان، د خدای تعالی سرتېري، یاد شوی اثر، مخ ۱۵۸

82- دین محمد، بس همدا و عبدالحق، یاد شوی اثر، مخوه ۹۶-۹۹

83- کاپلان، د خدای تعالی سرتېري، یاد شوی اثر، مخ ۱۵۸

84- لوسي ایډورډز، د افغان د کشالې هوارول؛ د عبدالحق په اړه کورني مالومات، سي‌آی‌اې او د لویدیځې نړۍ غرور افغانستان څنګه بایلود، بکټریا پرس خپرونه، ۲۰۱۱، لندن، مخ ۹۵

85- دین محمد بس همدا و عبدالحق، یاد شوی اثر، مخونه ۹۹-۱۰۱

86- پورتنی اثر، مخ ۴۳

87- کاپلان، د خدای تعالی سرتېري، یاد شوی اثر، مخ ۱۵۸

88- دین محمد، بس همدا وی عبدالحق، یاد شوی اثر، ۶۸-۶۹

89- کاپلان، د خدای تعالی سرتېري، یاد شوی اثر، مخونه ۷۶-۷۸

90- دین محمد، بس همدا و عبدالحق، یاد شوی اثر، مخونه ۷۲-۷۳

91- د قول نقل، کاپلان، د خدای تعالی سرتېري، مخونه ۴۳، ۶۷

92- دین محمد، بس همدا و عبدالحق، مخونه ۹۱-۹۶

93- کاپلان، د خدای تعالی سرتېري، ۴۴-۴۷

94- دین محمد، بس همدا و عبدالحق، مخ ۷۰

95- د قول نقل، لوسي ایډورډز، د افغان د کشالې هوارول، یاد شوی اثر، مخ ۲۳۷

96- کاپلان، د خدای تعالی سرتېري، مخ ۱۶۷

97- د قول نقل، لوسي ایډورډز، د افغان د کشالې هوارول، مخ ۳۲۲

98- کاکړ، افغانستان: د شوروي یرغل او د افغان ځواب، یاد شوی اثر، مخ ۳۰۰

99- د قول نقل، کاپلان د خدای تعالی سرتېري، مخ ۱۶۹

100- پیټر ټامسن، د افغانستان جنګونه: مسیحایي ترهګري، قومي جنګونه او د سترو ځواکونو ناکامي، د پبلک افیرز خپرونه، نیویارک، ۲۰۱۱، مخ ۳۰۲. ټامسن د پاکستان او افغانستان لپاره د امریکې د متحدو دولتونو ځانګړی استازی و.

101- دین محمد، بس همدا و عبدالحق، یاد شوی اثر، مخونه ۱۷۳-۱۷۵

102- کاپلان، د خدای تعالی سرتېري، مخ ۱۷۸

103- د قول نقل، پورتنی اثر، مخ ۱۷۷

104- پورتنی اثر، مخ ۱۷۷

105- کاکړ، طالبان او اسلامي بنسټپالنه، یاد شوی اثر، ۳۵۲

106- دین محمد، بس همدا و عبدالحق، یاد شوی اثر، ۱۹۰- ۱۹۱

107- کاکړ، طالبان او اسلامي بنسټپالنه، مخونه ۳۹۶- ۴۱۱

108- ایډوردز، د افغان د کشالې هوارول، یاد شوی اثر، مخ ۲۰۲

109- پورتنی اثر، مخ ۳۲۴

110- د قول نقل، ایډوردز، د افغان کشالې هوارول، مخ ۲۰۲

111- پورتنی اثر، مخونه ۲۰۹، ۱۹۹

112- پورتنی اثر، مخ ۲۰۹

113- پورتنی اثر، مخ ۲۱۰

114- پورتنی اثر مخ ۲۱۳

115- دین محمد، بس همدا و عبدالحق، مخونه ۲۲۹-۲۴۹

116- پورتنی اثر، مخ ۲۴۱

117- ټامسن، د افغانستان جنګونه، یاد شوی اثر، مخ ۶۰۲-۶۰۱

118- پورتنی اثر، مخ ۶۰۳

119- ایډوردز، د افغان کشالې هوارول، یاد شوی اثر، مخ ۷

120- روبین، د افغانستان برخه کېدل، یاد شوی اثر، مخ ۲۱۷
121- دین محمد، بس همدا و عبدالحق، مخ ۲۶۲
122- د قول نقل، ټامسن، د افغانستان جنګونه، یاد شوی اثر، مخ ۶۰۳
123- د قول نقل، ایډوروډز، د افغانستان کشالې هوارول، یاد شوی اثر، مخ ۱۸۷
124- م. ګوهري، طالبان، قدرت ته هسکېدل، اکسفورډ پوهنتون خپرونه، اکسفورد، نیویارک، ۲۰۰۰، مخ ۱۶
125- حناني، چرا این همه هیاهو پیرامون مسعود؟ شخصي خپرونه، چاپځای نامالوم، ۲۰۰۰/۱۳۷۹، مخ ۲۸
126- رحمت الله صافی، مسعود وپېژنئ؟ شخصي خپرونه، د طبع کال نامالوم، چاپ ځای پېښور، مخ ۵
127- عبدالحفیظ منصور، پنجشېر در راه جهاد، ناشر دارالنشر افغانستان، چاپ چارم، ۲۰۰۰/۱۳۷۹، کابل، ص ۴۸-۵۵
128- ب.ګروموف، سرې لښکرې په افغانستان کې، ژباړه د داود جنبش، شخصي خپرونه، پېښور، ۱۹۹۷/۱۳۷۵، مخ ۲۶۳. ګروموف په افغانستان کې د شوروي اتحاد د ځلوېښتم لمبر پوځ لوی قومندان و.
129- حناني، چرا این همه هیاهو پیرامون مسعود؟، یاد شوی اثر، مخ ۲۵
130- پورتنی اثر، مخونه ۱۵،۱۴
131- ګروموف، سرې لښکرې په افغانستان کې، یاد شوی اثر، مخ ۲۶۳
132- منصور، پنجشېر در راه جهاد، یاد شوی اثر، مخ ۵۸
133- سهراب، «خورشید خراسان» نشر ازادی، محل طبع نامعلوم، ۲۰۰۲/۱۳۸۱، مخ ۲۸
134- منصور، پنجشېر در راه جهاد، یاد شوی اثر، مخونه ۶۳، ۶۴

135- سهراب «خورشید خراسان» یاد شوی اثر، مخ ۲۹. شوروي تاریخپوه س.ی. ګریګوریيف هم د احمد خان وژنه د سهراب په شان یاده کړې ده. در روایت نقل رچردسن، افغانستان، د شوروي ترهګري، شخصي چاپ ۱۹۹۶، مخونه ۵۹، ۶۲

136- ثریا بها، رها در باد، ناشر: شرکت کتاب، لاس انجلس، ۱۳۹۱/۲۰۱۲، ۵۵۰،۶۲۴ مخونه.

137- سهراب، «خورشید خراسان» یاد شوی اثر، مخونه ۳۰، ۳۱

138- منصور، پنجشېر در راه جهاد، یاد شوی اثر، مخوه ۸۶، ۱۰۶

139- ایډورډز جرارډت، افغانستان د شوروي جنګ، خپرونکی کروم هلم، لندن، سډنی، ۱۹۸۵ مخ ۸۶. جرارډت د ملي جهاد په وخت کې پنجشېر ته تللی و.

140- منصور، پنجشېر در راه جهاد، یاد شوی اثر، مخ ۱۴۸

141- پورتنی اثر، مخونه ۱۴۸-۱۵۱

142- کاکړ، افغانستان د شوروی یرغل د افغان ځواب، یاد شوی اثر، مخ ۲۴۲

143- ګوهري، طالبان، قدرت ته هسک کېدل، یاد شوی اثر، مخ ۱۸

144- حناني، چرا این همه هیاهوی پیرامون مسعود؟ یاد شوی اثر، مخ ۳۳. مارتین، افغانستان؛ دننه د یاغي په کلا کې، یاد شوی اثر، مخ ۱۱۵

145- منصور، پنجشېر در راه جهاد، یاد شوی اثر، مخونه۹۴،۹۷. بروس رچرډسن، افغانستان، د ترهګرۍ د واکمنۍ ختمول، ماوریک خپرونې، دوهم چاپ ۱۹۹۸، بنډ اوریګن، مخونه ۲۷-۲۸. بروس امستوتز، افغانستان، د شوروي د اشغال پنځه لومړي کلونه، د ملي دفاع بوهنتون، واشنګټن، ۱۹۸۶، مخ ۲۹۲

146- ګروموف، سرې لښکرې په افغانستان کې، یاد شوی اثر، مخونه ۲۶۶، ۲۶۸
147- منصور، پنجشیر در راه جهاد، یاد شوی اثر، مخ ۹۴
148- ګروموف، سرې لښکرې په افغانستان کې، مخونه ۲۶۶، ۲۶۷
149- پورتنی اثر، مخونه ۲۶۶، ۲۶۸
150- پورتنی ا ثر، مخ ۲۷۳
151- پورتنی اثر، مخ ۲۶۵
152- پورتنی اثر، مخ ۲۶۶
153- مارتین، افغانستان دننه د یاغي په کلا کې، یاد شوی اثر، مخ ۲۱۷
154- اولیو رای، اسلام او مقاومت په افغانستان کې، یاد شوی اثر، مخ ۱۳۴
155- مارتین، افغانستان: دننه د یاغي په کلا کې، یاد شوی اثر، مخ ۱۹۸
156- میتروخین، ک. ج. ب په افغانستان کې، یاد شوی اثر، مخ ۱۴۸
157- ګروموف، سرې لښکرې په افغانستان کې، یاد شوی اثر، مخونه ۱۹۹، ۲۰۴
158- میتروخین، ک. ج. ب په افغانستان کې، یاد شوی اثر، مخونه ۱۴۹، ۱۴۶
159- دغه شمېره په متن کې له یاده ایستل شوې ده.
160- میتروخین، ک. ج. ب په افغانستان کې، یاد شوی اثر، مخ ۱۴۶
161- کاکړ، افغانستان: د شوروي یرغل او د افغان ځواب، یاد شوی اثر، مخ ۱۷۵
162- دغه موضوع ګانې په اوږده ډول زما په پورتني اثر کې بیان شوې دي، مخونه ۱۷۶-۱۷۹

## ۵
## د شوروي اتحاد د يرغل ځواب د جنګ په ډګر کې


1- شوروي-افغان جنګ، ياد شوی اثر، مخونه ۶۵، ۷۳
2- محمد يوسف او ادکن، د خرس تلک، ياد شوی اثر، مخ ۱۵۰
3- پورتنی اثر، مخ ۱۵۱
4- پورتنی اثر، مخ ۱۵۶
5- پورتنی اثر، مخ ۱۵۱
6- پورتنی اثر، مخونه ۱۵۲-۱۵۳
7- د شيراغا کوچي او نورو د قول نقل، د غره اخوا، ياد شوی اثر، مخونه ۸۱-۸۵
8- د قومندان حاجي محمد صديق روايت، د غره اخوا، مخ ۶۳
9- د قومندان سرشار او څارنوال شير حبيب روايتونه، د غره اخوا، مخونه ۷۱-۷۳
10- مارتين، دننه د ياغي په کلا کې، ياد شوی اثر، مخ ۲۲۶
11- جلالي او ګراو، د غره اخوا، ياد شوی اثر، مخ ۱۴۸
12- کاکړ، افغانستان: د شوروي يرغل او د افغان ځواب، ياد شوی اثر، مخ ۱۸۹
13- پورتنی اثر، مخونه ۱۸۹-۱۹۱
14- د قومندان عقل شاه سهاک روايت، د غره اخوا، ياد شوی اثر، مخ ۱۵۳
15- کاکړ، افغانستان: د شوروي يرغل او د افغان ځواب، ياد شوی اثر، مخ ۱۹۹
16- محمد يوسف او ادکن، د خرس تلک، ياد شوی اثر، مخ ۱۴۶
17- کاکړ، افغانستان: د شوروي يرغل او افغان ځواب، مخ ۲۰۳

18- پورتنی اثر، مخ ۲۰۸
19- میتروخین، ک. ج. ب په افغانستان کې، یاد شوی اثر، مخ ۱۴۷
20- جیرارډ چارلیاند، له افغانستان نه راپور، وایکنګ پرس خپرونه، نیویارک، ۱۹۸۲، مخ ۶۶
21- د شوروي-افغان جنګ، یاد شوی اثر مخ ۲۳
22- پورتنی اثر، مخ ۲۱
23- کاکړ، افغانستان: د شوروي یرغل او د افغان ځواب، یاد شوی اثر، مخ ۱۹۲
24- پورتنی اثر او مخ
25- کاکړ، پورتنی اثر، مخ ۲۲۷
26- پورتنی اثر، مخ ۲۲۸
27- پورتنی اثر، مخ ۱۳۱
28- محمد یوسف او ادکن، یاد شوی اثر، مخونه ۱۳۳، ۱۳۴
29- د مولوي عبدالشکور یاسیني روایت، د غره اخوا، یاد شوی اثر، مخونه ۱۰۷-۱۱۱
30- د عبدالباقي بلوڅ روایت، د غره اخوا، مخ ۲۵۱
31- د قومندان عبدالشکور یاسیني روایت، د غره اخوا، مخونه ۱۱۳-۱۱۵
32- د مولوي یاسیني روایت، د غره اخوا، مخونه ۲۶۳-۲۶۵
33- د قومندان محمد اصف روایت، د غره اخوا، مخونه ۲۶۹-۲۷۱
34- د قومندان شیربادشاه روایت، پورتنی اثر، مخ ۲۸۱
35- پورتنی اثر او مخ

36- کاکړ، افغانستان: د شوروي يرغل او د افغان ځواب، ياد شوی اثر، مخونه ۱۳۲-۱۳۵

37- د قومندان شيربادشاه روايت، د غره اخوا، ياد شوی اثر، مخ ۲۱۷

38- د سلطان محمد توپخانه روايت، د غره اخوا، ياد شوی اثر، مخونه ۳۰۱-۳۰۴

39- د محمد شاه کاکو او عبدالغني روايت، د غره اخوا، مخونه ۳۰۵-۳۰۹

40- د قومندان اختر جان روايت، پورتنی اثر، مخونه ۳۱۱-۳۱۶

41- جلالي او ګراو، د غره اخوا، پورتنی اثر، مخ ۳۱۵

42- پورتنی ا ثر، مخ ۳۰۸

43- منصور، پنجشېر در راه جهاد، ياد شوی اثر، مخ ۲۰. د فرانسې بې سرحد طب خپرونه، د پنجشېر درې ارزونې هيئت، جولايي ۱۹۸۸، جراردت، افغانستان: د شوروي جنګ، ياد شوی اثر،مخ ۷۶

44- منصور، پنجشېر در راه جهاد، ياد شوی اثر، مخونه ۸۱، ۸۳، ۸۴

45- شوروي-افغان جنګ، ياد شوی اثر، مخونه ۷۸، ۸۳

46- پورتنی اثر، مخ ۸۱

47- پورتنی اثر،مخ ۸۳

48- اليکزاندر لياخوفسکي، د افغان مېړانه او غميزه ژباړن محب الرحمن، خپرندوی: د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه-جرمني، پېښور، ۲۰۰/۱۳۷۸، مخ ۴۵۳. ليکوال لياخوفسکي، د شوروي اتحاد حکومت له خوا د دغه اثر په ليکلو موظف شوی او اړوند سندونه ورته ورکړل شوي وو.

-49 ښاغلی عزیز اریا نفر دغه اثر په فارسي اړولی او زه دلته ترینه مننه کوم، چې دغه اثر یې له خپلو یو شمېر نورو ترجمو سره ماته راکړی دی.

-50 منصور، پنجشېر در راه جهاد، یاد شوی اثر، مخ ۱۶۷. حناني، چرا این همه هیاهوی پیرامون مسعود؟ مخ ۳۸. شوروي-افغان جنګ، یاد شوی اثر، مخ ۲۶

-51 منصور: پورتنی اثر، مخونه ۱۰۴-۱۱۰

-52 شبرشین، د ماسکو لاس، پښتو کوونکی، محمد طاهر کانهی، خپرندوی، د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه، پېښور کال ۱۳۸۲/۲۰۰۳، مخونه ۹۶-۱۰۱

-53 د قول نقل، ملتې. بیرډن او رایزن، لوی دښمن، یاد شوی اثر، مخونه ۲۳۱-۲۳۳. شبرشین، یاد شوی اثر، مخونه ۱۰۰-۱۰۱

-54 لیاخوفسکی، د افغان مېړانه او غمیزه، یاد شوی اثر، مخ ۴۵۴

-55 شبرشین د ماسکو لاس یاد شوی اثر، مخ ۱۰۱. بییرډن او رایزن، لوی دښمن، یاد شوی اثر، مخ ۲۳۳

-56 کاکړ، افغانستان: د شوروي یرغل او د افغان ځواب، یاد شوی اثر، مخ ۱۸۳

-57 لیاخوفسکي، د افغان مېړانه او غمیزه، یاد شوی اثر، مخ ۴۶۳

-58 پورتنی اثر، مخ ۴۷۰

-59 محمد حسن شرق، کرباس پوشهای برهنه پا، یاد شوی اثر، مخ ۲۵۶

-60 لیاخوفسکي، د افغان مېړانه او غمیزه، یاد شوی اثر، ۴۷۲

-61 د بریدمن عمر او مولوي نظام الدین حقاني روایت، د غره اخوا، یاد شوی اثر، ۳۱۷

62- کاکړ، طالبان او اسلامي بنسټ پالنه، یاد شوی اثر، مخ ۲۷۲
63- د قومندان عمر او مولوي نظام الدین حقاني روایت، د غره اخوا، یاد شوی اثر، مخونه ۳۱۷-۳۲۶
64- د قومندان عمر، مولوي نظام الدین حقاني او مولوی عبدالرحمن روایت، د غره اخوا، پورتنی اثر، مخونه ۳۲۳-۳۲۶
65- جلالي، ګراو، د غره اخوا، یاد شوی اثر، مخ ۳۲۶
66- خرس غره ته وخوت، په افغانستان کې د شوروي جنګي تاکتیکونه، ژباړونکی او تنظیم کوونکی لستر ګراو، خپرندوی، فرنک کاس، لندن، پورت لیند، ۲۰۰۱، مخ ۶۰. دغه اثر د هغو شوروي افسرانو د لیکنو ټولګه ده چې د افغانستان په جنګونو کې یې برخه اخیستې ده. بریدمن الف. ششکو: د شوروي هوایي ځواک سټه کنډو نیسي.
67- کاکړ، سیاسي جورنال، کال ۱۹۸۷، مخ ۷۹
68- کاکړ، افغانستان: د شوروي یرغل او د افغان ځواب، یاد شوی اثر، مخ ۲۶۰
69- ششکو، د شوروي هوایي ځواک سټه کنډو نیسي، خرس غره ته وخوت، یاد شوی اثر، مخ ۶۰
70- پورتنی اثر، مخ ۶۱
71- قومندان ګل زرک ځدران او بریدمن عمر، مولوي حقاني او مولوی رحمان، د غره اخوا، یاد شوی اثر، مخ ۱۶۷
72- پورتنی اثر، مخونه ۱۶۸-۱۷۳
73- لستر ګراو، (منتظم ژباړن) خرس غره ته وخوت، یاد شوی اثر، ۶۵

# ۶

## د ګورباچوف پرسترویکا او د نجیب الله ملي پخلاینه


1- کورني ينکو، افغانستان: د نظامي يرغل او بېرته کېدلو پېچليتوب، ياد شوی اثر، مخونه ۹، ۱۰

2- هري سن، له افغانستان نه د باندې، ياد شوی اثر، مخ ۱۴۷

3- ويليم اوډوم، د شوروي پوځ سقوط، د ييل پوهنتون خپرونه، نيوهي ون، لندن، ۱۹۹۸، مخ ۸۹، ۹۱، ۳۹۲، ۴۳۹

4- پورتنی اثر، مخونه ۹۲، ۹۳

5- پورتنی اثر، مخ ۱۰۴

6- پورتنی اثر، مخ ۱۱۵

7- ميخاييل ګورباچوف، پرسترويکا، زمونږ د هېواد او د نړۍ لپاره نوی فکر، خپرندوی هارپر او راو، نيويارک، ۱۹۸۷، مخونه ۱۲۷، ۱۳۲

8- اوډوم، د شوروي پوځ سقوط، ياد شوی اثر، مخ ۹۷

9- پورتنی اثر، مخونه ۱۴، ۱۶، ۸۹، ۹۴، ۹۵

10- پورتنی اثر، مخ ۱۱۰

11- پورتنی اثر، مخ ۲۵۰

12- پورتنی اثر، مخ ۱۰۳

13- هري سن، له افغانستان نه د باندې، ياد شوی اثر، مخ ۲۰۲

14- پورتنی اثر او مخ

14- ب- اوډوم، د شوروي پوځ سقوط، ياد شوی اثر، مخ ۱۰۳

15- هري سن، له افغانستان نه دباندې، ياد شوی اثر، مخ ۲۰۲

16- پورتنی اثر، مخ ۲۰۳

17- پــورتنی اثــر، مخونــه ۲۰۳، ۲۰۴. شیبارشــین، د ماســکو لاس، ژبـاړونکی محمـد طـاهر کـانې، د افغانسـتان د کلتـوري ودې ټولنـه، ۱۳۸۲/۲۰۰۳، پېښور، مخونه ۱۶۵-۱۷۰

18- هري سن، یاد شو اثر، مخونه ۲۰۴،۲۰۵

19- بــراین کروزییــر، د شــوروي امپراتــوري هســکېدنه او نســکورېدنه، خپرندوی، فورم، کلیفورنیا، ۱۹۹۹، مخ ۷۳۴

## ۷
## د ژنیو خبرې او د یرغلګر پوځ پر شاتګ

1- محمد حسن کاکړ، د افغانستان په باب د ژنیو جوړه، خپرندوی، د ازاد افغانستان د لیکوالو اتحادیه، (وفا)، پېښور، ۱۹۸۸/۱۳۶۷، مخونه ۱۰-۱۲
2- ریاض خان، د افغان غوټې پرانیستل، د شوروي(پوځ) د ایستل کېدلو په اړه خبرې کول. د یوک پوهنتون خپرونه، درهم، لندن ۱۹۹۱ ، مخونه ۷،۸. دغه لیکوال د پاکستان د باندنیو چارو وزارت یو لوړ پوړی چارواکی و، او د ژنیو په خبرو کې یې د پاکستان د هیئت د غړي په توګه ګډون کاووه، له دې امله یې دغه اثر خاص اهمیت لري.
3- پورتنی اثر، مخ ۴۳،۴۴
4- پورتنی اثر، مخونه ۴۶
5- د ییګو کوردویز او هري سن، له افغانستان نه د باندې، یاد شوی اثر، مخونه ۸۲-۸۴
6- پورتنی اثر، مخ ۸۴
7- پورتنی اثر، مخونه ۸۴-۸۸
8- پورتنی اثر، مخونه ۱۱۱-۱۱۷
9- پورتنی اثر، مخونه ۱۱۳-۱۱۴
10- پورتنی اثر، مخونه ۱۱۵-۱۱۷
11- کوردویز یاد شوی اثر، مخونه ۱۱۶-۱۲۱

12- پورتنی اثر، مخ ۱۲۳. کورني ینکو، افغان کوښښ، یاده شوې لیکنه، مخ ۱۰
13- کوردویز، له افغانستان نه د باندې یاد شوی اثر، مخ ۱۲۴
14- پورتنی اثر، مخ ۱۲۶
15- پورتنی اثر، مخونه ۱۳۴-۱۳۵
16- پورتنی ا ثر، مخ ۱۳۷
17- پورتنی اثر، مخ ۱۳۸
18- پورتنی اثر، مخ ۱۴۳
19- هري سن، له افغانستان نه د باندې، مخ ۱۶۰
20- کوردوویز، له افغانستان نه د باندې، یاد شوی اثر، مخونه، ۱۸۲، ۱۸۷، ۱۹۱
21- کوردوویز، پورتنی ا ثر، مخونه ۱۸۲-۱۸۴
22- پورتنی اثر، مخونه ۱۲۸، ۱۸۴، ۲۱۷
23- ګراو او ګریس، ژباړونکي او منتظمان)، د شوروي-افغان جنګ، یاد شوی اثر مخ ۳۰
23 ب- پورتنی اثر، مخ ۲۱۸
24- کاکړ، افغانستان: د شوروي یرغل او د افغان ځواب، یاد شوی اثر، مخ ۲۶۰
25- شوروي-افغان جنګ، یاد شوی اثر، مخ ۲۳
26- کوردوویز، له افغانستان نه د باندې ، یاد شوی ا ثر، مخونه ۲۱۸-۲۲۰

# ۸

## د ژنیو خبرې او د یرغلګر پوځ پر شاتګ

1- کوردوویز، له افغانستان نه د باندې، یاد شوی اثر، مخونه ۲۲۰-۲۲۶

2- پورتنی اثر، مخ ۲۳۴

3- پورتنی اثر، مخ ۲۳۶

4- پورتنی اثر، مخونه ۲۳۴-۲۴۱، ۲۷۲-۲۸۲

5- پورتنی اثر، مخونه ۲۸۲-۳۱۲

6- پورتنی ا ثر، مخونه ۳۱۲-۳۶۳

7- کاکړ، د افغانستان په باب د ژنیو جوړه، یاد شوی ا ثر، مخ ۹۲

8- ویکټور سی بستین، انقلاب ۱۹۸۹، د شوروي د ا مپراتورۍ سقوط، خپرندوی: پانټین بوکس، نیویارک، ۲۰۰۹، نیویارک، مخ ۲۵۵

9- هاروي، د نړۍ وال کمونزم هسکېدنه او نسکورېدنه، مخ ۳۴. خو کریچکوف وایي چې «زه په پرېکنده توګه د دې مخالف یم، چې مونږ په افغانستان کې جګړه وبایلله» و. کریچکوف، افغانستان له شخصي دوسیې څخه، ژباړن محمد طاهر کاڼي، خپرندوی: د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه، پېښور، ۱۳۸۲/۲۰۰۳، مخ ۹۹. کریچکوف د یرغل په وخت کې د ک. ج. ب لوړ چارواکی، وروسته د ک. ج. ب مشر شو او په ۱۹۹۱ کې یې د ګورباچوف په وړاندې په ناکامه کودتا پیل وکړ. دی په دغه کتابګوټي کې د یرغل او افغانستان د پېښو په اړه حتی د شوروي اتحاد د نورو لویانو پر خلاف نظر لري. مارشال اخرامییف، په خپله ګورباچوف ته ویلي وو، چې «... ممکنه

نه ده، دغه جګړه وګټله شي.» خپل دغه نظر یې بیا په دغه ډول ښکاره کړ، چې جنګ «ګټل یو ناممکن ماموریت دی.» ویکټور سي بستین، انقلاب ۱۹۸۹، یاد شوی اثر، مخ ۲۰۱

10- شوروي-افغان جنګ، یاد شوی اثر، مخ ۳۰۶
11- اودوم، د شوروي پوځ سقوط، یاد شوی اثر، مخ ۲۴۹
12- سي بستین، انقلاب ۱۹۸۹، یاد شوی اثر، مخ ۲۵۷
13- پورتنی ا ثر، مخونه ۲۹۴، ۲۹۵
14- دغه پېښې په دغو اثرونو کې بیان شوې دي: سي بستین، انقلاب ۱۹۸۹. ولیم اوډوم، د شوروي پوځ سقوط، رابرت هاروي او نور، د نړیوال کمونزم هسکېدنه او پرزېدنه، کوزییر، د شوروي امپراتورۍ هسکېدنه او پرزېدنه، دغه ټول اثرونه دمخه پوره یاد شوي دي.
15- کوردوویز، له افغانستان نه د باندې، یاد شوی اثر، مخ ۳۳۴
16- کاکړ، د افغانستان په باب د ژنیو جوړه، یاد شوی اثر،

## ۹

## د نجیب الله لنډه واکمني او د تنظیم واکې پیل

1- کوردوویز، له افغانستان نه د باندې، یاد شوی اثر، مخ ۳۶۹
2- پورتنی اثر، مخ ۳۸۱
3- پورتنی اثر، مخ ۳۸۳
4- کاکړ، افغانستان: د شوروي یرغل او د افغان ځواب، مخ ۲۷۳
5- محمود قارییف، افغانستان پس از بازگشت سپاهیان شوروي، مترجم عزیز اریانفر، نشر کرده کتابفروشی افضل، پشاور، ۱۹۸۸، صفحات ۱۴۱-۱۳۷
6- زېری، د نیمې پېړۍ خاطرې، یاد شوی اثر، مخ ۵۸۱
7- پورتنی اثر، م خ ۵۸۲
8- عظیمي اردو و سیاست، اثر یاد شده، ص ۴۰۳
9- فقیر محمد ودان، دشنه های سرخ، چاپ شخصي؟، محل طبع نامعلوم، ۱۹۹۹، ص ۲۳
10- زېری، د نیمې پېړۍ خاطرې، یاد شوی ا ثر، مخ ۳۸۵
11- وزیري، د ثور پاڅون، یاد شوی اثر، مخ ۲۴۰
12- عظیمي، اردو و سیاست، یاد شوی اثر، مخ ۴۰۵
13- محمود قارییف، یاد شوی اثر، مخ ۷۸
14- حسن شرق، کرباس پوشهای برهنه پا، یاد شوی اثر، مخ ۳۰۱
15- قارییف، یاد شوی اثر، مخ ۷۸

16- زېرى، د نيمې پېړۍ خاطرې، مخونه ۵۸۶، ۵۸۷
17- وزيري، د ثور پاڅون، ياد شوى اثر، مخ ۲۳۸
18- ودان، دشنه هاى سرخ، ياد شوى اثر، مخونه ۶۱، ۶۲
19- عظيمي، اردو و سياست، ياد شوى اثر، مخونه ۴۱۴- ۴۱۵
20- ودان، دشنه هاى سرخ، ياد شوى اثر، مخ ۶۳. عظيمي، اردو و سياست، ياد شوى اثر، مخ ۴۲۰
21- د قول نقل، ودان، دشنه هاى سرخ، ياد شوى اثر، مخ ۶۴
22- وزيري، د ثور پاڅون، ياد شوى اثر، مخ ۲۴۱
23- حسن شرق، كرباس پوش هاى برهنه پا، ياد شوى اثر، مخونه ۳۰۱، ۳۰۲
24- كاكړ، افغانستان، د شوروي يرغل او د افغان ځواب، ياد شوى اثر، مخ ۲۷۴
25- ودان، دشنه هاى سرخ ياد شوى اثر، مخونه ۸۵-۸۷
26- پورتنى اثر، مخ ۸۸
27- عظيمي، اردو و سياست، ياد شوى اثر، مخونه ۵۱۷، ۵۱۸
28- ودان، دشنه هاى سرخ، ياد شوى اثر، مخ ۸۹
29- عظيمي، اردو و سياست، ياد شوى اثر، مخ ۴۹۷
30- د قول نقل، پاسنى اثر، مخ ۵۰۹، ۴۹۶
31- پورتنى اثر، مخ ۵۲۸
32- پورتنى اثر، مخ ۵۲۹
33- ودان، دشنه هاى سرخ، ياد شوى اثر، مخونه ۳۲، ۸۹
34- پورتنى اثر، مخ ۹۰

35- عظیمي، اردو و سیاست، یاد شوی اثر، مخونه ۵۴۸، ۵۴۹

36- کاکړ، افغانستان، د شوروي یرغل او د افغان ځواب، مخ ۲۷۴

37- رزاق مامون، راز خوابیده، اسرار مرگ دکتر نجیب الله، ناشر و محل نشر، نامعلوم، شاید کابل، ۲۰۰۷/۱۳۸۶، مخونه ۲۶، ۲۷،۲۹،۳۰

38- ودان، دشنه های سرخ، یاد شوی اثر، مخ ۹۱

39- پورتنی اثر، مخ ۹۲. عظیمي، اردو و سیاست، یاد شوی اثر، مخونه ۵۵۲، ۵۵۳

40- عظیمي، اردو و سیاست، مخ ۵۵۰

41- د قول نقل، ودان، حقایق: پندارها و کردارها، سیاست مصالحه ملي و جبهه گیری ها در حزب وطن، ناشر، اتحادیه کمک ها، تفاهم و همبستگی افغان ها در بلژیک، ۲۰۰۲، مخ ۳۷۵. د نجیب الله  په اړه دغه اثرونه هم ډېر معلومات ورکوي. مجموعه بخشی از بیانیه های دکتور نجیب الله، نوشته های روشنفکران مهاجر افغان، چاپ مرکز نشراتی زرنوشت، ۲۰۰/۱۹۷۹، محل نشر نامعلوم، نور البشر نوید، وطن یا کفن، د ډاکټر نجیب الله د ژوند یادونه، ۱۹۹۹/۱۹۷۸، پېښور

42- ودان، حقایق، یاد شوی اثر، مخ ۳۷۶

43- پورتنی اثر، مخ ۳۷۶. کاکړ، افغانستان: د شوروي یرغل، مخ ۲۷۵

44- عظیمي، اردو ا و سیاست، یاد شوی اثر، مخ ۵۵۶

45- ودان، حقایق، یاد شوی اثر، ۳۷۶

46- رازق مامون، راز خوابیده، یاد شوی اثر، مخ ۴۹
47- مولف مامون په خپل دغه کتابګوټي، رازخوابیده کې د نجیب الله وژنه په اوږد ډول بیان کړې ده.
48- ودان، دشنه های سرخ، یاد شوی اثر، مخونه ۱۰۳، ۱۰۴
49- پورتنی اثر، مخ ۱۱۱
50- کاکړ، افغانستان، د شوروي یرغل او د افغان ځواب، یاد شوی اثر، مخ ۲۷۷

# پایلیک


1- میتروخین، یاد شوی اثر، مخ ۳۹

2- ن.و. شبرشین، د ماسکو لاس، ژباړونکی محمد طاهر کاڼي، د افغانستان کلتوري ودې ټولنه، پېښور ۲۰۰۳/۱۳۸۲، مخ ۱۲۸

3- الکساندر مایوروف، په افغانستان کې رښتیا څه تېرېدل؟ ژباړه د داود جنبش، د افغانستان کلتوري ودې ټولنه، ۱۹۹۹/۱۳۷۸، پېښور، مخ ۲۴۷

4- پورتنی اثر، مخ ۹۷

5- پورتنی اثر، مخ ۹۷

6- پورتنی اثر، مخ ۱۴۷

7- شبرشین، د ماسکو لاس، یاد شوی اثر، مخ ۱۰۷

8- مایوروف، یاد شوی اثر، مخ ۱۴۳

9- پورتنی اثر، مخونه ۳۷۶، ۳۷۸

10- پورتنی اثر، مخونه، ۳۰۶، ۳۰۷، ۳۲۴

11- پورتنی اثر، ۳۰۲

12- پورتنی اثر، مخ ۲۱

13- مایوروف، یاد شوی اثر، مخ ۱۱۳

14- پورتنی اثر، مخونه ۱۲۲، ۱۲۷

15- پورتنی اثر، مخ ۵

16- شبرشین، یاد شوی اثر، مخ ۱۲۸

17- د قول نقل، مایوروف، یاد شوی اثر، مخ ۱۲۷

# د پوهاند کاکړ اثرونه او ژباړې

الف: کتابونه

**په پښتو کې**

د افغان — شوروي جګړه (۲۰۱۴)

پښتون، افغان او افغانستان (۲۰۱۱)

د ثور کودتا او د هغې ژورې پایلې

(۲۰۱۰)

زما غوره لیکنې (۲۰۱۰)

د سرطان کودتا: د افغانستان د اوږدې بې ثباتې پیلامه

(۲۰۰۹)

د پاچا امان الله واکمنۍ ته یوه کتنه

(۲۰۰۵)

وطن ته یو سفر، طالبان او اسلامي بنسټ پالنه

(دغه اثر ښاغلي سلطان احمد بهین فارسي کړی او زما د مشر زوی حقوقپوه کاوون کاکړ په زیار خپور شوی)

(۲۰۰۴)

رڼا او دفاع یا د افغانستان د نفوسو، تاریخ او روانو پېښو په باب لیکنې (لیکونکی او منتظم)

(۱۹۹۹)

افغانستان د شپږشپېتم کال په پسرلي کې له روسانو سره د
جنګ په حال کې
(۱۹۹۰)
د افغانستان په باب د ژنیو جوړه
(۱۹۸۸)

**په فارسی کې**

نظری به کتاب افغانستان در پنج قرن اخیر
(این رساله به کوشش ښاغلی حبیب الله رفیع نشر شده است.
(۱۹۹۰)
جنګ دوم افغان-انګلیس
(این اثر بقلم سید نظیم سیدی و مجیب الرحمن امیری در
پښتو نشر شده است.)
(۱۹۹۰)
مسئله افغان (رساله)
افغان، افغانستان و مختصری از کوشش های افغان برای
تشکیل دولت در هندوستان، فارس و افغانستان
(۱۹۷۸)

**په انګرېزی کې**

د افغانستان سیاسي او دیپلوماتیکي تاریخ ۱۸۶۳-۱۹۰۱
(۲۰۰۶)

(دغه اثر ښاغلي نسيم سليمي پښتو کړی او زر به خپور شي)

افغانستان: د شوروي يرغل او د افغان ځواب
(۱۹۹۵)

د افغانستان ټولنه او حکومت، د امير عبدالرحمن خان واکمني
(۱۹۷۹)

(دغه پورته درې اثرونه د حقوقپوه کاوون کاکړ په زيار په کابل کې بيا چاپ شوي دي.)

افغانستان: د داخلي سياسي انکشافونو مطالعه ۱۸۸۰-۱۸۹۶
(۱۹۷۱)

**ب: اختصاصي ليکنې**

(په پښتو او فارسي کې له اختصاصي ليکنو نه ډډه شوې ده)

د هزاره جات پوره لاندې کېدل، موقوته خپرونه، د اسيا ټولنه، څلورم لمبر، نيويارک
(۱۹۷۳)

په معاصر افغانستان کې تمايلات، افغانستان په اوياومې لسيزې کې د لويې دوپري په زيار
(۱۹۷۴)

په ۱۹۷۳ کې د افغانستان د پاچاهۍ نسکورېدنه، منځنی ختیځ بین المللي جورنال، نهمه ګڼه (۱۹۷۸)
د افغانستان د مشروطیت لنډ تاریخ، ایرانیکا دایرَة المعارف، ټوک ۶ (۱۹۹۲)
د معاصر افغانستان لنډ تاریخ، د معاصرې نړۍ دایرة المعارف، (۲۰۰۹)
د افغان-شوروي جنګ، د معاصرې نړۍ دایرة المعارف (۲۰۰۹)
کابل، د معاصرې نړۍ دایرة المعارف
(۲۰۰۹)
طالبان، د معاصرې نړۍ دایرة المعارف
(دغه درې لیکنې د اکسفورډ پوهنتون خپرونې دي.)

د نونسمې پیړۍ د دوهمې نیمایي نه په افغانستان کې د روسیې رول او نفوذ، IRSEMنظامي مجله، پاریس
(۲۰۱۰)

## ژباړې

جنګ او زموږ نړۍ، لیکنه دجان کیګن، (۲۰۱۴
د سقراط، افلاتون، ارسطو، اپیکور او زینو په نظر ښه ا نسان، لیکنه د هومربالا بانس
(۲۰۱۰)

د يوې لنډې دورې تاريخ ۱۸۶۹-۱۸۱۸، ليکنه د محمود طرزي
(۲۰۰۷)
د پوهنې فلسفي بنسټونه، ليکنه د جارج نيلر (۲۰۰۷)
تاريخ څه ته وايي؟ ليکنه د اي.اچ کار
(۱۹۷۰)
د کابل سلطنت بيان، ليکنه د مونټټ سټوارټ انفنسټن
نصرالله سوبمن، د پيلامې ژباړن لومړی ټوک
(۱۹۸۱)
دوهم ټوک (۱۹۸۴)
(دا د دراني امپراتورۍ اوږد او بېجوړې بيان دی او په ۲۰۰۸ کې د دانش خپرندويې ټولنې له خوا په يوه ټوک کې بيا چاپ شوی دی)
ښاغلی سوبمن يوازې د لومړي ټوک د پيلامط پښتو کوونکی دی)
دموکراسي در جهان امروز، ليکنه د ميک فيرسن
(۱۹۷۱)
د ګورکي ادبي ليکونه
(۱۹۶۱)

## ناخپرې ژباړې

د برتانيې سياسي سيستم، ليکنه د مايکل سټيوارت

دغه ژباړه په کال ۱۹۵۷ کې د افغانستان د مستقل مطبوعات لـه خوا د ابن سينا په درېيمه درجه جايزه وياړل شوې ده.

اروپای قرون ميانه، نوشته سدنی پينټر
دغه اثر ترچال باندې دی.